په پښتو ژبه د نورالإيضاح آسانه او جامع شرحه

فتح الإيضاح

پښتو شرح

نور الإيضاح

② دوهم ټوک

باب سجود السهو- فصل فی زیارة النبی ﷺ

تأليف و ترتيب:

مولوی حبیب الرحمن مدني

فاضل وفاق المدارس العربیه

مولوي محمّدصادق کامران

فاضل جامعه محمّدیه کوئټه

صداقت کتب خانه

تمام فنون کے کتب کے پی-ڈی-ایف ہمارے ویب سائٹ سے اور پلے سٹور سے فری ڈاون لوڈ کریں۔ ہم روزانہ کی بنیاد پر اس میں مزید کتب شامل کر رہے ہیں اس لیے آپ ہفتے میں ایک بار ضرور ہمارے پلے سٹور اور ویب سائٹ کو چیک کیا کریں۔

ابھی مطلوبہ پی-ڈی-ایف مفت ڈاون لوڈ کریں

تفاسیر	خطبات	منطق
احادیث	سیرت	معانی
فقہ	تاریخ	تصوف
سوانح حیات	صرف	تقابل ادیان
درس نظامی	نحو	تجوید
لغت	فلسفہ	نعت
فتاوی	حکمت	تراجم
اصلاحی	بلاغت	تبلیغ و دعوت
تمام فنون		

مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام

په پښتو ژبه د **نورالإيضاح** آسانه او جامع شرح

فتح الإيضاح

پښتو شرح

نور الإيضاح

دوهم ټوک

باب سجود السهو - فصل فى زيارة النبى ﷺ

تألیف او ترتیب:

مولوی حبیب الرحمن مدني

فاضل وفاق المدارس العربیه

مولوي محمّد صادق کاتران

فاضلِ جامعه محمّدیه

بسم الله الرحمن الرحيم

فتح الإيضاح پښتو شرح نور الإيضاح (دوهم ټوک)

تاليف او ترتيب: مولوي حبيب الرحمن مدني او مولوي محمد صادق کامران

خپرندوی: صداقت کتب خانه

چاپ کال: ۱٤۰۰ش - ۲۰۲۲ م.

د خپرونو لړ: ۳۹۹

چاپ شمېر: ۱۰۰۰ ټوکه

د تر لاسه کولو ځايونه:

صداقت کتب خانه

اوله ناحيه، نوی سړک- کريم اعتماد مارکېټ- کندهار

Sadaqat.books@gmail.com / ۰۷۰۰۳۰۵۴۰۷

کندهار: صداقت خپرندويه ټولنه- ارگ بازار- قلم او کتاب مارکېټ **هلمند** :تاج منـور خپرندويه ټولنه. **هرات:** صداقت کتاب پلورنځی- کوچه گدام. **غزني:** نعماني کتاب پلورنځی. **پکتيکا:** مجاهد کتاب پلورنځی. **خوست:** اسلامي کتاب پلورنځی.

د دې کتاب ټول حقوق په خپرندوی اړه لري!

فهرس

بَابُ سُجُوْدِ السَّهْوِ ۱
دوو سجلو حکمت ۱
د سجدۀ سهوي طریقه ۱
د قصداً غلطي کولو حکم ۲
د سجدۀ سهوي لپاره د سلام گرځولو حکم ۴
د سجدۀ سهوي د ساقطېدلو صورتونه ۵
پر مقتدي کله سجدۀ سهو واجبېږي؟ ۵
مسبوق مقتدی به هم د امام سره سجدۀ سهو کوي ۶
مسبوق به خپل لمونځ څنګه پوره کوي؟ ۶
که د ماښام د لمانځه صرف یو رکعت ونیسي؟ ۷
که مسبوق په هېره سلام وګرځوي؟ ۷
لاحق به خپل لمونځ څنګه پوره کوي؟ ۸
د جمعې یا د اختر په لمانځه کي سهو کېدل ۸
د قعدۀ اولیٰ (اولي ناستي) د هېرېدلو حکم ۸
که له قعدۀ اخیره څخه په هېره ولاړ سي ۱۰
که په آخري قعده کي د سلام کولو پر ځای ولاړ سي ۱۱
پر اولو دوو رکعتو د آخري دوو رکعتو بناء کول ۱۲
د سجدۀ سهو کونکي اقتداء کول ۱۳
تر کوم وخته پوري سجدۀ سهو کولای سي؟ ۱۴
په څلور رکعتیز یا درې رکعتیز لمانځه کي پر دویم رکعت سلام ګرځول ۱۴
د لمانځه په دوران کي فکر او سوچ وهل ۱۵
فَصْلٌ فِی الشَّكِّ ۱۶
د رکعتونو په شمېر کي شکمن کېدل ۱۶
تر سلام ګرځولو وروسته شکمن کېدل ۱۷

اکثره شک واقع کېدل ۱۷

بَابُ سُجُوْدِ التِّلَاوَةِ ۱۹

د سجدۀ تلاوت واجبېدلو سبب ۱۹
سجدۀ تلاوت ځنډول مکروه دي ۲۰
د سجدې د آیت په ویلو سره سجده واجبېږي، که څه هم په فارسي ژبه وي؟ ۲۰
د سجدۀ تلاوت د آیتونو شمېر ۲۱
سجدۀ تلاوت پر چا واجب ده؟ ۲۳
پر حیض او نفاس والا ښځې سجدۀ تلاوت نسته ۲۴
پر امام او مقتدي هم سجدۀ تلاوت نسته ۲۴
که امام او مقتدیان له بل چا څخه د سجدې آیت واوري، نو څه حکم دی؟ ۲۵
د سجدې د آیت په ترجمه سره هم سجده واجبېږي ۲۵
له بیده کس یا مجنون څخه د سجدې آیت اورېدل ۲۶
که بیده کس د سجدې آیت ووایي ۲۶
له مرغه څخه یا له ازانګې څخه د سجدې آیت اورېدل ۲۶
له راډیو څخه د سجدې آیت اورېدل ۲۶
د لمانځه په رکوع یا سجده سره د سجدۀ تلاوت اداء کولو حکم ۲۷
که غیرِ لمونځ ګزار له امام څخه د سجدې آیت واوري، نو څه حکم دی؟ ۲۸
د سجدې آیت لوستل او بیا په لمانځه کې لوستل او د دواړو لپاره یوه سجده کول ۳۰
د سجدې آیت په یوه مجلس کې څو واره ویل یا لوستل ۳۱
د مجلس بدلېدلو وضاحت ۳۱
د مجلس نه بدلېدلو څو صورتونه ۳۳
د مجلس بدلېدلو حکم ۳۴
د سجدې آیت پرېښوول ۳۵
د سجدې د آیت سره بل آیت یو ځای کول مستحب دي ۳۵
د سجدې آیت په کراره ویل مستحب دي ۳۵
د سجدۀ تلاوت لپاره ولاړېدل مستحب دي ۳۶
د اجتماعاً سجدې کولو طریقه ۳۶
د سجدۀ تلاوت شرائط ۳۷
د سجدۀ تلاوت طریقه ۳۷

د سجدهٔ شکر بیان ۳۸
فَائِدَةٌ مُهِمَّةٌ لِدَفْعِ كُلِّ مُهِمَّةٍ ۳۹
د هر حاجت پوره کېدلو او د مشکلاتو د حلّ لپاره یو مجرّب عمل ۳۹
بَابُ الْجُمُعَةِ ۴۱
وجهٔ تسمیه ۴۱
د جمعې د فرضیت دلائل ۴۱
تر ټولو مخکي د جمعې لمونځ کله وسو؟ ۴۲
د جمعې د پرېښوونکي او فضیلت په هکله حدیث ۴۲
د جمعې د فرضیت شرطونه ۴۳
د جمعې د صحت شرطونه ۴۵
جمعه په څومره آبادي کي جائز ده؟ ۴۶
د جمعې د وخت بیان ۴۷
د جمعې په لمانځه کي هر وخت تعجیل افضل دی ۴۷
د خطبې بیان ۴۷
د "اذن عام" بیان ۴۸
د جمعې لپاره کم از کم د دریو مقتدیانو شرط ۴۹
په منیٰ کي د جمعې د لمانځه حکم ۵۱
د خطبې کم مقدار ۵۲
دخطبې سنتونه او آداب ۵۳
د جمعې دویم اذان ۵۳
په ولاړه خطبه ویل او په لاس کي توره وغیره نیول ۵۴
خلکو ته مخامخ خطبه ویل ۵۵
خطبه په زوره ویل ۵۷
که چا ته د خطبې آواز نه رسیږي، نو هغه به څه کوي؟ ۵۷
د خطبې زیات مقدار ۵۷
خطبه اوږدول مکروه دي ۵۸
د اول اذان حکم ۵۸
د خطبې په دوران کي لمونځ یا خبري کول ۵۹

دجمعې تر اذان وروسته له ښار څخه وتل.......... ٦٠
که غیرِ معذور دجمعې دلمانځه څخه مخکې دماپښین لمونځ وکړي، نو څه حکم دی؟.......... ٦١
دمعذوره کسانو حکم.......... ٦٢
دجمعې لمانځه ته دالتحیات (تشهّد) په وخت کې رسېدل.......... ٦٢
دجمعې اوله خطبه.......... ٦٣
دجمعې دویمه خطبه.......... ٦٤

بَابُ الْعِيْدَيْنِ.......... ٦٥
عید ته ولې عید ویل کېږي؟.......... ٦٥
داخترونو مشروعیت.......... ٦٥
داختر دلمانځه حکم.......... ٦٥
په اختر کې دخطبې دوروسته کېدلو او په جمعه کې دمخکې کېدلو وجه.......... ٦٦
دکوچني اختر یو مستحب عمل.......... ٦٧
داختر لپاره ځان پاکول او ښه جامې اغوستل.......... ٦٧
صدقۀ فطر (سرسایه) اداء کول.......... ٦٨
داختر په ورځ مبارکي ورکول.......... ٦٨
داختر تر لمانځه وروسته روغبړ او تر غاړې کېدنه.......... ٦٩
داختر په ورځ صدقه و خیرات کول.......... ٦٩
داختر په ورځ سهار وختي را پورته کېدل.......... ٦٩
عیدګاه ته پیاده تلل.......... ٦٩
عیدګاه کوم ځای ته ویل کېږي؟.......... ٧٠
تکبیرونه به کله ختموي؟.......... ٧٠
داختر دلمانځه څخه مخکې یا وروسته نفل کول.......... ٧١
داختر دلمانځه وخت کله شروع کېږي؟.......... ٧٢
داختر دلمانځه طریقه.......... ٧٢
داختر تر لمانځه وروسته خطبه ویل.......... ٧٥
داختر دلمانځه قضاء.......... ٧٥
دلوی اختر او کوچني اختر په احکامو کې فرق.......... ٧٦
دعرفات دخلکو سره مشابهت اختیارول.......... ٧٧
دتکبیر تشریق حکم، وخت او تفصیل.......... ٧٧

تکبیرِ تشریق او د هغه ابتداء ۸۰

بَابُ صَلٰوةِ الْکُسُوْفِ وَالْخُسُوْفِ وَالْأَفْزَاعِ ۸۱

دلمر د ترنځي نیولو لمونځ (صلاةالکسوف) ۸۱

په صلاة الکسوف کي اذان او اقامت نسته ۸۲

په صلاة الکسوف کي به قرائت سراً کیږي ۸۲

په صلاة الکسوف کي خطبه سته، که نه؟ ۸۲

په صلاة الکسوف کي د قرائت مقدار ۸۳

د ترنځي د ختمېدو تر وخته پوري دعاء کول ۸۴

که دلمر د ترنځي په وخت کي پر آسمان وریځ وغوړېږي؟ ۸۵

ښځي به صلاة الکسوف یوازي کوي ۸۵

بَابُ الْاِسْتِسْقَاءِ ۸٦

داستسقاء لغوي او اصطلاحي معنیٰ ۸٦

دباران د طلب کولو د صورتونو بیان ۸٦

که داستسقاء دلمانځه څخه مخکي باران شروع سي؟ ۸۷

داستسقاء دلمانځه مستحبّات ۸۷

په مکه معظمه، مدینه منوّره او بیتُ المقدس کي به استسقاء چیري کیږي؟ ۸۹

داستسقاء په دعاء کي به امام څنګه درېږي او لاسونه به څنګه پورته کوي؟ ۸۹

داستسقاء دعاء ۹۰

د خطبې په دوران کي څادر وغیره چپه اړول ۹۱

د څادر اړولو طریقه ۹۲

بَابُ صَلَاةِ الْخَوْفِ ۹۳

د صلاة الخواف د جواز شرط ۹۳

د صلاة الخوف طریقه ۹۴

پر سپارلي صلاة الخوف کول ۹٦

بَابُ أَحْكَامِ الْجَنَائِزِ ٩٨
د مرګ د حالت احکام ٩٨
د تلقین حکم ٩٩
قریبُ الموت کس ته د قریبانو او همسایه ګانو د راتللو حکم ١٠٠
د "سورة یٰسٓ" لوستلو حکم ١٠١
د نا پاکه کسانو د ایستلو حکم ١٠١
د مړي سره د قرآن د تلاوت کولو حکم ١٠٣
د مرګ اعلان کول (خلک په خبرول) ١٠٤
مړی به د غسل لپاره څنګه ایښوول کیږي؟ ١٠٥
د غسل ورکولو طریقه ١٠٥
تر مرګ وروسته د خاوند او ښځي حکم ١١٠
که ښځینه یا نارینه مړي ته د غسل ورکولو لپاره هیڅ ښځه یا سړی نه وي؟ ١١٠
د خنثیٰ مشکل حکم ١١١
د کوچني بچي حکم ١١٢
د مړي مچولو حکم ١١٢
د ښځي کفن او دفن د خاوند پر ذمه دي، که نه؟ ١١٢
د مفلس کس کفن د چا پر ذمه دي؟ ١١٣
د سړي د کفن بیان ١١۴
د سړي لپاره کفنِ کفایه ١١٥
د کفن رنګ به څرنګه وي؟ ١١٥
د ازار، لفافه او قمیص تفصیل ١١٦
سړي ته د کفن ورکولو طریقه ١١٧
د ښځي د کفن بیان ١١٧
ښځي ته د کفن ورکولو طریقه ١١٨
کفن خوشبوداره کول ١١٩
کفنِ ضرورت ١١٩
د قریب البلوغ د کفن حکم ١٢٠
د جنازي په لمانځه کي شرکت کونکي لره زیری ١٢٠

فَصْلٌ فِيْ صَلَاةِ الْجَنَازَةِ ۱۲۰
د جنازې لمونځ فرض کفایه دی ۱۲۱
د جنازې د لمانځه فرائض ۱۲۱
د جنازې د لمانځه د صحت شرطونه ۱۲۱
د جنازې د لمانځه سنتونه ۱۲۲
تر دریم تکبیر وروسته کومه دعاء ویل پکار دي؟ ۱۲۳
تر څلورم تکبیر وروسته سمدستي سلام ګرځول ۱۲۵
له اول تکبیر څخه بغیر په نورو تکبیرونو کي به لاسونه نه پورته کوي ۱۲۵
که امام د جنازې په لمانځه کي پنځم تکبیر ووایي؟ ۱۲۶
د کوچني او لېوني لپاره به کومه دعاء ویل کیږي؟ ۱۲۶
د جنازې د لمانځه پوره طریقه ۱۲۷
فَصْلٌ ۱۲۸
د جنازې په لمانځه کي د امامت مستحق ۱۲۸
آیا ولي وغیره بل څوک مخکي کولای سي؟ ۱۲۹
د جنازې لمونځ دوباره کول ۱۲۹
که مړي د خپل جنازې د لمانځه لپاره د یو متعیّن سړي وصیت کړی وي؟ ۱۳۰
که مړی بغیر د جنازې د لمانځه څخه ښخ کړل سي، نو څه حکم دی؟ ۱۳۰
که په یوه وخت کي څو جنازې سره جمع سي؟ ۱۳۱
د جنازې په لمانځه کي د مسبوق حکم ۱۳۲
د غفلت په وجه په تکبیرِ تحریمه کي تأخیر کول ۱۳۳
تر څلورم تکبیر وروسته د راتلونکي کس حکم ۱۳۳
په مسجد کي د جنازې لمونځ کول ۱۳۴
که بچی تر پیدایښت وروسته مړ سي، یا مړ بچی پیدا سي، نو څه حکم دی؟ ۱۳۴
که د مسلمان یو کافر قریب مړ سي، نو څه حکم دی؟ ۱۳۶
په باغي او ډاکو باندي د جنازې د لمونځ کولو حکم ۱۳۶
د قاتل کس د جنازې د لمانځه حکم ۱۳۷
د هغه کس حکم چي د شپې وسله ګرځوي، یاکه په کوي ۱۳۷
په عصبیت (ناحقه طرفداری) کي د مړ کېدونکي کس د جنازې د لمانځه حکم ۱۳۸

د ځان وژونکي د جنازې دلمانځه حکم ۱۳۹
د پلار یا مور د قاتل د جنازې د لمانځه حکم ۱۳۹
فَصْلٌ فِيْ حَمْلِهَا وَ دَفْنِهَا ۱۴۰
د جنازې پورته کولو طریقه ۱۴۰
د جنازې وړلو سنت طریقه ۱۴۱
جنازه په تېزي سره وړل ۱۴۲
د جنازې شاته تلل ۱۴۳
د جنازې سره په پښو (پیادہ) تلل ۱۴۳
په جنازې پسې د تللو په وخت کي ذکر کول ۱۴۳
تر جنازې اېښوولو مخکي کښېښتل ۱۴۴
قبر به څومره کېندل کیږي؟ ۱۴۴
د قبر قسمونه (لحد [بغلي قبر] او شقّ [صندوقي قبر]) ۱۴۴
په قبر کي د مړي دشوه کولو، اېښوولو او د قبر پټولو طریقه ۱۴۵
د ښځي پر قبر د پرده کولو حکم ۱۴۶
پر قبر خاوري اچول ۱۴۷
پر قبر گومبته یا داسي بل ځای جوړول جائز نه دي ۱۴۸
قبر مضبوطه جوړول، پر قبر کتبه لیکل ۱۴۸
په کور کي مړی ښخول ۱۴۹
په بنده خونه (بنده کوټه) کي ښخول ۱۵۰
په یوه قبر کي څو مړي ښخول ۱۵۰
په کښتۍ کي مړ کېدل ۱۵۱
جنازه بل ځای ته وړل ۱۵۲
له ښخولو څخه وروسته مړی بل ځای ته وړل ۱۵۲
د بل چا په قبر کي د ښخ کړل سوي مړي حکم ۱۵۳
د قبر خلاصول کله جائز دي؟ ۱۵۳

فَصْلٌ فِیْ زِیَارَةِ الْقُبُوْرِ ۱۵۵
د قبرونو د زیارت حکم ۱۵۵
د قبرونو د زیارت طریقه ۱۵۵
د قبر سره کېښستل او د قرآن کریم تلاوت کول ۱۵٦
د قبر د شاوخوا شنه وابنه کښل ۱۵۷
بَابُ أَحْکَامِ الشَّهِیْدِ ۱۵۸
شهید ته د شهید ویلو وجه ۱۵۸
د شهید قسمونه ۱۵۸
د شهید تعریف او تفصیل ۱۵۹
د شهید احکام (کوم چې په دنیا کې پر هغه جاري کېږي) ۱٦۲
کِتَابُ الصَّوْمِ ۱٦٦
د صوم لغوي او اصطلاحي معنیٰ ۱٦٦
روژه کله فرض سوه؟ ۱٦٦
د روژې عظمت ۱٦٦
د روژې د واجبېدلو سبب ۱٦۸
روژه پر چا فرض ده؟ ۱٦۹
د روژې نیولو د وجوب شرائط ۱۷۰
د روژې نیولو د صحت شرائط ۱۷۰
جنابت د روژې منافي نه دی ۱۷۰
د روژې رکن ۱۷۱
د روژې حکم ۱۷۱
فَصْلٌ (فِیْ صِفَةِ الصَّوْمِ وَتَقْسِیْمِهٖ) ۱۷۲
د روژې قسمونه ۱۷۲
د فرض روژې قسمونه ۱۷۲
واجب روژه ۱۷۳
سنت روژه ۱۷۳
مستحب روژې (د ایامُ البیض روژې) ۱۷۴

د دوشنبي او پنجشنبې دورځي روژه ۱۷۵
د شوال (کوچني اختر د میاشتي) د شپږو روژو بیان ۱۷۵
د مستحبي روژې په هکله یو أصول (او صومِ داؤدي) ۱۷۶
د مکروهِ تنزیهي او مکروهِ تحریمي روژو بیان ۱۷۷
یوازي د جمعې یا شنبې په ورځ او د نوروز او مهرجان په ورځ روژه نیول ۱۷۸
صومِ وصال ۱۷۹
صومِ دهر ۱۷۹
فَصْلٌ فِيْمَا يَشْتَرِطُ تَبْيِيْتُ النِّيَّةِ وَتَعْيِيْنُهَا فِيْهِ وَمَا لَا يَشْتَرِطُ ۱۸۰
په کومو روژو کي له شپې څخه نیت او تعیین شرط نه دی؟ ۱۸۰
آیا د رمضان په روژو کي تعیین ضروري دی؟ ۱۸۱
په رمضان یا نذرِ معیّن کي د بل واجب (نذر یا قضائي روژې) نیت کول ۱۸۲
په کومو روژو کي له شپې څخه نیت او تعیین ضروري دی؟ ۱۸۳
فَصْلٌ فِيْمَا يَثْبُتُ بِهِ الْهِلَالُ وَفِيْ صَوْمِ يَوْمِ الشَّكِّ وَغَيْرِهٖ ۱۸۵
د رمضان د میاشتي ثبوت ۱۸۵
د یومُ الشک بیان ۱۸۶
په یومُ الشک کي د روژې نیولو څو صورتونه ۱۸۶
د شعبان په نهه ویشتمه یا په دېرشمه روژه نیول ۱۸۸
په یو الشک کي تر زواله پوري د انتظار کولو حکم او د خواصو او عوامو لپاره حکم ۱۸۸
د یوه کس د میاشتي لیدلو حکم او د هغه لپاره د روژې حکم ۱۹۰
که آسمان (مطلع) صفا نه وي، نو څه حکم دی؟ ۱۹۱
د اختر د میاشتي حکم ۱۹۳
که آسمان (مطلع) صفا وي، نو څه حکم دی؟ ۱۹۳
د یوه کس د ګواهی حکم ۱۹۴
د آسمان (مطلع) نه صفا کېدلو د یو صورت حکم ۱۹۵
د لوی اختر د میاشتي حکم ۱۹۵
له رمضان او اختر څخه وروسته د نورو میاشتو حکم ۱۹۶
د اختلافِ مطالع بیان ۱۹۷
د "ثمرة النَجاح" تشریح ۱۹۸
د ورځي د میاشتي لیدلو حکم ۱۹۹

بَابُ مَا لَا يُفْسِدُ الصَّوْمَ ۲۰۰
په هېره خوراک، څښاک یا جماع کول ۲۰۰
په نظر کولو سره انزالېدل، روغن لګول، په سترګو کي دواء اچول ۲۰۱
دروژې په حالت کي ښکر لګول، غیبت کول، دروژې ماتولو اراده کول، دیوشي دود یا ګرز یا مچ یا د دواء اثر ستوني ته ننوتل او محسوسول ۲۰۲
دروژې په حالت کي جنب کېدل، دذکر (یافرج) په سوري کي یو شی اچول، په غوږ اوبه ننوتل ۲۰۳
دروژې په حالت کي غوږ ګرول... او ګروبی (خراشکي) یا د خولې اوبه تېرول ۲۰۴
دروژې په حالت کي قی وهل ۲۰۶
له نخود څخه د کم مقدار حکم ۲۰۷
بَابُ مَا يَفْسُدُ بِهِ الصَّوْمُ وَتَجِبُ بِهِ الْكَفَّارَةُ مَعَ الْقَضَاءِ ۲۰۸
د کومو شیانو په څه قضاء او کفاره دواړه واجبیږي؟ ۲۰۸
فَصْلٌ فِي الْكَفَّارَةِ وَمَا يُسْقِطُهَا عَنِ الذِّمَّةِ ۲۱۶
په کومو شیانو سره کفاره ساقطیږي؟ ۲۱۶
دروژې د کفارې بیان ۲۱۷
بَابُ مَا يُفْسِدُ الصَّوْمَ مِنْ غَيْرِ كَفَّارَةٍ ۲۲۱
په کومو شیانو سره صرف قضاء واجبیږي، نه کفاره؟ ۲۲۱
د حقنې (امالې) او په پزه کي د دواء اچولو حکم ۲۲۲
په ستوني کي د نل په ذریعه دیو شي داچولو حکم ۲۲۲
په پیچکارۍ سره دروژې ماتېدلو حکم ۲۲۳
په نسوارو سره دروژې ماتېدلو حکم ۲۲۴
په غوږ کي تېل (روغن) یا دواء، یا اوبه اچول ۲۲۴
دغوږ د دواء په باره کي نور تحقیق ۲۲۴
دزخم دلارې نس یا دماغ ته د دواء رسېدلو حکم ۲۲۵
خطاءً روژه ماتېدل (داودس په دوران کي اوبه تر ستوني تېرېدل) ۲۲۶
دبل چا په زوره او جبر سره (مجبوراً) دروژې ماتولو حکم ۲۲۶
دخلمت کولو په وجه دروژې ماتولو حکم ۲۲۶
دهیري تر خوراک وروسته قصداً د خوراک کولو حکم ۲۲۷
تر صبح صادق وروسته د نیت کولو په صورت کي دروژې ماتولو حکم ۲۲۸

که روژتي مسافر مقیم سي، نو څه حکم دی؟ ۲۲۹
که روژتي مقیم مسافر سي، نو څه حکم دی؟ ۲۲۹
بغیر له نیته د خوراک، چښاک وغیره نه کولو حکم ۲۳۰
تر صبح صادق وروسته په خطاء سره د خوراک کونکي حکم ۲۳۰
د چارپای یا د مړې ښځې سره د وطي کولو یا په ورنو او نس باندي د انزال حکم ۲۳۱
د مچي اخیستلو او مسه کولو په وجه د انزال حکم ۲۳۱
له رمضان څخه بغیر د بلي روژې قصداً ماتولو حکم ۲۳۲
د بیدې ښځې سره د جماع کولو حکم ۲۳۲
په شرمګاه (فرج) کي د دواء اچولو حکم ۲۳۲
په دُبر کي د ګوتي داخلولو حکم ۲۳۲
په دُبر وغیره کي پمبه داخلول ۲۳۳
قصداً دود کشول ۲۳۳
په روژه کي قی وهل ۲۳۴
د نخود په اندازه د غابنو په مینځ کي پاته شی خوړول ۲۳۵
په هېره له خوراک کولو څخه وروسته د روژې د نیت کولو حکم ۲۳۵
د روژې له نیت کولو څخه وروسته د بېهوښه کېدلو حکم ۲۳۶
په روژه کي د جنون (لېونتوب) ختمېدلو حکم ۲۳۶

فَصْلٌ فِیْ لَوَاحِقِهٖ ۲۳۸

د روژې فاسدېدلو او د روژتیانو سره د مشابهت اختیارولو حکم ۲۳۸

فَصْلٌ فِیْمَا یُکْرَهُ لِلصَّائِمِ وَفِیْمَا لَا یُکْرَهُ وَمَا یَسْتَحِبُّ ۲۳۹

د کنډورو او داسي نورو د ژوولو حکم ۲۳۹
ګوند یا داسي نور ژوول ۲۳۹
د روژې په حالت کي ښځه مچول او ور سره پرېوتل ۲۴۰
نارې (لارې) تېرول ۲۴۰
داسي کار کول کوم چي د روژتي د ضُعف سبب ګرځي (مثلاً وینه کښل) ۲۴۰
نهه (۹) شیان کوم چي د روژتي لپاره مکروه نه دي ۲۴۱
د روژې په حالت کي مسواک وهل ۲۴۱
د ګرمي یا تندي په وجه په روژه کي غسل کول ۲۴۲

د روژې مستحبات (په پېشلمي کي تأخیر کول او په روژه مات کي تعجیل کول) ۲۴۳

فَصْلٌ فِي الْعَوَارِضِ ۲۴۵

اعذارِ مُبیحه ۲۴۵

د مسافر لپاره څه حکم دی؟ ۲۴۷

د مریض حکم ۲۴۸

د قضاء روژې پرلپسې نیول ضروري نه دي ۲۴۹

د شیخِ فاني او فانیه حکم ۲۴۹

د کفارهٔ یمین او کفارهٔ قتل فدیه ورکول جائز نه دي ۲۵۱

نفلي روژه بېله عذره ماتول او د مېلمستا په وجه نفلي روژه ماتول ۲۵۲

د نفلي روژې د قضاء حکم او د کوچني اختر، لوی اختر او د ایامُ التشریق د ورځو د نفلي روژې حکم ۲۵۳

بَابُ مَا يَلْزَمُ الْوَفَاءُ بِهٖ مِنْ مَنْذُوْرِ الصَّوْمِ وَالصَّلٰوةِ وَنَحْوِهِمَا ۲۵۴

د نذر (نذرانه) تعریف او شرائط ۲۵۴

د نذرِ مطلق او نذر معلق بیان ۲۵۷

د لوی اختر، کوچني اختر په ورځو او په ایامُ التشریق کي د نذر بیان ۲۵۷

په نذر کي د زمان او مکان د تعیین حکم ۲۵۸

په نذرِ معلق کي تعجیل جائز نه دی ۲۵۹

بَابُ الْاِعْتِكَافِ ۲۶۰

د اعتکاف لغوي او اصطلاحي معنیٰ ۲۶۰

د اعتکاف اصطلاحي معنیٰ ۲۶۰

د ښځي لپاره په کور کي د اعتکاف کولو حکم ۲۶۱

د اعتکاف د دریو قسمونو بیان ۲۶۱

معتکف په کومو صورت کي له مسجد څخه وتلای سي؟ ۲۶۳

د معتکف لپاره په مسجد کي خوراک، څښاک، خوب او بیع کول ۲۶۵

په اعتکاف کي د خاموشی (چپتیا) حکم ۲۶۶

د اعتکاف په حالت کي جماع کول حرام دي ۲۶۶

د ورځو د اعتکاف په نذر کولو سره د شپو اعتکاف هم لازمیږي ۲۶۷

د یوې میاشتي د اعتکاف د نذر کولو حکم ۲۶۸

د اعتکاف مشروعیت ۲۶۹

كِتَابُ الزَّكوٰةِ ۲۷۳
دزكاة فريضه ۲۷۳
زكاة او صدقه په مال كي د اضافې سبب دي ۲۷۳
زكاة كله فرض سو؟ ۲۷۴
دزكاة سبب ۲۷۴
دزكاة حكم ۲۷۴
دزكاة لغوي او اصطلاحي معنیٰ ۲۷۴
دزكاة اصطلاحي معنیٰ ۲۷۴
دزكاة د فرضيت شرائط ۲۷۵
دزكاة پر مال د كال تېرېدل شرط دي او په مينځ كي اضافه سوى مال په نصاب كي شامليږي ۲۷۷
مخكي (پېشگي) زكاة اداء كول ۲۷۹
دزكاة نيت كول شرط دي او دزكاة د نيت كولو وخت ۲۸۰
له مال وركولو څخه بغير دزكاة وكيل جوړول ۲۸۱
دزكاة اخيستونكي خبرېدل شرط نه دي او د هبې يا قرض په ويناسره زكاة وركول صحيح دي ۲۸۱
كه ټوله نصاب صدقه كړي، نو ضمناً زكاة هم اداء كيږي ۲۸۱
د قرض د زكاة بيان او تفصيل ۲۸۲
د كوم مال د ترلاسه كېدلو چي هيڅ اُميد نه وي، په هغه كي زكاة نسته ۲۸۸
د قرض په معاف كولو سره زكاة نه اداء كيږي ۲۹۰
د سرو زرو او سپينو زرو په زكاة كي بل شی وركول ۲۹۰
كه د چا سره تجارتي سامان، سره زره يا سپين زر وي او دواړه له نصاب څخه كم وي؟ ۲۹۱
كه د كال په مينځ كي نصاب كم سي؟ ۲۹۲
د سرو زرو او سپينو زرو د نصاب اندازه ۲۹۳
پر نصاب د زياتوب كولو حكم ۲۹۴
د هغه سرو يا سپينو زرو حكم چي بل شی (كوټ) په گډ سوی وي ۲۹۵
د استعمال په جواهراتو او ملغلرو كي زكاة واجب نه دی ۲۹۵
د تجارت په مال كي د خرڅلاو قيمت معتبر دی ۲۹۷

په زکاة کي دتأخير کولو او د مال هلاکېدلو حکم ٢٩٧
د هلاک سوي زکاة تعلق د نصاب سره دی او که دعفو د مقدار سره ٢٩٨
جبراً زکاة اخيستل، تر مرګ وروسته له ميراث څخه زکاة اخيستل ٢٩٩
له زکاة واجبېدلو څخه مخکي د هغه د ساقطېدلو حيله ٣٠٠

بَابُ الْمَصْرِفِ ٣٠١
د زکاة مصارف ٣٠٢
بنو هاشم (سيدانو) ته زکاة ورکول جائز نه دي ٣٠٨
له بنو هاشمو څخه څوک مراد دي؟ ٣٠٨
کومو خپلوانو او قريبانو ته زکاة ورکول جائز نه دي؟ ٣٠٩
د زکاة مال د مړي په کفن او قرض کي خرچول ٣١٠
مالدار کس ته د فقير په ګومان د ورکول سوي زکاة حکم ٣١١
له نصاب څخه د زيات زکاة ورکولو حکم ٣١١
څومره زکاة ورکول پکار دي؟ ٣١٢
بل ښار ته د زکاة وړولو حکم ٣١٢
کومو کسانو ته زکاة ورکول افضل او غوره دي؟ (غريب قريبان، بيا همسايه ګان...) ٣١٣
که غريب قريب موجود وي او زکاة بل چا ته ورکول سي، نو زکاة يي نه قبلېږي ٣١۴

بَابُ صَدَقَةِ الْفِطْرِ ٣١۵
د صدقه لغوي او اصطلاحي معنیٰ ٣١۵
د روژې زکاة (صدقۀ فطر) ٣١۵
د صدقۀ فطر مشروعيت ٣١٦
صدقۀ فطر پر چا واجب ده؟ ٣١٦
صدقۀ فطر به سړی د خپل ځان، بچيانو او غلامانو له طرفه اداء کوي ٣١٧
د صدقۀ فطر شرعي مقدار ٣٢٠
د صاع مقدار ٣٢٠
د صاع وزن د اوسني او پخواني وزن په اعتبار سره ٣٢١
د مالداره کسانو لپاره مشوره ٣٢١
په صدقۀ فطر کي قيمت ورکول جائز نه، بلکي افضل دي ٣٢١
د صدقۀ فطر د اداء کولو وخت ٣٢٢

صدقۂ فطر به یوه کس ته ورکول کیږي او که څو کسانو ته؟ ۳۲۳

کتاب الحج ۳۲۴

د حج لغوي او اصطلاحي معنیٰ ۳۲۴

د حج د فرضیت دلائل ۳۲۴

د حکم په اعتبار سره د حج قسمونه ۳۲۵

د حج اصطلاحي تعریف ۳۲۵

د حج وخت ۳۲۶

حج علی الفور واجب دی ۳۲۶

د حج د فرضیت شرطونه ۳۲۷

د حج لپاره به حوائجِ اصلیه نه خرڅول کیږي؟ ۳۳۱

که د حج لپاره مال وي خو د یو شي رانیولو ته ضرورت وي؟ ۳۳۱

اول به حج کول کیږي او که واده؟ ۳۳۱

د حج اداء کولو د وجوب شرطونه ۳۳۲

د حج شرائط او فرائض ۳۳۵

د حج واجبات (له میقات څخه احرام تړل) ۳۳۶

تر لمر لوېدو پوري په عرفات کي وقوف کول ۳۳۸

په مزدلفه کي وقوف کول ۳۳۸

شیطانان ویشتل (رمی الجِمار) ۳۳۸

د قارن او متمتّع ذبح کول ۳۳۹

سر خرېیل (حلق) ۳۳۹

رمی پر حلق مخکي کول ۳۴۰

قرباني پر حلق مخکي کول ۳۴۰

طواف زیارت د قربانۍ په ورځو (ایّامُ النحر) کي کول ۳۴۱

د صفا او مروه تر مینځ سعی کول ۳۴۱

په پښو (پیاده) سعی کول ۳۴۲

له صفا غره څخه سعی شروع کول ۳۴۲

طوافِ وداع (طوافِ صدر) کول ۳۴۲

له حجرِ اسود څخه د طواف شروع کول ۳۴۲

طواف پیاده کول ۳۴۳
طواف د پاکۍ په حالت کي کول ۳۴۳
په طواف کي عورت پټول ۳۴۳
د احرام ممنوعات ۳۴۴
د حج سنتونه (له احرام څخه مخکي غسل یا اودس کول) ۳۴۵
د احرام کپړې ۳۴٦
پر بدن د خوشبویي لګولو حکم ۳۴۷
دوه رکعته صلاة احرام ۳۴۷
تلبیه زیاته ویل، په لوړ آواز سره ویل او په هر حالت کي ویل او مکرّره ویل ۳۴۷
درود شریف ویل او دعاګاني کول ۳۴۸
مکې شریفي ته د داخلېدلو پر مهال غسل کول، او د بابُ المعلاة د لاري د ورځي داخلېدل ۳۴۹
د کعبې شریف د لیدلو په وخت کي کلمه ویل او دعاء کول ۳۵۰
طواف قدوم کول ۳۵۱
د اضطَباع حکم ۳۵۱
د سعی په هر دَور (شَوط) کي د میلین اخضرین تر مینځ تېز تلل ۳۵۲
زیات طوافونه کول (او نفلي طواف له نفلي لمانځه څخه افضل دی) ۳۵۳
امام به درې ځایه خطبه وایي ۳۵۴
د ذو الحجې د اتمې افعال ۳۵۴
په عرفات کي تر زوال وروسته خطبه ویل او د ماپښین او مازیګر لمنځونه یو ځای اداء کول ۳۵۵
د وقوف عرفه سنت طریقه ۳۵۵
وقوف مَزدلفه ۳۵۷
د منیٰ ورځي او شپې ۳۵۷
د رمي (شیطان ویشتلو) په وخت کي د درېدلو طریقه ۳۵۹
قرباني د کوم حاجي لپاره سنت او د کوم یوه لپاره واجب ده؟ ۳٦۳
د حج درېیمه خطبه ۳٦۴
د ذو الحجې په دوولسمه له منیٰ څخه روانېدل ۳٦۴
په محصّب کي د پړاؤ کولو بیان ۳٦۵
د زمزم اوبه چیښل ۳٦٦
د ملتزم سره التزام او دعاء کول ۳٦۷

دنبي کريم ﷺ د روضې زيارت کول ۳۶۸

فَصْلٌ فِیْ کَیْفِیَّةِ تَرْکِیْبِ أَفْعَالِ الْحَجِّ ۳۷۰

له ميقات څخه داحرام تړلو حکم ۳۷۰
ټوله ميقاتونه په يوه جدول کي ۳۷۰
له احرام تړولو څخه مخکي د غسل يا اودس کولو حکم ۳۷۱
داحرام بعضي مستحبات ۳۷۱
داحرام کپړې ۳۷۲
داحرام نیړي به څنګه وي؟ ۳۷۲
خوشبويي لګول، دوه رکعته لمونځ او دعاء کول ۳۷۳
اوله تلبيه به څه وخت ويل کيږي؟ او دتلبيه الفاظ ۳۷۴
د تلبيه پر ځای بل ذکر کول ۳۷۴
تلبيه په ژبه سره ويل شرط دي ۳۷۵
د تلبيه په الفاظو کي کمي و زياتوب کول ۳۷۵
په تلبيه ويلو سره حاجي محرم ګرځي او په حالت داحرام کي د پرهېز کولو حکم ۳۷۶
محرم بچي به هم داحرام له ممنوعاتو څخه منع کول کيږي ۳۷۷
عورتونه او څټه پټول، په غيرِ معتاد شي سره مخ پټول، پر مخ ماسک لګول ۳۷۸
داحرام په حالت کي د غسل کولو، يا د سايه حاصلولو حکم ۳۷۸
د هميانۍ او بټوه تړلو حکم ۳۷۸
د تلبيه د زيات ويلو حکم ۳۷۹
مکې شريفي ته له رسېدو څخه وروسته به مسجدِ حرام ته کله حاضرېږي؟ ۳۸۰
مسجدِ حرام ته د داخلېدلو ادب ۳۸۱
له طواف کولو څخه مخکي د حجرِ اسود استقبال کول ۳۸۲
د حجرِ اسود د استلام او مچولو پنځه طريقې ۳۸۳
د طواف کولو طريقه ۳۸۴
د طواف سره متعلق څو نوري مسئلې ۳۸۶
سعي بين الصّفا والمروه کولو طريقه او وضاحت ۳۸۹
له طواف او سعي کولو څخه وروسته په مکه کي د پاتېدلو حکم ۳۹۲
نفلي طواف له نفلي لمانځه څخه افضل دی ۳۹۳

دذو الحجې په اتمه (یوم الترویه) باندې د حج افعال ۳۹۳
عرفات ته د روانېدلو بیان او د عرفات د افعالو تفصیل ۳۹۴
په عرفات کې د وقوف (درېدلو) ځای، طریقه او تفصیل ۳۹۷
له عرفات څخه مزدلفې ته د روانېدلو بیان او د مزدلفې د افعالو تفصیل ۳۹۹
په مزدلفه کې شپه تېرول، د وقوفِ مزدلفه بیان او تفصیل ۴۰۲
له مزدلفې څخه ومنیٰ ته د روانېدلو بیان او تفصیل ۴۰۳
د رمي کولو طریقه ۴۰٦
قرباني به کله کول کېږي؟ ۴۰۸
مکې شریفې ته د راتګ او د طوافِ زیارت بیان ۴۰۹
دذو الحجې په دوولسمه او یوولسمه د رمی کولو وخت او طریقه ۴۱۰
دذو الحجې په دوولسمه له منیٰ څخه د روانېدلو یا د تأخیر کولو بیان ۴۱۲
کومه رمی به پیاده (په پښو) کول کېږي او شپې به په منیٰ کې تېرول کېږي ۴۱۳
په محصّب کې پړاؤ کول او د طوافِ وداع کولو بیان ۴۱۵
له طواف څخه وروسته د ماءِ زمزم چیښلو بیان او تفصیل ۴۱٦
د دعاء قبلېدلو ځایونه ۴۱۹
کعبې شریفې ته د داخلېدلو بیان ۴۲۰
له ارکانِ کعبه څخه څه مراد دي؟ ۴۲۲
له مکې شریفې څخه د واپس تللو بیان ۴۲۳
ښځه د حج په کومو احکامو کې له سړي څخه جلا ده؟ ۴۲۴
د حج کوم قسم افضل دی ۴۲۷
فَصْلٌ (د حجِ قِران بیان) ۴۲۸
حجِ قران او د هغه طریقه ۴۲۸
فَصْلٌ (د حجِ تمتّع بیان) ۴۳۱
حجِ تمتّع او د هغه طریقه او د حجِ تمتّع اقسام ۴۳۱

فَصْلٌ (دعمرې بیان) ۴۳۴
دعمرې حکم او وخت ۴۳۴
دعمرې کولو طریقه ۴۳۵
دعمرې افعال ۴۳۵
په حج کي دعرفات او جمعې ورځ سره یو ځای کېدل (کوم ته چي دعوامو په اصطلاح حج اکبر ویل کیږي) ۴۳۶
په مکه شریفه کي استوګنه اختیارول ۴۳۷
دحجِ افراد افعال او دهغوی حکم ۴۳۹
دحج قِران افعال او دهغوی حکم ۴۴۰
دحج تمتّع افعال او دهغوی حکم ۴۴۰
دعمرې افعال او دهغوی حکم ۴۴۱
بَابُ الْجِنَايَاتِ ۴۴۲
دبعضي اصطلاحاتو وضاحت ۴۴۲
دجنایت قسمونه ۴۴۲
دکومو جنایاتو په وجه دَم واجبیږي؟ (داحرام په حالت کي خوشبويي لګول) ۴۴۵
قاعدهٔ کلیه ۴۴۵
داحرام په حالت کي نکریزي یا خوشبوداره روغن لګول، یا ګنډل سوي جامه اغوستل ۴۴۵
سر یا ږیره تورول ۴۴۶
داحرام په حالت کي سر خرېیل، یا دښکر لګولو ځای یا یو بغل یا سپوخته خرېیل ۴۴۷
په پوډر یا داسي بل شي سره وربښتان لیري کول ۴۴۸
داحرام په حالت کي نوکان پرېکول یا واجب کار پرېښوول ۴۴۸
داحرام په حالت کي برېتونه خرېیل یا کوچني کول ۴۴۹
دکومو جنایاتو په وجه صرف صدقه لازمیږي؟ (پر کم دعضو خوشبويي لګول، له یوې ورځي څخه کم وخت جامه اغوستل یا سر پټول) ۴۴۹
له څلورمي حصې څخه کم سر خرېیل، په متفرّقه توګه (جلا، جلا) نوکان پرېکول ۴۵۰

د بې اودسیا په حالت کي طواف کول ۴۵۱
له رمی څخه یو کاڼی یا ډېر کاڼي پرېښوول ۴۵۳
د بل چا سر ورخرېیل، یا نوکان ور پرېکول ۴۵۴
عذر کوم معتبر دی؟ ۴۵۴
د کومو جنایاتو په جه له صدقه (نیم صاع) څخه کم مقدار واجبیږي؟ (سپږه یا ملخ وژل) ۴۵۵
د حرم شریف ملخان تر پښو لاندي کېدل ۴۵۵
د کومو جنایاتو په وجه قیمت واجبیږي؟ ۴۵۵
د غیرِ محرم (حلال کس) ښکار کول، د حرم د حدودو وابنه او بوټي پرېکول ۴۵۸
فَصْلٌ (لا شيء بقتل غراب... إلخ) ۴۶۰
د احرام په حالت یا د حرم په حدودو کي د کومو حیوانانو قتلول جائز دي؟ ۴۶۰
فَصْلٌ (د هدی بیان) ۴۶۱
د هدی تعریف، اقسام او وضاحت ۴۶۱
په جرمانه کي بدنه کله لازمیږي؟ ۴۶۲
د قربانۍ وخت ۴۶۳
د هدی د ذبح کولو ځای ۴۶۳
د هدی کوم څاروي ته به قلاده ور اچول کیږي؟ او د هدی د زل، رسۍ او د شیدو حکم ۴۶۴
د پیاده حج کولو نذر کول او د پیاده حج کولو فضیلت ۴۶۵
فَصْلٌ فِیْ زِیَارَةِ النَّبِيِّ ﷺ ۴۶۷
د مدیني شریفي فضیلت ۴۶۷
د مدیني شریفي حُرمت ۴۶۷
د مدیني شریفي سفر ۴۶۷
د روضې مبارکي د زیارت فضیلت ۴۶۸
د دروشریف فضیلتونه ۴۷۱
مدینې شریفي ته د نژدې رسېدلو دعاء ۴۷۲

مدینې شریفي ته د داخلېدلو آداب ۴۷۴

د روضې مبارکي د زیارت کولو ادب او طریقه ۴۷۷

د روضې مبارکي سره د درود او سلام ویلو الفاظ او دعاء ۴۷۹

د خپلو گناهونو اقرار او د شفاعت خواست کول ۴۸۱

نبي کریم ﷺ ته د نورو اُمتیانو له طرفه سلام پېشول ۴۸۳

په حضرت ابوبکر صدیق رضی الله عنه باندي سلام پېشول ۴۸۴

په حضرت عمر فاروق رضی الله عنه باندي سلام پېشول ۴۸۶

د روضې مبارکي ومخ ته د دعاء کولو بیان ۴۸۹

د اسطوانهٔ ابو لبابه سره دوه رکعته لمونځ او دعاء کول ۴۹۱

اسطوانهٔ حنانه ۴۹۳

مبارکو ځایو ته او بقیه ستنو ته د ورتللو بیان ۴۹۴

د اُحُد د شهیدانو خصوصاً د حضرت حمزه رضی الله عنه د قبر زیارت کول او بقیع ته تلل ۴۹۵

د مسجد قباء د زیارت بیان ۴۹۸

له مدینې شریفي څخه د واپس تللو آداب ۵۰۱

* * *

بَابُ سُجُوْدِ السَّهْوِ

(دا) باب د سجدۀ سهوي (په بیان کي) دی

تشریح: د "سهو" معنیٰ ده "هېرېدل"، " د ضرورت په وخت کي شی له ذهنه وتل" (نه یادېدل)، بل لفظ "نِسیان" دی، د لغت په اعتبار سره د سهو او نسیان تر مینځ څه فرق نسته، لېکن بعضو دا فرق بیان کړی دی چي که له معلوم شي څخه داسي بې خبره سي چي په معمولي غوندي تنبیه سره ورته یاد سي، نو دې ته سهو وایي او نسیان د شي بالکل هېرېدلو ته وایي.

د سجدۀ سهوي تعریف دا دی چي کله په لمانځه کي په هېره داسي کمي یا زیاتوب وسي چي په هغه سره لمونځ خو نه فاسدیږي لېکن داسي نقصان پکښې راسي چي د هغه تلافي (جبران) په لمانځه کي کېدلای سي، نو په سجدې سره د هغه نقصان وتلافي کولو ته سجدۀ سهو وایي او طریقه یې شریعت دا ټاکلې ده چي په آخري ناسته کي دي تر تشهّد ویلو وروسته راسته طرف ته سلام وګرځول سي او دوې سجدې دي وکړل سي او بیا دي التحیات پوره کړل سي او سلام دي وګرځول سي. (شفاء الارواح)

د دوو سجدو حکمت: حکیمُ الأمة اشرف علي تهانوي رَحِمَهُ الله فرمایي: چي د سهوي د دوو سجدو حکمت دا دی چي په اوله سجده کي نفس ته په دې خبره تنبیه ورکول دي چي زه له دغه خاوري څخه پیدا سوی یم او دویمه سجده پر دې تنبیه ده چي همدې خاوري ته به بیرته ځم. (فتح الهدایه)

د سجدۀ سهوي طریقه

﴿٥٩﴾ یَجِبُ سَجْدَتَانِ بِتَشَهُّدٍ وَ تَسْلِیْمٍ لِتَرْكِ وَاجِبٍ سَهْوًا واجبیږي دوې سجدې سره د تشهّد او سلام ویلو د یو واجب د پرېښوولو په وجه په هېره وَإِنْ تَكَرَّرَ که څه هم دا (په هېره پرېښوول) مکرّر سي (څو ځلي وسي).

تشریح: په دې عبارت کي اولاً د سجدۀ سهوي طریقه بیان سوې ده او ثانیاً د سجدۀ سهوي د وُجوب سبب بیان سوی دی، د سجدۀ سهوي طریقه دا ده چي په آخره ناسته کي دي تر تشهّد ویلو وروسته راسته طرف ته یو سلام وګرځوي او دوې سجدې دي وکړي، بیا دي کښېني او تشهّد، درود شریف او دعاء دي ووایي او سلام دي وګرځوي.

د سجدهٔ سهوي د واجبېدلو سبب په لمانځه کي د يو واجب پرېښوول دي چي په هېره يو واجب پرېږدي مثلاً تشهد نه ووايي، نو سجدهٔ سهو واجبېږي، که څه هم مکرر يعني څو واجبات په هېره پرېږدي مثلاً سورة الفاتحه نه ووايي او اوله ناسته هم څني پاته سي، همدارنګه تعديلُ الارکان هم پرېږدي، نو د ټولو لپاره هم صرف يو وار سجدهٔ سهو کول کافي کيږي.

د قصداً غلطي کولو حکم

﴿٦٠﴾ وَإِنْ كَانَ تَرْكُهٗ عَمَدًا او که د واجب پرېښوول قصداً وي (په قصده يې پرې اېښى وي) أَثِمَ نو ګنهګاره کيږي وَوَجَبَ إِعَادَةُ الصَّلٰوةِ او واجب دي د لمانځه راګرځول لِجَبْرِ نَقْصِهَا د لمانځه د نقص (کمی) پوره کولو لپاره (يعني چي د واجب پرېښوولو په وجه په لمانځه کي واقع سوې کمي او تاوان پوره سي او تلافي يې وسي).

لغات: ﴿جَبْر﴾ د نصر د باب مصدر دی: د تاوان تلافي کول (جبران)، واقع سوې کمي پوره کول. (يا په بله وينا د واقع سوي تاوان اصلاح او سمون)، د نقصان بدله ورکول (يعني د فوت سوي شي د نقصان عوض ورکول چي د پېښ سوي نقصان خلا ډکه سي)، ﴿نَقْص﴾ د نصر له بابه اسم مصدر دی: کمي، نقصان، د "نقصها" ضمير "صلاة" ته راجع دی.

تشريح: که څوک قصداً په لمانځه کي يو واجب پرېږدي، نو د هغه لمونځ راګرځول واجب دي، محض په سجدهٔ سهوي کولو سره د هغه غلطۍ تلافي نه کيږي، او راګرځول (اعاده) يې ځکه واجبېږي چي په لمانځه کي کومه لا پروايي او کمي سوې ده، هغه پوره سي، خو بيا هم که لمونځ نه راوګرځوي، نو د کراهتِ تحريمي سره کيږي. (طحطاوي على مراقى الفلاح ص: ٢٥١)

﴿٦١﴾ وَلَا يَسْجُدُ فِي الْعَمَدِ لِلسَّهْوِ او سجده به نه کوي په عمد کي (يعني چي قصداً يې واجب پرې اېښى وي) د سهوي لپاره وَقِيْلَ: إِلَّا فِيْ ثَلَاثٍ او ويل سوي دي: مګر په دريو کي (يعني په دريو صورتونو کي د قصداً واجب پرېښوولو په وجه به سجدهٔ سهو کوي) تَرْكُ الْقُعُوْدِ الْأَوَّلِ ① اوله ناسته پرېښوول أَوْ تَأْخِيْرُهٗ سَجْدَةً مِنَ الرَّكْعَةِ الْأُوْلٰى إِلٰى اٰخِرِ الصَّلٰوةِ ② يا د اول رکعت سجده ځنډول (وروسته کول) د لمانځه وآخر ته وَتَفَكُّرُهٗ عَمَدًا حَتّٰى شَغَلَهٗ عَنْ رُكْنٍ ③ او د لمونځ ګزار قصداً فکر کول (سوچ وهل) تر دې چي هغه مشغوله (غافله) کړي له يوه رکن څخه.

تشریح: که لمونځ گزار قصداً یو واجب پرېږدي، نو د هغه تلافي په سجدۀ سهوي سره نه سي کېدلای لکه مخکي چي ذکر سوه، خو دیوه قول مطابق درې شیان داسي دي چي که هغوی قصداً هم وکړل سي، نو په سجدۀ سهوي سره یې تلافي کیږي (یا په بله وینا سجدۀ سهو د هغوی لپاره کافي کیږي): ① یو دا چي قعدۀ اولیٰ (اوله ناسته) قصداً پرېږدي، ② د اول رکعت یوه سجده قصداً په دویم رکعت یا دریم رکعت کي یا بالکل په آخري رکعت کي اداء کړي (د آخري رکعت تخصیص نسته)، ③ په لمانځه کي قصداً د یو شي په باره کي سوچ وهل شروع کړي او دیوه رکن (یعني درې واره د سبحان ربي العظیم ویلو) په اندازه په هغه سوچ کي مشغوله پاته سي، نو په سجدۀ سهوي سره د دې شیانو تلافي کیږي چي که سجدۀ سهو وکړي، نو لمونځ یې صحیح کیږي، علامه طحطاوي رَحِمَهُ الله دوه شیان پر دې نور هم اضافه کړي دي: ① په قعدۀ اولیٰ کي قصداً درود ویل، ② قصداً فاتحه پرېښوول، دا ټوله پنځه شیان سوه چي د هغوی د قصداً پرېښوولو په صورت کي په سجدۀ سهوي سره تلافي کیږي.

یادونه: پورته چي کوم قول په "قِیْلَ" سره ذکر سو، هغه ضعیف دی، پر هغه عمل او فتویٰ نسته، علامه شامي رَحِمَهُ الله د البحر الرائق پر حاشیه لیکلي دي "لأن السّجدة شرعت جابرةً نظراً للمعذور لا للمتعمّد، ولِمَا اتّفقوا علیه من أن سبب وجوبه ترك الواجب الأصلي أو تغییره ساهیًا، وهٰذا هُوالّذي یعتمد للفتویٰ والعمل". (منحة الخالق على البحر الرائق ج:۲، ص:۹۹)

نو صحیح خبره دا ده چي پورته کوم پنځه شیان ذکر سول، که هغوی قصداً وکړل سي، نو محض په سجدۀ سهو کولو سره تلافي نه کیږي، بلکي د لمونځ اعاده واجبیږي او که په هېره وکړل سي، نو په سجدۀ سهوي سره تلافي کیږي، یعني که په هېره قعدۀ اولیٰ پرېږدي او ولاړ سي، نو تر څو چي ولاړي ته نژدې سوی نه وي، بیرته دي راوگرځي، لېکن که نه راوگرځي یا ولاړي ته نژدې سي بیا راوگرځي، نو سجدۀ سهو لازمیږي، برابره ده فرض لمونځ وي او که نفل وي (عالمگیري ج:۱. ص:۱۲۷)، ② په هر رکعت کي دوې سجدې فرض دي او دواړه پرلپسې یو ځای کول واجب دي، لهذا که څوک په هېره یوه سجده پرېږدي بیا د لمانځه په دوران کي د خپلي هیري احساس ورته وسي، نو هغه ته پکار دي چي هېره سوې سجده د لمانځه په دوران کي اداء کړي او په آخر کي سجدۀ سهو وکړي، له شروع څخه د نورو ارکانو راگرځولو ته ضرورت نسته (حلبي ص:۴۵۶)، ③ که د فرضي لمانځه په اوله ناسته (قعدۀ اولیٰ) کي له تشهد ویلو څخه وروسته په هېره درود شریف ویل شروع کړي او تر "علیٰ آل محمد" پوري یې ووایي، نو سجدۀ سهو واجبیږي، راجح قول همدا دی (شامي ج:۱، ص:۶۹۲)، ④ که د فرضو په اولو دوو رکعتو کي یا د نفلو په هسې یو رکعت کي سورة الفاتحه په هېره

پرېښودي، یا د سورة الفاتحې یو آیت یا یوه حصه پرېښودي، نو د هغه د تلافۍ لپاره سجدهٔ سهو لازمیږي، لیکن که څوک قصداً داسې وکړي، نو لمونځ واجبُ الاعاده پاتیږي. (در مختار ج:۱، ص:۴۲۶)

د سجدهٔ سهوې لپاره د سلام ګرځولو حکم

﴿۷۶۲﴾ وَيُسَنُّ الْاِتْيَانُ بِسُجُوْدِ السَّهْوِ بَعْدَ السَّلَامِ او سنت دي سجدهٔ سهو تر سلام وروسته اداء کول.

تشریح: د عبارت مطلب دا دی چې تر سجدهٔ سهوې مخکې سلام ګرځول سنت دي او یو قول دا دی چې واجب دي، خو اول قول راجح دي چې سنت دي، لهذا که یو څوک سلام نه وګرځوي او سجدهٔ سهو وکړي نو هم جائز دي، خو مکروه تنزیهي دي او د لمونځ راګرځولو ضرورت نشته.

﴿۷۶۳﴾ وَيَكْتَفِيْ بِتَسْلِيْمَةٍ وَاحِدَةٍ عَنْ يَمِيْنِهٖ فِي الْأَصَحِّ او اکتفاء به کوي په یوه سلام ګرځولو باندې خپل راسته طرف ته، د صحیح قول مطابق.

تشریح: د سجدهٔ سهوې لپاره د سلام ګرځولو په باره کې درې قوله نقل سوي دي: ① یو قول دا دی چې صرف یو سلام دې یوه طرف ته یعنې راسته طرف ته وګرځوي او سجدهٔ سهو دې وکړي، همدا قول اصح دی او پر همدې فتویٰ ده، ② دویم قول دا دی چې دواړو طرفونو ته دې سلام وګرځوي، بیا دې سجدهٔ سهو وکړي، بعضې فقهاؤ د همدې قول تصحیح کړې ده، خو شیخ الاسلام خواهر زاده رَحِمَهُ الله فرمایي چې دواړو طرفونو ته سلام ګرځول د خبرو کولو په څېر دي، ③ درېیم قول دا دی چې صرف یو سلام دې وګرځوي، هغه هم د مخ وطرف ته، یعنې راسته او چپه طرف ته دې مخ نه ګرځوي، پر دې قول هیڅ حنفي عالم فتویٰ نه ده ورکړې، خو اصح او مفتیٰ بهٖ اول قول دی (کما ذکر). (انوار الایضاح بتغیر)

﴿۷۶۴﴾ فَإِنْ سَجَدَ قَبْلَ السَّلَامِ او که تر سلام مخکې سجده وکړي كُرِهَ تَنْزِيْهًا نو مکروه تنزیهي دي.

تشریح: که د سجدهٔ سهوې لپاره سلام نه وګرځوي، بلکې بغیر له سلام څخه سجدهٔ سهو وکړي، نو که څه هم سجدهٔ سهو خو صحیح کیږي، لیکن داسې کول مکروه تنزیهي دي (لکه مخکې چې ذکر سوه).

د سجدۂ سهوي د ساقطېدلو صورتونه

﴿٧٦٥﴾ وَيَسْقُطُ سُجُوْدُ السَّهْوِ او ساقطیږي سجدۂ سوه بِطُلُوْعِ الشَّمْسِ بَعْدَ السَّلَامِ فِي الْفَجْرِ دلمر په راختلو سره تر سلام وروسته دسهار په لمانځه کي وَاحْمِرَارِهَا فِي الْعَصْرِ او دلمر په سُور کېدلو سره دمازیګر په لمانځه کي وَبِوُجُوْدِ مَا يَمْنَعُ الْبِنَاءَ بَعْدَ السَّلَامِ او تر سلام وروسته د داسي شي په موجودېدلو (واقع کېدلو) سره کوم چي بناء منع کوي (بناء لره مانع وي).

تشریح: له دې ځایه هغه صورتونه بیانوي چي سجدۂ سهو پکښي ساقطیږي او د ساقطېدلو مطلب دا دی چي په دې صورتونو کي سجدۂ سهو کول جائز نه دي:

① که د سهار په لمانځه کي سجدۂ سهو واجب سي او لمونځ ګزار اول سلام وګرځوي او تر اوسه یې سجدۂ سهو نه وي کړې چي لمر را وخیږي، نو له هغه څخه سجدۂ سهو ساقطیږي او پر هغه د لمانځه اعاده هم نسته.

② واحمرارها: که د مازیګر په لمانځه کي سجدۂ سهو واجب سي او د اول سلام تر ګرځولو وروسته او د سجدۂ سهوي تر کولو مخکي لمر متغیّر (سور غوندي) سي، نو سجدۂ سهو ساقطیږي او د لمانځه اعاده هم نسته.

③ وبوجود: یعني په کوم شي سره چي لمونځ ماتیږي او د بناء مانع دی، مثلاً قصداً اودس ماتول (قصداً باد خارجول او داسي نور)، یا قصداً خبري کول او داسي نور، که داسي شی له اول سلام ګرځولو څخه وروسته واقع سي، نو په دې سره هم سجدۂ سهو ساقطیږي او د کراهت سره لمونځ صحیح کیږي په دې ټولو صورتونو کي. (شفاء الارواح، انوار الایضاح)

پر مقتدي کله سجدۂ سهو واجبیږي؟

﴿٧٦٦﴾ وَيَلْزَمُ الْمَأْمُوْمَ بِسَهْوِ إِمَامِهٖ لَا بِسَهْوِهٖ او (سجدۂ سهو) لازمیږي پر مقتدي د خپل امام په سهوي (هېري) سره، نه په خپل سهوي سره.

تشریح: مسئله دا ده چي کله په لمانځه کي له امام څخه څه سهو وسي، نو سجدۂ سهو پر امام هم واجبیږي او پر مقتدي هم، که بیا هم امام سجدۂ سهو نه وکړي، نو پر مقتدي هم سجدۂ سهو اداء کول لازم نه دي.

لا بسهوه: يعني که له مقتدي څخه په لمانځه کي يو سهو وسي، مثلاً په اوله ناسته کي تشهّد نه وايي، نو د هغه په وجه نه پر امام سجدهٔ سهو لازميږي او نه پر مقتدي؛ ځکه د صحت او فساد په اعتبار سره د امام لمونځ د مقتدي پر لمانځه مبني نه دی.

مسبوق مقتدی به هم د امام سره سجدهٔ سهو کوي

﴿٦٧﴾ وَيَسْجُدُ الْمَسْبُوْقُ مَعَ إِمَامِهٖ او مسبوق به د خپل امام سره سجدهٔ سهو کوي ثُمَّ يَقُوْمُ بِقَضَاءِ مَا سُبِقَ بِهٖ بيا (تر هغې وروسته) به ولاړيږي د هغه (پاته) لمونځ د راګرځولو لپاره کوم چي له ده څخه مخکي تېر سوی دی (يعني تر سجده سهوي کولو وروسته به د تېر سوي لمانځه لپاره ولاړيږي).

لغات: ﴿المسبوق﴾ هغه مقتدی چي اول رکعت ځني تېر سوی وي هغه ته مسبوق وايي، نور بيا که دوه رکعته ځني تير سوي وي او که درې يا څلور سره چي صرف په آخره ناسته کي د امام سره شريک سوی وي.

تشريح: که پر امام سجدهٔ سهو واجب سي، نو پر مسبوق مقتدي هم سجدهٔ سهو کول لازم دي، تر دې چي که مسبوق د خپل لمانځه د پوره کولو لپاره ولاړ سي بيا هغه ته معلومه سي چي پر امام سجدهٔ سهو سته، نو واپس دي را وګرځي او په سجدهٔ سهو کي دي ور سره شريک سي. او مسبوق ته پکار دي چي د خپل پاته لمانځه د پوره کولو لپاره هغه وخت ولاړ سي کله چي امام دواړو خواوو ته سلام وګرځوي او مسبوق ته اطمينان سي چي پر امام سجدهٔ سهو لازم نه ده، د "ثُمَّ" په ذکر کولو کي همدې طرف ته اشاره ده؛ ځکه لفظ د "ثُمَّ" د تراخی لپاره راځي. (طحطاوي على مراقى الفلاح)

❀ ❀ ❀

مسبوق به خپل لمونځ څنګه پوره کوي؟

مسئله (١): مسبوق به د امام تر سلام وروسته پاته لمونځ داسي پوره کوي چي د قرائت په اعتبار سره خپل پاته رکعتونه به اول رکعتونه بولي او د ناستي (قعده) په اعتبار سره به هغه آخري رکعتونه بولي، مثلاً که له يو چا څخه د ماپښين د لمانځه درې رکعته تېر سوي وي او صرف آخري رکعت ونيسي، نو دا کس چي د امام تر سلام ګرځولو وروسته د خپل پاته درې رکعتو لپاره ولاړ سي نو په داسي ترتيب سره به يې کوي چي په اول رکعت کي به د سورة الفاتحه سره سورت يو ځای کوي او بيا تر رکوع او سجدو وروسته به ناسته (قعده) کوي؛ ځکه دلته د هغه دوه رکعته پوره سول؛ يو رکعت د امام سره او دويم د هغه خپل يو رکعت، او تر ناستي (قعدې) وروسته به په دويم رکعت کي

بیا د سورة الفاتحه سره سورت یو ځای کوي او په آخري رکعت کي به صرف سورة الفاتحه وایي. (طحطاوي، حلبي کبیر ص: ۴۶۸، ۴۶۹)

که د ماښام د لمانځه صرف یو رکعت ونیسي؟

مسئله (۲): که یو څوک د ماښام په لمانځه کي صرف یو رکعت د امام سره ونیسي، نو هغه به په پاته دوو رکعتونو کي د سورة الفاتحه سره سورت یو ځای کوي او غوره دا ده چي پر اول رکعت ناسته (قعده) هم وکړي، خو که ناسته نه وکړي، نو هم استحساناً لمونځ صحیح کیږي. (حلبي کبیر ص: ۴۶۸)

که مسبوق په هېره سلام وګرځوي؟

مسئله (۳): که مسبوق مقتدی په هېره سلام وګرځوي، نو ددې درې صورتونه دي: ① یو دا چي هغه د امام تر سلام مخکي سلام وګرځوي، ② د امام سره یو ځای سلام وګرځوي، ③ د امام تر سلام وروسته سلام وګرځوي، په اول او دویم صورت کي پر مسبوق سجدهٔ سهو واجب نه ده او په دریم صورت کي پرې واجب ده، برابره ده یوه طرف ته یې سلام ګرځولی وي او که دواړو طرفونو ته. (البحر الرائق ج: ۲، ص: ۱۰۸)

﴿٦٨﴾ وَلَوْسَهَا الْمَسْبُوْقُ فِيْمَا يَقْضِيْهِ او که سهوه سي مسبوق په هغه (پاته لمانځه) کي کوم چي راګرځوي سَجَدَ لَهٗ أَيْضًا لَا اللَّاحِقُ نو مسبوق دي د هغه لپاره هم سجدهٔ سهوه وکړي، نه لاحق.

لغات: ﴿لاحق﴾ کوم څوک چي په اول رکعت کي د امام سره شریک سوی وي، لېکن وروسته په یو رکعت کي په یو وجه شریک نه سي مثلاً وروسته په خوب یا داسي بل څه سره د بې اودسه کېدلو په وجه شریک نه سي، نو داسي مقتدي ته په اصطلاح کي لاحق وایي.

تشریح: د عبارت حاصل دا دی چي که مسبوق د خپل پاته (مسبوقانه) لمونځ د راګرځولو په وخت کي سهو سي، نو د هغه لپاره هم په آخر کي سجدهٔ سهو کول ضروري دي.

لا اللاحق: یعني که لاحق په خپل پاته (لاحقانه) لمونځ کي سهو سي، نو پر هغه سجدهٔ سهو نسته. مثلاً یو سړی د امام سره لمونځ شروع کړي خو د لمانځه په دوران کي یې اودس مات سي او د اودس لپاره ولاړ سي. کله چي هغه تر اودس کولو وروسته واپس راسي، نو امام یو رکعت کړی وي، اوس چي کله هغه دا یو رکعت راګرځوي، که په دې کي سهو سي، نو پر هغه سجدهٔ سهو نسته: ځکه هغه حکماً مقتدی دی او پر مقتدي په خپل سهوي سره سجدهٔ سهو نه لازمیږي.

❀ ❀ ❀

لاحق به خپل لمونځ څنګه پوره کوي؟

مسئله: پر لاحق کس ضروري دي چي اولاً خپل پاته لمونځ (فوت شده رکعت) راوګرځوي، بیا که امام تر اوسه سلام نه وي ګرځولی، نو د هغه سره دي شریک سي او لمونځ دي پوره کړي او که امام سلام ګرځولی وي، نو بیا دي یوازي خپل لمونځ پوره کړي، او که د دې خلاف وکړي یعني د پاته لمونځ له راګرځولو څخه بغیر اول د امام سره شریک سي او د امام تر سلام ګرځولو وروسته خپل پاته لمونځ راوګرځوي، نو لمونځ یې صحیح کیږي، خو ګنهګاره کیږي. (عالمګیري ج:۱، ص:۹۲)

د جمعې یا د اختر په لمانځه کي سهو کېدل

﴿۶۹﴾ وَلَایَأْتِی الْإِمَامُ بِسُجُوْدِ السَّهْوِ فِی الْجُمُعَةِ وَالْعِیْدَیْنِ او نه به اداء کوي امام سجدهٔ سهو په جمعه او اخترونو کي.

تشریح: د عبارت حاصل دا دی چي که امام د جمعې یا د اختر په لمانځه کي داسي سهو او غلطي وکړي چي د هغه په وجه سجدهٔ سهو واجبیږي، نو د امام لپاره ښه دا ده چي سجدهٔ سهو نه وکړي؛ ځکه په دې لمنځونو کي مجمع زیاته وي، نو د سجدهٔ سهوي په کولو کي د ناخبره عوامو د لمونځ خرابېدلو قوي اندېښنه سته، همدا حکم د هغه جماعت د لمانځه دی کوم چي په لویه اجتماع او جلسه کي په زیاته مجمع سره ودریږي. (طحطاوي علی مراقی الفلاح ص:۲۵۳، کتاب المسائل ص:۳۱۰)

د قعدهٔ اولیٰ (اولي ناستي) د هېرېدلو حکم

﴿۷۰﴾ وَمَنْ سَهَا عَنِ الْقُعُوْدِ الْأَوَّلِ مِنَ الْفَرْضِ او څوک چي سهوه سي (تېروځي) له اولي ناستي څخه د فرضو (یعني د فرضو اوله ناسته څني هېره سي) عَادَ إِلَیْهِ مَالَمْ یَسْتَوِ قَائِمًا فِیْ ظَاهِرِ الرِّوَایَةِ نو هغه (اولي ناستي) ته دي بیرته راوګرځي تر څو چي سیده درېدلی نه وي، د ظاهر روایت مطابق وَهُوَ الْأَصَحُّ او همدا زیاته صحیح ده وَالْمُقْتَدِیْ کَالْمُتَنَفِّلِ یَعُوْدُ وَلَوِ اسْتَتَمَّ قَائِمًا او مقتدی د نفل کونکي په څېر دی راګرځي به (ناستي ته) که څه هم هغه پوره (سیده) درېدلی وي فَإِنْ عَادَ وَهُوَ إِلَی الْقِیَامِ أَقْرَبُ بیا که هغه راوګرځي په داسي حال کي چي هغه ولاړي ته زیات نژدې وي سَجَدَ لِلسَّهْوِ نو سجدهٔ سهو به کوي وَإِنْ کَانَ إِلَی الْقُعُوْدِ أَقْرَبَ او که ناستي ته زیات نژدې وي لَا سُجُوْدَ عَلَیْهِ فِی الْأَصَحِّ نو پر هغه سجدهٔ سهو نسته، د اصح قول مطابق وَإِنْ

عَادَ بَعْدَ مَا اسْتَتَمَّ قَائِمًا او كه هغه راوګرځي وروسته تر دې چې پوره (سيده) درېدلی وي **اِخْتَلَفَ التَّصْحِيْحُ فِيْ فَسَادِ صَلٰوتِهٖ** نو د هغه د لمانځه د فاسدېدلو په باره کي (د علماؤ) تصحيح مختلفه ده (يعني د بعضو په نېز صحيح دا ده چي د هغه لمونځ فاسدېږي او د بعضو په نېز صحيح دا ده چي لمونځ يې نه فاسديږي).

لغات: ﴿لم يستو﴾ د افتعال له بابه د جحد صيغه ده، مصدر: استواء: سيده کېدل، برابرېدل، ﴿استتمّ﴾ د استفعال د باب ماضي ده: پوره کول، بشپړ کول.

تشريح: يعني که له امام يا منفرد څخه په فرضو يا وترو کي قعدهٔ اولیٰ (اوله ناسته) هېره سي، نو تر څو چي سيده (پوره) درېدلی نه وي، پر هغه واجب دي چي بېرته د ناستي وطرف ته راوګرځي. همدا ظاهر روايت او اصح قول دی.

والمقتدی: يعني څرنګه چي نفل کونکی په هر حال کي د ناستي (قعده) وطرف ته راګرځي، ځکه د نفل کونکي هره قعده "قعدهٔ اخيره" ده يعني فرض او لازم ده (ځکه د نفلو هر دوه رکعته مستقل لمونځ دی، کمامرّ)، نو همداسي مقتدی که څه هم سيده درېدلی وي، پر هغه د ناستي وطرف ته راګرځېدل لازم دي، همدارنګه که مقتدي قعدهٔ اولیٰ پرېږدي او ولاړ سي او امام ناست وي، نو پر مقتدي لازم دي چي ناستي ته راوګرځي (بيرته کښېني).

فإن عاد الخ: پورته معلومه سوه چي که په فرضو يا وترو کي له امام يا منفرد څخه قعدهٔ اولیٰ هېره سي، نو تر څو چي سيده (پوره) درېدلی نه وي، پر هغه واجب دي چي د ناستي وطرف ته راوګرځي، اوس که هغه په داسي حالت کي راوګرځي چي ولاړي ته زيات نژدې وي، نو پر هغه سجدهٔ سهو واجب ده او که ناستي ته زيات نژدې وي، نو د اصح قول مطابق پر هغه سجدهٔ سهو واجب نه ده. خلاصه دا چي د سجدهٔ سهوي حکم متعلق دی د قُرب او عدمِ قُرب سره او د عَود حکم متعلق دی د استواء او عدمِ استواء سره. او دلته يې "اصح" ځکه ويلي دي چي د بعضو په نېز سجدهٔ سهو واجبېږي؛ ځکه قعدهٔ اولیٰ کوم چي واجب ده په هغې کي تأخير راغلی. (شفاء الارواح)

وإن عاد بعد ما الخ: يعني کله چي قعدهٔ اولیٰ پرېږدي او سيده ودرېږي، نو بيا ناستي ته راګرځېدل پکار نه دي، لېکن که هغه راوګرځي، نو د بعضو په نېز د هغه لمونځ فاسديږي او هغو همدې قول ته صحيح ويلي دي او بعضي ويلي دي چي لمونځ يې نه فاسديږي او هغو بيا همدې قول ته صحيح ويلي دي، لېکن په "عمدة الفقه" کي دي چي صحيح مذهب دا دی چي د هغه لمونځ اداء کيږي، خو په داسي کړنه سره ګنهګاره کيږي او په دې صورت کي هم سجدهٔ سهو کول واجبيږي.

که له قعدۀ اخیره څخه په هېره ولاړ سي

﴿۷۷۱﴾ وَإِنْ سَهَا عَنِ الْقُعُوْدِ الْأَخِيْرِ او که سهوه سي (تېروځي) له آخري ناستې څخه (آخره ناسته ئې هېره سي) عَادَ مَا لَمْ يَسْجُدْ نو را دې وګرځي تر څو چې هغه سجده نه وي کړې (د زائد رکعت لپاره) وَسَجَدَ لِتَأْخِيْرِهٖ فَرْضَ الْقُعُوْدِ او سجدۀ سهو دې وکړي د فرض ناستې د ځنډولو په وجه فَإِنْ سَجَدَ بیا که هغه سجده وکړي (د زائد رکعت لپاره) صَارَ فَرْضُهٗ نَفْلًا نو د هغه فرض نفل ګرځي وَضَمَّ سَادِسَةً إِنْ شَاءَ او شپږم رکعت دې ور سره ضمّ (یو ځای) کړي که یې خوښه وي وَلَوْ فِي الْعَصْرِ که څه هم د مازیګر په لمانځه کې وي وَرَابِعَةً فِي الْفَجْرِ او څلورم رکعت (دې ور سره ضمّ کړي) د سهار په لمانځه کې.

تشریح: صورت د مسئلې دا دی چې که څوک قعدۀ اخیره (آخري ناسته) هېره کړي یعني په څلور رکعتیز لمانځه کې پنځم رکعت ته ولاړ سي، یا په درې رکعتیز (یعني د ماښام او وترو په) لمانځه کې څلورم رکعت ته ولاړ سي یا په دوه رکعتیز (د سهار په) لمانځه کې درېیم رکعت ته ولاړ سي، نو تر څو چې یې د هغه زائد رکعت سجده نه وي کړې، بیرته دې د قعده (ناستې) وطرف ته راوګرځي او سجدۀ سهو دې وکړي؛ ځکه په قعدۀ اخیره کې کوم چې فرض ده تأخیر راغلی.

فإن سجد إلخ: او که د قعده وطرف ته نه راوګرځي او د زائد رکعت سجده وکړي، نو تر سجده کولو وروسته د هغه لمونځ د فرضو پر ځای نفل ګرځي، او س دې د هغه سره یو رکعت بل یو ځای کړي (ضَمّ کړي) چې نفل جُفت وګرځي (مثلاً د څلور رکعتیز لمانځه په صورت کې شپږ رکعته نفل سي) او طاق پاته نه سي. دلته یې "إن شاء" ویلي دي، لهذا که خوښه یې نه وي نو بل زائد رکعت دې نه ور سره یو ځای کوي او پر پنځم رکعت دې سلام وګرځوي، په دې صورت د هغه څلور رکعته نفل سوه او یو رکعت یې ضایع سو. لیکن زائد رکعت ور سره یو ځای کول ښه دي.

ولولي العصر: یعني که څه هم د مازیګر لمونځ وي، په هغه کې دې هم زائد یعني شپږم رکعت ور سره ضمّ کړي او که د سهار لمونځ وي، نو څلورم رکعت دې ور سره ضمّ کړي. (شفاء الارواح، انوار الایضاح)

﴿۷۷۲﴾ وَلَا كَرَاهَةَ فِي الضَّمِّ فِيْهِمَا عَلَى الصَّحِيْحِ او کراهت نسته په ضمولو (د بل زائد رکعت) کې په دې دواړو (یعني د مازیګر او سهار په لمانځه) کې د صحیح قول مطابق.

لغات: ﴿الضم﴾ د نصر د باب مصدر دی: یو شی د بل شي سره یو ځای کول، ضمول.

تشریح: د تېر عبارت په آخر کي ذکر سوه چي د مازیګر او سهار په لمانځه کي دي هم زائد رکعت ور سره ضموي، اوس دلته فرمايي چي د صحيح قول مطابق په دې دواړو لمنځونو کي د زائد رکعت په ضمولو کي هيڅ کراهت نسته، د "على الصحيح" په قيد سره يې د بعضو قول رد کړی دی؛ ځکه د بعضي حضراتو قول دا دی چي په دې دواړو لمنځونو کي دي بل رکعت نه ور سره ضموي: ځکه د مازیګر تر لمانځه وروسته نوافل مکروه دي؛ همدارنګه د سهار تر لمانځه وروسته او مخکي هم نوافل مکروه دي؛ نو دلته يې د "صحيح" په قيد سره د هغو قول رد کړی؛ ځکه کله چي دلته ټوله رکعتونه نفل وګرځېده او تر دې وروسته فرض دویم ځل کول کيږي نو ښکاره خبره ده چي اوس نفل د مازیګر تر لمانځه وروسته نه واقع کيږي، همدارنګه تر دې لمنځونو وروسته د نفلو کراهت هغه وخت دی کله چي د لمونځ ګزار په اختيار سره وي او دلته فرض نفل ګرځېدل بغير له اختيار ځخه دي. علامه ابن نجيم رَحِمَهُ الله په البحر الرائق کي د مازیګر او سهار د لمانځه په هکله په دې مسئله کي فرمايي "التطوع إنما يكره فيهما إذا كان عن اختيار أمّا إذا لم يكن عن اختيار فلا، وعليه الاعتماد.... وعليه الفتوىٰ... وقال فى فتح القدير: والنهى عن التنفل القصدى بعدهما". (البحر الرائق ج: ۲، ص: ۱۱۳)

﴿ متن ﴾ وَلَا يَسْجُدُ لِلسَّهْوِ فِي الْأَصَحِّ او سجدهٔ سهو به نه کوي د صحيح ترين قول مطابق.

تشریح: مخکي ذکر سوه چي که څوک قعدهٔ اخيره هېره کړي او د بل رکعت لپاره ولاړ سي او د هغه رکعت سجده هم وکړي، نو يو بل زائد رکعت دي ور سره ضمّ کړي او دا ټوله رکعتونه نفل وګرځېده. اوس دلته فرمايي چي کله يو بل رکعت ور سره ضمّ کړي، نو د بعضو په نيز پر هغه سجدهٔ سهو سته. لېکن صحيح قول دا دی چي پر هغه سجدهٔ سهو کول لازم نه دي؛ ځکه دلته نقصان د فساد په وجه دی چي په سجدهٔ سهوي سره د هغه تلافي نه سي کېدلای، اوس خو پر هغه دوباره فرض لمونځ کول لازم دي.

که په آخري قعده کي د سلام کولو پر ځای ولاړ سي

﴿ متن ﴾ وَإِنْ قَعَدَ الْأَخِيْرَ ثُمَّ قَامَ او که آخره نلسته وکړي بيا ولاړ سي عَادَ وَسَلَّمَ مِنْ غَيْرِ إِعَادَةِ التَّشَهُّدِ نو راودي ګرځي (نلستي ته) او سلام دي وګرځوي بغير له راګرځولو ځخه د تشهّد (يعني التحيات دي بيرته نه وايي) فَإِنْ سَجَدَ بيا که سجده وکړي (د زائد رکعت لپاره) لَمْ يَبْطُلْ فَرْضُهُ نو د ده فرض نه باطليږي (او نفل نه ګرځي) وَضَمَّ إِلَيْهَا أُخْرىٰ او ور سره ضم دي کړي د

هغه (زائد رکعت) سره بل رکعت لِتَصِيْرَ الزَّائِدَتَانِ لَهٗ نَافِلَةً دَدې لپاره چې وګرځي دا دوه زائد(اضافي) رکعتونه د ده لپاره نفل وَ سَجَدَ لِلسَّهْوِ او سجدهٔ سهو دې وکړي.

لغات: ﴿قام﴾ د نصر د باب ماضي ده قَوْمًا وقِيَامًا: درېدل، ولاړېدل، ﴿عاد﴾ د نصر د باب ماضي ده، مصدر: عَوْدًا: راګرځېدل، واپس کېدل، ﴿إعادة﴾ د افعال د باب مصدر دی: راګرځول، دوباره کول.

تشريح: صورت د مسئلې دا دی چې که څوک په قعدهٔ اخيره (آخري ناسته) کې د تشهّد په اندازه کښېني، بيا تر دې وروسته ولاړ سي (يعني د تشهّد په اندازه ناستې څخه وروسته په څلور رکعتيز لمانځه کې د پنځم رکعت لپاره يا په دوه رکعتيز لمانځه کې د درېيم رکعت لپاره ولاړ سي)، نو د دې کس فرض اداء سوه، لېکن هغه ته پکار دي چې سمدستي د ناستې (قعده) وطرف ته راوګرځي او کله چې را وګرځوي، نو تشهّد دې بيرته نه وايي، بلکې سجدهٔ سهو دې وکړي او سلام دې وګرځوي، او که د پنځم يا درېيم رکعت سجده وکړي، نو په دې صورت کې غوره دا ده چې بل (شپږم يا څلورم) رکعت دې هم ور سره يو ځای کړي، د دې لپاره چې آخري دوه رکعته نفل وګرځي (يعني چې هغه يو زائد رکعت ضايع نه سي)، لېکن سجدهٔ سهو کول په هر صورت کې ضروري دي، فرض لمونځ خو ځکه اداء سو چې د سلام په لفظ د لمانځه څخه وتل زموږ په نېز واجب دي، او په دې صورت کې صرف د سلام لفظ پاتـه سوی دی او د واجب په پرېښوولو سره لمونځ نه فاسدېږي؛ ځکه د واجب پرېښوولو په وجه چې کوم نقصان او کمي راغلې ده، هغه په سجدهٔ سهو سره پوره کېږي.

پر اولو دوو رکعتو د آخري دوو رکعتو بناء کول

﴿۵۷﴾ وَلَوْ سَجَدَ لِلسَّهْوِ فِي شَفْعِ التَّطَوُّعِ او که سجدهٔ سهو وکړي د نفلو په دوه رکعتو کې لَمْ يَبْنِ شَفْعًا آخَرَ عَلَيْهِ اِسْتِحْبَابًا نو نه دې بناء کوي دوه نور رکعته پر هغه، د مستحب والي په اعتبار سره (يعني مستحب دا ده چې د هغه دوه رکعتو نفلو سره دې دوه نور رکعته نه يو ځای کوي) فَإِنْ بَنٰى بيا که هغه بناء وکړي (يعني دوه نور رکعته ور سره يو ځای کړي) أَعَادَ سُجُوْدَ السَّهْوِ فِي الْمُخْتَارِ نو سجدهٔ سهو دې راوګرځوي (يعني بله سجدهٔ سهو دې وکړي)، د مختار (خوښ سوي) قول مطابق.

لغات: ﴿شفع التطوّع﴾ د نفلو دوه رکعتيز لمونځ.

تشريح: صورت د مسئلې دا دی چې که يو څوک دوه رکعته نفل وکړي، لېکن په هغوی کې څه سهو او غلطي وسي چي د هغه په وجه سجدهٔ سهو وکړي، بيا دئ وغواړي چې پر هغه دوو رکعتو نور دوه

رکعته نفل بناء کړي، نو دغه کس لره د دې (بناء کولو) اجازه نسته، بلکې سلام دې وګرځوي او په نوي تحریمه سره دې دوه رکعته نفل وکړي؛ دلیل دا دی چې سجدهٔ سهو د لمانځه په آخر کې مشروع سوې ده، د لمانځه د دوو شفعو په مینځ کې مشروع نه ده (یا په بله وینا دا چې په شریعت کې د سجدهٔ سهوې ځای د لمانځه آخر ټاکل سوی دی، نه د لمانځه مینځ)، اوس که د بناء کولو اجازه ورکول سي، نو بلا ضرورته به د سجدهٔ سهوي باطلول لازم سي؛ ځکه دلته سجدهٔ سهو د لمانځه په مینځ کې واقع سوې ده، حال دا چې د لمانځه په مینځ کې مشروع نه ده.

فإن بنٰی إلخ: فرمایي بیا هم که هغه بناء وکړي چې نور دوه رکعته (دویمه شفعه) هم وکړي، نو صحیح کیږي؛ ځکه تر اوسه تحریمه باقي ده، خو په آخر کې به بله سجدهٔ سهو کوي، همدا مختار او اصح قول دی؛ ځکه کله چې یې بناء وکړه، نو هغه سجدهٔ سهو د لمانځه په مینځ کې واقع سوه، لهذا هغه باطله او غیرِ معتبره سوه، نو ځکه اوس پر دغه نفل کونکي د سجدهٔ سهوي اعاده واجب ده.

قوله استحبابًا: د دې لفظ په تشریح کې علامه طحطاوي رَحِمَهُ الله د البحر الرائق په حواله سره لیکلي دي چې دغه نفل کونکي لره بناء کول مکروه تحریمي دي؛ ځکه په بناء کولو کې د یوه واجب ماتول راځي چې هغه د سجدهٔ سهو باطلول دي، له دې څخه معلومه سوه چې بناء نه کول واجب دي، مستحب نه دي، "قال الطحاوی: إذا علمت ما ذکر مع ظهوره یکون عدم البناء واجبًا لا مستحبًّا". (طحطاوي ص: ۲۵۶، البحر الرائق ج: ۲، ص: ۱۱۴)

د سجدهٔ سهو کونکي اقتداء کول

﴿٤٤٦﴾ وَلَوْ سَلَّمَ مَنْ عَلَيْهِ سَهْوٌ او که سلام وګرځوي هغه کس پر چا چې سجدهٔ سهو (واجب) وي فَاقْتَدٰى بِهٖ غَيْرُهٗ بیا اقتداء وکړي په ده پسې بل څوک. صَحَّ إِنْ سَجَدَ لِلسَّهْوِ نو (اقتداء یې) صحیح ده که دئ سجدهٔ سهو وکړي وَإِلَّا فَلَا يَصِحُّ کنې نو صحیح نه ده.

تشریح: مسئله دا ده پر کوم لمونځ ګزار چې سجدهٔ سهو واجب وي، کله چې هغه سلام وګرځوي او تر سلام وروسته یو داسې فعل نه وکړي کوم چې د لمانځه منافي وي، بیا په همدې حال کې یو بل کس په هغه پسې نیت وتړي، اقتداء پسې وکړي، نو په داسې صورت کې حکم دا دی چې که دا لمونځ ګزار یعني امام (چې په هغه پسې بل چا اقتداء کړې ده) سجدهٔ سهو وکړي، نو هغه مقتدی د ده په لمانځه کې داخلیږي او که امام سجدهٔ سهو نه وکړي، نو هغه د ده په لمانځه کې داخل نه شمېرل کیږي؛ ځکه تر سلام ګرځولو وروسته که لمونځ ګزار سجده وکړه، نو ویل کیږي به چې تحریمه باقي ده او کله چې تحریمي باقي ده، نو په هغه پسې د بل چا اقتداء کول هم صحیح دي. او که تر

سلام وروسته یې سجده نه وکړه، نو ویل کیږي به چي تحریمه باقي پاته نه سوه او کله چي تحریمه باقي نه ده، نو اقتداء پسې کول به هم صحیح نه وي. (مأخوذ از انوار الایضاح و شفاء الارواح)

تر کوم وخته پوري سجدهٔ سهو کولای سي؟

﴿۷۷﴾ وَيَسْجُدُ لِلسَّهْوِ وَإِنْ سَلَّمَ عَامِدًا لِلْقَطْعِ او سجدهٔ سهو به کوي که څه هم هغه قصداً دلمونځ قطع کولو (ختمولو) لپاره سلام ګرځولی وي مَا لَمْ يَتَحَوَّلْ عَنِ الْقِبْلَةِ أَوْ يَتَكَلَّمْ تر څو چي له قبلې څخه اوښتی نه وي یا (تر څو چي) یې خبري نه وي کړي.

لغات: ﴿عامدًا﴾ د ضرب له بابه د فاعل صیغه ده، مصدر: عَمْدًا: قصداً یو کار کول، په قصده کول.

- ﴿لم یتحوّل﴾ د تفعّل له بابه د جحد صیغه ده: اوښتل، ګرځېدل.

تشریح: که پر لمونځ ګزار سجدهٔ سهو واجب وي، لیکن هغه د لمونځ ختمولو په قصد سره سلام وګرځوي، او سجدهٔ سهو هغه ته یاد پاته نه سي، نو تر څو چي هغه له قبلې څخه اوښتی نه وي او نه یې د چا سره خبره کړې وي په لنډه توګه دا چي تر سلام ګرځولو وروسته داسې شی څني صادر سوی نه وي کوم چي د لمانځه منافي وي چي په هغه سره لمونځ ماتیږي، نو تر دې مخکي که سجدهٔ سهو ور ته یاده سي، نو سجدهٔ سهو به کوي، او پاته سوه دا خبره چي هغه خو د لمونځ ختمولو په قصد سره سلام ګرځولی دی، نو د دې جواب دا دی چي هغه سلام د خلاف مشروع کېدلو په وجه لغو کیږي، هغه لره اعتبار نسته. (شفاء الارواح، انوار الایضاح بحوالهٔ در مختار مع الشامی ج: ۲، ص: ۴۸۷، کتاب المسائل ص: ۲۱۰)

په څلور رکعتیز یا درې رکعتیز لمانځه کي پر دویم رکعت سلام ګرځول

﴿۷۸﴾ وَلَوْ تَوَهَّمَ مُصَلٍّ رُبَاعِيَّةً أَوْ ثُلَاثِيَّةً أَنَّهُ أَتَمَّهَا او که وهم وسي لمونځ ګزار ته په څلور رکعتیز یا درې رکعتیز لمانځه کي چي هغه لمونځ پوره کړی دی (یعني دا ګومان وکړي چي ما دا لمونځ پوره کړی) فَسَلَّمَ ثُمَّ عَلِمَ أَنَّهُ صَلَّى رَكْعَتَيْنِ نو سلام وګرځوي بیا پوه سي چي هغه دوه رکعته کړي دي أَتَمَّهَا وَسَجَدَ لِلسَّهْوِ نو هغه دي پوره کړي او سجدهٔ سهو دي وکړي.

لغات: ﴿توهّم﴾ د تفعّل د باب ماضي ده: وهم کول، دیو خبري ګومان کول، دیو شي خیال په زړه کي راوستل. ﴿مُصَلٍّ﴾ د تفعیل د باب فاعل دی: لمونځ کونکی (لمونځ ګزار). مُصَلٍّ په اصل کي مُصَلِّيٌ وو، د مُتَّقٍ په څېر تعلیل پکښې وسو کوم چي مخکي تېر سو.

تشریح: دعبارت ترحلَ مخکي دا قاعده یاد لرئ! چي کوم څوک په هېره دلمانځه په مینځ کي سلام وګرځوي، دهغه لمونځ نه ختمیږي، بلکي باقي پاتیږي؛ "سَلَامُ مَنْ عَلیهِ بَقِیَّةٌ مِنَ الصلاةِ لا یقطعُ الصلاةَ".

حاصل دعبارت دا دی چي که څوک په څلور رکعتیز یا درې رکعتیز لمانځه کي له قعدهٔ اولیٰ څخه وروسته په دې ګومان سلام وګرځوي چي همدا قعدهٔ اخیره (آخري ناسته) ده، نو لمونځ یې نه فاسدیږي. اوس دغه کس لپاره حکم دا دی چي که هغه پر خپل ځای ناست وي او سینه یې له قبلې څخه اړولې نه وي او نه یې دلمانځه یو منافي عمل کړی وي، نو بغیر له تکبیر ویلو څخه دي پر خپل مخکیني لمانځه بناء وکړي او په آخر کي دي سجدهٔ سهو وکړي. ددې لپاره چي دهغه نقصان تلافي وسي کوم چي په لمانځه کي پېښ سوی دی.

لېکن که له قعده (ناستي) څخه وروسته په دې ګومان سلام وګرځوي چي پر ما صرف همدا دوه رکعته واجب دي، حال دا چي په حقیقت کي څلور رکعته واجب وي، مثلاً مقیم پر ځان دمسافر په ګومان کولو سره پر دویم رکعت سلام وګرځوي، یا د ماپښین په لمانځه کي دجمعې په ګومان کولو سره پر دویم رکعت سلام وګرځوي، نو په دې صورت کي په سلام ګرځولو سره لمونځ فاسدیږي. (شامي ج:۱، ص: ۵۶۷، ط: مصري)

د لمانځه په دوران کي فکر او سوچ وهل

﴿۷۷۹﴾ وَإِنْ طَالَ تَفَكُّرُهُ وَلَمْ يُسَلِّمْ حَتَّى اسْتَيْقَنَ او که اوږد سي (ډېر وخت ونیسي) دده فکر کول (سوچ وهل) او سلام نه وګرځوي تر هغه وخته چي یقین یې سي (یعني تر هغه وخته په فکر لګیا وي چي خپل لمونځ ورته معلوم سي چي ما دومره رکعته کړي دي) إِنْ كَانَ قَدْرَ أَدَاءِ رُكْنٍ نو که هغه (فکر کول) دیوه رکن اداء کولو په اندازه وي (یعني دیوه رکن په اندازه وخت ونیسي) وَجَبَ عَلَيْهِ سُجُودُ السَّهْوِ نو پر هغه سجدهٔ سهو واجب ده وَإِلَّا لَا کنې (واجب) نه ده.

لغات: ﴿طال﴾ دنصر دباب ماضي ده، مصدر: طُوْلًا: اوږدېدل. ﴿تَفَكُّر﴾ د تفعّل دباب مصدر دی: فکر لو سوچ کول، غور کول. ﴿استیقن﴾ داستفعال دباب ماضي ده، مصدر: استیقاناً: یقین کول.

تشریح: یعني که تر التحیّات ویلو وروسته لمونځ ګزار ته مثلاً دا شبهه پیدا سي چي ما څلور رکعته کړي دي او که دوه رکعته او په همدې فکر او سوچ کي دیوه رکن اداء کولو په اندازه ځنډ وکړي (یا په مله ویناد رکعتونو په شمېر کي ورته شک سي او په قعده اندتدا کي پکښې فکرمن سي لو سلام نه وګرځوي. لو دهغه دا فکر دیوه رکن په اندازه وخت ونیسي) یعني دومره وخت په تفکّر کي وي چي په هغومره وخت کي درې واره "سبحان الله" ویلای سي. بیا هغه ته یاده سي چي ما دومره رکعته کړي دي، نو په دې صورت کي سجدهٔ سهو کول واجب دي او که تفکّر د یوه رکن له وخت څخه کم وي، نو سجدهٔ سهو واجب نه ده. (شفاء الارواح، انوار الایضاح)

فَصْلٌ فِي الشَّكِّ

(دا) فصل په (بیان دا حکامو د) شک کي دی

تشریح: د "شک" معنیٰ ده: د یو شي په کېدلو یا نه کېدلو کي داسي تردّد کول چي یوه طرف ته هم ترجیح حاصله نه سي یعني په کېدلو یا نه کېدلو کي یې برابر تردّد وي، او که په دې دواړو کي یوه طرف ته ترجیح وي، نو دې ته "ظن" (گومان) ویل کیږي او د هغه مخالف طرف ته "وهم" ویل کیږي، او که په ترجیح کي زیاتوب وي خو د یقین درجې ته نه رسیږي، نو دې ته "غلبۂ ظن" ویل کیږي. (شفاء الاراواح بحوالۂ عمدة الفقه)

د رکعتونو په شمېر کي شکمن کېدل

﴿٨٠﴾ تَبْطُلُ الصَّلٰوةُ بِالشَّكِّ فِيْ عَدَدِ رَكْعَاتِهَا باطلیږي لمونځ په شک لوېدلو سره د لمانځه د رکعتونو په شمېر کي إِذَا كَانَ قَبْلَ إِكْمَالِهَا (په دې شرط) کله چي وي دغه شک د لمانځه له پوره کولو څخه مخکي وَهُوَأَوَّلُ مَاعَرَضَ لَهٗ مِنَ الشَّكِّ او (په دې شرط چي) دغه اول شک وي کوم چي ده ته پېښ سوی وي أَوْ كَانَ الشَّكُّ غَيْرَعَادَةٍ لَهٗ یا شک د ده عادت نه وي.

لغات: ﴿إكمال﴾ د افعال د باب مصدر دی: مکمل کول، پوره کول.

تشریح: مسئله دا ده چي که لمونځ گزار ته په خپل لمانځه کي دا شک پېښ سي چي درې رکعته مي کړي دي او که څلور رکعته او دغه شک اول ځل ورته پېښ سوی وي، نو په داسي صورت کي دي له نوي سره لمونځ وکړي.

وهوأوّل إلخ: یعني د اول ځل شک پېښېدلو په معنیٰ کي د فقهاؤ اختلاف دی. د بعضي حضراتو په نېز د دې معنیٰ دا ده چي له بالغ کېدلو څخه وروسته دا شک اول ځل ورته پېښ سوی وي، او د بعضي مشایخو په نېز د دې معنیٰ دا ده چي هېره د هغه عادت نه وي بلکي کله نا کله هېره ورته پېښیږي، دا یې معنیٰ نه ده چي په خپل عمر کي هیڅکله سهو سوی نه وي، او همدا صحیح (او راجح) قول دی(عمدة الفقه). دلته مصنف رَحِمَهُ الله د "أول ما عرض... أو كان الشك غير عادة له" په عبارت کي دوه

متباین قولونه سره جمع کړي دي، نو ځکه دا فیصله مشکله ده چې د مصنف رَحِمَهُ الله په نیز کوم قول معتمد او معتبر دی. (طحطاوي ص: ٢٥٨)

إذا كان: یعني دا مسئله هغه وخت ده کله چې دوه شرطونه موجود سي: ① یو دا چې دغه شک د لمونځ پوره کولو او سلام ګرځولو څخه مخکې یعني په لمانځه کې دننه ورته پېښ سوی وي.

②دویم شرط "وهو أوّل ما عرض إلخ" دی، چې وضاحت یې وسو.

تر سلام ګرځولو وروسته شکمن کېدل

﴿٨١﴾ فَلَوْ شَكَّ بَعْدَ سَلَامِهٖ نو که شک وکړي تر سلام وروسته (یعني تر سلام ګرځولو وروسته لمونځ ګزار ته شک سي، د رکعتونو په شمېر کې) لَا يُعْتَبَرُ نو د هغه اعتبار به نه کول کېږي (یعني تر سلام وروسته شک معتبر نه دی) إِلَّا أَنْ تَيَقَّنَ بِالتَّرْكِ مګر دا چې یقین یې سي پر پرېښوولو.

لغات: ﴿تیقّن﴾ د تفعّل د باب ماضي ده: یقین کول.

تشریح: مسئله دا ده چې که تر لمونځ کولو او سلام ګرځولو وروسته لمونځ ګزار ته شک سي، نو په دې شک سره یې لمونځ نه باطلیږي، مثلاً که د ماپښین تر لمونځ پوره کولو او سلام ګرځولو وروسته لمونځ ګزار ته شک سو چې درې رکعته مې کړي دي او که څلور رکعته، نو دلته به همدا ویل کېږي چې هغه څلور رکعته کړي دي، ها! که په دې باره کې یې یقین سو چې بېله شکه درې رکعته مې کړي دي، نو که یې د لمانځه یو منافي عمل نه وي کړی، نو خپل پاته لمونځ دې پوره کړي یعني ولاړ دې سي یو رکعت دې بل وکړي او په آخر کې دې سجدۀ سهو وکړي (انوار الایضاح بتغیرٍ، شفاء الارواح بحوالۀ عمدة الفقه)، (او صاحب د ثمرة النجاح مطلق لیکلي دي چې که یې یقین سو چې مثلاً درې رکعته مې کړي دي، نو اول لمونځ یې باطلیږي؛ دوباره دي لمونځ وکړي؛ ځکه شک نسته بلکې یقین دی چې لمونځ درې رکعته سوي دي. والله أعلم).

اکثره شک واقع کېدل

﴿٨٢﴾ وَإِنْ كَثُرَ الشَّكُّ او که زیات وي شک (زیاتره وخت شک ورته پېښېږي) عَمِلَ بِغَالِبِ ظَنِّهٖ نو عمل دې کوي پر غالب ګومان فَإِنْ لَّمْ يَغْلِبْ لَهٗ ظَنٌّ او که هغه لره هېڅ غالب ګومان نه وي أَخَذَ بِالْأَقَلِّ نو نیول (عمل) دې کوي پر کم مقدار وَقَعَدَ بَعْدَ كُلِّ رَكْعَةٍ ظَنَّهَا آخِرَ صَلٰو

تــه او کښېــني دي لــه هــر هغــه رکعــت څخــه وروســته چــي پــر هغــه د خپــل لمانځــه دآخــر گومــان کوي (یعني چي پر هغه یې د خپل لمانځه دآخري رکعت گومان وي).

تشریح: مسئله داده چي که د رکعتونو د مقدار په باره کي لمونځ گزار ته زیاتره وخت شک واقع کیږي، نو د دې دوه صورتونه دي: یا خو یو طرف ته به د هغه ظن غالب (غالب گومان) وي یا به نه وي، که یو طرف ته یې ظن غالب وي، نو پر هغه دي عمل کوي او سجدهٔ سهو دي نه کوي. لېکن پر ظن غالب د عمل کولو په صورت کي که په تفکر (فکر وملو) کي دیوه رکن په اندازه وخت تېر سي، نو سجدهٔ سهو واجبیږي.

فإن لم یغلب إلخ: او که یوه طرف ته یې هم ظن غالب نه وي، بلکي دواړو طرفونو ته یې برابر خیال وي، نو پر اقل یعني پر کم (لږ) یوه دي عمل کوي، مثلاً لمونځ گزار ته دا شک پېښ سي چي دا اول رکعت دی او که دویم رکعت او دیوه په بار کي یې هم غالب گومان نه وي، نو په اول دي عمل وکړي چي دا زما اول رکعت دی او که شک یې دا وي چي دویم رکعت دی او که دریم رکعت نو دویم رکعت دي واخلي چي دا زما دویم رکعت دی او داسي نور.

وقعد إلخ: یعني پر اقل د عمل کولو په صورت کي دي په هر رکعت باندي قعده (ناسته) کوي، مثلاً که په څلور رکعتیز لمانځه کي لمونځ گزار ته دا شک پېښ سي چي دا اول رکعت دی او که دویم، نو اقل یعني اول رکعت دي واخلي او پر دې (اول) رکعت دي قعده وکړي؛ ځکه دا امکان سته چي دغه رکعت دي دویم رکعت وي او پر دویم رکعت قعده واجب ده. همدارنگه پر دویم رکعت دي هم قعده وکړي؛ ځکه لمونځ گزار هغه دویم رکعت گڼلی دی او بیا دي پر دریم رکعت هم قعده وکړي؛ ځکه ممکنه ده چي دا دي څلورم رکعت وي او پر څلورم رکعت قعده فرض ده. بیا دي پر څلورم رکعت هم قعده وکړي؛ ځکه د لمونځ گزار په نېز هغه څلورم رکعت دی او پر څلورم رکعت قعده فرض ده. او په همدې آخري قعده کي دي سجدهٔ سهو وکړي او لمونځ دي ختم کړي. حاصل دا چي د قعدهٔ واجبه او قعدهٔ مفروضه د پاته کېدلو له بیري څخه دي په هر رکعت باندي قعده کوي (یعني چي نه قعدهٔ اولیٰ کوم چي واجب ده پاته سي او نه قعدهٔ اخیره کوم چي فرض ده پاته سي). دلته مصنف رَحِمَهُ اللہ د شک په صورت کي د سجدهٔ سهو تذکره نه ده کړې، لېکن په طحطاوي کي د سجدهٔ سهو په هکله پوره تنی تفصیل ذکر سوی دی. (شفاء الارواح)

* * *

بَابُ سُجُوْدِ التِّلَاوَةِ

(دا) باب په (بيان د) سجدۀ تلاوت کي دی

تشريح: د سجدۀ تلاوت لپاره هم هغه ټوله شيان شرط دي کوم چي د لمانځه لپاره شرط دي، مثلاً له بې اودسي او جنابت څخه پاکوالی، اسلام عقل او بلوغ او داسي نور. همدا وجه ده چي په مکروه وختونو کي سجدۀ تلاوت صحيح نه ده.

د سجدۀ تلاوت واجبېدلو سبب

﴿۷۸۳﴾ سَبَبُهُ التِّلَاوَةُ عَلَى التَّالِيْ وَالسَّامِعِ د سجدۀ تلاوت (د واجبېدلو) سبب تلاوت کول (لوستل) دي د تلاوت کونکي او اورېدونکي لپاره فِي الصَّحِيْحِ د صحيح قول مطابق.

تشريح: مسئله دا ده چي سجدۀ تلاوت هغه وخت پر انسان واجبېږي کله چي هغه د سجدې آيت تلاوت کړي يا د سجدې آيت واوري، ګواکي څرنګه چي د تلاوت کونکي (قرآن لوستونکي) لپاره د سجدې واجبېدلو سبب تلاوت دی، همداسي د اورېدونکي (سامع) لپاره هم د سجدې واجبېدلو سبب تلاوت دی (چي د اهليت لرونکي کس څخه د آية السجدة تلاوت واوري)، که تلاوت نه وي نو اورېدل هم نه راځي، نو په دې وجه د تالي او سامع دواړو لپاره د سجدۀ تلاوت واجبېدلو سبب تلاوت دی او همدا صحيح قول دی، او بعضو ويلي دي چي پر سامع د سجدې واجبېدلو سبب اورېدل دي (خو مصنف رَحِمَهُ الله وويل چي د صحيح قول مطابق د تالي او سامع دواړو لپاره د سجدې د وجوب سبب تلاوت دی). (شفاء الارواح)

﴿۷۸۴﴾ وَهُوَ وَاجِبٌ عَلَى التَّرَاخِيْ او سجدۀ تلاوت واجب ده په ځنډ سره (يعني د تأخير ګنجائش يې سته چي وروسته يې اداء کړي) إِنْ لَّمْ يَكُنْ فِي الصَّلٰوةِ (په دې شرط) که په لمانځه کي نه وي.

تشريح: د عبارت حاصل دا دی چي د سجدې د آيت تر تلاوت وروسته سمدستي سجده کول ضروري نه دي، تر دې چي که څه موده وروسته هغه وکړي، نو هم د سجدې اداء کونکی شمېرل کيږي، نه قضاء راوړونکی، لېکن شرط دا دی چي د سجدې آيت به د لمانځه څخه دباندي په بل حالت کي تلاوت سوی وي، که څوک په لمانځه کي دننه د سجدې آيت تلاوت کړي، نو بيا په لمانځه کي سجده کول واجب دي، تر لمانځه وروسته په سجده کولو سره هغه نه اداء کيږي، بلکي

ګنهګاره کیږي، په دې صورت کې له استغفار او توبې څخه بغیر بل د معافی صورت نشته. (شفاء الارواح بحوالۀ بهشتي زیور)

سجدۀ تلاوت ځنډول مکروه دي

﴿۸۵﴾ وَكُرِهَ تَأْخِيْرُهُ تَنْزِيْهًا او سجدۀ تلاوت ځنډول مکروه تنزیهي دي.

لغات: ﴿تأخیر﴾ د تفعیل د باب مصدر دی: ځنډول، وروسته کول.

تشریح: غوره دا ده چې سجدۀ تلاوت ژر تر ژره اداء کړي، که بلا وجه سجدۀ تلاوت وځنډوي، نو کراهت تنزیهي لازمیږي.

په "شامي" وغیره کې ذکر سوي دي چې پر کوم چا سجدۀ تلاوت واجب سي، لیکن هغه په یو وجه سملستي سجده نه سي کولای، نو مستحب دا ده چې په هغه وخت کې دا آیت ووایي "سَمِعْنَا وَ أَطَعْنَا غُفْرَانَكَ رَبَّنَا وَإِلَيْكَ الْمَصِيْرُ" [البقرة]، او بیا چې کله موقع پیدا کړي، نو سجدۀ تلاوت دې اداء کړي. (شامي ج: ۲، ص: ۵۸۳، کتاب المسائل ص: ۵۰۲)

د سجدې د آیت په ویلو سره سجده واجبیږي، که څه هم په فارسي ژبه وي؟

﴿۸۶﴾ وَيَجِبُ عَلَىٰ مَنْ تَلَا آيَةً وَلَوْ بِالْفَارِسِيَّةِ او واجبیږي پر هغه کس کوم چې آیت د سجدې تلاوت کړی وي که څه هم په فارسي ژبه وي.

تشریح: یعني څوک چې د سجدې آیت ووایي، نو پر هغه سجده کول واجب دي، که څه هم په فارسي ژبه د سجدې آیت ووایي، او دلته له فارسي ژبې څخه مراد هر هغه ژبه ده کوم چې عربي نه وي، مطلب د هري ژبې همدغه حکم دی، لنډه دا چې د سجدې د آیت د ترجمې په ویلو یا اورېدلو سره سجدۀ تلاوت واجبیږي. (شفاء الارواح، انوار الایضاح)

آیا د سجدۀ تلاوت د واجبېدو لپاره د سجدې پوره آیت ویل شرط دي؟، په دې باره کې د فقهاؤ اختلاف دی، راجح او صحیح قول دا دی چې د سجدې د وجوب لپاره د سجدې ټوله آیت ویل ضروري دي، لیکن که پوره آیت ووایي او د سجدې والا الفاظ نه پکښي ووایي، نو سجدۀ تلاوت نه واجبیږي. او بعضي خلک پر دې فتویٰ ورکوي چې که د سجدې آیت پوره نه ووایي، بلکي څه حصه یې ووایي، نو هم سجده کول واجب دي. (انوار الایضاح)

﴿۸۷﴾ وَقِرَاءَةُ حَرْفِ السَّجْدَةِ مَعَ كَلِمَةٍ قَبْلَهُ أَوْ بَعْدَهُ مِنْ آيَتِهَا كَالْآيَةِ او د سجدې حرف ویل (لوستل) د یو کلمې سره کوم چې له حرف سجده څخه مخکې وي یا تر هغه وروسته

وي له همدې آيت څخه د ټوله آيت (لوستلو) په څېر دی فِي الصَّحِيْحِ د صحيح قول مطابق.

تشريح: يعني څرنګه چي د سجدې د آيت په ويلو (تلاوت کولو) سره سجدهٔ تلاوت اجبيږي. همداسي د سجدې په آيت کي چي کوم لفظ پر سجده دلالت کوي که څوک صرف هغه لفظ او تر هغه مخکينی يا وروستنی کلمه يو ځای ور سره ووايي، نو هم سجدهٔ تلاوت واجبيږي. مثلاً په "سورة الاعراف" کي په "وَلَهٗ يَسْجُدُوْن" باندي سجده کيږي، همدې ته "لفظ د سجدې" (يا د سجدې حروف) ويل کيږي، نو که تر دغه لفظ مخکينی کلمه "وَيُسَبِّحُوْنَهٗ" هم يو ځای ور سره ووايي، نو سجده واجبيږي، صرف د "وَلَهٗ يَسْجُدُوْن" په اداء کولو سره سجده نه واجبيږي، همدا صحيح قول دی، خو په "سورة الإقراء" کي چي کوم د سجدې لفظ دی "واسْجُدْ وَاقْتَرِب"، هغه له دغه قاعدې څخه مستثنیٰ دی يعني که صرف "وَاسْجُدْ" ووايي، نو هم سجده واجبيږي، که څه هم وروستنی لفظ "وَاقْتَرِبْ" نه ور سره ووايي.

او په متن کي د "في الصحيح" په قيد سره يې د هغو حضراتو قول ردّ کړی دی چي هغوی وايي چي که د سجدې د آيت اکثره حصه ولوستل سي، نو بس سجده واجبيږي، برابره ده اکثره حصه د سجدې د لفظ څخه مخکي وي او که وروسته وهو رواية عن محمد واختاره الزيلعي، نو مصنف رَحِمَهُ الله د هغو له قول څخه احتراز وکړی.

او که څوک د سجدې ټوله آيت ووايي، لېکن لفظ د سجدې نه پکښي ووايي، نو پر هغه سجده نه واجبيږي. (شفاء الاراواح، انوار الايضاح)

د سجدهٔ تلاوت د آيتونو شمېر

﴿۸۸﴾ وَ آيَاتُهَا أَرْبَعَ عَشَرَةَ آيَةً او د سجدې آيتونه څوارلس آيته دي فِي الْأَعْرَافِ وَالرَّعْدِ وَالنَّحْلِ وَالْإِسْرَاءِ وَمَرْيَمَ ① په سورة الاعراف کي، ② په سورة الرّعد کي، ③ په سورة النحل کي، ④ په سورة الإسراء (سورة بني اسرائيل) کي، ⑤ په سورة مريم کي وَ أُوْلَى الْحَجِّ وَالْفُرْقَانِ وَالنَّمْلِ وَالسَّجْدَةِ وَصٓ ⑥ او د سورة الحج په اوله سجده (اول آيت د سجدې) کي، ⑦ په سورة الفرقان کي، ⑧ په سورة النمل کي، ⑨ په سورة السجده کي، ⑩ په سورة صٓ کي وَحٰمٓ

السَّجْدَةِ وَالنَّجْمِ وَانْشَقَّتْ وَاِقْرَأْ ⑪ او په سورة حمٓ سجده کي، ⑫ په سورة النجم کي، ⑬ په سورة انشقت (سورة الانشقاق) کي، ⑭ او په سورة اقرأ (سورة العلق) کي.

تشریح: په دې عبارت کي د سجدهٔ تلاوت د آیتونو شمېر بیان سوی دی او هغه ټوله څوارلس آیتونه دي چي د هغوی په تلاوت کولو سره سجده واجبېږي، او په قرآن کریم کي پر دغه هر مقام نښان موجود دی، او په "سورة الحج" کي دوه د سجدې آیتونه دي، خو په هغوی کي صرف پر اول آیت سجده لازم ده، پر دویم آیت زموږ په نېز په نېز سجده نسته، او په "سورة صٓ" کي په "رَاكِعًا وَّأَنَابَ" باندي د سجدې نښان صحیح نه دی . بلکي صحیح دا ده چي په "حُسْنَ مَاٰبٍ" باندي سجده وسي او په "سورة حمٓ" کي په "لَایَسْئَمُوْنَ" باندي سجده کول پکار دي. (ایضاح المسائل ص:۳۹، الجوهرة النیرة ج:۱، ص:۹۷)

فایده: هغه څوارلس د سجدې آیتونه دا دي:

(۱)... إِنَّ الَّذِيْنَ عِنْدَ رَبِّكَ لَا يَسْتَكْبِرُوْنَ عَنْ عِبَادَتِهٖ وَيُسَبِّحُوْنَهٗ وَلَهٗ يَسْجُدُوْنَ. ﴿سورة الاعراف: ۲۰۶ پ:۹، رکوع:۱۴﴾

(۲)... وَلِلّٰهِ يَسْجُدُ مَنْ فِي السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ طَوْعًا وَّكَرْهًا وَّظِلٰلُهُمْ بِالْغُدُوِّ وَالْاٰصَالِ. ﴿سورة الرعد: ۱۵ پ:۱۳، رکوع:۸﴾

(۳)... يَخَافُوْنَ رَبَّهُمْ مِّنْ فَوْقِهِمْ وَيَفْعَلُوْنَ مَا يُؤْمَرُوْنَ. ﴿سورة النحل: ۵۰ پ:۱۴، رکوع:۱۲﴾

(۴)... وَيَخِرُّوْنَ لِلْاَذْقَانِ يَبْكُوْنَ وَيَزِيْدُهُمْ خُشُوْعًا. ﴿سورة بني اسرائیل: ۱۰۹ پ:۱۵، رکوع:۱۲﴾

(۵)... اِذَا تُتْلٰى عَلَيْهِمْ اٰيٰتُ الرَّحْمٰنِ خَرُّوْا سُجَّدًا وَّبُكِيًّا. ﴿سورة مریم: ۵۸ پ:۱۶، رکوع:۷﴾

(۶)... په سورتِ حج کي اوله سجده: وَمَنْ يُّهِنِ اللّٰهُ فَمَا لَهٗ مِنْ مُّكْرِمٍ ؕ اِنَّ اللّٰهَ يَفْعَلُ مَا يَشَآءُ. ﴿سورة الحج: ۱۸ پ:۱۷، رکوع:۹﴾

(۷)... وَاِذَا قِيْلَ لَهُمُ اسْجُدُوْا لِلرَّحْمٰنِ، قَالُوْا وَمَا الرَّحْمٰنُ اَنَسْجُدُ لِمَا تَاْمُرُنَا. ﴿سورة الفرقان: ۶۰ پ:۱۹، رکوع:۱۷﴾

(۸)... اَلَّا يَسْجُدُوْا لِلّٰهِ الَّذِيْ يُخْرِجُ الْخَبْءَ فِي السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ وَيَعْلَمُ مَا تُخْفُوْنَ وَمَا تُعْلِنُوْنَ. ﴿سورة النمل: ۲۶ پ:۱۹، رکوع:۱۷﴾

(۹)... اِنَّمَا يُؤْمِنُ بِاٰيٰتِنَا الَّذِيْنَ اِذَا ذُكِّرُوْا بِهَا خَرُّوْا سُجَّدًا وَّ سَبَّحُوْا بِحَمْدِ رَبِّهِمْ وَهُمْ لَا يَسْتَكْبِرُوْنَ. ﴿سورة السجدة (الم تنزيل): ۱۵ پ: ۲۱، ركوع: ۱۵﴾

(۱۰)... وَ ظَنَّ دَاوٗدُ اَنَّمَا فَتَنّٰهُ فَاسْتَغْفَرَ رَبَّهٗ وَ خَرَّ رَاكِعًا وَّ اَنَابَ. ﴿سورة صٓ: ۲۴ پ: ۲۳، ركوع: ۱۱﴾

(۱۱)... فَاِنِ اسْتَكْبَرُوْا فَالَّذِيْنَ عِنْدَ رَبِّكَ يُسَبِّحُوْنَ لَهٗ بِالَّيْلِ وَ النَّهَارِ وَهُمْ لَا يَسْـَٔمُوْنَ. ﴿حمٓ السجدة: ۳۸ پ: ۲۴، ركوع: ۱۹﴾

(۱۲)... فَاسْجُدُوْا لِلّٰهِ وَ اعْبُدُوْا. ﴿سورة النجم: ۶۲ پ: ۲۷، ركوع: ۷﴾

(۱۳)... وَاِذَا قُرِئَ عَلَيْهِمُ الْقُرْاٰنُ لَا يَسْجُدُوْنَ. ﴿سورة الانشقاق: ۲۱ پ: ۳۰، ركوع: ۹﴾

(۱۴)... وَاسْجُدْ وَ اقْتَرِبْ. ﴿سورة العلق: ۱۹ پ: ۳۰، ركوع: ۲۱﴾

دغه څوارلس د سجدې مقامات په هغه قرآن مجيد کې متعين کړل سوي وه کوم چې حضرت عثمان غني ﷛ مُرتّب کړی وو، ځرنګه چې د حضرت عثمان ﷛ قرآن پاک ډېر معتبر او معتمد قرآن دی، نو ځکه په هغه کې بيان سوي مقامات به هم د اعتماد او اعتبار وړ وي.

او په "سورة الحج" کې دوېم د سجدې آيت چې په هغه کې زموږ په نېز سجده نسته، دا دی: ﴿يٰۤاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوا ارْكَعُوْا وَ اسْجُدُوْا وَ اعْبُدُوْا رَبَّكُمْ وَ افْعَلُوا الْخَيْرَ لَعَلَّكُمْ تُفْلِحُوْنَ﴾ (سورة الحج: ۷۷) او د سورت صٓ سجده د امام شافعي رَحِمَهُ الله په نېز د شکر سجده ده.

او د شوافعو په نېز هم د سجدو شمېر څوارلس دي، خو فرق دا دی چې زموږ په نېز د سورت حج اوله سجده سجدهٔ تلاوت ده، لېکن دويمه سجده سجدهٔ تلاوت نه ده، بلکې سجدهٔ صلاة (يعني د لمانځه سجده) ده او امام شافعي رَحِمَهُ الله د سورتِ حج دواړه سجدې سجدهٔ تلاوت شمېري. (فتح الهدايه)

سجدهٔ تلاوت پر چا واجب ده؟

﴿۸۹﴾ و، يَجِبُ السُّجُوْدُ عَلٰى مَنْ سَمِعَ او واجبېږي سجده پر (هر) هغه کس کوم چې (د سجدې آيت) واوري وَاِنْ لَمْ يَقْصِدِ السَّمَاعَ که څه هم هغه د اورېدلو قصد (اراده) نه وي کړې.

تشريح: په ټوله قرآن کې څوارلس د سجدې آيتونه دي، د دې آيتونو په لوستونکي او اورېدونکي هر يوه باندې سجده کول واجب دي، اورېدونکي برابره ده د قرآن کريم د اورېدلو په اراده سره د سجدې

آیت اوریدلی وي، یا په یو بل کار مشغوله وي او بغیر له ارادې یې د سجدې آیت اوریدلی وي، او که څوک په دې ځایونو کې سجده نه وکړي، نو ګنهګاره کیږي. (البحر الرائق ج:۲، ص:۱۲۸، ط: بیروت)

پر حیض او نفاس والا ښځې سجدۀ تلاوت نسته

﴿۴۹۰﴾ إِلَّا الْحَائِضَ وَالنُّفَسَاءَ مګر (نه واجبیږي پر) حیض والا او نفاس والا ښځې.

تشریح: یعني که ښځه د حیض یا نفاس په حالت کې د سجدې آیت واوري، نو پر هغې سجده نه واجبیږي او وروسته هم پر هغې سجده واجب نه ده، لیکن که څوک د جنابت په حالت کې د سجدې آیت واوري، نو تر غسل کولو وروسته پر هغه سجده کول واجب دي. (بهشتي زیور، در مختار)

او د حیض او نفاس په حالت کې د ښځې لپاره د سجدې آیت لوستل جائز نه دي، خو که هغه یې ووایي، نو هم پر هغې سجده نه واجبیږي، ها! کوم څوک چې له هغې ښځه د سجدې آیت واوري، پر هغه سجده واجبیږي، همدارنګه که عاقل بچی یا کافر کس د سجدې آیت ووایي، نو که څه هم خپله پر دوی سجدۀ تلاوت نه واجبیږي، لیکن کوم څوک چې له دوی څخه د سجدې آیت واوري، پر هغه سجده واجبیږي. (انوار الایضاح بحوالۀ کتاب المسائل ص:۵۰۰)

پر امام او مقتدي هم سجدۀ تلاوت نسته

﴿۴۹۱﴾ وَالْإِمَامَ وَالْمُقْتَدِيْ بِهٖ او (نه واجبیږي پر) امام او هغه کس کوم چې په امام پسې اقتداء کوي.

تشریح: دا عبارت هم تر "إِلّا" لاندې راځي، اصل عبارت داسې دی "وَإِلّا الإمامَ و المُقتدىَ بهٖ"،

حاصل د عبارت دا دی چې که یو مقتدی په غلطۍ سره د سجدې آیت ووایي، نو نه د هغه پر امام سجده واجبیږي او نه د دې امام پر نورو مقتدیانو او نه خپله پر دغه مقتدي سجده واجبیږي کوم چې د سجدې آیت ویلی دی، نه په لمانځه کې او نه وروسته. (انوار الایضاح، شفاء الارواح)

او پاته سو هغه څوک چې د دغه مقتدي سره په لمانځه کې شریک نه وي، بلکې ځان ته لمونځ کوي یا لمونځ نه کوي، که هغه د مقتدي د سجدې آیت واوري، نو پر هغه سجده واجبیږي، خو کله چې په لمانځه کې وي، نو سجده به تر لمانځه وروسته اداء کوي. (انوار الایضاح بحوالۀ در مختار و طحطاوي)

که امام او مقتديان له بل چا څخه د سجدې آيت واوري، نو څه حکم دی؟

﴿ ۷۹۲ ﴾ وَلَوْسَمِعُوْهَا مِنْ غَيْرِهٖ او که دوی (امام او مقتديان) واوري د سجدې آيت له بل چا څخه سَجَدُوْا بَعْدَ الصَّلٰوةِ نو سجده دې تر لمانځه وروسته وکړي وَلَوْسَجَدُوْا فِيْهَا او که په لمانځه کې دننه سجده وکړي لَمْ تُجْزِهِمْ نو دوی لره کفايت نه کوي (کافي او معتبره نه ده) وَلَمْ تَفْسُدْ صَلٰوتُهُمْ فِيْ ظَاهِرِ الرِّوَايَةِ او د دوی لمونځ نه فاسديږي، په ظاهر روايت کې.

لغات: ﴿سمعوها﴾ د سمع له بابه د جمع مذکر غائب ماضي معلومي صيغه ده، د دې ضمير امام او د هغه مقتديانو ته راجع دی، د ها ضمير آية السجدة ته راجع دی، د غيره ضمير مقتدي ته راجع دی. د فيها ضمير صلاة (لمانځه) ته راجع دی.

تشريح: د عبارت حاصل دا دی چې که امام او مقتديان له يو داسې کس څخه د سجدې آيت واوري کوم چې د دوی سره په لمانځه کې شريک نه وي، نو دوی به په لمانځه کې دننه سجدۀ تلاوت نه کوي، بلکې تر لمانځه وروسته به يې کوي، لېکن که دوی په لمانځه کې دننه سجده وکړي، نو هغه لره اعتبار نشته، بلکې تر لمانځه وروسته د سجدې راګرځول ضروري دي، خو د ظاهر روايت مطابق په داسې صورت کې د دوی لمونځ نه فاسديږي، او د "نوادر" روايت دا دی چې لمونځ يې فاسديږي او بعضو ويلې دي چې د لمونځ فاسدېدل د امام محمد رَحِمَهُ الله قول دی. (شفاء الارواح بحوالۀ حاشيه)

د سجدې دآيت په ترجمه سره هم سجده واجبېږي

﴿ ۷۹۳ ﴾ وَيَجِبُ بِسَمَاعِ الْفَارْسِيَّةِ إِنْ فَهِمَهَا او واجبيږي په اورېدلو د (سجدې دآيت په) فارسي سره (هم) عَلَى الْمُعْتَمَدِ د معتمد مذهب مطابق.

تشريح: که څوک د سجدې دآيت ترجمه واوري، يا يې خپله ووايي او په پوه سي چې دا د سجدې آيت دی او دا د سجدې دآيت ترجمه ده، يا بل څوک د دې خبر ورکړي، نو احتياطاً پر هغه سجدۀ تلاوت واجب ده، او که هغه ته خبر نه وي چې دا د سجدې آيت دی، نو هغه په دې کې معذور دی او پر هغه سجدۀ تلاوت نشته، دا د صاحبينو رَحِمَهُمَا الله په نېز دی او همدا معتمد مذهب دی، او د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نېز په هر حالت کې پر هغه سجده واجبيږي، برابره ده هغه په پوهيږي او که نه په پوهيږي، لېکن وروسته امام صاحب رَحِمَهُ الله د صاحبينو قول ته رجوع وکړه. (شفاء الارواح)

له بیده کس یا مجنون څخه د سجدې آیت اورېدل

﴿۴۹۴﴾ وَ اخْتَلَفَ التَّصْحِيْحُ فِيْ وُجُوْبِهَا بِالسَّمَاعِ مِنْ نَائِمٍ أَوْ مَجْنُوْنٍ او مختلفه سوې ده تصحیح (اختلاف سوی دی د صحیح مذهب په تعیین کې) د سجدې په واجبېدلو کې په اورېدلو سره (د سجدې د آیت) له بیده کس یا لېوني څخه.

تشریح: که څوک له بیده کس یا لېوني څخه د سجدې آیت واوري، نو په دې صورت کې د سجدې د وجوب په هکله د صحیح مذهب په تعیین کې د علماؤ اختلاف دی، د بعضو په نیز صحیح دا ده چې سجده واجبیږي او د بعضو په نیز نه واجبېدل صحیح دي، لېکن اصح دا ده چې نه واجبیږي. (شفاء الارواح)

* * *

که بیده کس د سجدې آیت ووایي

مسئله: که بیده کس د سجدې آیت ووایي او تر ویښېدلو وروسته هغه ته خبر ورکول سي چې تا د سجدې آیت ویلی دی، نو پر داسې کس سجدهٔ تلاوت واجب ده، که نه؟ په دې باره کې هم دوه روایتونه دي، د یوه روایت په اعتبار سره واجب ده او د بل روایت په اعتبار سره واجب نه ده (لهذا احتیاط په همدې کې دی چې سجده وکړل سي). (شامي ج: ۲، ص: ۵۸۱، کتاب المسائل ص: ۴۹۹)

له مرغه څخه یا له ازانګې څخه د سجدې آیت اورېدل

﴿۴۹۵﴾ وَلَاتَجِبُ بِسَمَاعِهَا مِنَ الطَّيْرِ وَالصَّدٰی او نه واجبیږي سجده په اورېدلو سره د سجدې د آیت له مرغه او له ازانګې څخه.

لغات: ﴿الطیر﴾ اسم جنس دی، مرغه (مارغه)، واحد: طَائِر، جمع: طُيُوْر، ﴿الصَّدیٰ﴾ ازانګه، انګازه، دړغ انعکاس.

تشریح: که څوک له یو مرغه مثلاً له طوطي یا له مینا څخه د سجدې آیت واوري، نو په دې سره پر هغه سجدهٔ تلاوت نه واجبیږي، همدارنګه که څوک د سجدې د آیت ازانګه واوري، مثلاً یو څوک په غره یا په لوی پوخ عمارت یا داسې بل ځای کې د سجدې آیت په زوره ووایي او هغه ازانګه وکړي او له دې ازانګې څخه یو څوک د سجدې تلاوت واوري، نو پر دغه اورېدونکي سجدهٔ تلاوت نه واجبیږي. (مستفاد شفاء الارواح)

* * *

له راډیو څخه د سجدې آیت اورېدل

مسئله (۱): که څوک له راډیو څخه د سجدې آیت واوري، نو پر اورېدونکي سجدهٔ تلاوت نه واجبیږي؛ ځکه د راډیو زیاتره پروګرامونه له مخکې څخه ریکارډ سوي وي، وروسته نشرول کیږي (داسې نه وي چې څوک مخامخ ناست وي او تلاوت کوي)، خو که په راډیو او داسې نورو کې براهِ

راست بغير له ريکارډ څخه تلاوت کيږي، نو په دې صورت کي د سجدې دآيت په اورېدلو سره سجدهٔ تلاوت واجبيږي؛ ځکه هغه داسپيکر (گويا) په درجه کي اينبوول کېداى سي.(انوار الايضاح)

له ټېپ (ټايپ)، ايم پي تري څخه د سجدې د آيت اورېدلو حکم

مسئله (۲): د ټېپ يا ايم پي تري ريکارډ سوی آواز هم په ظاهره دازانگې سره مشابه دی. نو ځکه اکثره مفتيان له ټېپ ريکارډر وغيره څخه د سجدې آيت اورېدل د سجدهٔ تلاوت موجب نه گرځوي. لېکن د بعضي محققينو علماؤ رايه دا ده چي له ټېپ څخه د سجدې دآيت په اورېدلو باندي سجدهٔ تلاوت واجبېدل پکار دي؛ ځکه کله چي دغه آواز له داسي آله څخه را وځي کوم چي د ده په اختيار کي ده. نو د هغه نسبت به دآلې وطرف ته نه کيږي بلکي د تلاوت کونکي وطرف ته به کيږي. چي د هغه په اهليت کي هيڅ شبهه نسته، پر همدې بناء داحتياط تقاضا دا ده چي له ټېپ، ايم پي تري وغيره څخه د سجدې دآيت په اورېدلو باندي سجدهٔ تلاوت وکړل سي. (انوار الايضاح)

﴿۷۹۶﴾ وَتُؤَدّٰى بِرُكُوْعٍ أَوْ سُجُوْدٍ فِي الصَّلٰوةِ غَيْرِ رُكُوْعِ الصَّلٰوةِ وَسُجُوْدِهَا او اداء کيږي سجدهٔ تلاوت په لمانځه کي په رکوع يا سجده کولو سره بغير د لمانځه له رکوع او سجدې څخه.

تشريح: ددې عبارت مطلب دا دی چي کله په لمانځه کي د سجدې آيت ولوستل دي او سجده واجب سي، نو د هغه لپاره سنت صورت خو همدا دی چي په لمانځه کي يوه زائده سجده وکړي، خو که د سجدې پر ځاى يوه زائده رکوع وکړي، نو بيا هم سجده اداء کيږي، خلاصه دا چي سجدهٔ تلاوت په لمانځه کي دننه په رکوع کولو سره هم اداء کيږي او په سجده سره هم، خو سجده کول افضل دي؛ ځکه دا يې اصل دی، او دا خبره ياد ساتئ! چي په رکوع سره د اداء کولو په صورت کي په رکوع کي د سجدهٔ تلاوت نيت کول ضروري دي (لکه په راروان عبارت کي به هم ذکر سي).

او که څوک د لمانځه څخه دباندي په رکوع سره سجدهٔ تلاوت اداء کړي، نو په دې صورت کي سجدهٔ تلاوت نه اداء کيږي. (انوار الايضاح بحوالهٔ طحطاوي)

د لمانځه په رکوع يا سجده سره د سجدهٔ تلاوت اداء کولو حکم

﴿۷۹۷﴾ وَيُجْزِئُ عَنْهَا رُكُوْعُ الصَّلٰوةِ او کافي کيږي (کفايت کوي) د سجدهٔ تلاوت له طرفه د لمانځه رکوع إِنْ نَوَاهَا (په دې شرط) که چيري يې (په رکوع کي) د سجدهٔ تلاوت نيت (هم) کړی وي وَسُجُوْدُهَا او (کافي کيږي د سجدهٔ تلاوت له طرفه) د لمانځه سجده وَإِنْ لَمْ يَنْوِهَا که څه هم (په سجده کي) د سجدهٔ تلاوت نيت يې نه وي کړی إِذَا لَمْ يَنْقَطِعْ فَوْرُ التِّلَاوَةِ بِأَكْثَرَ مِنْ آيَتَيْنِ کله چي منقطع (ختم) سوی نه وي (تر آية السجدة وروسته) د تلاوت جوش (تسلسل) له دوو آيتونو څخه په زيات ويلو سره.

لغات: ﴿يُجْزِئُ﴾ د افعال له بابه مضارع معلومه ده: کافي کېدل. ﴿لم ينقطع﴾ د انفعال له بابه د جحد صيغه ده: ختمېدل، بندېدل او درېدل. ﴿فور﴾ د هرشي ابتدائي حالت (اول وخت) تر څو چي کرار سوی نه وي، جوش، وړل کيږي: فعل على الفور على، أو فعله من فوره، أي: أدّى العمل في أول الاوقات، كأنه قبل أن يسكن (معجم لغة الفقهاء)، د عنها ضمير سجدۀ تلاوت ته راجع دی، د نواها ضمير سجده ته راجع دی، د سجودها ضمير صلاة ته راجع دی، د ينوها ضمير سجدۀ تلاوت ته راجع دی.

تشريح: د عبارت حاصل دا دی چي سجدۀ تلاوت د لمانځه په رکوع سره هم اداء کيږي په دې شرط چي د رکوع کولو (رکوع ته د تللو) پر مهال د سجدۀ تلاوت نيت هم وکړي، او که رکوع ته له تللو څخه وروسته نيت وکړي، نو اظهر دا ده چي جائز نه دي. (عمدة الفقه)

وسجودها: يعني د لمانځه په سجدې سره هم سجدۀ تلاوت اداء کيږي او په هغه کي نيت کول هم ضروري نه دي، خو د هغه لپاره شرط دا دي چي د سجدې له آيت څخه وروسته فوراً (سمدستي) رکوع او سجده وکړي او د فوراً (سمدستي) مطلب دا دی چي له دوو آيتونو څخه زيات تأخير او فصل نه وکړي، نهذا که د سجدې له آيت څخه وروسته درې آيتونه يا تر دې زيات ووايي، نو په دې صورت کي د لمانځه په سجده سره سجدۀ تلاوت نه اداء کيږي او جلا سجده کول ضروري دي، او کله چي په دې صورت کي هغه سجده وکړي، نو د تأخير په وجه سجدۀ سهو لازميږي، او که په لمانځه کي سجدۀ تلاوت اداء نه کړي، نو بيا وروسته د تلافی هيڅ صورت نشته ما سوا له استغفار او توبې څخه. (شفاء الارواح بحوالة عمدة الفقه)

که غيرِ لمونځ ګزار له امام څخه د سجدې آيت واوري، نو څه حکم دی؟

> ﴿۹۸﴾ وَلَوْ سَمِعَ مِنْ إِمَامٍ او که له امام څخه (د سجدې آيت) واوري فَلَمْ يَأْتَمَّ بِهِ بيا په هغه پسي اقتداء نه وکړي أَوِ ائْتَمَّ فِيْ رَكْعَةٍ أُخْرىٰ يا په بل رکعت کي (په امام پسي) اقتداء وکړي سَجَدَ خَارِجَ الصَّلوٰةِ نو د لمانځه څخه بهر (د باندي) به سجده کوي فِي الْأَظْهَرِ په ظاهر روايت کي.

لغات: ﴿ائتمّ﴾ د افتعال له بابه ماضي معلومه ده: اقتداء کول.

تشریح: صورت د مسئلې دا دی چې که امام د سجدې آیت تلاوت کړي او یو داسې څوک هغه واوري کوم چې د امام سره په لمانځه کې شریک نه وي، بیا وروسته ور سره شریک سي، نو پر هغه سجده واجبیږي.

او که د امام سره په را روان رکعت کې یعني په کوم رکعت کې چې یې د سجدې آیت اورېدلی وي، تر هغه وروسته په بل رکعت کې ور سره شریک سي، نو بیا تر لمانځه وروسته سجدهٔ تلاوت اداء کول واجب دي، دا ظاهر روایت دی، او د بعضو په نیز د اقتداء کولو په وجه هغه سجده په لمانځه کې دننه ګرځي، لهذا د لمانځه څخه بهر نه سي اداء کېدلای او که په لمانځه کې دننه اداء کړل سي، نو د امام مخالفت لازمیږي، نو ځکه نه دي یې په لمانځه کې کوي او نه تر لمانځه وروسته. (شفاء الارواح، عمدة الفقه)

﴿۷۹۹﴾ وَإِنِ ائْتَمَّ قَبْلَ سُجُوْدِ إِمَامِهٖ لَهَا او که اقتداء وکړي (په خپل امام پسې) د خپل امام له سجدهٔ تلاوت کولو څخه مخکې سَجَدَ مَعَهٗ نو د امام سره به سجده کوي فَإِنِ اقْتَدٰى بِهٖ بَعْدَ سُجُوْدِهَا فِيْ رَكْعَتِهَا او که اقتداء وکړي په امام پسې د امام له سجدهٔ تلاوت کولو څخه وروسته په هاغه رکعت کې صَارَ مُدْرِكًا لَهَا حُكْمًا نو هغه د سجدهٔ تلاوت نیونکی (موندونکی) ګرځي د حکم په اعتبار سره فَلَا يَسْجُدُهَا أَصْلًا نو ځکه دا سجدهٔ تلاوت به نه کوي بالکل.

لغات: ﴿أَصْلًا﴾ بالکل، هیڅکله.

تشریح: مسئله دا ده چې که امام د سجدې آیت ووایي او یو څوک هغه واوري کوم چې د امام سره په لمانځه کې شریک نه وي، بیا هغه د امام له سجدهٔ تلاوت کولو څخه مخکې د امام سره شریک سي، نو د امام سره دي سجده وکړي، دا کافي دي.

فإن اقتدىٰ إلخ: او که امام سجدهٔ تلاوت وکړي، تر دې وروسته دغه کس په هاغه رکعت کې ور سره شریک سي په کوم کې چې امام د سجدې آیت ویلی دی، نو پر هغه سجدهٔ تلاوت نه واجبیږي، نه په لمانځه کې دننه او نه وروسته؛ ځکه هغه د رکعت نیولو په وجه حکماً د سجدې نیونکی (موندونکی) هم سو.

﴿۸۰۰﴾ وَلَمْ تُقْضَ الصَّلٰوتِيَّةُ خَارِجَهَا او نه به اداء کول کیږي د لمانځه سجده (کوم چې په لمانځه کې واجب سوې وي) د لمانځه څخه بهر.

تـہٖ او کښېني دي لـه هر هغـه رکعـت څخـه وروسـته چـي پـر هغـه د خپـل لمانځـه د آخـر ګومـان کوي (يعني چي پر هغه يې د خپل لمانځه د آخري رکعت ګومان وي).

تشریح: مسئله دا ده چي که د رکعتونو د مقدار په باره کي لمونځ ګزار ته زياتره وخت شک واقع کيږي، نو د يې دوه صورتونه دي: يا خو يو طرف ته به د هغه ظنّ غالب (غالب ګومان) وي يا به نه وي، که يو طرف ته يې ظنّ غالب وي، نو پر هغه دي عمل کوي او سجدهٔ سهو دي نه کوي، لېکن پر ظنّ غالب د عمل کولو په صورت کي که په تفکّر (فکر وهلو) کي د يوه رکن په اندازه وخت تېر سي، نو سجدهٔ سهو واجبيږي.

فإن لم یغلب إلخ: او که يوه طرف ته يې هم ظنّ غالب نه وي، بلکي دواړو طرفونو ته يې برابر خيال وي، نو پر اقلّ يعني پر کم (لږ) يوه دي عمل کوي، مثلاً لمونځ ګزار ته دا شک پېښ سي چي دا اول رکعت دی او که دويم رکعت او د يوه په بار کي يې هم غالب ګومان نه وي، نو په اول دي عمل وکړي چي دا زما اول رکعت دی او که شک يې دا وي چي دويم رکعت دی او که درېيم رکعت نو دويم رکعت دي واخلي چي دا زما دويم رکعت دی او داسي نور.

وقعد إلخ: يعني پر اقلّ د عمل کولو په صورت کي دي په هر رکعت باندي قعده (ناسته) کوي، مثلاً که په څلور رکعتيز لمانځه کي لمونځ ګزار ته دا شک پېښ سي چي دا اول رکعت دی او که دويم، نو اقل يعني اول رکعت دي واخلي او پر دې (اول) رکعت دي قعده وکړي؛ ځکه دا امکان سته چي دغه رکعت دي دويم رکعت وي او پر دويم رکعت قعده واجب ده، همدارنګه پر دويم رکعت دي هم قعده وکړي؛ ځکه لمونځ ګزار هغه دويم رکعت ګڼلی دی او بيا دي پر درېيم رکعت هم قعده وکړي؛ ځکه ممکنه ده چي دا دي څلورم رکعت وي او پر څلورم رکعت قعده فرض ده، بيا دي پر څلورم رکعت هم قعده وکړي؛ ځکه د لمونځ ګزار په نېز هغه څلورم رکعت دی او پر څلورم رکعت قعده فرض ده، او په همدې آخري قعده کي دي سجدهٔ سهو وکړي او لمونځ دي ختم کړي، حاصل دا چي د قعدهٔ واجبه او قعدهٔ مفروضه د پاته کېدلو له بيري څخه دي په هر رکعت باندي قعده کوي (يعني چي نه قعدهٔ اولیٰ کوم چي واجب ده پاته سي او نه قعدهٔ اخيره کوم چي فرض ده پاته سي)، دلته مصنف رَحِمَهُ الله د شک په صورت کي د سجدهٔ سهو تذکره نه ده کړې، لېکن په طحطاوي کي د سجدهٔ سهو په هکله پوره تفصيل ذکر سوی دی. (شفاء الارواح)

* * *

بَابُ سُجُوْدِ التِّلَاوَةِ

(دا) باب په (بیان د) سجدهٔ تلاوت کي دی

تشریح: د سجدهٔ تلاوت لپاره هم هغه ټوله شیان شرط دي کوم چې د لمانځه لپاره شرط دي، مثلاً له بې اودسي او جنابت څخه پاکوالی، اسلام عقل او بلوغ او داسي نور. همدا وجه ده چې په مکروه وختونو کي سجدهٔ تلاوت صحیح نه ده.

د سجدهٔ تلاوت واجبدلو سبب

﴿۸۳﴾ سَبَبُهُ التِّلَاوَةُ عَلَى التَّالِيْ وَالسَّامِعِ د سجدهٔ تلاوت (د واجبېدلو) سبب تلاوت کول (لوستل) دي د تلاوت کونکي او اورېدونکي لپاره فِي الصَّحِيْحِ د صحیح قول مطابق.

تشریح: مسئله دا ده چې سجدهٔ تلاوت هغه وخت پر انسان واجبېږي کله چې هغه د سجدې آیت تلاوت کړي یا د سجدې آیت واوري، ګواکي څرنګه چې د تلاوت کونکي (قرآن لوستونکي) لپاره د سجدې واجبېدلو سبب تلاوت دی، همداسي د اورېدونکي (سامع) لپاره هم د سجدې واجبېدلو سبب تلاوت دی (چې د اهلیت لرونکي کس څخه د آیة السجدة تلاوت واوري)، که تلاوت نه وي نو اورېدل هم نه راځي، نو په دې وجه د تالي او سامع دواړو لپاره د سجدهٔ تلاوت واجبېدلو سبب تلاوت دی او همدا صحیح قول دی، او بعضو ویلي دي چې پر سامع د سجدې واجبېدلو سبب اورېدل دي (خو مصنف رَحِمَهُ الله ویل چې د صحیح قول مطابق د تالي او سامع دواړو لپاره د سجدې د وجوب سبب تلاوت دی). (شفاء الارواح)

﴿۸۴﴾ وَهُوَ وَاجِبٌ عَلَى التَّرَاخِيْ او سجدهٔ تلاوت واجب ده په ځنډ سره (یعني د تأخیر ګنجائش یې سته چې وروسته یې اداء کړي) إِنْ لَّمْ يَكُنْ فِي الصَّلٰوةِ (په دې شرط) که په لمانځه کي نه وي.

تشریح: د عبارت حاصل دا دی چې د سجدې د آیت تر تلاوت وروسته سمدستي سجده کول ضروري نه دي، تر دې چې که څه موده وروسته هغه وکړي، نو هم د سجدې اداء کونکی شمېرل کیږي، نه قضاء راوړونکی، لېکن شرط دا دی چې د سجدې آیت به د لمانځه څخه دباندي په بل حالت کي تلاوت سوی وي، که څوک په لمانځه کي دننه د سجدې آیت تلاوت کړي، نو بیا په لمانځه کي سجده کول واجب دي، تر لمانځه وروسته په سجده کولو سره هغه نه اداء کیږي، بلکي

ګنهګاره کیږي، په دې صورت کې له استغفار او توبې څخه بغیر بل د معافی صورت نسته. (شفاء الارواح بحواله بهشتي زیور)

سجدهٔ تلاوت ځنډول مکروه دي

﴿٨٥﴾ وَكُرِهَ تَأْخِيْرُهُ تَنْزِيْهًا او سجدهٔ تلاوت ځنډول مکروه تنزیهي دي.

لغات: ﴿تأخیر﴾ د تفعیل د باب مصدر دی: ځنډول، وروسته کول.

تشریح: غوره دا ده چې سجدهٔ تلاوت ژر تر ژره اداء کړي، که بلا وجه سجدهٔ تلاوت وځنډوي، نو کراهتِ تنزیهي لازمیږي.

په "شامي" وغیره کې ذکر سوي دي چې پر کوم چا سجدهٔ تلاوت واجب سي، لېکن هغه په یو وجه سمدستي سجده نه سي کولای، نو مستحب دا ده چې په هغه وخت کې دا آیت ووایي "سَمِعْنَا وَأَطَعْنَا غُفْرَانَكَ رَبَّنَا وَإِلَيْكَ الْمَصِيْرُ" [البقرة]، او بیا چې کله موقع پیدا کړي، نو سجدهٔ تلاوت دې اداء کړي. (شامي ج: ۲، ص: ۵۸۳، کتاب المسائل ص: ۵۰۲)

د سجدې د آیت په ویلو سره سجده واجبیږي، که څه هم په فارسي ژبه وي؟

﴿٨٦﴾ وَيَجِبُ عَلٰى مَنْ تَلَا آيَةً وَلَوْ بِالْفَارِسِيَّةِ او واجبیږي پر هغه کس کوم چې آیت د سجدې تلاوت کړی وي که څه هم په فارسي ژبه وي.

تشریح: یعني څوک چې د سجدې آیت ووایي، نو پر هغه سجده کول واجب دي، که څه هم په فارسي ژبه د سجدې آیت ووایي، او دلته له فارسي ژبې څخه مراد هر هغه ژبه ده کوم چې عربي نه وي، مطلب د هري ژبې همدغه حکم دی، لنډه دا چې د سجدې د آیت د ترجمې په ویلو یا اورېدلو سره سجدهٔ تلاوت واجبیږي. (شفاء الارواح، انوار الایضاح)

آیا د سجدهٔ تلاوت د واجبېدو لپاره د سجدې پوره آیت ویل شرط دي؟، په دې باره کې د فقهاؤ اختلاف دی، راجح او صحیح قول دا دی چې د سجدې د وجوب لپاره د سجدې ټوله آیت ویل ضروري دي، لېکن که پوره آیت ووایي او د سجدې والا الفاظ نه پکښې ووایي، نو سجدهٔ تلاوت نه واجبیږي. او بعضي خلک پر دې فتویٰ ورکوي چې که د سجدې آیت پوره نه ووایي، بلکي څه حصه یې ووایي، نو هم سجده کول واجب دي. (انوار الایضاح)

﴿٨٧﴾ وَقِرَاءَةُ حَرْفِ السَّجْدَةِ مَعَ كَلِمَةٍ قَبْلَهُ أَوْ بَعْدَهُ مِنْ آيَتِهَا كَالْآيَةِ او د سجدې حرف ویل (لوستل) د یو کلمې سره کوم چې له حرف سجده څخه مخکې وي یا تر هغه وروسته

وي له همدې آيت څخه د ټوله آيت (لوستلو) په ځېر دی فِي الصَّحِيْحِ د صحيح قول مطابق.

تشريح: يعني څرنګه چې د سجدې د آيت په ويلو (تلاوت کولو) سره سجدهٔ تلاوت اجبيږي. همداسې د سجدې په آيت کې چې کوم لفظ پر سجده دلالت کوي که څوک صرف هغه لفظ او تر هغه مخکينی يا وروستنی کلمه يو ځای ور سره ووايي، نو هم سجدهٔ تلاوت واجبيږي. مثلاً په "سورة الاعراف" کې په "وَلَهٗ يَسْجُدُوْن" باندې سجده کيږي، همدې ته "لفظ د سجدې" (يا د سجدې حروف) ويل کيږي، نو که تر دغه لفظ مخکينی کلمه "وَيُسَبِّحُوْنَهٗ" هم يو ځای ور سره ووايي، نو سجده واجبيږي، صرف د "وَلَهٗ يَسْجُدُوْن" په اداء کولو سره سجده نه واجبيږي، همدا صحيح قول دی، خو په "سورة الإقراء" کې چې کوم د سجدې لفظ دی "واسْجُدْ وَاقْتَرِب". هغه له دغه قاعدې څخه مستثنیٰ دی يعني که صرف "وَاسْجُدْ" ووايي، نو هم سجده واجبيږي، که څه هم وروستنی لفظ "وَاقْتَرِبْ" نه ور سره ووايي.

او په متن کې د "فی الصحيح" په قيد سره يې د هغو حضراتو قول رد کړی دی چې هغوی وايي چې که د سجدې د آيت اکثره حصه ولوستل سي، نو بس سجده واجبيږي، برابره ده اکثره حصه د سجدې د لفظ څخه مخکې وي او که وروسته وهو رواية عن محمد واختاره الزيلعي، نو مصنف رَحِمَهُ الله د هغو له قول څخه احتراز وکړی.

او که څوک د سجدې ټوله آيت ووايي، ليکن لفظ د سجدې نه پکښې ووايي، نو پر هغه سجده نه واجبيږي. (شفاء الاراواح، انوار الايضاح)

د سجدهٔ تلاوت د آيتونو شمېر

﴿۸۸﴾ وَ آيَاتُهَا أَرْبَعَ عَشَرَةَ آيَةً او د سجدې آيتونه څوارلس آيته دي فِي الْأَعْرَافِ وَالرَّعْدِ وَالنَّحْلِ وَالْإِسْرَاءِ وَمَرْيَمَ ① په سورة الاعراف کې، ② په سورة الرّعد کې، ③ په سورة النحل کې، ④ په سورة الإسراء (سورة بني اسرائيل) کې، ⑤ په سورة مريم کې وَ أُوْلَى الْحَجِّ وَالْفُرْقَانِ وَالنَّمْلِ وَالسَّجْدَةِ وَ صٓ ⑥ او د سورة الحج په اوله سجده (اول آيت د سجدې) کې، ⑦ په سورة الفرقان کې، ⑧ په سورة النمل کې، ⑨ په سورة السجده کې، ⑩ په سورة صٓ کې وَ حٰمٓ

السَّجْدَةِ وَالنَّجْمِ وَانْشَقَّتْ وَاِقْرَأْ ⑪ او په سورة حمٓ سجده کي، ⑫ په سورة النجم کي، ⑬ په سورة انشقت (سورة الانشقاق) کي، ⑭ او په سورة اقرأ(سورة العلق) کي.

تشریح: په دې عبارت کي د سجدۀ تلاوت د آیتونو شمېر بیان سوی دی او هغه ټوله څوارلس آیتونه دي چي د هغوی په تلاوت کولو سره سجده واجبېږي، او په قرآن کریم کي پر دغه هر مقام نښان موجود دی، او په "سورة الحج" کي دوه د سجدې آیتونه دي، خو په هغوی کي صرف پر اول آیت سجده لازم ده، پر دویم آیت زموږ په نېز په نېز سجده نسته، او په "سورة صٓ" کي په "رَاكِعًا وَأَنَابَ" باندي د سجدې نښان صحیح نه دی . بلکي صحیح دا ده چي په "حُسْنَ مَآبٍ" باندي سجده وسي او په "سورة حمٓ" کي په "لَايَسْئَمُوْنَ" باندي سجده کول پکار دي. (ایضاح المسائل ص:۳۹، الجوهرة النیرة ج:۱، ص:۹۷)

فایده: هغه څوارلس د سجدې آیتونه دا دي:

(۱)... إِنَّ الَّذِيْنَ عِنْدَ رَبِّكَ لَا يَسْتَكْبِرُوْنَ عَنْ عِبَادَتِهٖ وَيُسَبِّحُوْنَهٗ وَلَهٗ يَسْجُدُوْنَ. ﴿سورة الاعراف: ۲۰۶ پ:۹، رکوع: ۱۴﴾

(۲)... وَلِلّٰهِ يَسْجُدُ مَنْ فِي السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ طَوْعًا وَّ كَرْهًا وَّ ظِلٰلُهُمْ بِالْغُدُوِّ وَالْاٰصَالِ.﴿سورة الرعد: ۱۵ پ:۱۳، رکوع:۸﴾

(۳)... يَخَافُوْنَ رَبَّهُمْ مِّنْ فَوْقِهِمْ وَيَفْعَلُوْنَ مَا يُؤْمَرُوْنَ. ﴿سورة النحل: ۵۰ پ:۱۴، رکوع: ۱۲﴾

(۴)... وَيَخِرُّوْنَ لِلْاَذْقَانِ يَبْكُوْنَ وَيَزِيْدُهُمْ خُشُوْعًا. ﴿سورة بني اسرائیل:۱۰۹ پ:۱۵، رکوع: ۱۲﴾

(۵)... اِذَا تُتْلٰى عَلَيْهِمْ اٰيٰتُ الرَّحْمٰنِ خَرُّوْا سُجَّدًا وَّ بُكِيًّا. ﴿سورة مریم: ۵۸ پ:۱۶، رکوع: ۷﴾

(۶)... په سورتِ حج کي اوله سجده: وَمَنْ يُّهِنِ اللّٰهُ فَمَا لَهٗ مِنْ مُّكْرِمٍ ؕ اِنَّ اللّٰهَ يَفْعَلُ مَا يَشَآءُ.﴿سورة الحج: ۱۸ پ:۱۷، رکوع: ۹﴾

(۷)... وَاِذَا قِيْلَ لَهُمُ اسْجُدُوْا لِلرَّحْمٰنِ، قَالُوْا وَمَا الرَّحْمٰنُ اَنَسْجُدُ لِمَا تَاْمُرُنَا. ﴿سورة الفرقان: ۶۰ پ:۱۹، رکوع: ۱۷﴾

(۸)... اَلَّا يَسْجُدُوْا لِلّٰهِ الَّذِيْ يُخْرِجُ الْخَبْءَ فِي السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ وَيَعْلَمُ مَا تُخْفُوْنَ وَمَا تُعْلِنُوْنَ. ﴿سورة النمل: ۲۶ پ:۱۹، رکوع: ۱۷﴾

(٩)... اِنَّمَا يُؤْمِنُ بِاٰيٰتِنَا الَّذِيْنَ اِذَا ذُكِّرُوْا بِهَا خَرُّوْا سُجَّدًا وَّ سَبَّحُوْا بِحَمْدِ رَبِّهِمْ وَهُمْ لَا يَسْتَكْبِرُوْنَ. ﴿سورة السجدة (الم تنزيل): ١٥ پ: ٢١، رکوع: ١٥﴾

(١٠)... وَظَنَّ دَاوٗدُ اَنَّمَا فَتَنّٰهُ فَاسْتَغْفَرَ رَبَّهٗ وَخَرَّ رَاكِعًا وَّ اَنَابَ. ﴿سورة صٓ: ٢٤ پ: ٢٣، رکوع: ١١﴾

(١١)... فَاِنِ اسْتَكْبَرُوْا فَالَّذِيْنَ عِنْدَ رَبِّكَ يُسَبِّحُوْنَ لَهٗ بِالَّيْلِ وَالنَّهَارِ وَهُمْ لَا يَسْئَمُوْنَ. ﴿حمٓ السجدة: ٣٨ پ: ٢٤، رکوع: ١٩﴾

(١٢)... فَاسْجُدُوْا لِلّٰهِ وَاعْبُدُوْا. ﴿سورة النجم: ٦٢ پ: ٢٧، رکوع: ٧﴾

(١٣)... وَاِذَا قُرِئَ عَلَيْهِمُ الْقُرْاٰنُ لَا يَسْجُدُوْنَ. ﴿سورة الانشقاق: ٢١ پ: ٣٠، رکوع: ٩﴾

(١٤)... وَاسْجُدْ وَاقْتَرِبْ. ﴿سورة العلق: ١٩ پ: ٣٠، رکوع: ٢١﴾

دغه څوارلس د سجدې مقامات په هغه قرآن مجید کې متعین کړل سوي وه کوم چې حضرت عثمان غني ﷜ مُرتّب کړی وو، ځرنګه چې د حضرت عثمان ﷜ قرآن پاک ډېر معتبر او معتمد قرآن دی، نو ځکه په هغه کې بیان سوي مقامات به هم د اعتماد او اعتبار وړ وي.

او په "سورة الحج" کې دویم د سجدې آیت چې په هغه کې زموږ په نېز سجده نسته، دا دی: ﴿يَا أَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوا ارْكَعُوْا وَاسْجُدُوْا وَاعْبُدُوْا رَبَّكُمْ وَافْعَلُوا الْخَيْرَ لَعَلَّكُم تُفْلِحُوْنَ﴾ [سورة الحج: ٧٧] او د سورت صٓ سجده د امام شافعي رَحِمَهُ الله په نېز د شکر سجده ده.

اَو د شوافعو په نېز هم د سجدو شمېر څوارلس دي، خو فرق دا دی چې زموږ په نېز د سورتِ حج اوله سجده سجدۂ تلاوت ده، لېکن دویمه سجده سجدۂ تلاوت نه ده، بلکې سجدۂ صلاة (یعنې د لمانځه سجده) ده او امام شافعي رَحِمَهُ الله د سورتِ حج دواړه سجدې سجدۂ تلاوت شمېري. (فتح الهدایه)

سجدۂ تلاوت پر چا واجب ده؟

﴿٤٨٩﴾ و، يَجِبُ السُّجُوْدُ عَلٰى مَنْ سَمِعَ او واجبېږي سجده پر (هر) هغه کس کوم چې (د سجدې آیت) واوري وَاِنْ لَّمْ يَقْصِدِ السَّمَاعَ که څه هم هغه د اورېدلو قصد (اراده) نه وي کړي.

تشریح: په ټوله قرآن کې څوارلس د سجدې آیتونه دي، د دې آیتونو په لوستونکي او اورېدونکي هر یوه باندې سجده کول واجب دي، اورېدونکي برابره ده د قرآن کریم د اورېدلو په اراده سره د سجدې

آیت اورېدلی وي، یا په یو بل کار مشغوله وي او بغیر له ارادې یې د سجدې آیت اورېدلی وي، او که څوک په دې ځایونو کې سجده نه وکړي، نو ګنهګاره کیږي. (البحر الرائق ج: ۲، ص: ۱۲۸، ط: بیروت)

پر حیض او نفاس والا ښځې سجدهٔ تلاوت نسته

﴿۹۰﴾ إِلَّا الْحَائِضَ وَالنُّفَسَاءَ مګر (نه واجبیږي پر) حیض والا او نفاس والا ښځې.

تشریح: یعني که ښځه د حیض یا نفاس په حالت کې د سجدې آیت واوري، نو پر هغې سجده نه واجبیږي او وروسته هم پر هغې سجده واجب نه ده، لیکن که څوک د جنابت په حالت کې د سجدې آیت واوري، نو تر غسل کولو وروسته پر هغه سجده کول واجب دي. (بهشتي زیور، در مختار)

او د حیض او نفاس په حالت کې د ښځې لپاره د سجدې آیت لوستل جائز نه دي، خو که هغه یې ووایي، نو هم پر هغې سجده نه واجبیږي، ها! کوم څوک چې له هغې شخه د سجدې آیت واوري، پر هغه سجده واجبیږي، همدارنګه که عاقل بچی یا کافر کس د سجدې آیت ووایي، نو که څه هم خپله پر دوی سجدهٔ تلاوت نه واجبیږي، لیکن کوم څوک چې له دوی شخه د سجدې آیت واوري، پر هغه سجده واجبیږي. (انوار الایضاح بحوالهٔ کتاب المسائل ص: ۵۰۰)

پر امام او مقتدي هم سجدهٔ تلاوت نسته

﴿۹۱﴾ وَ الْإِمَامَ وَالْمُقْتَدِیْ بِهٖ او (نه واجبیږي پر) امام او هغه کس کوم چې په امام پسې اقتداء کوي.

تشریح: دا عبارت هم تر "إِلّا" لاندې راځي، اصل عبارت داسې دی "وَإِلّا الإمامَ و المُقتدیَ بهٖ".

حاصل د عبارت دا دی چې که یو مقتدی په غلطۍ سره د سجدې آیت ووایي، نو نه د هغه پر امام سجده واجبیږي او نه د دې امام پر نورو مقتدیانو او نه خپله پر دغه مقتدي سجده واجبیږي کوم چې د سجدې آیت ویلی دی، نه په لمانځه کې او نه وروسته. (انوار الایضاح، شفاء الارواح)

او پاتې سو هغه څوک چې د دغه مقتدي سره په لمانځه کې شریک نه وي، بلکې ځان ته لمونځ کوي یا لمونځ نه کوي، که هغه د مقتدي د سجدې آیت واوري، نو پر هغه سجده واجبیږي، خو کله چې په لمانځه کې وي، نو سجده به تر لمانځه وروسته اداء کوي. (انوار الایضاح بحوالهٔ در مختار و طحطاوي)

که امام او مقتدیان له بل چا څخه د سجدې آیت واوري، نو څه حکم دی؟

﴿ ۷۹۲ ﴾ وَلَوْ سَمِعُوْهَا مِنْ غَيْرِهٖ او که دوی (امام او مقتدیان) واوري د سجدې آیت له بل چا څخه سَجَدُوْا بَعْدَ الصَّلٰوةِ نو سجده دې تر لمانځه وروسته وکړي وَلَوْ سَجَدُوْا فِيْهَا او که په لمانځه کې دننه سجده وکړي لَمْ تُجْزِهِمْ نو دوی لره کفایت نه کوي (کافي او معتبره نه ده) وَلَمْ تَفْسُدْ صَلٰوتُهُمْ فِيْ ظَاهِرِ الرِّوَايَةِ او د دوی لمونځ نه فاسدیږي، په ظاهر روایت کې.

لغات: ﴿سمعوها﴾ د سمع له بابه د جمع مذکر غائب ماضي معلومي صيغه ده، د دې ضمیر امام او د هغه مقتدیانو ته راجع دی، د ها ضمیر آیة السجدة ته راجع دی، د غیره ضمیر مقتدي ته راجع دی، د فیها ضمیر صلاة (لمانځه) ته راجع دی.

تشریح: د عبارت حاصل دا دی چې که امام او مقتدیان له یو داسې کس څخه د سجدې آیت واوري کوم چې د دوی سره په لمانځه کې شریک نه وي، نو دوی به په لمانځه کې دننه سجدۀ تلاوت نه کوي، بلکې تر لمانځه وروسته به یې کوي، لیکن که دوی په لمانځه کې دننه سجده وکړي، نو هغه لره اعتبار نشته، بلکې تر لمانځه وروسته د سجدې راګرځول ضروري دي، خو د ظاهر روایت مطابق په داسې صورت کې د دوی لمونځ نه فاسدیږي، او د "نوادر" روایت دا دی چې لمونځ یې فاسدیږي او بعضو ویلي دي چې د لمونځ فاسدېدل د امام محمد رَحِمَهُ الله قول دی. (شفاء الارواح بحوالۀ حاشیه)

د سجدې دآیت په ترجمه سره هم سجده واجبیږي

﴿ ۷۹۳ ﴾ وَيَجِبُ بِسَمَاعِ الْفَارْسِيَّةِ إِنْ فَهِمَهَا او واجبیږي په اورېدلو د (سجدې دآیت په فارسي سره (هم) عَلَى الْمُعْتَمَدِ د معتمد مذهب مطابق.

تشریح: که څوک د سجدې دآیت ترجمه واوري، یا یې خپله ووایي او په پوه سي چې دا د سجدې آیت دی او دا د سجدې دآیت ترجمه ده، یا بل څوک د دې خبر ورکړي، نو احتیاطاً پر هغه سجدۀ تلاوت واجب ده، او که هغه ته خبر نه وي چې دا د سجدې آیت دی، نو هغه په دې کې معذور دی او پر هغه سجدۀ تلاوت نشته، دا د صاحبینو رَحِمَهُمَا الله په نیز دی او همدا معتمد مذهب دی، او د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نیز په هر حالت کې پر هغه سجده واجبیږي، برابره ده هغه په پوهیږي او که نه په پوهیږي، لیکن وروسته امام صاحب رَحِمَهُ الله د صاحبینو قول ته رجوع وکړه. (شفاء الارواح)

له بیده کس یا مجنون څخه د سجدې آیت اورېدل

﴿۴۹۴﴾ وَ اخْتَلَفَ التَّصْحِيْحُ فِيْ وُجُوْبِهَا بِالسَّمَاعِ مِنْ نَائِمٍ أَوْ مَجْنُوْنٍ او مختلفه سوې ده تصحیح (اختلاف سوی دی د صحیح مذهب په تعیین کې) د سجدې په واجبېدلو کې په اورېدلو سره (د سجدې دآیت) له بیده کس یا لېوني څخه.

تشریح: که څوک له بیده کس یا لېوني څخه د سجدې آیت واوري، نو په دې صورت کې د سجدې د وجوب په هکله د صحیح مذهب په تعیین کې د علماؤ اختلاف دی، د بعضو په نېز صحیح دا ده چې سجده واجبېږي او د بعضو په نېز نه واجبېدل صحیح دي، لېکن اصح دا ده چې نه واجبېږي. (شفاء الارواح)

❀ ❀ ❀

که بیده کس د سجدې آیت ووایي

مسئله: که بیده کس د سجدې آیت ووایي او تر وېښېدلو وروسته هغه ته خبر ورکول سي چې تا د سجدې آیت ویلی دی، نو پر داسي کس سجدهٔ تلاوت واجب ده، که نه؟ په دې باره کي هم دوه روایتونه دي، د یوه روایت په اعتبار سره واجب ده او د بل روایت په اعتبار سره واجب نه ده (لهذا احتیاط په همدې کي دی چې سجده وکړل سي). (شامي ج:۲، ص:۵۸۱، کتاب المسائل ص:۴۹۹)

له مرغه څخه یا له ازانګې څخه د سجدې آیت اورېدل

﴿۴۹۵﴾ وَلَاتَجِبُ بِسَمَاعِهَا مِنَ الطَّيْرِ وَالصَّدَىٰ او نه واجبېږي سجده په اورېدلو سره د سجدې دآیت له مرغه او له ازانګې څخه.

لغات: ﴿الطیر﴾ اسم جنس دی، مرغه (مارغه)، واحد: طَائِر، جمع: طُیُوْر، ﴿الصَّدیٰ﴾ ازانګه، انګازه، درېغ انعکاس.

تشریح: که څوک له یو مرغه مثلاً له طوطي یا له مینا څخه د سجدې آیت واورېي، نو په دې سره پر هغه سجدهٔ تلاوت نه واجبېږي، همدارنګه که څوک د سجدې دآیت ازانګه واوري. مثلاً یو څوک په غره یا په لوی پوخ عمارت یا داسي بل ځای کي د سجدې آیت په زوره ووایي او هغه ازانګه وکړي او له دې ازانګې څخه یو څوک د سجدې تلاوت واوري، نو پر دغه اورېدونکي سجدهٔ تلاوت نه واجبېږي. (مستفاد شفاء الارواح)

❀ ❀ ❀

له راډیو څخه د سجدې آیت اورېدل

مسئله (۱): که څوک له راډیو څخه د سجدې آیت واوري، نو پر اورېدونکي سجدهٔ تلاوت نه واجبېږي؛ ځکه د راډیو زیاتره پروګرامونه له مخکې څخه ریکارډ سوي وي، وروسته نشرول کېږي (داسي نه وي چې څوک مخامخ ناست وي او تلاوت کوي)، خو که په راډیو او داسي نورو کي براهِ

راست بغیر له ریکارډ څخه تلاوت کیږي، نو په دې صورت کې د سجدې د آیت په اورېدلو سره سجدهٔ تلاوت واجبیږي؛ ځکه هغه د اسپیکر (ګویا) په درجه کې اېښوول کېدای سي. (انوار الایضاح)

له ټېپ (ټایپ)، ایم پي تري څخه د سجدې د آیت اورېدلو حکم

مسئله (۲): د ټېپ یا ایم پي تري ریکارډ سوی آواز هم په ظاهره د ازانګې سره مشابه دی، نو ځکه اکثره مفتیان له ټېپ ریکارډر وغیره څخه د سجدې آیت اورېدل د سجدهٔ تلاوت موجب نه ګرځوي. لېکن د بعضي محققینو علماؤ رایه دا ده چي له ټېپ څخه د سجدې د آیت په اورېدلو باندي سجدهٔ تلاوت واجبېدل پکار دي؛ ځکه کله چي دغه آواز له داسي آله څخه راوځي کوم چي د ده په اختیار کي ده، نو د هغه نسبت به د آلې و طرف ته نه کیږي بلکي د تلاوت کونکي و طرف ته به کیږي، چي د هغه په اهلیت کي هیڅ شبهه نسته، پر همدې بناء د احتیاط تقاضا دا ده چي له ټېپ، ایم پي تري وغیره څخه د سجدې د آیت په اورېدلو باندي سجدهٔ تلاوت وکړل سي. (انوار الایضاح)

﴿۴۹۶﴾ وَتُؤَدّٰى بِرُكُوْعٍ أَوْ سُجُوْدٍ فِي الصَّلٰوةِ غَيْرِ رُكُوْعِ الصَّلٰوةِ وَسُجُوْدِهَا او اداء کیږي سجدهٔ تلاوت په لمانځه کي په رکوع یا سجده کولو سره بغیر د لمانځه له رکوع او سجدې څخه.

تشریح: د دې عبارت مطلب دا دی چي کله په لمانځه کي د سجدې آیت ولوستل دي او سجده واجب سي، نو د هغه لپاره سنت صورت خو همدا دی چي په لمانځه کي یوه زائده سجده وکړي، خو که د سجدې پر ځای یوه زائده رکوع وکړي، نو بیا هم سجده اداء کیږي، خلاصه دا چي سجدهٔ تلاوت په لمانځه کي دننه په رکوع کولو سره هم اداء کیږي او په سجده سره هم، خو سجده کول افضل دي؛ ځکه دا یې اصل دی، او دا خبره یاد ساتئ! چي په رکوع سره د اداء کولو په صورت کي په رکوع کي د سجدهٔ تلاوت نیت کول ضروري دي (لکه په راروان عبارت کي به هم ذکر سي).

او که څوک د لمانځه څخه دباندي په رکوع سره سجدهٔ تلاوت اداء کړي، نو په دې صورت کي سجدهٔ تلاوت نه اداء کیږي. (انوار الایضاح بحوالهٔ طحطاوي)

د لمانځه په رکوع یا سجده سره د سجدهٔ تلاوت اداء کولو حکم

﴿۴۹۷﴾ وَيُجْزِئُ عَنْهَا رُكُوْعُ الصَّلٰوةِ او کافي کیږي (کفایت کوي) د سجدهٔ تلاوت له طرفه د لمانځه رکوع إِنْ نَوَاهَا (په دې شرط) که چیري یې (په رکوع کي) د سجدهٔ تلاوت نیت (هم) کړی وي وَسُجُوْدُهَا او (کافي کیږي د سجدهٔ تلاوت له طرفه) د لمانځه سجده وَإِنْ لَّمْ يَنْوِهَا که څه هم (په سجده کي) د سجدهٔ تلاوت نیت یې نه وي کړی إِذَا لَمْ يَنْقَطِعْ فَوْرُ التِّلَاوَةِ بِأَكْثَرَ مِنْ آيَتَيْنِ کله چي منقطع (ختم) سوی نه وي (تراپهٔ لسجدة روسته) د تلاوت جوش (تسلسل) له دوو آیتونو څخه په زیات ویلو سره.

لغات: ﴿یُجْزِئُ﴾ د افعال له بابه مضارع معلومه ده: کافي کېدل. ﴿لم ینقطع﴾ د انفعال له بابه د جحد صیغه ده: ختمېدل، بندېدل او درېدل. ﴿فور﴾ د هرشي ابتدائي حالت (اول وخت) تر څو چي کرار سوی نه وي، جوش، وړل کیږي: فعل علی الفور‌علی، أو فعله من فوره، أی: أدّی العمل فی أول الاوقات، کأنه قبل أن یسکن (معجم لغة الفقهاء)، د عنها ضمیر سجدۀ تلاوت ته راجع دی، د نواها ضمیر سجده ته راجع دی، د سجودها ضمیر صلاة ته راجع دی، د ینوها ضمیر سجدۀ تلاوت ته راجع دی.

تشریح: د عبارت حاصل دا دی چي سجدۀ تلاوت د لمانځه په رکوع سره هم اداء کیږي په دې شرط چي د رکوع کولو (رکوع ته د تللو) پر مهال د سجدۀ تلاوت نیت هم وکړي، او که رکوع ته له تللو څخه وروسته نیت وکړي، نو اظهر دا ده چي جائز نه دي. (عمدة الفقه)

وسجودها: یعني د لمانځه په سجدې سره هم سجدۀ تلاوت اداء کیږي او په هغه کي نیت کول هم ضروري نه دي، خو د هغه لپاره شرط دا دي چي د سجدې له آیت څخه وروسته فوراً (سمدستي) رکوع او سجده وکړي او د فوراً (سمدستي) مطلب دا دی چي له دوو آیتونو څخه زیات تأخیر او فصل نه وکړي، نهذا که د سجدې له آیت څخه وروسته درې آیتونه یا تر دې زیات ووایې، نو په دې صورت کي د لمانځه په سجده سره سجدۀ تلاوت نه اداء کیږي او جلا سجده کول ضروري دي، او کله چي په دې صورت کي هغه سجده وکړي، نو د تأخیر په وجه سجدۀ سهو لازمیږي، او که په لمانځه کي سجدۀ تلاوت اداء نه کړي، نو بیا وروسته د تلافی هیڅ صورت نسته ما سوا له استغفار او توبې څخه. (شفاء الارواح بحوالۀ عمدة الفقه)

که غیرِ لمونځ گزار له امام څخه د سجدې آیت واوري، نو څه حکم دی؟

﴿۹۸﴾ وَلَوْ سَمِعَ مِنْ إِمَامٍ او که له امام څخه (د سجدې آیت) واوري فَلَمْ يَأْتَمَّ بِهِ بیا په هغه پسي اقتداء نه وکړي أَوِ ائْتَمَّ فِيْ رَكْعَةٍ أُخْرىٰ یا په بل رکعت کي (په امام پسي) اقتداء وکړي سَجَدَ خَارِجَ الصَّلٰوةِ نو د لمانځه څخه بهر (دباندي) به سجده کوي فِي الْأَظْهَرِ په ظاهر روایت کي.

لغات: ﴿ائتمّ﴾ د افتعال له بابه ماضي معلومه ده: اقتداء کول.

تشریح: صورت د مسئلې دا دی چې که امام د سجدې آیت تلاوت کړي او یو داسې څوک هغه واوري کوم چې د امام سره په لمانځه کې شریک نه وي، بیا وروسته ور سره شریک سي، نو پر هغه سجده واجبیږي.

او که د امام سره په را روان رکعت کې یعني په کوم رکعت کې چې یې د سجدې آیت اوریدلی وي، تر هغه وروسته په بل رکعت کې ور سره شریک سي، نو بیا تر لمانځه وروسته سجدهٔ تلاوت اداء کول واجب دي، دا ظاهر روایت دی، او د بعضو په نیز د اقتداء کولو په وجه هغه سجده په لمانځه کې دننه ګرځي، لهذا د لمانځه څخه بهر نه سي اداء کیدلای او که په لمانځه کې دننه اداء کړل سي، نو د امام مخالفت لازمیږي، نو ځکه نه دي یې په لمانځه کې کوي او نه تر لمانځه وروسته. (شفاء الارواح، عمدة الفقه)

﴿۷۹۹﴾ وَإِنِ ائْتَمَّ قَبْلَ سُجُوْدِ إِمَامِهٖ لَهَا او که اقتداء وکړي (په خپل امام پسې) د خپل امام له سجدهٔ تلاوت کولو څخه مخکې سَجَدَ مَعَهٗ نو د امام سره به سجده کوي فَإِنِ اقْتَدٰى بِهٖ بَعْدَ سُجُوْدِهَا فِيْ رَكْعَتِهَا او که اقتداء وکړي په امام پسې د امام له سجدهٔ تلاوت کولو څخه وروسته په هاغه رکعت کې صَارَ مُدْرِكًا لَهَا حُكْمًا نو هغه د سجدهٔ تلاوت نیونکی (موندونکی) ګرځي د حکم په اعتبار سره فَلَا يَسْجُدُهَا أَصْلًا نو ځکه دا سجدهٔ تلاوت به نه کوي بالکل.

لغات: ﴿أصلًا﴾ بالکل، هیڅکله.

تشریح: مسئله دا ده چې که امام د سجدې آیت ووایي او یو څوک هغه واوري کوم چې د امام سره په لمانځه کې شریک نه وي، بیا هغه د امام له سجدهٔ تلاوت کولو څخه مخکې د امام سره شریک سي. نو د امام سره دې سجده وکړي، دا کافي دي.

فإن اقتدىٰ إلخ: او که امام سجدهٔ تلاوت وکړي، تر دې وروسته دغه کس په هاغه رکعت کې ور سره شریک سي په کوم کې چې امام د سجدې آیت ویلی دی، نو پر هغه سجدهٔ تلاوت نه واجبیږي، نه په لمانځه کې دننه او نه وروسته؛ ځکه هغه د رکعت نیولو په وجه حکماً د سجدې نیونکی (موندونکی) هم سو.

﴿۸۰۰﴾ وَلَمْ تُقْضَ الصَّلٰوتِيَّةُ خَارِجَهَا او نه به اداء کول کیږي د لمانځه سجده (کوم چې په لمانځه کې واجب سوې وي) د لمانځه څخه بهر.

تشریح: یعني هره هغه سجدهٔ تلاوت کوم چي په لمانځه کي دننه د سجدې دآیت ویلو په وجه واجب سي او په لمانځه کي هغه سجده نه وکړل سي، نو هغه سجدهٔ تلاوت د لمانځه څخه دباندي په سجده کولو سره نه اداء کیږي، لهذا که قصداً یې پرې ایښې وي. نو ګنهګاره کیږي. له توبې او استغفار څخه بغیر د هغه لپاره بل صورت نسته.

﴿۸۰۱﴾ وَلَوْتَلَا خَارِجَ الصَّلٰوۃِ فَسَجَدَ او که د لمانځه څخه دباندي تلاوت وکړي بیا سجده وکړي ثُمَّ أَعَادَفِیْهَا بیا یې په لمانځه کي راوګرځوي (یعني په لمانځه کي هغه آیت دویم وار ووایي) سَجَدَ اُخْریٰ نو بله سجده دي وکړي.

تشریح: مسئله دا ده چي که څوک د لمانځه څخه دباندي د سجدې آیت ووایي او سجده وکړي، بیا په لمانځه کي داخل سي او هاغه آیت بیا ووایي، نو پر هغه په لمانځه کي د تلاوت کولو په وجه بله سجده واجبیږي.

د سجدې آیت لوستل او بیا په لمانځه کي لوستل او د دواړو لپاره یوه سجده کول

﴿۸۰۲﴾ وَإِنْ لَّمْ یَسْجُدْ أَوَّلًا او که اول وار یې سجده نه وي کړې کَفَتْهُ وَاحِدَۃٌ فِیْ ظَاهِرِ الرِّوَایَۃِ نو یوه سجده هغه لره کافي کیږي (کوم چي په لمانځه کي اداء کړي) په ظاهر روایت کي.

لغات: ﴿کَفَتْ﴾ د ضرب له بابه د واحد مؤنث غائب ماضي معلومي صیغه ده مصدر: کفایة: کافي کېدل.

تشریح: که څوک د لمانځه څخه دباندي د سجدې آیت ووایي، خو سجده نه وکړي، تر دې چي په فرضي یا نفلي لمانځه کي داخل سي، بیا هاغه آیت دویم وار په لمانځه کي تلاوت کړي او په همدې لمانځه کي سجدهٔ تلاوت وکړي، نو دا سجده د دواړو تلاوتونو لپاره کافي کیږي، حتیٰ که هغه په لمانځه کي سجدهٔ تلاوت نه وکړي، نو له هغه څخه د دواړو آیتونو سجدې ساقطیږي او د سجدې پرېښوولو په وجه ګنهګاره کیږي.

د ظاهر روایت په قید سره مصنف رَحِمَهُ الله د "نوادر" روایت ایستلی دی او هغه دا دی چي په لمانځه کي د سجدهٔ تلاوت په اداء کولو سره صرف یوه سجده اداء کیږي او بله سجده تر لمانځه وروسته اداء کول ضروري دي. (طحطاوي علی مراقی الفلاح)

د سجدې آیت په یوه مجلس کې څو واره ویل یا لوستل

﴿۸۰۲﴾ كَمَنْ كَرَّرَهَا فِيْ مَجْلِسٍ وَاحِدٍ لَا مَجْلِسَيْنِ لکه هغه کس (لره چې یوه سجده کافي کیږي) کوم چې په یوه مجلس کې د سجدې آیت مکرر (بار، بار) ویلی وي. نه په دوو مجلسو کې.

تشریح: مسئله دا ده چې که د سجدې آیت په یوه مجلس کې بار، بار ولوستل سي، یا په یوه مجلس کې بار، بار واوریدل سي، نو صرف یوه سجده د ټولو لپاره کافي کیږي، فرمایي: څرنګه چې په دې مذکوره مسئله کې یوه سجده کافي کیږي، همدغسي په مخکینی مسئله کې هم یوه سجده د دوارو تلاوتونو لپاره کافي کیږي (دا ګواکي د مخکینی مسئلې لپاره مثال دی).

همدارنګه که څوک د سجدې آیت ووایي او سجده وکړي، بیا په هاغه مجلس کې دننه هاغه آیت بار، بار ووایي، نو هم پر هغه بله سجده نه واجبیږي، بلکي اوله سجده کافي ده. (درمختار)

لا مجلسین: یعني نه د هغه کس په څېر چې په دوو جلا مجلسونو کې د سجدې آیت ووایي چې په دې صورت کې یوه سجده نه کافي کیږي، لهذا که څوک د سجدې یو آیت ووایي، بیا مجلس بدل کړي او بل ځای ته ولاړ سي او هاغه بیا آیت ووایي، نو پر هغه دوې سجدې واجبیږي.

د مجلس بدلېدلو وضاحت

﴿۸۰۳﴾ وَيَتَبَدَّلُ الْمَجْلِسُ بِالْاِنْتِقَالِ مِنْهُ او مجلس بدلیږي له مجلس څخه په منتقل کېدو سره وَلَوْ مُسْدِيًا إِلٰى غُصْنٍ که څه هم (په کپړه کې) داوږده تار جار ایستونکی وي و بل ښاخ ته وَبِالْاِنْتِقَالِ مِنْ غُصْنٍ إِلٰى غُصْنٍ او (مجلس بدلیږي) په منتقل کېدو سره له یوه ښاخ څخه و بل ښاخ ته وَعَوْمٍ فِيْ نَهْرٍ أَوْ حَوْضٍ كَبِيْرٍ او (مجلس بدلیږي) په لامبو وهنې (اوبازي کولو) سره په ویاله (واله) کې یا په لوی حوض کې فِي الْأَصَحِّ د صحیح ترین قول مطابق.

لغات: ﴿مُسْدِي﴾ د افعال له بابه د فاعل صیغه ده او په مجردو کې د ضرب له بابه راځي مصدر: سَدْيًا: د کپړې اوږد تار کشول او په کپړه کې جار ایستل (یعني هغه تار کوم چې د ټوکر په اوږدول کې وي هغه په ټوکر کې جار ایستل)، اوبدل. ﴿غصن﴾ ښاخ، لښت، چخله، ﴿عوم﴾ د نصر د باب مصدر دی: عَامَ يَعُوْمُ عَوْمًا: اوبازي کول، لامبو وهنه.

تشریح: په دې عبارت کې مصنف رَحِمَهُ الله د مجلس بدلېدلو څو صورتونه ذکر کړي دي چې سوږ به یې په تفصیل سره بیان کړو: ① حقیقي بدلېدل، مثلاله یوه ځای څخه درې، څلور ګامه (قدمه) بلې

[illegible] سي يا له مسجد يا خوني (کوټې) څخه ووځي نو په دې سره مجلس بدلیږي

۲ حکمي بدلیدل. مثلا په یوه مجلس کي دننه په بل داسي کار مشغولیږي کوم چي په عرف کي حلا کار شمېرل کیږي. مثلا د تلاوت کولو په دوران کي هلته سترخوان [illegible] او غذا [illegible] خوراک شروع کړي او داسي نور. په دې سره هم مجلس بدلیږي. نو له دې اعمالو څخه وروسته که هاغه آیت دویم وار وویي. نو دوې سجدې واجبیږي. ځکه مجلس بدل شو.

[illegible] الخ. ۳ یعني د کېږې د تارونو د اوبدلو او جار ایستلو لپاره له یوه ځای څخه بل ځای ته نقل کېدل یا له یوه ښاخ څخه بل ته نقل کېدل. په دې سره هم مجلس بدلیږي. یعني که یو سړی د ټوکر او کېږې د اوبدلو (وړدلو) کار کوي او د کار په دوران کي د ټوکر د اوږده تارونو د جار ایستلو لپاره له یوه ځای څخه بل ځای ته ځي او د تګ راتګ په وخت کي بار بار د سجدې آیت وایي. نو څومره واره چي یې هغه آیت ویلی دي. هغومره سجدې پرې واجبیږي. ځکه چي د ټوکر اوږد تار تقریبا دیرش متره اوږد وي. نو د هغه د اوبدلو او جار ایستلو لپاره چي له یوه ځای څخه بل ځای ته منتقل کیږي (ګرځي. راګرځي). نو په دې سره مجلس بدلیږي. نو ځکه به په دې صورت کي پر ټوکر اوبدونکي هغومره سجدې واجبیږي. څومره چي یې آیت تلاوت کړی وي. او که هغه نژدې تګ کوي او په نژدې ځای کي سره راګرځي. نو اتحاد مجلس باقي پاتیږي او یوه سجده واجبیږي او په نژدې او لیرې (قریب او بعید) کي فاصله دا دی چي د دوو. یا دریو ګامونو مقدار قریب دی او تر هغه زیات بعید دی.

۴. همدارنګه د ښاخ په بدلېدلو سره مجلس بدلیږي. لهذا که څوک د درختي پر یوه ښاخ د سجدې آیت وواېي. بیا پر بل ښاخ کښېني او هاغه آیت وواېي نو دوې سجدې واجبیږي.

۵. همدارنګه په نهر یا لوی حوض کي په اوبازي کولو سره مجلس بدلیږي. لهذا د اوبازي کولو په دوران کي چي څومره واره د سجدې آیت وواېي. هغومره سجدې واجبیږي. او همدا اصح قول دی چي په دې ټولو صورتونو کي مجلس بدلیږي. (انوار الایضاح. حاشیه بحواله شفاء الارواح)

فایده: لوی حوض کوم چي د ماء جاري په حکم کي دی. د هغه مدار که څه هم د اوبو پر زیاتوب دی. لیکن فقهاؤ د آساني لپاره د هغه اندازه لس لاسه طول او لس لاسه عرض متعین کړی دی یعني داسي حوض چي لس لاسه (یعني لس شرعي ګزه) اوږد وي او لس لاسه پراخه وي (یعني لس په لس کي وي). (الأوزان المحموده. ص: ۱۰۱)

د مجلس نه بدلېدلو څو صورتونه

(١٥٢) وَلَا يَتَبَدَّلُ بِزَوَايَا الْبَيْتِ وَالْمَسْجِدِ وَلَوْ كَبِيْرًا او نه بدليږي مجلس د خونې او مسجد په کونجونو سره که څه هم لوی مسجد وي وَلَا بِسَيْرِ سَفِيْنَةٍ او نه د کښتۍ په تګ (روانتيا) سره وَلَا بِرَكْعَةٍ وَبِرَكْعَتَيْنِ او نه په يوه دوو رکعتونو سره وَشُرْبَةٍ وَأَكْلِ لُقْمَتَيْنِ وَمَشْيِ خُطْوَتَيْنِ او (نه مجلس بدليږي) په يو وار اوبه چيښلو او (يا) د دوو کولو په خوړلو او د دوو ګامو په تګ سره وَلَا بِاتِّكَاءٍ وَقُعُوْدٍ وَقِيَامٍ او نه (مجلس بدليږي) په تکيه لګولو او (يا) کښېنستلو او ولاړېدلو (پورته کېدلو) سره وَرُكُوْبٍ وَنُزُوْلٍ فِيْ مَحَلِّ تِلَاوَتِهٖ او (نه مجلس بدليږي) په سپرېدلو او (يا) په شوه کېدلو سره د تلاوت په ځای کي وَلَا بِسَيْرِ دَابَّتِهٖ مُصَلِّيًا او نه (مجلس بدليږي) د خپل سپارلي په تګ (تللو) سره په داسي حال کي چي هغه (سپور کس) لمونځ کونکی وي.

لغات: ﴿زوايا﴾ جمع د زاوية ده کونج. ﴿بيت﴾ د شپه تېرولو ځای. په اصل کي خونې او کوټې ته وايي. ﴿شربة﴾ اسم مرة دی: يو وار چيښل. غوړپ کول. ﴿خطوتين﴾ تثنيه د خطوة ده: ګام. د دوو قدمونو ترمينځ مسافه (کوم چي تقريبا ٣٠ اينچه کيږي). ﴿اتكاء﴾ د افتعال د باب مصدر دی: تکيه لګول (تکيه وهل). ټيک لګول. ﴿دابة﴾ په اصل کي هر پر ځمکه تلونکي ساکښ ته وايي. او کثرة استعمال يې پر هغه چارپاى (څاروي) کيږي کوم چي د سپرتيا يا بار وړلو لپاره کارول کيږي. جمع: دَوَابُّ.

تشريح: په دې عبارت کي مصنف رحمه الله د مجلس نه بدلېدلو څو صورتونه ذکر کړي دي. حاصل يې دا دی چي ① د خونې يا د مسجد له يوه کونج څخه و بل کونج ته په تللو سره مجلس نه بدليږي. که څه هم هغه لويه خونه وي، يا لوی مسجد وي. لهذا که څوک د خونې يا مسجد په يوه کونج او طرف کي د سجدې آيت تلاوت کړي او په بل کونج او طرف کي هاغه آيت بيا تلاوت کړي. نو صرف يوه سجده واجبيږي. ② همدارنګه د کښتۍ په تګ سره د سپور کس مجلس نه بدليږي. لهذا په کښتۍ کي د سجدې د آيت په بار، بار ويلو سره مکرره سجده نه واجبيږي. ③ همدارنګه په يو رکعت يا دوو رکعتونو سره هم مجلس نه بدليږي. لهذا که څوک د سجدې آيت ووايي او بيا دوه

رکعته لمونځ وکړي، تر دې وروسته بیا هاغه آیت ووايي، نو صرف یوه سجده واجبيږي. ④همدارنګه د اوبو په څېښلو. ⑤ دیوې او دوې ګولې خوراک په خوړلو. ⑥ او د یوه، دوو ګامو په تګ سره مجلس نه بدليږي، ، لهذا که څوک د سجدې آیت ووايي، بیا اوبه وڅښي، یا یوه، دوې ګولې وخوري، یا یو، دوه ګامه ولاړ سي، تر دې وروسته بیا هغه آیت ووايي، نو یوه سجده به کوي. ⑦ همدارنګه په تکیه کولو، ⑧ او کښېنستلو، ⑨ ولاړېدلو، ⑩ سپرېدلو، ⑪ او په شوه کېدلو سره هم مجلس نه بدليږي، دغه ټوله اعمال د مجلسِ واحد په درجه کي دي، لهذا که څوک د سجدې آیت ووايي، بیا تکیه ولګوي او هاغه آیت دویم وار ووايي، یا د سجدې آیت په ولاړه ووايي او بیا کښېني، یا ناست وي بیا ولاړ سي، یا د سجدې آیت ووايي، بیا پر هغه ځای سپور سي، یا سپور وي، بیا هلته شوه سي او هاغه آیت دویم وار ووايي، نو په دې ټولو صورتونو کي صرف یوه سجده واجبيږي.

ولا بسیر دابته: یعني د سپارلي (څاروي) په تګ سره هم مجلس نه بدليږي. لهذا که څوک پر سپارلي (څاروي) سپور وي او په لمانځه مشغوله سي او د سجدې آیت بار، بار ووايي، نو دا صورت هم د مجلسِ واحد په درجه کي دي او یوه سجده کافي ده، ځکه په دې صورت کي د لمانځه صحیح کېدل د اتحاد مکان واضح دلیل دی، ها! که په لمانځه مشغوله نه وي او د سجدې آیت بار، بار ووايي، نو د هر وار ویلو لپاره جلا سجده لازم ده. (البحر الرائق ج: ۲، ص: ۱۳۵)

خلاصه دا چي د سجدې د مکرّر کېدو لپاره له دریو شیانو څخه د یوه موجودېدل ضروري دي: ① اول اختلاف تلاوت، یعني په یوه مجلس کي د سجدې مختلفه (دوه بېلابېل) آیتونه تلاوت کول، ② دویم اختلافِ سماعت، یعني په یوه مجلس کي د سجدې مختلفه آیتونه اورېدل، ③دریم اختلافِ مجلس، یعني د سجدې یو آیت په مختلفه مجلسونو کي ویل یا اورېدل. (شفاء الارواح بحوالة عمدة الفقه)

د مجلس بدلېدلو حکم

﴿۸۰۶﴾ وَيَتَكَرَّرُ الْوُجُوبُ عَلَى السَّامِعِ بِتَبْدِيْلِ مَجْلِسِهٖ او مکرر کيږي وجوب پر اورېدونکي د هغه د مجلس په بدلېدلو سره وَقَدِ اتَّحَدَ مَجْلِسُ التَّالِيْ په داسي حال کي چي د تلاوت کونکي مجلس یو وي لَا بِعَكْسِهٖ نه د دې په برعکس صورت کي عَلَى الْأَصَحِّ د صحیح ترین قول مطابق.

تشریح: مسئله دا ده چي که د اورېدونکي (سامع) مجلس بدل سي، نه د تلاوت کونکي، نو د آیت په بیا اورېدلو سره پر هغه بیا سجده واجبيږي، مثلاً تلاوت کونکی پر یوه ځای وي او یو څوک له

هغه څخه د سجدې یو آیت واوري، بیا دغه اورېدونکی کس بل ځای ولاړ سي او هاغه آیت بیا ځني واوري، نو پر اورېدونکي دوې سجدې واجبېږي.

لا بعکسه إلخ: یعني که د تلاوت کونکي مجلس بدل سي، نه د سامع، په دې توګه چي سامع پر خپل ځای پاته وي او تلاوت کونکی ګرځي را ګرځي، نو د علامه فخر الاسلام رَحِمَهُ الله د قول مطابق په دې صورت کي هم پر سامع د سجدې وجوب مکرّر کیږي، او مصنف رَحِمَهُ الله فرمایي چي اضح قول دا دی چي په دې صورت کي پر سامع د سجدې وجوب نه مکرّر کیږي، ځکه د سامع په حق کي د سجدې واجبېدلو سبب سماع ده او دلته په مجلس د سماع کي تکرار نه دی راغلی (یا په بله وینا دا چي اورېدل په څو ځایو کي نه دي سوي. بلکي سامع پر خپل ځای پاته دی)، لهذا پر هغه به د سجدې وجوب هم نه مکرّر کیږي.

د سجدې آیت پرېښوول

﴿۸۰۷﴾ وَكُرِهَ أَنْ يَقْرَأَ سُوْرَةً وَيَدَعَ آيَةَ السَّجْدَةِ او مکروه دي دا چي سورت ووایي او د سجدې آیت پرېږدي لَاعَكْسُهُ نه د دې برعکس.

لغات: ﴿یدع﴾ د فتح د باب مضارع ده: پرېښوول.

تشریح: فرمایي چي په لمانځه کي یا د لمانځه څخه بغیر په بل وخت کي سورت ټوله ویل او د سجدې آیت پکښي پرېښوول مکروه تحریمي دي، او د دې برعکس مکروه نه دي یعني یوازي د سجدې آیت ویل او نور ټوله سورت پرېښوول، په دې کي څه حرج نسته.

د سجدې د آیت سره بل آیت یو ځای کول مستحب دي

﴿۸۰۸﴾ وَنُدِبَ ضَمُّ آيَةٍ أَوْ أَكْثَرَ إِلَيْهَا او مستحب دي د یوه آیت یا زیاتو آیتونو ضمول (یو ځای کول) د سجدې د آیت سره.

تشریح: یعني یوازي د سجدې د آیت ویلو پر ځای مستحب دا ده چي د سجدې د آیت سره یو یا دوه آیتونه د هغه په شروع یا آخر کي هم ور سره یو ځای کړي.

د سجدې آیت په کراره ویل مستحب دي

﴿۸۰۹﴾ وَنُدِبَ إِخْفَاؤُهَا مِنْ غَيْرِ مُتَأَهِّبٍ لَهَا او مستحب دي د سجدې آیت په کراره ویل د داسي کس مخ ته کوم چي تیار نه وي د سجدې لپاره.

لغات: ﴿إخفاء﴾ د افعال د باب مصدر دی: پټول. پټ ساتل. دلته څني مراد په کراره ویل دي ﴿متأهب﴾ د تفعل د باب مفعول دی: تیار، چمتو. تَأَهَّبَ يَتَأَهَّبُ تَأَهُّبًا: تیارېدل. چمتو کېدل.

تشریح: یعني که د تلاوت کونکي گومان او اندېښنه دا وي چي پر اورېدونکي به سجده کول بوج سي. یا د هغه حالت ور ته معلوم نه وي چي د سجدې لپاره آماده دی. که نه؟. نو په دې دواړو صورتونو کي مستحب دا دي چي د سجدې آیت په کراره ووایي. او که د هغه گومان دا وي چي پر اورېدونکي به بوج نه سي نو هغه په زوره (جهرا) ویل پکار دي. (شفاء الارواح)

د سجدهٔ تلاوت لپاره ولاړېدل مستحب دي

﴿٨١٠﴾ وَنُدِبَ الْقِيَامُ ثُمَّ السُّجُوْدُ لَهَا او مستحب دي ولاړېدل بیا سجده کول د هغه (سجدې د آیت) لپاره.

تشریح: یعني که څوک په ناسته د سجدې آیت ووایي. نو د هغه لپاره مستحب طریقه دا ده چي ولاړ سي او له ولاړي (قیام) څخه سجدې ته راسي او سجده وکړي بیا تر سجده کولو وروسته بیر ته ولاړ سي. دغه دواړه قیامه مستحب دي، ضروري نه دي، لهذا که څوک د همدې ناستي په حالت کي الله اکبر ووایي او سجدې ته ولاړ سي، نو بیا هم صحیح دي. (شفاء الارواح بحوالهٔ عمدة الفقه و طحطاوي)

د اجتماعا سجدې کولو طریقه

﴿٨١١﴾ وَلَا يَرْفَعُ السَّامِعُ رَأْسَهٗ مِنْهَا قَبْلَ تَالِيْهَا او نه دي پورته کوي اورېدونکی خپل سر له سجدې څخه مخکي تر تلاوت کونکي د هغه (آية السجدة) وَلَا يُؤْمَرُ التَّالِيْ بِالتَّقَدُّمِ او حکم به نه کول کیږي تلاوت کونکي ته د مخکي کېدلو (د امام په څېر) وَلَا السَّامِعُوْنَ بِالْاِصْطِفَافِ او نه (به حکم کول کیږي) اورېدونکو ته د صف جوړولو فَيَسْجُدُوْنَ كَيْفَ كَانُوْا نو څرنگه (څه ډول) چي دوی وي سجده دي وکړي.

لغات: ﴿اصطفاف﴾ د افتعال د باب مصدر دی: صف جوړول. صف درول.

تشریح: د عبارت حاصل دا دی چي که یو څو کسان دلمانځه څخه بغیر په بل وخت کي له یو چا څخه د سجدې آیت واوري. مثلاً یو کس د سجدې آیت تلاوت کړي او درې کسان یې واوري یا صرف یو کس یې واوري. نو اوس که دوی سجده کول غواړي. نو مستحب دا ده چي اورېدونکي د تلاوت کونکي سره یو ځای سجده وکړي او په سجده کولو کي تر هغه مخکي سر را پورته نه کړي:

خکه کله چې دوی یو ځای سجده کوي. نو تلاوت کونکی ګواکي امام سو. نو ځکه اوریدونکي دي له هغه شخصه مخکي سر نه پورته کوي. بلکي د تلاوت کونکي پورته کېدلو ته دي انتظار وکړي.

ولا یؤمرالخ: یعني ادب دا دی چې تلاوت کونکی دي د امام په څېر نه مخکي کول کیږي. همدارنګه اوریدونکو کسانو نه به د صف جوړولو حکم نه کول کیږي. بلکي هر یو دي پر خپل ځای سجده وکړي. یعني چیري چې وي. هلته دي سجده وکړي. یا بیا چې څنګه د دوی خوښه وي هغسي دي وکړي. (شفاء الارواح ثمرة النجاح)

د سجدهٔ تلاوت شرائط

﴿۸۱۲﴾ وَ شَرْطُ صِحَّتِهَا شَرَائِطُ الصَّلٰوةِ إِلَّا التَّحْرِيْمَةَ او شرط کړل سوي دي د سجدهٔ تلاوت د صحیح کېدو لپاره د لمانځه شرائط ماسوا له تحریمې څخه.

تشریح: د عبارت حاصل دا دی چې د سجدهٔ تلاوت د صحیح کېدو لپاره هغه ټول شیان شرط دي کوم چې د لمانځه د صحیح کېدو لپاره شرط دي. مثلاً طهارت. استقبال القبلة. عورت پټول او نور. ماسوا له تحریمه څخه. یعني د سجدهٔ تلاوت لپاره ځانته تکبیر تحریمه ویل شرط نه دي همدارنګه په سجدهٔ تلاوت کي د متعین آیت د سجدې نیت کول لازم نه دي، یعني که یو څوک د سجدې څو مختلفه آیتونه ووایي او بیا پر یوه ځای د ټولو لپاره سجدې اداء کوي. نو د هر آیت په تعیین سره سجده کولو ته ضرورت نسته. بلکي بغیر له تعیینه په شمېر د سجدو په اداء کولو سره هم سجدې اداء کیږي (او په سجدهٔ تلاوت کي دي دا نیت کول کیږي چې کومه سجده پر ما واجب سوې ده د آیت ویلو په وجه. هغه اداء کوم). (شفاء الارواح. انوار الایضاح)

د سجدهٔ تلاوت طریقه

﴿۸۱۳﴾ وَ كَيْفِيَّتُهَا أَنْ يَسْجُدَ سَجْدَةً وَاحِدَةً بَيْنَ تَكْبِيْرَتَيْنِ او د سجدهٔ تلاوت کیفیت (او طریقه) دا ده چې یوه سجده وکړي د دوو تکبیرونو په منځ کي هُمَا سُنَّتَانِ بِلَا رَفْعِ يَدٍ وَلَا تَشَهُّدٍ وَلَا تَسْلِيْمٍ دا دوه تکبیرونه سنت دي بغیر له لاس پورته کولو او بغیر له تشهد ویلو او بغیر له سلام ګرځولو څخه.

تشریح: د سجدهٔ تلاوت طریقه دا ده چې په الله اکبر سره سجدې ته ولاړ سي او په الله اکبر سره له سجدې څخه سر را پورته کړي. او دا دواړه تکبیرونه سنت دي او د سجدې لپاره د الله اکبر ویلو په وخت کي لاسونه پورته کول. یا تر سجدې وروسته تشهد (التحیات) ویل یا سلام ګرځول نسته.

په عمدة الفقه کې دي: چې د سجدۀ تلاوت سنت طریقه دا ده چې کله د سجدې اراده وکړي نو ولاړ دې سي (ودې دریږي) او د سجدې نیت دې وکړي، بیا دې د لاس پورته کولو څخه بغیر په الله اکبر سره سجدې ته ولاړ سي او لږ تر لږه درې واره "سُبحان ربی الأعلیٰ" دې پکښې ووایي، بیا دې په الله اکبر ویلو سره سر راپورته کړي او ولاړ دې سي، او د تشهد ویلو او سلام ګرځولو ضرورت ورته نسته. (شفاء الارواح)

* * *

د سجدۀ شکر بیان

﴿۸۱۴﴾ سَجْدَةُ الشُّكْرِ مَكْرُوهَةٌ عِنْدَ الْإِمَامِ لَا يُثَابُ عَلَيْهَا سجدۀ شکر مکروه ده، د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نېز په هغې (سجدۀ شکر) باندې ثواب نه حاصلیږي وَتَرْكُهَا او هغه دې پرېږدي وَقَالَا: هِيَ قُرْبَةٌ يُثَابُ عَلَيْهَا او صاحبین رَحِمَهُمَا الله فرمايي: چې سجدۀ شکر عبادت ده، په هغې باندې ثواب حاصلیږي (د هغې پر کولو ثواب ورکول کیږي) وَهَيْئَتُهَا مِثْلُ سَجْدَةِ التِّلَاوَةِ او د هغې صورت (طریقه) د سجدۀ تلاوت په څېر ده.

لغات: ﴿لا یُثاب﴾ د افعال له بابه مضارع نفي مجهوله ده: ثواب حاصلېدل (ثواب رسېدل)، بدله او جزاء ورکول کېدل. ﴿قربة﴾ د نېکۍ او ثواب کار چې په هغه سره د خدای تعالیٰ قُربت او رضاء حاصلیږي (یا په بله وینا هغه کار چې په هغه سره د الله تعالیٰ نږدېکت او ثواب طلبول کیږي)، نېکي او ثواب، عبادت. جمع: قُرَب وقُرُبَات. ﴿هیئة﴾ طریقه، صورت.

تشریح: د سجدۀ شکر مطلب دا دی چې کله انسان ته یو نعمت حاصل سي، نو د هغه نعمت په خوشحالۍ کې مستحب او افضل دا ده چې سجده وکړي او په سجده کې د الله تعالیٰ حمد او ثناء بیان کړي، تسبیح ووایي او په الله اکبر سره سر راپورته کړي وبس، په دې سجده کې هم (د سجدۀ تلاوت په څېر) تشهد او سلام ګرځول نسته.

علامه شامي رَحِمَهُ الله د محیط په حواله سره لیکلي دي چي امام صاحب رَحِمَهُ الله فرمايي چي زه سجدهٔ شکر واجب نه ګڼم؛ ځکه که واجب سي، نو پر بندګانو خو هر ګړی د الله تعالیٰ نعمتونه را اوربېږي، نو بیا د هغوی په شکرانه کي به هر وخت سجدهٔ شکر لازمیږي او په دې کي تکلیف ما لا یُطاق دی، او صاحبین رَحِمَهُمَا الله فرمايي چي دا یو ډول عبادت دی او د هغه کونکي ته ثواب حاصلیږي، ګواکي د صاحبینو رَحِمَهُمَا الله په نیز سجدهٔ شکر مستحب او افضل ده. علامه شامي رَحِمَهُ الله د بحث په آخر کي فرمايي چي د امام صاحب او صاحبینو رَحِمَهُمُ الله اختلاف په سنت والي (سنیت) کي دی، په جواز او مشروع کېدلو کي یې هیڅ اختلاف نسته. والمعتمد أن الخلاف في سنيتها لا في الجواز (شامي ج:۱، ص:۷۳۱)، خلاصه د کلام دا چي سجدهٔ شکر داسي ځای اداء کول پکار نه دي چي هلته (عوام) خلک ورته ګوري؛ ځکه هغوی به یې واجب یا سنت وګڼي. که په تنهايي کي وکړل سي، نو هیڅ حرج پکښې نسته. (انوار الایضاح)

فَائِدَةٌ مُهِمَّةٌ لِدَفْعِ كُلِّ مُهِمَّةٍ

عظیم الشانه فایده د هري ستونزي د لیري کولو لپاره

د هر حاجت پوره کېدلو او د مشکلاتــو د حلّ لپاره یو مجرّب عمل

﴿۸۱۵﴾ قَالَ الْإِمَامُ النَّسَفِي فِي الْكَافِي فرمایلي دي امام نسفي رَحِمَهُ الله په "کافي" کي مَنْ قَرَأَ آيَ السَّجْدَةِ كُلَّهَا فِيْ مَجْلِسٍ وَّاحِدٍ څوک چي ووايي د سجدې ټوله آيتونه په یوه مجلس کي وَ سَجَدَ لِكُلٍّ مِّنْهَا او سجده وکړي د هر آیت لپاره كَفَاهُ اللهُ مَا أَهَمَّهُ نو الله تعالیٰ به د ده کافي سي په (هر) هغه معامله کي چي دئ یې بې قراره (او پرېشانه) کړی دی.

لغات: ﴿آيَ﴾ جمع د آيَةٌ ده: آیت، د قرآن پاک یوه جمله یا څو جملې چي د هغوی په آخر کي وقف وي ﴿أَهَمَّ﴾ د افعال د باب ماضي ده: غمجن او بې قراره کول، د تشویش باعث کېدل. (انوار الایضاح)

تشریح: بعضي فقهاؤ لیکلي دي چي کوم څوک د سجدې ټوله څوارلس (۱۴) آیتونه په یوه ناسته کي علی الترتیب ووايي (چي څه مخکي موږ په تفصیل سره ټوله ذکر کړل) او د هر یوه سره سجده هم وکړي

او تېر دې وروسته دعاء وکړي. نو ان شاء الله ضرور به قبوله سي. او که په څه مصيبت او ستونزه مبتلا وي. نو هغه مصيبت او تکليف به ډېر ژر ليري سي. دا د اکابرو فقهاؤ او مجتهدينو امامانو مجرب عمل دی.

دلته داسي هم کولای سي چي يو وار د سجدې ټوله آيتونه ووايي بيا پر يوه ځای د ټولو سجدې وکړي. لېکن زياته ښه دا ده چي د هر آيت د ويلو سره سجده وکړي يعني چي کله اول آيت ووايي نو سمدستي د هغه سجده وکړي بيا دويم آيت ووايي او د هغه سجده وکړي همداسي د ټولو څوارلسو آيتونو لپاره دي جلا. جلا سجدې وکړي او په آخر کي دي دعاء وغواړي. (مراقی الفلاح مع الطحطاوي ص: ۲۷۲)

او که دا عمل په مبارکو شپو کي وسي، مثلاً د روژې په مياشته کي، يا په شب قدر، شب برات او د اخترونو په شپه کي (يا په مبارک وخت کي مثلا د تهجدو په وخت کي)، نو د قبوليت يې زيات اُميد سته. (انوار الايضاح)

❀ ❀ ❀

بَابُ الْجُمُعَةِ

(دا) باب د جمعې (د لمانځه په بیان کې) دی

تشریح: په شریعت کې د جمعې ورځې ته ډېر زیات فضیلت حاصل دی. د نبي کریم ﷺ حدیث دی چې لمر پر کومو ورځو راخیږي. په هغوی کې تر ټولو غوره او افضله د جمعې ورځ ده. په دې ورځ حضرت آدم ؑ پیدا سوی دی او په همدې ورځ جنت ته استول سوی دی. بیا په همدې ورځ له جنت څخه بهر راغلی دی او په همدې ورځ به قیامت قائم سي (مشکوة شریف ج ۱ ص: ۱۱۹). او د جمعې په ورځ الله تعالیٰ و اُمتِ محمدیه ته داسې ساعت ورکړی دی چې په هغه ساعت کې له الله ﷻ څخه کومه دعاء هم وغوښتل سي. یقیناً به قبوله سي (پورتنی حواله). او دغه ساعت الله تعالی مخفي ساتلی دی. د دې لپاره چې بندګان له زیاتو څخه زیات وخت په عبادت و طاعت او دعاء کې صرف کړي. د ترمذي شریف په روایت کې دي چې دا ساعت د مازیګر او ماښام په مینځ کې دی (ترمذي ج:۱. ص:۶۵). او د مسلم شریف په روایت کې دي چې کله امام منبر ته وخېږي بیا د لمانځه ختمېدلو تر وخته پوري په دې مینځ کې دا ساعت دی (مشکوة ج:۱. ص:۱۱۹) خو په دې وخت کې دعاء په زړه کې کول پکار دي: ځکه د خطبې په دوران کې په ژبه سره د دعاء وغیره کولو اجازه نسته. (انوار الایضاح)

وجهٔ تسمیه: الجُمعة د میم په ضمه. فتحه او سکون ټولو سره ویل کېدلای سي یعني: جُمُعَة. جُمَعَة او جُمْعَة. دا لفظ له "اجتماع" څخه مشتق دی. لکه فُرْقَة چې له "افتراق" څخه مشتق دی. (۱) ځرنګه چې د جمعې په ورځ د خلګو اجتماع کیږي یعني خلګ سره راجمع کیږي، نو ځکه دغه ورځې ته جمعه وایي، (۲) دویم قول دا دی چې جمعې ته ځکه جمعه وایي چې په دغه ورځ کې الله ﷻ بې شمېره برکتونه او انوار جمع کړي دي، (۳) دریم قول دا دی چې حضرت آدم ؑ خپل ځامن د جمعې په ورځ سره راجمع کړي وه، نو په دې مناسبت جمعه ورته وایي. (بنایه ج:۳، ص:۴۵)

د جمعې د فرضیت دلائل: صاحب د بنایې لیکلي دي چې د جمعې فرضیت په کتاب. سنت او اجماع ټولو سره ثابت دی. په کتاب یعني قرآن کریم کې د الله ﷻ دا فرمان دی: ﴿یا أیها الذین آمنوا إذا نودی للصلوٰة من یوم الجمعة فاسعوا إلیٰ ذکر الله الخ﴾ او په اتفاق د مفسرینو له ذکرُ الله څخه جمعه

مراد ده. او بيا د "فاسعوا" امر د وجوب لپاره دى. نو له دې څخه د سعي إلى الجمعة وجوب ثابت سو.

او سعي إلى الجمعة شرط دى د جمعې د لمانځه لپاره، نو کله چې يې شرط واجب سو، نو د اصل لمانځه په فرض کېدو کې خو به هيڅ شک او شبهه نه وي.

او په حديث سره د جمعې ثبوت داسې دى چې حضرت جابر او ابو سعيد رضي الله عنهما فرمايي: خطبنا رسول الله ﷺ (وقال فيه) اعلموا أن الله تعالىٰ فرض عليكم صلاة الجمعة (يعني نبي کريم ﷺ موږ ته په خطبه کې ووېل: پوه سئ! چې الله تعالىٰ پر تاسو د جمعې لمونځ فرض ګرځولى دى).

او په اجماع سره د جمعې ثبوت په دې توګه دى چې د نبي کريم ﷺ له زمانې څخه واخله تر اوسنۍ زمانې پورې له څه قيل او قال څخه بغير جمعه فرض ګڼل کېږي، دا د جمعې د فرضيت واضح دليل دى. او بيا عقلاً هم د جمعې فرضيت ښکاره کېږي؛ ځکه چې الله تعالىٰ د جمعې د لمانځه په وجه موږ ته د ماپښين د لمانځه پرېښوولو حکم کړى دى او د ماپښين لمونځ فرض دى. او قاعده دا ده چې فرض د فرضو په وجه پرېښوول کېږي، يعني يو فرض هغه وخت ساقطېږي چې په مقابله کې يې بل فرض راسي، نو په دې حواله سره هم جمعه فرض سوه.

تر ټولو مخکې د جمعې لمونځ کله وسو؟: کله چې نبي کريم ﷺ له مکې مکرمې څخه ومدينې منورې ته هجرت وکړى. نو په قباء کې د عمرو بن عوف رضي الله عنه په کلي (محله) کې څوارلس شپې پاتې سو. هم په دې وخت کې نبي کريم ﷺ د يوه مسجد بنياد کښېښوى، چې هغه ته په اسلام کې تر ټولو اول مسجد ويل کېږي. بيا چې کله نبي ﷺ له قباء څخه د مدينې پر طرف د جمعې په ورځ روان سو. نو په لاره کې د سالم بن عوف په کلي کې د جمعې د لمانځه وخت راغلى، نبي کريم ﷺ له سپارلي څخه را شوه سو، او په هغه مسجد کې يې د جمعې لمونځ وکړيکوم چې د شېلې په مېنځ کې وو (يعني په بطن الوادي کې وو). نو دا په اسلام کې تر ټولو اول اداء کړى سوى د جمعې لمونځ دى. په دې جمعه کې په سلهاوو مسلمانان شريک سول، او په دې اړه پوره تفصيل په شرح سير کبير کې وګورئ!.

د جمعې د پرېښوونکي او فضيلت په هکله حديث: په حديث شريف کې د جمعې د پرېښوونکي لپاره سخته سزاء بيان سوې ده. حديث دى "**مَنْ تَرَكَ ثَلَاثَ مَرَّاتٍ مِنْ غَيْرِ ضَرُورَةٍ طَبَعَ اللهُ عَلَى قَلْبِهِ**" رواه أحمد، حاكم. او په بل روايت کې دي: "**مَنْ تَرَكَ ثَلَاثَ جُمَعٍ تَهَاوُنًا طَبَعَ اللهُ عَلَى قَلْبِهِ**" رواه أحمد (يعني کوم چا که بېله څه ضرورته محض د سُستۍ په وجه درې جُمعې پرېښوولې. نو الله ﷻ به د هغه پر زړه مُهر ولګوي).

او د جمعې د فضیلت په هکله حدیث دی: "من توضأ فأحسن الوضوءثم أتى الجمعة فاستمع وأنصت، غُفِرله مابینه وبین الجمعة وزیادة ثلاثة أیام، ومن مس الحصٰی فقد لغا" (رواه مسلم).

(یعني څوک چي په ښه توګه اودس تازه کړي، بیا د جُمعې لمانځه ته راسي او خطبې ته په ښه توجه سره غوږ ونیسي او پټه خوله کښېني. نو الله ﷻ به له دې جُمعې څخه تربلې جُمعې پوري د ده ګناهونه ور وبخښي او درې ورځې نوري زیاتي، او که دئ په شګو او ډبرو لاس وهي (یعني خطبې ته توجه نه کوي او بېله څه توجه جمعه اداء کوي) نو لغو کارېې وکړی).

د جمعې د فرضیت شرطونه

﴿۸۱۶﴾ صَلٰوةُ الْجُمُعَةِ فَرْضُ عَيْنٍ عَلٰى مَنِ اجْتَمَعَ فِيْهِ سَبْعَةُ شَرَائِطَ د جمعې لمونځ فرض عین دی په (هر) هغه کس باندي چي په هغه کي اُووه شرطونه جمع سي اَلذُّكُوْرَةُ وَالْحُرِّيَّةُ ① نارینه والی ② او آزاد والی (آزاد کېدل) وَالْاِقَامَةُ فِيْ مِصْرٍ اَوْ فِيْمَا هُوَ دَاخِلٌ فِيْ حَدِّ الْإِقَامَةِ فِيْهَا ③ او مقیم کېدل (مېشتېدل) په ښار کي یا په داسي ځای کي کوم چي داخل په ښار کي د مقیم کېدلو په حدّ (حکم) کي وي (یعني په داسي ځای کي یا تېدل او مېشتېدل چي هلته پاتېدل په ښار کي پاتېدل شمېرل کیږي) فِي الْأَصَحِّ د صحیح ترین قول مطابق وَالصِّحَّةُ وَالْأَمْنُ مِنْ ظَالِمٍ ④ او روغوالی (روغتیا) ⑤ او له ظالم څخه په امن کېدل وَسَلَامَةُ الْعَيْنَيْنِ وَسَلَامَةُ الرِّجْلَيْنِ ⑥ او د دواړو سترګو سالم والی (سلامتیا) ⑦ او د دواړو پښو سالم والی.

تشریح: فرمایي د جمعې لمونځ پر هر هغه کس فرض عین دی چي په هغه کي (لاندیني) اووه شرطونه موجود وي، او په کوم چا کي چي دا موجود نه وي، پر هغه د جمعې لمونځ نه فرض کیږي. لېکن بیا هم که هغه د جمعې لمونځ وکړي، نو د جمعې لمونځ یې کیږي او د ماپښین فرض د هغه له ذمې څخه ساقطیږي. (عمدة الفقه)

①... اول شرط دا دی چي مذکر (نارینه) به وي، پر ښځې جمعه (یعني د جمعې لمونځ) فرض نه دی

②... آزاد به وي، پر غلام جمعه فرض نه ده، لهذا خپل مالک هغه جمعې ته له تللو څخه منع کولای سي، لېکن پر مزدور (اجیر) او نوکر جمعه فرض ده، لهذا مستأجر یا مالک ته دا حق نسته چي هغه له جمعې څخه منع کړي. (عمدة الفقه)

۳ ... په ښار کې به مقيم وي يا په داسې ځای کې به مقيم وي چې هلته استوګنه او پاتې‌دل داسې وي لکه په ښار کې پاتې‌دل (يا په بله وينا داسې ځای کوم چې د ښار په درجه کې وي چې هلته استوګن په ښار کې استوګن شمېرل کيږي). لهذا پر مسافر جمعه فرض نه ده او پر داسې مقيم هم جمعه فرض نه ده کوم چې د ښار په لېرې اطرافو او د صحرا په کلو کې اوسيږي چې هلته د جمعې لمونځ کول صحيح نه وي. همدارنګه کوم کس چې د ښار له اطرافو څخه بهر وي. که څه هم هغه اذان اوري. بيا هم پر هغه جمعه فرض نه ده. دا اصح قول دی. دويم قول دا دی چې که د هغه لپاره بغير له څه تکليف څخه جمعې ته حاضرېدل ممکن وي. نو پر هغه جمعه واجب ده. (عمدة الفقه)

(۴) ... روغ به وي. پر مريض جمعه فرض نه ده. مراد ځنې داسې مريض دی کوم چې د جمعې تر مسجده پورې نه سي تللای. يا چې په تګ سره د هغه د مرض زياتې‌دلو يا د روغتيا ځنډېدلو خطره وي. يا چې څوک د زيات بوډا والي په وجه مسجد ته نه سي تللای، نو پر هغه هم جمعه فرض نه ده. لېکن که د مريض يا بوډا او عاجز کس سره سپارلي او خادم وي (چې د هغه په مرسته جمعې ته تللای سي). نو د هغه په هکله څو اقوال نقل سوي دي: بعضو ويلي دي چې د امام صاحب رحمه الله په نيز پر هغه جمعه واجب نه ده او د صاحبينو رحمهما الله په نيز واجب ده او داسې کس د هغه چا په حکم کې دی کوم چې پر تګ قدرت لري. د قواعدو له رويه همدا مناسب ښکاري چې که تکليف او مرض زيات نه وي. نو حاضرېدل پکار دي. کنې هغه معذوره دی. (عمدة الفقه)

(۵) ... له ظالم يعني له ظالم حکومت. يا له غله او ډاکو. يا له يو ظالم کس څخه به پر ځان مطمئن او په امن وي. نو کوم چا ته چې د دوی د ضرر بېره وي. پر هغه جمعه فرض نه ده.

(٦) ... په سترګو به روغ يعني بينا وي. او د کوم چا چې يوه سترګه وي. نو پر هغه هم جمعه فرض ده (طحطاوي. عمدة الفقه). خو هغه نابينا (ړوند کس) کوم چې خپله مسجد ته نه سي تللای. پر هغه جمعه فرض نه ده. لهذا که داسې څوک وي چې دا نابينا په اجرت مثل يا بېله اجرته مسجد ته بيايي. نو هم پر هغه جمعه فرض نه ده. او د صاحبينو رحمهما الله په نيز فرض ده. يعني کوم نابينا چې بغير د يو چا له مرستې څخه په لارو او بازارونو کې ګرځي راګرځي او بلا تکليفه مسجدونو ته تللای سي. پر هغه جمعه فرض ده. (عمدة الفقه)

(۷) ... په پښو به روغ وي يعني پر تګ به قادر وي. لهذا د کوم چا چې دواړې پښې نه وي. شل او شوټ وي يا د فالج وغيره په وجه يې پښې کار نه کوي. پر هغه جمعه فرض نه ده. که څه هم هغه ته داسې څوک پيدا کيږي چې هغه مسجد ته بوځي. او که د يو چا يوه پښه نه وي يا د فالج په وجه کار نه کوي او مسجد ته بلا مشقته تللای سي نو پر هغه جمعه فرض ده. کنې فرض نه ده. (عمدة الفقه بحواله [illegible])

❁ ❁ ❁

أو فيه هو داخل في حد الإقامة: په دې عبارت کي دښار د فناء بيان دی. دښار فناء دښار هغه ځايونو اطرافو ته وايي چي د هغوی سره دښار ضروريات متعلق وي. مثلاً صنعتي کارخانې. (د موټرانو اډې). اسټيشن. هوايي ډګر. دلوبي ميدان او داسي نور. (انوار الايضاح)

د جمعي د صحت شرطونه

۱۱ وَيُشْتَرَطُ لِصِحَّتِهَا سِتَّةُ أَشْيَاءَ او د جمعې (دلمانځه) د صحيح کېدو لپاره شپږ شيان شرط دي الْمِصْرُ أَوْ فِنَاؤُهُ (۱) ښار يا دښار فناء (نژدې اطراف) وَالسُّلْطَانُ أَوْ نَائِبُهُ (۲) باچا يا د هغه نائب.

لغات: ﴿سلطان﴾ باچا (بادشاه). جمع: سَلَاطِيْن. ﴿نائب﴾ قائم مقام. ځای ناستی. نماينده جمع: نُوَّاب. ﴿فناء﴾ په اصل کي د دې معنیٰ ده: د کور په څنګ اطرافو کي يا د کور په سينګ کي خالي ځمکه (يعني د کور اطراف يا غولی). همدارنګه د يو ځای مخ ته خالي ساحه. دښار د فناء وضاحت به په تشريح کي وسي.

تشريح: په يو ځای کي د جمعې دلمانځه د صحيح کېدو لپاره شپږ شرطونه دي. که له هغوی څخه يو شرط موجود نه سي، نو جمعه نه صحيح کيږي. يعني نه اداء کيږي. په دې عبارت کي دوه شرطونه بيان سوي دي:

①... يو شرط دا چي ښار. ښارګوټی يا فناء دښار به وي. په صحرا کي د جمعې لمونځ صحيح نه دی. دښار په تحديد کي د احنافو مختلفه اقوال نقل سوي دي: بعضو ويلي دي چي مصر هغه دی چي په هغه کي سلطان يا د هغه نائب موجود وي. بعضو ويلي دي چي مصر هغه ځای دی چي په هغه کي تر ټولو غټ مسجد د هغه ځای د خلکو (آبادی) لپاره کافي نه وي. بعضو ويلي دي چي په هغه کي بازار موجود وي. لنډه دا چي مختلفه تعريفونه يې سوي دي. لېکن تحقيق دا دی چي په کُلي توګه د مصر هيڅ جامع و مانع تعريف نه سي کېدلای. بلکي د دې مدار پر عُرف دی. که په عُرف کي يو ځای او علاقه ښار ګڼل کېده. نو هلته د جمعې لمونځ جائز دی. کنې جائز نه دی (درس ترمذی) او په عمدة الفقه کي دي چي زموږ حکومت و داسي علاقې ته دښارګوټي درجه ورکوي چي په هغه کي څلور زره آبادي وي (يا په بله وينا شاخوا څلور زره کسان پکښي استوګن وي) په عامه توګه په داسي ځای کي نور شرطونه هم موجود وي. لهذا د آبادی په لحاظ سره که شاوخوا څلور زره آبادي وي. هغه لويه علاقه او ښارګوټی شمېرل پکار دي. دا صرف د تمثيل په توګه دي. نه د تحديد په توګه.

أو فناءه: د دې وضاحت مخکي هم وسو يعني د ښار شاوخوا په اطرافو کي هغه ځايونه کوم چي د ښار د مصلحتونو او ضروریاتو لپاره د ښار سره متعلق او متصل وي، مثلاً صنعتي کارخانې، هديره، د لوبي ميدان، د فوج او عسكرو د اوسېدلو ځای، استېشن او داسي نور، دغه ټوله په فناء کي راځي او د ښار په حکم کي دي، په دوی کي د جمعې لمونځ اداء کول صحيح دي. (عمدة الفقه)

(۲)... د جمعې د صحيح کېدلو بل شرط دا دی چي سلطان يعني د اسلام باچا (امير المؤمنين) يا د هغه نائب به موجود وي، د سلطان نائب هغه کس دی چي سلطان و هغه ته د جمعې قائمولو اجازه يا حکم کړی وي. لهذا د باچا يا د هغه د نائب له حکم څخه بغير جمعه قائمول جائز نه دي، که په يو ښار او آبادي کي له دوی څخه يو هم موجود نه وي او خلک خپله يو کس مقرر کړي چي هغه خطبه او د جمعې لمونځ ورکړي، نو جائز دي. همدارنګه په کوم هيواد کي چي اسلامي حکومت قائم نه وي، نو هلته د جمعې د قيام ذمه واري او انتظام خپله مسلمانانو ته سپارل سوي دي، مسلمانان چي څوک د جمعې امام وټاکي، د هغه په اقتداء کي د جمعې لمونځ کول صحيح دي. (عمدة الفقه)

* * *

جمعه په څومره آبادي کي جائز ده؟

په انوارُ الايضاح کي د پورتني عبارت له تشريح څخه لاندي مسئله داسي بيان سوې ده چي د جمعې د صحت لپاره لويه آبادي شرط ده او د هغې په تعيين کي د فقهاؤ عبارات مختلف دي، د ټولو خلاصه دا ده چي داسي آبادي او علاقه چي هلته د ورځني ضروریاتو لپاره دوکانونه او داسي نور موجود وي او د حکومت داسي نظام هم وي چي مظلوم مرسته پکښي حاصلولای سي، مثلاً د پوليسو مأموريت (تانه) او داسي نور، په عامه توګه زموږ په ملک (يعني په هندوستان) کي د دريو زرو په آبادۍ کي دغه آسانتياوي موجوده وي، لهذا په داسي لويه آبادي کي جمعه قائمول صحيح دي او له دې څخه په کمه آبادي کي جمعه نه فرض کيږي، هغوی به د ماپښين لمونځ کوي. او کومه علاقه چي پر عمومي لوی سړک او پر عمومي چوک باندي واقع وي (مثلاً په جرنلي سړک (جي ټي روډ) باندي پر لوی چوک راقع علاقه) چي په هغه کي بازار او شفاخانه، تانه ټوله شيان موجود وي، نو هلته د جمعې لمونځ صحيح دی. که څه هم د هغه ځای اوسېدونکي له دريو زرو څخه کم وي. (انوار الايضاح بحوالۀ كتاب المسائل ص: ٤٢٢. و فتاویٰ دار العلوم ديوبند ج: ٥ ص: ٤٤)

او د ښار په اطرافو کي چي کومه کارخانه واقع وي، هلته هم د جمعې لمونځ قائمول صحيح دي په دې شرط چي هلته د جمعې په قائمولو کي څه ستونزه نه وي. او داسي کلي او محله چي له ښار څخه څو کيلو متره ليري واقع وي او د هغه آبادي د ښار سره متصله نه وي، نو هلته د جمعې لمونځ نه صحيح کيږي، که څه هم هلته د ښار اذان اورېدل کيږي. او د جمعې د صحيح کېدو لپاره جامع

مسجد یا بل لوی مسجد موجودېدل هم ضروري نه دي، بلکې د لويې آبادۍ په یو میدان کې هم د جمعې لمونځ کول صحیح دي. (انوار الایضاح بحوالهٔ کتاب المسائل ص: ۴۲۳، وکبیري ص: ۵۱۱)

د جمعې د وخت بيان

﴿۸۱۸﴾ وَوَقْتُ الظُّهْرِ ③ او د ماپښين وخت فَلَاتَصِحُّ قَبْلَهٗ نو له هغه څخه مخکې جمعه نه صحيح کېږي وَتَبْطُلُ بِخُرُوْجِهٖ او د هغه په وتلو سره جمعه باطلېږي.

تشريح: ③... درېيم شرط دا دی چې د ماپښين وخت به وي يعني د جمعې لمونځ د ماپښين په وخت کې صحيح کېږي، لهذا تر زوال مخکې د جمعې لمونځ صحيح نه دی، همدا ډول که د ماپښين وخت په داسې حال کې ووځي او د مازيګر وخت داخل سي چې امام د جمعې په لمانځه مشغوله وي، نو د جمعې لمونځ باطلېږي يعنې د هغه صحت نه اداءً باقي پاتېږي او نه قضاءً، بلکې دا لمونځ نفل ګرځي او عليحده د ماپښين د لمانځه قضاء به راوړل کېږي، همدارنګه که د تشهد په اندازه له ناستې څخه وروسته د ماپښين وخت ووځي، نو هم دغه حکم دی. (شفاء الارواح بحوالهٔ عمدة الفقه و حاشيه)

❀ ❀ ❀

د جمعې په لمانځه کې هر وخت تعجيل افضل دی

مسئله: له زوال څخه وروسته د جمعې لمونځ ژر تر ژره اداء کول افضل دي، برابره ده د يخ موسم وي او که د ګرمۍ؛ ځکه نبي کريم ﷺ به په يخ او ګرمي دواړو کې له زوال څخه وروسته سمدستي د جمعې لمونځ کوی، له دې څخه معلومه سوه چې په کومو مسجدونو کې ډېر په تأخير سره د جمعې وخت تاکل سوی وي، دا غلطه طريقه ده، د نبي کريم ﷺ د سنتِ مستمره مخالفت دی، د دې بدلول ضروري دي، الله تعالیٰ دې موږ ته د اصلاح توفيق راکړي، آمين. (تحفة الالمعی ج: ۲، ص: ۳۷۱، کتاب المسائل ص، ۴۲۶)

د خطبې بيان

﴿۸۱۹﴾ وَالْخُطْبَةُ قَبْلَهَا بِقَصْدِهَا فِيْ وَقْتِهَا (۴) او خطبه ويل د جمعې تر لمانځه مخکې په نيت د جمعې سره په وخت د جمعې کې وَحُضُوْرُ اَحَدٍ لِسِمَاعِهَا مِمَّنْ تَنْعَقِدُ بِهِمُ الْجُمُعَةُ وَلَوْ وَاحِدًا فِي الصَّحِيْحِ (۵) او د خطبې د اورېدو لپاره حاضرېدل د يو کس له هغه چا څخه چې د جمعې لمانځه انعقاد ورباندې کېږي د صحيح مذهب پر بناء.

تشريح : ④... د جمعې د صحيح کېدلو څلورم شرط خطبه ده، نو بغير له خطبې څخه د جمعې لمونځ نه اداء کيږي. او د خطبې لپاره هم څو شرطونه دي چې له هغوی څخه يو دا دی چې خطبه به د جمعې تر لمانځه مخکې وي، لهذا که تر لمانځه وروسته خطبه ووايي، نو نه صحيح کيږي، همدارنګه خطبة به د جمعې په وخت کې وي چې هغه تر زوال وروسته دی، لهذا که تر زوال مخکې خطبه ووايي، نو نه صحيح کيږي.

وحضور الخ: دا هم د خطبې له شرايطو څخه دي چې د خطبې اورېدلو ته به داسې څوک حاضر وي چې د هغه په موجودېدلو سره جمعه صحيح کيږي يعني عاقل او بالغ وي، که څه هم صرف يو سړی وي او همدا صحيح ده، لهذا که امام تنها خطبه ووايي، يا صرف د ښځو او کوچنيانو مخ ته خطبه ووايي، نو صحيح دا ده چې په دې صورت کې جمعه نه صحيح کيږي، او د بعضو په نيز په خطبه کې هم کم از کم د دريو سړيو موجودېدل ضروري دي (لکه څرنګه چې د جمعې د جماعت لپاره ضروري دي)، کنې خطبه نه صحيح کيږي، اکثره فقهاء همدې طرف ته تللي دي او په دې کې احتياط زيات دی.
(عمدة الفقه)

د "اذن عام" بيان

﴿۸۲۰﴾ وَ الْإِذْنُ الْعَامُّ ⑤ او عامه اجازه.

لغات : ﴿الإذن﴾ اجازه (اجازت).

تشريح : ⑤... د جمعې لپاره پنځم شرط "اذن عام" دی يعني په عامه اجازه سره على الاعلان د جمعې لمونځ اداء کول، د دې مطلب دا دی چې هر هغه چا ته به اجازه وي، پر چا چې جمعه فرض وي او د عامو خلکو پر مخ به د مسجد دروازې خلاصې وي، نو داسې ځای د جمعې لمونځ نه صحيح کيږي چې هلته يوازې مخصوص خلک راتللای سي او هر کس ته د راتللو اجازه نه وي، همدا وجه ده چې که څو خلک په مسجد کې جمع سي او د مسجد دروازې بندې کړي او د جمعې لمونځ وکړي نو جائز نه دي. (عمدة الفقه)

يادونه : په کوم زندان کې چې عليحده مسجد جوړ سوی وي او هلته په زرهاوو بنديان استوګن وي او د حکومت له طرفه د جمعې پر قائمولو څه پابندي نه وي، نو هلته د جمعې لمونځ کول صحيح دي. همدارنګه هوايي ډګر او داسې نور، که څه هم په داسې ځايونو کې د باندينې خلکو ته د راتګ اجازه نه وي؛ ځکه هلته صرف د حفاظت په غرض سره پر خارجي وګړو پابندي وي. کنې محض پر لمانځه خو هيڅ بنديز وي. او بېړۍ (لويه کښتي) چې کله د سمندر د غاړې سره ولاړه وي، يا په هوايي ډګر کې لويه طياره ولاړ وي، نو د هغه د مسافرانو لپاره په بېړۍ او طياره کې دننه د جمعې

لمونځ کول جائز نه دي؛ ځکه هلته د "اذن عام" شرط نسته. (انوار الايضاح بحوالۀ درمختار مع الشامي. و کتاب المسائل)

د جمعې لپاره کم از کم د دريو مقتديانو شرط

﴿۸۲۱﴾ وَالْجَمَاعَةُ ⑥ او جماعت وَهُمْ ثَلَاثَةُ رِجَالٍ غَيْرِ الْإِمَامِ او هغوی درې خلک دي له امام څخه بغير وَلَوْ كَانُوْا عَبِيْدًا أَوْ مُسَافِرِيْنَ أَوْ مَرْضٰى که څه هم هغوی غلامان يا مسافران يا مريضان وي.

لغات: ﴿عبيد﴾ جمع د عَبْدٌ: غلام، مريی، ﴿مرضٰی﴾ جمع د مَرِيْضٌ ده: ناروغ.

تشريح: ⑥... د جمعې د قيام لپاره جماعت هم شرط دی، مراد د جماعت له امام څخه بغير د دريو سړيو موجودېدل دي (چې په امام پسې به کم از کم درې سړيان ولاړ وي)، که څه هم هغوی غلامان، مسافران يا مريضان وي. "وفی الشامی: هٰذا عند أبی حنيفة و رجّح الشارحون دليله واختاره المحبوبی والنسفی، كذا فی تصحيح الشيخ قاسم". (شامي ج: ۲، ص: ۱۶۵، ط: کراچي)

﴿۸۲۲﴾ وَالشَّرْطُ بَقَاؤُهُمْ مَعَ الْإِمَامِ حَتّٰى يَسْجُدَ او شرط د هغوی (دريو سړيانو) باقي پاتېدل (موجودېدل) دي د امام سره تر دې چې امام سجده وکړي فَإِنْ نَفَرُوْا بَعْدَ سُجُوْدِهٖ بيا که هغوی ولاړ سي (ووځي) د امام له سجدې څخه وروسته أَتَمَّهَا وَحْدَهٗ جُمُعَةً نو امام دې هغه لمونځ پوره کړي د جمعې (د لمانځه) په حيثيت سره وَإِنْ نَفَرُوْا قَبْلَ سُجُوْدِهٖ او که هغوی ولاړ سي د امام له سجدې څخه مخکي بَطَلَتْ نو جمعه (د جمعې لمونځ) باطلېږي.

لغات: ﴿نفروا﴾ د ضرب له بابه د جمع مذکر غائب مضارع صيغه ده، د دې باب ډېري معناوي دي چې ځيني يې دا دي: پرېښوول (هجرت کول)، کوچ کول او روانېدل، په تېزه وتل لکه په قرآن شريف کي چي راځيي: ﴿انْفِرُوْا خِفَافًا وَّثِقَالًا﴾ او داسي نور معناوي... (معجم الوسيط)، ﴿أتمّها﴾ د افعال د باب ماضي ده: پوره کول، بشپړ کول، د ها ضمير جمعة ته راجع دی.

تشريح: مخکي ذکر سوه چي د جمعې د لمانځه لپاره جماعت هم شرط دی يعني لږ تر لږه درې خلک، خو د جماعت لپاره دا شرط او ضروري ده چي هغوی به د اول رکعت تر سجدې پوري د امام سره موجود وي، کنې لمونځ باطلېږي.

د دې مسئلې څو صورتونه دي: يو صورت دا دی چي که خلک د جمعې د لمانځه د شروع کېدلو څخه مخکي ولاړ سي او امام تنها پرېږدي، نو په دې صورت کي بالاتفاق جمعه باطلېږي او امام به د ماپښين لمونځ کوي، او که د جمعې لمونځ شروع سي او د امام له يوه سجده کولو څخه وروسته خلک امام پرېږدي، نو په دې صورت کي به امام خپل د جمعې لمونځ پوره کوي (يا په بله وينا پر جمعه به بناء کوي) بالاتفاق، او که د امام له سجده کولو څخه مخکي خلک امام پرېږدي، نو د امام ابوحنيفه رَحِمَهُ الله په نېز په دې صورت کي هم جمعه، او امام به له نوي سره د ماپښين لمونځ کوي او د صاحبينو رَحِمَهُمَا الله په نېز نه باطلېږي او امام به خپل د جمعې لمونځ پوره کوي. (انوار الايضاح بحوالهٔ اشرف الهدايه، و مراقى الفلاح)

﴿۸۲۳﴾ وَلَا تَصِحُّ بِامْرَأَةٍ أَوْ صَبِيٍّ مَعَ رَجُلَيْنِ او نه صحيح کېږي جمعه په يوې ښځي يا يوه بچي باندي سره د دوو سړيو.

تشريح: مسئله دا ده چي د جمعې د لمانځه د صحيح کېدو لپاره لږ تر لږه درې بالغ سړي موجود ېدل ضروري دي، لهذا که صرف دوه سړي او يوه ښځه يا دوه سړي او يو بچی وي، نو د جمعې لمونځ نه صحيح کيږي.

﴿۸۲۴﴾ وَجَازَ لِلْعَبْدِ وَالْمَرِيْضِ أَنْ يَّؤُمَّ فِيْهَا او جائز دي غلام او مريض لره چي امامت وکړي (امام جوړ سي) په جمعه کي.

لغات: ﴿يؤم﴾ د نصر له بابه مضارع معلومه ده، أَمَّ يَؤُمُّ أَمًّا: امامت کول، امام جوړېدل، د فيها ضمير مرجع جمعة ده.

تشريح: مسئله دا ده چي پر مريض، غلام او مسافر که څه هم جمعه فرض نه ده، لېکن دوی هر يو د جمعې د لمانځه امام جوړول جائز دي.

﴿۸۲۵﴾ وَالْمِصْرُ كُلُّ مَوْضِعٍ لَهُ مُفْتٍ وَأَمِيْرٌ وَقَاضٍ او مصر (ښار) هر هغه ځای دی چي د هغه لپاره يو مفتي او امير او قاضي وي يُنَفِّذُ الْأَحْكَامَ وَيُقِيْمُ الْحُدُوْدَ چي هغه (قاضي) احکام نافذوي او حدونه قائموي (جاري کوي، سزاګاني ورکوي) وَبَلَغَتْ أَبْنِيَتُهُ مِنًى او رسېدلي وي د هغه ځای وداني (جوړ ځايونه) منیٰ ته (يعني د منیٰ د ودانيو په اندازه وي) فِيْ ظَاهِرِ الرِّوَايَةِ په ظاهر روايت کي.

لغات: ﴿مفتٍ﴾ د افعال له بابه د فاعل صيغه ده، په اصل کي مُفْتِيٌ، ياء پر ضمه مشکله وه، نو ځکه يې ياء ساکنه کړه بيا د اجتماع ساکنين په وجه ياء حذف کړل سوه مُفْتٍ سو، همدا تعليل په قاضٍ کي هم وسو، أَفْتٰى يُفْتِيْ إِفْتَاءً: فتوىٰ ورکول، مفتي هغه کس ته وايي کوم چي د مسائلو جواب ورکړل سي، د علم فقه ماهر، ﴿منٰى﴾ منىٰ شريفه، په عربي ژبه کي د أمنٰى او منٰى لفظ د يو شي د بهولو (بيولو) په معنىٰ سره راځي، او منىٰ شريفي ته ځکه منىٰ ويل کيږي چي هلته د هَدى ځارويان ذبح کول کيږي او د هغوی وينه پکښې بهول کيږي، نو ځکه په منىٰ سره ونومل سوه: نور مطلبونه يې هم بيان سوي دي، خو دا يې مشهوره وجهٔ تسميه ده.

تشريح: د ظاهر روايت مطابق مصر هر هغه ځای دی چي هغه لره درې کسان وي ① خپل مفتي ②او امير ③ او داسي قاضي کوم چي احکام جاري کولای سي او د حدودو پر نافذولو قادر وي او د هغه ځای آبادي لږ تر لږه د منىٰ د آبادۍ سره برابره وي (د جمعې لمونځ اوس په څومره آبادي او علاقه کي جائز دی؟ په دې هکله پوره تفصيل څه مخکي بيان سو).

﴿۸۲۶﴾ وَإِذَا كَانَ الْقَاضِيْ أَوِ الْأَمِيْرُ مُفْتِيًا او کله چي قاضي يا امير (خپله) مفتي (هم) وي أَغْنٰى عَنِ التَّعْدَادِ نو بيا له شمېر (دريو) شخه بې پروايي راولي (يعني بيا دريو کسانو اقاضي، امير او مفتي) ته ضرورت نه پاتيږي، بلکي امير او قاضي کافي دي، ځکه په دوی کي د افتاء صلاحيت سته).

لغات: ﴿أَغْنٰى﴾ د افعال د باب ماضي ده، مصدر إِغْنَاءً، کله چي د دي باب په صله کي عَن راسي، نو معنىٰ يې ده: بې نيازه کول، بې پروا کول، (ضرورت نه پاتېدل).

تشريح: يعني که چيري امير (حاکم) يا قاضي خپله مفتي هم وي او د فتوىٰ ورکولو صلاحيت پکښې وي، نو هغه کافي دی، جلا بل مفتي ته ضرورت نسته.

څرنګه چي له مخکيني عبارت شخه دا وهم کېدی چي درې کسان ضروري دي (مفتي، امير او قاضي)، نو ځکه مصنف رَحِمَهُ الله وفرمايل چي په مذکوره صورت کي (کله چي امير يا قاضي خپله مفتي هم وي نو) د دريو شمېر يعني دريو کسانو ته ضرورت نسته. (مراقی الفلاح)

په منىٰ کي د جمعې د لمانځه حکم

﴿۸۲۷﴾ وَجَازَتِ الْجُمُعَةُ بِمِنٰى فِي الْمَوْسِمِ او جائز ده جمعه (قائمول) په منىٰ کي په موسم (د حج) کي لِلْخَلِيْفَةِ أَوْ أَمِيْرِ الْحِجَازِ د خليفه يا د حجاز د امير لپاره.

تشریح: د عبارت حاصل دا دی چې د حج په ورځو کې په منیٰ شریفه کې د جمعې لمونځ اداء کول جائز دي، خو په دې شرط چې د حج امیر هغه کس وي کوم چې د حجاز امیر او حاکم وي. یعنې هغه صرف د حج لپاره امیر نه وي ټاکل سوی، یا خلیفة المسلمین خپله موجود وي. د حج له ورځو څخه بغیر په نورو ورځو کې هلته د جمعې لمونځ جائز نه دی؛ ځکه هغه د کلي حیثیت لري، لېکن نن سبا د موجوده حیثیت مطابق فتویٰ ورکول پکار دي. (عمدة الفقه)

یادونه: له مذکوره عبارت څخه دا معلومه سوه چې د حج له موسم څخه بغیر نور وختونه په منیٰ کې د جمعې لمونځ صحیح نه دی، خو دا حکم د پخوانی زمانې په اعتبار سره وو کله چې د منیٰ آبادي تر څو پېړیو پوري له مکې مکرمې څخه بالکل جلا وه او د دواړو په مینځ کې د صحراوو او غرونو فاصله وه چې په هغوی کې هیڅ قسم آبادي او عمارت نه وو، نو په دې خاطر د پخوا ټولو فقهاؤ (د آبادی د تسلل د نشتوالي په وجه) مکه او منیٰ جلا، جلا آبادی شمېرلي وه، خو څه وخت مخکې د سنه ۱۴۲۰ هجري (مطابق ۱۹۹۹ میلادي) د حج په موسم کې د پاکستان او هندوستان د سترو مفتیانو او علماؤ یو جماعت هلته د آبادی د اتصال خپله مشاهده وکړه او ټوله په متفقه توګه دې نتیجې ته ورسېدل چې اوس د منیٰ حیثیت د ښار د فناء په څېر دی (یعنې منیٰ شریفه ګواکې د مکې د ښار فناء ده)، لهذا د حج موسم وي او که نه وي، په منیٰ کې دننه د جمعې لمونځ کول جائز دي. (انوار الایضاح بحوالهٔ انوارِ رحمت ص: ۷۱)

د خطبې کم مقدار

﴿۸۲۸﴾ وَصَحَّ الْإِقْتِصَارُ فِي الْخُطْبَةِ عَلٰى نَحْوِ تَسْبِيْحَةٍ أَوْ تَحْمِيْدَةٍ مَعَ الْكَرَاهَةِ او صحیح دي اکتفا کول په خطبه کې په صرف یو وار سبحان الله یا الحمد لله ویلو باندې سره د کراهته.

تشریح: د خطبې کمترین مقدار دا دی چې یو وار "الحمد لله"، یا "سبحان الله"، یا "لاإلٰهَ إلّا الله" پکښې ووایي، لېکن له درېو آیتونو څخه کم مقدار خطبه ویل مکروه دي او د صاحبینو رَحِمَهُمَا الله په نېز د خطبې مقدار د تشهّد په اندازه دی، له هغه څخه کم مکروه دی، لهذا که څوک په خطبه کې صرف "سبحان الله" یا داسې نور ووایي، نو د خطبې فرض خو اداء کېږي، لېکن صرف پر دې اکتفا کول د سنت د مخالفت په وجه مکروه دي، او دا کراهت د بعضو په نېز تحریمي دی او د بعضو په نېز تنزیهي دی. (انوار الایضاح، شفاء الارواح)

دخطبې سنتونه او آداب

﴿۸۲۹﴾ وَ سُنَنُ الْخُطْبَةِ ثَمَانِيَةَ عَشَرَ شَيْئًا او د خطبې سنتونه اتلس (۱۸) شيان دي اَلطَّهَارَةُ
① پاکي.

تشريح: له دې ځايه مصنف رَحِمَهُ الله د خطبې سنن او آداب ذکر کوي چې هغوی يې په اتلسو (۱۸) کې منحصر کړي دي: ①... له هغوی څخه اول شی طهارت دی (چې په اوداسه به وي). يعني د بې اودسۍ په حالت کې خطبه ويل مکروه دي، او که يې ووايي، نو خطبه خو اداء کېږي. لېکن داسې کول مکروهِ تحريمي دي، او که د جنابت په حالت کې خطبه ووايي. نو د هغه را ګرځول مستحب دي. (طحطاوي على مراقى الفلاح)

﴿۸۳۰﴾ وَ سَتْرُ الْعَوْرَةِ ② او عورت پټول.

تشريح: ②... دويم سنت ستر د عورت دی، عورت پټ ساتل که څه هم في نفسه فرض دي لېکن د خطبې په حالت کې سنت دي، لهذا که بېله ستره خطبه ووايي. نو د کراهت تحريمي سره اداء کېږي. (پورتنۍ حواله)

﴿۸۳۱﴾ وَ الْجُلُوْسُ عَلَى الْمِنْبَرِ قَبْلَ الشُّرُوْعِ فِي الْخُطْبَةِ ③ او پر منبر کښېنستل د خطبې له شروع کولو څخه مخکې.

تشريح: ③... له خطبې شروع کولو څخه مخکې پر منبر د خطيب کښېنستل د اذان پوره کېدلو په انتظار کې.

د جمعې دويم اذان

﴿۸۳۲﴾ وَالْأَذَانُ بَيْنَ يَدَيْهِ كَالْإِقَامَةِ ④ او اذان کول د امام مخ ته د اقامت په څېر.

تشريح: ④... د جمعې دويم اذان امام ته مخامخ کول سنت دي، او د دې مطلب دا نه دی چې خاص په اول صف کې به امام ته مخامخ وي. بلکې که له امام څخه دوه، درې صفه لېرې يا د ټولو صفونو شاته و امام ته مخامخ وي، نو هم اذان کول جائز دي، خو د مسجد له حدودو څخه دباندې دا اذان کول د اُمت د متوارث عمل خلاف دي.

په ولاړه خطبه ویل او په لاس کي توره وغیره نیول

﴿۸۳۳، ۸۳۴﴾ ثُمَّ قِيَامُهُ وَ السَّيْفُ بِيَسَارِهِ مُتَّكِئًا عَلَيْهِ ⑤ بیا د امام درېدل په داسي حال کي چي د هغه په چپه لاس کي توره وي چي پر هغه یې تکیه کړې وي فِيْ كُلِّ بَلْدَةٍ فُتِحَتْ عَنْوَةً په هر داسي ښار کي کوم چي فتح کړل سوی وي په غلبه سره وَ بِدُوْنِهِ فِيْ بَلْدَةٍ فُتِحَتْ صُلْحًا او له توري څخه بغیر (درېدل) په داسي ښار کي کوم چي فتح کړل سوی وي په صلحه سره.

لغات: ﴿سيف﴾ توره، جمع: سُيُوْف، ﴿متكئًا﴾ د افتعال له بابه فاعل دی: تکیه کول (تکیه لګول، تکیه وهل)، ﴿عنوة﴾ په زور او غلبه سره، د مټ په زور، عَنٰى يَعْنُوْ عَنْوَةً (باب نصر): په زوره اخیستل.

تشریح: ⑤... د جمعې او اختر خطبه په ولاړي ویل سنت دي، بېله عذره په ناستي خطبه ویل مکروه دي، بیا هم که یو امام په ناستي خطبه ووایي، نو هم خطبه معتبر ده. همدارنګه دا خبره هم یاد ساتئ! چي پر منبر خطبه ویل سنت دي، او که منبر نه وي، نو لاندي په ولاړي خطبه ویل هم جائز دي او له منبر څخه مراد هر لوړ (جګ) شی دی، لهذا که په کرسي یا مېز (ټېبل) یا داسي بل لوړ شي باندي خطبه وویل سي، نو سنت اداء کېږي. (انوار الایضاح بحوالۀ بدائع الصنائع ج: ۱، ص: ۵۹۲)

والسیف بیساره الخ: ⑥... د دې حاصل دا دی چي کوم ښار د توري په زور یعني مسلمانانو د مټ په زور او په غلبه حاصلولو سره فتح کړی وي، هلته خطیب که امامُ المسلمین یا د هغه نائب وي، نو د خطبې پر مهال په خپل راسته لاس کي توره اخیستل او پر هغه تکیه لګول سنت دي او په دې سره اصل مقصود د هغه ښار خلکو ته دا ښکاره کول دي (یعني چي په دې سره هغو ته دا یادونه ورکول سي) چي اوس تاسي د مسلمانانو په قبضه کي یاست او که تاسي له اسلام څخه سرغړونه وکړی، نو دا توره د مسلمانانو په لاس کي باقي ده، هغوی به ستاسي سره قتال کوي تر دې چي تاسي بیرته د اسلام وطرف ته را وګرځی. او په دې کي و دې طرف ته هم اشاره ده چي په داسي ښار کي (د خطیب لپاره) له توري څخه بغیر بل شی مثلاً لکړه وغیره په لاس کي اخیستل او تکیه باندي کول غوره نه دي، خو کوم ښار چي بغیر له جنګ او توري څخه فتح کړل سوی وي، هلته دي د خطبې په دوران کي توره نه اخیستل کېږي، ها! د خطبې په دوران کي لکړه (عصا) اخیستل مستحب دي، لېکن دا ضروري ګڼل او نه اخیستونکی ملامتول جائز نه دي. (شامي ج ۱، ص ۷۷۲)

خلکو ته مخامخ خطبه ویل

﴿٨٣٥﴾ وَاسْتِقْبَالُ الْقَوْمِ بِوَجْهِهِ ⑥ او د خلکو وطرف ته خپل مخ کول (مخامخ کېدل).

تشریح: ⑦... د امام لپاره سنت دا دي چې د قوم یعني د حاضرو خلکو وطرف ته مخ کړي او قبلې ته شا کړي، د دې په خلاف د قبلې وطرف ته مخ کول او د قوم وطرف ته شا کول مکروه دي.

او کله چې امام خطبه شروع کړي، نو خلکو ته پکار دي چې په صفونو کې په آرام سره کښېني او د امام خبرو ته په توجّه سره غوږ کښېږدي، او ښه دا ده چې امام ته ګوري؛ ځکه د امام او خطیب د مخ او لاسونو په اشاره سره هم د خبرو په پوهنه کې مرسته حاصلیږي او که نظر لاندې وي او خطیب ته نه وکتل سي، نو هم خبره په فهم کې راځي، خو دومره نه راځي څومره چې پکار وي (تحفة الالمعی، مراقی الفلاح)، خو کله چې خطیب له کتاب یا رسالې څخه خطبه وایي، نو بیا دا خبره نسته (اصل د خطیب خبرو ته غوږ نیول او په توجّه سره اورېدل دي، نو چا ته چې څرنګه توجه حاصلیږي، هغسې دي وکړي). (انوار الایضاح، شفاء الارواح)

﴿٨٣٦﴾ وَبِدَاءَتُهُ بِحَمْدِ اللهِ وَالثَّنَاءِ عَلَيْهِ بِمَا هُوَ أَهْلُهُ ⑦ او خطبه شروع کول په الحمد لله او په داسې ثناء (تعریف) سره د کوم چې الله تعالیٰ اهل دی وَالشَّهَادَتَانِ ⑧ او د شهادت دوې کلمې ویل وَالصَّلوٰةُ عَلَى النَّبِيِّ ﷺ ⑨ او پر نبي ﷺ درود ویل وَالْعِظَةُ وَالتَّذْكِيرُ ⑩ او وعظ و نصیحت کول (یاد "تذکیر" معنیٰ ده: د آخرت د عذاب او ثواب یادونه ورکول) وَقِرَاءَةُ آيَةٍ مِّنَ الْقُرْآنِ ⑪ او د قرآن کریم یو آیت ویل.

لغات: ﴿عِظَة﴾ وعظ، نصیحت، جمع: عِظَات، وَعَظَ يَعِظُ وَعْظًا (باب ضرب): نصیحت کول، ﴿التذکیر﴾ د تفعیل د باب مصدر دی، د دې باب له معناوو څخه یوه معنیٰ هم د "وعظ او نصیحت کولو" ده. (معجم الوسیط)

تشریح: ⑧... د خطبې په شروع کې په کراره اعوذ بالله ویل او په حمد سره شروع کول او په خطبه کې د الله تعالیٰ حمد او ثناء بیانول سنت دي.

⑨... د شهادت دوې کلمې یعني "أشهد أن لا إله إلا الله، وأشهد أن محمدًا عبده ورسوله" د خطبې په ضمن کې ویل سنت دي.

(١٠)... پر نبي کریم ﷺ درود ویل. (١١)... خلګو ته وعظ او نصیحت کول، (١٢) د قرآن کریم یو آیت ویل، دا ټوله شیان پکښې سنت دي.

﴿٨٣٧﴾ وَ خُطْبَتَانِ (١٢) او دوې خطبې ویل وَالْجُلُوْسُ بَيْنَ الْخُطْبَتَيْنِ (١٣) او د دوو خطبو په مینځ کې کښېنستل (ناسته کول).

تشریح: (١٣)... د جمعې په ورځ دوې خطبې ویل سنت دي، که صرف یوه خطبه ووایي، نو هم خطبه اداء کیږي، خو د سنت پرېښوولو په وجه داسې کول مکروه دي.

(١٤)... د دواړو خطبو په مینځ کې کښېنستل سنت دي. همدارنګه د جمعې په ورځ د خطبو په مینځ کې دغه وقفه د قبولیت وخت دی. په دې کې دعاء کول پکار دي په زړه کې. په ژبه سره دې هیڅ لفظ نه اداء کوي. (شامي ج: ٣، ص: ٤٢، ط: زکریا)

﴿٨٣٨﴾ وَإِعَادَةُ الْحَمْدِ وَالثَّنَاءِ وَالصَّلٰوةِ عَلَى النَّبِيِّ ﷺ فِي ابْتِدَاءِ الْخُطْبَةِ الثَّانِيَةِ (١٤) او راګرځول (دوباره ویل) د حمد او ثناء (١٥) او (دوباره ویل) د درود شریف پر نبي ﷺ د دویمې خطبې په شروع کې.

تشریح: (١٥). . په دویمه خطبه کې بیا حمد و ثناء او درود شریف ویل سنت دي.

تر دې وروسته پوهېدل پکار دي چې کله په خطبه کې د نبي کریم ﷺ نوم مبارک راسي، نو د خطبې په دوران کې خو په ژبه سره ذکر ممنوع دی، لهذا صرف په زړه، زړه کې به درود شریف وایي، نه په ژبه سره. (شامي ج: ٣، ص: ٣٥)

یادونه: بعضې ځایونه رواج دي چې خطیب د دې آیت ﴿إنّ الله وملٰئکته یُصلّون...إلخ﴾ د ویلو په وخت کې په زوره درود شریف وایي، دا طریقه شرعاً خلاف سنت ده. (انوار الایضاح)

﴿٨٣٩﴾ وَالدُّعَاءُ فِيْهَا لِلْمُؤْمِنِيْنَ وَالْمُؤْمِنَاتِ بِالْاِسْتِغْفَارِ لَهُمْ (١٦) او دعاء کول په دې (دویمه خطبه) کې د مؤمنانو سړیو او ښځو لپاره په مغفرت غوښتلو (استغفار ویلو) سره د دوی لپاره.

فیها د ضمیر مرجع الخطبة الثانية ده، بالاستغفار باء په معنیٰ د مع سره ده.

تشریح: (١٦)... په دویمه خطبه کې د ټولو مسلمانانو نر او ښځي لپاره دعاء غوښتل خصوصاً د خلفاء راشدینو او د صحابه کرامو ذکر کول هم سنت دي.

او په دعاء کې دې د رحمت الهي د حصول، او له آفاتو او مصیبتونو څخه د حفاظت او د اسلام پر دښمنانو د فتح او کامیابي دعاء کول کیږي. (مراقی الفلاح)

خطبه په زوره ويل

﴿ ۸۳۰ ﴾ وَأَنْ يَّسْمَعَ الْقَوْمُ الْخُطْبَةَ ⑰ او دا چې واورې خلک (دده) خطبه (يعني په دومره لوړ آواز سره خطبه ويل چې خلک يې اوريدلای سي).

تشريح: ⑰... خطبه په دومره لوړ آواز سره ويل چې خلک يې واوري سنت دي. ځکه په جمعه کې مجمع زياته وي، په همدې وجه خطبه دي پر لوړ ځای ويل کيږي چې ټولو ته آواز ورسيږي او ټوله خطيب وليدلای سي، د خطيب او د هغه د لاس د اشاراتو په ليدلو سره هم د خبرو په پوهېدلو کې مرسته حاصليږي. (تحفة الالمعی ج: ۲، ص: ۳۲۷)

❀ ❀ ❀

که چاته د خطبې آواز نه رسيږي، نو هغه به څه کوي؟

مسئله: کوم څوک چې له امام څخه دومره ليري وي چې هغه ته د خطبې آواز بالکل نه رسيږي. د هغه لپاره افضل همدا ده چې خاموشه کښېني او په تلاوت يا په څه ذکر دي نه مشغوله کيږي. "فَأَمَّا البعيد منه إذا لم يسمع الخطبة كيف يصنع؟ قال محمد بن سلمة: الإنصات له أولى من قراءة القرآن". (بدائع الصنائع ج: ۱، ص: ۵۹۳)

د خطبې زيات مقدار

﴿ ۸۳۱ ﴾ وَتَخْفِيْفُ الْخُطْبَتَيْنِ بِقَدْرِ سُوْرَةٍ مِنْ طِوَالِ الْمُفَصَّلِ ⑱ او دواړې خطبې مختصره کول په اندازه د يو سورت له طوالِ مفصّل څخه (يعني له طوالِ مفصل سورتونو څخه د يو سورت په اندازه دواړه خطبې مختصره ويل، او ډېر نه اوږدول).

لغات: ﴿تخفيف﴾ د تفعيل د باب مصدر دی: سپکول، معتدل کول (اختصار پکښې کول).

تشريح: ⑱... خطبه مختصره ويل او زيات نه اوږدول، چې دواړه خطبې د طوالِ مفصل د يوه سورت په اندازه وي، له دې څخه زياتوب کول مکروه دي.

په مسلم شريف کې حديث دی چې رسول الله ﷺ وفرمايل: "د سړي د لمانځه اوږد والی او د هغه د خطبې مختصر والی د هغه د پوهې علامت دی" (مراقی الفلاح)، ځکه اوږد تقرير کول (يعني په ډېرو الفاظو سره مطلب بيانول) مشکل نه دي، خو په لږ وخت کې په کمو الفاظو سره مطلب بيانول او د نورو سر ورخلاصول مشکل کار دی. د نن سبا د امامانو عمل د دې برعکس دی، دوی خطبه ډېره اوږدوي او لمونځ ډېر مختصره کوي او دعویٰ د مصلحت کوي، جال دا چې که د خلکو مصلحت ته ګوري نو خطبه مختصره ويل او لمونځ د سنت مطابق کول پکار دي، الله تعالی دې د عمل توفيق راکړي (آمين).

خطبه اوږدول مکروه دي

﴿ ۸۴۲ ﴾ وَيُكْرَهُ التَّطْوِيْلُ وَتَرْكُ شَيْءٍ مِّنَ السُّنَنِ او مکروه دي (د خطبې) اوږدول او د یو شي پرېښوول (د خطبې) له سنتونو څخه.

لغات: ﴿تطویل﴾ د تفعیل د باب مصدر دی: اوږدول، طول ورکول.

تشریح: فرمایي چي خطبه له سنت مقدار څخه اوږدول مکروه دي؛ ځکه په جمعه کي د نورو لمنځونو په نسبت مجمع زیاته وي او په حاضرینو کي روغ او مریضان هر ډول خلک وي، نو د هغوی په رعایت کي دي له سنت مقدار څخه اوږده خطبه نه وایي. همدارنګه مخکي چي کوم سنتونه ذکر سول، له هغوی څخه هر یو سنت پرېښوول مکروه دي.

د اول اذان حکم

﴿ ۸۴۳ ﴾ وَيَجِبُ السَّعْيُ لِلْجُمُعَةِ وَتَرْكُ الْبَيْعِ بِالْأَذَانِ الْأَوَّلِ او واجب دي د جمعې لپاره تلل (روانېدل) او بیع پرېښوول په اول اذان سره (تر دې چي د لمانځه څخه فارغ سي) فِي الْأَصَحِّ د صحیح ترین قول مطابق.

لغات: ﴿السعی﴾ د فتح د باب مصدر دی، د دې باب له معناوو څخه یوه معنیٰ ده: تک کول، تلل.

تشریح: صورت د مسئلې دا دی چي کله مؤذن د جمعې اول اذان وکړي، نو د جمعې د لمانځه و طرف ته متوجه کېدل او سعی (تک کول) او بیع (خرڅول او رانیول) پرېښوول واجب دي، له سعي څخه مراد په اطمینان او سکون سره تلل او د هغه اُمورو پرېښوول دي کوم چي د خطبې او لمانځه د حاضرېدلو منافي دي، لهذا د اول اذان له کېدلو څخه وروسته بیع کول یعني خرڅول و رانیول یا په یو بل کار مشغولېدل مکروهِ تحریمي دي.

في الأصح: د بعضي حضراتو (لکه د امام طحاوي رَحِمَهُ الله او داسي نورو) په نېز هغه اذان معتبر دی کوم چي د امام ومخ ته کېږي (یعني د حرمتِ بیع او سعی الی الجمعه په وجوب کي دویم اذان معتبر دی)، خو دا قول ضعیف دی (عمدة الفقه)، او اول قول اصح دی یعني په حرمتِ بیع او سعی الی الجمعه کي اول اذان معتبر دی، لهذا تر اول اذان وروسته بیع کول یا په یو بل کار مشغولېدل مکروه تحریمي دي. (عمدة الفقه)

فایده: د حضرت ابو بکر ﵁ او حضرت عمر ﵁ په زمانه کي به د جمعې لپاره صرف همدا یو اذان کېدی کوم چي د امام ومخ ته کېږي، خو کله چي د حضرت عثمان ﵁ په زمانه کي د مدینې شریفي آبادي ډېره سوه او دغه اذان د عامو خلکو د اطلاع لپاره کافي نه وو، نو حضرت عثمان ﵁ له دغه اذان

څخه مخکي یو بل اذان اضافه کړی او دا کار د ټولو صحابه وو په مشوره او اجماع سره وسو او دغه د هم سنت سو. کوم حضرات چي د اُمت اجماع حجّت نه بولي او د صحابه وو آثار هم حجت نه بولي یعني غیرِ مقلدین، هغوی په دې کي اختلاف کوي او د جمعې اول اذان ته "بدعت عثماني" وایي حال دا چي دې ته بدعت ویل خپله لوی ضلالت او ګمراهي ده. او دلته له اول اذان څخه مراد هغه اذان دی کوم چي د حضرت عثمان ﷺ په زمانه کي اضافه کړی سوی دی. (شامي ج:١، ص: ٧٧٠)

د خطبې په دوران کي لمونځ یا خبري کول

﴿٨٢٣﴾ وَإِذَا خَرَجَ الْإِمَامُ او کله چي را ووځي امام (یعني د خطبې لپاره منبر ته راسي) فَلَا صَلوٰةَ وَلَا كَلَامَ نو نه لمونځ سته او نه خبري سته (یعني بیا نه لمونځ جائز دی او نه خبري) وَلَا يَرُدُّ سَلَامًا او نه دي د سلام جواب ورکوي وَلَا يُشَمِّتُ عَاطِسًا او نه دي د نوږي کونکي د نوږي جواب ورکوي حَتّٰى يَفْرُغَ مِنْ صَلوٰتِهٖ تر دې چي له خپل لمانځه څخه فارغ سي.

لغات: ﴿لا یشمّت﴾ د تفعیل له بابه د نفي صیغه ده، تشمیت العاطس: نوږي (انتروسي) کونکي ته یَرْحَمُكَ اللهُ ویل، یا دیو چا په حق کي دا دعاء کول چي هغه په داسي مصیبت مبتلا نه سي چي دښمن وغیره په خوشاله سي.

تشریح: مسئله دا ده چي کله امام د خطبې لپاره منبر ته راسي، نو په دې وخت کي هر قسم لمونځ کول منع دي، برابره ده د جمعې سنت وي او که یو بل نفل وي لکه تحیةُ المسجد وغیره. او که یو چا د خطبې له شروع کېدو څخه مخکي سنتِ مؤکده شروع کړي وي، نو راجح دا ده چي د خطبې په شروع کېدو سره دي هغه نه پرېږدي بلکي هغه دي پوره کړي.

همدارنګه خبري کول هم ممنوع دي، برابره ده دنیاوي خبري وي او که دیني خبري وي. تر دې چي امر بالمعروف او نهی عن المنکر کول هم منع دي، خو که د لاس یا سر یا سترګو په اشاره سره امر د معروف او نهي د منکر وکړي، نو په دې کي څه حرج نسته. لېکن خطیب امر بالمعرف او نهی عن المنکر کولای سي.

او د سلام جواب دي نه په ژبه سره ورکوي او نه په زړه سره. او د نوږي (انتروسي) په وخت کي دي صرف په زړه کي الحمد لله وایي، او د خطبې په وخت کي سلام کونکی ګنهکاره کېږي. (شفاء الارواح بحوالهٔ عمدة الفقه)

م ۴۸۵ وَكُرِهَ لِحَاضِرِ الْخُطْبَةِ الْأَكْلُ وَالشُّرْبُ او مکروه دي خطبې ته د حاضرېدونکي کس لپاره خوراک او چښاک کول وَالْعَبَثُ وَالْإِلْتِفَاتُ او لوبې (ساتېرى) کول او شا وخوا کتل.

لغات: ﴿عبث﴾ بې فايدې او بې ځايه کار، لغو کار. عَبَثَ يَعْبَثُ عَبَثًا (باب فتح): لا يعني او بې فايدې کار کول. ﴿الالتفات﴾ د افتعال د باب مصدر دی: راسته يا چپه طرف ته مخ ګرځول. بې توجهي او بې رخي کول.

تشريح: مسئله دا ده چې کله څوک خطبې ته حاضر سي او هغه ته د خطبې آواز رسيږي، نو په غور او توجه سره خطبه اورېدل پکار دي او داسې کار دې نه کوي کوم چې د خطبې په اورېدلو کې خلل وي. مثلاً څه شی خوړل او چيښل. شاوخوا کتل او داسې نور.

م ۴۸۶ وَلَا يُسَلِّمُ الْخَطِيبُ عَلَى الْقَوْمِ إِذَا اسْتَوَىٰ عَلَى الْمِنْبَرِ او سلام دې نه کوي خطيب و خلکو ته کله چې منبر ته وخېږي.

لغات: ﴿استوىٰ﴾ د استفعال د باب ماضي ده: کله چې د دې باب په صله کې "علىٰ" راسي نو معنى يې ده: پورته کېدل (لوړېدل). ختل. (معجم الوسيط)

تشريح: کله چې خطيب منبر ته وخېږي، نو سلام کول څه سنت نه دي، ځکه په صحاح ستة وو کې د دې هيڅ ذکر نسته. لېکن که يې يو خطيب وکړي، نو د دې ګنجائش سته (لکه څنګې وخت چې بعضي خطيبان د جمعې په ورځ د جبل خطبې شروع په سلام سره کوي): ځکه په بعضي رواياتو کې د دې ثبوت سته لکه دا روايت: عن عطاء أن النبي ﷺ كان إذا صعد المنبر أقبل بوجهه على الناس، فقال:

(السلام عليكم ... مصنف عبد الرزاق باب تسليم الإمام إذا صعد ج:۳، ص:۸۸ حديث رقم:۵۲۹۶. مصنف ابن ابي شيبة باب الامام إذا جلس على المنبر سلم ج ۱ ص ۴۴۹ حديث رقم ۵۱۹۵ بحوالة ثمرة النجاح، ج:۲، ص:۷۷)

د جمعې تر اذان وروسته له ښار څخه وتل

م ۴۸۷ وَكُرِهَ الْخُرُوجُ مِنَ الْمِصْرِ بَعْدَ النِّدَاءِ مَالَمْ يُصَلِّ او مکروه دي له ښاره څخه وتل تر اذان وروسته تر څو چې يې لمونځ نه وي کړی

تشريح: مسئله دا ده چې پر کوم چا باندې د جمعې لمونځ واجب وي، د هغه لپاره تر زوال وروسته له ښار څخه د سفر لپاره وتل مکروه تحريمي دي. تر دې چې د جمعې لمونځ نه وکړي، خو که تر زوال مخکې له ښار څخه ورځي، نو مکروه نه دي.

﴿۸۲۸﴾ وَ مَنْ لَّا جُمُعَةَ عَلَيْهِ إِنْ أَدَّاهَا او پر کوم چا چي جمعه واجب نه وي كه هغه جمعه (د جمعې لمونځ) اداء كړي جَازَ عَنْ فَرْضِ الْوَقْتِ نو جائز كيږي (كافي كيږي) د دې وخت له فرضو (يعني د ماپښين له لمانځه) څخه.

تشريح: مسئله دا ده چي پر كوم چا د جمعې لمونځ واجب نه وي لكه مريض، مسافر، نابالغه هلک، يا غلام او داسي نور، كه هغه حاضر سي او د خلكو سره د جمعې لمونځ اداء كړي، نو لمونځ يې اداء كيږي او د ماپښين فرض د هغه له غاړي څخه ساقطيږي، مثلاً كه يو ښځه يا مسافر د جمعې لمونځ وكړي، نو د ماپښين لمونځ د هغه له ذمې څخه ساقطيږي. بلكي د مسافر سړي لپاره د جمعې لمونځ كول افضل دي، خو د ښځي لپاره په خپل كور كي د ماپښين لمونځ كول افضل دي. (شفاء الارواح)

كه غيرِ معذور د جمعې د لمانځه څخه مخكي د ماپښين لمونځ وكړي، نو څه حكم دى؟

﴿۸۲۹﴾ وَ مَنْ لَّا عُذْرَ لَهٗ او كوم چا لره چي هيڅ عذر نه وي لَوْصَلَّى الظُّهْرَ قَبْلَهَا كه هغه د ماپښين لمونځ وكړي د جمعې تر لمانځه مخكي حَرُمَ نو حرام دي فَإِنْ سَعٰى إِلَيْهَا وَالْإِمَامُ فِيْهَا بيا كه (د ماپښين تر لمونځ كولو وروسته) د جمعې لمانځه ته ولاړ (روان) سي په داسي حال كي چي امام د جمعې په لمانځه كي وي بَطَلَ ظُهْرُهٗ نو د ده د ماپښين لمونځ باطليږي وَإِنْ لَّمْ يُدْرِكْهَا كه څه هم د جمعې لمونځ نه ونيسي (نه ومومي).

لغات: قبلها د ضمير مرجع جمعة (صلاة الجمعة) ده. إليها د ضمير مرجع جمعة ده. ظهره د ضمير مرجع مَنْ دى، ﴿لم يدرك﴾ د افعال له بابه د جحد معلوم صيغه ده. أَدْرَكَ يُدْرِكُ إِدْرَاكًا: د دې باب څو معناوي دي چي له هغوى څخه ځيني دا دي: موندل، نيول، حاصلول، رسېدل. د ها ضمير جمعة ته راجع دى.

تشريح: مسئله دا ده چي كوم څوک د جمعې د لمونځ كولو څخه مخكي په خپل كور كي د ماپښين لمونځ وكړي، حال دا چي هغه هيڅ عذر هم نه لري، نو د هغه لمونځ خو كيږي لېكن دا فعل حرام دى.

فإن سعىٰ إلخ: يعني كه هغه په كور كي د ماپښين د لمونځ كولو څخه وروسته د جمعې په لمانځه كي شركت كول وغواړي او ور روان سي، نو د دې دوه صورتونه دي: يا خو به هغه د امام سره د جمعې په لمانځه كي شريک سي يا به شريک نه سي، كه هغه د امام سره شريک سي او د جمعې لمونځ ونيسي. نو هغه چي مخكي كوم د ماپښين لمونځ كړى دى هغه باطليږي او نفل گرځي.

او که دا کس د جمعې لمونځ نه ونيسي، نو دئ چې کوم وخت له کور څخه د جمعې د لمانځه وطرف ته راون سوی وي. که په هغه وخت کي امام د جمعې په لمانځه کي وي لېکن د هغه د رسېدلو په وخت کي امام د لمانځه څخه فارغ سوی وي. نو په دې باره کي د امام صاحب رحمه الله مسلک دا دی چې د روانېدلو سره سمدستي د هغه د ماپښين لمونځ باطلېږي، نو اوس به هغه دوباره د ماپښين لمونځ کوي (په بله وينا داسي هم ويل کېدای سي چې کله د ماپښين د لمونځ کولو څخه وروسته دغه کس د جمعې د لمانځه وطرف ته روان سي. نو د هغه د روانېدلو په وخت کي که امام د جمعې په لمانځه کي وي. نو د هغه د ماپښين لمونځ باطلېږي. لهذا که امام ونيسي. نو د جمعې لمونځ دي ور سره وکړي. او که د هغه د رسېدلو په وخت کي امام فارغ سوی وي، نو د هغه د ماپښين خو باطل سوی دی او د جمعې لمونځ يې هم نه ونيوی. نو ځکه د ماپښين لمونځ به راګرځوي). (انوار الايضاح، شفاء الارواح)

د معذوره کسانو حکم

﴿٨٥٠﴾ وَكُرِهَ لِلْمَعْذُوْرِ وَالْمَسْجُوْنِ او مکروه دي د معذوره او قيدي لپاره أَدَاءُ الظُّهْرِ بِجَمَاعَةٍ فِي الْمِصْرِ يَوْمَهَا د ماپښين لمونځ په جماعت سره اداء کول په ښار کي د جمعې په ورځ.

لغات: ﴿مسجون﴾ د نصر له بابه مفعول دی: بندي کړی سوی، قيدي، يومها د ضمير مرجع جُمُعَةٌ ده.

تشريح: صورت د مسئلې دا دی چې معذوره کسان مثلاً مريض، ګوډ او شل، ړوند، بندي او داسي نور که په داسي ځای کي وي چې هلته د جمعې لمونځ کېږي، که دوی هلته په جماعت سره د ماپښين لمونځ اداء کړي، نو دا مکروه تحريمي دي، لهذا دوی به په هغه ورځ د ماپښين لمونځ جلا، جلا کوي، همدا حکم په زندان او بنديخانه کي د بنديانو هم دی چې د هغو لپاره د جمعې په ورځ د ماپښين لمونځ په جماعت سره اداء کول مکروه دي؛ ځکه په دې کي په ظاهره د جمعې د لمانځه مقابله معلومېږي،. (شفاء الارواح، انوار الايضاح)

د جمعې لمانځه ته د التحيات (تشهّد) په وخت کي رسېدل

﴿٨٥١﴾ وَمَنْ أَدْرَكَهَا فِي التَّشَهُّدِ أَوْ سُجُوْدِ السَّهْوِ او څوک چې ونيسي د جمعې لمونځ په تشهّد يا په سجدهٔ سهو کي أَتَمَّ جُمُعَةً نو پوره دي کړي همدا د جمعې لمونځ (يعني هغه د جمعې لمونځ ونيوی. لهذا همدا د جمعې لمونځ دي پوره کړي، د ماپښين لمونځ دي نه کوي).

تشريح: مسئله دا ده که څوک د جمعې په لمانځه کي امام په تشهّد يا په سجدهٔ سهو کي ونيسي، نو هغه د جمعې لمونځ ونيوی، لهذا دوه رکعته د جمعې لمونځ دي پوره کړي. (دا د شيخينو رحمهما الله مسلک

دی او د امام محمد رحمه الله په نېز د جمعې د نیولو لپاره کم از کم یو رکعت نیول ضروري دي. لهذا څوک چې په آخره ناسته کې د امام سره شریک سي، نو د امام محمد رحمه الله په نېز هغه د جمعې نیونکی نه سو. لهذا هغه به د امام تر سلام ګرځولو وروسته په هاغه تحریمه سره څلور رکعته د ماپښین لمونځ کوي. لېکن فتوىٰ د شیخینو رحمهما الله پر قول ده). (شفاء الارواح، انوار الایضاح بحوالة تحفة الالمعي و درمختار)

❀ ❀ ❀

فایده: په جمعه کې عموماً لاندینۍ دوې خطبې ویل کیږي:

د جمعې اوله خطبه

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ عَلِيِّ الذَّاتِ عَظِيْمِ الصِّفَاتِ سَمِيِّ السِّمَاتِ كَبِيْرِ الشَّانِ، جَلِيْلِ الْقَدْرِ رَفِيْعِ الذِّكْرِ مُطَاعِ الْأَمْرِ جَلِيِّ الْبُرْهَانِ، فَخِيْمِ الْاِسْمِ عَزِيْزِ الْعِلْمِ وَسِيْعِ الْحِلْمِ كَثِيْرِ الْغُفْرَانِ، جَمِيْلِ الثَّنَآءِ جَزِيْلِ الْعَطَآءِ مُجِيْبِ الدُّعَاءِ عَمِيْمِ الْاِحْسَانِ. سَرِيْعِ الْحِسَابِ شَدِيْدِ الْعِقَابِ أَلِيْمِ الْعَذَابِ عَزِيْزِ السُّلْطَانِ، وَنَشْهَدُ أَنْ لَّآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ وَحْدَهُ لَاشَرِيْكَ لَهُ فِي الْخَلْقِ وَالأَمْرِ، وَنَشْهَدُ أَنَّ سَيِّدَنَا وَمَوْلَانَا مُحَمَّدًا عَبْدُهُ وَرَسُوْلُهُ، اَلْمَبْعُوْثُ اِلَى الْأَسْوَدِ وَالْأَحْمَرِ، اَلْمَنْعُوْتُ بِشَرْحِ الصَّدْرِ وَرَفْعِ الذِّكْرِ، وَصَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَعَلٰى آلِهِ وَأَصْحَابِهِ الَّذِيْنَ هُمْ خُلَاصَةُ الْعَرَبِ الْعَرْبَآءِ وَخَيْرُ الْخَلَائِقِ بَعْدَ الْأَنْبِيَاءِ.

اَمَّا بَعْدُ: فَيَآ أَيُّهَا النَّاسُ وَحِّدُوْا اللّٰهَ فَاِنَّ التَّوْحِيْدَ رَأْسُ الطَّاعَاتِ، وَاتَّقُوْا اللّٰهَ فَاِنَّ التَّقْوٰى مِلَاكُ الْحَسَنَاتِ، وَعَلَيْكُمْ بِالسُّنَّةِ فَاِنَّ السُّنَّةَ تَهْدِيْ اِلَى الْاِطَاعَةِ، وَمَنْ أَطَاعَ اللّٰهَ وَرَسُوْلَهُ فَقَدْ رَشَدَ وَاهْتَدٰى، وَاِيَّاكُمْ وَالْبِدْعَةَ فَاِنَّ الْبِدْعَةَ تَهْدِيْ إِلَى الْمَعْصِيَةِ وَمَنْ يَعْصِ اللّٰهَ وَرَسُوْلَهُ فَقَدْ ضَلَّ وَغَوٰى وَعَلَيْكُمْ بِالصِّدْقِ فَاِنَّ الصِّدْقَ يُنْجِيْ وَالْكِذْبَ يُهْلِكُ، وَعَلَيْكُم بِالاِحْسَانِ فَاِنَّ اللّٰهَ يُحِبُّ الْمُحْسِنِيْنَ، وَلَا تَقْنَطُوْا مِنْ رَّحْمَةِ اللّٰهِ فَاِنَّهُ أَرْحَمُ الرَّاحِمِيْنَ، وَلَا تُحِبُّوْا الدُّنْيَا فَتَكُوْنُوْا مِنَ الْخَاسِرِيْنَ. اَلَآ وَاِنَّ نَفْسًا لَّنْ تَمُوْتَ حَتّٰى تَسْتَكْمِلَ رِزْقَهَا فَاتَّقُوْا اللّٰهَ وَأَجْمِلُوْا فِى الطَّلَبِ وَتَوَكَّلُوْا عَلَيْهِ فَاِنَّ اللّٰهَ يُحِبُّ الْمُتَوَكِّلِيْنَ، وَادْعُوْهُ فَاِنَّ رَبَّكُمْ مُجِيْبُ الدَّاعِيْنَ، وَاسْتَغْفِرُوْهُ يُمْدِدْكُمْ بِأَمْوَالٍ وَّبَنِيْنَ. أَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطَانِ الرَّجِيْمِ، وَقَالَ رَبُّكُمُ ادْعُوْنِيْ أَسْتَجِبْ لَكُمْ، اِنَّ الَّذِيْنَ يَسْتَكْبِرُوْنَ عَنْ عِبَادَتِيْ سَيَدْخُلُوْنَ جَهَنَّمَ دَاخِرِيْنَ. بَارَكَ اللّٰهُ لَنَا وَلَكُمْ فِى الْقُرْآنِ الْعَظِيْمِ. نَفَعَنَا وَاِيَّاكُمْ بِالْآيَاتِ وَالذِّكْرِ الْحَكِيْمِ، أَسْتَغْفِرُ اللّٰهَ لِيْ وَلَكُمْ وَلِسَآئِرِ الْمُسْلِمِيْنَ فَاسْتَغْفِرُوْهُ. اِنَّهُ هُوَ الْغَفُوْرُ الرَّحِيْمُ.

دجمعې دويمه خطبه

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ نَسْتَعِيْنُهُ وَنَسْتَغْفِرُهُ وَنَعُوْذُ بِاللهِ مِنْ شُرُوْرِ أَنْفُسِنَا مَنْ يَّهْدِهِ اللهُ فَلَا مُضِلَّ لَهُ، وَمَنْ يُضْلِلْ فَلَا هَادِيَ لَهُ، نَشْهَدُ أَنْ لَّآ اِلٰهَ اِلَّا اللهُ وَحْدَهُ لَاشَرِيْكَ لَهُ وَنَشْهَدُ أَنَّ سَيِّدَنَا وَمَوْلَانَا مُحَمَّدًا عَبْدُهُ وَرَسُوْلُهُ، أَرْسَلَهُ بِالْحَقِّ بَشِيْرًا وَّنَذِيْرًا بَيْنَ يَدَيِ السَّاعَةِ مَنْ يُّطِعِ اللهَ وَرَسُوْلَهُ فَقَدْ رَشَدَ وَمَنْ يَّعْصِهِمَا فَاِنَّهُ لَايَضُرُّ اِلَّا نَفْسَهُ وَلَايَضُرُّ اللهَ شَيْئًا، أَعُوْذُ بِاللهِ مِنَ الشَّيْطَانِ الرَّجِيْمِ، اِنَّ اللهَ وَمَلٰٓئِكَتَهُ يُصَلُّوْنَ عَلَى النَّبِيِّ، يَآ أَيُّهَا الَّذِيْنَ آمَنُوْا صَلُّوْا عَلَيْهِ وَسَلِّمُوْا تَسْلِيْمًا، اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى مُحَمَّدٍ عَبْدِكَ وَرَسُوْلِكَ وَصَلِّ عَلَى الْمُؤْمِنِيْنَ وَالْمُؤْمِنَاتِ وَالْمُسْلِمِيْنَ وَالْمُسْلِمَاتِ وَبَارِكْ عَلٰى مُحَمَّدٍ وَأَزْوَاجِهِ وَذُرِّيَّتِهِ. قَالَ النَّبِيُّ ﷺ: أَرْحَمُ أُمَّتِيْ بِأُمَّتِيْ أَبُوْ بَكْرٍ ؓ وَاَشَدُّهُمْ فِيْ أَمْرِ اللهِ عُمَرُ ؓ وَأَصْدَقُهُمْ حَيَآءً عُثْمَانُ ؓ وَأَقْضَاهُمْ عَلِيٌّ كَرَّمَ اللهُ وَجْهَهٗ وَفَاطِمَةُ سَيِّدَةُ نِسَآءِ أَهْلِ الْجَنَّةِ رَضِيَ اللهُ عَنهَا وَحَمْزَةُ أَسَدُ اللهِ وَأَسَدُ رَسُوْلِهِ ؓ، اَللّٰهُمَّ اغْفِرْ لِلْعَبَّاسِ وَوَلَدِهِ مَغْفِرَةً ظَاهِرَةً وَبَاطِنَةً لَّاتُغَادِرُ ذَنْبًا، اَللّٰهَ - اَللّٰهَ فِيْ أَصْحَابِيْ لَاتَتَّخِذُوْهُمْ غَرَضًا مِّنْ بَعْدِيْ فَمَنْ أَحَبَّهُمْ فَبِحُبِّيْ أَحَبَّهُمْ وَمَنْ أَبْغَضَهُمْ فَبِبُغْضِيْ أَبْغَضَهُمْ، وَخَيْرُ أُمَّتِيْ قَرْنِيْ ثُمَّ الَّذِيْنَ يَلُوْنَهُمْ ثُمَّ الَّذِيْنَ يَلُوْنَهُمْ، وَالسُّلْطَانُ (الْمُسْلِمُ) ظِلُّ اللهِ فِي الْأَرْضِ مَنْ أَهَانَ سُلْطَانَ اللهِ فِي الْأَرْضِ أَهَانَهُ اللهُ، اِنَّ اللهَ يَأْمُرُ بِالْعَدْلِ وَالْاِحْسَانِ وَاِيْتَآءِ ذِي الْقُرْبٰى وَيَنْهٰى عَنِ الْفَحْشَآءِ وَالْمُنْكَرِ وَالْبَغْيِ، يَعِظُكُمْ لَعَلَّكُمْ تَذَكَّرُوْنَ، فَاذْكُرُوْنِيْ أَذْكُرْكُمْ وَاشْكُرُوْا لِيْ وَلَا تَكْفُرُوْنَ، وَادْعُوْهُ يَسْتَجِبْ لَكُمْ وَلَذِكْرُ اللهِ تَعَالٰى أَوْلٰى وَأَعْلٰى وَأَعَزُّ وَأَجَلُّ وَأَتَمُّ وَأَهَمُّ وَأَقْوٰى وَأَكْبَرُ. (منتخبي دعاوي، خطب اللكنوية، خطبات السعيد، خطبات الأحكام)

* * *

بَابُ الْعِيْدَيْنِ

(دا) باب د کوچني اختر او لوی اختر (د احکامو په بیان کې) دی

تشریح: په هر مذهب او ملت کې د خوښۍ او خوشحالۍ څو ورځې وي، اسلام په ټوله کال کې دوې ورځې مقرّرې کړې دي: یوه د شوال د میاشتې اوله ورځ ده چې هغه ته کوچنی اختر او عید الفطر ویل کیږي، او بله د ذی الحجې لسمه ورځ ده چې هغه ته لوی اختر او عید الاضحیٰ ویل کیږي، دغه دواړې په اسلام کې د عید او خوشحالۍ ورځې دي، بیا دغه دوې ورځې یې هم عبادت ګرځولې دي چې د دوی شروع د اختر په دوه رکعته لمونځ سره کیږي. (شفاء الارواح)

عید ته ولې عید ویل کیږي؟: عید له عَادَ يَعُوْدُ عَوْدًا څخه را اخیستل سوی دی او د عَوْد معنی معلومه ده: واپس راتلل (بیا راتلل)، راګرځېدل، او څرنګه چې دغه مقدسه ورځ هر کال واپس راځي (راګرځي)، نو په دې مناسبت عید ورته ویل کیږي، یا دا چې په دې ورځ الله ﷻ پر خپلو بندګانو بیا احسانات راګرځوي او بیا یې په خپلو احساناتو سره نازوي.

د اخترونو مشروعیت: د اخترونو د وجوب او ثبوت په لړ کې د حضرت انس ؓ دا حدیث زیات أهم دی، هغه فرمایي چې: قدم رسول الله ﷺ المدینة ولأهل المدینة یومان یلعبون فیهما فی الجاهلیة فقال رسول الله ﷺ: قدمتُ علیکم ولکم یومان تلعبون فیهما فی الجاهلیة وقد أبدلکم الله خیراً منهما یوم النحر ویوم الفطر (یعني د مدینې د خلکو لپاره دوې د بازۍ او خوشحالۍ ورځې وې، کله چې رسول الله ﷺ مدینې منورې ته راغلی، نو ویې فرمایل: الله تعالیٰ تاسي ته د دې په بدله کې دوې بهترې ورځې درکړې، چې هغه یوه د لوی اختر ورځ ده او بله د کوچني اختر ورځ ده).

همدارنګه په بل حدیث کې راځي: إن لكل قوم عیدًا وهٰذا عیدنا (یعني هر قوم او هر ملت لره اختر او د خوشحالۍ ورځ وي، او دا زموږ اختر او د خوشحالۍ ورځ ده). (فتح الهدایه)

د اختر د لمانځه حکم

﴿٨٥٢﴾ صَلَاةُ الْعِيْدَيْنِ د دواړو اخترونو لمونځ وَاجِبَةٌ واجب دی فِي الْأَصَحِّ د صحیح ترین قول مطابق عَلٰى مَنْ تَجِبُ عَلَيْهِ الْجُمُعَةُ پر هغه سړي چې پر هغه د جمعې لمونځ واجب وي

بِشَرَائِطِهَا د جمعې دشرطونو سره سِوَی الْخُطْبَةِ ماسواله خطبې څخه فَتَصِحُّ نو صحیح کیږي(اداء کیږي) د جمعې لمونځ بِدُوْنِهَا له خطبې څخه بغیر مَعَ الْإِسَاءَةِ سره له بدوالي (کراهته) کَمَا لَوْقُدِّمَتِ الْخُطْبَةُ عَلٰی صَلَاةِ الْعِیْدِ لکه څرنګه چي که خطبه داختر پر لمانځه مخکي کړل سي (نو بدا مکروه ادي).

لغات: فی الأصح په دې قید سره یې د هغه حضراتو قول رد کړی کوم چي داختر لمانځه ته سنت مؤکده وایي. بشرائطها یعني کوم چي د جمعې د لمانځه شرطونه دي، برابره ده هغه د صحت او اداء شرطونه دي او که د وجوب، هاغه ټوله شرطونه داختر د لمانځه هم دي، ﴿الاساءة﴾ د افعال له بابه اسم مصدر دی: بدوالی، بد کول، خرابول، په مجردو کي د نصر له بابه راځي: سَآءَ یَسُوْءُ سؤًا: بد کېدل، خرابېدل، او د اساءة درجه له مکروه تحریمي څه لاندي او له مکروه تنزیهي څخه لوړه ده، ګواکي هغه مکروه تحریمي ته نژدې دی.

تشریح: داختر لمونځ واجب دی د اصح قول مطابق، او بل قول دا دی چي سنت مؤکده دی، داختر لمونځ پر هغه چا واجب دی پر چا چي د جمعې لمونځ فرض دی، او د جمعې د لمانځه د صحیح کېدو او فرض کېدو لپاره چي کوم شرطونه بیان سوي دي، هاغه ټوله داختر د لمانځه لپاره هم دي، ما سوا له خطبې څخه چي د جمعې په لمانځه کي خو خطبه شرط ده چي له هغې څخه بغیر د جمعې لمونځ نه صحیح کیږي، لېکن داختر په لمانځه کي سنت ده، لهذا که له خطبې څخه بغیر داختر لمونځ اداء کړي، نو لمونځ یې کیږي لېکن داسي کول مکروه تحریمي دي، لکه څرنګه چي څوک داختر تر لمانځه مخکي خطبه ووایي، نو خطبه یې کیږي لېکن داسي کول مکروه تحریمي دي؛ ځکه دا عمل د سنتِ متوارثه خلاف دی.

❀ ❀ ❀

په اخترکي د خطبې د وروسته کېدلو او په جمعه کي د مخکي کېدلو وجه

داختر په لمانځه کي د اصل مطابق عمل کول کیږي (او اصل دا دی چي اول لمونځ وکړل سي او بیا خطبه وویل سي، ځکه خلک عموماً په جماعت سره د لمونځ اداء کولو لپاره ځي) او داختر د لمانځه نوبت په ټوله کال کي صرف دوه واره راځي او په هغه کي د خلکو ښه ذوق او شوق وي او هغو له مخکي څخه تیاري کړې وي وختي راځي، نو ځکه داختر په لمانځه کي د اصل مطابق عمل کول کیږي چي اول دوه رکعته لمونځ اداء کول کیږي، او جمعه په هره اوونۍ کي راځي، په هغه کي که څه هم ذوق او

شوق وي خو د اختر په څېر نه وي، بلکي بعضي خلګ سستي کوي او ناوخته راځي. نو که په جمعه کي خطبه مخکي نه وړیل سي بلکي وروسته کړل سي، نو له دوی څخه به پوره لمونځ یا رکعت تېر سي، نو ځکه د جمعې په لمانځه کي خطبه مخکي کړل سوه چي ناوخته راتلونکي کسان هم د لمانځه څخه محروم پاته نه سي. (تحفة الالمعي ج: ۲، ص: ۴۰۵ بتصرف)

د کوچني اختر یو مستحب عمل

﴿ ۸۵۳ ﴾ وَنَدُبَ فِي الْفِطْرِ ثَلَاثَةَ عَشَرَ شَيْئًا او مستحب دي په کوچني اختر کي دیارلس شیان أَنْ يَأْكُلَ ① دا چي (سهار) خوراک وکړي وَأَنْ يَكُوْنَ الْمَأْكُوْلُ تَمَرًا وَوِتْرًا ② او د چي خوړل کېدونکی شی خرما وي ③ او طاق شمېر وي.

لغات: ﴿المأکول﴾ د نصر له بابه اسم مفعول دی: خوړل کېدونکی شی. ﴿تمر﴾ واحد یې تَمَرَةٌ دی: خرما، کجوره (په اصل کي وچي خرما [چواره] ته وړیل کیږي. او خیشته خرما ته رَطْبٌ وړیل کیږي).

تشریح: په کوچني اختر کي عیدګاه ته له تګ څخه مخکي طاق شمېر خرماوي خوړل مستحب دي او که خرما نه وي، نو هسې یو خوږ شی خوړل کافي دي، پر دې موقع یوه ځانګړې شېرني ثابته نه ده. (البحر الرائق ج: ۲، ص: ۱۷۱)

او په کوچني اختر کي دا د یو شی خوړل ځکه مستحب دي چي افطار ثابت سي یعني په عملي توګه دا خبره ښکاره سي چي نن روژه نه ده او د روژې میاشته ختمه سوه. (تحفة الالمعي ج: ۲، ص: ۴۰۴)

د اختر لپاره ځان پاکول او ښه جامې اغوستل

﴿ ۸۵۴ ﴾ وَيَغْتَسِلَ وَيَسْتَاكَ ④ او (مستحب دي دا) چي غسل وکړي ⑤ او مسواک ووهي وَيَتَطَيَّبَ وَيَلْبَسَ أَحْسَنَ ثِيَابِهِ ⑥ او خوشبويي ولګوي ⑦ او په خپلو جامو کي ښه جامې واغوندي.

لغات: ﴿یتطیب﴾ د تفعّل د باب مضارع ده: خوشبوداره کېدل، خوشبويي لګول (خوشبويي مړل).

تشریح: د اختر په ورځ غسل کول، مسواک وهل، خپلي ښه جامې اغوستل او عطر وغیره لګول مستحب دي.

صدقۀ فطر (سرسايه) اداء کول

﴿٨٥٥﴾ وَيُـؤَدِّیُ صَدَقَـةَ الْفِـطْرِ إِنْ وَجَبَتْ عَلَيْـهِ ⑧ او (مستحب دي دا) چي صدقۀ فطر اداء کړي که چيري پر هغه واجب وي.

لغات: ﴿صدقة الفطر﴾ سرسايه.

تشريح: د روژې له مياشتي (رمضان) څخه مخکي صدقۀ فطر اداء کول جائز دي، لېکن خلاف احتياط دي او د روژې په مياشته کي اداء کول جائز او صحيح دي او د کوچني اختر په سهار اداء کول زيات افضل او مستحب دي او د اختر له ورځي څخه ځنډول گناه ده، لېکن کله چي يې اداء کړي، نو گنهکار نه پاتېږي.

﴿٨٥٦﴾ وَيُظْهِرَ الْفَـرَحَ وَالْبَشَاشَةَ ⑨ او (مستحب دي دا) چي ښکاره کړي خوشالي او د مخ ورين والی (په ورين تندي او په ښه توکه ملاقات کول).

لغات: ﴿الفرح﴾ د سمع له بابه اسم مصدر دی: خوشحالي، خوشي، ﴿البشاشة﴾ د فتح له بابه اسم مصدر دی: د مخ خلاصوالی او ورين والی، په ورين تندي ديو چا سره يو ځای کېدل (ملاوېدل).

تشريح: په دې عبارت کي دوه لفظه ذکر سوي دي: ① "فرح" په معنیٰ د خوشحالۍ او خوشۍ سره دي يعني د الله تعالیٰ پر نعمتونو دي شکريه اداء کړي او د خوشحالۍ اظهار دي په داسي انداز وکړي چي له ظاهر او باطن څخه يې خوشحالي او خوشي ښکاره سي او د زړه له کومي يې د سُرور خوشبويي را پورته سي او په خپل عمل سره دي دا ښکاره کړي چي هغه واقعي د خپل رب اطاعت کونکی دی، او داسي بنده ته په حقيقت کي د خوشحالي جوړولو حق سته. ② "بشاشة"، د دې مطلب دا دی چي د کوم مسلمان ورور سره يو ځای (ملاو) سي، نو په ورين تندي او په خوشحالۍ دي ورسره يو ځای سي (چي پر مخ يې خوشحالي او پر خوله يې مسکا څرګنده وي). (انوار الايضاح۲)

❀ ❀ ❀

داختر په ورځ مبارکي ورکول

مسئله(١): داختر په ورځ يو بل ته مبارکي ورکول جائز دي "التهنئة بقوله تقبل الله منه و منكم لا تنكر، بل مستحبة لورود الأثر بها". (طحطاوي ص٢٨٩، كتاب المسائل ص٢٢٢)

داختر ترلمانځه وروسته روغبړاوترغاړې کېدنه

مسئله(۲): داختر ترلمانځه وروسته روغبړ او ترغاړې کېدنه (مصافحه او معانقه) سنت نه دي. ها! که دچا سره په همدې وخت کې ملاقات راسي، یا دلمانځه څخه ترلږ فصل وروسته محض د ملاقات په نیت سره روغبړ او معانقه وسي، نو څه حرج نسته. (مجالس الابرار ص:۲۹۸، کتاب المسائل ص:۴۴۳)

داختر په ورځ صدقه و خیرات کول

﴿۸۵۷﴾ وَكَثْرَةُ الصَّدَقَةِ حَسْبَ طَاقَتِهٖ ⑩ او خیرات زیات کول د خپل طاقت (وس) مطابق.

تشریح: یعني داختر په ورځ زیاته صدقه او خیراتونه کول پکار دي. خو د دې خبرې خیال دي ساتي چي له خپل وس او طاقت څخه دي تېرى نه كوي. همدارنګه د دې يو مطلب دا هم کېدلای سي چي کومه سرسایه (صدقۀ فطر) پر هغه واجب ده، تر هغه دي لږ زیات مقدار ورکوي او دا زیاتوب به د هغه لپاره د صدقۀ نافله په درجه وګرځي. (انوار الایضاح)

داختر په ورځ سهار وختي را پورته کېدل

﴿۸۵۸﴾ وَالتَّبْكِيْرُ وَهُوَ سُرْعَةُ الْاِنْتِبَاهِ ⑪ او تبکیر او هغه ژر (وختي) ویښېدل دي (یعني وختي را پورته کېدل) وَالْاِبْتِكَارُ وَهُوَ الْمُسَارَعَةُ إِلَى الْمُصَلّٰى ⑫ او ابتکار او هغه عیدګاه ته ژر تلل دي وَصَلٰوةُ الصُّبْحِ فِي مَسْجِدِ حَيِّهٖ ⑬ او د سهار لمونځ د خپل کلي په مسجد کي اداء کول.

لغات: ﴿تبکیر﴾ د تفعیل د باب مصدر دی: سهار وختي را ویښېدل (را پورته کېدل)، د سهار په وخت کي راتګ، ﴿ابتکار﴾ د وختي تللو یا ژر تللو کوښښ کول.

تشریح: فرمایي چي سهار وختي را پورته کېدل او عیدګاه ته وختي تلل او د سهار لمونځ د خپل محلې په مسجد کي اداء کول، دا ټوله داخترونو له مستحباتو څخه دي.

عیدګاه ته پیاده تلل

﴿۸۵۹﴾ ثُمَّ يَتَوَجَّهُ إِلَى الْمُصَلّٰى مَاشِيًا مُكَبِّرًا سِرًّا بیا دي روان سي د عیدګاه وطرف ته په پښو (پیاده) په تکبیر ویلو سره په کراره (په ټیټ آواز سره).

لغات: ﴿یتوجّهُ﴾ د تفعّل له بابه مضارع معلومه ده: متوجّه کېدل، روانېدل. علامه ابن نجیم مصري رَحِمَهُ الله لیکلي دي چي "یتوجّه" دلته په رفع سره یعني "یتوجّهُ" دی، ځکه داختر لمانځه ته

تګ کول واجب دي، مندوب (مستحب) نه دي، په همدې وجه مصنف رَحِمَهُ الله طرز بدل کړی او په ثُمّ سره یې دا عبارت شروع کړی دی چې د اختر لمانځه ته روانېدل به له مذکوره مستحبو افعالو څخه وروسته په آخر کې کېږي، او بیا وروسته لیکي چې داسې هم کېدلای سي چې پر "أن یأکُلَ" عطف سي او منصوب "یتوجّهَ" وویل سي، په دې صورت کې به تأویل داسې کېږي چې محض عیدګاه ته تلل مستحب دي که څه هم د اختر لمونځ واجب دی، نو که څوک د اختر لمونځ په مسجد کې وکړي او عیدګاه ته ولاړ نه سي، نو هغه سنت پرېښوي. (البحرا الرائق ج:۱، ص:۱۷۱)

تشریح: د اختر لمونځ په عیدګاه کې اداء کول سنت دي او د ښار په مسجدونو کې یې هم د اداء کولو اجازه سته، او عیدګاه ته پیاده (په پښو) تلل سنت دي، بېله ضرورته دې پر سپارلۍ نه ځي؛ ځکه په پیاده تللو کې عاجزي ده او د سپارلۍ په تګ کې د خپل شان اظهار دی کوم چې د عبادت د شان سره لایق نه دي، او له عیدګاه څخه د واپسۍ پر مهال د سپارلۍ په ذریعه راتلل څه حرج او پروا نه لري. او په کوچني اختر کې په کرار آواز سره او په لوی اختر کې په لوړ آواز سره تکبیرونه ویل مستحب دي.

❀ ❀ ❀

عیدګاه کوم ځای ته ویل کیږي؟

په شرعي توګه عیدګاه یعني د اختر د لمونځ اداء کولو ځای هغه ته ویل کیږي کوم چې له آبادۍ څخه بالکل بهر وي او که له آبادي څخه بهر جلا عیدګاه نه وي جوړه سوې، نو په خلاص میدان کې دي د اختر لمونځ اداء کړل سي، داسې میدان ته هم په وقتي توګه عیدګاه ویل کیږي او د سنت ثواب حاصلیږي او د ښار په مسجد کې هم د اختر لمونځ بلا کراهته صحیح دی، خو افضل او غوره دا ده چې په عیدګاه کې د اختر لمونځ اداء کړل سي. (ایضاح المسائل ص:۳۴)

تکبیرونه به کله ختموي؟

﴿۸۶۰﴾ وَیَقْطَعُهُ إِذَا انْتَهٰی إِلَی الْمُصَلّٰی فِیْ رِوَایَةٍ او ختم دې یې کړي (یعني تکبیر ویل دې پرېږدي) کله چې ورسیږي عیدګاه ته، د یوه روایت مطابق وَفِیْ رِوَایَةٍ: إِذَا افْتَتَحَ الصَّلٰوةَ او په بل روایت کې دي: چې کله لمونځ شروع کړي (نو بیا دې یې پرېږدي).

لغات: ﴿انتهٰی﴾ د افتعال د باب ماضي ده، کله چې د دې باب په صله کې "إلٰی" راسي نو معنیٰ یې ده: رسېدل، ﴿مُصلّٰی﴾ د لمونځ اداء کولو ځای، "مُصلّی العید" عیدګاه (هغه ځای چې د اختر لمونځ پکښې کیږي). ﴿افتتح﴾ د افتعال د باب ماضي ده: پیل کول، شروع کول.

تشريح: په اختر کي چي کوم تکبيرونه (تکبير تشريق) ويل کيږي، هغه به کمه پرېږدي او ختموي؟، مصنف رَحِمَهُ الله دلته دوه روايتونه ذکر کړي دي: ① يو دا چي کله چي عيدګاه ته ورسيږي، نو هغه وخت به تکبيرونه پرېږدي، ② دويم روايت دا دی چي کله لمونځ شروع سي يعني جماعت ودريږي، نو تکبيرونه به پرېږدي، "کذا فی الکافی وعليه عمل الناس. قال أبو جعفر: وبه نأخذ". (مراقی الفلاح علی نور الايضاح)

﴿۸۶۱﴾ وَيَرْجِعَ مِنْ طَرِيْقٍ آخَرَ او واپس دي سي (راودي ګرځي) له بلي لاري څخه.

تشريح: عيدګاه ته د تګ او راتګ لاره بدلول سنت دي؛ ځکه د نبي کريم ﷺ دا معمول وو چي عيدګاه ته به په کومه لاره ولاړی، نو له هغې خوا څخه به په بله لاره راتلی.

او د لاري بدلولو مختلفه حکمتونه بيان سوي دي چي د هغوی شمېر شلو (۲۰) ته رسيږي. له هغوی څخه اصح دا دی چي په دې عمل کي د اسلام د شعار او د مسلمانانو د اجتماعيت او شوکت اظهار دی. (درس ترمذي)

د اختر د لمانځه څخه مخکي يا وروسته نفل کول

﴿۸۶۲﴾ وَيَكْرَهُ التَّنَفُّلُ قَبْلَ صَلوٰةِ الْعِيْدِ فِي الْمُصَلّٰى وَالْبَيْتِ او مکروه دي نفل کول د اختر تر لمانځه مخکي په عيدګاه او په کور کي وَبَعْدَهَا فِي الْمُصَلّٰى فَقَطْ او د اختر تر لمانځه وروسته صرف په عيدګاه کي عَلَى اخْتِيَارِ الْجُمْهُوْرِ د جمهورو پر اختيار (يعني د جمهورو د اختيار کړل سوي فتوىٰ مطابق).

تشريح: د عبارت حاصل دا دی چي د اختر تر لمانځه مخکي نفلي لمونځ کول مکروه دي، برابره ده په کور کي وي او که په عيدګاه کي وي، او د اختر تر لمانځه وروسته په عيدګاه کي نفل کول مکروه دي، ليکن له عيدګاه څخه راتلل او په کور کي نفل کول بلا کراهته جائز دي او همدا د جمهورو مسلک دی. د "علی اختيار الجمهور" په قيد سره د قاضي خان، صاحب التحفه او داسي نورو قول خارج کړی سو؛ ځکه دوی د دې خبري قائل دي چي د اختر تر لمانځه وروسته په عيدګاه کي څلور رکعته نفل کول جائز او صحيح دي. (شفاء الارواح، انوار الايضاح بحوالۀ طحطاوي)

د اختر د لمانځه وخت کله شروع کیږي؟

﴿۸۶۳﴾ وَ وَقْتُ صِحَّةِ صَلٰوةِ الْعِيْدِ مِنْ اِرْتِفَاعِ الشَّمْسِ قَدْرَ رُمْحٍ أَوْ رُمْحَيْنِ إِلٰى زَوَالِهَا او د اختر د لمانځه د صحیح کېدو وخت دی د لمر له راپورته کېدو څخه په اندازه د یوې نیزې یا دوو نېزو (یعني چې لمر یوه یا دوې نېزې را وخیږي. بیا) د لمر تر زواله پوري.

لغات: ﴿ارتفاع﴾ د افتعال د باب مصدر دی: پورته کېدل، لوړېدل. ﴿رمح﴾ نېزه (د دوولسو لوېشتو مقدار) او په عبارت کي له دې څخه مراد د لمر دومره لوړېدل دي چي کله د نفلو اداء کول جائز سي (طحطاوي ص: ۲۹۰)، مثلاً د لمر را ختلو څخه تقریباً پنځلس یا شل دقیقي وروسته.

تشریح: په دې عبارت کي د اختر د لمانځه د وخت ابتداء او انتهاء بیان سوې ده. د اختر د لمانځه وخت هلته شروع کیږي کله چي لمر د یوې نېزې یا دوو نېزو په اندازه راپورته سي، د نېزې مقدار دوولس لوېشتي ښوول سوی دی (او د ساعت په اعتبار سره دا وخت پنځلس دقیقې ښوول سوی دی چي د لمر راپورته کېدلو څخه تقریباً یو پاؤ وروسته د اختر د لمانځه وخت کیږي)، لېکن د لمانځه لپاره دي داسي وخت وټاکل سي چي په هغه وخت کي خلک په آساني سره عیدګاه ته حاضرېدلای سي، او د اختر د لمانځه آخري وخت د لمر د زوال تر وخته پوري دی. لهذا که څوک د لمر د یوې نیزې له پورته کېدلو څخه مخکي یا تر زوال وروسته د اختر لمونځ وکړي، نو نه صحیح کیږي، همدارنګه که د اختر د لمانځه په دوران کي لمر زوال سي، نو لمونځ فاسدیږي، د فاسدېدلو مطلب دا دی چي د اختر لمونځ یې نه کیږي، بلکي دوی ته د نفلي لمانځه ثواب حاصلیږي. (شفاء الارواح، انوار الایضاح)

د اختر د لمانځه طریقه

﴿۸۶۴﴾ وَ كَيْفِيَّةُ صَلٰوتِهِمَا او د دواړو اخترونو د لمانځه کیفیت (او طریقه) دا ده أَنْ يَّنْوِيَ صَلٰوةَ الْعِيْدِ چي نیت وکړي د اختر د لمانځه ثُمَّ يُكَبِّرُ لِلتَّحْرِيْمَةِ بیا دي تکبیر تحریمه ووایي ثُمَّ يَقْرَأُ الثَّنَاءَ بیا دي ثناء ووایي ثُمَّ يُكَبِّرُ تَكْبِيْرَاتِ الزَّوَائِدِ ثَلَاثًا بیا دي تکبیراتِ زوائد ووایي درې واره يَرْفَعُ يَدَيْهِ فِيْ كُلِّ مِنْهَا پورته کوي دي خپل دواړه لاسونه له دوی څخه په هر یوه کي ثُمَّ يَتَعَوَّذُ ثُمَّ يُسَمِّيْ سِرًّا بیا دي اعوذ بالله او بیا بسم الله ووایي په کراره (په پټه) ثُمَّ يَقْرَأُ الْفَاتِحَةَ ثُمَّ سُوْرَةً بیا دي سورة الفاتحه او بیا سورت ووایي وَ نَدُبَ أَنْ تَكُوْنَ سَبِّحِ اسْمَ رَبِّكَ الْأَعْلٰى او مستحب دي دا چي وي (هغه سورت) سبح اسم ربك الاعلی ثُمَّ

يَرْكَعُ بيا دي ركوع وكړي فَإِذَا قَامَ لِلثَّانِيَةِ بيا چي كله دويم ركعت ته ولاړ سي اِبْتَدَأَ بِالْبَسْمَلَةِ ثُمَّ بِالْفَاتِحَةِ ثُمَّ بِالسُّوْرَةِ نو شروع دي وكړي په بسم الله بيا په سورة الفاتحه سره بيا په سورت سره وَنَدُبَ أَنْ تَكُوْنَ سُوْرَةُ الْغَاشِيَةِ او مستحب دي دا چي وي (هغه سورت) سورة الغاشية ثُمَّ يُكَبِّرُ تَكْبِيْرَاتِ الزَّوَائِدِ ثَلَاثًا بيا دي تكبيرات زوائد ووايي درې واره وَ يَرْفَعُ يَدَيْهِ فِيْهَا كَمَا فِي الْأُوْلٰى او پورته كوي دي خپل لاسونه په دې كي لكه څرنګه چي (يې پورته كوله) په اول ركعت كي.

لغات: ﴿ينوي﴾ د ضرب د باب مضارع ده: نيت كول، داختر د لمانځه پوره نيت داسي دى چي "نيت مي كړى د دوو ركعتو د اختر د لمانځه، سره د شپږو تكبيرونو، په دې حاضر امام پسي، مخ پر لورې د كعبي شريفي، (يا په بله وينا نيت كوم زړه د اخلاصه، لمونځ كوم د كوچني اختر دوه ركعته سره د شپږو تكبيرونو خاص خدايه تا لره، په دې حاضر امام پسي، مخ پر لوري د كعبې شريفي، الله اكبر...) ﴿ندب﴾ د كرُم د باب ماضي ده: مستحب كېدل.

تشريح: داختر د لمانځه طريقه دا ده چي تر ټولو مخكي به داختر د لمانځه نيت وكړي، او نيت د ارادې نوم دى، په ژبه سره نيت كول ضروري نه دي او كه په ژبه سره هم د نيت الفاظ ووايي، نو ښه ده، او په نيت كي صرف دومره الفاظ په ژبه سره ويل هم كافي دي چي زه د كوچني اختر لمونځ يا د لوى اختر لمونځ په دې امام پسي كوم. (ایضاح الاصباح)

تر نيت كولو وروسته به د نورو لمنځونو په څېر لاسونه تر نامه لاندي وتړي او ثناء (سُبحانك اللّٰهم) به ووايي، بيا به درې واره الله اكبر ووايي، امام به يې په لوړ آواز او مقتديان به يې په كراره ووايي، او په هر تكبير كي به لاسونه غوږو ته پورته كوي او ايله كوي او د هر دوو تكبيرونو په مينځ كي به دومره سكوت كوي چي درې واره سبحان الله پكښې ويل كېداى سي، او له دريم تكبير څخه وروسته به لاسونه نه ايله كوي بلكي تر نامه لاندي به يې وتړي، بيا به امام أعوذ بالله او بسم الله په كراره او الحمد شريف او سورت په زوره (جهرا) ووايي، مستحب دا ده چي په اول ركعت كي "سورة الاعلى" ووايي، او مقتديان به چپ ولاړ وي او په توجّه سره به يې د امام قرائت ته غوږ نيولى وي، بيا به ركوع او سجده وكړي، نو اول ركعت پوره سو.

فإذا قام للثانية إلخ: کله چې د دویم رکعت لپاره ولاړ سي، نو اول به امام الحمد شریف او سورت په جهر سره ووايي. مستحب دا ده چې په دویم رکعت کې "سورة الغاشيه" ووايي، په دویم رکعت کې د قرائت تر ختمېدلو وروسته او رکوع ته له تللو څخه مخکې به درې زائد تکبیرونه د اول رکعت په څېر ووايي او دلته به پر دریم تکبیر هم لاسونه ایله کړي، بیا به بغیر د لاس پورته کولو څخه څلورم تکبیر ووايي او رکوع ته به ولاړ سي او د مخکې په څېر به پاته لمونځ پوره کړي.

یادونه: کله چې به د نبي کریم ﷺ اراده په اختر کې د اوږده قرائت کولو وه، نو "سورة قٓ" او "سورة القمر" به یې ویلو او کله چې به یې سپک قرائت کول مقصود وو، نو "سورة الاعلیٰ" او "سورة الغاشية" به یې ویلو، په اولو دوو سورتونو کې په اختصار سره د قرآن کریم ټوله مقاصد بیان سوي دي او د لوی جماعت (اجتماع) پر موقع همدې ته ضرورت وي چې په اختصار او جامعیت سره د دین خلاصه د خلکو مخ ته بیان سي، او په آخرو دوو سورتونو کې د آخرت منظر بیاني او د اُخروي ژوند جوړولو ترغیب دي، دا هم ضروري او اهم مضامین دي او د اجتماع لپاره مناسب دي، په همدې خاطر مصنف رَحِمَہُ اللہ وفرمايل چې مستحب دا ده چې سورة الاعلیٰ او سورة الغاشية ووايي. (انوار الایضاح)

﴿۸۶۵﴾ وَهٰذَا أَوْلٰى مِنْ تَقْدِيْمِ تَكْبِيْرَاتِ الزَّوَائِدِ فِي الرَّكْعَةِ الثَّانِيَةِ عَلَى الْقِرَاءَةِ او دا زیات غوره (افضل) دي د تکبیراتِ زوائدو له مخکې کولو څخه په دویم رکعت کې پر قرائت فَإِنْ قَدَّمَ التَّكْبِيْرَاتِ عَلَى الْقِرَاءَةِ فِيْهَا بیا که مخکې کړي تکبیرات پر قرائت په دویم رکعت کې جَازَ نو (هم) جائز دي.

لغات: ﴿أولیٰ﴾ د اسم تفضیل صیغه ده: زیات ښه (غوره، بهتره)، زیات لائق، افضل.

تشریح: یعني په دویم رکعت کې هغه درې زائد تکبیرونه له قرائت څخه وروسته او له رکوع څخه مخکې ویل افضل او اولیٰ دي، یعني خاص په دې ځای کې یې ویل واجب نه دي، بلکې افضل دي، لهذا که څوک د اول رکعت په څېر د دویم رکعت په شروع کې له قرائت څخه مخکې دا تکبیرونه ووايي، نو هم جائز دي.

د اختر تر لمانځه وروسته خطبه ويل

﴿٨٦٦﴾ ثُمَّ يَخْطُبُ الْإِمَامُ بَعْدَ الصَّلٰوةِ خُطْبَتَيْنِ بيا دي دوې خطبې ووايي امام تر لمانځه وروسته يُعَلِّمُ فِيْهِمَا أَحْكَامَ صَدَقَةِ الْفِطْرِ چي په هغه دواړو کي دي وښيي د صدقهٔ فطر (سرسايې) احکام.

تشريح: داختر خطبه ويل سنت دي. چي هغه به داختر تر لمانځه وروسته ويل کيږي. او امام به په خطبه کي د صدقهٔ فطر (سرسايې) د پنځو احکامو ښوونه کوي يعني خلکو ته به دا وربنيي ۱ چي صدقهٔ فطر پر کوم چا واجب ده؟ ② د چا لپاره واجب ده؟ ③ کله واجب ده؟ ④ څومره واجب ده؟ ⑤ او له کوم شي څخه واجب ده؟. د دې مسائلو تفصيل به ان شاء الله د صدقهٔ فطر په بحث کي راسي.

د اختر د لمانځه قضاء

﴿٨٦٧﴾ وَمَنْ فَاتَتْهُ الصَّلٰوةُ مَعَ الْإِمَامِ او له چا څخه چي فوت (قضا) سي د اختر لمونځ د امام سره (يعني د امام سره شرکت نه وکړی سي) لَا يَقْضِيْهَا نو د هغه قضاء به نه راوړي.

لغات: ﴿فاتت﴾ د نصر له بابه د واحد مؤنث غائب ماضي معلوم صيغه ده. مصدر: فَوْتًا و فَوَاتًا: فوت کېدل. پاته کېدل (تېرېدل).

تشريح: د عبارت مطلب دا دی چي کوم کس د امام سره د اختر لمونځ نه ونيسي يعني امام د اختر لمونځ پوره کړي او فارغ سي او يو کس پاته وي چي هغه د اختر لمونځ نه وي اداء کړی. نو هغه کس ته د قضاء راوړلو اجازه نسته. او که له امام او مقتديانو دواړو څخه لمونځ فوت سي. نو بيا يې قضاء لازم ده، همدا مطلب علامه شامي رَحِمَهُ الله بيان کړی دی. (شامي ج:۱، ص:۷۸۳)

يادونه: له کوم چا څخه چي د اختر لمونځ د هغه په خپل فاسدولو سره فوت سي (يا په بله ورنا خپله يې فاسد کړي)، نو هم هغه د قضاء نسته، مثلاً يو څوک د امام سره د اختر په لمانځه کي شريک سي او بيا له امام څخه مخکي فارغ سي، او امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله فرمايي چي د فاسدولو په صورت کي قضاء لازم ده، خو اول قول اصح دی. (پورتنی حواله)

﴿٨٦٨﴾ وَتُؤَخَّرُ بِعُذْرٍ إِلَى الْغَدِ فَقَطْ او ځنډول کېدلای سي د کوچني اختر لمونځ ديو عذر په وجه صرف تر سبا ورځي پوري.

لغات: ﴿تؤخر﴾ د تفعيل له بابه مضارع مجهوله ده. مصدر: تأخيرًا: وروسته کول. ځنډول. ﴿غد﴾ د سبا ورځ.

تشریح: که د یو عذر په وجه د کوچني اختر لمونځ د اختر په ورځ اداء نه سي. مثلاً د سخت باران او داسي نورو په وجه. یا مثلاً د وریځي په وجه میاشته نه وي لیدل سوي او بیا تر زوال وروسته د هغه ځای خلګ یا د بهر خلګ د میاشتي لیدلو ګواهي ورکړي، نو په دي صورت کي به د اختر لمونځ په را روانه (دویمه) ورځ کول کیږي، او که په یو وجه په دویمه ورځ هم د اختر لمونځ اداء نه سي، نو دریمه ورځ نه سي کېدلای.

دلوی اختر او کوچني اختر په احکامو کي فرق

﴿٨٦٩﴾ وَأَحْكَامُ الْأَضْحٰى كَالْفِطْرِ او دلوی اختر احکام د کوچني ختر (د احکامو) په څېر دی لٰكِنَّهٗ فِي الْأَضْحٰى يُؤَخِّرُ الْأَكْلَ عَنِ الصَّلٰوةِ لېکن په لوی اختر کي دي ځنډوي (وروسته کوي) خوراک له لمانځهٔ څخه.

لغات: ﴿الأضحٰی﴾ په اصل کي هغه پسه وغیره ته ویل کیږي کوم چي په لوی اختر کي قربانول کیږي. یوم الأضحٰی: د قربانۍ ورځ، دلوی اختر ورځ.

تشریح: د کوچني اختر چي کوم احکام یعني مستحبات وغیره بیان سول. هاغه ټوله احکام د لوی اختر هم دي، خو په یو څو شیانو کي یې فرق دی: یو دا چي په لوی اختر کي د اختر تر لمانځه مخکي د یو شي نه خوړل مستحب دي بلکي د اختر تر لمانځه وروسته دي شی وخوري او دا هم مستحب ده چي تر ټولو مخکي د خپلي قربانۍ غوښي وخوري، او که د څاروي په ذبح کولو، تیارولو او پخولو کي ډېر وخت کېښوځي، نو بیا دي یو بل شی مثلاً وریجي یا چای وغیره وخوري. (انوار الایضاح بتغیر)

او بل فرق به په را روان عبارت کي ذکر سي.

﴿٨٧٠﴾ وَيُكَبِّرُ فِي الطَّرِيْقِ جَهْرًا او تکبیر دي وایي په لاره کي په زوره (په لوړ آواز سره) وَيُعَلِّمُ الْأُضْحِيَّةَ وَتكبيرَ التَّشْرِيْقِ فِي الْخُطْبَةِ او امام دي وښیي په خطبه کي قرباني او تکبیر تشریق وَتُؤَخَّرُ بِعُذْرٍ إِلٰى ثَلَاثَةِ أَيَّامٍ او ځنډول کېدلای سي د لوی اختر لمونځ د عذر په وجه تر دریو ورځو پوري

لغات: ﴿الاضحیة﴾ د قربانۍ څاروی، هغه څاروي کوم چي قربانول کیږي، ذبیحه.

تشریح: د کوچني اختر او لوی اختر تر مینځ بل فرق دا دی چي په لوی اختر کي عیدګاه ته د تګ پر مهال به په لوړ آواز سره تکبیر تشریق وایي او په کوچني اختر کي به یې په پټه ووایي (لکه مخکي چي هم موږ ذکر کړه)، او دلوی اختر په خطبه کي به امام خلګو ته د قربانۍ او د تکبیر تشریق احکام ور

ښیي، ① یعني قرباني پر چا واجب ده؟ ② د کومو څارویو قرباني صحیح ده؟ ③ د هغوی عمر به څومره وي؟ ④ او د قربانۍ وخت کله شروع کیږي ⑤ څوک به یې ذبح کوي ⑥ او غوښه به یې څه په کوي، دا ټوله دي ور وښیي، ⑦ او تکبیر تشریق به له کوم وخت څخه تر کومه وخته پورې ویل کیږي، دا دي هم ور وښیي.

او بل دا چي د لوی اختر لمونځ دیو عذر په وجه تر دریو ورځو پورې ځنډولای. یعني که نا څاپه یو عذر پېښ سي مثلاً سخت باران او بادونه وي یا داسي بل مانع عذر. نو د لوی اختر په دویمه او درېیمه ورځ هم اداء کېدلای سي.

فایده: د تشریق لغوي معنیٰ ده: غوښه لمر ته وچول، یعني غوښه ټوټه، ټوټه کول او بیا لمر ته ځړول یا اېښوول چي د لمر په تودوښ او ګرمۍ سره وچه سي، او څرنګه چي عربو به په همدې دریو ورځو (یعني په ۱۱، ۱۲ او ۱۳ د ذی الحجې به یې) د قربانۍ غوښې وچولې، نو ځکه دا ورځې د تشریق په ورځو (أیام التشریق) سره ونومول سوې، بیا د تکبیر اضافت د هغه وطرف ته وکړی سو چي "تکبیر التشریق". (شفاء الارواح)

د عرفات د خلکو سره مشابهت اختیارول

﴿۸۴۱﴾ وَالتَّعْرِيفُ لَيْسَ بِشَيْءٍ او (مصنوعي) عرفات جوړول هیڅ شی نه دی (هیڅ اصلیت نه لري).

تشریح: دلته د تعریف مطلب په عرفات کي د درېدونکو حاجیانو سره مشابهت اختیارول دي. یعني چي د عرفات په ورځ خلک په یو بل میدان کي سره را جمع سي او د حاجیانو په څېر دعاء او تضرع وکړي، مصنف رَحِمَهُ الله فرمایي چي دا یو داسي شی نه دي چي ثواب ولري. بلکي داسي کول مکروه تحریمي دي؛ ځکه چي وقوف عرفه (یعني په عرفات کي درېدل) یو ځانګړي او مخصوص عبادت دی کوم چي دیو ځانګړي میدان یعني د عرفات د میدان سره خاص دی. لهذا د عرفات له میدان ځخه ماسوا په یو بل میدان او بل ځای کي وقوف کول او درېدل عبادت نه سي کېدلای. لکه د حج نور مناسک چي په نورو ځایو کي نه سي اداء کېدلای.

د تکبیر تشریق حکم، وخت او تفصیل

﴿۸۴۲﴾ وَيَجِبُ تَكْبِيرُ التَّشْرِيقِ مِنْ بَعْدِ فَجْرِ عَرَفَةَ إِلَى عَصْرِ الْعِيدِ او واجب دي تکبیر تشریق د عرفات تر سهار وروسته د اختر تر مازیګره پورې مَرَّةً فَوْرَ كُلِّ فَرْضٍ أُدِّيَ بِجَمَاعَةٍ

مُسْتَحَبَّةٍ (واجب دی) یو وار ویل تر هر داسي فرض لمونځ وروسته فوراً (سمدستي) کوم چي په مستحب جماعت سره اداء سوی وي عَلٰى إِمَامٍ مُقِيْمٍ بِمِصْرٍ (واجب دی) پر داسي امام کوم چي په ښار کي مقیم (استوګن) وي وَعَلٰى مَنِ اقْتَدٰى بِهٖ او پر هغه کس کوم چي په دې امام پسي اقتداء کړې وي وَلَوْكَانَ مُسَافِرًا أَوْ رَقِيْقًا أَوْ أُنْثٰى که څه هم هغه (مقتدی) مسافر وي یا غلام وي یا ښځه وي عِنْدَ أَبِيْ حَنِيْفَةَ رَحِمَهُ اللهُ دامام صاحب رَحِمَهُ الله په نېز (یعني دا مذکوره حکم دامام صاحب رَحِمَهُ الله په نېز دی) وَقَالَا: يَجِبُ فَوْرَ كُلِّ فَرْضٍ عَلٰى مَنْ صَلَّاهُ وَلَوْ مُنْفَرِدًا أَوْ مُسَافِرًا أَوْ قَرَوِيًّا او صاحبین رَحِمَهُمَا الله فرمایي: چي تکبیر تشریق واجب دی تر هر فرض لمونځ وروسته فوراً پر هر هغه کس کوم چي دا فرض لمونځ کړی وي که څه هم هغه منفرد (یوازي لمونځ کونکی) وي یا مسافر وي یا کلي والا (صحرا والا) وي إِلٰى عَصْرِ الْخَامِسِ مِنْ يَوْمِ عَرَفَةَ (واجب دی) د عرفات له ورځي (۹ د ذی الحجې) څخه د پنځمي ورځي (۱۳ د ذی الحجې) تر مازیګره پوري وَبِهٖ يُعْمَلُ وَعَلَيْهِ الْفَتْوٰى او پر همدې عمل کول کیږي او پر همدې فتویٰ ده وَلَا بَأْسَ بِالتَّكْبِيْرِ عَقْبَ صَلٰوةِ الْعِيْدَيْنِ او څه پروا نسته د تکبیر تشریق په ویلو کي د اخترونو تر لمانځه وروسته.

لغات: ﴿مستحبة﴾ احترازي قید دی، په دې سره د ښځو جماعت او د لڅو خلکو جماعت ووتی.

﴿رقیق﴾ غلام، د واحد او جمع دواړو لپاره ویل کیږي او ځیني وخت د دې جمع أَرِقَّاءُ راځي، د مؤنث لپاره رقیقٌ یا رقیقةٌ ویل کیږي، ﴿أُنثٰى﴾ ماده، ښځینه، جمع: إناث، ﴿قروي﴾ کلیوال (بانډه چي)، د صحرا د کلي او علاقې اوسېدونکی، صحرایي، ﴿فور﴾ د هر شي ابتدائي حصه، فوراً (سمدستي)، په هغه ګړي.

تشریح: د تکبیر تشریق حکم دا دی چي هغه واجب دی او د تکبیر تشریق وخت دامام صاحب رَحِمَهُ الله په نېز د ذی الحجې د نهمي ورځي د سهار د لمانځه څخه بیا د ذی الحجې د لسمي ورځي د مازیګر تر لمانځه پوري دی (یا په بله ویناد عرفات د ورځي له سهار څخه د لوی اختر د ورځي تر مازیګره

پوري). دا ټوله اته لمونځونه کیږي (د صاحبینو رَحِمَهُمَا الله مسلک به په آخر کي ذکر سي). او دا تکبیر تشریق یو وار په لوړ آواز سره ویل واجب دي او د ذکر په نیت سره دوه یا دري واره ویل افضل دي.

فور کل: یعني دا تکبیر تر داسي فرضي لمانځه وروسته فوراً (سمدستي) ویل واجب دي کوم چي پر مستحبه طریقه په جماعت سره اداء سوی وي او هغه امام په ښار کي مقیم وي او پر هغه چا هم واجب دی کوم چي د دې امام اقتداء وکړي د لاندیني شرائطو سره (چي تفصیل یې داسي دی):

①... هغه لمونځ به فرضي لمونځ وي، لهذا له وترو، نفلو او د جنازې د لمانځه څخه وروسته تکبیر واجب نه دی.

②... له فرضي لمانځه څخه وروسته به فوراً (سمدستي) وي، لهذا که تر فرضي لمانځه وروسته یو بل عمل موجود سي، یا په خبرو مشغول سي، نو دا تکبیر ساقطیږي.

③... هغه فرضي لمونځ به په مستحب جماعت سره سوی وی، لهذا پر منفرد هم واجب نه دي. د مستحب قید یې لګولی دی، لهذا که یوازي ښځي جماعت وکړي، یا لڅ خلک جماعت وکړي، نو پر هغو تکبیر واجب نه دی.

④... مقیم به وي، پر مسافر واجب نه دی.

⑤... په ښار کي به دننه وي، لهذا د صحرا پر خلکو واجب نه دی (چي هلته د جمعې لمونځ نه کیږي).

وعلی من اقتدی: یعني که مسافر یا د صحرا اوسېدونکی یا ښځه یا غلام په یو داسي کس پسي اقتداء وکړي چي پر هغه تکبیر واجب وي، نو پر دوی هم تکبیر واجبیږي.

وقالا: او صاحبین رَحِمَهُمَا الله فرمایي چي پر هر فرضي لمونځ کونکي واجب دی، برابره ده هغه په جماعت کي وي او که یوازي وي، مسافر وي او که مقیم وي، ښار وي او که صحراء وي، پر هر یوه تر فرض لمانځه وروسته فوراً ویل واجب دي، او د صاحبینو رَحِمَهُمَا الله په نیز د هغه وخت د ذی الحجی د نهمي یعني د عرفات د ورځي د سهار د لمانځه څخه بیا د ذی الحجې د دیارلسمي یعني د لوی اختر د دریمي ورځي د مازیګر تر لمانځه پوره دی، دا ټوله دروېشت (۲۳) لمونځونه کیږي چي تر هغوی وروسته تکبیر واجب دی او د اختر د لمانځه سره څلورویشت (۲۴) لمنځونه کیږي. نن سبا عمل پر همدې قول دی او پر همدې فتویٰ ده. (انوار الایضاح، شفاء الارواح بتغیر)

تکبیرِ تشریق او د هغه ابتداء

﴿۸۷۳﴾ وَ التَّکْبِیْرُ أَنْ یَّقُوْلَ او تکبیر دا دی چي ووایي اَللّٰهُ أَکْبَرُ اَللّٰهُ أَکْبَرُ لَا إِلٰهَ إِلَّا اللّٰهُ وَ اَللّٰهُ أَکْبَرُ اَللّٰهُ أَکْبَرُ وَ لِلّٰهِ الْحَمْدُ الله أکبر، الله أکبر لا إله إلخ (چي د هغه ترجمه دا ده: الله ډېر لوی دی، الله ډېر لوی دی، له الله څخه بغیر بل هیڅ معبود (د عبادت لائق) نشته او الله ډېر لوی دی، الله ډېر لوی دی او ټول تعریفونه د الله لپاره دي).

تشریح: د تکبیرِ تشریق الفاظ په عبارت کي ذکر سوه، دغه تکبیر په ایامُ التشریق کي تر فرضي لمانځه وروسته یو وار ویل واجب دي، په تکبیرِ تشریق کي د دریو مقرّبو بندګانو الفاظ موجود دي: ① کله چي سیّدنا حضرت ابراهیم عليه السلام خپل ګران ځوی حضرت اسماعیل عليه السلام د ذبح لپاره پر ځمکي پرې ایستی او حضرت جبرئیل عليه السلام د رب تعالیٰ له طرفه پسه راوړی، نو حضرت جبرئیل عليه السلام ولیدل چي حضرت ابراهیم عليه السلام د الهي حکم په تعمیل کي څومره ډېر عجلت کونکی دی، نو بې اختیاره یې وفرمایل "اَللّٰهُ أَکْبَرُ اَللّٰهُ أَکْبَرُ"، ② کله چي حضرت ابراهیم عليه السلام آسماني قرباني ولیدله، نو ویې فرمایل "لَا إِلٰهَ إِلَّا اللّٰهُ وَاللّٰهُ أَکْبَرُ"، ③ او کله چي حضرت اسماعیل عليه السلام په دې خبر سو، نو یې وفرمایل "اَللّٰهُ أَکْبَرُ وَلِلّٰهِ الْحَمْدُ". (شامي ج:۱، ص:۷۸۵)

❁ ❁ ❁

بَابُ صَلٰوةِ الْكُسُوْفِ وَالْخُسُوْفِ وَالْأَفْزَاعِ

(دا) باب د لمر او سپوږمۍ د ترنڅي نیولو د لمانځه او د بېرو [خطرو] د لمانځه (په بیان) کې دی

تشریح: "کُسُوف" د ضرب د باب مصدر دی، لغوي معنیٰ یې ده: تغیّر (یو شی بدلېدل)، تاریک کېدل، بیا عرفاً دا لفظ "د لمر د ترنڅي" سره خاص سو او "خُسُوْف" هم د ضرب د باب مصدر دی او "د سپوږمۍ ترنڅي" ته ویل کېږي، صاحب د انوار الایضاح رَحِمَهُ الله فرمایي: کسوف او خسوف دواړه عام لفظونه دي (یعني) د لمر او سپوږمۍ دواړو په ترنڅه نیولو باندي د هر یوه اطلاق کېږي، خو عامةً د لمر د ترنڅي لپاره کسوف او د سپوږمۍ د ترنڅي لپاره خسوف استعمالیږي؛ د نبي کریم ﷺ فرمان دی چي "بېشکه لمر او سپوږمۍ د الله ﷻ له نښو څخه دوې نښې دي، دوی نه د یو چا د مرګ په وجه ترنڅه نیسي او نه د یو چا د پیدایښت په وجه، کله چي تاسو دوی په ترنڅه کي ووینئ، نو له الله ﷻ څخه دعاء وغواړئ!، تکبیر ووایاست او لمونځ وکړئ او خیرات وکړئ!". (شفاء الارواح)

اَفزاع: جمع د فَزَعٌ ده: بېره، خوف، لکه د زلزلې، یا د سخت باد، یا د سختې تیارې په وجه چي بېره خپره سي.

د لمر د ترنڅي نیولو لمونځ (صلاة الكسوف)

﴿۸۷۴﴾ سُنَّ رَكْعَتَانِ كَهَيْئَةِ النَّفْلِ لِلْكُسُوْفِ سنت دي (سنت ګرځول سوي دي) دوه رکعته د نفلو په څېر د لمر د ترنڅي نیولو لپاره (یعني څرنګه چي د نفلو لپاره اذان، اقامت نه کیږي او څرنګه چي نفل په مکروه وختونو کي نه کیږي او په نفلو کي لوړه قرائت کیږي. همداسي به د ترنڅي په لمانځه کي هم کول کیږي چي د هغه لپاره به اذان، اقامت نه کیږي او داسي نور...) بِإِمَامِ الْجُمُعَةِ أَوْ مَأْمُوْرِ السُّلْطَانِ د جمعې په امام د یا د باچا په مامور پسې (یعني چا ته چي سلطان امر کړی وي).

لغات: ﴿هیئة﴾ شکل او صورت، طریقه، جمع: هیئات.

تشریح: کله چي لمر ترنڅه ونیسي، نو په دې وخت کي دوه رکعته لمونځ په جماعت سره اداء کول سنت دي، له دوو څخه زیات رکعتونه هم کولای سي، او که د جماعت موقع نه وي. نو یوازي یې هم کولای سي. وروسته فرمایي چي کوم شرطونه د جمعې د لمانځه د صحیح کېدو لپاره دي، هاغه شرطونه د لمر د ترنڅي نیولو د لمانځه لپاره هم دي، ما سوا له خطبې څخه چي په دې لمانځه کي

خطبه نسته. د صلاة الكسوف لپاره درې شيان مستحب دي: ① امام، ② وخت، يعني مكروه وخت به نه وي چې په هغه كې نفل كول مكروه وي، كه مكروه وخت وي مثلاً د مازيگر تر لمانځه وروسته لمر ترنځه ونيسي، نو په دې وخت كې به صلاة الكسوف نه كول كيږي، بلكې خلكو ته به د دعاء او استغفار كولو حكم كيږي، ③ ځاى، لكه عيدگاه يا جامع مسجد. (درمختار مع شامي ج: ١، ص: ٧٨٨، ٧٨٩ بحوالهٔ انوار الايضاح)

په صلاة الكسوف كې اذان او اقامت نسته

﴿٨٧٥﴾ بِلَا أَذَانٍ وَلَا إِقَامَةٍ (سنت دى د كسوف لمونځ) بغير له اذان او اقامت څخه.

تشريح: يعني څرنگه چې په نفلي لمانځه كې اذان او اقامت نسته، همداسې د صلاة الكسوف لپاره به هم عليحده اذان او اقامت نه كول كيږي، خو د خلكو د جمع كولو لپاره به اعلان كول كيږي.

په صلاة الكسوف كې به قرائت سرآ كيږي

﴿٨٧٦﴾ وَلَا جَهْرٍ او بغير له جهر څخه.

تشريح: د امام ابو حنيفه رَحِمَهُ الله رايه دا ده چې د كسوف په لمانځه كې به په كراره قرائت كوي؛ ځكه هغه د ورځې لمونځ دى (په شپه كې نه كيږي)، او د ورځې لمنځونه په كراره اداء كول كيږي، لېكن امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله د جهري قرائت قائل دى، لهذا كه د مقتدياتو د ترغيب او د لمونځ نه غمبدلو په غرض سره د كسوف په لمانځه كې جهراً قرائت وكړل سي، نو په دې كې څه حرج نسته، وعن محمد روايتان. (شامي ج: ٢، ص: ٦٣)

فايده: په صلاة الخوف يعني د سپوږمى د ترنځي نيولو په لمانځه كې كه په جماعت سره لمونځ كوي، نو بالاتفاق قرائت به جهراً كوي؛ ځكه چې هغه د شپې لمونځ دى.

په صلاة الكسوف كې خطبه سته، كه نه؟

﴿٨٧٧﴾ وَلَا خُطْبَةٍ او بغير له خطبې څخه.

تشريح: د لمر د ترنځي نيولو پر موقع نبي كريم ﷺ صرف د الله ﷻ د لويي بيانولو. لمونځ كولو او د صدقه كولو حكم كړى دى او د خطبې حكم يې نه دى كړى او تر لمانځه وروسته چې نبي كريم ﷺ كومه خطبه ويلې وه، هغه يوه خاصه تنبيه وه كوم چې د هغه وخت مناسب وه؛ ځكه د عربو خيال دا وو چې كله يوه حادثه او نوې خبره پېښه سي، نو كائنات غمجن كيږي، څرنگه چې په دې ورځ د نبي كريم ﷺ زوى حضرت ابراهيم ﷺ وفات سوى وو، نو په خلكو كې دا آوازه كله سوه چې نن د

هغه په غم کې لمر ترنڅې نیولی دی. نو ځکه پېغمبر ﷺ یو مختصر بیان وکړی او دا خبره یې څرګنده کړه چې لمر او سپوږمۍ دیو چا د مرګ یا ژوند په خاطر ترنڅه نه نیسي، بلکې دا د الله ﷻ د قدرت نښې دي کوم چې یې وخپل مخلوق ته ښیي. (شامي ج:۱، ص:۷۸۹)

﴿۸۷۸﴾ بَلْ یُنَادىٰ: "اَلصَّلٰوةُ جَامِعَةٌ" بلکې آواز (اعلان) به کول کیږي (داسې): چې "لمونځ په جماعت سره کېدونکی دی" (راسئ!) (یا په بله وینا: لمونځ درېدونکی دی. نو هلئ! حاضر سئ!).

لغات: ﴿یُنادیٰ﴾ د مفاعلې له بابه مضارع مجهوله ده. مصدر: مُنَاداة: بلل (رابلنه)، آواز ورته کول. ﴿الصلاة جامعة﴾ لمونځ په جماعت سره کېدونکی دی، (جماعت کېدونکی دی. یا په بله وینا جماعت درېدونکی دی). دغه عبارت څلور ډوله ویل کېدلای سي: ① دواړه منصوب ویل یعني "الصلاةَ جامعةً". تقدیر د عبارت به داسي وي: "اِحْضَرُوا الصَّلاةَ فی حال کونها جامعةً". ② دواړه مرفوع ویل د مبتداء او خبر کېدلو په وجه. ③ اول لفظ یعني "الصلاة" منصوب ویل د محذوف فعل د مفعول کېدلو په وجه او دویم لفظ "جامعة" مرفوع ویل د محذوفي مبتداء د خبر کېدلو په وجه. اصل عبارت به داسي وي "اِحْضَرُوا الصَّلاةَ هی جامعةٌ". ④ اول لفظ مرفوع ویل د فاعل کېدلو په وجه او دویم لفظ منصوب ویل د حال کېدلو په وجه. اصل عبارت به داسي وي "حَضَرَتِ الصَّلاةُ حال کونها جامعةً".

تشریح: مخکي ذکر سوه چې د صلاة الکسوف لپاره به اذان او اقامت نه کول کیږي. نو د خلکو د جمع کولو لپاره به صرف په داسي الفاظو سره هغو ته آواز کول کیږي "الصلاة جامعة" (جماعت درېدونکی دی). یا په خپله مقامي ژبه به دا اعلان کول کیږي چې لمونځ درېدونکی دی (یا جماعت درېږي او داسي نور).

په صلاة الکسوف کې د قرائت مقدار

﴿۸۷۹﴾ وَ سُنَّ تَطْوِیْلُهُمَا او سنت دي د دې دواړو رکعتونو اوږدول وَتَطْوِیْلُ رُکُوْعِهِمَا وَ سُجُوْدِهِمَا او (سنت دي) د دوی رکوع او سجدې اوږدول.

تشریح: په صلاة الکسوف کې سنت دا ده چې اوږد قرائت وکړي مثلاً سورة البقرة او سورة آل عمران پکښې ووایي (که چیري ورته یاد وي)، په همدې مناسبت سره رکوع او سجده وغیره دي هم

اوږده وکړي، لکه څرنګه چي له حديثو څخه د نبي کريم ﷺ دا عمل ثابت دی. (در مختار مع الشامي ج: ۲، ص: ۶۳، ط: بيروت)

د ترنڅي د ختمېدو تر وخته پوري دعاء کول

﴿۸۸۰﴾ ثُمَّ يَدْعُو الْإِمَامُ جَالِسًا مُسْتَقْبِلَ الْقِبْلَةِ إِنْ شَاءَ بیا دي دعاء وکړي امام په ناستي مخ پر قبله که یې خوښه وي أَوْ قَائِمًا مُسْتَقْبِلَ النَّاسِ یا (دي دعاء وکړي) په ولاړي مخ پر خلکو (که وغواړي) وَهُوَ أَحْسَنُ او دا (مخ پر خلکو دربدل) زیات ښه دي وَيُؤَمِّنُونَ عَلَى دُعَائِهِ او لمونځ ګزاران دي آمین وايي د امام پر دعاء حَتّٰى يَكْمُلَ اِنْجِلَاءُ الشَّمْسِ تر دې چي پوره سي د لمر روښانه کېدل (یعني لمر په پوره توګه روښانه سي).

لغات: ﴿يؤمّنون﴾ د تفعیل له بابه د جمع مذکر غائب مضارع صیغه ده، مصدر: تأمين: آمین ویل، او "آمين" اسم فعل دی معنیٰ یې ده: (اې الله!) قبوله یې کړه!، ﴿انجلاء﴾ د انفعال د باب مصدر دی: ښکاره کېدل، روښانه کېدل (ترنڅه او تیاره لیري کېدل).

تشريح: فرمايي تر لمانځه وروسته دي امام د لمر د روښانه کېدو تر وخته پوري دعاء کوي، په لمانځه کي طول کول او په دعاء کي تخفیف کول یا په دعاء کي طول کول او په لمانځه کي تخفیف کول دواړه ډوله جائز دي، د دې لپاره چي د ترنڅي وخت په لمانځه او دعاء سره پوره کړل سي. بیا په دغه دعاء کي امام ته اختیار دی چي د دعاء کولو په وخت کي مخ پر قبله کښېني، یا په ولاړي د قوم وطرف ته مخ کوي او خلک به د هغه پر دعاء آمین وايي، همدا دویم صورت غوره دی. (شفاء الارواح)

﴿۸۸۱﴾ وَإِنْ لَّمْ يَحْضُرِ الْإِمَامُ او که امام حاضر (موجود) نه وي صَلُّوْا فُرَادٰى نو لمونځ دي وکړي خلک تنها، تنها (یوازي، یوازي) كَالْخُسُوْفِ لکه د سپوږمۍ په ترنڅه نیولو کي وَالظُّلْمَةِ الْهَائِلَةِ نَهَارًا او (لکه) د ورځي په خوفناکه تیاره (تور تم) کي وَالرِّيْحِ الشَّدِيْدَةِ وَالْفَزَعِ او په سخت (تېز) باد کي او په بېره (بې قراري) کي.

لغات: ﴿ظلمة﴾ تیاره، تاریکه، ﴿هائلة﴾ د نصر له بابه اسم فاعل دی: په بېره کي اچونکی، بېرونکی، خوفناک، هَالَ يَهُوْلُ هَوْلًا: په بېره کي اچول، ﴿الفزع﴾ د دې لفظ څو معناوي نقل سوي دي چي له هغوی څخه یو معنی ده: بېره (خوف)، جمع: أفزاع. (معجم الوسيط)

تشریح: ټوله امامان پر دې متفق دي چې صلاة الکسوف (یعني دلمر د ترنځي نیولو لمونځ) په جماعت سره کول سنت دي، او که امام نه وي، نو یوازي لمونځ کول جائز دي، لکه څرنګه چې صلاة الخسوف (یعني د سپوږمۍ د ترنځي نیولو لمونځ) یوازي کول سنت دي او په جماعت سره کول جائز دي. همدارنګه که تېز باد وچلیږي، یا د ورځې سخته تیاره وغوړیږي، یا د شپې ناڅاپه زیاته رڼا ښکاره سي، یا د زلزلې او داسي بل شي په وجه وحشت او بېره خپره سي، یا وبائي مرض وغوړیږي (لکه په اوس وخت کي د کرونا وبا چي که حقیقتاً خپره سي)، نو په داسي حالاتو کي بغیر له جماعته یوازي نفلي لمنځونه کول غوره دي. (درمختار مع الشامی بیروت ج: ۳، ص: ۶۴، کتاب المسائل ص: ۴۶۸)

❀ ❀ ❀

که د لمر د ترنځي په وخت کي پر آسمان وریځ وغوړیږي؟

مسئله (۱): که د لمر د ترنځي نیولو په دوران کي پر آسمان وریځ وغوړیږي، یا ګرز او دوړي سي چي د هغه په وجه د لمر ترنځه نه معلومیږي، نو بیا به هم صلاة الکسوف کول کیږي. (شامي ج: ۳، ص: ۶۲، کتاب المسائل ص: ۴۶۷)

ښځي به صلاة الکسوف یوازي کوي

مسئله (۲): د لمر د ترنځي نیولو په وخت کي ښځو ته پکار دي چي په خپلو کورو کي په لمانځه، دعاء او عبادت مشغولي سي، په جماعت کي دي شرکت نه کوي. (شامي ج: ۳، ص: ۶۴ ط: بیروت، کتاب المسائل ص: ۴۶۸)

❀ ❀ ❀

بَابُ الْاِسْتِسْقَاءِ

(دا) د باب د باران د طلب کولو (په بیان کې) دی

تشریح:

د استسقاء لغوي او اصطلاحي معنیٰ: د استسقاء لغوي معنیٰ ده: د باران طلب کول. او به غوښتل. او د شریعت په اصطلاح کې د استسقاء معنیٰ ده: د وچکالۍ (قحط سالی) په وخت کې له الله تعالیٰ څخه د باران د طلب کولو لپاره په مخصوص کیفیت سره استغفار او دعاء کول. یا لمونځ کول. اول ځل استسقاء په ۶ هجري کال د رمضان په میاشت کې وسوه. استسقاء په داسې ځای کې مشروع ده چې هلته تالابونه، نهرونه (ویالې) او داسې ځاګان نه وي چې له هغوی څخه خلک او به څیښي او خپلو ځارویو، کښتونو ته له هغوی څخه او به ورکوي، یا خو دا شیان (تالابونه، نهرونه او داسې نور) موجود وي، لیکن د دوی د ضرورت لپاره کافي نه وي، او که دا شیان موجود وي او کافي وي، نو خلک به د استسقاء لپاره نه وځي؛ ځکه استسقاء صرف د سخت ضرورت په وخت کې کیږي. (شفاء الارواح، انوار الایضاح)

د باران د طلب کولو د صورتونو بیان

﴿۸۸۲﴾ لَهٗ صَلٰوةٌ مِنْ غَيْرِ جَمَاعَةٍ داستسقاء لپاره لمونځ سته بغیر له جماعت څخه وَلَهُ اسْتِغْفَارٌ او د استسقاء لپاره (صرف) استغفار (هم) سته.

تشریح: د امام ابو حنیفه رَحِمَہُ اللہ په نیز په استسقاء کې په جماعت سره لمونځ کول سنت نه دي، خو جائز بلکې مستحب دي، همدا صحیح ده؛ ځکه له احادیثو او آثارو څخه دا ثابتیږي چې بعضې وخت هغه په جماعت سره سوی دی او بعضې وخت له جماعت څخه بغیر صرف دعاء او استغفار ویل سوي دي، نو له نبي کریم ﷺ څخه چې د استسقاء کومې طریقې روایت سوي دي. له هغوی څخه چې هره طریقه اختیار کړل سي، د امام صاحب رَحِمَہُ اللہ په نیز په هغه سره سنت اداء کیږي. او هغه روایت سوي طریقې په جماعت سره لمونځ کول. یا تنها. تنها لمونځ کول یا صرف دعاء او استغفار کول دي.

بعضي متعصبینو چي دامام صاحب رَحِمَهُ الله وطرف ته دا خبره منسوب کړې ده چي په استسقاء کي په جماعت سره لمونځ کول بدعت دي، دا بالکل غلطه ده؛ ځکه دامام صاحب رَحِمَهُ الله د دې قول (چي په استسقاء کي هیڅ لمونځ مسنون نه دی) مطلب دا دی چي داستسقاء سنت صرف د لمانځه سره خاص نه دی بلکي محض په دعاء او استغفار سره هم دا سنت اداء کیږي. او د دې مطلب دا نه دی چي صلاة الاستسقاء سنت نه دی، او پاته سو د صاحبینو رَحِمَهُمَا الله په نیز دا لمونځ په جماعت سره سنت دی، چي امام به د اختر د لمانځه په څېر له اذان او اقامت څخه بغیر دوه رکعته د استسقاء لمونځ ورکوي، په دواړو رکعتونو کي به جهر کوي. او د تکبیرات زائده په ویلو کي اختلاف دی، لیکن مشهوره روایت دا دی چي نه به یې وایي. (شفاء الارواح بحوالهٔ عمدة الفقه و درسِ ترمذی)

❀ ❀ ❀

که د استسقاء د لمانځه څخه مخکي باران شروع سي؟

مسئله: که د استسقاء د لمانځه اعلان وسي، لیکن تر اوسه لا خلک سره جمع سوي نه وي چي باران شروع سي، نو هم مستحب دا ده چي د الله جَلَّ جَلَالُهُ د شکر اداء کولو لپاره خلک سره جمع سي او د لمونځ او دعاء اهتمام وکړي. (در مختار مع الشامی ج: ۲، ص: ۷۳)

د استسقاء د لمانځه مستحبات

﴿۸۸۳﴾ وَيَسْتَحِبُّ الْخُرُوْجُ لَهٗ ثَلَاثَةَ أَيَّامٍ او مستحب دي د استسقاء لپاره وتل درې ورځي مُشَاةً فِيْ ثِيَابٍ خَلَقَةٍ غَسِيْلَةٍ أَوْ مُرَقَّعَةٍ پیاده (وتل) په ځړو جامو کي کوم چي پر یو لل سوي یا پینه کړل سوي وي (یا په بله وینا داسي جامه چي پینه پکښي لګېدلې وي) مُتَذَلِّلِيْنَ مُتَوَاضِعِيْنَ په داسي حال کي چي عاجزي اختیارونکي، تواضع کونکي وي خَاشِعِيْنَ لِلّٰهِ تَعَالٰى (او) خشوع کونکي (بېرېدونکي او ځان ټیټ ښکاره کونکي) وي الله تعالیٰ لره نَاكِسِيْنَ رُؤُوْسَهُمْ (او په داسي حال کي چي) د خپلو سرونو ټیټ ساتونکي (کښته کونکي) وي مُقَدِّمِيْنَ الصَّدَقَةَ كُلَّ يَوْمٍ قَبْلَ خُرُوْجِهِمْ (او په داسي حال کي چي) مخکي ورکونکي وي د صدقې هره ورځ له خپل وتلو څخه مخکي وَيَسْتَحِبُّ إِخْرَاجُ الدَّوَابِّ وَالشُّيُوْخِ الْكِبَارِ وَالْأَطْفَالِ او مستحب دي ایستل (بېول) د څارویو، سپین ږیرو (بوډاګانو) او کوچنیانو (هم).

لغات: ﴿مشاة﴾ جمع د مَاشٍ ده، د ضرب له بابه فاعل دی: پیاده، په پښو تلونکی، ﴿خلقة﴾ مؤنث د خَلَقٌ دی: ځوړ، پخوانی، ﴿غسيلة﴾ مؤنث د غَسِيْلٌ ده: پرېولل سوې، جمع: غَسَائِل، ﴿مرقعة﴾ د تفعیل له بابه اسم مفعول دی: پینه داره جامه، داسي جامه چي پینه پکښي لګول سوې وي، رَقَّعَ يُرَقِّعُ تَرْقِيْعًا: (په جامه کي) پینه لګول، پیوند لګول، ﴿متذللين﴾ د تفعیل له بابه جمع مذکر اسم فاعل دی، تَذَلَّلَ يَتَذَلَّلُ تَذَلُّلًا: عاجزي اختیارول، ذلیل جوړېدل، ﴿متواضعين﴾ د تفاعل له بابه مخکنی صیغه ده، تَوَاضَعَ يَتَوَاضَعُ تَوَاضُعًا: ذلیل او عاجزه کېدل، ﴿خاشعين﴾ د فتح له بابه مخکنی صیغه ده: د دې باب څو معناوي دي: خَشَعَ يَخْشَعُ خُشُوْعًا: ځان ټیټ ښکاره کول (ځان ټیټول). د عاجزۍ اظهار کول، بېرېدل او داسي نور، ﴿ناكسين﴾ د نصر له بابه مخکنی صیغه ده، نَكَسَ يَنْكُسُ نَكْسًا: له ذِلت او شرمندګۍ څخه سر ټیټول، ﴿دواب﴾ جمع د دَابَّةٌ ده: چارپای، څاروی، ﴿شيوخ﴾ جمع د شَيْخٌ ده: ډېر عمر والا، سپینږیری، بوډا، ﴿الكبار﴾ جمع د كَبِيْرٌ ده: لوی، لویې مرتبې والا، ﴿أطفال﴾ جمع د طِفْلٌ ده: بچی.

تشریح: د استسقاء په لمانځه کي لاندیني شیان مستحب او غوره دي: ① کله چي د باران په موسم کي بالکل باران نه کېږي او د خدای مخلوق بې قراره او پرېشانه وي، نو امام دي د استسقاء د لمانځه څخه مخکي خلکو ته درې ورځي د روژه نیولو او د توبه او استغفار کولو حکم وکړي، بیا دي له څلورمي ورځي څخه د استسقاء لمونځ شروع کړي او درې ورځي پرلپسې دي د استسقاء لمونځ وکړي، ② د استسقاء د لمانځه لپاره دي خلک په پښو ولاړ سي، ③ په هغه ورځو کي د نورو جامو (کالیو) پر ځای خپلي ځړې (زړې) جامې یا پینه سوي جامې واغوندي، ④ د الله لپاره دي تواضع، خشوع او خضوع ښکاره کړي او له شرمندګۍ څخه دي سرونه ټیټ ساتي، فضول خبري او مذاق وغیره دي نه کوي، ⑤ هر لمانځه ته له وتلو څخه مخکي دي څه صدقه او خیرات وکړي، ⑥هر کس دي په رېښتوني زړه سره توبه وکړي او پر کوم چا چي د بل چا حق وي، نو هغه دي اداء کړي، ⑦ د ټولو مسلمانانو لپاره دي د بخښني او د عفو او کرم دعاء وکړي، ⑧ خپل کمزوري خلک، سپین ږیري او کوچنیان دي مخکي کړي او په هغوی سره دي دعاء وکړي او د هغوی په وسیله سره دي دعاء وغواړي، ⑨ کوچني بچیان دي له خپلو مندو څخه جلا کړي، د دې لپاره چي د هغو په ژړا او ناکراري سره چاپیریال رِقت آمیز او زړه نرمونکی سي، ⑩ دا هم مستحب ده چي خپل څارویان هم

د خپل ځان سره بوځي، د دې لپاره چي هغوی د رحمت الهي د متوجه کېدلو سبب وګرځي. لنډه دا چي د خدای تعالیٰ د رحمت متوجه کېدلو ټول اسباب دي اختیار کړي.

او که په مسجد کي د استسقاء لمونځ کیږي، نو څارویان دي بهر وتړي. (انوار الایضاح)

په مکه معظمه، مدینه منوّره او بیت المقدس کي به استسقاء چیري کیږي؟

﴿۸۸۴﴾ وَفِیْ مَکَّةَ وَبَیْتِ الْمَقْدِسِ فَفِی الْمَسْجِدِ الْحَرَامِ وَالْمَسْجِدِ الْأَقْصٰی یَجْتَمِعُوْنَ او په مکه او بیت المقدس کي به په مسجدِ حرم او مسجد اقصیٰ کي خلک جمع کیږي وَیَنْبَغِیْ ذٰلِكَ أَیْضًا لِأَهْلِ مَدِیْنَةِ النَّبِیِّ ﷺ او ښکار دي همدا د نبي کریم ﷺ د ښار (مدینې شریفې) خلکو لره (چي په مسجد نبوي کي جمع سي).

لغات: ﴿مکة﴾ مبارک ښار چي هلته مسجد حرام او کعبه شریفه ده، او هلته د ګران پیغمبر ﷺ ولادت سوی دی، تعظیماً ورته مکّه معظمه او مکّه مکرّمه ویل کیږي، دا لفظ (مکّة) غیر منصرف دی؛ ځکه په دې کي علمیت او تأنیث لفظي دی، ﴿بیت المقدس﴾ سپېځلی کور، مبارک ځای، کوم چي د فلسطین مشهوره تاریخي ښار دی، ﴿مسجد الأقصی﴾ په بیت المقدس کي مشهوره مسجد چي د هغه بنیاد حضرت داؤد علیه السلام ایښی دی او تکمیل یې حضرت سلیمان علیه السلام کړی دی، ﴿مدینة﴾ د نبي کریم ﷺ مبارک ښار چي هلته نبي ﷺ له مکې څخه هجرت وکړی، او "مدینة" په اصل کي هغه ښار ته ویل کیږي کوم چي ټولو تهذیبي او تمدّني ضروریاتو و لوازماتو لره جامع وي، جمع: مَدَائِن و مُدُن.

تشریح: د مکې معظمې خلک دي د استسقاء لپاره په مسجد حرام کي جمع کیږي، د بیت المقدس خلک دي په مسجد اقصیٰ او د مدینې منورې خلک دي په مسجد نبوي کي جمع کیږي، د نورو ځایو خلک دي له آبادۍ څخه بهر یو خالي میدان ته وځي، په مکه او مدینه کي د ضرورت پر موقع داسي کول کیږي. (شفاء الارواح)

د استسقاء په دعاء کي به امام څنګه دریږي او لاسونه به څنګه پورته کوي؟

﴿۸۸۵﴾ وَیَقُوْمُ الْإِمَامُ مُسْتَقْبِلَ الْقِبْلَةِ رَافِعًا یَدَیْهِ او امام دي (د استسقاء په دعاء کي) مخ پر قبله دریږي په داسي حال کي چي خپل لاسونه یې پورته کړي وي وَالنَّاسُ قُعُوْدٌ مُسْتَقْبِلِیْنَ

الْقِبْلَةَ يُؤَمِّنُوْنَ عَلٰى دُعَائِهٖ او خلک دي مخ پر قبله ناست وي آمين دي وي د امام پر دعاء.

تشریح: په استسقاء کي د دعاء پر مهال دي امام مخ پر قبله ودریږي: ځکه په دعاء کي د قبلې وطرف ته مخ کول افضل او أقرب إلى الإجابة دي، او په دعاء کي دي لاسونه پورته کړي او ښه دي يې پورته کړي؛ ځکه د کوم مطلب لپاره چي دعاء کول کيږي هغه چي څومره درونډ او لوی وي، په هغه کي د لاسونو پورته کول هغومره لوړېدل پکار دي (عمدة الفقه)، او خلک به مخ پر قبله ناست وي او د امام پر دعاء به آمين وايي، امام به لاندينۍ مذکوره دعاء وايي (کوم چي په راروان عبارت کي ذکر سوې ده).

يادونه: په صحيح حديث سره ثابت دي چي نبي ﷺ د استسقاء د دعاء په وخت کي د عامو دعاګانو په خلاف طريقه اختيار کړې ده چي د مبارکو ورغوو حصه يې د ځمکي وطرف ته او د لاسو پاسنۍ حصه يې د آسمان وطرف ته يا په بله وينا په چپه اړول سوو سره يې دعاء کړې ده. په همدې وجه فقهاؤ هم د استسقاء په دعاء کي دغه کيفيت غوره ګڼلی دی. (طحطاوي على مراقي الفلاح ص: ٣٠١. كتاب المسائل ص: ٤٧٢)

د استسقاء دعاء

٨٨٦ يَقُوْلُ امام دي (دا دعاء) ووايي اَللّٰهُمَّ اسْقِنَا غَيْثًا مُغِيْثًا اې الله! موږ اوبه کړه! په داسي باران سره کوم چي د سختۍ (وچکالۍ) ختمونکی وي هَنِيْئًا مَرِيْئًا مبارک وي. خوندور (په زړه پوری) وي (او بعضو د دې ترجمه کړې ده: اداسي باران! چي په ظاهري او باطني اعتبار سره فايده مند وي) مُرِيْعًا (او داسي باران چي) شين ګياه راوستونکی (د ځمکي زرغونونکی) وي غَدَقًا زيات اوربدونکی وي مُجَلِّلًا (د ټولي ځمکي) پټونکی وي (يعني داسي باران چي په وښو سره ځمکه پټه کړي. يا پټونکي وي د آسمان. په وريځي سره) سَحًّا پرلپسې (مسلسل) اوربدونکی وي طَبَقًا عام (يا متواتر) باران وي (چي د ټولي ځمکي نيونکی وي) دَائِمًا دوامداره وي وَمَا أَشْبَهَهٗ او (يا) کومه دعاء، چي د دې سره مشابه وي (يعني چي په الفاظو او د مقصود په اداء کي د دې دعاء په شان وي) سِرًّا أَوْ جَهْرًا په کراره (دي يې وايي) يا په لوړ آواز سره.

لغات: ﴿إِسْقِ﴾ د ضرب له بابه د واحد مذکر امر حاضر صيغه ده، مصدر: سَقْيًا: اوبول، اوبه ورکول، ﴿غيث﴾ باران. جمع: غُيُوْثٌ، أَغْيَاثٌ. ﴿مُغِيث﴾ د ميم په ضمه سره: اعانت او مدد کونکی، له

سختۍ څخه خلاصونکی. ﴿هنيئا﴾ د كَرُمَ له بابه دی: بغیر له مشقت او ستړیا څخه حاصلېدونکی شی، لکه څرنګه چې ویل کیږي: "أكلتُه هنيئًا مريئًا" ما هغه شی بغیر له څه مشقته ډېر په خوند سره وخوړی. په زړه پوری، مبارک. ﴿مريئا﴾ خوندور (مزه دار). ښه. په زړه پوری. بعضو ویلي دي چې د الهنيئ او المريئ تر مینځ فرق دا دی چې هنيئ ظاهري نفع ته او مريئ باطني نفع ته وايي، نو په دې اعتبار سره د هنيئًا مريئًا معنیٰ داسې هم کېدلای سي (داسې باران) کوم چې په ظاهري او باطني توګه نفع مند وي. ﴿مُريع﴾ د میم په ضمه سره: غيث مريع: شین ګیاه او خوشحالي راوستونکی باران، همدارنګه هر زیاتوب راوستونکي شي ته هم مُرِيع وايي. ﴿غدقًا﴾ د سمع د باب مصدر دی. غَدِقَ يَغْدَقُ غَدَقًا: باران زیات کېدل، اوبه زیاتېدل. ﴿مجلّلًا﴾ د تفعیل له بابه اسم فاعل دی، عام، پټونکی. جَلَّلَ يُجَلِّلُ تَجْلِيلًا: عام کېدل، پټول. یعني په وښو سره د ټوله ځمکي پټونکی یا په وریځي سره د ټوله آسمان پټونکی. ﴿سَحًّا﴾ د سین په فتحه او د حاء په تشدید سره. سَحَّ الْمَاءُ سَحًّا و سُحُوحًا: اوبه پرلپسې او زیاتي بهېدل، اورېدل (معجم الوسيط). ﴿طبقًا﴾ مَطَرٌ طَبَقٌ: عام. متواتر باران.

تشريح: د استسقاء پر موقع له نبي کریم ﷺ څخه څو کلمات ثابت دي، چې له هغوی څخه یو په متن کي ذکر سوي کلمات دي کوم چې د یادولو قابل دي، یا د دې په مثل الفاظو سره دې بله دعاء وکړي، مثلاً "اللّٰهم اسق عبادك وبهيمتك وانشر رحمتك وأحْيِ بلدك الميت". (انوار الایضاح. شفاء الارواح)

د خطبې په دوران کي څادر وغیره چپه اړول

﴿۸۸﴾ وَلَيْسَ فِيْهِ قَلْبُ رِدَاءٍ او نسته په استسقاء کي د څادر اړول.

لغات: ﴿قلب﴾ د ضرب د باب مصدر دی: اړول، یعني چپه اړول، صاحب د معجم د دې لفظ تعریف داسې کړی دی "قَلَبَ الشيءَ قَلْبًا (أی) جَعَلَ أَعْلَاهُ أَسْفَلَه أَو يَمِينَه شِمَالَه أَو بَاطِنَه ظَاهِرَه..." (معجم الوسيط). ﴿رداء﴾ څادر (پټو)، جمع: أَرْدِيَةٌ.

تشريح: د عبارت له حل څخه مخکي پوهېدل پکار دي چې په عبارت کي ذکر سوی قول د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نېز دی او یو روایت د امام ابو یوسف رَحِمَهُ الله هم دغه دی، خو دا غیر اصح دی.

اصح قول دا دی چې د استسقاء د خطبې په دوران کې د امام لپاره خپل څادر اړول په سنت (حدیث) سره ثابت دي او دا څادر اړول د نېک فالۍ (تفاؤل) په توګه دي په دې معنیٰ چې اوس کوم د وچکالۍ حالت ته راغلي یو، هغه حالت ته به واپس نه سو هغه حالت به واوړي، دا د امام محمد رَحِمَهُ الله په نېز دي او له امام ابو یوسف رَحِمَهُ الله څخه هم یو روایت دغسې دی او پر همدې فتویٰ ده.

د څادر اړولو طریقه: دا ده چې د څادر پاسنۍ حصه لاندې کړي او لاندینۍ حصه یې لوړه کړي، یا د څادر راسته طرف وچپه طرف ته او چپه طرف یې وراسته طرف ته واوړي، یا دننۍ حصه یې دباندې او دباندینۍ حصه یې دننه کړي، لنډه دا چې په څه طریقه سره یې قلب کولای سي، هغسې دې وکړي، حتیٰ که کوټ (یا مثلاً سدرۍ) وغیره یې اغوستي وي، نو د هغه پاسنۍ حصه دې لاندې کړي او لاندینۍ (داستر) حصه دې یې ښکاره (دباندې) کړي، "قال الشامي بحثًا: واختار القدوري قول محمد رَحِمَهُ الله، لأنه ﷺ فعل ذلك، نهر، وعليه الفتوىٰ"، "قال الطحطاوي: وعن أبي يوسف روايتان، وفي رواية أخرىٰ أنه مع محمد، وهو الأصح". (انوار الایضاح)

په شفاء الارواح کې یې د څادر اړولو طریقه دا لیکلې ده چې (کله څادر پر اوږو وي نو) دواړه لاسونه دې خپل شا ته یووسي، په راسته لاس سره دې د څادر د لاندینۍ طرف چپه کونج ونیسي او په چپه لاس سره دې د لاندې طرف راسته کونج ونیسي او بیا دې لاسونه خپل شا ته داسې سره واړوي چې د راسته لاس والا کونج (یعني په راسته لاس کې چې یې د څادر لاندینۍ چپه کونج نیولی دی هغه) په راسته اوږه باندې راسي او د چپه لاس والا کونج په چپه اوږده باندې راسي (په دې طریقه سره ډېر آسانه اوړي)، نو په دې توګه به د څادر پاسنۍ طرف لاندې سي او لاندینۍ طرف به یې لوړ سي، راسته کونج به یې چپه طرف ته او چپه به یې راسته طرف ته واوړي. (بحوالۀ عمدة الفقه)

﴿۸۸۸﴾ وَلَايَحْضُرُهٗ ذِمِّيٌّ او نه دې حاضرېږي استسقاء ته ذمي کافر (نو غیرِ ذمي کافر خو به بېخي نه پرېښوول کېږي).

لغات: ﴿ذمي﴾ هغه کافر چې په اسلامي هیواد کې اوسېږي او اسلامي حکومت له هغه څخه جزیه (ټیکس) اخلي.

تشریح: فرمایي چې استسقاء ته به ذمي کفار نه حاضرېږي او هغوی به دلته نه پرېښوول کېږي؛ ځکه دلته مسلمانان د رحمت نازلېدلو (رحمت اورېدلو) د دعاء لپاره راوتلي دي، حال دا چې پر کفارو لعنت اورېږي. (شفاء الارواح بحوالۀ حاشیه)

❀ ❀ ❀

بَابُ صَلَاةِ الْخَوْفِ

(دا) فصل د بیرې د لمانځه (په بیان کې) دی

تشریح: ټوله اُمت پر دې متفق دی چې صلاة الخوف نن هم مشروع دی (د نبي ﷺ د زمانې سره خاص نه دی، بلکې مشروعیت یې باقي دی)، صرف امام ابو یوسف رَحِمَهُ الله اختلاف کوي، هغه فرمایي چې د نبي ﷺ له زمانې څخه وروسته صلاة الخوف نسته، بلکې اوس به د خوف په حالت کې دوه امامان جوړول کیږي او خلک به دوې ډلې کیږي او هر امام به جلا خپلې ډلې ته پوره لمونځ ورکوي، او دا د نبي کریم ﷺ خصوصیت وو چې هر سړي به خپل آخري لمونځ په نبي ﷺ پسې کول غوښتل، نو ځکه نبي کریم ﷺ به هرې ډلې ته یو، یو رکعت لمونځ ورکوی، لنډه دا چې امام ابو یوسف رَحِمَهُ الله له نبوي دور څخه وروسته د صلاة الخوف مشروعیت نه تسلیموي، لېکن دا صحیح نه ده، ځکه د سنن بیهقي په یو اثر کې راغلي دي چې ابو موسیٰ اشعري ؓ په خپله زمانه کې صلاة الخوف وکړی، همدارنګه له سعد بن ابی وقاص، ابو عبیده بن الجراح څخه هم صلاة الخوف ثابت دی.

او صلاة الخوف څه جلا لمونځ نه دی، بلکې د جهاد او جنګ کولو په دوران کې چې کله د فرضي لمانځه وخت راسي او دا خطره او ډېره وي چې که ټوله خلک په جماعت مشغوله سي، نو دښمن به حمله وکړي، حال دا چې ټوله خلک صرف په یوه امام پسې لمونځ کول غواړي، نو ډلې به دوې ډلې سي چې یوه به د دښمن د مقابلې لپاره ودرېږي او بله به په امام پسې ودرېږي. طریقه به یې څه وروسته ذکر سي.

د صلاة الخواف د جواز شرط

﴿۸۸۹﴾ وَهِيَ جَائِزَةٌ او هغه (صلاة الخوف) جائز دی بِحُضُوْرِ عَدُوٍّ د دښمن د حاضر والي (موجود والي) په وخت کې وَبِخَوْفِ غَرْقٍ أَوْ حَرْقٍ او د غرقېدلو یا سوځل کېدلو د بیرې په وخت کې.

لغات: ﴿عدوّ﴾ دښمن، د مذکر او مؤنث، واحد او جمع ټولو لپاره ویل کیږي، ځیني وخت د دې تثنیه او مؤنث هم جلا استعمالیږي، جمع: أَعْدَاء، عِدًى، جمع الجمع: أَعَادٍ.

تشریح: د صلاة الخوف د جائز کېدو لپاره شرط دا دی چې دښمن به حاضر وي یعنې داسې نژدې وي چې په نظر راځي او په یقین سره دا ډېره او خطره وي چې که ټوله خلک په جماعت مشغوله سي، نو دښمن به حمله وکړي، لهذا که دښمن ډېر لیري وي، نو صلاة الخوف جائز نه دی.

دلته له دښمن څخه مراد دا دی چې یا انساني دښمن وي لکه کفار او داسې نور، یا درنده او څیرونکي حیوان، یا اړي مار (اژدها) او داسې نور وي.

وبخوف غرق سخ: همدارنګه که سخت سیلاب او مانده راغلی وي او دا ډېره وي چې که ټوله په جماعت مشغوله سي او ځیني د اوبو مخنیوی نه وکړي، نو موږ به غرق (ډوب) سو، یا مثلاً څو خلک په کښتۍ کي وي او طوفاني حالت وي او دا ډېره وي چې که د کښتۍ ټوله ملګري په جماعت مشغوله سي، نو غرق به سي. یا یو ځای سخت اُور لګېدلی وي او مخ ته را روان وي او که ټوله حاضرین په جماعت مشغوله سي، نو د سوځېدلو ډېره وي، نو په دې ټولو صورتونو کي صلاة الخوف جائز دی.

د صلاة الخوف طریقه

﴿۸۹۰﴾ وَإِذَا تَنَازَعَ الْقَوْمُ فِي الصَّلٰوةِ خَلْفَ إِمَامٍ وَّاحِدٍ او کله چې اختلاف (او تینګار) وکړي خلک په لمونځ کولو کي په یوه امام پسې (مثلاً ټوله مجاهدین غواړي چې صرف په دې یوه امام پسې لمونځ وکړي (کوم چې دوی ته مقبول او خوښ وي)) فَيَجْعَلُهُمْ طَائِفَتَيْنِ نو امام دې هغوی دوې ډلې کړي (پر دوو ډلو دې یې تقسیم کړي) وَاحِدَةً بِإِزَاءِ الْعَدُوِّ یوه دې د دښمن په مقابله کي کړي (یعنې یوه ډله دې د دښمن مخ ته واستوي) وَيُصَلِّيْ بِالْأُخْرٰى رَكْعَةً مِنَ الثُّنَائِيَّةِ وَرَكْعَتَيْنِ مِنَ الرُّبَاعِيَّةِ أَوِ الْمَغْرِبِ او لمونځ دې ورکړي بلې (دویمې) ډلې ته یو رکعت له دوه رکعتیز لمانځه څخه او دوه رکعته (دې ورکړي) له څلور رکعتیز لمانځه یا د ماښام له لمانځه څخه وَتَمْضِيْ هٰذِهٖ إِلَى الْعَدُوِّ مُشَاةً او بیا دې دا (دویمه) ډله ولاړه سي د دښمن و طرف ته پیاده (په پښو) وَجَاءَتْ تِلْكَ او را دې سي هغه (ډله کوم چې د دښمن په مقابله کي وه) فَصَلّٰى بِهِمْ مَا بَقِيَ وَسَلَّمَ وَحْدَهٗ نو هغو ته دې پاتې لمونځ ورکړي او سلام دې وګرځوي امام یوازې (ځکه چې د امام لمونځ پوره سو) فَذَهَبُوْا إِلَى الْعَدُوِّ ثُمَّ جَاءَتِ الْأُوْلٰى بیا دې هغوی ولاړ سي د دښمن و طرف ته (او) بیا دې

هغه اوله ډله راسي وَ أَتَمُّوْا بِلَا قِرَاءَةٍ او پوره دي کړي دوی (اولي ډلي والا، خپل پاته لمونځ) بغير له قرائت څخه (ځکه دوی لاحقين دي او پر لاحق قرائت نشته) وَ سَلَّمُوْا وَ مَضَوْا او سلام دي وګرځوي او ولاړ دي سي (د دښمن وطرف ته) ثُمَّ جَاءَتِ الْأُخْرىٰ إِنْ شَاءُوْا بيا دي هغه بله ډله راسي که يې خوښه وه (کنې پر خپل ځای دي هلته پاته سي) وَصَلُّوْا مَا بَقِيَ بِقِرَاءَةٍ او پاته لمونځ دي په قرائت سره وکړي (پوره کړي).

لغات: ﴿تنازع﴾ د تفاعل له بابه د واحد مذکر غائب ماضي صيغه ده: په خپل مينځ کي اختلاف کول، جنجال کول. ﴿طائفتين﴾ تثنيه د طَائِفَةٌ ده: د خلکو جماعت، ډله، جمع: طَائِفَات و طَوَائِفُ، ﴿إزاء﴾ مقابله، بإزاء: په مقابله کي، مخامخ، آزَىٰ يُوَازِيُ مُوَازَةً الرَّجُلَ: يو د بل مقابل او نژدې کېدل. ﴿ثنائية﴾ مراد: دوه رکعتيز.

تشريح: ښکاره دي وي چي صلاةُ الخوف په مختلفو طريقو سره نقل سوی دی، امام ابو داؤد رَحِمَهُ الله اته (٨) طريقې، ابن حزم رَحِمَهُ الله څوارلس (١۴) طريقې او ابو الفضل عراقي رَحِمَهُ الله اوولس (١٧) طريقې ذکر کړي دي، خو د احنافو په نېز افضله او غوره طريقه مذکوره طريقه ده (کوم چي په عبارت کي ذکر سوې ده).

حاصل د عبارت دا دی چي کله ټوله حاضر خلک (مثلاً ټوله مجاهدين) پر دې ټينګار وکړي چي موږ صرف په دې يوه امام پسي لمونځ کوو، مثلاً په دوی کي يو څوک بزرګ شخصيت وي چي ټوله په هغـه پسي لمونځ کول غواړي، نو طريقه يې دا ده چي امام دي خلک دوې ډلي (دوه جماعته) کړي، د مثال په توګه يوه د "غزنوي صاحب" ډله او بله د "فاروقي صاحب" ډله، نو له دوی څخه دي يوه ډله مثلاً د "فاروقي صاحب" ډله پر محاذ (سنګر) باندي د دښمن د مقابلې لپاره ودرېږي او د "غزنوي صاحب" ډلي ته دي امام يو رکعت لمونځ ورکړي که چيري لمونځ دوه رکعتيز وي مثلاً د سهار لمونځ وي يا سفرانه لمونځ کوي (يعني په څلور رکعتيز لمانځه کي قصر کوي او دوه رکعته کوي)، او که د ماښام لمونځ وي يا څلور رکعتيز لمونځ وي، نو بيا به هغو (د غزنوي ډلي) ته دوه رکعته لمونځ ورکړي، کله چي دا يو رکعت يا دوه رکعته پوره کړي يعني کله چي د اول رکعت له دويمي سجدې څخه سر را پورته کړي يا (په ماښام او څلور رکعتيز لمانځه کي) د دويم رکعت له دويمې سجدې څخه سر را پورته کړي، نو دا ډله (يعني د غزنوي صاحب ډله) دي په پښو ولاړه سي او د شمن مقابلې ته دي ودرېږي، او دويمه د فاروقي صاحب ډله دي راسي (او تر څو چي دا دويمه ډله را رسېږي، تر هغه وخته دي امام کښېني.

انتظار دي وکړي او چي هغوی راسي. نو) امام دي هغو ته يو رکعت يا دوه رکعته لمونځ ورکړي (يعني که دوه رکعتيز لمونځ وي. يو رکعت دي ورکړي. کوم چي د امام آخري رکعت سو او که ځلور رکعتيز لمونځ وي. نو دوه رکعته دي ورکړي. کوم چي د امام آخري دوه رکعته سوه)، څرنګه چي دا د امام آخري يو رکعت يا آخري دوه رکعته سوه، نو ځکه اوس دي امام په آخر کي کښېني، تشهد دي ووايي او سلام دي وګرځوي، او د دغه دوېمي ډلي يعني د فاروقي صاحب د ډلي صرف يو رکعت يا دوه رکعته پوره سو، نو هغوی دي د امام سره سلام نه ګرځوي، بلکي بېرته دي د دښمن مخ ته ولاړه سي، او د غزنوي ډله دي بېرته راسي. او خپل پاته لمونځ يعني دوېم رکعت يا درېيم او ځلورم رکعت دي پوره کړي او سلام دي وګرځوي. او دا بېرته راتګ ضروري نه دی، بلکي که د دوی خوښه وي، نو پر خپلو ځايو هم دا پاته لمونځ پوره کولای سي (شفا، ۷۱، ج۱)، او دا اوله ډله يعني د غزنوي صاحب ډله دي په دې خپل پاته لمانځه کي قرائت نه کوي، ځکه دوی په خپل پاته لمانځه يعني په دوېم رکعت يا په درېيم او ځلورم رکعت کي لاحقين دي، ځکه چي اول يو رکعت يا اول دوه رکعته يې د امام سره نيولی وه، نو ځکه آخري پاته لمونځ به بغير له قرائت څخه وکړي، ځکه پر لاحق قرائت نسته، تر سلام ګرځولو وروسته دي د غزنوي ډله د دښمن مخ ته ولاړه سي، او د فاروقي ډله دي بېرته راسي او خپل پاته لمونځ يعني يو رکعت يا دوه رکعته دي پوره کړي او سلام دي وګرځوي، او د دوی لپاره هم بېرته راتګ ضروري نه دی. او دوی يعني د فاروقي صاحب ډله (کوم چي دوېمه ډله ده) په خپل دوېم رکعت کي مسبوقين دي، ځکه چي دوی د امام سره دوېم رکعت يا آخري دوه رکعته نيولی وه، اول يو رکعت يا دوه رکعته ځني تېر سوی وه. او څوک چي مسبوق وي، هغه به د قرائت سره خپل پاته لمونځ پوره کوي، نو ځکه د فاروقي صاحب ډله به خپل پاته لمونځ د قرائت سره پوره کړي. (مأخوذ از انوار الايضاح و شفاء الارواح بتغير)

پر سپارلي صلاة الخوف کول

﴿۸۹۱﴾ وَإِنِ اشْتَدَّ الْخَوْفُ او که (د دښمن) ډېره سخته سي (زياته سي) صَلُّوْا رُكْبَانًا فُرَادىٰ بِالْإِيمَاءِ إِلٰى أَيِّ جِهَةٍ قَدَرُوْا نو لمونځ دي وکړي د سپرتيا په حالت کي تنها، تنها په اشاره کولو سره و کوم طرف ته چي د دوی قدرت وي.

لغات: ﴿فرادیٰ﴾ دا خلاف القياس د فَرْدٌ جمع ده او دلته په ترکيب کي حال دی لکه څرنګه چي رُكْبَانًا حال دی. ﴿ايماء﴾ دا افعال د باب مصدر دی: اشاره کول.

تشريح: مسئله دا ده چي که د دښمن ډېره ډېره سخته سي په دې توګه چي مسلمانانو ته له سپارليو څخه د شوه کېدلو موقع لا هم نه ورکوي، نو په داسي صورت کي پر سپارليو په ناستي د رکوع او سجدې په اشاره سره تنها، تنها لمونځ کول جائز دي، او د قبلې و طرف ته که مخ نه سي اوړلای، نو

وکوم طرف ته چي ممکنه وي، لمونځ دي وکړي، دلته یې د "فُرادٰی" قید ځکه لګولی دی چي د سپرتیا په حالت کي په جماعت سره لمونځ کول جائز نه دي، لیکن که پر یوه سپارلي دوه یا زیات کسان سپاره وي، نو د اتحاد مکان په وجه اقتداء صحیح کیږي. (شفاء الارواح)

﴿٨٩٢﴾ وَلَمْ تَجُزْ بِلَا حُضُوْرِ عَدُوٍّ او صلاة الخوف نه جائز کیږي بېله حاضر والي (موجود والي) د دښمن.

تشریح: یعني صلاة الخوف همغه وخت جائز دی کله چي دښمن مخامخ حاضر وي، او که دښمن لیري وي (په دې توګه چي د حملې خطره یې نه وي)، نو صلاف الخوف جائز نه دی (لکه مخکي چي هم ذکر سوه چي د صلاة الخوف د جائز کېدلو شرط د دښمن حاضر بدل او موجود بدل دي).

﴿٨٩٣﴾ وَيَسْتَحِبُّ حَمْلُ السِّلَاحِ فِي الصَّلٰوةِ عِنْدَ الْخَوْفِ او مستحب دي وسله اخیستل (د ځان سره) په لمانځه کي د بیري په وخت کي.

تشریح: د صلاة الخوف په حالت کي وسله د ځان سره اخیستل د احنافو په نېز مستحب او افضل دي، واجب نه دي.

﴿٨٩٤﴾ وَإِنْ لَّمْ يَتَنَازَعُوْا فِي الصَّلٰوةِ خَلْفَ إِمَامٍ وَّاحِدٍ او که دوی اختلاف نه وکړي په لمونځ کولو کي په یوه امام پسي فَالْأَفْضَلُ صَلٰوةُ كُلِّ طَائِفَةٍ بِإِمَامٍ نو افضل دي د هري ډلي لمونځ کول په جلا په امام پسي مِثْلَ حَالَةِ الْأَمْنِ د امن د حالت په څېر.

تشریح: د عبارت حاصل دا دی چي که د خوف په حالت کي حاضر خلک (مثلاً مجاهدین) په یوه امام پسي په لمونځ کولو باندي ټینګار او اختلاف نه کوي، نو بیا غوره او افضل دا ده چي د خلکو یوه ډله دي د دښمن د مقابلې لپاره ودرېږي او بلې ډلي ته دي امام پوره لمونځ ورکړي او کله چي لمونځ ختم سي نو دا ډله دي د دښمن مقابلې ولېږي او هغه بله ډله کوم چي مخکي د دښمن پر مقابله وه، په هغوی کي دي یو کس ته حکم وکړي چي هغو ته پوره لمونځ ورکړي، ګواکي د امن د حالت په څېر دي دواړه ډلي په دوو جلا امامانو پسي جماعت وکړي.

❀ ❀ ❀

بَابُ أَحْكَامِ الْجَنَائِزِ

(دا) باب د جنازې د احکامو (په بیان کې) دی

تشریح: کله چې مصنف رَحِمَهُ الله د هغه احکامو له بیان څخه فارغه سو چې د هغوی تعلق د انسان د ژوند سره دی، نو اوس مناسبه معلومه سوه چې هغه احکام بیان کړي کوم چې د انسان د مرګ او تر هغه وروسته حالت سره تعلق لري.

جنائز جمع د "جنازة" ده، د جیم په فتحه سره "جَنازة" مړي ته ویل کیږي، او د جیم په کسره سره "جِنازة" تابوت او هغه تختې ته ویل کیږي چې پر هغې مړی پرې ایستل کیږي، بعضو د دې برعکس ویلي دي. (شفاء الارواح)

د مرګ د حالت احکام

﴿۸۹۵﴾ يُسَنُّ تَوْجِيْهُ الْمُحْتَضَرِ لِلْقِبْلَةِ عَلٰى يَمِيْنِهٖ سنت دي مخ ګرځول د قریبُ الموت کس (کوم چې د زکندن په حالت کې وي) د قبلې و طرف ته وَجَازَ الْإِسْتِلْقَاءُ او جائز دي ستوني ستخ پرې باسل (څملول) وَيُرْفَعُ رَأْسُهٗ قَلِيْلًا او د هغه سر دې لږ پورته کړی سي.

لغات: ﴿توجیه﴾ د تفعیل د باب مصدر دی: مخامخ کول، (دیو چا) مخ اړول، ﴿استلقاء﴾ د استفعال د باب مصدر دی: ستوني ستخ پرې ایستل (پرې باسل).

تشریح: مړ کېدونکي کس ته المُحْتَضَر ویل سوي دي، دا ځکه چې هغه ته مرګ حاضرېدونکی دی، یا د مرګ فرشتې هغه ته حاضرېږي، د مرګ نښي او علامې دا دي چې (۱) د انسان پښې سستي (مړې) سي، ولاړېدلای نه سي، (۲) ساه یې سره توله سي او تېزي پکښي راسي، (۳) پزه یې کږه سي، (۴) د خصیتینو (خوټو) پوست یې اوږد سي (او وېړ سیږي)؛ لنډه دا چې کله پر انسان د مرګ علامې ښکاره سي، نو سنت دا ده چې دغه قریبُ الموت کس دې په راسته اړخ باندې مخ پر قبله پرې باسي، ځکه چې په قبر کې د مړي د ایښوولو سنت طریقه همدغه ده، نو پر هغه په قیاسولو سره به قریبُ الموت کس هم په دې طریقه سره پرې ایستل کیږي، ځکه دا کس قبر ته نژدې دی، او ستوني ستخ پرې باسل یې هم جائز دي او دغه کیفیت (یعني ستوني ستخ...) مختاره او غوره کیفیت شمېرل

سوی دی، ځکه په دې کیفیت کي روح ډېر په آساني سره وځي، په دې صوت کي به د قریب الموت کس پښې د قبلې وطرف ته وي او سر به یې د مشرق و طرف ته وي، خو په دې صورت کي دي د هغه تر سر لاندي بالښت یا بل یو جګ شی هم کښېښول سي، د دې لپاره چي مخ یې د قبلې پر طرف سي او د آسمان و طرف ته نه سي، لېکن د دې کیفیت په باره کي هیڅ نص نه دی ذکر سوی، نو ځکه مصنف رَحِمَهُ الله اول کیفیت ته سنت ویلي دي، یعني پر اړخ پرې باسل.

د تلقین حکم

﴿٨٩٦﴾ وَيُلَقَّنُ بِذِكْرِ الشَّهَادَتَيْنِ عِنْدَهٗ مِنْ غَيْرِ إِلْحَاحٍ او تلقین به کول کیږي د شهادت د دواړو کلمو د ذکر کولو د مړي سره (نژدې) بغیر له ټینګار کولو څخه (یا په بله وینا چي د مړي سره نژدې د کلمهٔ شهادت ویلو تلقین به کول کیږي) وَلَا يُؤْمَرُ بِهَا او حکم به نه کول کیږي هغه ته د دې (کلمهٔ شهادت ویلو).

لغات: ﴿یلقن﴾ د تفعیل له باب څخه مضارع مجهوله ده: لارښوونه، پوهول، په ټینګه ورته ویل، د چا مخته په لوړ آواز سره څه ویل چي هغه یې ووایي، ﴿الحاح﴾ د افعال د باب مصدر دی: ټینګار کول، اصرار کول.

تشریح: فرمايي چي قریبُ الموت کس ته دي د شهادتَینو تلقین ورکول سي، دا مستحب عمل دی، د تلقین طریقه دا ده چي کله پر انسان د مرګ آثار او علامې ښکاره سي، نو یو څوک دي د هغه سره کښېني او په لوړ آواز سره دي شهادتَین (کلمهٔ شهادت) یعني "أَشْهَدُ أَنْ لَّا إِلٰـهَ إِلَّا اللهُ، وَ أَشْهَدُ أَنَّ مُحَمَّدًا رَّسُوْلُ اللهِ" ووايي، او هغه ته دي حکم نه کوي چي ته دا کلمه ووایه!، ځکه پر هغه دا وخت ډېر د سختۍ وخت وي، داسي نه (نعوذ بالله) چي انکار وکړي، نو خاتمه به یې پر کفر سني، او کله چي دا قریبُ الموت کس یو وار کلمه ووايي، نو تلقین ورکونکی دي چپ سي او دا کوښښ دي نه کوي چي هغه یې بار، بار ووايي؛ ځکه مقصد دا دی چي آخري کلام د هغه له خولې څخه کلمه مبارکه ووځي، نو کله چي هغه کلمه ووېله، مقصود حاصل سو، نو ځکه اعاده ته یې ضرورت نسته.

﴿٨٩٧﴾ وَتَلْقِيْنُهٗ فِي الْقَبْرِ مَشْرُوْعٌ او هغه ته تلقین کول په قبر کي مشروع (په شریعت کي روا) دي وَقِيْلَ: لَا يُلَقَّنُ او ویل سوي دي (یعني بل قول دا دی): چي تلقین دي نه کول کیږي وَقِيْلَ: لَا يُؤْمَرُ بِهٖ وَلَا يُنْهٰى عَنْهُ او ویل سوي دي: چي نه دي د تلقین حکم ورته کول کیږي او نه ده له هغه څخه منع کول کیږي.

لغات: ﴿تلقین﴾ د تفعیل د باب مصدر دی: د تیر عبارت په لغاتو کي یې وضاحت سو.
﴿مشروع﴾ د فتح له بابه اسم مفعول دی: په شریعت کي روا کړی سوی. په شریعت کي وارد او نافذ. همدارنګه هغه کار چي په شریعت کي د هغه کول مطلوب وي.

تشریح: تر مرګ (مړیني) وروسته په قبر کي مړي، ته د تلقین ورکولو په باره کي مصنف رَحِمَهُ الله دري قولونه بیان کړي دي (طریقه به یې په آخر کي ذکر سي): ① یو قول دا دی چي په قبر کي تلقین مشروع دی. ② دویم قول دا دی چي په قبر کي تلقین غیرِ مشروع دی، لهذا له هغه څخه به منع کول کیږي. ③ دریم قول دا دی چي کوم خلګ تلقین کوي، هغوی دي نه منع کول کیږي؛ ځکه په دي کي څه ضرر نسته، او کوم خلګ چي یې نه کوي، هغو ته به د تلقین هدایت نه کول کیږي، ځکه که چیري مؤمن مړ سوی وي، نو هغه ته خو د تلقین ضرورت نسته او که کافر مړ سوی وي. نو هغه ته تلقین هیڅ فایده نه کوي. لنډه دا چي عمل پر دواړو دی یعني د مرګ (زکندن) او دفن (ښخولو) دواړو په وخت کي تلقین کیږي. (عمدة الفقه)

او په قبر کي د تلقین طریقه او صورت دا دی چي کله مړی دفن (ښخ) کړل سي او خلګ ولاړ سي، نو یو څو خاص کسان دي دري واره دا وایي چي اې فلان بن فلان! ووایه "لَاإِلٰهَ إِلَّا الله". بیا دي دري واره ورته وایي چي اې فلانکیه! ووایه چي زما رب الله دی، زما دین اسلام او زموږ نبي (پیغمبر) حضرت محمد ﷺ دی (په لنډه ویناد ا چي مړي ته دي د نکیرِ منکر د سوال او جواب یادونه وکړي او همدارنګه هغه ته دي د ثابت قدمی دعاء وکړي. لکه څرنګه چي په حدیث کي وارد دي: "قال: کان النبی ﷺ إذا فرغ من دفن المیت وقف علیه، فقال: استغفروا لأخیکم واسألوا له بالتثبیت، فإنه الآن یُسأل" (ابود داؤد شریف، حدیث رقم: ۳۲۲۱). (شفاء الارواح بحوالۀ ایضاح الاصباح، ثمرة النجاح)

قریبُ الموت کس ته د قریبانو او همسایه ګانو د راتللو حکم

﴿۸۹۸﴾ وَيَسْتَحِبُّ لِأَقْرِبَاءِ الْمُحْتَضَرِ وَجِيْرَانِهِ الدُّخُولُ عَلَيْهِ او مستحب دي د قریبُ الموت کس د قریبانو او همسایه ګانو لپاره هغه ته ورتلل.

لغات: ﴿جیران﴾ جمع د جَارٌ ده: همسایه ګان (ګاونډیان).

تشریح: صورت د مسئلې دا دی چي کله یو انسان مرګ ته نژدې سي (زکندن یې سي)، نو په دې وخت کي دي قریبان، همسایه ګان او ملګري (دوستان) وهغه ته راسي، یا په بله وینا پر هغه دي پوښتنه وکړي؛ ځکه دا د هغه آخري وخت دی، نو په دې آخري وخت کي دي د هغه سره ملګرتیا وکړي او د هغه خدمت دي وکړي، د مریض پر عیادت ډېر زیات ثواب وارد سوی دی.

او صاحب د "انوار الایضاح" د "مراقی الفلاح" په حواله سره لیکلي دي چي په آخري وخت کي د مړ کېدونکي کس تنده ډېره زیاته وي. نو ځکه شیطان یخي اوبه د ځان سره راوړي او وایي چي وایه! زما څخه بغیر بل هیڅ معبود (خدای) نسته. زه به تا ته اوبه درکړم (نعوذ بالله من ذلك). حاضر خلګ دي مړ کېدونکي کس ته اعتماد او ډاډ ورکړي چي الله تعالیٰ به ستا سره ښه معامله وکړي. ته د الله سره ښه ګومان وساته!، په حدیث کي دي "أَنَا عِنْدَ ظَنِّ عَبْدِ بِيْ" یعني زه بنده ته د هغه د ګومان مطابق بدله (جزاء) ورکوم، که چیري هغه ښه ګومان ساتي. نو ښه بدله، کني بده بدله ورکوم. (مراقی الفلاح ص: ۳۰۸)

د "سورت یس" لوستلو حکم

﴿۸۹۹﴾ وَيَتْلُوْنَ عِنْدَهٗ سُوْرَةَ يٰسٓ او دوی (حاضرین) دي د مړي سره سورة یسٓ تلاوت کړي وَ اُسْتُحْسِنَ سُوْرَةُ الرَّعْدِ او سورة الرعد ویل (هم) ښه ګڼل سوي دي.

لغات: ﴿یتلون﴾ د نصر له بابه جمع مذکر غائب مضارع معلومه ده: تلاوت کول، لوستل.

﴿استحسن﴾ د استفعال له بابه ماضي مجهوله ده: ښه ګڼل، خوښول.

تشریح: د مړ کېدونکي کس (قریبُ الموت) سره ﴿سورة یٰس﴾ ویل مستحب دي. په دې سره د مرګ په سختي کي کمي راځي، او د ﴿سورة الرّعد﴾ ویل هم ښه ګڼل سوي دي، په دې سره په روح وتلو کي آساني راځي.

د ناپاکه کسانو د ایستلو حکم

﴿۹۰۰﴾ وَاخْتَلَفُوْا فِيْ إِخْرَاجِ الْحَائِضِ وَالنُّفَسَاءِ مِنْ عِنْدِهٖ او اختلاف سوی دی په ایستلو (لیري کولو) کي د حیض او نفاس والا ښځي د مړي له نژدې څخه.

تشریح: په دې باره کي اختلاف دی چي حیض او نفاس والا ښځه همدارنګه جنب کس به له مړي څخه لیري کول کیږي او ایستل کیږي، که نه؟ او دا اختلاف صرف په اولیٰ کېدو (اولیت) کي دی، په وجوب کي نه دی. نو بعضي حضرات فرمایي چي د مړي له ځایه دوی لیري کول یا خپله د دوی لیري کېدل اولیٰ (غوره) دي؛ ځکه د دوی په موجودیت سره د رحمت ملائکي نه راځي. او د بعضو په نېز حیض او نفاس والا ښځه مړي ته راتللای سي؛ ځکه د شفقت او ضرورت په وجه دوی له هغه ځایه ایستل ممکن نه دي. (شفاء الارواح بحوالۀ عمدة الفقه و حاشیه)

﴿۹۰۱﴾ فَإِذَا مَاتَ بیا چي کله هغه (قریبُ الموت کس) مړ سي شُدَّ لَحْيَاهُ نو د هغه زامي دې ور وتړل سي وَغُمِّضَ عَيْنَاهُ او سترګي دې یې ورپټې کړل سي وَيَقُوْلُ مُغَمِّضُهٗ او سترګي ور پټونکي کس دې ووایي بِسْمِ اللهِ وَعَلٰى مِلَّةِ رَسُوْلِ اللهِ ﷺ اَللّٰهُمَّ يَسِّرْ عَلَيْهِ أَمْرَهٗ وَ سَهِّلْ عَلَيْهِ مَا بَعْدَهٗ وَأَسْعِدْهُ بِلِقَائِكَ وَاجْعَلْ مَا خَرَجَ إِلَيْهِ خَيْرًا مِّمَّا خَرَجَ عَنْهُ "بسم الله وعلى ملة رسول الله ﷺ اللهم يسر إلخ" (چي د هغه ترجمه ده: د الله تعالیٰ په نامه سره او د رسول الله ﷺ پر دین (د اعمل کوم) اې الله! آسانه کړه! پر دې مړي د ده کار [موجوده حالت] او آسانه کړه! پر ده تر دې وروسته حالات او نېکبخته یې کړه! په خپل ملاقات [دیدار] سره او وګرځوه! هغه ځای چي ورغلی دی [یعني قبر و آخرت] بهتره له هغه ځای څخه چي څني تللی دی [یعني دنیا]).

لغات: ﴿شُدَّ﴾ د نصر له بابه ماضي مجهوله ده، شَدَّ يَشُدُّ شَدًّا: تړل، کشول، ﴿لحیاه﴾ د لام په فتحه سره تثنیه د لَحْيٌ ده، د اضافت په وجه نون د تثنیه حذف سو، زامه (ژامه)، هغه هډوکي چي ژېره باندي راشنه کیږي (چي راسته او چپه دواړو طرفونه ته دي)، همدارنګه هغه هډوکی چي غاښونه پکښي (راشنه سوي) دي، ﴿غمّض﴾ د تفعیل د باب ماضي مجهوله ده: بندول، ور پټول، ﴿مِلّة﴾ مذهب، جمع: ملَل، ﴿یَسِّرْ﴾ د تفعیل له بابه د واحد مذکر امر حاضر صیغه ده: آسانه کول، ﴿سَهِّلْ﴾ مخکیني صیغه ده: آسان جوړول، سهولت ورکول، ﴿أَسْعِدْهُ﴾ د افعال له بابه د واحد مذکر امرِ حاضر صیغه ده: نېکبخته جوړول، خوشاله جوړول.

تشریح: کله چي انسان مړ سي او روح یې له تنه ووځي، نو د هغه زامي دې په کپړه وغیره سره وتړل سي او د هغه طریقه دا ده چي د کپړې یوه پراخه ربنکی دې د هغه له زني څخه لاندي راوستل سي او پر سر دې غوټه کړل سي چي خوله یې سره ونیول سي او خلاصه پاته نه سي، او دواړي سترګي دې یې ور پټي کړل سي د دې لپاره چي ښه معلوم سي؛ ځکه که خوله او سترګي یې خلاصه پاته سي. نو صورت یې نامناسبه او خوفناکه معلومیږي، او د دې لپاره چي د غسل په وخت کي یې خولې ته اوبه داخله نه سي. او د سترګو د ور پټولو په وخت کي دې مذکوره پورتنی دعاء ووایي.

﴿ ۹۰۲ ﴾ وَيُوْضَعُ عَلٰى بَطْنِهٖ حَدِيْدَةٌ او د مړي پر خېټه (نس) دي کېښېنول سي او سپنه لِئَلَّا يَنْتَفِخَ د دې لپاره چي نه وپړسيږي.

لغات: ﴿ينتفخ﴾ د افتعال د باب مضارع ده: پړسېدل (پاړسوب کول)، راپورته کېدل، د مقدر أَنْ ناصبه په وجه منصوب دی.

تشریح: فرمايي چي تر مرګ وروسته دي د مړي پر نس يو درووند شی مثلاً د اوسپني ټوټه يا د رنه غچي يا داسي بل شی کېښېنول سي، د دې لپاره چي نس يې نه وپړسيږي؛ ځکه د اوسپني دا خاصيت دی چي نس پاړسوب ته نه پرېږدي. (شفاء الارواح)

﴿ ۹۰۳ ﴾ وَتُوْضَعُ يَدَاهُ بِجَنْبَيْهِ او د هغه دواړه لاسونه دي کېښېنول سي د هغه دواړو بغلونو (ځنګو) ته وَلَايَجُوْزُ وَضْعُهُمَا عَلٰى صَدْرِهٖ او جائز نه دي پر سينه د هغوی ايښوول.

لغات: ﴿جَنْب﴾ بغل، ځنګ، ﴿صدر﴾ سينه، جمع: سينه، ﴿لا يجوز﴾ د حُرمت فايده ورکوي.

تشریح: فرمايي چي تر مرګ وروسته دي د مړي لاسونه د هغه بغلونو ته کېښېنول سي، او پر سينه يې ايښوول جائز نه دي؛ ځکه دا د اهل کتابو عادت دی او موږ ته د هغوی د مخالفت حکم سوی دی. (مراقی الفلاح مع الطحطاوي ص:۳۰۸)

د مړي سره د قرآن د تلاوت کولو حکم

﴿ ۹۰۴ ﴾ وَتُكْرَهُ قِرَاءَةُ الْقُرْآنِ عِنْدَهٗ حَتّٰى يُغْسَلَ او مکروه دي د مړي سره قرآن ويل تر دې چي هغه ته غسل ورکول سي.

تشریح: تر مرګ وروسته چي تر څو پوري مړي ته غسل نه وي ورکول سوی (يعني تر غسل ورکولو مخکي) د هغه سره تلاوت کول مکروه دي، مصنف رَحِمَهُ الله دې ته مطلقاً مکروه ويلي دي، لېکن په عمدة الفقه کي تفصيل دی چي تر غسل ورکولو مخکي په لوړ آواز سره تلاوت کول مکروه دي، همدا قول اکثره فقهاؤ اختيار کړی دی، او که په کرار آواز سره قرآن شريف وويل سي، نو د ټولو په نېز کراهت نسته، او له روح وتلو څخه مخکي د مړي سره تلاوت کول بالاتفاق بېله کراهته جائز دي. (شفاء الارواح)

د مرګ اعلان کول (خلک په خبرول)

﴿٩٠٥﴾ وَلَا بَأْسَ بِإِعْلَامِ النَّاسِ بِمَوْتِهٖ او څه پروانسته په خبرولو کي دخلکو دهغه په مرګ سره (چي د مرګ په باره کي يې اعلان وسي او خلک په خبر کړل سي) وَيُعَجَّلُ بِتَجْهِيْزِهٖ او تلوار (تېزي) دي کول کيږي دهغه په کفن، دفن کي.

﴿٩٠٦﴾ فَيُوْضَعُ كَمَا مَاتَ عَلٰى سَرِيْرٍ مُجَمَّرٍ وِتْرًا څرنګه چي دا مړ سي، نو (سملستي) دي کښېښنول سي پر داسي کټ (تخته) کوم چي (په يو خوشبويي سره) لوګی کړل سوی وي په طاق شمېر سره (يعني چي دهغه د تختي سره يو خوشبويي په طاق شمېر سره دودول سوې وي).

لغات: ﴿إعلام﴾ د افعال د باب مصدر دی: خبر ورکول، اطلاع ورکول. ﴿يعجّل﴾ د افعال له بابه مضارع مجهوله ده: تېزي کول، تلوار کول. ﴿تجهيز﴾ د تفعيل د باب مصدر دی. تيارول، چمتو کول. کله چي د دې باب په صله کي ميّت ذکر سي نو معنیٰ يې ده: د دفن (ښخولو) لپاره تيارول په غسل ورکولو او کفن وکولو سره. همدارنګه په تجهيز کي هغه ټوله امور داخل دي چي له مرګ څخه وروسته تر ښخولو پوري ورته ضرورت پرېوځي. ﴿فيوضع﴾ فاء په مخکيني عبارت کي د "وِيُعجّل" د تفسير لپاره ده، يا فاء د مفاجاة لپاره ده. مطلب يې دا دی چي کله د هغه مرګ يقيني سي نو تر هغه وروسته دي تأخير نه کول کيږي، بلکي په تجهيز وتکيفن کي دي تېزي وکړل سي. ﴿سَرِيْر﴾ کټ، چارپايي، د غسل ورکولو تخته. جمع: سُرُرٌ وأَسِرَّةٌ. ﴿مُجَمَّر﴾ د تفعيل له بابه اسم مفعول دی، د افعال له بابه هم راځي، جَمَّرَ يُجَمِّرُ تَجْمِيْرًا: ښه بوی لرونکی شی دودول (لوګی کول)، يعني عود يا داسي بل ښه بوی والا شی پر اُور (سکروټو) اېښوول او سوځول او کله چي يې دودان پورته سي نو پر چاپاريي (تختې) شا وخوا دړي يا پنځه واره ګرځول. ﴿وِتْر﴾ طاق.

تشريح: د عبارت حاصل دا دی چي په دې کي څه حرج او پروا نسته چي په بازار او داسي نورو کي د انسان د مرګ د خبر لپاره په لوړ آواز سره اعلان وکړل سی (او د هغه ملګري ادوستان اقربان او متعلقين. شاګردان او مريدان او داسي نور خلک د هغه په مرګ خبر کړل سي)، د دې لپاره چي د هغه د جنازې په لمانځه کي زيات خلک شرکت وکړي او د هغه لپاره د خير دعاء وکړي. خصوصاً کله چي مړی يو عالم، زاهد او مبارک شخصيت وي، نو بعضي متأخرينو د هغه د جنازې د لمانځه لپاره په بازارو کي آواز او اعلان کول مستحسن ګڼلي دي او همدا اصح ده (حاشيه و عمدة الفقه).

خو د هغه په کفن او دفن کي به تلوار کول کيږي او بلا وجه به تأخير نه پکښې کول کيږي.

فیوضع کما مات إلخ: عبارت حاصل دا دی چي کله د چا روح وتل او مرګ یقیني سي، نو سمدستي دي هغه پر داسي تخته کښېښول سي چي پر هغه غسل ورکول کېږي او د مړي له ایښوولو څخه مخکي دي هغه تختې ته عُود لرګی یا بل خوشبویه بنه وږم لرونکی شی و دودل سي لکه صندل. لوبان او داسي نور (یعني بنه بوی والا بوټی یا داسي بل شی دي سکروټه کړل سي او پر تخته دي شا وخوا وګرځول سي چي دودېې پر تخته ولګېږي)، او دا کار دي په طاق شمېر یعني ۱وار یا ۳ یا ۵ واره وسي، ځکه په دې کي د مړي تعظیم دی، او طاق شمېر ځکه بنه دی، چي رسول الله ﷺ فرمایلي دي: إِنَّ اللهَ وِتْرٌ وَيُحِبُّ الْوِتْرَ (الله طاق دی طاق خوښوي).

مړی به د غسل لپاره څنګه ایښوول کېږي؟

﴿۹۰۷﴾ وَيُوضَعُ كَيْفَ اتَّفَقَ او هغه دي کښېښول سي څرنګه چي اتفاق سي (یعني څرنګه چي سره برابره سي، هغسي دي کښېښول سي. یا په بله وینا څرنګه چي موقع وي، هغسي دي کښېښول سي) عَلَى الْأَصَحِّ د صحیح ترین قول مطابق (یو خاص طرف متعیّن نه دی).

تشریح: د غسل ورکولو پر مهال پر تخته د مړي د ایښوولو په کیفیت کي اختلاف دی، بعضي حضراتو ویلي دي چي تخته دي قبلې ته په اوږدول کښېښول سي یعني چي پښې یې د قبلې (مشرق) وطرف ته راسي او سر یې د مغرب وطرف ته وي، لکه څرنګه چي انسان د سخت مرض په حالت کي د لمانځه لپاره همداسي پرېوځي او په اشاره سره لمونځ کوي یعني پښې یې د قبلې وطرف ته وي او سر یې د مغرب و طرف ته وي (او تر سر لاندي یې بالښت وغیره وي چي مخ یې د قبلې وطرف ته واقع سي. لکه مخکي چي دا کیفیت تفصیلاً ذکر سو)، او بعضو ویلي دي چي تخته دي قبلې ته عرضاً یعني په پلنوالي سره کښېښول سي چي د مړي مخ د قبلې وطرف ته راسي، لکه څرنګه چي مړی په قبر کي ایښوول کېږي، او زیات صحیح (اصح) قول دا دی چي څرنګه آسانه وي، هغسي دي کښېښول سوي، ځکه چي پر تخته باندي د مړي د ایښوولو په باره کي هیڅ کیفیت روایت سوی نه دی، خو عُرف دا دی چي مړی دي پر تخته ستوني ستغ پرې ایستل سي.

د غسل ورکولو طریقه

﴿۹۰۸﴾ وَيُسْتَرُ عَوْرَتُهُ او د هغه عورت دي پټ کړل سي ثُمَّ جُرِّدَ عَنْ ثِيَابِهِ بیا دي لڅ کړل سي له خپلو جامو څخه (یعني جامې دي څني وکښل سي) وَوُضِّئَ او اودس دي ورکول سي إِلَّا أَنْ

يَّكُوْنَ صَغِيْرًا لَا يَعْقِلُ الصَّلٰوةَ مګر دا چي هغه داسي کوچنی وي چي په لمانځه نه پوهيږي بِلَا مَضْمَضَةٍ وَاسْتِنْشَاقٍ (اودس دي ورکول سي) بغير له خولې پرېوللو او پزي پرېوللو څخه (يعني په پزه او خوله کي دي اوبه نه ور اچوي او نه ور پرېولي) إِلَّا أَنْ يَّكُوْنَ جُنُبًا مګر دا چي هغه جنب وي وَ يُصَبُّ عَلَيْهِ مَاءٌ مُغْلَى بِسِدْرٍ أَوْ حُرُضٍ او ودي بهول سي پر هغه داسي اوبه چي جوش ورکول سوی وي د بيري په پاڼو يا په بروځه بوټي کي وَإِلَّا فَالْقَرَاحُ وَهُوَ الْمَاءُ الْخَالِصُ کنې بيا خالص اوبه وَيُغْسَلُ رَأْسُهٗ وَلِحْيَتُهٗ بِالْخِطْمِيِّ او د هغه سر او ږيره دي پرېولل سي په خطمي (خيرو ګل اګل خيرو) سره) ثُمَّ يُضْجَعُ عَلٰى يَسَارِهٖ بيا دي پرې ايستل پر چپه اړخ فَيُغْسَلُ حَتّٰى يَصِلَ الْمَاءُ إِلٰى مَا يَلِيَ التَّخْتَ مِنْهُ او پرېولل دي سي (اوبه دي پرې واچول سي) تر دې چي اوبه ورسيږي هغه حصې ته کوم چي د تختې سره متصله ده ثُمَّ عَلٰى يَمِيْنِهٖ كَذٰلِكَ بيا پر راسته اړخ (دي پرې ايستل سي او پرېولل سي) همداسي ثُمَّ أُجْلِسَ مُسْنَدًا إِلَيْهِ بيا دي کښېنول سي په تکيه کولو سره و خپل ځان ته (يعني بيا دي غسل ورکونکی مړی کښېنوي او پر ځان دي يې تکيه کړي چي غوځار نه سي) وَ مَسَحَ بَطْنَهٗ رَقِيْقًا او لاس دي تېر کړي د ده پر نس په نرمۍ سره وَ مَا خَرَجَ مِنْهُ او کوم څه (نجاست) چي يې له نس څخه راووځي غَسَلَهٗ هغه دي پرېولي وَلَمْ يُعَدْ غُسْلُهٗ او د ده غسل دي (له سره) نه راګرځول کيږي ثُمَّ يُنَشَّفُ بِثَوْبٍ بيا دي مړی په يو کپړه سره وچ کړل سي وَيُجْعَلُ الْحُنُوْطُ عَلٰى لِحْيَتِهٖ وَ رَأْسِهٖ او حنوط خوشبويي دي ولګول سي د ده په ږيره او سر باندي وَالْكَافُوْرُ عَلٰى مَسَاجِدِهٖ او کافور دي ولګول سي د ده د سجدې په اندامونو باندي (چي هغه تندی، پزه، دواړه لاسونه، ځنګنونه او دواړي پښې دي).

لغات: ﴿عورة﴾ جمع: عورات، هغه ځايونه چي په شريعت کي يې پټول (ستر) واجب وي،

﴿جُرِّدَ﴾ د تفعيل له بابه ماضي مجهوله ده، مصدر: تَجْرِيْد: له يو چا څخه کپړې کښل، لڅول،

﴿مضمضة﴾ د فعللې د باب مصدر دی: په خوله کي اوبه اچول او ګرځول چي په بله وينا خوله پرېولل

ورته وايي، ﴿استنشاق﴾ د استفعال د باب مصدر دی: په پزه اوبه کشول (په پزه کي اوبه اچول)، پزه پرېولل، ﴿صُبّ﴾ د نصر د باب ماضي مجهوله ده، مصدر صَبًّا: اوبه اچول، بهول، ﴿مُغْلٰی﴾ د افعال له بابه مفعول دی، په اصل کي مُغْلَیٌ وو، یاء متحرک وه، د ماقبل د مفتوح کېدلو په وجه یاء یې په الف سره بدله کړه، بیا دوه ساکنه سره جمع سوه، الف یې وغورځوی او په رسمُ الخط کي یاء باقي پرېښوول سوه، ﴿سِدْر﴾ د بیري درخته، دلته ځني مراد د بیري پاني دي، ﴿حُرْض﴾ یو ډول بوټی دی چي د صابون کار کوي، چي پخوا به د کپړو او د لاسو د پرېوللو لپاره استعمالېدی، دې ته أشنان هم ويل کیږي، او په پښتو کي یې د دې معنیٰ په بروځه "برروزه" سره کړې ده، او ځینو په زمی سره کړې ده، ﴿قَراح﴾ (بفتح القاف) خالص اوبه (چي بل څه په کډ نه وي)، ﴿خِطْمِیّ﴾ (د خاء په فتحه سره هم ويل کېدای سي. خو کسره یې اکثره ده): خیرو گل، توته گل، یو ډول نفع مند بوټی دی چي سُور او سپین گل لري چي د دواء په توگه همدارنگه د صابون په توگه استعمالیږي او د صابون په ډول ځګ کوي (خطمي اصلاً په عراق کي ډېر دی او د یونانی طبیباتو سره پیدا کیږي، او دې گل ته په گرمسیر کي بیاندی گُلی ويل کیږي، ځکه بلکونه یې د بیاندی د بلکونو سره مشابه دي، او گلان یې نور رنگه هم سته)، ﴿يُنَشِّفُ﴾ د تفعیل د باب مضارع ده: په توکر یا داسي بل شي سره وچول، ﴿حَنُوْط﴾ یو ډول عطر دي چي له بېلابېلو عطرونو څخه جوړیږي، د څو خوشبوگانو یو مرکب کوم چي تر غسل وروسته پر مړي مږي، ﴿كَافُوْر﴾ یو ډول خوشبویه (ترخه غوندي) سپینه ماده ده کوم چي د کافور له وني څخه تر لاسه کیږي او د دواء او داسي نورو لپاره استعمالیږي.

تشریح: کله چي مړی پر تخته کېښوول سي، نو د هغه عورت دي له نامه څخه تر زنگنو پوري په یو کپړه سره پټ کړل سي، همدا صحیح ده او د ظاهر روایت مطابق عورتِ غلیظه یعني د قُبل او دُبر پټول کافي دي او صاحب د هدایې او داسي نورو د همدې تصحیح کړې ده، لېکن اول قول له حدیث څخه اخیستل سوی دی، نو پر هغه عمل پکار دی. (عمدة الفقه)

ثم جرّد: د مړي پر عورت د کپړې له اچولو څخه وروسته دي په نرمي سره د هغه ټوله جامې وکښل سي.

وضوء: بیا دي مړي ته اودس ورکول سي د لمانځه د اودس په څېر، لېکن خوله او پزه دي نه ور پرېولل کیږي؛ ځکه بیا به له خولې څخه اوبه را ایستل مشکل وي، بلکي بعضي فقهاؤ ويلي دي چي غسل ورکونکي دي پر خپله گوته لنده کپړه یا پمبه وپېچي او د مړي په خوله کي دي یې د غاښونو، اوریو، تالو او شونډانو دي یې ومږي او د پزې په سوریو کي دي یې هم وگرځوي، نو دا جائز دي او په دې زمانه کي پر همدې عمل دی. (حاشیه، عمدة الفقه)

إلّا **صغيرًا إلخ**: که مړی داسي بچی وي چي په لمانځه او روژه نه پوهيږي يعني ذی شعوره نه وي. نو هغه ته به اودس نه ورکول کيږي، لیکن صحيح دا ده چي هغه ته دي هم اودس ور کول سي. (عمدة الفقه)

إلّا **جنبًا إلخ**: او که مړی جنب وي يا حيض او نفاس والا ښځه وي، نو بيا د هغه خولې او پزي ته اوبه رسول ضروري دي، لیکن صحيح دا ده چي ضروري نه دي. (عمدة الفقه)

وصُبّ عليه ماء إلخ: او مړي ته دي په داسي اوبو سره غسل ورکول سي چي په هغه اوبو کي د بيري پاڼو ته يا د بروڅي (يادزمی) بوټي ته جوش ورکول سوی وي (يعني دا شيان دي پکښي را ايشول سوي وي)، ځکه په دې توګه مړی ښه پاکيږي، او که له دوی څخه يو شی نه وي، نو ساده اوبه کافي دي.

ويغسل رأسه إلخ: فرمايي چي د مړي سر او ږيره دي په خطمي ګل سره پرېولل سي؛ ځکه خطمي ګل هم هغه کار کوي کوم چي يې صابون کوي، او که خطمي نه وي نو په يو داسي شي سره دي يې پرېولي چي په هغه باندي سر او ږيره ښه صفا سي مثلاً صابون او داسي نور، که دا شيان نه وي، نو خالص اوبه کافي دي.

ثم يضجع إلخ: تر دې ټولو کارونو وروسته دي مړی پر چپه اړخ پرې ايستل سي او له سر څخه تر پښو پوري دي درې واره د هغه پر بدن اوبه واچول سي او دومره دي واچول سي چي اوبه د بدن لاندي د تختې سره لګيدلې حصې ته ورسيږي، يا په بله وينا چي چپه اړخ او د چپه اړخ سره لګېدلي تختې ته ورسيږي، او بيا دي مړی پر راسته اړخ پرې ايستل سي او هغسي دي درې واره اوبه پرې واچوي تر دې چي اوبه لاندي د تختې سره لګيدلې حصي ته ورسيږي، اول به مړی ځکه پر چپه اړخ پرې ايستل کيږي چي په راسته طرف شروع کول سنت دي او په دې طريقه کي غسل له راسته طرف څخه شروع کيږي.

ثم أجلس مسندًا إلخ: بيا دي غسل ورکونکی دا مړی کښېنوي او خپل ځان ته دي يې تکيه کړي (يعني خپلو زنګنو يا سينې ته دي يې تکيه کړل سوی کښېنوي) او د هغه نس دي په نرمي سره ومُږي (او په کراره دي يې ورکښېکاږي): ځکه که د مړي په نس کي يو څه وي، هغه به را ووځي چي وروسته کفن ککړ نه کړي، او که د مړي له نس څخه يو څه راووځي. نو صرف هغه دي پرېولي او د غسل راګرځولو ضرورت نسته، او نه د اودس راګرځولو ضرورت سته.

ثم ينشف بثوب إلخ: تر غسل ورکولو وروسته دي د مړي بدن په يوه پاک ټوکر سره وچ او صفا کړل [illegible] لوند نه سي او د مړي پر سر او ږيره دي حنوط ولګول سي، حنوط له څو ډوله عطرونو

څخه جوړ یو ډول خوشبویي ده چي هغه ته تاسو د دې زماني په اعتبار سره عطر مجموعه (یا ګلچین عطر) هم ویلای سی، او د مړي د سجدې پر اندامونو یعني پر تندي، پزه، پښو، لاسونو او زنګنو باندي دي کافور ومږل سي؛ ځکه چي حنوط او کافور دواړه خوشبوداره او ښه بوی لري. (صاحب د انوارُ الایضاح د تحفةُ الألمعي په حواله سره ذکر کړي دي چي د غسل په آخر وار کي پر مړي داسي اوبه اچول پکار دي چي کافور په ګډ سوی دی: ځکه په دې سره بدن ژر نه خرابیږي. په کافورو کي خاصیت دا دی چي په کوم څه کي هغه استعمال سي، په هغه کي ژر تغیّر نه راځي. دویمه فایده یې دا ده چي د کافور لګېدلو په وجه مضره خزندې او داسي نور نه ور نژدې کیږي. په همدې وجه خلک په کتابو او کپړو کي د کافورو ګولۍ اږدي. دریمه فایده یې دا ده چي کافور تېزه خوشبويي ده، نو که تر غسل ورکولو وروسته بیا هم په بدن کي څه بدبويي پاته وي. نو هغه به د کافورو په خوشبويي کي ورکه سي).

فایده (۱): غسل ورکونکی دي د خپل غسل ورکولو په دوران کي دا دعاء وایي "غُفْرَانَكَ يَا رَحْمٰنُ" (اې الله په خپل خاص بخښني سره ده ته بخښه وکړه!). (اشرف الایضاح)

فایده (۲): مړي ته د غسل ورکولو حکمت دا دی چي کوم (مسلمان) بنده له دنیا څخه کوچ وکړي او د آخرت وطرف ته روانیږي، نو شریعت حکم کړی دی چي هغه په تعظیم او اکرام سره رخصت کړل سي او د مړي د تعظیم لپاره تر دې بله ښه طریقه نسته چي هغه په ښه پاک حالت کي ولمبول سي او ښه پاکه کپړه ور واغوستل سي، رخصت کړل سي. (تحفة الألمعي ج: ۳. ص: ۳۹۱)

﴿۹۰۹﴾ وَلَيْسَ فِي الْغُسْلِ اِسْتِعْمَالُ الْقُطْنِ او نسته په غسل (ورکولو) کي د پمبې استعمالول فِي الرِّوَايَاتِ الظَّاهِرَةِ په ظاهرو روایاتو کي.

تشریح: د غسل ورکولو په وخت کي د پمبې (پنبې) استعمالول ضروري نه دي، او که څوک یې استعمال کړي، نو څه حرج نسته، مثلاً د مړي د مخ او شا (قُبل او دُبر) په مقام او په دواړو غوږو، دواړو سږمو او خوله کي پمبه واچوي او تر غسل وروسته یې لیري کړي، نو پروا نه لري. لیکن په ظاهر روایت کي د پمبې استعمال د غسل په احکامو کي داخل نه دي، نو ځکه د هغه ترک (پرېښوول) اولیٰ دي. (شفاء الارواح)

﴿۹۱۰﴾ وَلَا يُقَصُّ ظُفُرُهٗ وَشَعْرُهٗ او نه دي پرېکول کیږي د هغه نوکان او د هغه وروښتان وَلَا يُسَرَّحُ شَعْرُهٗ وَلِحْيَتُهٗ او نه دي ږمنځول کیږي د هغه وروښتان او ږیره.

لغات: ﴿يقص﴾ د نصر له بابه مضارع مجهوله ده، قصّ يقصّ قصًا: نوکان وغیره پرېکول (کاټول)،

﴿يسرح﴾ د تفعیل له بابه مضارع مجهوله ده، د دې باب په صله کې چې "شَعْر" (وېښتان) ذکر سي، نو معنیٰ یې ده: ږمنځول.

تشریح: فرمایي چې د مړي نوکان دې نه پرېکول کیږي او نه دې یې د یو ځای وېښتان پرېکول کیږي، بلکې څرنګه چې وي، پر هغه حالت دې پرېښوول سي، همدارنګه وېښتان او ږیره دې ږمنځول کیږي هم نه؛ ځکه دا ټوله ښیان د زینت او ښکلا لپاره دي او مړی له زینت څخه مستغني دي، لهذا داسې کول ناجائز او مکروه تحریمي دی. (انوار، شفاء الارواح)

تر مرګ وروسته د خاوند او ښځي حکم

﴿۹۱۱﴾ وَالْمَرْأَةُ تَغْسِلُ زَوْجَهَا او ښځه خپل خاوند ته غسل ورکولای سي بِخِلَافِهٖ په خلاف د خاوند (چې هغه خپلي ښځي ته غسل نه سي ورکولای) كَأُمِّ الْوَلَدِ لَا تَغْسِلُ سَيِّدَهَا لکه اُمِ ولد مینځه کې چې خپل مالک (بادار) ته غسل نه سي ورکولای.

لغات: ﴿اُم ولد﴾ هغه مینځې ته وایي چې خپل مالک (بادار) وطي ورسره کړې وي او د هغه په نتیجه کې بچی پیدا سوی وي، داسې مینځه د خپل مالک تر مرګ وروسته سمدستي آزادیږي.

تشریح: مسئله دا ده چې ښځه خپل خاوند ته غسل ورکولای سي؛ ځکه د عدې (عدت) پوره کېدلو تر وخته پوري هغه د دې خاوند په نکاح کې پاته ده، لېکن خاوند خپلي ښځې ته غسل نه سي ورکولای؛ ځکه د ښځې تر مرګ وروسته د دوی تر مینځ د نکاح او زوجیت تعلق ختم سو، او س خاوند د هغې په حق کې اجنبي (پردی) سو، لکه څرنګه چې اُم ولد خپل مالک ته غسل نه سي ورکولای؛ ځکه د مالک تر مرګ وروسته هغه آزاده سوه او د مالک له ملکیت څخه ووتله.

او کوم چې په بعضي عوامو کې دا خبره مشهوره ده چې خاوند نه د خپلي ښځې جنازه پورته کولای سي، نه یې قبر ته شوه کولای سي او نه یې مخ ته کتلای سي، دا محض غلطه خبره ده، صرف غسل ورکول او بغیر له حائله د هغې بدن مسه کول ممنوع دي. (شفاء الارواح بحوالهٔ عمدة الفقه)

که ښځینه یا نارینه مړي ته د غسل ورکولو لپاره هیڅ ښځه یا سړی نه وي؟

﴿۹۱۲﴾ وَلَوْ مَاتَتْ اِمْرَأَةٌ مَعَ الرِّجَالِ او که مړه سي یو ښځه (کوم چې) د سړیو سره (وي. یعني ور سره حاضر کسان ټوله سړي انارینه اوي) يَمَّمُوْهَا كَعَكْسِهٖ بِخِرْقَةٍ نو دا خلک دي هغې ته تیمم ورکړي په یو ټوټه کپړه سره لکه د دې په پر عکس صورت کې (یعني که یو سړی انارینه امړ سي او ور سره حاضر

کـسان ټوله ښځي وي، نو ښځي دي هغه ته په یو کپړه سره تیمم ورکړي) وَإِنْ وُجِدَ ذُوْ رَحْمٍ مَحْرَمٍ او که پیدا سي ذو رحم محرم قریب یَمَّمَ بِلَا خِرْقَةٍ نو تیمم دي ورکړي بغیر له ټوکر څخه.

لغات: ﴿یتموا﴾ د تفعیل له بابه د جمع مذکر غائب ماضي معلوم صیغه ده: (بل چا ته) تیمم ور کول. تیمم ور وهل، ﴿خرقة﴾ د کپړې (ټوکر) ټوټه (دزړې کپړې ټوټه). ګوډړ. ریښکی، ﴿ذو رحم محرم﴾ هغه قریب چي نکاح ور سره حرامه وي، لکه خاله، ماما، خور او ورور. مور. پلار او داسي نور، او که نکاح ور سره جائز وي، نو هغه ته غیرِ محرم وایي. لکه دا کا لور، دا کا زوی، دامه لور. د خاله لور... او داسي نور.

تشریح: د عبارت حاصل دا دی چي که ښځه (مثلاً) د سفر په دوران کي د پردیو خلګو په مینځ کي مړه سي (یعني حاضرین ټوله پردي نارینه وي) او په هغو کي هیڅ ښځه نه وي. نو یو سړی دي پر خپلو لاسو کپړه وپېچي او هغې ته دي تیمم ور وکړي، لکه څرنګه چي که معامله برعکس وي یعني سړی (نارینه) د پردیو ښځو په مینځ کي مړ سي او په هغوی کي بل سړی نه وي، نو یو اجنبیه ښځه دي پر لاسو کپړه وپېچي او هغه ته دي تیمم ور وکړي.

وإن وجد ذو رحم: او که په پورتني دوو صورتونو کي د مړي یو نژدې قریب (ذی رحم محرم) موجود وي، نو هغه دي مړي ته په خپلو لاسو تیمم ورکړي، د هغه لپاره د تیمم اندامونه مسه کول (لاس ور وړل) جائز دي. پر لاس د کپړې پېچولو ته ضرورت نسته.

د خنثیٰ مشکل حکم

﴿٩١٣﴾ وَكَذَا الْخُنْثَى الْمُشْكِلُ يُيَمَّمَ او همداسي خنثیٰ مشکل (نر ښځي) ته به هم تیمم ورکول کیږي فِيْ ظَاهِرِ الرِّوَايَةِ د ظاهر روایت مطابق.

لغات: ﴿الخنثی المشکل﴾ هغه کس چي په هغه کي د نارینه او ښځینه دواړو علامې وي یا دواړي نه وي یعني ذکَر او فرج دواړه یې وي (یعني نر ښځی) یا یو هم نه وي، یا په بله وینا چي نارینه او ښځینه توب یې نه معلومیږي چي دا اوس څه بلا دی؟ داسي کس ته خنثیٰ مشکل وایي، ﴿یُیَمَّمَ﴾ د تفعیل له بابه د واحد مذکر غائب ماضي مجهولي صیغه ده: تیمم ورکول، تیمم ور وهل.

تشریح: مسئله دا ده چي خنثیٰ مشکل ته به نه سړی غسل ورکوي او نه ښځه. بلکي که د ده یو نژدې قریب (ذی رحم محرم) وي هغه که ښځه وي او که سړی وي، هغه دي ده ته تیمم ورکړي بغیر له کپړې پېچلو څخه پر لاسو. او که اجنبي وي، نو هغه دي پر لاس کپړه وپېچي او تیمم دي ورکړي. همدا

ظاهر روایت دی، او د بعضو قول دا دی چې خنثیٰ مشکل ته دې په داسې (باریکه) جامه کې غسل ورکول سي کوم چې له اوبو څخه مانع نه وي.

او که خنثیٰ مشکل کوچنی بچی وي چې د شهوت عمر ته نه وي رسېدلی (یعني بالغ یا قریب البلوغ نه وي)، نو هغه ته سړی هم غسل ورکولای سي او ښځه هم. (شفاء الارواح)

د کوچني بچي حکم

﴿۹۱۴﴾ وَيَجُوْزُ لِلرَّجُلِ وَالْمَرْأَةِ تَغْسِيْلُ صَبِيٍّ وَصَبِيَّةٍ لَمْ يَشْتَهِيَا او جائز دي د سړي او ښځي لپاره داسې هلک او انجلۍ ته غسل ورکول کوم چې د شهوت حدّ ته نه وي رسېدلي.

لغات: ﴿تغسيل﴾ د تفعیل د باب مصدر دی: غسل ورکول، لمبول. ﴿لم يشتهيا﴾ د افتعال له بابه د تثنیه مذکر غائب نفي جحد بلم صیغه ده. اشتهٰی یشتهی اشتهاءً: اشتها کېدل، شهوت راتلل، قابل د شهوت کېدل، مراد څني د شهوت حدّ (عمر) ته رسېدل دي، یعني دومره کېدل چې د هغه سره جماع کولو ته د انسان اشتها او شوق کیږي، یا په بله وینا چې هغه ته په کتلو سره یې شهوت راپورته کیږي، او دا عادتاً له نهو کالو څخه په کم عمر کې نه کیږي.

تشریح: مسئله دا ده چې که داسې کوچنی بچی مړ سي چې هغه ته په کتلو سره شهوت نه راځي، نو هغه ته ښځه غسل ورکولای سي، همدارنګه که داسې کوچنۍ انجلۍ مړه سي چې د شهوت حدّ ته نه وي رسېدلې، نو سړی غسل ورکولای سي، او کوم هلک یا انجلۍ چې د شهوت حدّ ته رسېدلي وي، هغوی د بالغانو په حکم کې دي، نو داسې هلک ته صرف سړی (نارینه) او داسې انجلۍ ته صرف ښځه غسل ورکولای سي.

د مړي مچولو حکم

﴿۹۱۵﴾ وَلَا بَأْسَ بِتَقْبِيْلِ الْمَيِّتِ او څه پروا نسته د مړي په مچولو کې.

تشریح: د مړي سره د میني او محبت په وجه یا له هغه څخه د تبرّک حاصلولو په غرض که هغه مچ کړل سي، نو څه پروا نسته، لېکن که په شهوت سره وي، نو حرام دي. (شفاء الارواح)

د ښځي کفن او دفن د خاوند پر ذمه دي، که نه؟

﴿۹۱۶﴾ وَعَلَى الرَّجُلِ تَجْهِيْزُ امْرَأَتِهٖ وَلَوْ مُعْسِرًا او پر سړي (خاوند) واجب دي د خپلي ښځي کفن، دفن، که څه هم تنګلاسی وي فِي الْأَصَحِّ د صحیح ترین قول مطابق.

لغات: ﴿معسر﴾ د افعال له بابه اسم فاعل دی: تنګلاسی، غریب، مفلس.

تشریح: د ښځي کفن او دفن (یعني د کفن ورکولو او ښخولو [ښخولو ا خرچ) پر خاوند واجب دی، که نه؟ په دې کي اختلاف دی، د امام محمد رَحِمَهُ الله په نیز پر خاوند واجب نه دی؛ ځکه د مرګ په وجه د خاوند او ښځي تر مینځ د زوجیّت تعلق ختم سو، او د امام ابو یوسف رَحِمَهُ الله په نیز د ښځي کفن او دفن مطلقاً پر خاوند واجب دي، برابره ده ښځي مال پرې ایښی وي او که نه وي او برابره ده خاوند مالدار وي او که مفلس وي، همدا اصح قول دی؛ ځکه د کفن او دفن خرچ د نفقې په څېر دی او ښکاره ده چي د ښځي نفقه مطلقاً پر خاوند واجب ده.

یادونه: له تجهیز څخه شرعي تکفین و تدفین مراد دی، چي سنت کفن یا کفایي کفن او د غسل او د جنازې وړلو او ښخولو خرچ (أجرت) د شرعي مقدار مطابق واجبیږي، او کوم بدعتونه چي زموږ په زمانه کي رواج دي، د هغوی خرچ پر خاوند یا نورو وارثانو باندي واجب نه دی، مثلاً د قرآن شریف د ختم خرچ یا د دریو ورځو د خوراک راوړولو او داسي نورو خرچ پر خاوند واجب نه دی، بلکي د داسي کړني ګناه به جلا وي. (شفاء الارواح بحوالۀ عمدة الفقه)

د مفلس کس کفن د چا پر ذمه دي؟

﴿۹۱۷﴾ وَمَنْ لَا مَالَ لَهُ او چا لره چي مال نه وي (هیڅ مال نه لري چي د ده لپاره کفن په رانیول سي) فَكَفَنُهُ عَلَى مَنْ تَلْزَمُهُ نَفَقَتُهُ نو د ده کفن پر هغه چا دی پر چا چي د ده نفقه لازمه وي.

﴿۹۱۸﴾ وَإِنْ لَمْ يُوجَدْ مَنْ تَجِبُ عَلَيْهِ نَفَقَتُهُ او که داسي څوک پیدا نه سي چي پر هغه د ده نفقه واجب وي فَفِيْ بَيْتِ الْمَالِ نو بزیا (د ده کفن) په بیت المال کي (لازم) دی.

﴿۹۱۹﴾ فَإِنْ لَّمْ يُعْطِ عَجْزًا أَوْ ظُلْمًا بیا که یې بیت المال (هم) نه ورکړي د عاجزۍ (تنګلاسۍ) یا ظلم په وجه فَعَلَى النَّاسِ نو بیا پر خلکو (لازم) دی.

لغات: ﴿عَجْزًا﴾ د ضرب د باب مصدر دی: عاجزه کېدل، له اداء کېدو څخه بې وسه کېدل.

تشریح: مسئله دا ده چي کوم مړي لره هیڅ مال نه وي، نو د ده کفن پر هغه کس واجب دی پر چا چي د ده نفقه لازم ده، لهذا څوک چي په نسبي اعتبار سره د مړي ذوی رحم محرم دي، پر هغو واجب دی، او که هلته هیڅ داسي کس پیدا نه سي چي پر هغه د مړي نفقه واجب وي، نو د هغه کفن به له بیت المال څخه ورکول کیږي، او که بیت المال هم خالي وي، یا مال پکښې وي، خزانچي یې نه ورکړي، نو د هغه کفن ورکول پر مسلمانانو واجب دي یعني کوم چي د مړي په حال خبر سي، پر هغو دې

مړي كفن فرض كفايي دی. لهذا كه دا خلك ټوله لا پروايي وكړي او هغه پرېږدي، نو ټوله ګنهګاره كيږي.

او كه مړي لره مال وي، نو ښكاره خبره ده چي كفن به د هغه له مال څخه وركول كيږي او دا كفن وركول به د هغه له قرض، وصيت او ميراث تقسيمولو څخه مخكي كول كيږي (يعني د مړي له مال څخه به تر ټولو مخكي د هغه كفن وركول كيږي، بيا به د هغه قرض، وصيت اداء كول كيږي...).

﴿۹۲۰﴾ وَيَسْأَلُ لَهُ التَّجْهِيزَ مَنْ لَا يَقْدِرُ عَلَيْهِ او سوال (خواست) كولای سي د مړي لپاره د كفن او دفن هغه كس كوم چي پر دې (كفن، دفن) قدرت نه لري غَيْرَهُ له بل چا څخه (سوال كولای سي).

لغات: ﴿التجهيز﴾ د تفعيل د باب مصدر دی، تيارول، مخكي يې وضاحت وسو چي كله د دې باب په صله كي ميّت ذكر سي نو معنیٰ يې ده: د دفن (ښخولو) لپاره تيارول په غسل وركولو او كفن وكولو سره. همدارنګه په تجهيز كي هغه ټوله أمور داخل دي چي له مړ كېدو څخه وروسته تر ښخولو لپاره ورته ضرورت پرېوځي.

تشريح: صورت د مسئلې دا دی چي كوم څوك د مفلسۍ او تنګلاسۍ په وجه د خپل مړي له كفن او دفن څخه عاجزه وي، نو د هغه لپاره جائز دي چي د ضرورت او كفايت په اندازه له نورو خلكو څخه د كفن و دفن لپاره سوال او خواست وكړي، او كه پر كفنِ ضرورت قادر وي، خو پر كفنِ مسنون قادر نه وي، نو د هغه لپاره سوال كول جائز نه دي. (عمدة الفقه)

د سړي د كفن بيان

﴿۹۲۱﴾ وَكَفَنُ الرَّجُلِ سُنَّةً قَمِيْصٌ وَإِزَارٌ وَلِفَافَةٌ او د سړي كفن د سنت په اعتبار سره (يعني د سړي لپاره سنت كفن) قميص دی، ازار (لنګ) دی او لفافه (اوږد څادر) دی مِمَّا يَلْبَسُهُ فِيْ حَيٰوتِهٖ له هغه قسم جامو څخه كوم چي به ده په خپل ژوند كي (عموماً) اغوستله (يعني د كفن كپړه به په هغه حيثيت سره وي كوم چي به مړي په خپل ژوند كي يعني د اخترونو، لمنځونو او داسي نورو پر موقع اغوستله. چي عموماً هغه به درې كپړې اغوستلې، نو څكه كفن به هم په دريو كپړو كي وركول كيږي. چي بدن يې په پوره توګه پټ سي).

لغات: ﴿إِزَار﴾ لنګ، جمع: أُزُر، و آزِرَة. ﴿لِفَافَة﴾ هغه څه چي مړی پكښي وپېچل سي. مراد څني هغه څادر دی چي ټوله بدن پكښي پټ سي، جمع: لَفَائِف.

تشریح: کفن درې قسمه دی: ① کفن سنت (کفن مسنون)، ② کفن کفایه، ③ کفن ضرورت. په دې عبارت کې کفن سنت بیان سوی دی، کفن سنت د سړي (نارینه) په حق کې درې (۳) کپړې دي: ① قمیص، دا به له غاړې څخه تر پښو پورې وي (بغیر د لستوڼو څخه)، ② إزار (یعنې لنګ)، دا له سر څخه تر پښو پورې کېدل پکار دي، ③ لفافه، دا به د مړي تر قد څه اوږد وي یعنې له سر او پښو څخه به دومره تېر وي چې دواړه طرفونه یې وتړل سي (تقریباً یو لاس به اوږد وي).

او سړي ته په داسې کپړو کې کفن ورکول پکار دي څه قسم کپړه چې به هغه د جمعې او اخترونو پر موقع اغوستله، او ښځې ته داسې کپړه ورکول پکار دي څنګه کپړه چې هغې د پلار کور ته د تګ (یا د واده وغیره) پر موقع اغوستله، یعنې د داسې کپړې د قیمت اندازه لګول پکار دي. (شفاء الارواح بحوالة عمدة الفقه)

د سړي لپاره کفن کفایه

﴿۹۲۲﴾ وَ كِفَايَةً إِزَارٌ وَلِفَافَةٌ او (د سړي کفن) د کفایت په اعتبار سره (یعنې کفایي کفن) ازار دی او لفافه ده.

لغات: ﴿كِفَايَة﴾ دومره مقدار چې محض کافي سي.

تشریح: د سړي لپاره کفنِ کفایه دوې کپړې دي: ① یو ازار، ② او بل لفافه، لهذا که د سړي په کفن کې صرف دا دوې کپړې وي، نو دا هم بېله کراهته صحیح دي.

د کفن رنګ به څرنګه وي؟

﴿۹۲۳﴾ وَفُضِّلَ الْبَيَاضُ مِنَ الْقُطْنِ او افضل ګرځول سوې ده سپینه د پمبې کپړه.

لغات: ﴿القطن﴾ مالوچ، پمبه (پنبه)، کوم چې اوس په کاټن کپړه سره مشهوره ده.

تشریح: د کفن لپاره سپینه کپړه تر ټولو غوره او افضله ده؛ ځکه نبي ﷺ فرمایلي دي "البِسوا من البياض؛ فإنّه من خير ثيابكم و كفّنوا فيها موتاكم" (رواه ابو داؤد)، یعنې تاسې سپیني جامې اغوندئ؛ ځکه دا بهتره کپړې دي او په هغوی کې خپلو مړو ته کفن ورکوئ!.

او په دې کې نوې او زړه (پرېولل سوې) کپړه سره برابر ده (یعنې برابره ده. هغه سپینه کپړه نوې وي او که زړه وي).

او په دې باره کې قاعده دا ده چې کومه کپړه په ژوند کې اغوستل جائز دي، په هغه کې کفن ورکول هم جائز دي او د کومې کپړې اغوستل چې مکروه یا حرام دي، په هغه کې کفن ورکول هم مکروه یا حرام دي، لکه څرنګه ښځې ته په ورېښمې کپړه کې کفن ورکول جائز دي او سړي لره حرام دي.

د ازار، لفافه او قميص تفصيل

﴿۹۲۴﴾ وَكُلٌّ مِّنَ الْإِزَارِ وَاللِّفَافَةِ مِنَ الْقَرْنِ إِلَى الْقَدَمِ او له ازار او لفافه څخه هر يو به (د مړي) له رک سر څخه تر پښې پوري وي وَلَا يُجْعَلُ لِقَمِيْصِهٖ كُمٌّ وَلَا دِخْرِيْصٌ وَلَا جَيْبٌ او نه دي ورکول کيږي (جوړول کيږي) د مړي قميص لره لستوڼي او نه بارچاک او نه جېب وَلَا تُكَفُّ أَطْرَافُهٗ او نه دي ګنډل کيږي د مړي د قميص طرفونه (کنارې).

لغات: ﴿قَرْن﴾ بکسر، مراد: سر، ﴿كُمّ﴾ لستوڼی، جمع: أَكْمَامٌ و كِمَمَةٌ. ﴿دخريص﴾ او دخرصة: ترخز (ترخيزي)، صاحب د معجم د دې لفظ معنیٰ داسي ذکر کړې ده: "الشق في أسفل الثوب ليساعد لابسه على المشي" نو په دې اعتبار سره د "دخريص" معنیٰ ده: بارچاک، د کميس درز.

تشريح: مخکي ذکر سوه چي د سړي لپاره سنت کفن درې کپړې دي: ازار، لفافه او قميص، اوس دلته د هغه اندازه بيانوي لکه مخکي چي هم موږ بيان کړه، تفصيل يې دا دی چي ازار به له سر څخه تر پښو پوري وي، چي په هغه کي مړی پېچل کېدلای سي، لفافه کوم ته چي څادر هم وايي، هغه به له سر څخه څه پورته او له پښو څخه څه لاندي وي (يعني له سر او پښو څخه به دومره تېر وي چي دواړو طرفونو ته تړل کېدلای سي)، او قميص به له غاړي (يا اُوږو) څخه تر پښو پوري وي، بغير له جېب، لستوڼو او ترخزو څخه او اطراف به يې ګنډل سوي نه وي، د دې قميص يوه حصه پر مړي د پاسه راځي او بله تر هغه لاندي راځي او پر اوږو هغه ګنډل کيږي او په پاسنۍ حصه کي د ګرېوان غوندي چاک ورکول کيږي، د دې لپاره چي په غاړه واغوستل سي، او ياد ساتئ! چي کوم څادر تر ټولو د پاسه پر کټ (چپر کټ) اچول کيږي، هغه په کفن کي شامل نه دی.

﴿۹۲۵﴾ وَتُكْرَهُ الْعِمَامَةُ فِي الْأَصَحِّ او مکروه ده لنګوټه (ور په سر کول)، د صحيح ترين قول مطابق.

تشريح: د سړي پر سر لنګوټه تړل مکروه دي، که څه هم بعضي حضراتو داسي مړي ته لنګوټه ور تړل ښه ګڼلي دي کوم چي عالم يا زاهد وي، خو علامه شامي رَحِمَهُ الله فرمايي "والأصح أن تكره العمامة بكل حال، كما في الزاهدي". (شامي ج۳، ص۹۰، ط: بيروت)

سړي ته د کفن ورکولو طريقه

﴿۹۲۶﴾ وَلُفَّ مِنْ يَّسَارِهٖ او مړی دي وپېچل سي (ونغښتل سي. په کفن کي اول) له چپه طرف څخه ثُمَّ يَمِيْنِهٖ بيا له راسته چپه طرف څخه وَعُقِدَ إِنْ خِيْفَ اِنْتِشَارُهٗ او کفن دي غوټه کړل سي (وتړل سي) که چيري د هغه د خلاصېدلو بېره وي.

لغات: ﴿لُفَّ﴾ د نصر له بابه ماضي مجهوله ده. مصدر: لَفًّا: پېچل. د "يسارهٖ" او "يمينهٖ" دواړه ضميرونه د "إزار" وطرف ته راجع دي کوم چي په مخکيني عبارت کي دی، او په دې عبارت کي ودې طرف ته هم اشاره ده چي إزار او لفافه دي هريو جلا، جلا وپېچي. ﴿عُقِدَ﴾ د ضرب له بابه ماضي مجهوله ده. مصدر: عَقْدًا: غوټه ورکول، تړل. ﴿انتشار﴾ د افتعال د باب مصدر دی: غوړېدل (خلاصېدل).

تشريح: په دې عبارت کي پر مړي د کفن پېچولو طريقه بيان سوې ده، تفصيل دا دی چي اول دي لفافه هواره کړي (يا په بله وينا په دريو څادرونو کي چي کوم اوږد څادر دی. اول دي هغه پر چيرکټ هوار کړي)، او پر لفافه د پاسه دي إزار هوار کړي (وغوړوي)، او پاته سوه درېيمه کپړه يعني قميص هغه دي په مړي واغوندي او مړی دي پورته کړي او پر هوار سوي کفن (يعني پر إزار او لفافه) دي يې پرې باسي. (بيا دي د هغه پر سر، ږيره او ټوله بدن خوشبويي ولګول سي او د هغه د سجدې پر اندامونو دي کافور ولګول سي، لکه مخکي چي ذکر سوه)، بيا دي اول د إزار چپه طرف پر مړي را واړوي (وپېچي)، بيا راسته طرف، د دې لپاره چي راسته طرف د پاسه راسي، بيا دي په همدې توګه لفافه باندي وپېچل سي. بيا دي په يو رېښکي وغيره سره د سر او پښو په طرف کي کفن وتړل سي، د دې لپاره چي په لاره کي خلاص نه سي. (شفاء الارواح، مراقی الفلاح)

د ښځي د کفن بيان

﴿۹۲۷﴾ وَتُزَادُ الْمَرْأَةُ فِي السُّنَّةِ خِمَارًا لِوَجْهِهَا او زياتوب به کول کيږي د ښځي په سنت کفن کي يو پوړنی (سربند) د هغې د مخ لپاره وَخِرْقَةً لِرَبْطِ ثَدْيَيْهَا او يوه ټوټه کپړه (سينه بند) د هغې د تيو د تړلو لپاره.

﴿۹۲۸﴾ وَفِي الْكِفَايَةِ خِمَارًا او (زياتوب به کول کيږي د ښځي) په کفايي کفن کي (صرف) يو پوړنی.

لغات: ﴿خمار﴾ (بكسر الخاء): پوړنی، سربند. دلته څني مراد درې لاسه (درې ذراعه) اوږد څادر دی. ﴿خرقة﴾ د کپړې ټوټه رېښکی، دلته سينه بند مراد دی کوم چي به له سينې (تيو) څخه تر ورنو پوري وي. ﴿ثدي﴾ تی، سينه. جمع: أَثْدٍ و ثُدِيٌّ.

تشریح: د ښځي لپاره سنت کفن (کفنِ مسنون) پنځه کپړې دي، درې هغه کپړې دي کوم چې د سړي کفن دی او بل خمار (پوړنی اسرېندا) دی او بل سینه بند دی، یعنې ① قمیص، ② إزار، ③لفافه، ④ خمار (پوړنی) چې هغه درې لاسه کېدل پکار دي، ⑤ او سینه بند (د تیو د تړلو لپاره)، چې په هغه کې افضل دا ده چې له سینې څخه تر زنګنو یا ورنو پورې وي، او که تر نامه (ناف) پورې وي، نو هم صحیح ده او دومره به اوږد وي چې تړل کېږي.

او د ښځي لپاره کفنِ کفایه درې کپړې دي: ① إزار، ② لفافه، ④ او خمار، کفنِ کفایه په اختیاري حالت کې دی او په دې مقدار کې هیڅ کراهت نشته، او له دې مقدار څخه کپړې کمول یعنې د سړي لپاره صرف یوه کپړه او د ښځي لپاره دوې کپړې استعمالول که بلا ضرورته وي، نو مکروه دي او د ضرورت په وخت کې بلا کراهته جائز دي. (انوار الایضاح، شفاء الارواح)

ښځي ته د کفن ورکولو طریقه

﴿۹۲۹﴾ وَيُجْعَلُ شَعْرُهَا ضَفِيْرَتَيْنِ عَلٰى صَدْرِهَا فَوْقَ الْقَمِيْصِ او د ښځي ورېښتان دي دوه چوټیان (دوې پښتې) کړل سي په سینه باندې (دې کېښودل سي) پر قمیص د پاسه ثُمَّ الْخِمَارُ فَوْقَهٗ تَحْتَ اللِّفَافَةِ بیا پوړنی د قمیص د پاسه تر لفافه (اوږد څادر) لاندې ثُمَّ الْخِرْقَةُ فَوْقَهَا بیا ټوټه کپړه (سینه بند) پر لفافه د پاسه.

لغات: ﴿ضفیرتین﴾ تثنیه د ضَفِيْرَةٌ ده: کوڅۍ، چوټي، علیٰ صدرها دا د فعل محذوف متعلق دی أی توضعان علیٰ صدرها.

تشریح: ښځي ته د کفن ورکولو طریقه دا ده چې د کفن له کپړو څخه دې اول وار ښځي ته قمیص ور واغوندي، تر دې وروسته دې لفافه (اوږد څادر) هوار کړي، بیا دې پر هغه د پاسه سینه بند هوار کړي او پر هغه د پاسه دې إزار هوار کړي، بیا دې ښځه پر دغه هوار سوي کفن کېښېږدي او د هغې ورېښتان دې دوې حصې کړي او پر قمیص د پاسه دې یې پر سینه واچوي، یعنې د ورېښتیانو یوه حصه دې پر سینه راسته طرف ته کېښېږدي او بله چپه طرف ته، تر دې وروسته دې یې خمار (پوړنی) په سر او ورېښتانو باندې ور واچوي (په دې توګه چې د شا لخوا دې یې باندې را تاو کړي او پر سینه دې یې واچوي د نقاب په څېر) او هغه دې نه تړي او نه دې یې پېچي (او دا کوم بعضي ښځي چې د ژوند په څېر پوړنی ور پر سر کوي او پېچي، دا محض بې اصل او خلافِ سنت دي)، بیا دې إزار باندې را واړوي (ورپېچي) اول چپه طرف، بیا راسته طرف، تر هغه وروسته دې په همدې توګه سینه بند باندې را ورپېچي (کوم چې به تر ورنو یا زنګنو پورې وي او د سینه بند سرونه دې و تړي اغوته یې ورکړیا)، بیا دې لفافه په هغسې توګه باندې را ورپېچي کوم

چي د سړي لپاره بيان سو (او كه سينه بند تر لفافه وروسته په آخر كي باندي راوپېچي. نو دا هم جائز دي. همدارنګه كه سينه بند تر خمار وروسته او د إزار تر پېچولو مخكي وتړي. نو هم جائز دي)، بيا دي په يو رېښكى باندي د سر او پښو په طرف كي كفن وتړي او د ملا په طرف كي دي يې هم وتړي، چي په لاره كي يو ځاى خلاص نه سي.

كفن خوشبوداره كول

﴿۹۳۰﴾ وَتُجَمَّرُ الْأَكْفَانُ وِتْـرًا قَبْلَ أَنْ يُّدْرَجَ فِيْهَا او كفنونه دي (په خوشبويي سره) لوګى كړل سي مخكي تر دې چي مړى په هغوى كي ونغښتل سي (داخل كړل سي).

لغات: ﴿تُجمّر﴾ د تفعيل له بابه د واحد مؤنث غائب مضارع مجهوله ده، څه مخكي يې وضاحت وسو: ښه بوى لرونكى شى دودول (لوګى كول)، يعني عُود يا بل داسي بل ښه بوى والا شى پر سكروټو اېښوول او سوځول او چي كله يې دودان پورته سي، نو پر كفن په طاق شمېر سره ګرځول را ګرځول چي په بوى سره يې خوشبوداره سي، "أكفان" يې ځكه د جمع په صيغه سره ذكر كړى دى چي په كفن كي څو كپړې وي (يعني تميص، إزار، لفافه او داسي نور)، وتـرًا دا صفت دى د مصدرِ محذوف يعني تجميرًا وتـرًا. ﴿يدرج﴾ د افعال له بابه مضاع مجهوله ده: يو شى په بل كي داخلول (پكښي نغښتل)، دننه كول.

تشريح: په دې عبارت كي كفن ته د يو خوشبوداره شي د دودولو حكم سوى دى چي په طاق شمېر يعني درې، يا پنځه واره دي كفن ته عُود يا لوبان وغيره ودودول سي، تر هغه وروسته دي پر مړي وپېچل سي، له پنځو وارو څخه زيات دي نه ورته دودول كيږي. (مراقى الفلاح)

فايده: له دودولو څخه (اصلاً) خوشبوداره كول مراد دي، يعني كفن دي هسي په يو ډول سره خوشبوداره كړل سي چي ښه بوى ځني پورته سي، هغه كه ذيو شي په دودولو سره وي او كه په عطرو سره وي، يا په يو بل خوشبوداره شي سره وي، او دا كار په طاق شمېر سره كول سنت دي. (فتح الهدايه)

كفنِ ضرورت

﴿۹۳۱﴾ وَكَفَنُ الضَّرُوْرَةِ مَا يُوْجَدُ او كفنِ ضرورت هغه دى كوم څه چي پيدا سي (يعني څومره كپړه چي ترلاسه سي، د ضرورت په وخت كي هغه كافي ده).

تشريح: د كفن درېيم قسم كفنِ ضرورت دى، كفنِ ضرورت د سړي او ښځي لپاره دا دى چي څومره كپړه هم ترلاسه سي چي كم از كم دومره وي چي ټوله بدن په پټ سي برابره ده نوې كپړه وي او كه زړه وي، او كه دومره قدر هم نه وي، نو له خلكو څخه دي يې وغواړي او هغه دي ور پوره كړي، او كه دا هم نه سي كېدلاى، نو د سر پر طرف دي يې واچوي او د پښو طرف ته چي څومره اندازه ښكاره (لڅه) پاته سي، هغه په وښو او داسي نورو سره پټول واجب دي. (شفاء الارواح)

د قریب البلوغ د کفن حکم

مسئله: قریبُ البلوغ هلک او انجلۍ د کفن په حکم کي د لوی سړي او ښځي په څېر دی، یعني قریبُ البلوغ هلک ته دي د سړي په څېر په دریو کپړو کي او قریبُ البلوغ انجلۍ ته دي د ښځي په څېر په پنځو کپړو کي کفن ورکول سي (یعني سنت کفن)، همدارنګه ډېر کوچني هلک او انجلۍ ته (مناسب دا ده چي) هم دغسي دي کفن ورکول کیږي، خو کوچني هلک ته په یوه کپړه کي او کوچنۍ انجلۍ ته په دوو کپړو کي کفن ورکول هم جائز دي.

* * *

فَصْلٌ فِیْ صَلَاةِ الْجَنَازَةِ

(دا) فصل په (بیان د) لمانځه د جنازې کي دی

تشریح: څرنګه چي تر کفن وروسته د جنازې د لمانځه پړاو راځي، نو ځکه صاحب د کتاب رَحِمَهُ الله تر تکفین وروسته د جنازې د لمانځه فصل بیانوي، یا په بله وینا دا چي غسل او کفن شرط دي او د جنازې لمونځ یې مشروط دی، او قاعده دا ده چي الشرط یتقدم علی المشروط.

د جنازې په لمانځه کي شرکت کونکي لره زېری: د جنازې په لمانځه سره نه صرف دا چي مړي ته فایده رسیږي، بلکي خپله دا لمونځ کونکی هم له سعادت څخه نه محرومیږي او د ده لپاره هم د بخښني وعده ده، لکه څرنګه چي په یوه روایت کي دي چي رسول الله ﷺ وفرمایل: انسان ته د هغه تر مرګ وروسته تر ټولو مخکي بدله دا ورکول کیږي چي د هغه د جنازې سره تلونکي ټولو کسانو ته بخښنه کیږي (همداسي د جنازې د لمونځ کونکي په باره کي هم داسي نقل سوی دی). (الترغیب والترهیب مکمل: ۵۲۷۳)

د افسوس ځای!: نن سبا عموماً د جنازې پر موقع ځیني خلک د جنازې د لمانځه څخه لیري ولاړ لیدل کیږي او کله چي له هغو څخه پوښتنه وسي چي په جنازه کي شرکت ولي نه کوئ!، نو بعضي د بې اودسیا عذر پېشوي او بعضي وایي چي د جنازې دعاء مو یاده نه ده، حال دا چي دا ټوله کمزوري اعذار دي: ځکه پاکي حاصلول څه مشکل نه دي او پاته سوه د دعاء خبره، نو هغه خو د جنازې د لمانځه په فرائضو کي داخله نه ده بلکي د هغه فرائض صرف دوه دي: ① قیام (ولاړه)، ② څلور واره تکبیر ویل، دومره آسانه عبادت د غفلت په وجه پرېښوول ډېره د محرومۍ خبره ده. (کتاب المسائل ص: ۵۶۹)

د جنازې لمونځ فرض کفایه دی

﴿۹۳۲﴾ اَلصَّلٰوةُ عَلَيْهِ فَرْضُ كِفَايَةٍ پر مړي لمونځ کول (د جنازې لمونځ) فرضِ کفایي دی.

تشریح: فرمایي چې د جنازې لمونځ فرضِ کفایه (فرض کفایي) دی، که هیڅوک هم د جنازې لمونځ نه وکړي او مسلمان مړی د لمانځه څخه بغیر ښخ کړل سي، نو کومو خلکو ته چې معلومه ده، هغوی ټوله ګنهګاره کیږي، او که صرف یو کس یې هم اداء کړي، نو د ټولو له ذمې څخه دا فرض ساقطیږي؛ ځکه د جنازې د لمانځه لپاره جماعت شرط نه دی. (طحطاوي)

د جنازې د لمانځه فرائض

﴿۹۳۳﴾ وَأَرْكَانُهَا التَّكْبِيرَاتُ وَالْقِيَامُ او د دې لمانځه ارکان تکبیرونه او ولاړه ده.

تشریح: د جنازې په لمانځه کي دوه شیان فرض دي: ① څلور واره الله أکبر ویل، ② قیام، یعني په ولاړه دا لمونځ اداء کول. که څوک بلا عذره د جنازې لمونځ وکړي، نو نه صحیح کیږي، لېکن که عذر وي، نو جائز دي.

د جنازې د لمانځه د صحت شرطونه

﴿۹۳۴﴾ وَشَرَائِطُهَا سِتَّةٌ او د جنازې د لمانځه شرطونه شپږ دي إِسْلَامُ الْمَيِّتِ ① د مړي مسلمان والی (چې هغه به مسلمان وي) وَطَهَارَتُهُ ② او د مړي پاکوالی وَتَقَدُّمُهُ ③ او د مړي مخکي والي (چې هغه به تر امام مخکي ایښوول سوی وي) وَحُضُوْرُهُ أَوْ حُضُوْرُ أَكْثَرِ بَدَنِهِ أَوْ نِصْفِهِ مَعَ رَأْسِهِ ④ او د مړي موجود والی یا د هغه د بدن اکثره حصه یا نیمه حصه د سر سره موجودېدل وَكَوْنُ الْمُصَلِّيْ عَلَيْهَا غَيْرَ رَاكِبٍ بِلَا عُذْرٍ ⑤ او په جنازه (مړي) پسي لمونځ کونکی بېله عذره نه سپرېدل (چې څوک په جنازه باندي لمونځ کوي، هغه به پر یو سپرلي سپور نه وي) وَكَوْنُ الْمَيِّتِ عَلَى الْأَرْضِ ⑥ او مړی پر ځمکه کېدل فَإِنْ كَانَ عَلٰى دَابَّةٍ أَوْ عَلٰى أَيْدِي النَّاسِ بیا که مړی پر سپارلي وي یا د خلکو پر لاسو وي لَمْ تَجُزِ الصَّلٰوةُ عَلَى الْمُخْتَارِ إِلَّا مِنْ عُذْرٍ نو لمونځ نه جائز کیږي د مختار (اختیار سوي) قول مطابق، مګر د یو عذر په وجه.

تشریح: د جنازې د صحیح کېدلو شپږ شرطونه دي؛

①... مړی (ميت) به مسلمان وي، که څه هم فاسق يا بدعتي وي، د هغه د جنازې لمونځ صحيح دی، د کافر او مرتد د جنازې لمونځ صحيح نه دی.

②... طهارت، يعني د مړي بدن، کفن او ځای له نجاست حقيقيه څخه پاکېدل او د مړي بدن له نجاست حکميه څخه پاکېدل، د بدن د پاکېدو مطلب دا دی چي هغه ته به غسل ورکول سوی وی، او که تر غسل وروسته او تر کفن ورکولو مخکي د هغه له بدن څخه نجاست ووځي، نو هغه دي صرف پرېولل سي، د غسل راګرځولو ضرورت نسته، او که تر کفن ورکولو وروسته نجاست راووځي، نو هغه معاف دی او لمونځ صحيح دی، او د کفن د پاکېدو مطلب دا دی چي پاک کفن به ورکول سي او که وروسته د مړي د نجاست د وتلو په وجه کفن ناپاکه سي، نو معاف دی او لمونځ صحيح دی. د ځای د پاکېدو مطلب دا دی چي مړی به پر پاک کټ يا تخته اېښوول سوی و ی، او پاته سو پر کوم ځای چي د مړي کټ يا تخته اېښوول سوې وي، د هغه ځای پاکوالی شرط نه دی، په هر حال کي بالاتفاق لمونځ صحيح دی. (عمدة الفقه)

③... مړی (ميت) د امام مخ ته د قبلې و طرفته کېدل، که مړی د امام شاته وي، نو لمونځ نه صحيح کيږي.

④... د مړي ټوله بدن موجودېدل، يا د بدن زياتره حصه د سر سره يا بغير له سره، يا د بدن نيمه حصه د سر سره موجودېدل، که دومره اندازه مړی هلته موجود نه وي، مثلاً فقط سر يې موجود وي، يا نيم بدن بغير له سره موجود وي، نو پر هغه د جنازې لمونځ صحيح نه دی، همدارنګه د غائب کس د جنازې لمونځ صحيح نه دی.

⑤... څوک چي پر مړي د جنازې لمونځ کوي، هغه به پر يو سپارلي سپور نه وي، لهذا که څوک د سپرتيا په حالت کي د جنازې لمونځ اداء کړي، نو نه صحيح کيږي، لېکن که عذر وي چي د هغه په وجه نه سي زا شوه کېدلای مثلاً ټوله ځمکه خټه وي، نو بيا پر سپارلي هم جائز دي.

⑥... مړی يا پر کوم شي (کټ او تخته) چي مړی پروت وي، هغه به پر ځمکه اېښوول سوی وي، لهذا که مړی پر سپارلي وي (مثلاً په موټر کي وي يا مثلاً پر آس اېښوول سوی وي)، يا د خلګو پر لاسو وي، نو د جنازې لمونځ يې نه صحيح کيږي، لېکن که عذر وي مثلاً ځمکه خټه وي، نو جائز او صحيح دي. (شفاء الارواح)

د جنازې د لمانځه سنتونه

﴿۴۳۵﴾ وَسُنَنُهَا أَرْبَعٌ او د جنازې د لمانځه سنتونه څلور دي قِيَامُ الْإِمَامِ بِحِذَاءِ صَدْرِ الْمَيِّتِ ① د امام درېدل د مړي د سينې پر برابر (يا بله وينا، د مړي سينې ته مخامخ) ذَكَرًا كَانَ أَوْ

أُنْثٰـی (برابره ده ميرى) نارينـه وي او كه ښځينه وي وَالثَّنَاءُ بَعْدَ التَّكْبِيْرَةِ الْأُوْلٰـی ② او ثناء (سبحانك اللهم ...) ويل تر اول تكبير وروسته وَالصَّلوٰةُ عَلَى النَّبِيِّ ﷺ بَعْدَ الثَّانِيَةِ ③ او درود ويل پر نبي كريم ﷺ تر دويم تكبير وروسته (او ښه دا ده چي درود ابراهيمي ووايي) وَالدُّعَاءُ لِلْمَيِّتِ بَعْدَ الثَّالِثَةِ ④ او دعاء كول د مړي لپاره تر دريم تكبير وروسته.

تشريح: د جنازې په لمانځه كي درې شيان سنت دي: ① امام د مړي (جنازې) د سيني په مقابل كي ودرېدل، هغه كه سړى وي او كه ښځه، ② د الله تعالى حمد او ثناء بيانول تر اول تكبير ووسته. ③ پر نبي كريم ﷺ دورد ويل تر دويم تكبير وروسته، ④ د مړي لپاره دعاء كول تر دريم تكبير وروسته. خو علامه شامي او صاحب د البحر الرائق او علامه طحطاوي رَحِمَهُمُ الله صرف آخر درې شيان سنت شمېرلي دي او اول ته يې د مستحب درجه ور كړې ده. وهٰذا ظاهر الرواية وهو بيان الاستحباب. (او تر څلورم تكبير وروسته سلام ګرځول كيږي چي د هغه بيان به څه وروسته راسي).

تر دريم تكبيـر وروسته كومه دعاء ويل پكار دي؟

﴿٩٣٦﴾ وَلَا يَتَعَيَّنُ لَهٗ شَيْءٌ او د دې دعاء لپاره څه خاص دعاء متعينه نه ده وَإِنْ دَعَا بِالْمَأْثُوْرِ فَهُوَ أَحْسَنُ وَأَبْلَغُ او كه مأثوره (منقوله) دعاء ووايي نو زياته ښه او زيات رسونكې ده (تر مقصوده پوري) وَمِنْهُ مَا حَفِظَ "عَوْفٌ" مِنْ دُعَاءِ النَّبِيِّ ﷺ او له مأثوره (منقوله) دعاګانو څخه (يوه) هغه ده كوم چي حضرت عوف رضی الله عنه له نبي كريم ﷺ څخه ياده كړې ده (او هغه دا ده) اَللّٰهُمَّ اغْفِرْ لَهٗ وَارْحَمْهُ اې الله! هغه ته بخښنه وكړه! او پر هغه رحم وكړه! وَعَافِهٖ وَاعْفُ عَنْهُ او عافيت (سلامتيا) ور كړه (له عذاب څخه)! او هغه ته معافي وكړه! وَأَكْرِمْ نُزُلَهٗ او معزّزه كړه! د هغه ميلمستيا (ښه ميلمستيا ور كړه!. يعني په قبر كي يې په خپلو نعمتونو سره ونازوه!. يا زيات ثوابونه ور كړه!) وَوَسِّعْ مَدْخَلَهٗ او پراخه كړه! د هغه د داخلېدلو ځاى (قبر) وَاغْسِلْهُ بِالْمَاءِ وَالثَّلْجِ وَالْبَرَدِ او پرېوله! هغه په اوبو، واوره او ږلېو سره (يعني له ګناهونو څخه يې پاک كړه!) وَنَقِّهٖ مِنَ الْخَطَايَا كَمَا يُنَقَّى الثَّوْبُ الْأَبْيَضُ مِنَ الدَّنَسِ او پاک (صفا) كړه! هغه له خطاګانو

څخه (داسي) لکه څرنګه چي پاکول کیږي سپینه جامه له خیرو څخه وَ أَبْدِلْهُ دَارًا خَيْرًا مِنْ دَارِهٖ او هغه ته په بدله کي داسي کور ورکړه! کوم چي غوره (بهتره) وي د هغه (د دنیا) له کور څخه وَ أَهْلًا خَيْرًا مِنْ أَهْلِهٖ او داسي کورنی (اهل وعیال) کوم چي غوره وي د هغه له (دنیاوي) کورنی څخه وَزَوْجًا خَيْرًا مِنْ زَوْجِهٖ او داسي جوړه (په بدله کي ورکړه!) کوم چي غوره وي د هغه له (دنیاوي) جوړي څخه وَ أَدْخِلْهُ الْجَنَّةَ او داخل کړه! هغه و جنت ته وَأَعِذْهُ مِنْ عَذَابِ الْقَبْرِ وَعَذَابِ النَّارِ او پناه ورکړه! هغه ته د قبر او دوږخ له عذاب څخه.

لغات: ﴿مأثور﴾ د نصر او ضرب له بابه اسم مفعول دی: نقل کړی سوی (منقول). ﴿أحسن﴾ د کرُم له بابه اسم تفضیل دی: ډېر ښه. ﴿أبلغ﴾ دا هم اسم تفضیل دی د نصر له بابه: مقصود ته زیات رسونکی. ﴿عافه﴾ د مفاعلې له بابه امرِ حاضر معروف دی، مصدر: معافاةً: عافیت او صحت ورکول، له مرض او آفت څخه خوندي ساتل. ﴿نُزُل﴾ په اصل کي هغه شیانو ته ویل کیږي کوم چي د مېلمه لپاره تیارول کیږي، دلته زیات ثواب یا د قبر نعمتونه مراد دي. ﴿مَدْخَل﴾ د داخلېدلو (ننوتلو) ځای، د داخلېدلو دوازه، دلته مراد قبر دی، جمع: مَدَاخِل. ﴿ثلج﴾ واوره. ﴿بَرَد﴾ ږلۍ. ﴿دَنَس﴾ خیره، ګندګي، جمع: أدناس. ﴿أهلًا خيرًا من أهله و زوجًا خيرًا من زوجه﴾ په دې عبارت کي که له اهل څخه مراد زوج وي نو بیا عطف تفسیري دی او که له اهل څخه مراد د رحمت فرښتې او هغه مسلمان همسایه وي کوم چي مړ سوی وي یا د جنت اوسېدونکی ځني مراد وي، نو بیا د یوې جملې عطف پر بلې د مغایرت لپاره دی (طحطاوي بحوالهٔ انوار الایضاح). ﴿أعِذْ﴾ د افعال له بابه د واحد مذکر امرِ حاضر صیغه ده: په پناه کي ساتل، خوندي ساتل.

تشریح: د جنازې په لمانځه کي تر درېیم تکبیر وروسته هره دعاء ویلای سي، صرف د دې خبري خیال ساتل پکار دي چي په هغه کي د مړي لپاره د مغفرت (بخښني) دعاء کول پکار دي، یوه دعاء په عبارت کي مذکوره ده چي هغه ته مصنف رَحِمَهُ اللهُ احسن او ابلغ ویلي دي، دا دعاء له حضرت عوف بن مالک رضی الله عنه څخه منقول ده، هغه فرمایي چي: نبي کریم ﷺ یو مړي ته د جنازې لمونځ ورکړی، په هغه کي نبي کریم ﷺ دا دعا وویله "اللّٰهم اغفِرْ لَهُ...". بیا هغه فرمایي چي د دې دعاء په اورېدلو سره ما دا تمنّا وکړه چي کاشکي دا جنازه زما وای. (مراقی الفلاح، الدر المنضود)

فایدهٔ مهمه: "وَاغْسِلْهُ بِالْمَاءِ وَالثَّلْجِ وَالْبَرَدِ...إلٰی قوله: مِنَ الدَّنَسِ"، د دې عبارت په تشریح کې علامه طحطاوي رَحِمَهُ الله فرمايي چې په دې کې استعاره بالکنایه ده، داستعاره بالکنایه مطلب دا دی چې یو شي ته د بل شي سره په زړه کې تشبیه ورکول سي او له مشبه څخه بغیر د تشبیه ټوله ارکان(مشبّه بهٖ، وجهٔ شبه، أدات تشبیه) پرېښوول سي، نو دلته هم مړي ته د داسي کپړې سره تشبیه ورکول سوې ده کومه چې پرېولَل کیږي او له مشبه څخه بغیر د تشبیه نور ټوله ارکان پرېښوول سوي دي او د غسل ذکر یعني "واغسله" استعارهٔ تخییلیه ده، داستعارهٔ تخییلیه مطلب دا دی چې د متروک مشبه بهٖ یو لازم د مذکوره مشبه لپاره ثابت کړی سي، نو دلته هم د مشبه بهٖ یعني د کپړې سره لازم شی "غسل" د مشبه یعني د "میت" لپاره ثابت سوی دی، او "الماء، البرد او الثلج" استعاره ترشیحیه ده، د دې مطلب دا دی چې د متروک مشبه بهٖ سره مناسب شی د مذکوره مشبّه لپاره ثابت کړی سی. (انوار الایضاح)

تر څلورم تکبیـــر وروسته سمدستي سلام ګرځول

﴿۹۳۷﴾ وَيُسَلِّمُ بَعْدَ الرَّابِعَةِ مِنْ غَيْرِ دُعَاءٍ او سلام دي وګرځوي تر څلورم تکبیر وروسته بغیر له دعاء څخه فِيْ ظَاهِرِ الرِّوَايَةِ په ظاهر روایت کي.

تشریح: فرمایي چې تر څلوم تکبیر وروسته دي سمدستي سلام وګرځوي، څه دعاء دي نه کوي، صحیح خبره همدا ده، که څه هم بعضي مشائخو ویلي چې تر څلورم تکبیر وروسته دي "ربّنا آتنا فی الدّنیا إلخ" یا "ربّنا لاتُزِغْ قُلُوْبَنَا إلخ" ووایي او سلام دي وګرځوي، خو ظاهر روایت همدا دی چې له دعاء کولو څخه بغیر (دوارو طرفونو ته) دي سلام وګرځوي.

له اول تکبیـــر څخه بغیر په نورو تکبیرونو کي به لاسونه نه پورته کوي

﴿۹۳۸﴾ وَلَا يَرْفَعُ يَدَيْهِ فِيْ غَيْرِ التَّكْبِيْرَةِ الْأُوْلٰى او نه دي پورته کوي خپل لاسونه له اول تکبیر څخه بغیر په نورو کي.

تشریح: صورت د مسئلې دا دی چې د جنازې په لمانځه کي دي د اول تکبیر ویلو سره دواړه لاسونه د غوږو تر نرمیو پوري پورته کړي او تر نامه لاندي دي یې وتړي او په پاته دریو تکبیرونو کي دي لاسونه نه پورته کوي، بلکي بغیر له لاس پورته کولو څخه دي تکبیر وایي.

که امام د جنازې په لمانځه کي پنځم تکبیر ووایي؟

﴿٩٢٩﴾ وَلَوْكَبَّرَالْإِمَامُ خَمْسًا او که امام پنځم تکبیر ووایي لَمْ يُتَّبَعْ نو تابعداري به نه کول کیږي د هغه (یعني مقتدیان به پنځم تکبیر نه ور سره وایي) وَلٰكِنْ يُنْتَظَرُ سَلَامَهٗ لیکن انتظار به کول کیږي د هغه د سلام فِي الْمُخْتَارِ د مختار (اختیار سوي) قول مطابق.

لغات: ﴿لم يتبع﴾ د افتعال له بابه د جحد نفي بلم صیغه ده، مصدر: اِتِّبَاعًا: په یو چا پسي تلل، تابعداري کول، پیروي کول.

تشریح: صورت د مسئلې دا دی چي که امام د جنازې په لمانځه کي پنځم تکبیر ووایي، نو مقتدیان دي د امام سره دا پنځم تکبیر نه وایي، اوس به دوی څه کوي؟، په دې باره کي له امام ابو حنیفه رَحِمَهُ الله څخه دوه روایتونه دي: ① یو دا چي مقتدیان دي سمدستي سلام وګرځوي، د دې لپاره چي په پنځم تکبیر کي د امام مخالفت ثابت سي، ② او بل روایت دا دی چي مقتدیان دي چوپ ودریږي او د امام د سلام ګرځولو انتظار دي وکړي، د دې لپاره لپاره چي په سلام کي متابعت راسي، مصنف رَحِمَهُ الله فرمایي چي مختار روایت همدا دی او پر همدې فتویٰ ده. (انوار الایضاح. شفاء الارواح)

د کوچني او لېوني لپاره به کومه دعاء ویل کیږي؟

﴿٩٣٠﴾ وَلَا يُسْتَغْفَرُ لِمَجْنُوْنٍ وَصَبِيٍّ او مغفرت به نه غوښتل کیږي (استغفار به نه ویل کیږي) دلېوني او بچي لپاره وَيَقُوْلُ او وایي به (یعني دا دعاء به وایي) اَللّٰهُمَّ اجْعَلْهُ لَنَا فَرَطًا اې الله! وګرځوه! هغه زموږ لپاره مخکینی اجر (چي زموږ له مرګ څخه مخکي هغه زموږ لپاره د اجر سبب وګرځي. یا د دې معنیٰ ده: اې الله وګرځوه هغه زموږ لپاره محکینی انتظام کونکی او داسي شیانو چي زموږ لپاره په آخرت کي غوره وي) وَاجْعَلْهُ لَنَا أَجْرًا وَذُخْرًا او وګرځوه! هغه زموږ لپاره ثواب او ذخیره وَجْعَلْهُ لَنَا شَافِعًا وَمُشَفَّعًا او وګرځوه! هغه زموږ لپاره شفاعت کونکی او شفاعت قبول کړی سوی (چي ستا په دربار کي یې شفاعت او سفارش قبول کړی سي).

لغات: ﴿فَرَطًا﴾ (د راء په فتحه سره): د دې لفظ څو معناوي دي چي له هغوی څخه یوه دا ده: هغه اجر او عمل کوم چي انسان مخکي کړی وي (له ځان څخه یې مخکي استولی وي)، صاحب د مصباح رَحِمَهُ الله د دې وضاحت داسي کړی دی "اللّٰهُمَّ اجْعَلْهُ فَرَطًا أَیْ أَجْرًا مُتَقَدِّمًا"، صاحب د انوار الایضاح حَفِظَهُ الله

د دې معنیٰ داسي بیان کړې ده: مخته د داسي شیانو انتظام کونکی کوم چي په جنت کي زموږ لپاره غوره وي. ﴿ذُخْرًا﴾ (د ذال په ضمه سره): ذخیره. ذَخَرَ یَذْخُرُ ذَخْرًا و ذُخْرًا (فتح): ذخیره کول، یو شی د ضرورت په وخت کي محفوظ ساتل.

تشریح: د کوچني بچي او مجنون لپاره دي هغه دعاء نه وایي کوم چي مخکي د لویانو لپاره ذکر سوه، بلکي د هغه پر ځای پورتنۍ مذکوره دعاء وایي؛ ځکه چي دوی مکلف نه دي، لهذا د دوی لپاره د ګناهونو مغفرت غوښتل بې فایدې دی.

او دلته له مجنون څخه مراد هغه مجنون دی کوم چي تر بلوغ مخکي لېونی سوی وي؛ ځکه چي هغه بالکل مکلف سوی نه دی او که جنون تر بلوغ وروسته واقع سوی وي، نو د هغه لپاره دي د مغفرت دعاء کول کیږي؛ ځکه تر جنون مخکي هغه مکلف وو، او تر جنون مخکي د بلوغت د زمانې ګناهونه په جنون سره نه ساقطیږي. (شفاء الارواح)

❀ ❀ ❀

د جنازې د لمانځه پوره طریقه

د جنازې د لمانځه طریقه دا ده چي مړی دي مخ ته کېښېږدي او امام دي د هغه د سینې پر مقابل ودریږي او ټوله خلک دي په زړه یا په ژبه سره هم دا نیت وکړي چي "زه د الله تعالی د رضاء او د مړي په حق کي د دعاء کولو لپاره د جنازې لمونځ کوم"، تر دې وروسته دي الله اکبر ووایي او دواړه لاسونه دي د غوږو تر نرمیو پوري پورته کړي او تر نامه لاندي دي یې وتړي، تر اول تکبیر وروسته دي ثناء یعني " سُبْحَانَكَ اللّٰهُمَّ وَبِحَمْدِكَ وَتَبَارَكَ اسْمُكَ وَتَعَالٰى جَدُّكَ وَلاَ إِلٰهَ غَيْرُكَ " ووایي، بیا دي دویم تکبیر ووایي او تر هغه وروسته دي درود شریف ووایي کوم درود چي په لمانځه کي ویل کیږي (یعني درود ابراهیمي)، یا بعضي علماؤ کرامو دا درود هم لیکلی دی " اللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى مُحَمَّدٍ وَعَلٰى آلِ مُحَمَّدٍ كَمَا صَلَّيْتَ وَسَلَّمْتَ وَبَارَكْتَ وَرَحِمْتَ وَتَرَحَّمْتَ عَلٰى إِبْرَاهِيمَ وَعَلٰى آلِ إِبْرَاهِيمَ إِنَّكَ حَمِيْدٌ مَجِيْدٌ "، دا هم ویلای سي، بیا دي دریم تکبیر ووایي او تر هغه (دریم تکبیر) وروسته دي د مړي لپاره دعاء وکړي، مړی که بالغ وي، نو دا دعاء دي ووایي "اَللّٰهُمَّ اغْفِرْ لِحَيِّنَا وَمَيِّتِنَا وَشَاهِدِنَا وَغَائِبِنَا وَصَغِيْرِنَا وَكَبِيْرِنَا وَذَكَرِنَا وَأُنْثَانَا، اللّٰهُمَّ مَنْ أَحْيَيْتَهُ مِنَّا فَأَحْيِهِ عَلَى الْإِسْلَامِ وَمَنْ تَوَفَّيْتَهُ مِنَّا فَتَوَفَّهُ عَلَى الْإِيْمَانِ"، او که خوښه یې وي نو هغه دعاء دي ووایي کوم چي له حضرت عوف بن مالک رضي الله عنه څخه منقوله ده کوم چي څه مخکي په ﴿۹۳۶﴾ نمبر مسئله کي تېره سوه. او که جنازه د بالغه ښځي وي، نو په دعاء کي دي د مذکر د ضمیرونو پر ځای د مؤنث ضمیرونه استعمال کړي. او که مړی نابالغ هلک وي، نو هم دي دغه پورتنۍ دعاء ووایي (کوم چي اوس په ﴿۹۴۰﴾ نمبر مسئله کي ذکر سوه) او

که نابالغه انجلۍ وي، نو د "اجعله" پر ځای دي "اجعلها" او د "شافعًا" پر ځای "شافعةً" او د "مشفعًا" پر ځای دي "مشفعةً" ووايي، تر دې وروسته دي څلورم تکبير ووايي او سلام دي وګرځوي.

او د کوم چا چي د جنازې دعاء ياده نه وي، هغه دي صرف "اَللّٰهُمَّ اغْفِرْ لَنَا وَلِوَالِدَيْنَا وَلَهٗ وَلِلْمُؤْمِنِيْنَ وَالْمُؤْمِنَاتِ" ووايي، او که دا يې هم نه يادېږي، نو صرف په هغه څلور واره تکبيرو يلو سره يې لمونځ کېږي، لهذا بېله عذره دي لمونځ نه پرېږدي (چي زما دعاء زده نه ده...). (در مختار مع شامی ج:۱، ص:۸۱۶، طحطاوي ص:۳۲۱)

❁ ❁ ❁

فَصْلٌ

د جنازې په لمانځه کي د امامت مستحق

﴿۹۳۱﴾ اَلسُّلْطَانُ أَحَقُّ بِصَلوٰتِهٖ باچا (بادشاه) زيات حقدار دی د مړي (جنازې) د لمانځه ثُمَّ نَائِبُهٗ ثُمَّ الْقَاضِیْ بيا د باچا نائب بيا قاضي ثُمَّ إِمَامُ الْحَيِّ ثُمَّ الْوَلِيُّ بيا کلي (محلې) والا امام بيا ولي (د مړي سرپرست).

لغات: ﴿السلطان﴾ باچا (بادشاه)، جمع: سَلَاطِيْن، ﴿الحيّ﴾ د دې لفظ څو معناوي دي چي له هغوی څخه يوه معنیٰ ده: محلّه، کلی، د څو کورونو مجموعه، جمع: أَحْيَاء، ﴿الوليّ﴾ د دې لفظ څو معناوي نقل سوي دي چي ځيني يې دا دي: ذمه وار، ميراث خور، مشر او داسي نور، مراد ځني د مړي په قربانو (ميراث خوارو) کي تر ټولو نژدې قريب دی (يا په بله وينا مشر ميراث خور چي د کورنۍ او د مړي مشري يې په غاړه وي).

تشريح: د جنازې د لمونځ کولو اول حقدار سلطان يعني د مسلمانانو باچا (اميرُ المؤمنين) ؎، که هغه حاضر نه وي، نو بيا د باچا نائب اولیٰ دی، که هغه هم نه وي، نو بيا قاضي اولیٰ دی. لېکن دا حکم هلته دی چيري چي اسلامي او شرعي حکومت قائم وي، کوم چي نن سبا عموماً معدوم دی. او

دوی په ناموجودیت کي بیا د محلې امام که د مړي له ولي څخه غوره وي، نو هغه اولیٰ دی، او که د مړي ولي غوره وي (یعني د امام په نسبت په علم او تقویٰ کي افضله وي)، نو هغه اولیٰ دی، د ولي مذکر کېدل او عاقل و بالغ کېدل شرط دي.

آیا ولي وغیره بل څوک مخکي کولای سي؟

﴿٩٣٢﴾ وَلِمَنْ لَهٗ حَقُّ التَّقَدُّمِ أَنْ يَّأْذَنَ لِغَيْرِهٖ او جائز دي هغه کس لره کوم ته چي د مخکي کېدلو (د جنازې د لمونځ ورکولو) حق حاصل دی دا چي اجازه ورکړي (د مخکي کېدلو) و بل چا ته.

لغات: ﴿يأذن﴾ د سمع له بابه مضاع معلومه ده: اجازه (اجازت) ورکول.

تشریح: مستحق کس یعني کوم چا ته چي د جنازې د لمونځ ورکولو حق رسېدلی وي، که هغه خپله د جنازې لمونځ نه ورکړي، بلکي بل چا ته اجازه ورکړي یعني بل څوک مخکي کړي، نو داسي کول جائز دي، مثلاً د مړي ولي زیات حقدار وي، خو هغه خپله د محلې امام ته اجازه ورکړي، یا مثلاً باچا خپل نائب ته اجازه ورکړي، نو دا صحیح دي. (انوار الایضاح)

د جنازې لمونځ دوباره کول

﴿٩٣٣﴾ فَإِنْ صَلّٰى غَيْرُهٗ بیا که لمونځ ورکړي له هغه (ولي) څخه بغیر بل څوک أَعَادَهَا إِنْ شَاءَ نو هغه دي راوګرځوي که یې خوښه وي وَلَا يُعِيْدُ مَعَهٗ مَنْ صَلّٰى مَعَ غَيْرِهٖ او نه به یې راګرځوي د ده سره هغه کس کوم چي د بل چا سره لمونځ کړی وي.

لغات: ﴿شاء﴾ د فتح له بابه ماضي معلومه ده، مصدر: شَيْئًا: غوښتل، خوښول، اراده کول، غيرة: أى غير الولى ممن ليس له حق التقدّم، إن شاء: فالإعادة ليست بواجبة، معه: أى مع من له حق التقدّم.

تشریح: که غیر مستحق کس (یعني داسي کس چي هغه ته پر ولي د مقدّم کېدلو حق نه وي) د ولي له اجازې څخه بغیر لمونځ ورکړي او ولي موجود نه وي چي د هغه په اقتداء کي لمونځ وکړي، نو په دې صورت کي که د ولي خوښه وي، نو دویم وار د جنازې لمونځ کولای سي، او کوم کسان چي په اول لمانځه کي شریکان وه، هغوی به د ولي سره په دې دویم لمانځه اوس بیا کي شرکت نه کوي، او که هغه (غیر مستحق) د ولي په اجازه سره لمونځ ورکړی وي، یا ولي خو اجازه نه وي ورکړې، لېکن د هغه په اقتداء کي یې لمونځ کړی وي، نو بیا ولي دویم وار د جنازې لمونځ نه سي کولای. (شفاء الارواح)

که مړي د خپل جنازې د لمانځه لپاره د یو متعیّن سړي وصیت کړی وي؟

﴿۹۳۴﴾ وَ مَنۡ لَّهٗ وِلَايَةُ التَّقَدُّمِ فِيۡهَا او کوم چا لره چي د مخکي کېدلو ولایت (حق) سته (د جنازې) په لمانځه کي أَحَقُّ مِمَّنۡ أَوۡصٰى لَهُ الۡمَيِّتُ بِالصَّلٰوةِ عَلَيۡهِ هاغه زیات حقدار دی له هغه کس څخه د چا لپاره چي مړي پر خپل ځان (د جنازې) د لمونځ کولو وصیت کړی وي عَلَى الۡمُفۡتٰى بِهٖ د مفتیٰ بهٖ قول مطابق.

لغات: ﴿أوصٰى﴾ د افعال له بابه ماضي معلومه ده، مصدر: ایصاءً: د یو چا لپاره د یو شي وصیت کول.

تشریح: مسئله دا ده چي که مړي وصیت کړی وي چي پر ما به د جنازې لمونځ فلانکی کس کوي، نو د مفتیٰ به قول مطابق د دې وصیت پوره کول لازم نه دي، او په دې سره د مستحق کس حق نه ختمیږي، خو که د مړي د ولي خوښه وي چي هغه لمونځ ورکړي، نو په دې کي څه حرج نسته.

که مړی بغیر د جنازې د لمانځه ښخ کړل سي، نو څه حکم دی؟

﴿۹۳۵﴾ وَإِنۡ دُفِنَ بِلَا صَلٰوةٍ او که ښخ کړل سی مړی بېله لمانځه (چي پر هغه د جنازې لمونځ نه وي سوی) صُلِّيَ عَلٰى قَبۡرِهٖ نو د هغه پر قبر دي لمونځ وسي وَإِنۡ لَّمۡ يُغۡسَلۡ که څه هم غسل نه وي ورکول سوی مَا لَمۡ يَتَفَسَّخۡ تر څو چي هغه مړی شوربدلی نه وي (یعني سالم پاته وي، شوربدلی او خراب سوی نه وي).

لغات: ﴿لم یتفسخ﴾ د تفعّل له بابه د جحد صیغه ده، تَفَسَّخَ يَتَفَسَّخُ تَفَسُّخًا: شوربدل، ټوټه، ټوټه کېدل(ریزه. ریزه کېدل).

تشریح: مړی که بغیر د لمانځه څخه ښخ کړل سي، نو بیا به د هغه پر قبر د جنازې لمونځ کول کیږي، که څه هم غسل نه وي ورکول سوی، او پر قبر د لمونځ کولو اجازه تر هغه وخته پوري ده تر څو چي غالب ګومان دا وي چي د مړي بدن به تر اوسه شوربدلی او خراب سوی نه وي، او که د شوربدلو او خرابېدلو یې غالب ګومان وي، نو بیا دا اجازه نسته. همدا صحیح قول دی. او د مړي د بدن خرابېدل د زمانې او د مړي د حالت په اختلاف سره مختلف وي. (شفاء الارواح)

❀ ❀ ❀

مسئله: که پر مړي د جنازې لمونځ وسي، تر دې وروسته معلومه سي چي د امام اودس نه وو، نو پر هغه به دوباره د جنازې لمونځ کول کیږي، او که تر ښخولو وروسته معلومه سي چي د امام اودس نه

وو، نو بيا به د هغه پر قبر دوباره د جنازې لمونځ کول کيږي، کله چي د مړي د تنه خرابېدلو غالب ګومان وي.

که په يوه وخت کي څو جنازې سره جمع سي؟

﴿۹۳۶﴾ وَإِذَا اجْتَمَعَتِ الْجَنَائِزُ او کله چي څو جنازې جمع سي فَالْإِفْرَادُ بِالصَّلٰوةِ لِكُلِ مِنْهَا أَوْلٰى نو له هغوی څخه د هري يوې لپاره جلا، جلا لمونځ کول غوره (افضل) دي وَيُقَدَّمُ الْأَفْضَلُ فَالْأَفْضَلُ او مخکي کول کيږي به (په هغوی کي) افضل کس بيا (تر هغه وروسته) افضل.

تشريح: که په يوه وخت کي څو جنازې راوړل سي، نو غوره دا ده چي د هر يوه د جنازې لمونځ جلا، جلا اداء کړل سي، او په دوی کي چي کوم يو تر ټولو افضل وي، اول دي د هغه لمونځ اداء کړل سي. بيا له هغه څخه وروسته افضل (کوم چي تر مخکيني په فضيلت کي کم وي)...علىٰ هٰذا القياس.

﴿۹۳۷﴾ وَإِنِ اجْتَمَعْنَ او که څو جنازې جمع سي وَصُلِّيَ عَلَيْهَا مَرَّةً او لمونځ وسی پر هغوی په يوه وار (يعني پر هغوی ټولو د يوه لمونځ کولو اراده وي) جَعَلَهَا صَفًّا طَوِيْلًا مِمَّا يَلِى الْقِبْلَةَ نو هغوی دي کښېږدي په اوږده صف سره و هغه طرف ته چي د قبلې سره متصل دی (يعني د امام مخ ته دي يې د قبلې پر خوا په اوږدول سره ايو په بل پسې اد صف په ډول کښېږدي) بِحَيْثُ يَكُوْنُ صَدْرُ كُلِّ قُدَّامَ الْإِمَامِ په دې توګه چي وي د هر يوه سينه د امام مخ ته (يعني چي د هر يوه سينه د امام و مخ ته واقع سي) وَرَاعَى التَّرْتِيْبَ او د ترتيب مراعات دي وکړي فَيَجْعَلُ الرِّجَالَ مِمَّا يَلِى الْإِمَامَ ثُمَّ الصِّبيانَ بَعْدَهُمْ ثُمَّ الْخَنَاثٰى ثُمَّ النِّسَاءَ نو کښې دي ږدي سړيان د امام سره متصل طرف ته (يعني د امام مخ ته دي لول د سړيو جنازې کښېږدي) بيا کوچنيان بيا نرښځيان بيا ښځي.

﴿۹۳۸﴾ وَلَوْ دُفِنُوْا بِقَبْرٍ وَاحِدٍ او که دوی ټول په يوه قبر کي ښخول کيږي وُضِعُوْا عَلٰى عَكْسِ هٰذَا نو د دې (پورتني ترتيب) برعکس دي کښېښول سي.

لغات: ﴿یلی﴾ د ضرب له بابه مضاع معلومه ده، مصدر: وَلْیًا: متصل کېدل (جوختېدل)، نږدې کېدل،

﴿خناثٰی﴾ (بفتح الخاء) جمع د خُنْثٰی ده: نرښځی.

تشریح: او که پر ټولو جنازو صرف یو لمونځ کول کیږي (مثلاً څلور جنازې راوړل سوې: یوه د سړي جنازه وه، بله د ښځي او بله د کوچني (نابالغه) هلک او بله د نرښځي (خنثیٰ) جنازه. او ټولو ته په یوه واریو لمونځ ورکول کیږي)، نو بیا دي هغه جنازې د قبلې پر طرف (د امام مخ ته) په اوږدول سره د صف په ډول کښېښول سي، په دې توګه چي د ټولو سینه د امام په مقابل کي راسي، او په ایښوولو کي به اول د امام مخ ته د سړي جنازه کښېښول سي، تر هغه وروسته د کوچني (نابالغه) هلک، بیا د خنثیٰ او بیا د ښځي او بیا به د کوچنۍ انجلۍ جنازه کښېښول سي، چي شکل به یې په لاندي توګه وي.



ولو دفنوا بقبرٍ واحدٍ إلخ: او که د یو عذر او ضرورت په وجه دا څلور سره قسمه جنازې په یوه قبر کي ښخول کیږي، نو بیا به ترتیب د دې برعکس وي، یعني د جنازې د لمونځ کولو پر مهال خو تر ټولو په آخر کي د قبلې پر طرف اول د ښځي جنازه ایښوول سوې وه او له قبلې څخه لیري یعني امام ته نږدې اول د سړي جنازه ایښوول سوې وه (لکه په پورتني شکل کي)، نو اوس به د ښخولو پر مهال د قبلې پر طرف اول د سړي جنازه ایښوول کیږي، بیا د نابالغه بچي، بیا د خنثیٰ او بیا د ښځي (نو دلته ښځه تر ټولو شاته سوه لکه په مخکیني صورت کي چي سړی تر ټولو شاته وو، او امام ته نږدې متصل وو. نو لکه څرنګه چي د امام سره متصل اول د افضل یعني د سړي جنازه وه، همداسي به په قبر کي د قبلې و خوا ته متصل اول د سړي جنازه وي). (انوار الایضاح)

یادونه: د ټولو جنازو لپاره دا دعاء "اللّٰهم اغفر لحیّنا ومیّتنا إلخ" کافي ده، او د نابالغ د جنازې لپاره که د دې دعاء سره د نابالغ دعاء هم یوځای کړي، نو بهتره ده. (در مختار مع الشامی، مراقی الفلاح مع الطحطاوي)

د جنازې په لمانځه کي د مسبوق حکم

﴿۹۴۹﴾ وَلَا يَقْتَدِىْ بِالْإِمَامِ مَنْ وَجَدَهٗ بَيْنَ تَكْبِيْرَتَيْنِ او اقتداء دي نه کوي په امام پسي (د جنازې په لمانځه کي) هغه کس کوم چي ومومندي (ونیسي) امام د دوو تکبیرونو په مینځ کي بَلْ

يَنْتَظِرُ تَكْبِيْرَ الْإِمَامِ بلکي انتظار دي وکړي د امام د تکبير فَيَدْخُلُ مَعَهٗ وَيُوَافِقُهٗ فِيْ دُعَائِهٖ بيا دي داخل سي د امام سره او موافقت دي وکړي د امام سره په دعاء کي ثُمَّ يَقْضِيْ مَا فَاتَهٗ قَبْلَ رَفْعِ الْجَنَازَةِ بيا دي قضاء راوړي د هغه حصې کوم چي له ده څخه فوت سوه (تېره سوه) د جنازې له پورته کېدو څخه مخکي.

تشريح: که څوک د جنازې لمانځه ته په داسي وخت کي ورسيږي چي امام اول تکبير ويلی وي، نو حکم دا دی چي اوس دي دغه کس د امام سره نه شريک کيږي بلکي انتظار دي و کړي او کله چي امام دويم تکبير ووايي، نو بيا دي په تکبير ويلو سره په لمانځه کي ورسره شريک سي او تر تکبير وروسته چي امام کوم کلمات وايي، دئ دي هم هغه ووايي او کله چي امام له سلام څخه فارغ سي، نو دا کس دي د جنازې له پورته کېدو څخه مخکي خپل تېر سوی تکبير را وګرځوي.

همدارنګه که په داسي وخت کي راسي چي امام دوه يا درې تکبيرونه ويلي وي، نو هم دي انتظار وکړي او کله چي امام تکبير ووايي، نو په تکبير ويلو سره دي ور سره شريک سي او تېر سوي تکبيرونه دي د امام تر سلام وروسته اداء کړي. (شفاء الارواح)

د غفلت په وجه په تکبيرِ تحريمه کي تأخير کول

﴿۹۵۰﴾ وَلَا يَنْتَظِرُ تَكْبِيْرَ الْإِمَامِ مَنْ حَضَرَ تَحْرِيْمَتَهٗ او انتظار دي نه کوي د امام د تکبير هغه کس کوم چي د امام د تکبير تحريمه په وخت کي حاضر (موجود) وي.

تشريح: که يو څوک د امام د تکبير ويلو په وخت کي هلته موجود وي، خو د غفلت او سُستی وغيره په وجه د تکبيرِ تحريمه په وخت کي د امام سره الله اکبر نه ووايي، نو هغه دي د دويم تکبير انتظار نه کوي، بلکي سمدستي يعني تر دويم تکبير مخکي دي تکبير ووايي او په لمانځه کي دي ور سره شريک سي او د هغه دا تکبير شمېرل کيږي (لهذا وروسته دي يې قضاء نه راوړي). (شفاء الارواح)

تر څلورم تکبير وروسته د راتلونکي کس حکم

﴿۹۵۱﴾ وَمَنْ حَضَرَ بَعْدَ التَّكْبِيْرَةِ الرَّابِعَةِ قَبْلَ السَّلَامِ او څوک چي حاضر سي تر څلورم تکبير وروسته له سلام څخه مخکي فَاتَتْهُ الصَّلٰوةُ فِي الصَّحِيْحِ نو له هغه څخه (د جنازې) لمونځ فوت سو، د صحيح قول مطابق.

تشريح: که يو څوک په داسي وخت کي راسي چي امام څلور سره تکبيرونه ويلي وي. فقط سلام پاته وي. نو له امام ابو حنيفه رَحِمَهُ الله څخه يو روايت دا دی چي هغه دي د امام سره نه شريک کيږي، له

هغه څخه د جنازې لمونځ فوت او تېر سو. او همدا د امام محمد رَحِمَهُ الله مسلک دی او مصنف رَحِمَهُ الله همدې ته صحیح ویلي دي، لېکن زیات صحیح (اصح) دا ده چي هغه دي یو تکبیر ووایي او د امام سره دي په لمانځه کي شریک سي او د امام تر سلام ګرځولو وروسته له جنازې پورته کېدو څخه مخکي دي درې واره الله اکبر ووایي او سلام دي وګرځوي، او پر همدې فتویٰ ده. (شفاء الارواح)

په مسجد کي د جنازې لمونځ کول

﴿۹۵۲﴾ وَتُكْرَهُ الصَّلٰوةُ عَلَيْهِ فِيْ مَسْجِدِ الْجَمَاعَةِ وَهُوَ فِيْهِ او مکروه دی لمونځ کول پر مړي (یعني د جنازې لمونځ) د جماعت په مسجد کي په داسي حال کي چي مړی په مسجد کي وي أَوْ خَارِجَهٗ وَبَعْضُ النَّاسِ فِي الْمَسْجِدِ یا مړی له مسجد څخه بهر وي او څه خلک په مسجد کي دننه وي عَلَى الْمُخْتَارِ د مختار قول مطابق.

تشریح: په کوم مسجد کي چي جماعت کېږي، لکه د کلي او ښار عام مسجدونه، په هغه کي د جنازې لمونځ کول مکروه تحریمي دي، برابره ده جنازه په مسجد کي وي او که له مسجد څخه بهر وي او ټوله یا بعضي خلک په مسجد کي دننه وي، همدا مختار قول دی او بعضي فرمایي چي که صرف جنازه له مسجد څخه بهر وي او لمونځ کونکي ټوله یا بعضي په مسجد کي دننه وي، نو مکروه نه دي. (شفاء الارواح)

یادونه: دلته د متن په عبارت کي د "مسجد الجماعة" قید لګول سوی دی، له دې څخه معلومېږي چي په کوم مسجد کي لمونځ نه کېږي، په هغه کي د جنازې لمونځ مکروه نه دی، همدارنګه په عیدګاه او مدرسه کي د جنازې لمونځ کول بلا کراهت صحیح دی. (طحطاوي)

که بچی تر پیدایښت وروسته مړ سي، یا مړ بچی پیدا سي، نو څه حکم دی؟

﴿۹۵۳﴾ وَمَنِ اسْتَهَلَّ او کوم بچی چي چیغه (آواز) وکړي سُمِّيَ وَغُسِلَ نو نوم دي پرې کېښول سي او غسل دي ورکول سي وَصُلِّيَ عَلَيْهِ او پر هغه دي لمونځ وکړل سي وَإِنْ لَّمْ يَسْتَهِلَّ او که هغه چیغه نه وکړي غُسِلَ فِي الْمُخْتَارِ نو غسل دي ورکول سي. د مختار قول مطابق وَأُدْرِجَ فِيْ خِرْقَةٍ وَدُفِنَ او ودي پېچل سي په یوه ټوټه (کپړه) کي او ښخ دي کړل سي وَلَمْ يُصَلَّ عَلَيْهِ او پر هغه دي لمونځ نه کول کېږي.

﴿۹۵۴﴾ كَصَبِيٍّ سُبِيَ مَعَ أَحَدِ أَبَوَيْهِ لکه هغه بچی کوم چي قید کړی سوی (په غنیمت راوستل سوی) وي د خپل پلار یا مور سره (نو پر هغه د جنازې لمونځ نه کول کیږي) إِلَّا أَنْ يُسْلِمَ أَحَدُهُمَا أَوْ هُوَ مګر دا چي اسلام راوړي یو د دوی (یعني پلار یا مور) یا هغه بچی (خپله اسلام راوړي) أَوْلَمْ يُسْبَ أَحَدُهُمَا مَعَهُ یا نه وي قید کړی سوی یو د دوی (پلار یا مور) د هغه سره.

لغات: ﴿استهلّ﴾ داستفعال د باب ماضي ده. مصدر: استهلال: د دې څو معناوي دي چي له هغوی څخه یوه معنیٰ ده: د پیدایښت په وخت کي د بچي چیغه وهل. د زېږېدلو پر مهال د کوچني ژړل او آواز کول، آواز پورته کول. خو چیغه وهل او آواز پورته کول شرط نه دي بلکي شرعي معنیٰ مراد ده یعني چي په پیدا کېدونکي بچي کي د ژوند آثار ښکاره سي برابره ده په حرکت سره وي او که په آواز سره وي کله چي (د مور له ګېډې څخه) د هغه اکثره حصه او سینه را وتلې وي او که چپه وي یعني د پښو له طرفه وي نو چي هغه تر نوم (ناف) پوري راوتلی وي، او په نس کي د هغه حرکت وغیره لره اعتبار نسته (حاشیۀ نور الایضاح)، ﴿أُدرِجَ﴾ د افعال له بابه ماضي مجهوله ده، مصدر: إدراج: یو شی په بل شي کي داخلول، دننه کول، پېچل (نغښتل).

تشریح: که د بچي د پیدایښت په وخت کي د هغه د ژوندي والي یو علامت ولیدل سي مثلاً آواز وکړي، یا ساه واخلي، یا د هغه یو اندام یا سترګه وغوږ څېږي بیا مړ سي، نو پر داسي بچي دي نوم هم کېښودل سي او هغه ته دي غسل او کفن هم ورکول سي او پر هغه دي د جنازې لمونځ هم وکړل سي. خو کوم بچي چي د پیدایښت په وخت کي د ژړا آواز نه وکړي او د ژوند یو بل علامت هم نه پکښي ولیدل سي، نو د مختار قول دا دی چي هغه ته دي هم غسل ورکول سي او په یوه کپړه کي دي ووپېچل سي او ښخ کړل سي او پر هغه دي جنازې لمونځ نه کول کیږي.

كصبيّ إلخ: د مخکښني مسئلې لپاره مثال دی (په "کصبی" کي کاف د تشبیه دی. ګواکي د ماقبل مسئلې ته د دې سره تشبیه ورکول سوې ده)، فرمایي لکه د کافرانو یو بچی چي د خپل پلار یا مور سره قید (بندي) کړل سي او مړ سي، نو پر هغه د جنازې لمونځ نه کول کیږي؛ ځکه بچی د مور او پلار په متابعت کي کافر دی، ها! که د بچي له مور او پلار څخه یو مسلمان سي، نو بیا به پر دغه بچي د جنازې لمونځ کول کیږي، همدارنګه که هغه بچی عقلمند او پوهېدونکی وي او هغه خپله د اسلام اقرار وکړي. نو هم به پر هغه د جنازې لمونځ کول کیږي، همدارنګه کله چي بچی یوازي قید کړل سي او د هغه له مور او پلار څخه یو ورسره قید نه سي. بیا هغه بچی مړ سي، نو هم به پر هغه د جنازې

لمونځ کول کیږي؛ ځکه په دارُالاسلام کې د موجودیت په وجه به د هغه د اسلام حکم کول کیږي. (شفاء الارواح)

که د مسلمان یو کافر قریب مړ سي، نو څه حکم دی؟

﴿۹۵۵﴾ وَإِنْ كَانَ لِكَافِرٍ قَرِيبٌ مُسْلِمٌ او که (مړي سوي) کافر لره مسلمان قریب وي غَسَلَهُ كَغَسْلِ خِرْقَةٍ نَجِسَةٍ نو هغه دي و دغه کافر ته غسل ورکړي، د ناپاکه ټوټې (کپړې) د پرېوللو په څېر وَكَفَّنَهُ فِيْ خِرْقَةٍ وَأَلْقَاهُ فِيْ حُفْرَةٍ او کفن دي ورکړي په یوه ټوټه (کپړه) کي او (بیا) دي یې وغورځوي په یو کنده کي أَوْ دَفَعَهُ إِلَى أَهْلِ مِلَّتِهِ یا ور دي یې کړي د هغه د خپل دین والا وو (کفارو) ته.

لغات: ﴿حُفرة﴾ کنده، کډې، ﴿مِلّة﴾ ملت، دین، مذهب.

تشریح: مسئله دا ده چي که یو کافر مړ سي، نو د هغه غسل او کفن پر مسلمانانو فرض نه دی؛ ځکه غسل د مړي د تعظیم او احترام لپاره واجب دی او کافر د دې اهل نه دی، لېکن که ضرورت وي مثلاً یو مسلمان کس د هغه قریب وي او دا مسلمان د قرابت په وجه غسل او کفن ورکړي او ښخ یې کړي، نو جائز دي، خو غسل، کفن او دفن دي په سنت طریقه سره نه ورکوي، یعني نه دي هغه ته اودس ورکوي، نه دي سر او وربښتان په خطمي او صابون وغیره سره ور صفا کوي، نه دي یې له راسته طرفه شروع کوي او نه دي کافور او خوشبویي د هغه پر بدن مږل کیږي او داسي نور، بلکي د ناپاکه کپړې په څېر دي یې پرېولي (یعني پر هغه دي اوبه وبهوي) او په یو کپړه کي دي یې وپېچي او په یو کنده (کډي) کي دي یې واچوي، یا د هغه خپل مذهبیانو ته دي یې حواله کړي (هغوی چي څه هر په کوي، د دوی کار دی).

په باغي او ډاکو باندي د جنازې د لمونځ کولو حکم

﴿۹۵۶﴾ وَلَا يُصَلَّى عَلَى بَاغٍ وَقَاطِعِ طَرِيْقٍ او لمونځ به نه کول کیږي پر باغي کس (کوم چي له اسلامي حکومت څخه بغاوت کړی وي) او پر لاره شکونکي کس (ډاکو) قُتِلَ فِيْ حَالَةِ الْمُحَارَبَةِ چي هغه (باغي یا ډاکو) وژل سوی وي د جنګ په حالت کي.

لغات: ﴿باغٍ﴾ د ضرب له بابه فاعل دی: سرکښه، فرمان نه منونکی، له حق څخه لیري کېدونکی، ﴿قاطع طریق﴾ ډاکو، ډاکه مار، لاره شکونکی، ﴿محاربة﴾ د مفاعلې د باب مصدر دی: جنګ کول.

تشریح: صورت د مسئلې دا دی چې که څوک د حق امام (واکمن) له اطاعت څخه نا حقه ووځي او بغاوت (سرکښي) شروع کړي او د پوهولو باوجود اطاعت ته آماده نه سي او په جنګ لاس پوري کړي چي بالآخره ووژل سي، نو هغه ته به نه غسل ورکول کیږي او نه به د هغه د جنازې لمونځ کول کیږي.

همدارنګه که یو ډاکو (ډاکه مار) د ډاکه مارۍ په وخت کي ووژل سي، نو د عبرت لپاره به پر هغه هم د جنازې لمونځ نه کول کیږي او نه به هغه ته غسل ورکول کیږي. (انوار الایضاح بحوالهٔ در مختار)

د قاتل کس د جنازې د لمانځه حکم

﴿۹۵۷﴾ وَقَاتِلٍ بِالْخَنْقِ غِيْلَةً او (نه به لمونځ کول کیږي) پر قتل کونکي په خپه سره، په دوکه (یعني چي په دوکه او خُفیه توګه خلګ په خپه او غاړه پیچولو سره وژني).

لغات: ﴿خنق﴾ د نصر د باب مصدر دی: غاړه خپه کول، تر ستوني نیول، ساه ور بندول.

﴿غِیلة﴾ (اغتیال) په دوکه سره وژل، په ناخبري کي وژل (یعني په داسي حال کي وژل چي مقتول ته خبر نه وي)، مراد یې أعم دی.

تشریح: صورت د مسئلې دا دی چي که یو سړی په دوکه سره (په پټه توګه) خلګ وژني، مثلاً یو چا ته دوکه ورکړي او یو ځای ته یې بوځي او هلته یې قتل کړي، یا مثلاً د یو چا کور ته ناڅاپه ورسي او په خپه (او غاړه پیچولو) سره یې قتل کړي، کله چي هغه ونیول سي او ووژل سي، نو هغه ته به هم نه غسل ورکول کیږي او نه به پر هغه د جنازې لمونځ کول کیږي.

د هغه کس حکم چي د شپې وسله ګرځوي، ډاکه په ړکوي

﴿۹۵۸﴾ وَمُكَابِرٍ فِي الْمِصْرِ لَيْلًا بِالسِّلَاحِ او (نه به لمونځ کول کیږي) پر غلبه اچونکي (ډاکه اچونکي) د شپې په ښار کي په وسله سره.

لغات: ﴿مکابر﴾ د مفاعلې د باب فاعل دی، كَابَرَ يُكَابِرُ مُكَابَرَةً: عناد او مخالفت کول، غالب کېدل، د حق انکار کول (خود سري کول)، دلته مراد هغه کس دی کوم چي په ښار کي د بې ګناه کسانو د قتل لپاره ولاړ وي (انوار الایضاح)، ﴿سلاح﴾ وسله (اسلحه).

تشریح: صورت د مسئلې دا دی چي کوم کس د شپې د وسلې سره ګرځي، خلګ قتل کوي او مال یې اخلي، نو پر هغه به هم لمونځ نه کول کیږي، صحیح دا ده چي د شپې په وخت کي وسله که ور سره وي او که نه وي یعني صرف په ډانګ، ډبري وغیره سره قتل کوي، د دواړو حکم برابر دی (نو د بسلاح قید اتفاقي دی)، او که په ورځ کي په وسله سره داسي وکړي، نو هم دغه حکم دی، پر همدې فتویٰ ده چي داسي کس د ډاکو (رهزن) په حکم کي دی، همدارنګه کوم څوک چي په ښار کي یو

ځای ودربړي او څوک چې د ده طرف ته ځي، مال په زوره ځني اخلي، هغه مکابر دی. (شفاء الارواح بحوالۀ عمدة الفقه)

يادونه: که دغه کس په داسي حال کي ونيول سي چي تر اوسه يې له چا څخه مال نه وي اخيستی او نه يې څوک قتل کړی وي، نو په دې صورت کي به حاکم هغه دومره وخت په قيد کي ساتي چي توبه وکړي او د هغه له حرکاتو و سکناتو څخه محسوس سي چي هغه له جرم څخه توبه وکړه، او که داسي کس تر مال اخيستلو وروسته ونيول سي (يعني له يو چا څخه يې مال اخيستی وي)، نو راسته لاس او چپه پښه به ور پرېکول کيږي، او که يو څوک يې بې ګناه قتل کړی وي او مال يې نه وي اخيستی، نو حاکم به هغه د حدّ په توګه قتل کوي، نه قصاصاً، نو په دې اعتبار سره د هغه سزا قتل ده. پر هغه به لمونځ نه کول کيږي. (شامي، البحر الرائق)

په عصبيت (ناحقه طرفداری) کي د مړ کېدونکي کس د جنازې د لمانځه حکم

﴿۹۵۹﴾ وَ مَقْتُوْلِ عَصَبِيَّةً او (نه به لمونځ کول کيږي) پر هغه کس کوم چي وژل سوی وي په عصبيت (ناحقه طرفداری) کي وَإِنْ غُسِلُوْا که څه هم دوی (مخکيني مذکوره ټولو کسانو) ته به غسل ورکول کيږي.

لغات: ﴿عصبيّة﴾ دلته نسخې مختلفه دي، د نور الايضاح په نسخه کي عَصَبِيَّةٌ دی او د تنوير الابصار په نسخه کي عُصْبَةٌ دی چي د هغه معنیٰ ده: ټولی، ډله، جماعت، او د عَصَبِيَّةٌ معنیٰ ده: نسلي تعصّب، ډل بازي، طرفداري، صاحب د معجم يې داسي معنیٰ کړې ده "مُناصرة من يهمّك أمره في حقٍّ أو باطلٍ" (يعني د کوم چا غم چي تا غمجن کوي آيا په بله په کوم چا چي ستا خوا بديږي ا د هغه مدد او طرفداري کول په حق يا باطل کي، دې عصبيت وايي). او له همدې څخه د نبي ﷺ دا فرمان دی "ليس منّا من دعا إلى عصبيّة". صاحب د انوار الايضاح ليکلي دي چي دلته مراد هغه کس دی کوم چي پر ظلم او تعدی د خپل قوم مدد کوي او د خپل قوم په خلاف هيڅ خبره اورېدل نه غواړوي او که څوک څه پکښي وايي، نو ناراضه کيږي. (انوار الايضاح بحوالۀ شامي ج:۱، ص:۸۱۴)

تشريح: صورت د مسئلې دا دی چي کوم کسان پر ظلم د خپل قوم طرفداري او کومک کوي او په دې ناحقه طرفداري او کومک کي ووژل سي، نو پر داسي خلکو به هم لمونځ نه کول کيږي (دوی د باغيانو په حکم کي دي). پاته سوه دا خبره چي دوی ته او مخکي چي کوم کسان ذکر سول. هغو ته به غسل به ورکول کيږي. که نه. دا مسئله مختلف فيه ده. بعضي حضرات فرمايي چي غسل به هم نه

ورکول کیږي (لکه څرنګه په عمدةُ الفقه کي ویل سوي دي)، خو مصنف رَحِمَہُ الله او داسي نور فرمایي چي غسل به ورکول کیږي، علامه شامي رَحِمَہُ الله فرمایي "حکم أهل عصبية و مکابرو خناق حکم البغاة فی أنهم لا یغسلون ولا یصلّی علیهم، وأما فی الدرر من قوله وإن غسلوا أی البغاة والقطاع والمکابر، فإنه مبنی علی الروایة الأخریٰ، وقدّمنا ترجیحها". (شامي ج:۱، ص:۸۱۵)

د ځان وژونکي د جنازې دلمانځه حکم

﴿۹۶۰﴾ وَقَاتِلُ نَفْسِهٖ يُغْسَلُ او د خپل ځان وژونکي (خود کشي کونکي) ته به غسل ورکول کیږي وَيُصَلّٰى عَلَيْهِ او پر هغه به لمونځ (هم) کول کیږي.

تشریح: صورت د مسئلې دا دی چي کوم څوک خود کشي (ځان وژنه) وکړي، مثلاً ځان پانسی کړي یا په کومه وسله یا زهر خوړولو سره یا په بله توګه خپل ځان قصداً ووژني، نو هغه ته به هم غسل ورکول کیږي او هم به پر هغه د جنازې لمونځ کول کیږي، که څه هم خودکشي فی نفسه ډېره لویه ګناه ده. (انوار الایضاح)

د پلار یا مور د قاتل د جنازې د لمانځه حکم

﴿۹۶۱﴾ لَا عَلٰى قَاتِلِ أَحَدِ أَبَوَيْهِ عَمَدًا نه پر وژونکي دیوه له مور او پلار څخه قصداً.

تشریح: صورت د مسئلې دا دی چي کوم څوک خپل پلار یا مور قصداً ووژني (معاذالله) او امام (حاکم) هغه په قصاص کي قتل کړي، نو پر هغه به هم د جنازې لمونځ نه کول کیږي. لیکن اصح دا ده چي پر هغه دي لمونځ وسي، او که هغه په خپل مرګ مړ سي، نو په هر صورت کي به پر هغه لمونځ کول کیږي. (شفاء الارواح بحوالهٔ عمدة الفقه)

یادونه: دقاتل احدالأبوین مذکوره حکم هلته دی، چي زوی ظلمًا احدالأبوین مړ کړی وي. او که یې پلار حربي یا باغي وي، او زوی هغه مړ کړي، نو دغه زوی چي کله مړ سي، غسل او دجنازې لمونځ به ورکول کیږي بالاتفاق. (منهاج الایضاح)

❀ ❀ ❀

فَصْلٌ فِيْ حَمْلِهَا وَ دَفْنِهَا

(دا) فصل په (بیان د) پورته کولو د جنازې او
ښخولو د هغه کې دی

تشریح: د اسلام یوه اهمه لارښوونه دا هم ده چې د جنازې سره دې پیاده هدیرې ته تګ وسي، د حضرت ابو هریره رضی الله عنه مشهوره روایت دی چې نبي کرم ﷺ وفرمایل: کوم څوک چې په جنازه کې حاضر سي، تر دې چې د هغه جنازې لمونځ وسي، نو هغه ته یو قیراط اجر حاصلیږي او کوم څوک چې تر ښخولو پوري ور سره شریک وي، نو د هغه لپاره دوه قیراطه اجر مقرر دی، له نبي کریم ﷺ څخه وپوښتل سوه چې دوه قیراطه څومره لوی دي؟ نبي کریم ﷺ وفرمایل: چې د دوو غرونو په اندازه. (بخاري شریف، بحوالۀ انوار الایضاح)

د جنازې پورته کولو طریقه

﴿۹۶۲﴾ يُسَنُّ لِحَمْلِهَا أَرْبَعَةُ رِجَالٍ سنت دي د جنازې پورته کولو لپاره څلور سړي.

لغات: ﴿يُسنّ﴾ د نصر له بابه مضارع مجهوله ده، د دې باب له معناوو څخه یوه معنیٰ ده: سنت کېدل، لِحَمْلِها "حَمْل" د "يُسنّ" نائب فاعل دی، او مطلب یې دا دی چې د جنازې په پورته کولو کې سنت دا دي چې څلور سړي یې پورته کړي او د "رِجَال" په قید سره د ښځو ایستل مقصود دي؛ ځکه د جنازې سره د ښځو تلل مکروهِ تحریمي دي.

تشریح: مسئله دا ده چې جنازه پورته کول او وړل پر مسلمانانو فرضِ کفایه دي او دا عبادت دی، هر کس ته پکار دي چې د جنازې په پورته کولو کې سبقت (وړاندیتوب) وکړي او سنت دا دي چې څلور کسان اوږه ورکړي او پورته یې کړي په دې توګه چې هر یو د کټ (چپر کټ) یوه پښه پر اوږه کښېږدي او روان سي، بېله عذره دي جنازه پر سپارلي نه وړي؛ ځکه دا مکروه دي، ها! که یو عذر وي مثلاً هدیره لیري وي، یا جنازه پورته کونکی کس صرف یو وي، نو بیا پر سپارلي وړولو کې څه پروا نسته. (شفاء الا[illegible])

د جنازې وړولو سنت طريقه

﴿۹۶۳﴾ وَيَنْبَغِيْ حَمْلُهَا أَرْبَعِيْنَ خُطْوَةً او پكار (مناسب) دي د جنازې پورته كول تر څلوېښتو قدمونو (ګامونو) پورې يَبْدَأُ بِمُقَدَّمِهَا الْأَيْمَنِ عَلٰى يَمِيْنِهٖ شروع دي وكړي د جنازې په مخكينۍ حصه راسته طرف سره (يعني د سر په خوا كې له راسته ښي څخه) په خپل راسته (اوږه) باندې وَيَمِيْنُهَا مَا كَانَ جِهَةَ يَسَارِ الْحَامِلِ او د جنازې راسته طرف هغه دی كوم چې د پورته كونكي چپه طرف دى ثُمَّ مُؤَخَّرِهَا الْأَيْمَنِ عَلَيْهِ بيا (دي شروع وكړي) د جنازې په شاتنۍ حصې راسته طرف (ښي) سره په هغه (راسته اوږه) باندې ثُمَّ مُقَدَّمِهَا الْأَيْسَرِ عَلٰى يَسَارِهٖ بيا په مخكنۍ حصې چپه طرف سره په خپل چپه (اوږه) باندې ثُمَّ يَخْتِمُ الْأَيْسَرَ عَلَيْهِ بيا دي (دا پورته كول) ختم كړي د جنازې (د شاتنۍ حصې) چپه طرف په هغه (چپه اوږه) باندې.

لغات: ﴿مُقَدَّم﴾ د تفعيل له بابه اسم مفعول دی: مخكينۍ حصه. ﴿مؤخَّر﴾ دا هم د تفعيل له بابه اسم مفعول دی: شاتنۍ حصه.

تشريح: مسئله دا ده چې كه د جنازې د پورته كولو لپاره زيات خلك وي، نو په وار او نوبت سره پورته كول پكار دي، او په نوبت سره په پورته كولو كې دوه شيان دي: يو اصل سنت دی او بل كمال سنت دی، اصل سنت دا دی چې هر كس دي د جنازې څلور سره ښې (پايې) په نوبت، نوبت سره پر اوږه كېښږدي او په هر نوبت كې دي لس ګامه (لس قدمه) ولاړ سي، برابره ده له هر طرف څخه شروع كوي، او كمال سنت دا دی چې اول دي د جنازې د مخكينۍ حصې يعني د سر د حصې راسته ښه ونيسي او پر راسته اوږه دي يې كېښږدي او لس ګامه دي ولاړ سي او بيا دي د شاتنۍ حصې راسته ښه پر راسته اوږه كېښږدي، لس ګامه دي ولاړ سي، بيا دي د جنازې د مخكينۍ حصې چې كومه ښه چپه اړخ ته وي، هغه دي پر چپه اوږه كېښږدي، لس ګامه دي ولاړ سي او بيا دي د شاتنۍ حصې چپه ښه پر چپه اوږه كېښږدي او لس ګامه دي ولاړ سي (او د جنازې راسته طرف هغه دی كوم چې پورته كونكي كس چپه طرف وي [يعني] كله چې پورته كونكی هم د دې مړي په څېر پرېوځي [او إذا وقف مستدبر [illegible]] څكه د سر لخوا د پورته كولو په دوران كې راسته اوږه خپله د راسته ښې په خوا كې او چپه د چپه ښې په خوا كې راځي. لتفكر). نو په دې ټوګه ټوله څلوېښت ګامه سوه؛ په حديث شريف كې دي چې كوم كس څلوېښت قدمه (ګامه) جنازه پورته كړي، د هغه څلوېښت كبيره ګناهونه به محو كړل سي.

همدارنګه په حدیث شریف کي دي چي کوم څوک د جنازې څلور سره پښو ته اوږه ورکړي، الله تعالیٰ به هغه ته حتمي مغفرت وکړي. (شفاء الارواح)

یادونه: دا پورتنی حکم د هغو خلکو لپاره دی کوم چي د جنازې څلور سره پښې پورته کول غواړي (یعني دا غواړي چي د جنازې څلور سره طرفونو ته اوږه ورکړي: چي په دې کي ثواب ډېر دی او نورو خلکو ته نوبت هم ورکوي). نو د هغو لپاره دا پورتنی حکم دی چي په راسته طرف سره شروع وسي. او که د جنازې پورته کونکي فقط څلور خلک وي، نو په یوه حالت او کیفیت کي به جنازه قبر ته رسوي، خو که بیا هم حالت بدلول غواړي، نو جنازه دي پر ځمکه ږدي. صورت او کیفیت دي بدلوي. ځکه چي د تګ په حالت کي صورت او کیفیت بدلول ناممکن دي. (فتح الهدایه)

جنازه په تېزي سره وړل

﴿۹۶۳﴾ وَيَسْتَحِبُّ الْإِسْرَاعُ بِهَا بِلَا خَبَبٍ او مستحب دي جنازه په تېزي سره وړل بېله ځغاستي وَهُوَ مَا يُؤَدِّيْ إِلَى اِضْطِرَابِ الْمَيِّتِ او دا خبب (یعني له خبب څخه مراد) هغه تګ دی کوم چي رسول کوي د مړي و ښورېدلو ته (یعني کوم چي د مړي د ښورېدلو او د جټکې خوړلو سبب ګرځي).

لغات: ﴿إسراع﴾ د افعال د باب مصدر دی: تېزي کول، تېز تلل، ﴿خبب﴾ (بفتح الخاء والباء): داسي تګ کوم چي ځغاستي ته نژدې وي یا په بله وینا په کراره ځغستل. او صاحب د معجم د "خَبَب" تعریف داسي کړی دی "ضَرْبٌ مِنَ الْعَدْوِ يَمِيْلُ فِيْه الْعَادِيْ عَلٰى يَمِيْنِه مَرَّةً وَعَلٰى يَسَارِه مَرَّةً" یعني د ځغاستي یو قسم دی چي په هغه کي ځغستونکی یو وار راسته طرف ته میلان وکړي او یو وار چپه طرف ته (یا په بله وینا داسي تېز تګ چي د هغه په وجه جنازه جټکې وخوري) (معجم لغة الفقهاء). ﴿اضطراب﴾ د افتعال د باب مصدر دی: په نامنظمه توګه ښورېدل. لړزېدل. ګرېدل.

تشریح: جنازه په تېزي سره وړل مستحب دي، خو نه دومره تېز چي مړی په حرکت کي راسي (یا په بله وینا جنازه جټکې وخوري) په دې سره د جنازې بې احترامي کیږي؛ د شریعت حکم دا دی چي جنازه دي د هدیرې (قبرستان) و طرف ژر (په تېزي سره) وړل کیږي، نبي کریم ﷺ فرمایلي دي چي تاسي جنازه په تېزي سره وړئ!؛ ځکه که هغه نېک وي، نو تاسي به هغه ښه ځای ته (ژر) ورسوی او که هغه نېک نه وي. نو تاسي به له خپلو غاړو څخه بدي (ژر) لیري کړی (له بد کس څخه به ژر خلاص سی). (بخاري شریف. حدیث رقم: ۱۳۱۵ بحوالهٔ انوار الایضاح)

(نو د جنازې شاته خلکو ته پکار دي چي په تېزي سره په جنازې پسي روان سي او کله چي خلک تېز روان سي. نو جنازه به هم تېزه سي [تحفة الألمعی])

فایده: د تګ اوله درجه مَشْيٌ (تلل) دي. بیا هَرْوَلَةٌ (تېز تلل) دي. بیا إسراعٌ (نور تېز تلل) دي. بیا خَبَبٌ (کرار ځغستل) دي. بیا عَدْوٌ (تېز ځغستل. [illegible] وهل) دي.

د جنازې شاته تلل

﴿۹۶۵﴾ وَالْمَشْيُ خَلْفَهَا أَفْضَلُ مِنَ الْمَشْيِ أَمَامَهَا او د جنازې شا ته تلل افضل دي له مخ ته تګ څخه د جنازې كَفَضْلِ صَلٰوةِ الْفَرْضِ عَلَى النَّفْلِ لكه د فرضي لمانځه فضيلت پر نفلو.

تشريح: كوم خلګ چي د مړي سره يو ځاى ځي. د هغو لپاره افضل دا ده چي د جنازې شاته (په جنازه پسي) روان سي؛ پر يو موقع حضرت علي رضي الله عنه قسم واخيستى او ويې فرمايل چي په جنازه پسي شاته د تلونكو فضيلت پر مخكي تلونكو داسي دى لكه د فرضي لمانځه فضيلت پر نفلي لمانځه، او كه يو څو خلګ له جنازې څخه مخكي روان سي او له جنازې څخه ليري نه سي، نو څه حرج نسته، لېكن كه دا څو خلګ له جنازې څخه ډېر ليري سي، يا ټول خلګ مخكي روان سي او جنازه شاته كړي، نو دا مكروه دي. (انوار الايضاح بحوالهٔ در مختار، البحر الرائق، مراقی الفلاح)

❀ ❀ ❀

د جنازې سره په پښو (پياده) تلل

مسئله: بهتر دا ده چي په جنازه پسي شاته تلل بېله ضرورته پر سپارلي باندي نه وي، بلكي په پښو وي؛ ځكه چي فرشتې د مؤمن كس د جنازې لپاره په پښو ځي، حضرت ثوبان رضي الله عنه فرمايي: چي موږ په يو جنازه كي د نبي كريم ﷺ سره ملګري سو، نبي كريم ﷺ ځيني خلګ وليدل چي پر سپارلي باندي وه، نو ويې فرمايل: ولي تاسي ته شرم نه راځي! چي د الله ﷻ فرشتې په پښو ځي او تاسي پر سپارليو باندي ځی. (ترمذي، جلد۱ ص۱۹۶)

له دې حديث څخه معلومه سوه چي بېله ضرورته د جنازې سره پر سپارلي باندي تلل خوښ سوي نه دي. خو بيا هم كه ضرورت وي، مثلاً هديره ډېره ليري وي، يا څوک ډېر بوډا او كمزوری وي، نو پر سپارلي باندي تللو كي څه حرج نسته، خو سپارلي د خلګو شا ته تلل پكار دي چي د خلګو په تګ كي خنډ را نه سي، او [illegible] سو له هديري څخه د واپسۍ په وخت كي په سپرېلو كي هيڅ حرج نسته. (تحفة الألمعي، جلد۳، ص۴۱۸، كتاب المسائل، ص۵۶۳، انوار الايضاح، ص۵۲۷)

په جنازې پسي د تللو په وخت كي ذكر كول

﴿۹۶۶﴾ وَيُكْرَهُ رَفْعُ الصَّوْتِ بِالذِّكْرِ او مكروه دي آواز لوړول په ذكر كي (يعني په لوړ آواز سره ذكر كول).

تشريح: په جنازه پسي په پټه خوله (خاموش) تلل پكار دي او د خپل مرګ او د قبر د سوال و جواب سوچ او فكر كول پكار دي چي يو ورځ خو موږ هم مرو او د خپلو اعمالو حساب به را سره كيږي. او

که کوم ذکر کول غواړي، نو هغه دي په کرار آواز سره کوي، په لوړ آواز سره قرآن کریم ویل یا یو بل ذکر کول مکروه تحریمي دي. (طحطاوي)

تر جنازې ایښوولو مخکې کښېنستل

﴿۹۶۷﴾ وَ الْجُلُوْسُ قَبْلَ وَضْعِهَا او (مکروه دي) کښېنستل د جنازې تر ایښوول کېدو مخکې.

تشریح: د "وضع" دوه مطلبه دي: یو دا چې جنازه له اوږو څخه شوه کول او پر ځمکه ایښوول، دویم دا چې جنازه په قبر کي ایښوول، په دې دویم صورت کي یعني په قبر کي د جنازې له ایښوولو څخه مخکي کښېنستل جائز دي، خو د جنازې له رسېدلو څخه مخکي بېله ضرورته کښېنستل مکروه دي، همدارنګه تر څو چې جنازه له اوږو څخه لاندې پر ځمکه ایښوول سوې نه وي، تر هغه مخکې هم د خلکو لپاره کښېنستل مکروه دي، لېکن د معذور کس لپاره څه پروا نه لري. (انوار الایضاح. شفاء الارواح)

قبر به څومره کیندل کیږي؟

﴿۹۶۸﴾ وَيُحْفَرُ الْقَبْرُ نِصْفَ قَامَةٍ أَوْإِلَى الصَّدْرِ او کیندل کیږي به قبر د نیم قد (قامت) په اندازه یا تر سینې پوري وَإِنْ زِيْدَ او که تر دې زیات (وکیندل) سي كَانَ حَسَنًا نو ښه به وي.

لغات: ﴿زِيْدَ﴾ د ضرب له بابه ماضي مجهوله ده. زَادَ يَزِيْدُ زِيَادَةً وَ زَيْدًا: زیاتېدل، زیاتول.

تشریح: د قبر اوږد والی خو د مړي د قد په اندازه کېدل پکار دي او پرخوالی (بَرْ) دي یې د نیم قد برابر وي، همدارنګه ژور والی (غوچوالی) دي یې د نیم قد په اندازه وي، یا تر سینې پوري، دا مینځنۍ درجه ده او که ژور والي یې د پوره قد په اندازه وي، نو غوره ده او دا اعلیٰ درجه ده.

د قبر قسمونه (لحد [بغلي قبر] او شقّ [صندوقي قبر])

﴿۹۶۹﴾ وَيُلْحَدُ او لوری (بغلي قبر) دي جوړ کړل سي وَلَايُشَقُّ او شق (د قبر په مینځ کي کنده اچری) دي نه جوړول کیږي إِلَّا فِيْ أَرْضٍ رِخْوَةٍ مګر په نرمه (پسته) ځمکه کي.

لغات: ﴿يُلْحَدُ﴾ د افعال له بابه مضارع مجهوله ده (د فتح له بابه هم کېدلای سي): د دې باب څو معناوي دي چي له هغوی څخه ځیني دا دي: لحد جوړول، لوری جوړول، (بغلی قبر جوړول). ﴿لا يُشَقُّ﴾ د نصر له بابه د نفي مجهول صیغه ده. مراد: د قبر په مینځ کي بله کنده (د مړي د قد په اندازه) جوړول، یا په بله وینا مینځنۍ قبر جوړول، صندوقي قبر جوړول. ﴿رخوة﴾ نرم (پوست).

تشریح: اصل سنت بغلي قبر جوړول دي چي هغه ته "لحد" او "لحد" ویل کیږي، لهذا د کوم ځای ځمکه او خاوره چي سخته (کلکه) وي، هلته بغلي قبر (لحد) جوړول پکار دي او د هغه طریقه داده چي د قبر تر کیندلو وروسته دي د قبلې په طرف کي دومره بغلي کنده (لحد) وکښل سي چي په هغه کي مړی په آساني سره اېښوول کېدلای سي.

او صندوقي قبر ته په عربي کي "شق" ویل کیږي، د کوم ځای ځمکه چي ډېره نرمه (پسته) وي چي په هغه کي بغلي قبر (لحد) جوړول ممکن نه وي او د قبر کښېنستلو خطره وي. نو هلته به شق جوړول کیږي، او شقّ دا دی چي د قبر تر پوره کیندلو وروسته د قبر په مینځ کي یوه بله دومره کنده (د ویالې په څېر) وکیندل سي چي مړی پکښي اېښوول کېدلای سي یعني چي د هغه اوږدوالی او پراخوالی د مړي د قد په اندازه وي او پر هغه د پاسه دي تختې وغیره کښېښول سي (یعني په تختو یا دلسي بل شي باندي دي سر وریت کړل سي). (انوار الایضاح)

په قبر کي د مړي د شوه کولو، اېښوولو او د قبر پټولو طریقه

﴿۹۷۰﴾ وَيُدْخَلُ الْمَيِّتُ مِنْ جِهَةِ الْقِبْلَةِ او داخل دي کړل سي مړی د قبلې له طرفه.

﴿۹۷۱﴾ وَيَقُوْلُ وَاضِعُهٗ او د مړي اېښونکی دي ووايي بِسْمِ اللهِ وَعَلٰى مِلَّةِ رَسُوْلِ اللهِ ﷺ
دالله په نامه سره او د رسول الله ﷺ پر دین (هغه خاورو ته سپارم، یا معنیٰ دا چي: دالله په نامه سره په قبر کي یې ږدم او د رسول الله ﷺ د دین پیروي کوم).

﴿۹۷۲﴾ وَيُوَجَّهُ إِلَى الْقِبْلَةِ عَلٰى جَنْبِهِ الْأَيْمَنِ او مخامخ دي کړل سي مړی و قبلې ته په خپل راسته بغل (اړخ) باندي.

﴿۹۷۳﴾ وَتُحَلُّ الْعُقَدُ او خلاصي دي کړل سي (د کفن) غوټې.

﴿۹۷۴﴾ وَيُسَوَّى اللَّبِنُ عَلَيْهِ وَالْقَصَبُ او کچه خښتې دي پر هغه برابري (ټینګي) کړل سي او (مسلسي) نلان.

﴿۹۷۵﴾ وَكُرِهَ الْآجُرُّ وَالْخَشَبُ او مکروه دي پخې خښتې او لرګي (پکښي لګول).

لغات: ﴿مِلَّة﴾ ملت، دین، مذهب. جمع: مِلَل، ﴿جَنْب﴾ اړخ، بغل، څنګ، جمع: جُنُوْبٌ و أَجْنَابٌ، ﴿عُقَد﴾ جمع د عُقْدَةٌ ده: غوټه، تړون، ﴿يُسَوّٰى﴾ د تفعیل له بابه مضارع مجهول ده. مصدر: تَسوِيَةٌ: برابرول. ﴿لَبِن﴾ (بفتح اللام وکسر الباء) او لِبْن (بکسر اللام وسکون الباء) دواړه لغات یې

منقول دي: کچه خښته (طحطاوي). ﴿القصب﴾ د بانس نلان، همدارنګه د هر هغه وابښه او بوټي نلاز چي مینځ یې خالي وي د پیپ غوندي. "ساق النبات الذی یکون جوفه فارغًا کالانبوب" (معجم لغة الفقهاء). ﴿الخشب﴾ لرګیان. خشبة: د لرګي تخته.

تشریح: مړی و قبر ته د قبلې له طرفه ور شوه کول مستحب دي، د هغه صورت دا دی چي جنازه د قبر سره د قبلې پر طرف کښېښول سي او قبر ته شوه کېدونکي کسان مخ پر قبله ودرېږي (مثلا درې قوي کسان دي ور شوه سي. یو دي د قبر د سر په طرف کي مخ پر قبله ودرېږي او بل دي د مینځ او بل دي د قبر د پښو په طرف کي مخ پر قبله ودرېږي)، او لوړ خلک دي مړی په احترام سره راپورته کړي او په کراره دي یې لاندي کسانو ته ور کړي او هغوی دي یې په کراره په قبر کي کښېږدي او په قبر کي د مړي اېښوولو په وخت کي دي دا لفاظ وایي "بسم الله وعلی ملّة سول الله ﷺ" یا "بسم الله وبالله وعلی ملّة رسول الله ﷺ" (او په یوه روایت کي دي "وعلی سنة رسول الله ﷺ").

ویوجّه إلخ: او مړی په قبر کي په راسته بغل (راسته اړخ) باندي مخ پر قبله پرېږ باسل سنت دي، لهذا د مړي و شا ته دي خټه یا لوټي وغیره ولګول سي د دې لپاره چي مړی په راسته بغل باندي قائم پاته سي (او که په راسته بغل باندي پرېږ باسل ممکن نه وي، نو ستوني ستخ دي یې پرېږ باسي او مخ دي یې د قبلې وطرف ته واړوي، خو صاحب د شفاء الارواح لیکلي دي چي دا طریقه د سنت خلاف ده).

وتحلّ العقد: په قبر کي د مړي تر اېښوولو وروسته دي د هغه د کفن غوټې خلاصي کړل سي؛ ځکه اوس د کفن د خلاصېدلو خطره نسته.

ویسوّی اللبن إلخ: همدارنګه په قبر کي د مړي تر اېښوولو وروست دي دننه خلک بهر راووځي او لحد دي په کچه خښتو او د بانس په لرګیو سره بند کړل سي او په مینځ کي چي کوم درزونه پاته سي، هغه دي هم په خټې یا لوټو سره بند کړل سي، د دې لپاره چي خاوره پر مړي نه ولګېږي او هغه له خاوري څخه محفوظ سي، په پخو خښتو او د لرګي په تختو سره بندول مکروه تحریمي دي، لېکن که ځمکه نرمه او کمزورې وي، نو مکروه نه دي. (شفاء الارواح بحوالۂ عمدة الفقه)

د ښځي پر قبر د پرده کولو حکم

﴿٩٤٦﴾ وَأَنْ يُسَجَّى قَبْرُهَا لَا قَبْرَهُ او (مستحب دي) دا چي پرده وکړل سي د ښځي پر قبر، نه د سړي پر قبر.

لغات: ﴿يُسَجّٰى﴾ د تفعيل د باب مضارع مجهوله ده. تَسْجِيَةً: پرده کول. په پرده پټول. او په مجردو کي د نصر له بابه راځي سَجَا يَسْجُوْ اسَجوًا: مړی (په پرده سره) پټول.

تشريح: مسئله دا ده چي که جنازه د ښځي وي. نو په قبر کي د هغې د اېښوولو پر مهال د لحد بندولو تر وخته پوري په يوه کپړه يا څادر سره پرده کول پکار دي. لېکن که جنازه د سړي وي. نو بيا د دې څه ضرورت نسته، ځکه د ښځو د حالت مدار پر ستر او پردې دی. لهذا په قبر کي به هم د ښځي لپاره پرده کول کيږي. لېکن کله چي پر نحد خښتي او نور کښېښول سي او بند کړل سي. نو بيا د پردې په لېري کولو کي څه پروا نسته.

پر قبر خاوري اچول

﴿۹۷۷﴾ وَيُهَالُ التُّرَابُ او خاوره دي پرې واچول سي.

﴿۹۷۸﴾ وَيُسَنَّمُ الْقَبْرُ وَلَا يُرَبَّعُ او قبر دي د بوک په څېر (ماهي پشته) جوړ کړل سي او څلور کونجه (چوتره) دي نه جوړول کيږي.

لغات: ﴿يُهَال﴾ د ضرب له بابه مضارع مجهوله صيغه ده. هَالَ يَهِيْلُ هَيْلًا عليه التراب: خاروه باندي اچول. ﴿يُسَنَّم﴾ د تفعيل له بابه مضارع مجهوله ده: داوښ د بوک په څېر جوړول. او بوک داوښ د شا پورتنۍ حصې (پورتني مډوکي) ته وايي. ﴿لا يُربّع﴾ د تفعيل له بابه د نفي مجهول صيغه ده: څلور کونجه جوړول.

تشريح: د لحد تر بندولو وروسته دي پر هغه خاوره واچول سي. يعني کومه خاوره چي د قبر په کيندلو سره را کښل سوې ده، هاغه خاوره دي دوباره په قبر کي واچول سي. له بل ځايه دي زائده خاوره نه باندي اچوي، دا مکروه دي، او مستحب دا ده چي ټوله حاضرين خاوره ور واچوي. او خاوره اچونکی دي د مړي د سر له طرفه په دواړو لاسونو درې واره (درې لپې) خاوره ور واچوي او د اول وار (اولي لپي) د اچولو په وخت کي دي "مِنْهَا خَلَقْنَاكُمْ"، په دويم وار "وَفِيْهَا نُعِيْدُكُمْ" او په درېيم وار دي "وَمِنْهَا نُخْرِجُكُمْ تَارَةً أُخْرٰى" ووايي (يعني هر يو چي خاوره ور اچوي هغه به اول درې لپې خاوره په پورتنۍ طريقه سره ور اچوي)، بيا دي پاته خاوره په بېلچو وغيره سره باندي واچوي او قبر دي ډک وکړي.

ويُسنّم القبرالخ: او قبر دې د اوښ د بوک په شکل جوړ کړل سي او له ځمکي څخه دې يوه لوېشت يا لږ زيات جګ جوړ کړل سي، هوار يعني څلور کونجه دې نه جوړول کيږي، داسي کول مکروه دي، (په کچه خښتو سره د قبر بوک جوړول جائز دي. بلکي مستحسن ګڼل سوي دي). (انوار الایضاح، شفاء الارواح)

پر قبر ګومبته يا داسي بل ځای جوړول جائز نه دي

﴿۹۷۹﴾ وَيَحْرُمُ الْبِنَاءُ عَلَيْهِ لِلزِّيْنَةِ او حرام دي ځای جوړول پر قبر د ښکلا لپاره.

لغات: ﴿بناء﴾ د ضرب د باب مصدر دی: ځای جوړول، وداني جوړول.

تشريح: پر قبر يو ځای او وداني جوړول، ګومبته جوړول که د زينت (ښکلا) لپاره وي، نو حرام وي. او که د قبر او دفن د مضبوطتيا (ټينګښت) لپاره وي، نو مکروه دي، د بعضي علماؤ په نېز د مشائخو، علماؤ او سيدانو پر قبرونو ګومبته يا بل ځای جوړول بېله کراهته جائز دي، لېکن صحيح دا ده چي په احاديثو کي پر قبرو مطلقاً د ځای جوړولو ممانعت وارد سوی دی او په بعضي فقهي عباراتو کي چي په دې باره کي څه نرمي سوې ده، هغه د احاديثِ صحيحه صريحه په مقابله کي حجت نه دي، نو ځکه له دې څخه بچ کېدل ضروري دي.

قبر مضبوطه جوړول، پر قبر کتبه ليکل

﴿۹۸۰﴾ وَيُكْرَهُ لِلْإِحْكَامِ بَعْدَ الدَّفْنِ او مکروه دي (بناء) د مضبوطۍ لپاره تر ښخولو وروسته.

﴿۹۸۱﴾ وَلَا بَأْسَ بِالْكِتَابَةِ عَلَيْهِ او څه پروانسته په ليکنه کولو کي پر قبر لِئَلَّا يَذْهَبَ الْأَثَرُ وَلَا يُمْتَهَنُ د دې لپاره چي د قبر نښان ختم (ورک) نه سي او سپکاوی يې نه وسي (تر پښو لاندې اپايمال) نه کړل سي).

لغات: ﴿أثر﴾ د دې لفظ له معناوو څخه يوه معنیٰ ده: نښه، تر ډېره پاتېدونکی نښان. جمع: آثار.

﴿لا يمتهن﴾ د افتعال له بابه د نفي معلوم صيغه ده. مصدر: امتهان، د دې باب څو معناوي نقل سوي دي: حقير کول (حقير او سپک ګڼل)، په خدمت کي کارول، (پايماله کول)، په خدمت کي مشغولېدل، خوړ کرځول. (مصباح اللغات)

تشريح: مسئله دا ده چي د مړي تر ښخولو وروسته پر قبر عمارت او ځای جوړول د قبر د ټينګولو لپاره مکروه تحريمي دي؛ ځکه د يو شي مظبوطول د هغه د شي د باقي ساتلو لپاره وي، حال دا چي قبر د ختمېدلو لپاره دی او د خرابېدلو ځای دی.

ولا بأس إلخ: فرمايي په دې غرض سره چې د قبر درک او نښان ورک نه سي او تر پښو لاندي نه کړل سي او د هغه سپکاوی نه وسي، پر يو ډبره يا داسي بل شي باندي نوم وغيره ليکل او د قبر سره لګول څه پروا نه لري (خصوصاً د مشهوره شخصيت پر قبر چې دليري ځايونو څخه خلګ ورته راځي. د دې لپاره چې د اجنبي خلګو لپاره د قبر په پېژندنه کي آساني وي).

يادونه: صاحب د انوارُ الايضاح حَفِظَهُ الله ليکلي دي چې د نوم وغيره (کتبه) لګولو په هکله که څه هم مصنف رَحِمَهُ الله او صاحب د درمختار د "لابأس" خبره کړې ده، خو د تحفۃُ الألمعي په درېيم جلد کي مفتي سعيد احمد مدظله العالی په دې هکله ډېر تفصيلي بحث ليکلی دی. هغه فرمايي چې د نوم وغيره (کتبه) لګولو د ممانعت په باره کي د اعلیٰ درجې صحيح حديث موجود دی، نو ځکه پر قبرو هغه لګول ممنوع دي، او پاته سوه دا خبره چې په اُمت کي د دې تعامل جاري دی، نو جواب يې دا دی چې تعامل هغه وخت حجت وي کله چې هغه د نص خلاف نه وي. (تحفة الألمعي ج: ٣. ص: ٤٦٤)

په کور کي مړی ښخول

﴿٩٨٢﴾ وَيُكْرَهُ الدَّفْنُ فِي الْبُيُوْتِ او مکروه دي ښخول په کورونو (او خونو) کي لِاخْتِصَاصِهِ بِالْأَنْبِيَاءِ عَلَيْهِمُ الصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ له وجهي د خاص کېدلو د دې د انبياؤ عليهم السلام سره (يعني دا د انبياؤ سره خاص دي).

تشريح: انسان چې په کوم کور کي مړ سوی وي، په هغه کي دي نه ښخول کيږي، بلکي د عامو مسلمانانو په قبر کي دي ښخول کيږي، برابره ده نېک کس وي او که يو عالم وي، ځکه دا د انبياؤ عليهم الصلاة والسلام سره خاص دي چې هغوی په کوم ځای کي وفات سوي وي، هلته ښخول کيږي، دا صرف د دوی خصوصيت دی، لکه څرنګه چې د حضرت عائشې رَضِيَ اللهُ عَنْهَا په حجره کي پر کوم ځای د رسول الله ﷺ روح قبض سوی وو، خاص پر هغه ځای قبر مبارک تيار کړل سو او هلته رسول الله ﷺ ښخ کړل سو، دا هم د رسول الله ﷺ خصوصيت دی.

په بنده خونه (بنده کوټه) کي ښخول

﴿۹۸۳﴾ وَيُكْرَهُ الدَّفْنُ فِي الْفَسَاقِيِّ او مکروه دي ښخول په فساقی (گومبتداره بنده خونه. یا لویه خونه کي).

لغات: ﴿الفساقي﴾ صاحب د شفاء الارواح د دې معنیٰ کړې ده: گومبتي والا بنده خونه (حجره)، یا په بله وینا وینا: گومبته لرونکي بنده کوټه چې ډېر مړي پکښې اېښوول کیږي. او په تشریح کي چې کومه معنیٰ موږ ذکر کړې ده هغه صاحب د انوار الایضاح د البحر الرائق په حواله سره لیکلې ده.

همدارنګه "الفساقي" جمع د "الفسقیة" هم ده. خو هغه معنیٰ دلته مراد نه ده. د "الفسقیة" معنی ده: هغه ګول (ګردی) حوض کوم چې له سنګ مرمر څخه جوړ وي او په هغه کي د اوبو فواره نصب وي چې هغه په لویو محلاتو (بنګلو) او باغچو کي جوړول کیږي. (معجم الوسیط)

تشریح: اولاً دا وپېژنئ! چې په پخواني وخت کي به په ځمکه کي یوه (نویه) کنده وکښل سوه او د هغه څلور سره طرفونه به د خوني (کمرې) په څېر جوړ کړل سوه (د ډېر خانې غوندي) او په هغه کي به مړي (مردګان) ښخول کېدل او پر سر به یې پوخ ځای جوړ کړل سو (لکه ګومبته وغیره). د دې رواج په مصر او داسي نورو کي وو، نو آیا داسي کول صحیح دي، مصنف رَحِمَهُ الله فرمایي چې په دې توګه مړي ښخول مکروه دي؛ او دا په څلورو وجهو سره مکروه دي (څلور خرابیاني پکښې دي): ① یوه دا چې دغه ځای د قبر په څېر نه کیندل کیږي او لحد وغیره نه لري، ② بله ضرورته په یوه ځای کي ډېر خلک ښخول کیږي، ③ بغیر له حائل څخه د سړیو او ښځو اختلاط راځي (چې د نارینه او ښځینه مړي ترمینځ څه شی حائل نه وي)، ④ او پر دغه ځای د پاسه پوخ ځای جوړول کیږي (او چونه هم پکښې کارول کیږي) (زموږ په علاقو کي د دې هیڅ رواج نسته). (انوار الایضاح بحوالهٔ البحر الرائق ج: ۲، ص: ۲۰۹، و حاشیه شرح النقایه لشیخ الأدب مولانا اعزاز علي رحمه الله)

په یوه قبر کي څو مړي ښخول

﴿۹۸۴﴾ وَلَا بَأْسَ بِدَفْنِ أَكْثَرَ مِنْ وَاحِدٍ فِيْ قَبْرٍ او څه پروا نسته په ښخولو کي تر یوه د زیاتو کسانو په یوه قبر کي لِلضَّرُوْرَةِ د ضرورت په وجه وَيُحْجَزُ بَيْنَ كُلِّ اثْنَيْنِ بِالتُّرَابِ او بېلتون (جدایي) به را وستل کیږي د هرو دوو په مینځ کي په خاورې سره.

لغات: ﴿يُحجَز﴾ د نصر له بابه مضارع مجهوله ده: د دوو شیانو ترمینځ جلا والی (فصل) راوستل،

تشریح: د ضرورت په وخت کي څو مړي په یوه قبر کي ښخول جائز دي. ضرورت مثلاً [illegible] ډېر وي او ښخونکي (دفن کونکي) کسان لږ وي، یا ښخونکي کسان کمزوري وي چې د هر

مړي لپاره جلا قبر کیندل مشکل وي، یا کمزوري خو نه وي، لیکن دوی تر دې په زیات اهم کار مشغوله وي، نو په داسي صورت کي له یوه څخه زیات مړي په یوه قبر کي ښخول جائز دي، او په داسي صورت کي د دوو مړو تر مینځ فصل (بېلتون) راوستل پکار دي، برابره ده فصل د کپړې (ټوکر) په ذریعه وکړل سي یا د وښو، پاڼو یا د کاغذ یا خاورو او داسي نورو په ذریعه وکړل سي، او په دې اوږده کنده کي به په هاغه ترتیب سره مړي (مردګان) ایښوول کیږي کوم چي مخکي تېر سو یعني اول به سړی مخ پر قبله کښېږدي، د هغه شاته بیا نابالغه هلک، بیا ښځه او داسي نور، او که ټوله مړي د یوه جنس وي مثلاً ټوله سړي (نارینه) وي یا ټوله ښځي وي، نو اول به هغه کس مخ پر قبله اږدي کوم چي په دوی کي افضل وي او بیا له هغه څخه کم فضیلت والا علیٰ هٰذا القیاس.

په کوم قبر کي چي څو مړي ښخول کیږي، د هغه د کیندلو دوې طریقې دي: یوه دا چي شمالاً او جنوباً اوږد قبر وکیندل سي، د هغه پټول آسانه دي، او دویمه طریقه دا ده چي شرقاً و غرباً پراخه قبر وکیندل سي، په غزوهٔ اُحد کي پراخه قبرونه کیندل سوي وه. (انوار الایضاح بحوالهٔ تحفة الألمعي، البحر الرائق)

په کښتۍ کي مړ کېدل

﴿۹۸۵﴾ وَمَنْ مَّاتَ فِيْ سَفِيْنَةٍ او څوک چي مړ سي په کښتۍ کي وَكَانَ الْبَرُّ بَعِيْدًا او وچه (ځمکه) لیري وي أَوْ خِيْفَ الضَّرَرُ یا (مړي ته) د ضرر رسېدلو (خرابېدلو) بېره وي غُسِلَ وَكُفِنَ نو غسل او کفن دي ورکول سي وَصُلِّيَ عَلَيْهِ وَأُلْقِيَ فِى الْبَحْرِ او لمونځ (د جنازې) دي پر هغه وکړل سي او په دریاب کي دي وغورځول سي،

لغات: ﴿سفینة﴾ کښتۍ، جمع: سُفُن، ﴿بَرّ﴾ وچه، د بحر ضد دی، یعني له سمندرونو او نورو اوبو څخه بغیر نوري وچي ځمکي ته "بَرّ" وایي، ﴿ضرر﴾ نقصان، تاوان، جمع: أَضْرَارٌ، ﴿بحر﴾ سمندر، دریاب، جمع: بِحَارٌ.

تشریح: که د سمندري سفر په دوران کي یو کس په کښتۍ کي مړ سي او وچه ځمکه لیري وي او دا بېره وي چي مړی به بوی وکړي، نو هغه ته دي په کښتۍ کي غسل او کفن ورکول سي او پر هغه دي لمونځ وکړل سي او تر دې وروسته دي یو وزني شی د هغه سره وتړل سي او سمندر ته دي واچول سي، او که دا بېره نه وي چي هغه به بوی وکړي، نو برابره ده وچه لیري وي او که نژدې وي، هغه دي په سمندر کي نه اچوي، بلکي په وچه کي دي یې ښخ کړي. (شفاء الارواح بحوالهٔ حاشیه)

جنازه بل ځای ته وړل

﴿٩٨٦﴾ وَيَسْتَحِبُّ الدَّفْنُ فِيْ مَحَلِّ مَاتَ بِهٖ أَوْ قُتِلَ او مستحب دي ښخول په هغه ځلی کي چي پکښي مړ سوی یا وژل سوی وي فَإِنْ نُقِلَ قَبْلَ الدَّفْنِ قَدْرَ مِيْلٍ أَوْ مِيْلَيْنِ بيا که هغه نقل کړل سي (یووړل سي) تر ښخولو مخکي دیوه میل یا دوو میلو په اندازه لَا بَأْسَ بِهٖ نو څه پروا پکښي نسته وَكُرِهَ نَقْلُهٗ لِأَكْثَرَ مِنْهُ او مکروه دي له دې څخه زیاته مسافه دمړي نقل کول (وړل).

تشریح: کوم څوک چي په ښار یا د صحرا په علاقه وغیره کي مړ سوی یا وژل سوی وي، نو دا کس د هغه ځای په هدیره کي ښخول مستحب دي، او تر ښخولو مخکي له یوه ځایه بل ځای ته وړل مکروه دي، مګر دا چي هغه بل ځای دیوه میل یا دوو میلو پر فاصله وي، نو بیا څه پروانه لري؛ ځکه د ښار او آبادۍ هدیره عموماً دغومره فاصله لیري واقع وي. (شفاء الارواح)

له ښخولو څخه وروسته مړی بل ځای ته وړل

﴿٩٨٧﴾ وَلَا يَجُوْزُ نَقْلُهٗ بَعْدَ دَفْنِهٖ بِالْإِجْمَاعِ او جائز نه دي دمړي نقل کول (وړل) تر ښخولو وروسته په اجماع سره (بالاتفاق) إِلَّا أَنْ تَكُوْنَ الْأَرْضُ مَغْصُوْبَةً أَوْ أُخِذَتْ بِالشُّفْعَةِ مګر دا چي هغه ځمکه غصب کړل سوې وي، یا په شفعه سره اخیستل سوې وي.

لغات: ﴿مغصوبة﴾ د ضرب له بابه د مفعول صیغه ده: غصب کړل سوې، په زوره (جبرا) لاندي کړل سوې. ﴿الشفعة﴾ شُفعه له "شَفْعٌ" څخه مشتق ده او "شَفْعٌ" د فتح د باب مصدر دی "شَفَعُ الشَّيْءِ بِالشَّيْءِ" چي د هغه معنیٰ ده: یو شی د بل شي سره یو ځای کول، او د شُفعي اصطلاحي معنیٰ ده: "تَمَلُّكُ الْبُقْعَةِ (أَوِ الْعَقَارِ) بِمَا قَامَ عَلَى الْمُشْتَرِيْ بِالشِّرْكَةِ أَوِ الْجِوَارِ" یعني د شرکت یا همسایه توب پر بنیاد د (خرڅ کړل سوي) جایداد مالک کېدل د دومره قیمت په عوض کي په څومره قیمت چي مشتري ته ولاړ وي، (په آسانه وینا دا چي که یو څوک خپله ځمکه یا غیر منقوله جایداد [لکه کور وغیره] خرڅ کړي او د هغه شریک یا همسایه ودرېږي چي دا زه رانیسم [په هغومره قیمت څومره چي د هغه ځمکي او جایداد قیمت ټاکل سوی دی] او بل چا ته یې نه پرېږدم، نو دې ته "شفعه" او "د شفعي حق" وایي).

تشریح: مسئله دا ده چي تر ښخولو (دفن) وروسته مړی را ایستل او بل ځای ته وړل بالاجماع ناجائز دي، لېکن دیو انسان د حق لپاره جائز دي، مثلاً په کومه ځمکه کي چي مړی ښخ وي، هغه د

بل چا مثلاً د زید ځمکه وي او د زید له اجازې پرته مړی پکښې ښخ کړی سوی وي، نو مالک (زید) ته اختیار دی چې که خوښه يې وي، نو د مړي د ایستلو او وړلو حکم دي وکړي او که خوښه يې وي، نو ځمکه دي هواره کړي او په خپل کار کې دي يې استعمال کړي.

او أخذت بالشفعة: د دې صورت دا دی چې مثلاً زید یوه ځمکه رانیوله او په هغه کې يې یو مړی ښخ کړی، بیا د هغه ځمکي سره همسایه کس مثلاً خالد د شفعې دعوه وکړه چې په دې ځمکه کې زه د شفعې حق لرم (ځکه چې زما ځمکې څنګ ته ده مثلاً) او بیا دا ځمکه د شفعې د حق په وجه خالد ته ورکول سوه او خالد يې مالک سو، نو اوس د خالد لپاره جائز دي چې (مشتري ازبدا ته) د مړي د ایستلو حکم وکړي او دا هم ورته جائز دي چې د قبر ځمکه هواره او استعمال کړي، (د شفعې تفصیلي احکام به په لویو کتابونو کې درته راسي).

د بل چا په قبر کې د ښخ کړل سوي مړي حکم

﴿۹۸۸﴾ وَإِنْ دُفِنَ فِيْ قَبْرٍ حُفِرَ لِغَيْرِهٖ او که ښخ کړل سي په داسې قبر کې کوم چې د بل چا لپاره کیندل سوی (کښل سوی) وي ضَمِنَ قِيْمَةَ الْحَفْرِ نو ضامن کېږي د کیندلو (کښلو) د قیمت (یعني د هغه پر کښلو چې څومره قیمت لګېدلی وي، د هغه ضمان اتاوان ابلندي لازمېږي) وَلَا يُخْرَجُ مِنْهُ او نه به ایستل کېږي له هغه قبر څخه.

لغات: ﴿حُفِرَ﴾ د ضرب له بابه ماضي مجهوله ده: قبر یا داسې بل پټ کړل سوی شی خلاصول او ښکاره کول، ښخ کړل سوی راکښل (را ایستل).

تشریح: صورت د مسئلې دا دی چې که یو چا مثلاً خالد د ځان لپاره په خپل ژوند کې قبر کیندلی وي (لکه بعضې کسان چې همداسې کوي)، بیا یو بل څوک مثلاً زید په هغه قبر کې خپل مړی ښخ کړي. نو د قبر مالک یعني خالد ته د هغه مړي د را ایستلو اجازه نسته، خو ده (خالد) چې د دې قبر په کیندلو باندې څومره مصرف کړی وي، د دې ضمان (تاوان) له هغه بل چا (زید) څخه اخیستلای سي.

د قبر خلاصول کله جائز دي؟

﴿۹۸۹﴾ وَيُنْبَشُ لِمَتَاعٍ سَقَطَ فِيْهِ او قبر لڅول کېدای سي د یو سامان لپاره کوم چې په قبر کې لوېدلی وي وَلِكَفَنٍ مَغْصُوْبٍ او (همداسې) د غصب کړل سوي کفن لپاره وَمَالٍ مَعَ الْمَيِّتِ او د یو مال لپاره کوم چې د مړي سره (ښخ سوی) وي.

لغات: ﴿ینبش﴾ د نصر له بابه مضارع مجهوله ده، نَبَشَ يَنْبُشُ نَبْشًا: پټ سوی شی را ښکاره کول (لڅول)، ښخ کړی مړی راکښل، مراد: قبر لڅول، ﴿متاع﴾ سامان، جمع: أمتعة، ﴿مغصوب﴾ د ضرب له بابه مفعول دی: غصب کړی سوی (په زوره اخیستل سوی) شی.

تشریح: صورت د مسئلې دا دی چي که په قبر کي د یو چا قیمتي سامان لوېدلی وي، یا مړی د بل چا په غصب کړل سوي کفن کي ښخ کړل سوی وي، یا د مړي د ښخولو په وخت کي د هغه سره مال او دولت هم ښخ کړل سوی وي، نو د هغه د را ایستلو لپاره د قبر خلاصول (لڅول) جائز دي، لکه څرنګه چي نبي کریم ﷺ د ابو رغال د قبر خلاصولو اجازه ورکړې وه د سرو زرو د یو شي په وجه کوم چي د مړي سره ایښول سوی وو. (شفاء الارواح، مراقی الفلاح)

﴿۹۹۰﴾ وَلَا يُنْبَشُ بِوَضْعِهٖ لِغَيْرِ الْقِبْلَةِ او قبر نه سي لڅول کېدلای له قبلې څخه و غیر (بل) طرف ته د مړي د ایښول کېدو په وجه أَوْعَلٰی يَسَارِهٖ یا پر چپه اړخ (د هغه د ایښول کېدو په وجه)

وَاللّٰهُ أَعْلَمُ او الله زیات خبر دی.

تشریح: مخکي دا مسئله تېره سوه چي مړی دي په قبر کي په راسته اړخ باندي مخ پر قبله ایښول کیږي او که دا ممکنه نه وي نو ستوني ستخ دي ایښول کیږي او مخ دي یې د قبلې وطرف ته اړول کیږي. اوس دلته دا خبره بیانوي چي که مړی په قبر کي په چپه اړخ باندي ایښول سوی وي، یا د هغه مخ له قبلې څخه بغیر وبل طرف ته اړول سوی وي، بیا تر ښخولو وروسته په یاد ورسي، نو اوس د دې لپاره قبر لڅول جائز نه دي چي مړی مخ پر قبله کړي، ها! که تر اوسه فقط خښتي وغیره ور ته ایښول سوي وي او خاوره نه وي باندي اچول سوې، نو خښتي وغیره لیري کول او هغه مخ پر قبله کول پکار دي.

❀ ❀ ❀

فَصْلٌ فِیْ زِیَارَةِ الْقُبُوْرِ

(دا) فصل په (بیان د) زیارت د قبرونو کي دی

د قبرونو د زیارت حکم

﴿۹۹۱﴾ نَدُبَ زِیَارَتُهَا مستحب دي د قبرونو زیارت لِلرِّجَالِ وَالنِّسَاءِ عَلَی الْأَصَحِّ د سړیو او ښځو (دواړو) لپاره د صحیح ترین قول مطابق.

تشریح: د مؤمنانو د قبرونو زیارت او د هغو لپاره دعاء کول مستحب دي او د نبي کریم ﷺ له زماني څخه تر نن ورځي پوري د اُمت پر دې عمل دی، د قبرونو په زیارت سره زړه نرمیږي، مرګ یادیږي او د دنیا فاني والی معلومیږي، په هره هفته کي یوه ورځ زیارت کول مستحب دي او د جمعې یا شنبې یا دوشنبې یا پنجشنبې په ورځ زیارت کول مستحب دی، تر ټولو افضل د جمعې ورځ او د سهار وخت دی، په روایت کي راځي چي مړي د پنجشنبې او جمعې په ورځ زیارت کونکی کسان پېژني، او د ښځو لپاره هم صحیح دا ده چي زیارتِ قبور جائز دی کله چي دوی غیرِ شرعي اُمور نه کوي.

لېکن زیاته صحیح دا ده چي ښځي برابره ده سپین سري وي او که ځواني وي او برابره ده د بزرګ قبر ته ځي او که عامو قبرونو ته ځي مطلقاً په هر حالت کي به دوی منع کول کیږي، خصوصاً زموږ په زمانه کي چي اوس د جهالت، شرک او بدعاتو ډېر زور دی او د ډېرو غیرِ اخلاقي او غیرِ شرعي اُمورو او مفاسدو ننداره کیږي، نو ځکه په سختي سره به منع کول کیږي، همدا وجه ده چي زموږ په زمانه کي د هغه د حرام والي فتویٰ صادره سوې ده (خو کله نا کله په پرده کي هدیرې ته د ښځي تلل ممنوع نه دي کله چي د غیرِ شرعي اُمورو او مفاسدو هیڅ خطره نه وي). (شفاء الارواح بحوالة عمدة الفقه)

د قبرونو د زیارت طریقه

﴿۹۹۲﴾ وَیَسْتَحِبُّ قِرَائَةُ یٰسٓ او مستحب دي د یسٓ شریف ویل لِمَا وَرَدَ أَنَّهٗ مَنْ دَخَلَ الْمَقَابِرَ وَقَرَأَ یٰسٓ ځکه چي وارد سوي دي (په روایت کي راغلي دي) چي څوک هدیرې ته داخل سي او یسٓ شریف ووایي خَفَّفَ اللّٰهُ عَنْهُمْ یَوْمَئِذٍ نو سپکوي الله تعالیٰ (عذاب) له دوی ټولو څخه (کوم چي هلته ښخ دي) په هغه ورځ وَکَانَ لَهٗ بِعَدَدِ مَا فِیْهَا حَسَنَاتٌ او دي دغه ویونکي

لره په هدیره کې د موجوده مړو په شمېر سره نېکیانې (یعني هلته دیس لوستونکي ته دومره نېکۍ حاصلیږي څومره چې په هدیره کې مردګان موجود دي).

لغات: ﴿مقابر﴾ جمع د مقبرة ده: هدیره (قبرستان)، ﴿خفّف﴾ د تفعیل د باب ماضي ده: سپکول، کمي کول. په بعد د مَا کښې "مَا" د "مَنْ" په معنیٰ سره دی، ﴿حسنات﴾ جمع د حَسَنَةٌ ده: نېکي، نېک عمل.

تشریح: د زیارت طریقه دا ده چې کله هدیرې ته داخل سي، نو دا دعاء دي ووایي:

"اَلسَّلَامُ عَلَيْكُمْ يَا أَهْلَ الْقُبُوْرِ! يَغْفِرُ اللهُ لَنَا وَلَكُمْ أَنْتُمْ سَلَفُنَا وَنَحْنُ بِالْأَثَرِ"

یا داسي دي ووایي:

"اَلسَّلَامُ عَلَيْكُمْ دَارَ قَوْمٍ مُؤْمِنِيْنَ وَإِنَّا إِنْ شَاءَ اللهُ بِكُمْ لَاحِقُوْنَ وَنَسْأَلُ اللهُ لَنَا وَلَكُمُ الْعَافِيَةَ"

بیا چې کله یو معلوم قبر ته راسي، نو مړي (قبر) ته دي مخامخ ودریږي یعني چې د ده شا د قبلې وطرف ته وي او مخ یې د مړي (قبر) وطرف ته وي، او د مذکوره پورتني سلام تر ویلو وروسته دي د خپل وس مطابق د قرآن مجید څه حصه یا څو سورتونه ووایي او د سورة یسٓ فضیلت راغلی دی او د هغه ثواب دي د غه مړي او د هدیرې ټولو مړو ته ورسوي، او په دې عبارت کې د سورة یسٓ فضیلت دا بیان سوی دی چې څوک هدیرې (مقبرې) ته داخل سي او دا سورت ووایي، نو په دې ورځ به الله تعالیٰ د هغو (مردګانو) عذاب سپک کړي نو ده ته به د هغو د شمېر په اندازه نېکیانې ور کړي.

د قبر سره کښېنستل او د قرآن کریم تلاوت کول

﴿ ٩٩٣ ﴾ وَلَا يُكْرَهُ الْجُلُوْسُ لِلْقِرَاءَةِ عَلَى الْقَبْرِ او مکروه نه دي د قرائت (قرآن لوستلو) لپاره کښېنستل د قبر سره فِي الْمُخْتَارِ د مختار (اختیار کړل سوي) قول مطابق.

تشریح: مسئله دا ده چې د قرآن لوستلو لپاره د قبر سره کښېنستل مکروه نه دي، چې څوک هدیرې ته ولاړ سي او هلته د قبر سره قرآن کریم په یاده یا په ناظره ووایي، دا څه پروا نه لري؛ دلته په عبارت کې "علیٰ" د "عند" په معنیٰ سره دی؛ ځکه پر قبر د پاسه کښېنستل برابره ده د تلاوت لپاره وي یا هسې وي، په هر صورت کې مکروه تحریمي دی.

﴿ ٩٩٤ ﴾ وَكُرِهَ الْقُعُوْدُ عَلَى الْقُبُوْرِ لِغَيْرِ قِرَاءَةٍ او مکروه دي د قبرونو سره کښېنستل بغیر له قرائت (قرآن لوستلو) څخه وَوَطْؤُهَا او قبرونه تر پښو لاندې کول (په قبرونو سر ببره ختل)

وَالنَّوْمُ وَقَضَاءُ الْحَاجَةِ عَلَيْهَا او خوب او حاجت کول پر قبرونو.

لغات: ﴿وطؤ﴾ د سمع د باب مصدر دی: تر پښو لاندي کول، پایماله کول.

تشریح: مسئله دا ده چي د قبرونو سپکاوی نه کول پکار دي او تر حدِ زیات تعظیم یې هم نه کول پکار دي، بلکي په دې باره کي اعتدال کول پکار دي، سپکاوی دا دی چي قبرونه تر پښو لاندي کړل سي، یا پر هغوی کښېني، یا پر هغوی قضاء حاجت وسي. او تعظیم دا دی چي قبرونه زیات جګ جوړ کړل سي، پر قبرونو ګومبتي جوړي کړل سي، پر هغوی ګلان واچول سي. یا پر هغوی څادران هوار کړل سي او یا پر هغوی څراغان وځړول سي، او اعتدال دا دی چي په زړه کي د قبرونو قدر او احترام وي او د هغوی سره داسي عمل او چلند وسي کوم چي په سنت سره ثابت دي، یعني د قبرونو د زیارت لپاره تلل او د قبرونو سره دربلل، ایصالِ ثواب کول او د مغفرت دعاء ورته کول. فقط.

د قبر د شاوخوا شــنه وابنه کښل

﴿۹۹۵﴾ وَقَلْعُ الْحَشِيْشِ وَالشَّجَرِ مِنَ الْمَقْبَرَةِ او (همدارنګه مکروه دي) وابنه او درختي (وني) کښل له هدیرې څخه وَلَا بَأْسَ بِقَلْعِ الْيَابِسِ مِنْهُمَا او څه پروانسته په کښلو کي د وچو له دې دوارو څخه (یعني وچ وابنه یا وچي درختي کښل څه حرج او پروانه لري).

لغات: ﴿قلع﴾ د فتح د باب مصدر دی: کښل، له بېخه باسل، ﴿حشیش﴾ وابنه. منهما د تثنیه ضمیر د حشیش او شجر وطرف ته راجع دی.

تشریح: مستحب دا ده چي پر قبر شنه وابنه وغیره نه وکښل سي، په دې سره میت ته فایده رسیږي؛ ځکه شنه وابنه او شنه بوټي د الله ﷻ په ذکر مشغوله وي او د هغوی د ذکر کولو په وجه د الله ﷻ رحمت نازلیږي، ها! تر وچېدلو وروسته د هغوی په کښلو او پرېکولو کي څه حرج نسته. خو که د قبر د شاوخوا ولښو او بوټو په وجه خلکو ته تکلیف وي، نو بیا د لاري د صفا کولو لپاره هغوی کښل کېدلای سي. (انوار الایضاح بحوالۂ مراقی الفلاح ص: ۳۴۲، وفتاوی رحیمیة ج: ۵، ص: ۱۰۵)

❀ ❀ ❀

بَابُ أَحْكَامِ الشَّهِيْدِ

(دا) باب د شهيد د احكامو (په بيان كې) دی

تشريح: څرنګه چې د شهيد احكام د نورو مړو له احكامو څخه جلا او بېل دي، نو ځكه د شهيد احكام په يوه جلا باب كې بيانوي. يا په دې وجه يې جلا بيانوي چې شهيد پر نورو مړو ډېر فضيلت لري، تر دې چې له دې څخه منع سوې ده چې شهيد ته مړ وويل سي، لكه څرنګه چې د الله تعالىٰ فرمان دی ﴿وَلَا تَقُولُوا لِمَنْ يُقْتَلُ فِيْ سَبِيْلِ اللهِ أَمْوَاتٌ بَلْ أَحْيَاءٌ وَلٰكِنْ لَّا تَشْعُرُوْنَ﴾. [البقرة: ۱۵۴]

شهيد ته د شهيد ويلو وجه: صاحب د بنايې رَحِمَهُ الله ليكلي دي چې شهيد ته په څو وجهو سره شهيد ويل كيږي: ① يو په دې وجه چې فرښتې د تعظيم او عزت په خاطر د هغه د مرګ شهادت (ګواهي) وركوي او فرښتې د هغه په جنازه كې شركت كوي، نو دلته به شهيد په معنىٰ سره د مشهود وي لكه فعيل چې په معنىٰ سره د مفعول راځي، ② دويمه وجه دا ده چې شهيد ته تر مرګ وروسته د جنت زيرى او شهادت وركول كيږي، نو دلته به هم په معنىٰ سره د مشهود وي، ③ دريمه وجه دا ده چې د شهيد معنىٰ ده: حاضر. او شهيد هم د الله ﷻ په نېز حاضر او ژوندى وي، لكه څرنګه چې مخكې آيت ذكر سو (بنايه ج: ۲) دلته به په معنىٰ د شاهد سره وي.

د فقهاؤ په اصطلاح كې شهيد هغه څوک دی چې مشركينو او كافرانو قتل كړى وي او د هغه پر بدن د قتل او زخم اثر وي. يا هغه څوک دی چې مسلمانانو په ظلم قتل كړى وي، او د قتل په وجه يې ديت واجب سوى نه وي. (فتح الهدايه)

د شهيد قسمونه: د انجام او احكامو په اعتبار سره د شهيد درې قسمونه دي:

① ... دنيوي او اُخروي شهيد (كامل شهيد): يعني هغه كس كوم چې په اخلاص سره د الله ﷻ د دين د لوړ والي لپاره په جهاد كولو كې ووژل سي. دغه ته په آخرت كې د شهادت مرتبه نصيب كيږي او په دنيا كې هم پر هغه د شهيد احكام جاري كيږي. چې غسل وغيره نه وركول كيږي. همدارنګه هغه كس كوم چې ظلماً په تېزه (تېره) آله سره وژل سوى وي، هغه هم د دې شهيد په حكم سره دی.

② ... اُخروي شهيد: دا هغه كس دی كوم چې په جهاد وغيره كې شهيد نه سي. لېكن د خپل ځان او مال په دفاع كې ووژل سي. يا مثلاً د نس د ناروغۍ په وجه مړ سي، يا د طاعون وغيره د وبا په وجه مړ سي. په مختلفو رواياتو كې تقريباً شپېته (۶۰) ډوله كسان ذكر سوي دي. دا ټوله روايات په "أوجز المسالك" كې جمع سوي دي.

③... فقط دنيوي شهيد: داسي منافق او بد غرض لرونکی کس کوم چي محض د ځان ښوونې لپاره په جهاد کې شريک سي او ووژل سي. يا د مال غنيمت حاصلولو يا د يو بل دنيوي غرض په وجه جنګ کونکی ووژل سي، ځرنګه چي د زړه په رازونو صرف الله تعالیٰ خبر دی. نو ځکه داسي کس په دنيوي احکامو کې شهيد منل سوی دی چي د ده سره به د حقيقي شهيد په څېر چلند کول کيږي چي غسل وغيره به نه ورکول کيږي. لېکن په آخرت کې داسي کسانو ته د شهادت مرتبه نه حاصليږي. (کتاب المسائل و تحفة الألمعی ج: ۲)

﴿۹۹۶﴾ اَلشَّهِيْدُ الْمَقْتُوْلُ مَيِّتٌ بِأَجَلِهِ مقتول (وژل سوی) شهيد په خپل مرګ (يا په بله وينا: پر خپل ټاکلي وخت) مړ سوی دی عِنْدَنَا أَهْلِ السُّنَّةِ زموږ (يعني) د اهل سنتو په نيز.

لغات: ﴿أجل﴾ د دې لفظ څو معناوي نقل سوي دي: مرګ، د انسان د وخت آخر (د مرګ وخت)، ټاکل سوې نېټه (موده)، مقرر وخت.

تشريح: د دې مسئلې تعلق د عقائدو او علمُ الكلام سره دی، حاصل د عبارت دا دی چي د مقتول (وژل سوي کس) په باره کې د اهلِ سنت والجماعت عقيده دا ده چي هغه ميّت بأجله دی يعني هغه په خپل مرګ سره پر خپل ټاکلې نېټه مړ سوی دی يا په بله وينا د هغه مرګ پر خپل وخت راغلی دی له وخت څخه مخکې نه دی واقع سوی، پاته سوه دا خبره چي کله مقتول ميّت بأجله دی، نو بيا پر قاتل قصاص يا ديت ولې واجبيږي؟، نو د دې جواب دا دی چي قاتل د قتل سبب اختيار کړی دی (يا په بله وينا د قتل سبب جوړ سوی دی) او په دې سره يې د عالَم نظام خراب کړی دی، نو ځکه د نظامِ عالَم د خوندي او باقي ساتلو په خاطر د قاتل لپاره دا سزا ټاکل سوې ده. او معتزله وايي چي مقتول پر خپل ټاکلې نيټه (پر خپل وخت) نه دی مړ سوی، بلکي همدا قاتل د هغه عمر ورختم کړی دی، که قاتل هغه قتل کړي نه وای، نو هغه به ژوندی وای. (شفاء الارواح بحوالهٔ حاشيه)

د شهيد تعريف او تفصيل

﴿۹۹۷﴾ وَالشَّهِيْدُ مَنْ قَتَلَهٗ أَهْلُ الْحَرْبِ او شهيد هغه کس دی کوم چي قتل کړی (وژلی) وي حربي کافرانو أَوْ أَهْلُ الْبَغْيِ أَوْ قُطَّاعُ الطَّرِيْقِ يا باغيانو يا لاره شکونکو (داکوګانو) أَوِ اللُّصُوْصُ فِيْ مَنْزِلِهٖ لَيْلًا يا غلو په خپل کور کې د شپې وَلَوْ بِمُثَقَّلٍ که څه هم په يو درانه شي سره (يې وژلی) وي أَوْ وُجِدَ فِي الْمَعْرَكَةِ وَبِهٖ أَثَرٌ يا هغه (کس کوم چي). رنډل سوی وي د جنګ په ميدان کې او پر هغه (د زخم) نښې وي.

﴿۹۹۸﴾ أَوْ قَتَلَهٗ مُسْلِمٌ ظُلْمًا عَمَدًا بِمُحَدَّدٍ يا يو مسلمان هغه قتل کړی وي په ظلم سره قصدًا

په تېره شي سره.

﴿٩٩٩﴾ وَ كَانَ مُسْلِمًا او هغه (قتل کړی سوی کس) مسلمان وي (نو د مقتول اسلام شرط دی د شهادت د ثبوت لپاره، لهذا د کافر کس لپاره هيڅ شهادت نه سي ثابتېدلای).

﴿١٠٠٠﴾ بَالِغًا (او) بالغ وي.

﴿١٠٠١﴾ خَالِيًا عَنْ حَيْضٍ وَ نِفَاسٍ وَ جَنَابَةٍ خالي (پاک) وي له حيض او نفاس او جنابت څخه.

﴿١٠٠٢﴾ وَلَمْ يُرْتَثَّ بَعْدَ انْقِضَاءِ الْحَرْبِ او هغه مقتول زوړ سوی (ژوندباندي تېر سوی) نه وي د جنګ تر ختمېدو وروسته (يعني د جنګ تر ختمېدو وروسته د زخمي والي په حالت کي ژوندی نه وي پاته سوی. يا په بله وينا دا چي تر جنګ وروسته يې له دنياوي ژوند څخه فايده نه وي اخيستې. نو داسي مقتول شهيد دی. کنې شهيد نه دی).

لغات: ﴿أهل الحرب﴾ له دې څخه مراد حربي کفار دي يعني د داسي ملک جنګي کفار چي هلته د کفارو حکومت وي، ﴿أهل البغي﴾ باغيان، هغه کسان چي په د امام (حاکم) له اطاعت څخه ووځي (په يو تأويل سره) بغاوت وکړي او جنګ ته آماده سي، صاحب د معجم يې داسي تعريف کړی دی: "أهل البغي: المسلمون الخارجون على الإمام متأولين إذا كانت لهم شوكة" (معجم لغة الفقهاء)، ﴿لصوص﴾ جمع د لصّ ده: غل (په پټه غلا کونکی)، ليلًا: دا قيد اتفاقي دی، مطلب يې دا دی چي ډاکو کور ته ورسې برابره ده د ورځې وي او که د شپې وي، د دواړو حکم برابر دی (انوار الايضاح). ﴿مُثقّل﴾ دروند (وزنلرما شی، ﴿معركة﴾ د جنګ ميدان، ډګر، جمع: مَعَارِك، ﴿مُحدّد﴾ تېره (تېره کړی سوی)، تېز، حَدَّدَ يُحَدِّدُ تَحْدِيْدًا: تېره کول، ﴿وَلَمْ يُرْتَثَّ﴾ د افتعال له بابه د نفي جحد مجهول صيغه ده. د دې باب څو معناوي نقل سوي دي: زوړ کېدل (وخت پر تېرېدل)، له دنياوي آسانتياوو څخه فايده اخيستل، صاحب د معجمُ الوسيط يې داسي تعريف کړی دی "ارْتُثَّ فلانٌ: ضُرِبَ فِي الْحَرْبِ فأثخن وحُمِلَ وبه رمقٌ ثُمَّ مَاتَ فَهُوَ مرتثٌّ". يعنی هغه کس کوم چي د جنګ په ميدان کي سخت زخمی کړل سي او بيا هغه له د جنګ له ميدان څخه يووړل سي او په هغه کي ساه پاته وي (ژوندی وي) بيا تر څه ژوند وروسته مړ سي (په لنډه وينا دا چي تر زخمي کېدو وروسته څه وخت ژوندی پاته سي. يا په بله وينا چي تر زخمي کېدو وروسته د دنياوي ژوند نفع حاصله کړي)، نو داسي کس ته مُرْتَثّ ويل کيږي. نور تفصيل او وضاحت به په تشريح کي ذکر سي.

تشريح: په دنيا کي چي پر کوم چا د شهيد احکام جاري کيږي يعني غسل وغيره نه ورکول کيږي، دلته د هغه تذکره کيږي، د دې شهيد څو صورتونه دي:

①... کوم مسلمان چي حربيانو يا باغيانو يا ډاکه مارانو (ډاکوګانو) يا غلو د شپې په خپل کور کي وژلی وي، برابره ده په آلۀ جارحه سره وي لکه توره، ټوپک او داسي نور، يا په غيرِ جارحه آله سره وي لکه ډانګ (لکړه)، سوکان او لغتي او داسي نور، نو هغه شهيد دی او پر هغه د شهيد احکام جاري کيږي.

②... کوم مسلمان چي د جنګ پر ميدان په داسي حال کي وموندل سي چي د هغه پر بدن د زخم نښي وي، نو پر هغه د شهيد احکام جاري کيږي.

أو قتله مسلم ظلمًا إلخ: ③... کوم مسلمان چي مسلمانانو ظلماً او قصداً په تېره (تېز) شي سره وژلی وي، نو پر هغه هم د شهيد احکام جاري کيږي، په دې درېيم صورت کي د "ظلمًا" په قيد سره هغه کس خارج سو کوم چي د يو چا د حق په بدله کي وژل سوی وي مثلاً په حدّ يا قصاص کي، يا يې پر يو چا ظلم و زياتوب کړی وي او هغه دئ وژلی وي، نو دئ شهيد نه دی. همدارنګه د "عمدًا" (قصدًا) په قيد سره هغه کس خارج سو کوم چي په يوه تېره شي سره خطاءً وژل سوی وي مثلاً يو چا پر يو حيوان وار کړی وي خو وار پر يو انسان لګېدلی وي، نو هغه شهيد نه دی، همدارنګه د "محدّد" (تېره) قيد لګول سوی دی، لهذا که په نا تېره شي مثلاً په ډانګ يا داسي بل شي سره وژل سوی وي، نو هم هغه شهيد نه دی، او له تېره (تېز) شي څخه مراد هغه آله ده چي په هغه کي د پرېکولو (غوڅولو) قوت وي او اندامونه سره جلا کولای سي لکه توره، چاړه، چاقو، د ټوپک مرمۍ او داسي نور، او اوسپنه مطلقاً په آلۀ جارحه کي داخله ده که څه هم هغه تېره نه وي.

په دې دريو سره صورتونو کي د شهيد احکام جاري کيږي. يعني هغه ته به غسل نه ورکول کيږي او هغه به د خپلو وينو او خپلو جامو (کاليو) سره ښخول کيږي او پر هغه به د جنازې لمونځ کول کيږي، خو کله چي په هغه کي دا لانديني شرطونه موجود سي (دا ياد ساتئ!):

①... هغه به مسلمان وي؛ ځکه د کافر لپاره هيڅ قسم شهادت نه سي ثابتېدلای.

②... بالغ به وي، يا په بله وينا شرعاً به مکلف وي، لهذا که نابالغه بچی ووژل سي، نو پر هغه په دنيا کي د شهادت احکام نه جاري کيږي، بلکي هغه ته به د عامو مړو په څېر غسل او کفن ورکول کيږي.

③... له حيض او نفاس او جنابت څخه به پاک وي، لهذا که يو سړی د جنابت په حالت کي يا ښځه د حيض او نفاس په حالت کي شهيده کړل سي، نو پر هغو هم د شهيدِ کامل احکام نه جاري کيږي، بلکي غسل او کفن نه ورکول کيږي.

④... مُرْتَثّ به نه وي، دا له "اِرْتِثَاث" (باب افتعال) څخه مأخوذ دی، د "ارتثاث" ماده "رَثّ" ده.

"رَثّ" په اصل کي زاړه (پخواني) شي ته وايي او د "ارتثاث" معنیٰ ده: زوړ کېدل (وخت بانديي تېرېدل)، او د شهادت په باب کي د ارتثاث معنیٰ دا ده چي سړی تر زخمي کېدو وروسته څه وخت ژوندی پاته سي او له دنياوي ژوند څخه نفع حاصله کړي، يا دومره وخت ژوندی پاته سي چي پر هغه يو دنياوي حکم نافذېدلی سي، مثلاً د يوه لمانځه وخت پر هغه د ژوند په حالت کي تېر سي، يا دنياوي نفع حاصله کړي مثلاً دواء وخوري، يا بل څه وخوري يا وڅېښي، يا بيده سي، يا د جنګ له ډګر څخه د راحت لپاره را نقل کړی سي، يا تر ډېر وخته پوري خبري وکړي او داسي نور. دې ټولو ته ارتثاث ويل کيږي او داسي کس ته د فقه په اصطلاح کي مرتثّ ويل کيږي (چي تر زخمي کېدو وروسته په دنيا کي ژوند تېر کړی او دنياوي منافع حاصل کړي)، داسي کس که څه هم د الله تعالیٰ په نېز (فيما بينه وبين الله) شهيد دی او ډېره ممکنه ده چي په دې ميدان کي تر ټولو افضل او اعلیٰ شهيد هم دئ وي، خو په دنياوي اعتبار سره پر ده د شهيد احکام نه جاري کيږي يعني ده ته به غسل او کفن ورکول کيږي. (د مرتثّ نور تفصيل به څه وروسته په کتاب کي هم راسي)

دا حکم هلته دی کله چي دغه پورتني اُمور (يعني د يوه لمانځه وخت تېرېدل. يا څه خوړل او څښل او داسي نور) د جنګ تر ختمېدلو وروسته واقع سي، او که د جنګ تر ختمېدلو مخکي دا اُمور واقع سي، نو هغه مرتثّ نه دی، بلکي شهيد شمېرل کيږي.

د شهيد احکام (کوم چي په دنيا کي پر هغه جاري کيږي)

﴿١٠٠٢﴾ فَيُكَفَّنُ بِدَمِهٖ وَثِيَابِهٖ نو (داسي مقتول الشهيد ته) به کفن به ورکول کيږي په هاغه خپلو وينو او جامو کي وَيُصَلّٰى عَلَيْهِ بِلَا غُسْلٍ او پر ده به لمونځ (د جنازې) کول کيږي بېله غسل ورکولو څخه وَيُنْزَعُ عَنْهُ مَا لَيْسَ صَالِحًا لِلْكَفَنِ او کښل کيږي به له ده څخه هغه څه (جامې او نور) کوم چي د کفن کېدلو صلاحيت نه لري (يا بله وينا" کوم چي د کفن لپاره مناسب نه وي) كَالْفَرْوِ لکه پوستين وَالْحَشْوِ د پنبه وو جامې (له پنبه وو څخه ډکي پنډي جامې لکه کوټ او داسي نور) وَالسِّلَاحِ وَالدِّرْعِ او وسله او زغره وَيُزَادُ وَيُنْقَصُ فِيْ ثِيَابِهٖ او د هغه په جامو کي به (د سنت کفن مطلق) کمي او زياتوب کول کيږي (يعني که جامې د کفن له کچ‌ړ څخه کمي وي نو زياتوب به پکښي کول کيږي او که له کچ‌ړ به ور سره اضافه کول کيږي او که زياتي وي. نو کمول کيږي به) وَكُرِهَ نَزْعُ جَمِيْعِهَا او مکروه

دي د هغه ټولو جامو کښل (یعني په کومو جامو کي چي شهید سوی دی. د هغوی کښل مکروه دي: ځکه چي شهید به په قیامت کي د همدې جامو سره حاضر یږي او محاجه به کوي).

لغات: ﴿یُزاد﴾ د ضرب له بابه مضارع مجهوله ده: زیاتول، اضافه کول. ﴿الفَرْو﴾ د دې لفظ څو معناوي نقل سوي دي چي له هغوی څخه ځیني دا دي: له ورینې څرمني څخه جوړه جامه (پوستین).

د څرمني (چرمې) کوټ، د څرمني چپنه، جمع: فِرَاءٌ. ﴿الحَشْو﴾ د دې لفظ هم څو معناوي نقل سوي دي. اصل معنیٰ یې ده: هغه شی چي بل شی په ډکیږي لکه پمبه. همدارنګه له پمبه وو څخه ډکه جامه، لکه کوټ او داسي نورو پنډو جامو ته هم حَشْو ویل کیږي. ﴿دِرْع﴾ زغره (داوسپني جالي داره کمیس کوم چي په جنګ کي اغوستل کیږي). جمیعها: أی ثیابه اللتی قُتِل فیها.

تشریح: د شهید احکام په لاندي توګه دي: ① شهید ته به غسل نه ورکول کیږي او نه به د هغه پر بدن لګېدلې وینه له هغه څخه صفا کول کیږي، خو که د شهید له ویني څخه بغیر بل نجاست او ناپاکي باندي لګېدلې وي، نو هغه به پرېولل کیږي، ② شهید چي د شهادت په وخت کي کومي جامې (کمیس، پرتوګ او داسي نور) اغوستي وي، په هغه جامو کي به ښخول کیږي او له شهید څخه به هغه نه کښل کیږي. ③ که هغه جامې له سنت شمېر (مسنون عدد) څخه کمي وي، نو د هغه په اندازه جامې به پکښې اضافه کول کیږي (مثلاً یوازي پرتوګ او کمیس وي. نو دي یوه لفافه ورسره زیاته کړي چي سنت کفن یې پوره سي). ④ او که د هغه د بدن جامې له سنت شمېر څخه زیاتي (اضافه) وي، نو اضافي کپړې به ځني لیري کول کیږي، ⑤ همدارنګه که د هغه پر بدن اضافي (بالا بود) شیان وي کوم چي کفن نه سي جوړېدلای، مثلاً کوټ، سدری، بوټونه یا څپلی، خولی یا وسله، چاټه وغیره، نو هغوی به په هر صوت کي لیري کول کیږي، باقي نور ټوله احکام کوم چي د نور و مسلمانانو لپاره دي مثلاً د جنازې لمونځ او دفن (ښخول) او داسي نور، هغه ټوله د ده په حق کي هم جاري کیږي.

وکره نزع جمیعها: په آخر کي مصنف رَحِمَهُ الله فرمایي چي د شهید ټولي جامې کښل یعني د هغه پر ځای په نورو کپړو کفن ورکول مکروه دي. (انوار الایضاح)

﴿۱۰۰۴﴾ وَیُغْسَلُ إِنْ قُتِلَ صَبِیًّا أَوْ مَجْنُوْنًا أَوْ حَائِضًا أَوْ نُفَسَاءَ أَوْ جُنُبًا او غسل به ورکول کیږي که چیري قتل کړی سوی وي بچی یا لېونی یا حیض والا یا نفاس والا ښځه یا جنب.

﴿۱۰۰۵﴾ أَوِ ارْتُثَّ بَعْدَ انْقِضَاءِ الْحَرْبِ یا زوړ سوی (ژوند بلندي تېر سوی) وي د جنګ تر ختمېدو وروسته (یا په بله وینا: چي د جنګ تر ختمېدو وروسته یې له دنیاوي ژوند څخه نفع اخیستې وي)

بِأَنْ أَكَلَ أَوْ شَرِبَ أَوْ نَامَ أَوْ تَدَاوىٰ په دې توګه چې (د جنګ تر ختمېدو وروسته) خوراک يا څښاک وکړي يا بيده سي يا دواء (علاج) وکړي أَوْ مَضىٰ وَقْتُ الصَّلوٰةِ وَهُوَ يَعْقِلُ يا ديوه لمانځه وخت (باندي) تېر سي په داسي حال کي چي هغه پوهېږي (يعني هغه په هوښ کي وي چي په لمانځه وغيره پوهېږي) أَوْ نُقِلَ مِنَ الْمَعْرِكَةِ لَا لِخَوْفِ وَطْءِ الْخَيْلِ يا نقل کړی سي (يووړل سي) د جنګ له ميدان څخه، نه د آسونو د پايماله کولو له بېري څخه (چي آسونه به يې تر پښو لاندي کړي) أَوْ أَوْصىٰ أَوْ بَاعَ أَوِ اشْتَرىٰ يا وصيت وکړي يا خرڅول يا رانيول وکړي أَوْ تَكَلَّمَ بِكَلَامٍ كَثِيْرٍ يا زياتي خبري وکړي (نو په دې ټولو صورتونو کي هغه مُرتَث ازږسوی ايعني له دنياوي ژوند څخه نفع اخيستونکی دی، لهذا د شهيد په حکم کي نه دی، نو غسل به ورکول کيږي) وَإِنْ وُجِدَ مَا ذُكِرَ قَبْلَ انْقِضَاءِ الْحَرْبِ او که چيري موجود سي (واقع سي) دا شيان کوم چي ذکر سوه د جنګ تر ختمېدو مخکي لَا يَكُوْنُ مُرْتَثًّا نو هغه مرتث نه دی (يعني په دې صورت کي هغه له دنياوي ژوند څخه نفع اخيستونکی نه شمېرل کيږي، لهذا د کامل شهيد په حکم کي دی).

لغات: ﴿ارتث﴾ د افتعال له بابه ماضي مجهوله ده: څه مخکي يې تعريف ذکر سو او په مذکوره عبارت کي چي مصنف رَحِمَهُ الله کوم تفصيل ذکر کړی دی دا هم د مرتث وضاحت دی. ﴿وطئ﴾ د سمع د باب مصدر دی: تر پښو لاندي کول، پايماله کول. ﴿خَيْل﴾ آس، مجازاً پر آس سپور.

تشريح: د عبارت حاصل دا دی چي که په کوم شهيد کي له مخکيني مذکوره شرطونو څخه يو شرط موجود نه وي، مثلا نا بالغه بچی وي، يا مجنون وي او داسي نور، نو هغه ته به غسل هم ورکول کيږي او د نورو خلکو په څېر به کفن هم ورکول کيږي.

أو ارتث بعد انقضاء إلخ: دا عبارت د ﴿١٠٠٢﴾ نمبر مسئلې تفصيل دی (لکه مخکي چي هم موږ د هغه څه تفصيل بيان کړی). حاصل يې دا دی چي د شهيد لپاره دا هم شرط دي چي د جنګ تر ختمېدو وروسته به يې د زخمېدو په حالت کي له خپل ژوند څخه نفع نه وي اخيستې (کما مرّ). مثلاً خوراک، څښاک يا دواء او علاج ورکول سوي وي او يا د هوش او حواس په حالت کي پر هغه ديوه لمانځه وخت تېر سوی وي او يا د راحت وغيره لپاره د جنګ له ميدان څخه بل ځای ته منتقل کړی سوی وي، خو که د جنګ تر ختمېدو مخکي هغه منتقل کړی سي او له ژوند څخه څه نفع واخلي، نو

هغه مُرتث نه دی، بلکي شهيد دی او د شهادت حکم باقي دی، لنډه دا چي که د جنګ تر ختمېدو وروسته له پورتني مذکوره شيانو څخه يو شی موجود سي، نو د شهادت حکم ساقطيږي او داسي کس مُرتث شمېرل کيږي.

رهويعقل: يعني چي د هغه هوښ او حواس صحيح وي (په هوښ کي وي)؛ لهذا که د بې هوښۍ په حالت کي ديوه لمانځه وخت باندي تېر سي، نو د شهادت حکم يې نه ساقطيږي او مُرتث نه بلکي شهيد شمېرل کيږي.

لاالخوف: نو که د جنګ له ميدان څخه په دې وجه منتقل سوی وي چي آسونه او داسي نور يې تر پښو لاندي نه کړي، نو هم هغه مرتث نه دی، بلکي شهيد شمېرل کيږي.

﴿١٠٠٦﴾ وَيُغَسَّلُ مَنْ قُتِلَ فِي الْمِصْرِ وَلَمْ يُعْلَمْ أَنَّهُ قُتِلَ بِمُحَدَّدٍ ظُلْمًا او غسل به ورکول کيږي هغه کس ته کوم چي په ښار کي وژل سوی وي او دا معلومه نه سي چي هغه په تېره آله سره په ظلم وژل سوی دی أَوْ قُتِلَ بِحَدٍّ أَوْ قَوَدٍ يا په يو حدّ (شرعي سزا) يا قصاص کي وژل سوی وي (نو داسي کس ته به غسل ورکول کيږي) وَيُصَلَّى عَلَيْهِ او پر هغه به (د جنازې) لمونځ کول کيږي.

لغات: ﴿مصر﴾ ښار، جمع: أَمْصَار، ﴿حَدّ﴾ شرعي سزا (کوم چي د شريعتِ اسلامي مطابق ورکول سي)، ﴿قود﴾ قصاص (دمقتول په بدله کي قاتل قتلول).

تشريح: که څوک په يو آبادي کي يا و آبادۍ ته نژدې يو ځای بغير د جنګ له ميدان څخه وژل سوی وموندل سي او دا معلومه نه سي چي په کومه وجه وژل سوی دی، نو پر هغه د شهيد احکام نه جاري کيږي، همدارنګه که څوک د زنا کولو په حدّ کي يا قصاصاً وژول سوی وي، نو پر هغه هم د شهيد احکام نه جاري کيږي.

* * *

كِتَابُ الصَّوْمِ

(دا) كتاب د "روژې" (په بيان كې) دى

تشريح: څرنګه چې لمونځ يو بدني عبادت دى او روژه هم بدني عبادت دى، نو ځکه د لمانځه له بيان څخه وروسته اوس د روژې احكام او تفصيلات بيانوي.

د صوم لغوي او اصطلاحي معنى: د صوم لغوي معنىٰ ده: إمساك، يعني مطلق منع كېدلو، بندېدلو او ځان نيولو ته صوم وايي، هغه كه له خوراک، چښاک څخه وي او كه له خبرو څخه وي او كه له يو بل شي څخه منع كېدل وي، او د صوم اصطلاحي او شرعي معنىٰ ده: الإمساك عن المفطرات الثلاثة نهاراً مع النية. (يعني په ورځ كې د روژې په نيت سره له دريو مفطراتو (خوراک، چښاک او جماع) څخه منع كېدلو او ځان نيولو ته د شريعت په اصطلاح كې صَوْم وايي).

روژه كله فرض سوه؟: د هجرت په دويم كال د بدر تر جګړا مخكې د رمضان روژه فرض سوه، يو قول دا دى چې د هجرت په دويم كال د شعبان په مياشت كې فرض سوه. او مخكې د عاشوراء او د ايامِ بيض يعني د هر قمري مياشتې د ديارلسم، څوارلسم او پنځلسم روژې فرض وې. (فتح الهدايه)

د روژې عظمت: د روژې مياشته (رمضان المبارک) ډېره د عظمت او بركت مياشته ده، په همدې مباركه مياشته كې قرآن كريم نازل سوى دى او په دې مقدّسه مياشته كې رحمتِ الهي د مؤمنانو وطرف ته په خاصه توګه متوجه كيږي، د نفلي عبادت ثواب د فرضو او د فرضو ثواب د اويا (٧٠) فرضو په اندازه وركول كيږي، د روژې د مياشتې د راختلو سره سمدستي د جنت دروازې خلاصول كيږي او د دوزخ دروازې بندول كيږي، شياطين او سركښه جنات قيدول كيږي، روژه انسان د الله ﷻ د نعمتونو په قدر او قيمت اګاه كوي، روژه مالدار ته د فقيرانو د لوږې او د محتاجانو د محتاجۍ او فقر احساس وركوي چې د دې په نتيجه كې د مالدار زړه د فقراؤ لپاره نرميږي او هغه د دوى په تعاون كې پوره كوښښ كوي. (انوار الايضاح)

﴿١٠٠٧﴾ هُوَ الْإِمْسَاكُ نَهَارًا عَنْ إِدْخَالِ شَيْءٍ عَمَدًا أَوْ خَطَأً بَطْنًا روژه منع كېدل (ځان نيول) دي د ورځې د يو شي له داخلولو څخه په قصد يا په خطا سره و نس ته أَوْ مَالَهُ حُكْمُ الْبَاطِنِ يا (د باطن) وهغه حصې ته (داخلول) چې هغه لره د نس حكم دى (يعني د نس په حكم كې ده. لكه دماغ)

وَعَنْ شَهْوَةِ الْفَرْجِ او (منع کېدل) د شرمګاه له شهوت څخه بِنِيَّةٍ مِنْ أَهْلِهٖ (په دې شرط چي دامنع کېدل د روژې) په نيت سره وي له داسي کس څخه کوم چي د روژې اهل وي (يعني دا نيت داسي کس کړی وي کوم چي د روژې د نيت او د روژې اهليت لري).

لغات: ﴿إمساك﴾ دافعال د باب مصدر دی: نيول، منع کول، منع کېدل (بندېدل)، پرېـز کول، ﴿نهار﴾ ورځ، نهار پر دوه قسمه دی: ① نهارِ عُرفي: دا د لمر راختلو له وخته څخه د لمر لوېدلو تر وخته پوري دي، ② نهارِ شرعي: دا له صبح صادق څخه د لمر لوېدلو تر وخته پوري دي. دلته همدا مراد دي. (انوار الايضاح)

تشريح: په دې عبارت کي د روژې اصطلاحي تعريف بيان سوی دی چي د شريعت په اصطلاح کي د روژې معنیٰ ده: له صبح صادق (رڼا ګهيځ) څخه تر لمر لوېدلو پوري د الله تعالی د رضا او قُرب په اراده له خوراک، څښاک او جماع څخه منع کېدل، روژه په هر عاقل، بالغ مسلمان نر او ښځي غيرِ معذور باندي فرض ده.

فوائد قيود: نهارًا په دې قيد سره شپه خارج سوه؛ ځکه روژه د ورځي مشروع ده، نه د شپې. إدخال په دې قيد سره هغه شيان ووتل کوم چي بېله اختياره نس ته داخلېږي، لکه د يو شي دود يا ګرز کوم چي خېله داخل سي، په هغه سره روژه نه ماتېږي، عمدًا أو خطاءً په دې قيد سره د هېري (نسيان) صورت ووتی، يعني که يو چا ته خپل روژه بالکل ياده نه وي او په هېره يو څه وخوري يا وڅښي يا د ښځي سره کور والی وکړي او وروسته ورته ياده سي، نو په روژه باندي هيڅ اثر نه لوېږي، ما له حکم الباطن لکه دماغ، عن شهوة الفرج جماع وي او که د ښځي سره لوبي کول (حملې وهل) وي چي په هغه سره سړی انزال سي، نو روژه فاسدېږي، بنية ١ په نيت کولو سره مقصود عبادات له عاداتو څخه جلا کول دي، لکه ځيني وخت وږی پاتېدل (خوراک وغيره نه کول) محض د طبعي خواهش پر بناء وي، او همد وږی پاتېدل چي کله د عبادت په نيت سره وي، نو هغه روژه ګرځي، أهل له دې څخه مراد عاقل، بالغ مسلمان دی، نو په دې قيد سره حيض او نفاس والا ښځه، کافر او مجنون تول ووتل. (مراقي الفلاح)

د روژې د واجبېدلو سبب

﴿١٠٠٨﴾ وَ سَبَبُ وُجُوْبِ رَمَضَانَ شُهُوْدُ جُزْءٍ مِّنْهُ او د رمضان د واجبېدلو (فرض کېدلو) سبب د رمضان د یوه جزء (حصې) موجودېدل (راتلل) دي (نو که څوک د رمضان میاشته ومونډي ایعني د رمضان میاشته ېلدي راسي ا یا د هغه یو جزء احصه اومونډي، نو د رمضان روژه بائدي فرض کيږي. مثلاً که څوک د رمضان په پنځلسمه ورځ بالغ سي یا مثلاً کافر مسلمان سي. نو له پنځلسم رمضان څخه وروسته روژې بائدي فرض کيږي. نه مخکینۍ روژې، ځکه چي د هغوی وخت يې نه دی مونډلی) وَكُلُّ يَوْمٍ مِنْهُ سَبَبٌ لِوُجُوْبِ أَدَائِهٖ او د رمضان هره ورځ د هغه ورځي د (روژې) اداء کولو د واجب کېدلو سبب ده.

لغات: ﴿وجوب﴾ د فرض په معنیٰ سره دی او دلته په عبارت کي مضاف محذوف دی، اصل عبارت داسي دی "و سبب فرض صوم رمضان". رمضان له رَمْضٌ څخه مشتق دی چي د هغه معنیٰ ده: سوځېدل، او وجهٔ تسمیه دا ده چي په دې مبارکه میاشته کي ګناهونه سوځي او ختميږي، رمضان د علمیت او الف ونون زائدتان په وجه غیر منصرف دی، مِنْه دواړه ځایه د ضمیر مرجع رمضان دی، ادائه أی لوجوب اداءِ ذلك الیوم، ﴿شهود﴾ د دې لفظ له معناوو څخه یو معنیٰ ده: حاضرېدل. موجودېدل.

تشریح: د مسئلې تر حلّ مخکي دا وپېژنئ چي "سببِ وجوب" او "سبب وجوبِ اداء" دا دواړه اصطلاحي الفاظ دی، سببِ وجوب (د واجبېدلو سبب) یعني هغه څه کوم چي د اصل شی د واجبېدلو سبب سي یا په بله وینا دا چي د هغه په وجه یو شی واجب سي، او سببِ وجوبِ اداء (د شي د اداء کولو د واجبېدلو سبب) یعني هغه څه چي د هغه په وجه د شي اداء کول واجب سي. د مثال په توګه قرض اخیستل سببِ وجوب دی چي د هغه په وجه د مقروض (قرض اخیستونکي) پر غاړه پیسې واجب سوې، او د قرض د مالک مطالبه (کله چي له مقروض څخه د خپلو پیسو مطالبه وکړي) سببِ وجوبِ اداء دی چي اوس پر مقروض د قرض اداء کول واجب سوه.

اوس مسئله دا ده چي د رمضان میاشته (سپوږمۍ) یا په بله وینا د رمضان وخت د روژې د واجبېدلو سبب دی (چي هر وخت د رمضان میاشته ښکاره سي او د رمضان وخت راسي نو پر مسلمانانو روژه واجب سوه)؛ ځکه روژه د رمضان و طرف ته مضاف کيږي (او داسي ویل کيږي صومُ رمضان ا د روژې د میاشتي روژه ا)، او اضافت د سببیّت دلیل دی، او د رمضان هره ورځ د هغه ورځي د روژې اداء کولو (نیولو) د واجبېدلو سبب ده (چي په رمضان کي هره ورځ شروع سي نو د هغه ورځي روژه اداء کول ا روژه نیول ا واجبيږي)؛ ځکه د هري ورځي روژه مستقل عبادت دی، همدا وجه ده چي د یوې روژې په فاسدېدلو سره نوري

روژې نه فاسدیږي، لهذا کله چې هره روژه مستقل عبادت ده، نو د هرې روژې سببِ اداء به هم مستقل وي.

خلاصه دا چې وجوب پر دوه قسمه دی: ① نفسِ وجوب، ② وجوبِ اداء، نو د روژې میاشته سبب ده د نفس وجوب الصوم، او هره ورځ سبب ده د هغې ورځې د وجوب اداء الصوم.

روژه پر چا فرض ده؟

﴿۱۰۰۹﴾ وَهُوَفَرْضٌ أَدَاءً وَقَضَاءً عَلٰى مَنْ او (د رمضان) روژه فرض ده د اداء او قضاء (دواړو) په اعتبار سره (یعني که اداء نه کړل سي. نو قضاء یې هم فرض ده) پر هغه چا اِجْتَمَعَ فِيْهِ أَرْبَعَةُ أَشْيَاءَ چې په هغه کي څلور شیان جمع وي اَلْإِسْلَامُ وَالْعَقْلُ وَالْبُلُوْغُ ① اسلام ② او عقل ③ او بلوغ وَالْعِلْمُ بِالْوُجُوْبِ لِمَنْ أَسْلَمَ بِدَارِ الْحَرْبِ ④ او خبرېدل (د روژې) په وجوب د هغه کس لپاره کوم چې په دارُ الحرب کي مسلمان سوی وي (یعني کوم چا چې په دار الحرب کي اسلام راوړی وي. هغه ته به د روژې د فرضیت علم او خبر وي، دا شرط دی، او که نه وي، نو روژه نه باندي فرض کیږي) أَوِ الْكَوْنُ بِدَارِ الْإِسْلَامِ یا په دارُ الاسلام کي کېدل (یعني څوک چې په دارُ الاسلام کي استوګن وي، نو برابره د روژې د فرضیت علم هغه ته وي او که نه وي، په هر صورت کي روژه باندي فرض ده، او که یې اداء نه کړي، نو قضاء یې باندي فرض ده؛ ځکه په دار الاسلام کي هر چیري دیني تعلیم شائع وي او هر کس ته معلومه وي، نو ځکه هلته په فرضیت نه خبرېدل عذر نه دی).

لغات: ﴿دار الحرب﴾ هغه مملکت او هغه علاقه چې واک پکښې د کافرانو وي، او مسلمانان له دیني کارونو څخه پکښې منع کول کیږي، ﴿دار الاسلام﴾ هغه مملکت چې واک او حکومت پکښې د مسلمانانو وي او د نظامِ حکومت په چلولو کي ټوله طاقت د مسلمانانو په لاس کي وي.

تشریح: د عبارت حاصل دا دی چې په کوم چا کي څلور شیان موجود سي، پر هغه د رمضانُ المبارک روژه نیول فرض دي: ① مسلمان کېدل، ② عاقل کېدل، ③ بالغ کېدل، ④ که څوک په دارُ الحرب کي مسلمان سوی وی او هلته د روژې (رمضان) په فرضیت خبر وي، نو روژه باندي نیول لازم دي، او که د روژې له فرضیت څخه ناخبره وي، نو روژه نه باندي فرض کیږي، او له خبرېدلو څخه وروسته د تېرو روژو قضاء هم نه باندي لازمیږي، او که څوک په دارُ الاسلام کي وي، نو بیا د روژو په فرضیت نه خبرېدل عذر نه شمېرل کیږي.

د روژې نیولو د وجوب شرائط

﴿١٠١٠﴾ وَيُشْتَرَطُ لِوُجُوْبِ أَدَائِهِ او شرط دي د روژې اداء کولو (نیولو) د واجبېدو لپاره اَلصِّحَّةُ مِنْ مَرَضٍ وَحَيْضٍ وَنِفَاسٍ صحیح (سالم) کېدل له مرض او حیض او نفاس څخه وَالْإِقَامَةُ او مقیم کېدل.

تشریح: د عبارت حاصل دا دی چې د روژې نیول پر مکلف انسان هغه وخت واجبېږي کله چې درې شرطونه موجود سي: ① روغوالی، لهذا که څوک مریض وي او د مرض په وجه د روژې نیولو طاقت نه لري یا د روژې نیولو په وجه د مرض زیاتېدلو خطره وي، نو روژه نه نیول جائز دي. ② له حیض او نفاس څخه پاکوالی، لهذا د حیض او نفاس والا ښځي لپاره روژه نیول جائز نه دي، لېکن وروسته یې قضاء لازم ده، ③ مقیم کېدل، لهذا که څوک شرعاً مسافر وي، نو د هغه لپاره روژه نه نیول جائز دي. (انوار الایضاح)

د روژې نیولو د صحت شرائط

﴿١٠١١﴾ وَيُشْتَرَطُ لِصِحَّةِ أَدَائِهِ ثَلَاثَةٌ او شرط دي د روژې د اداء (نیولو) د صحیح کېدلو لپاره درې شیان اَلنِّيَّةُ ① نیت کول وَالْخُلُوُّ عَمَّا يُنَافِيْهِ مِنْ حَيْضٍ وَنِفَاسٍ ② او خالي کېدل (پاکېدل) له هغه شیانو څخه کوم چې د روژې منافي وي یعني حیض او نفاس وَعَمَّا يُفْسِدُهُ ③ او (خالي کېدل) له هغه شیانو څخه کوم چې روژه فاسدوي (ماتوي).

تشریح: د عبارات حاصل دا دی چې روژه نیول هغه وخت صحیح کېږي کله چې درې شیان موجود سي: ① نیت، ② له داسي شیانو څخه خالي کېدل کوم چې د روژې منافي وي یعني حیض او نفاس (او دا د روژې نیولو د وجوب لپاره هم شرط دي)، ③ او له داسي شیانو څخه خالي کېدل کوم چې روژه فاسدوي.

جنابت د روژې منافي نه دی

﴿١٠١٢﴾ وَلَا يُشْتَرَطُ الْخُلُوُّ عَنِ الْجَنَابَةِ او له جنابت څخه خالي کېدل (پاکېدل) شرط نه دي.

لغات: ﴿خُلُوّ﴾ د نصر د باب مصدر دی، خَلَا يَخْلُوْ خُلُوًّا و خَلَاءً: خالي کېدل.

تشریح: فرمایي چې له جنابت څخه پاکېدل د روژې لپاره شرط نه دي، لهذا که څوک د خوب په حالت کي جُنُب سي، نو په دې سره روژه نه فاسدېږي، همدارنګه د جنابت په حالت کي په پېشلمي

کولو (پټلمي خوړلو) سره او بیا تر صبح صادق وروسته په غسل کولو سره روژه نه فاسدیږي: ځکه جنابت د روژې منافي نه دی. (مراقی الفلاح)

د روژې رکن

﴿۱۰۱۳﴾ وَ رُكْنُهُ الْكَفُّ عَنْ قَضَاءِ شَهْوَتَي الْبَطْنِ وَالْفَرْجِ او د روژې رکن منع کېدل (ځان ساتل) دي د نس او فرج د شهوتونو له پوره کولو څخه وَ مَا أُلْحِقَ بِهِمَا او (ځان ساتل) د هغه څه له شهوتونو څخه کوم چې د دې دواړو (نس او فرج) سره لاحق کړل سوي دي.

لغات: ﴿كف﴾ د نصر د باب مصدر دی: منع کېدل، راګرځېدل. ﴿أُلْحِقَ﴾ د افعال د باب ماضي مجهوله ده: لاحق کول، متصل او یو ځای کول، په مجردو کي د سمع له بابه راځي: لاحق کېدل ورسره یو ځای کېدل.

تشریح: په دې عبارت کي د روژې د رکن بیان دی، حاصل یې دا دی چې د روژې رکن خپل ځان له خوراک، څښاک او جماع کولو څخه نیول (منع کول) دي.

وما الحق بهما: یعني خپل ځان له هغه شهوتونو څخه هم منع کول کوم چې د نس او شرمګاه سره لاحق شمېرل کیږي، د نس سره لاحق لکه دماغ ته دواء وغیره رسول. د شرمګاه سره لاحق لکه د ښځي سره لوبې او حملې وهل چې په هغه سره سړی انزال سي. (شفاء الارواح)

د روژې حکم

﴿۱۰۱۴﴾ وَحُكْمُهُ سُقُوْطُ الْوَاجِبِ عَنِ الذِّمَّةِ وَالثَّوَابُ فِي الْآخِرَةِ او د روژې حکم ساقطېدل د واجب دي له ذمې (غاړې) څخه او ثواب دی په آخرت کي وَاللهُ أَعْلَمُ او الله ښه خبر (ستر علم والا) دی.

لغات: ﴿حکم﴾ الأثر المرتّب على الشيء: یعني هغه اثر کوم چې پر یو شي مرتب کیږي. همدارنګه حُکم قضاء او فیصلې ته هم وایي.

تشریح: د روژې حکم یعني اثر دا دی چې په روژه نیولو سره د مُکلف له غاړي څخه فرض ساقطیږي او هغه له خپل ذمه واري څخه خلاصیږي او په آخرت کي ور ته ثواب حاصلیږي. او که روژه فرض نه وي، نو د هغه حکم فقط په آخرت کي ثواب حاصلېدل دي. (انوار الایضاح)

❁ ❁ ❁

فَصْلٌ (فِيْ صِفَةِ الصَّوْمِ وَتَقْسِيْمِهٖ)

(دا) فصل (د روژې د کيفيت او تقسيم په بيان کې) دی

د روژې قسمونه

﴿۱۰۱۵﴾ يَنْقَسِمُ الصَّوْمُ إِلٰى سِتَّةِ أَقْسَامٍ روژه تقسیمیږي وشپږو قسمونو ته فَرْضٌ وَوَاجِبٌ وَمَسْنُوْنٌ وَمَنْدُوْبٌ وَنَفْلٌ وَمَكْرُوْهٌ ① فرض ② او واجب ③ او سنت ④ او مستحب ⑤ او نفل ⑥ او مکروه.

اللغات: له فَرْضٌ څخه تر مَكْرُوْهٌ پورې دا ټول الفاظ له سِتَّةِ أَقْسَامٍ څخه د بدل کېدلو په وجه مجرور ویل کېدلای سي او د مبتداء محذوف د خبر کېدلو په وجه مرفوع هم ویل کېدلای سي یعنې أَحَدُهَا فَرْضٌ وَثَانِيْهَا وَاجِبٌ وَثَالِثُهَا مَسْنُوْنٌ...إلخ.

تشریح: فرمایي چې روژه پر شپږ قسمه ده: ① فرضي روژه، ② واجب روژه، ③ سنت روژه، ④مستحب روژه، ⑤ نفلي روژه، ⑥ مکروه روژه.

❀ ❀ ❀

یادونه: د فرض، واجب او داسې نورو شرعي احکامو تعریفونه په شروع (مقدّمه) کې په لومړي ټوک کې بیان سول، د معلومات لپاره هلته رجوع وکړئ!.

د فرض روژې قسمونه

﴿۱۰۱٦﴾ أَمَّا الْفَرْضُ فَهُوَصَوْمُ رَمَضَانَ أَدَاءً وَقَضَاءً کوم چې فرض (روژه) ده نو هغه د رمضان روژه ده، اداء وي او که قضاء وي (اداء او قضاء یې دواړه فرض ده) وَصَوْمُ الْكَفَّارَاتِ او د کفاراتو روژه ده وَالْمَنْذُوْرِ فِي الْأَظْهَرِ او نذر کړل سوې روژه ده د ظاهر روایت مطابق.

لغات: ﴿منذور﴾ د نصر او ضرب له بابه د مفعول صیغه ده: نَذَرَ يَنْذُرُ نَذْرًا وَنُذُوْرًا: یو شی پر خپل ځان لازمول، نذر منل، منت منل (دا چې که فلانکی کار وغیره وسو، نو مثلاً دومره مال به فقیرانو ته ورکوم).

تشريح: فرض روژې پر دوه قسمه دي: ① فرضِ معيّن، ② فرض غير معيّن. فرضِ معيّن هغه روژې دي کوم چې په معيّن (ټاکلي) او معلوم وخت کې فرض وي، هغه په هر کال کې يوه مياشته د رمضان المبارک اداء روژې دي، او فرض غيرِ معيّن هغه روژې دي کوم چې په معيّن وخت کې فرض نه وي يا په بله وينا دا چې په يو خاص وخت کې د هغوی نيول معيّن (ټاکلي) نه وي او هغه يو د رمضان المبارک د قضاء روژې دي، برابره ده هغه ديو عذر په وجه قضاء سوي وي او که بېله عذره. همدارنګه د کفاراتو روژې دي يعني د کفارۀ يمين، کفارۀ ظهار، کفارۀ قتلِ خطار روژې هم فرض دي، د کفارۀ ظِهار او قتلِ خطاء دوې مياشتې پرلپسې روژې دي او د کفارۀ يمين درې روژې دي، لېکن دلته له فرض څخه مراد فرض عملي دی، اعتقادي نه دي، په همدې وجه د دوی منکر ته کافر نه سي ويل کېدلای، همدارنګه د نذر روژې هم د ظاهر روايت مطابق فرض (فرض عملي) دي او بعضو ورته واجب ويلي دي.

واجب روژه

﴿۱۰۱۷﴾ وَأَمَّا الْوَاجِبُ فَهُوَ قَضَاءُ مَا أَفْسَدَهُ مِنْ صَوْمِ نَفْلٍ او کوم چې واجب (روژه) ده نو دا د هغه نفلي روژې قضاء ده کوم چې يې فاسده کړې وي.

شريح: نفلي روژې ته شروع کولو (نيولو) وروسته لازم او واجب ګرځي، لهذا که له پوره کولو څخه مخکې يې فاسده (ماته) کړي، نو قضاء يې واجب ده، او همدا حکم د نفلي لمانځه هم دی.

سنت روژه

﴿۱۰۱۸﴾ وَأَمَّا الْمَسْنُوْنُ فَهُوَ صَوْمُ يَوْمِ عَاشُوْرَاءَ مَعَ التَّاسِعِ او کوم چې سنت (روژه) ده نو هغه د عاشورا د ورځې روژه ده د نهمې سره (يعني د محرم الحرام د مياشتې د لسم او نهم تاريخ روژه).

لغات: ﴿عاشوراء﴾ د محرّم الحرام د مياشتې لسمه ورځ، بالمد و بالقصر دواړه ډوله ويل کېدلای سي، ځکه چې الف ممدوده او الف مقصوره د دوو سببونو قائم مقام دی، نو ځکه دا لفظ به غيرِ منصرف

ويل کيږي، او تاسع نهمه د محرّم الحرام ده.

تشريح: له سنت روژې څخه مراد هغه روژه ده چې د هغه په هکله نبي کريم ﷺ ترغيب ورکړی وي، يا نبي کريم ﷺ نيولې وي، که د هغه په باره کې ډېر روايات وارد سوي وي او پر هغه د نبي کريم ﷺ اکثره عمل ثابت وي، نو هغه سنت روژه ده او پر کوم چې د نبي کريم ﷺ اکثره عمل نه وي. يا نبي ﷺ د يو روژې په هکله رغبت ورکړی وي، لېکن خپله يې نيولې نه وي، يا له نبي کريم ﷺ څخه د يو روژې په هکله رغبت ورکول خو ثابت نه وي، خو د هغې کراهت هم له نبي کريم ﷺ څخه ثابت نه وي، نو دا ټوله مستحب دي. د عاشوراء يعني د محرم د لسم تاريخ روژه سنت ده. لېکن د هغې سره

دي يوه ورځ مخکي يعني د نهم تاريخ يا يوه ورځ وروسته يعني د يوولسم تاريخ روژه هم ونيول سي، د دې لپاره چي د اهل کتابو سره مشابهت رانه سي او مخالفت ثابت سي؛ ځکه چي يهودو به هم د دې ورځي تعظيم وي او روژه نيوله، نو ځکه د بعضي حضراتو په نېز يوازي د عاشوراء د ورځي روژه نيول مکروه تنزيهي دي، لېکن د عامو فقهاؤ په نېز په دې کي کراهت نسته. (شفاء الارواح)

مستحب روژې (د أيام البيض روژې)

﴿۱۰۱۹﴾ وَأَمَّا الْمَنْدُوبُ فَهُوَصَوْمُ ثَلَاثَةٍ مِنْ كُلِّ شَهْرٍ او کوم چي مستحب (روژه) ده نو هغه له هري مياشتي څخه د درېو ورځو روژه ده وَيَنْدُبُ كَوْنُهَا الْأَيَّامَ الْبِيْضَ او مستحب دي هغه درې ورځي ايام بيض کېدل (يعني چي دا درې ورځي روژه په ايام بيض کي ونيول سي) وَهِيَ الثَّالِثَ عَشَرَ وَالرَّابِعَ عَشَرَ وَالْخَامِسَ عَشَرَ او هغه (ايام بيض، د مياشتي) ديارلسمه او څوارلسمه او پنځلسمه ده.

لغات: ﴿مندوب﴾ د شريعت په اصطلاح کي مستحب ته وايي، ﴿الأَيَّام الْبِيْض﴾ بِيْض جمع د أَبْيَض ده: يعني سپيني او روښانه ورځي، څرنګه چي د مياشتي په ديارلسمه، څوارلسمه، پنځلسمه شپه باندي د سپوږمۍ د پوره والي په وجه زياته رڼا وي او دا درې سره شپې روښانه وي، نو ځکه ورته أيام البيض وايي.

تشريح: هره مياشته درې روژې نيول مستحب دي او دا د صومُ الدهر (همېشه روژه نيولو) يو صورت دی: ځکه د "الحسنة بعشرة أمثالها" مطابق درې روژې د ېرش (۳۰) روژې سوې يعني د يوې ورځي روژه د لسو ورځو روژو سره برابره سوه. نو هره مياشته درې روژې نيونکی ګواکی صائمُ الدهر سو. او دا خبره ياد ساتئ! چي دا درې روژې په ټوله مياشته کي مستحب دي يعني په ټوله مياشته کي چي يې هر وخت خوښه وي، درې روژې دي ونيسي، برابره ده په شروع کي وي، په مينځ کي وي او که په آخر کي وي. لېکن دغه درې روژې په ايامُ البيض يعني په ديارلسم، څوارلسم او پنځلسم تاريخ کي نيول جلا مستحب عمل دی. لهذا که د مياشتي په هسي درېو ورځو کي درې روژې ونيسي، نو يو مستحب به ادا، سي او که خاص په ايامَ البيض کي يې ونيسي، نو دوه مستحبه به اداء سي.

د دوشنبي او پنجشنبې د ورځي روژه

﴿۱۰۲۰﴾ وَصَوْمُ يَوْمِ الْإِثْنَيْنِ وَالْخَمِيْسِ او د دوشنبې او پنجشنبې د ورځي روژه (هم مستحب) ده.

تشريح: له مستحبو روژو څخه د دوشنبې او پنجشنبې د ورځي روژه هم ده، خاص په دې ورځو کي د روژې نيولو حکمت په حديث کي دا ذکر سوی دی چي نبي کريم ﷺ وفرمايل: د بندګانو اعمال د دوشنبې او پنجشنبې په ورځ (د باري تعالی په دربار کي) پېشول کيږي، نو زه خوښوم چي زما اعمال په داسي حال کي پېش کړل سي چي زما روژه وي. (ترمذی، مراقی الفلاح ص)

د شوال (کوچني اختر د مياشتي) د شپږو روژو بيان

﴿۱۰۲۱﴾ وَصَوْمُ سِتٍّ مِنْ شَوَّالٍ او د شوال شپږ روژې (هم مستحب) دي ثُمَّ قِيْلَ: الْأَفْضَلُ وَصْلُهَا بيا ويل سوي دي: چي افضل د دې روژو متصل نيول دی (يعني افضل دا ده چي د شوال دا شپږ روژې متصل اېرلپسې اونيول سي) وَقِيْلَ: تَفْرِيْقُهَا او ويل سوي دي (يعني بل قول دا دی): چي (افضل) د دې روژو جلا، جلا نيول دي.

لغات: ﴿وَصْل﴾ د ضرب د باب مصدر دی: وَصَلَ يَصِلُ وَصْلًا، د دې باب له معناو څخه يوه معنیٰ ده: وصل کول، سره يوځای کول (متصل کول)، ﴿تفريق﴾ د تفعيل د باب مصدر دی: سره جلا کول، د وصلها، تفريقها دواړه ضميرونه سِتّ ته راجع دي.

تشريح: له رمضان څخه وروسته د شوال د مياشتي شپږ روژې مستحب دي او دا د صومُ الدهر (همېشه روژه نيولو) تر ټولو ادنیٰ شکل دی، او دا صومُ الدهر په دې توګه دي چي د شوال شپږ روژې د رمضان د روژو سره ټوله شپږ دېرش (۳۶) روژې کيږي، د رمضان روژې که څه هم ځيني وخت نهه وېشت وي، خو حکماً دېرش شمېرل کيږي؛ ځکه په حديث کي راغلي دي "شهرا عيد لا ينقصان" (ترمذی)، يعني که رمضان نهه وېشت (۲۹) ورځي سي، نو هم ثواب د پوره دېرشو (۳۰) ورځو حاصليږي، لنډه دا چي شپږ روژې د رمضان د روژو سره (۳۶) روژې کيږي، بيا د "الحسنة بعشرة أمثالها" (يعني يوه نېکي د لسو نېکيو سره برابره ده) په قاعده سره چي (۳۶) په لس کي ضرب کړل سي، نو درې سوه شپېته (۳۶۰) روژې کيږي، نو په دې توګه هر هغه مسلمان صائمُ الدهر وګرځېدی کوم چي د رمضان له روژو څخه وروسته شپږ د شوال روژې ونيسي، په حديث کي هم د

دې روژو دغه فضيلت مذکور دی، لکه څرنګه چې د ترمذي شريف په روايت کې دي چې نبي کريم ﷺ وفرمايل چې کوم څوک د رمضان روژې ونيسي او تر هغه وروسته د شوال شپږ روژې ونيسي، نو ګواکي هغه ټوله زمانه روژه ونيوله.

ثم قيل إلخ: اوس په دې کې اختلاف دی چې دغه شپږ روژې پرلپسې نيول افضل دي او که په متفرقه توګه (جلا. جلا) نيول افضل دي، نو امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله تفريق راجح ګڼلی دی، او بعضي احنافو پرلپسې نيول افضل ګڼلي دي (درس ترمذی)، خو ښه دا ده چې تر اختر وروسته سمدستي شروع کړل سي او پرلپسې ونيول سي. (تحفة الالمعي، مراقي الفلاح)

د مستحبي روژې په هکله يو أصول (او صومِ داؤدي)

﴿۱۰۲۲﴾ وَ كُلُّ صَوْمٍ ثَبَتَ طَلَبُهُ وَالْوَعْدُ عَلَيْهِ بِالسُّنَّةِ او (همدارنګه مستحب ده) هر هغه روژه چې (په شريعت کې) د هغې طلب او پر هغې (د ثواب) وعده په سنت (حديث) سره ثابت سوي وي (يعني د کومې روژې چې شريعت طلب کړی وي او په حديث سره د هغې د نيولو ثواب ثابت وي، نو هغه مندوب او مستحب روژه ده) كَصَوْمِ دَاوُدَ عليه السلام كَانَ يَصُوْمُ يَوْمًا وَيُفْطِرُ يَوْمًا لکه د داؤد عليه السلام روژه چې هغه به يوه ورځ روژه نيوله او يوه ورځ به يې خوړله (نه نيوله) وَهُوَ أَفْضَلُ الصِّيَامِ وَأَحَبُّهُ إِلَى اللهِ تَعَالىٰ او دا په ټولو (نفلي) روژو کې افضله او الله تعالىٰ ته زياته خوښه روژه ده.

تشريح: دلته د مستحبي روژې په باره کې يوه أصولي خبره بيانوي فرمايي چې هره هغه روژه چې د هغه په باره کې يو حديث مروي وي او پر هغه د ثواب وعده ورکول سوې وي، نو هغه مستحبه روژه ده. لکه د داؤد عليه السلام روژه يعني يوه ورځ روژه نيول او يوه ورځ نه نيول، د دې فضيلت هم د ترمذي په روايت کې راغلی دی چې د هغه وطرف ته مصنف رَحِمَهُ الله اشاره کړې ده چې صوم داؤد عليه السلام د الله تعالی په نېز تر ټولو خوښه او افضله ده. (شفاء الارواح)

﴿۱۰۲۳﴾ وَأَمَّا النَّفْلُ فَهُوَ مَا سِوىٰ ذٰلِكَ مِمَّا لَمْ يَثْبُتْ كَرَاهِيَّتُهُ او کوم چې نفلي (روژه) ده نو هغه له دغو (پورتنی مذکوره) روژو څخه ما سوا هغه روژې دي چې د هغوی مکروه والی ثابت سوی نه وي.

تشريح: يعني هره هغه روژه چې د هغې په باره کې له نبي کريم ﷺ څخه هيڅ کراهت ثابت نه وي، نو هغه نفل (نفني) روژه ده. او په عمدةُ الفقه کې دي چې ټوله نفلي روژې چې د هغوی په باره کې هيڅ کراهت ثابت نه وي. هغه مستحب دي؛ ځکه چې نبي کريم ﷺ د مطلق روژې رغبت ورکړی دی، لهذا د هغه پر نيولو به روژتي ته ثواب حاصلېږي. (شفاء الارواح)

د مکروه تنزيهي او مکروه تحريمي روژو بيان

۱۰۲۲ وَأَمَّا الْمَكْرُوْهُ فَهُوَ قِسْمَانِ او کوم چي مکروه (روژه) ده نو هغه دوه قسمه ده مَكْرُوْهٌ تَنْزِيْهًا وَ مَكْرُوْهٌ تَحْرِيْمًا ① مکروه تحريمي ② مکروه تنزيهي اَلْأَوَّلُ كَصَوْمِ عَاشُوْرَاءَ مُنْفَرِدًا عَنِ التَّاسِعِ اول (يعني مکروه تنزيهي) لکه يوازي د عاشوراء روژه له نهمي څخه بغير وَالثَّانِيْ صَوْمُ الْعِيْدَيْنِ وَ أَيَّامُ التَّشْرِيْقِ اا دويم (يعني مکروه تحريمي لکه) د کوچني اختر او لوی اختر او د ايام التشريق روژه.

تشريح: په دې عبارت کي د مکروه تنزيهي او مکروه تحريمي روژو بيان کوي. حاصل يې دا دی چي يوازي د لسم محرّم (عاشوراء) روژه نبول او بله روژه نه ورسره نيول مکروه تنزيهي دي (د بعضي حضراتو په نېز)؛ ځکه په دې کي د يهودو سره مشابهت راځي، تفصيل يې دا دی چي يهود هم د لسم محرّم روژه نيسي؛ ځکه په دې ورځ الله تعالیٰ بني اسرائيل د فرعون له ظلم څخه خلاص کړي وه. نو موسیٰ عليه السلام د شکر اداء کولو لپاره د لسم محرم روژه ونيوله او د هغه په اتّباع کي ټوله قوم د دې ورځي روژه نيسي. بيا نبي کريم ﷺ وفرمايل چي د موسیٰ عليه السلام د سنت پلي کولو موږ زيات حقدار يو او وې فرمايل چي که را روان کال زه ژوندی پاته سوم نو د لسم محرم سره به د نهم محر روژه هم ونيسم، د دې لپاره چي د يهودو له روژې څخه توپير راسي، نو په دې وجه يوازي د لسم محرّم روژه نيول د يهودو مشابهت په وجه به مکروه تنزيهي وي.

او مکروه تحريمي د دې پنځو ورځو روژه ده: ① د کوچني اختر (عيد الفطر) ورځ. ② د لوی اختر (عيد الاضحیٰ) ورځ، يعني د ذو الحجې لسمه، ③، ④، ⑤ د لوی اختر (عيد الاضحیٰ) وروسته درې ورځي يعني د ذو الحجې يوولسمه، دوولسمه او ديارلسمه (کوم ته چي ايامُ التشريق ويل کيږي)، په دې پنځو ورځو کي روژه نيول مکروه تحريمي دي، او مکروه تحريمي حرام ته نژدې وي.

فايده: لکه څرنګه چي په پنځو وختونو کي لمونځ کول ممنوع دي چي له هغوی څخه په درېو وختونو کي ممانعت سخت دی چي په هغه وخت کي قضائي لمونځ کول هم جائز نه دي او په پاته دوو وختونو يعني د مازيګر او سهار تر لمانځه وروسته د لمونځ کولو ممانعت سپک دی چي په دې وخت کي قضائي لمونځ کولای سي، نو همداسي د کوچني اختر او لوی اختر په ورځ د روژې نيولو ممانعت سخت دی او په دې دوو ورځو کي هيڅوک د روژې د جواز قائل نه دي او په ايامُ التشريق کي

چي کوم ممانعت دی، هغه سپک دی، لکه د بعضي حضراتو په نېز چي په ایامُ التشریق کي دمتمتع
او قارن لپاره روژه نیول جائز دي. (انوار الایضاح)

یوازي د جمعې یا شنبې په ورځ او د نوروز او مهرجان په ورځ روژه نیول

﴿۱۰۲۵﴾ وَكُرِهَ إِفْرَادُ يَوْمِ الْجُمُعَةِ وَإِفْرَادُ يَوْمِ السَّبْتِ او مکروه دي یوازي د جمعې د
ورځي او یوازي د شنبې دورځي روژه نیول وَيَوْمِ النَّيْرُوْزِ أَوِ الْمِهْرَجَانِ او د نوروز او مهرجان د
ورځي روژه نیول إِلَّا أَنْ يُّوَافِقَ عَادَتَهٗ مګردا چي (دې ورځو روژه) د ده د عادت (د ورځي سره) موافق سي.

لغات: ﴿السبت﴾ د شنبې ورځ (کوم ته چي د هفتې ورځ هم وايي)، ﴿نـیروز﴾ نو روز، د لمریز کال لومړ
ورځ (د پسرلي د موسم آخري ورځ)، د مجوسیانو د خوشالۍ غټه ورځ (ملي ورځ)، نَيْرُوْز په اصل کې
نَوْرُوْز وو، کله چي دا کلام د عربو پر اوزانو نه راتللی، نو په ده کي یې دا تعلیل وکړی چي واو یې پ
یاء سره بدل کړی نو نَيْرُوْز سو (انوار الایضاح)، ﴿مهرجان﴾ دا په اصل کي مهرګان دی (او په عربي کي ګاف
په جیم سره بدلیږي): د مَني د موسم اوله (د مېلې) ورځ (او صاحب د انوار الایضاح لیکلي دي چي د مَني
موسم آخره ورځ)، د یو خاص واقعې یا یو خاص خوشحالي جوړولو پروګرام.

تشریح: په دې عبارت کي څو مسئلې بیان سوي دي:

①... د جمعې په ورځ روژه نیول بالاتفاق مستحب دي، څو که د دې ورځي په تخصیص سر
فضیلت وهم پیدا کیږي چي انسان به له جمعې څخه بغیر بله ورځ روژه نیول د ثواب مستحق ن
ګڼي، نو بیا یوازي د جمعې په ورځ روژه نیول مکروه دي، لکه څرنګه چي په لمانځه کي منقو
سورتونه ویل جائز دي، خو پر ځان د لازمولو (التزام) په صورت کي په دې توګه چي نور سورتو
پکښې ویل جائز نه ګڼي مکروه دي (څرنګه چي د اسلام په شروع کي دا خطره وه چي هسي نه د جمعې ورځ
عبادت لپاره داسي خاصه کړل سي لکه څرنګه چي یهودو د هفتې ورځ "یوم السبت" د عبادت لپاره خاصه کړې وه، ن
په دې وجه له دې څخه منع وسوه، لیکن کله چي وروسته اسلامي عقائد او احکام راسخ سوه، نو دا حکم ختم کړ
او د جمعې په ورځ هم د روژه نیولو اجازه ور[illegible] سوه (درس ترمذی)).

وافراد یوم السبت: ②... یوازي د شنبې (هفتې) په ورځ روژه نیول د یهودو سره د مشابهت په وج
مکروه دي، او د نوروز او مهرجان روژه د مجوسیانو سره د مشابهت په وجه مکروه دي (دا دوې ورځي
ایرانیانو د خوشحالۍ ورځي دي، په دې کي به دوی تعظیماً روژه نیوله؛ څکه چي په هملوی کي به موسم بدلیدی)، ن
که دا روژې د دې ورځو د تعظیم او د دوی سره د مشابهت په اراده ونیول سي، نو مکروه تحریمي دي
که دا نیت او اراده نه وي، نو مکروه تنزیهي دی (او صاحب د "انوار الایضاح" لیکلي دي چي یوازي د شنبې په ورځ نیو

خو في نفسه جائز ده او نبي ﷺ په دې ورځ روژه نیولې ده. خو ځرنګه چي یهود هم د شنبې په ورځ روژه نیسي، نو ځکه چیري چي یهود وي، هلته د شنبې په ورځ روژه نه نیول پکار دي؛ ځکه په دې کي د دوی سره مشابهت لازمیږي).

صومِ وصال

﴿١٠٢٦﴾ وَكُرِهَ صَوْمُ الْوِصَالِ وَلَوْيَوْمَيْنِ او مکروه ده صومِ وصال (متصل روژه نیول) که څه هم دوې ورځي وي وَهُوَأَنْ لَّا يُفْطِرَ بَعْدَ الْغُرُوْبِ أَصْلًا حَتّٰى يَتَّصِلَ صَوْمُ الْغَدِ بِالْأَمْسِ او هغه دا چي تر لمر لوېدلو وروسته روژه ماته نه کړي تر دې چي متصله سي د سبا (را رواني ورځي) روژه د پرون (تیري ورځي) د روژې سره.

تشریح: صوم وصال (په روژه کي اتصال کول) یعني دوې ورځي یا تر دې زیات وخت شپه او ورځ متصل روژه نیول په دې توګه چي سهار روژه ونیسي او ماښام روژه ماته نه کړي او هیڅ نه وخوري او نه پېشلمی وکړي او را روانه ورځ بیا روژه کړي، دې ته صوم وصال وایي. صوم وصال د امت لپاره مکروه ده. دا فقط د نبي کریم ﷺ له خصوصیاتو څخه وه؛ او له نبي کریم ﷺ څخه د صومِ وصال ممانعت وارد سوی دی، نو ځکه بعضو ورته مکروه تحریمي ویلي دي او بعضو ورته مکروه تنزیهي ویلي دي (صاحب د انوارُ الایضاح لیکلي دي چي صوم وصال عموماً د امت لپاره مکروه ده. او نبي کریم ﷺ شفقتاً امت له صوم وصال څخه منع کړی دی. لهذا که څوک د دې طاقت لري، نو د هغه لپاره صوم وصال جائز ده. خو د عامو خلکو لپاره مشکل ده، نو ځکه هغو ته صوم وصال نه نیول پکار دي).

صومِ دهر

﴿١٠٢٧﴾ وَكُرِهَ صَوْمُ الدَّهْرِ او مکروه دي ټوله زمانه (همېشه) روژه نیول.

تشریح: د صومُ الدهر درې صورتونه دي: ① ټوله کال متصل روژې نیول تر دې چي په هغه ممنوعه ورځو (یعني د کوچني اختر او لوی اختر په ورځو او په ایام التشریق) کي هم روژې نیول چي په هغوی کي روژه نیول حرام دي، دا صورت بالاتفاق ناجائز او مکروه تحریمي دی، ② دویم صورت دا چي له ایامِ ممنوعه څخه بغیر نور ټوله کال روژې نیول، دا صورت که څه هم جائز دی، لېکن خلاف اولیٰ دی او شریعت ته خوښ نه دی (یوه وجه يې دا ده چي څوک همېشه روژه نیسي، هغه تر صبح صادق مخکي او تر ماښام وروسته ادوه وجه، په خوراک کولو عادت سي او د دې دوو وختونو په مینځ کي خوراک، چښاک ته د هغه شوق او خواهش نه کیږي او دا يې عادت جوړ سي، نو د روژې نیولو چي کوم مشقت او تکیف رو. هغه ده ته نه حاصلیږي. نو روژه به بې فایدې وي امراقی الفلاح ص:١٣٥١)، ③ او درېیم صورت صوم داؤد علیه السلام دی یعني یوه نه بله ورځ روژه نیول. دا بالاتفاق افضل او مستحب دي. (درس ترمذي بتصرفٍ)

❀ ❀ ❀

فَصْلٌ فِيْمَا يَشْتَرِطُ تَبْيِيْتُ النِّيَّةِ وَتَعْيِيْنُهَا فِيْهِ وَمَا لَا يَشْتَرِطُ

(دا) فصل په (بيان د) هغه روژو کي دی چي په هغوی کي له شپې څخه
نيت کول او د هغوی متعين کول شرط دي او هغه روژې چي په هغوی کي
دا (نيت او تعيين) شرط نه دي

تشريح: روژه پر څو قسمه ده: بعضي روژې داسي دي چي په هغوی کي له شپې څخه يعني له صبح صادق څخه مخکي نيت کول او د روژې متعين کول شرط دي. يعني په خپل زړه کي به دا پېژني او متعينوي چي کومه روژه نيسي، او بعضي روژې داسي دي چي په هغوی کي له شپې څخه نيت کول او د روژې متعين کول شرط نه دي بلکي دومره اراده کافي ده چي زه روژه نيسم. نو په دې فصل کي دا دواړه بيانوي.

دلته دا خبره ياده ساتئ! چي د فقط روژې نيولو نيت کول د هري روژې لپاره شرط دي، لهذا که يو کس له نيت څخه بغير له صبح صادق څخه تر لمر لوېدو پوري له خوراک. څښاک او جماع څخه منع سي، نو هغه روژتي نه شمېرل کيږي او د روژې نيت دا دی چي په زړه کي پخه اراده وکړي چي هغه نن ورځ روژه نيسي، په ژبه سره ويل ضروري نه دي لېکن مستحسن دي، په عربي کي د رمضان د روژې نيت داسي منقول دی "وَبِصَوْمِ غَدٍ نَّوَيْتُ مِنْ شَهْرِ رَمَضَانَ" چي د هغه ترجمه ده "ما د روژې (رمضان) د مياشتي د سبا د روژې نيت وکړی"، په رمضان کي د هري روژې لپاره نوی نيت کول ضروري دي، او پېشلمی کول هم نيت دی لهذا که څوک نه په زړه کي نيت وکړي او نه په ژبه سره، صرف د روژې لپاره پېشلمی وکړي، نو د هغه روژه صحيح ده. (عمدة الفقه)

په کومو روژو کي له شپې څخه نيت او تعيين شرط نه دي؟

﴿۱۰۲۸﴾ أَمَّا الْقِسْمُ الَّذِیْ لَا يُشْتَرَطُ فِيْهِ تَعْيِيْنُ النِّيَّةِ وَلَا تَبْيِيْتُهَا کوم چي (د روژې) هغه قسم دی چي په هغه کي د نيت متعينول او له شپې څخه نيت کول شرط نه دي فَهُوَ أَدَاءُ رَمَضَانَ نو هغه د رمضان اداء روژې دي وَالنَّذْرُ الْمُعَيَّنُ زَمَانُهٗ او (همدارنګه) د داسي نذر روژه ده چي د هغه زمانه متعينه (ټاکل سوې) وي وَالنَّفْلُ او (همدارنګه) نفلي روژه ده فَيَصِحُّ بِنِيَّةٍ مِنَ اللَّيْلِ إِلٰى مَا قَبْلَ نِصْفِ النَّهَارِ نو (دا هره روژه) صحيح کيږي په نيت کولو سره د شپې (بيا) له

نیمي ورځي څخه تر مخکي پوري عَلَی الْأَصَحِّ د صحیح ترین قول مطابق.

﴿۱۰۲۹﴾ وَنِصْفُ النَّهَارِ مِنْ طُلُوْعِ الْفَجْرِ إِلَى وَقْتِ الضَّحْوَةِ الْكُبْرٰى او نصف النهار د سهار (صبح صادق) له راختلو څخه د ضحوه کبری (لوی څاښت / ياحه څاښت ۱) تر وخته پوري دی.

لغات: ﴿تبییت﴾ د تفعیل د باب مصدر دی، مراد ځني د شپې نیت کول دي. ﴿نذر معیّن﴾ یعني په کوم نذر کي چي ورځ یا میاشته وغیره معیّن (ټاکل) سوې وي مثلاً داسي یې ویلي وي: چي پر ما د الله ﷻ لپاره (یا د الله پر نامه) د دغه میاشتي د اولي جمعې روژه لازمه ده. نو د دې میاشتي اوله جمعه معیّنه سوه (وټاکل سوه)، دې ته نذر معیّن وایي. ﴿الضحوة الکبریٰ﴾ د څاښت وخت کله چي لمر ښه ډېر راپورته سوی وي، دې وجهٔ تسمیه دا ده چي په دې وخت کي د لمر رڼا پوره سي، د ضحوة معنی ده: رڼا. او د کبریٰ معنیٰ ده: لویه. کامله او پوره. او له الضحوة الکبری څخه مراد نصف النهار شرعي (یابله وینا شرعي غرمه) ده چي تر هغه مخکي نیت کول ضروري دي (د دې لپاره چي په اکثر د نهار کي د عبادت نیت راسي). تر نصف النهار شرعي وروسته نیت کولو لره اعتبار نسته.

تشریح: د رمضان او نذرِ معیّن په روژه او نفلي روژه کي له شپې څخه نیت کول او روژه متعیّنول چي دغه روژه نیسم شرط نَه دي، بلکي له نصفُ النهار شرعي (شرعي نیمي ورځي) څخه مخکي که نیت وکړي، نو هم روژه صحیح کیږي، ورځ له صبح صادق څخه تر لمر لوېدلو پوري ده، او د هغه نصف ته ضحوهٔ کبریٰ او نصف النهار شرعي ویل کیږي، مثلاً که صبح صادق پر شپږ (۶) بجې وي او لمر هم پر شپږ (۶) بجې لوېږي نو ورځ دوولس ساعته (۱۲ ګېنټې) سوه او د هغه نصف شپږ ساعته (۶ ګېنټې) سو، نو ټیک د ورځي دوولس بجې نصف النهار شرعي سو. نو د پورتني مذکوره درېو روژو د نیت آخري وخت له نصف النهار شرعي څخه تر لږ مخکي پوري دی، لهذا که پر نصف النهار یا تر هغه وروسته نیت وکړي، نو روژه یې نه صحیح کیږي. (شفاء الارواح)

آیا د رمضان په روژو کي تعیین ضروري دی؟

﴿۱۰۳۰﴾ وَيَصِحُّ أَيْضًا بِمُطْلَقِ النِّيَّةِ وَبِنِيَّةِ النَّفْلِ او صحیح کیږي همداسي په مطلق نیت او د نفلو په نیت سره وَلَوْكَانَ مُسَافِرًا أَوْ مَرِيْضًا که څه هم مسافر او مریض وي فِي الْأَصَحِّ د صحیح ترین قول مطابق.

تشریح: د عبارت حاصل دا دی چي پورتني مذکوره دري قسمه روژې په مطلق نیت سره هم اداء کیږي، مثلاً که داسي ووایي چي زه نن ورځ روژه نیسم او دا نه ووایي چي فرض یا واجب یا سنت، نو بیا هم دا روژه اداء کیږي، او د نفلو په نیت سره هم اداء کیږي، مثلاً داسي ووایي چي زه نن ورځ نفلي روژه نیسم؛ ځکه د رمضان میاشته صرف د فرض روژې لپاره متعینه ده، او پاته سو نذر معیّن، نو هغه هم د رمضان په حکم کي دی؛ ځکه چي هغه هم د نذر کونکي له طرفه متعیّن دی او د متعیّن لپاره نور تعیین ته ضرورت نه وي، او د نفلي روژې لپاره له رمضان څخه بغیر نور ټوله وختونه (د نفلي روژې) دي، نو ځکه د رمضان روژه، د نذر معیّن روژه او نفلي روژه په مطلق نیت سره اداء کیږي او په دې حکم کي مسافر او مریض دواړه سره برابر دي، لهذا د مسافر او مریض روژه هم په رمضان، نذر معیّن او نفلو کي په مطلق نیت سره اداء کیږي.

دلته مصنف رَحِمَهُ الله فی الأصح ویلي دي؛ ځکه یو قول دا هم دی چي که مسافر او مریض د رمضان په روژه کي مطلق نیت یا د نفلو نیت وکړي، نو هغه روژه یې نفلي کیږي (نفلي روژه ګرځي)، د رمضان روژه نه اداء کیږي، خو اصح (زیات صحیح) هغه قول دی کوم چي مصنف رَحِمَهُ الله ذکر کړی دی.

په رمضان یا نذرِ معیّن کي د بل واجب (نذر یا قضائي روژې) نیت کول

﴿۱۰۲۱﴾ وَيَصِحُّ أَدَاءُ رَمَضَانَ بِنِيَّةِ وَاجِبٍ آخَرَ او صحیح کیږي د رمضان ادائي روژه د بل واجب په نیت سره لِمَنْ كَانَ صَحِيْحًا مُقِيْمًا د هغه کس لپاره کوم چي روغ او مقیم وي بِخِلَافِ الْمُسَافِرِ په خلاف د مسافر فَإِنَّهُ يَقَعُ عَمَّا نَوَاهُ مِنَ الْوَاجِبِ ځکه د مسافر (روژه) د هماغه واجب له طرفه واقع کیږي د کوم چي هغه نیت کړی وي.

﴿۱۰۲۲﴾ وَاخْتَلَفَ التَّرْجِيْحُ فِي الْمَرِيْضِ إِذَا نَوىٰ وَاجِبًا آخَرَ فِيْ رَمَضَانَ او ترجیح مختلفه سوې ده (یعني د قولِ راجح په تعیین کي یې اختلاف سوی دی) د مریض په باره کي کله چي هغه په رمضان کي د بل واجب نیت وکړي.

﴿۱۰۲۳﴾ وَلَا يَصِحُّ الْمَنْذُوْرُ الْمُعَيَّنُ زَمَانُهُ بِنِيَّةِ وَاجِبٍ غَيْرِهٖ او نه صحیح کیږي هغه نذري روژه چي د هغه زمانه متعینه (ټاکل سوې) وي د بل واجب په نیت سره بَلْ يَقَعُ عَمَّا نَوَاهُ مِنَ الْوَاجِبِ فِيْهِ بلکي واقع کیږي د هماغه واجب له طرفه د کوم چي یې نیت پکښي کړی وي.

تشریح: د عبارت حاصل دا دی چي که روغ (جوړ) او مقیم کس د رمضان روژه د بل واجب په نیت سره ونیسي، نو هغه د رمضان له طرفه اداء کیږي، مثلاً که څوک په رمضان کي داسي روایي چي زه نـه ورځ د کفارې روژه یـا د تېر کـال د رمضـان قضـاء سـوې روژه نیـسم، نو هـم د رمضـان روژه اداء کیږي، هغه د کفارې یا د قضاء روژه یې نه اداء کیږي؛ ځکه د رمضان په میاشته کي د واجب آخر روژه مشروع نه ده. لېکن که مریض یا مسافر په رمضان کي د بل واجب په نیت سره روژه ونیسي، نو د مسافر روژه د همدې بل واجب له طرفه اداء کیږي، نه د رمضان له طرفه، او پاتـه سو د مریض په باره کي ترجیح مختلفه ده. علامه فخرُ الاسلام او شمسُ الائمه رَحِمَهُمَا الله فرمایي چي په داسي صورت کي د مریض روژه د رمضان له طرفه اداء کیږي او دوی همدې ته صحیح ویلي دي، لېکن صاحب د هدایې او اکثره مشائخ رَحِمَهُمُ الله فرمایي چي مریض چي د کوم واجب روژې نیت کړی وي، د هغه له طرفه اداء کیږي.

ولایصح المنذو ر الخ: د دې حاصل دا دی چي که څوک د نذرِ معیّن روژه د بل واجب په نیت سره ونیسي، نو هغه د نذر له طرفه نه اداء کیږي، بلکي د کوم واجب نیت چي یې کړی وي، د هغه له طرفه اداء کیږي، برابره ده دئ روغ وي او که مریض وي، مسافر وي او که مقیم وي. مثلاً که د نذرِ معیّن په روژه کي د کفارې نیت وکړي، نو هغه د کفارې روژه کیږي، د نذرِ معین روژه نه کیږي. (شفاء الارواح)

په کومو روژو کي له شپې څخه نیت او تعیین ضروري دی؟

﴿۱۰۲۴﴾ وَأَمَّا الْقِسْمُ الثَّانِيْ وَهُوَمَا يُشْتَرَطُ فِيْهِ تَعْيِيْنُ النِّيَّةِ وَتَبْيِيْتُهَا او کوم چي دویم قسم دی او دا هغه روژه ده چي په هغه کي د نیت متعیّنول او له شپې څخه نیت کول شرط دي فَهُوَقَضَاءُ رَمَضَانَ او هغه د رمضان قضائي روژه ده وَقَضَاءُ مَا أَفْسَدَهُ مِنْ نَفْلٍ او د هغه نفلي روژې قضاء ده کوم چي یې فاسده کړې (ماته کړې) وي وَصَوْمُ الْكَفَّارَاتِ بِأَنْوَاعِهَا او د کفاراتو روژې دي د خپل ټولو اقسامو سره وَالْمَنْذُوْرُ الْمُطْلَقُ او مطلق نذر کړل سوې روژه ده (چي په هغې کي د هیڅ وخت تعیین نه وي) كَقَوْلِهٖ: إِنْ شَفَى اللهُ مَرِيْضِيْ لکه د سړي دا قول: که چیري الله زما مریض ته شفاء ورکړه فَعَلَيَّ صَوْمُ يَوْمٍ نو پر ما دیوې ورځي روژه (لازم) ده فَحَصَلَ الشِّفَاءُ بیا (مریض ته) شفاء حاصله سوه (نو دا مطلق نذري روژه ده چي په دې کي د نیت تعیین او له شپې څخه نیت کول ضروري دي).

لغات: ﴿المنذور المطلق﴾ مطلق نذر کړل سوې روژه، مثلاً داسي ووايي چي که الله تعالی زما پلار ته شفاء ورکړه او جوړ سو، نو پر ما يوه روژه لازمه ده چي زه به يوه روژه نيسم، بيا پلار ته شفاء نصيب سي، نو پر هغه يوه روژه لازمه ده. ﴿شفی﴾ د ضرب د باب ماضي ده، شَفٰی يَشْفِي شِفَاءً: روغتيا بخښل، روغول (جوړول).

تشریح: د روژې دويم قسم هغه دی چي د نيت تعيين او له شپې څخه نيت کول پکښي ضروري دي او هغه د رمضان د قضاء روژه ده او د نفلو د قضاء روژه ده کوم چي يې ماته کړې وي او د څلورو سره کفارو (کفارهٔ ظهار. کفارهٔ قتل، کفارهٔ قسم او کفارهٔ افطار) روژې دي او د نذر مطلق روژه ده. نو په دغه مذکوره روژو کي تعيين شرط دی يعني په زړه کي به دا پېژني چي کومه روژه نيسي يعني په زړه کي دا ويل شرط دي چي مثلاً د رمضان د قضائي روژې نيت کوم يا د روژې ماتولو د کفارې والا روژې نيت کوم يا د نذرِ مطلق د روژې نيت کوم او داسي نور. که په دغه قسم روژو کي د نيت تعيين نه وکړي بلکي صرف مطلق نيت وکړي چي زه روژه نيسم، نو هغه روژه يې نه اداء کيږي. بلکي نفلي کيږي (نفلي روژه ګرځي) او ضايع کيږي نه؛ ځکه د اصل روژې نيت موجود دی. او په دغه قسم روژو کي له شپې څخه (يعني له صبح صادق څخه مخکي) نيت کول ضروري دي او که تر صبح صادق وروسته نيت وکړي، نو روژه يې نه اداء کيږي، ها! که د صبح صادق کېدلو په وخت کي سمدستي نيت وکړي، نو جائز دي. (شفاء الارواح بحوالهٔ عمدة الفقه)

⁂

فَصْلٌ فِيْمَا يَثْبُتُ بِهِ الْهِلَالُ وَفِيْ صَوْمِ يَوْمِ الشَّكِّ وَغَيْرِهٖ

دا فصل په (بيان د) هغه څه کي دی چي په هغه سره د مياشتي (سپوږمۍ) ثبوت
کيږي او په (بيان د) ورځي د شک او داسي نورو کي دی

تشريح: د شعبان په نهه ويشتمه (٢٩) د رمضان د مياشتي تلاش کول (د ليدلو کوشش کول) واجب علی الکفايه دي، همدارنګه د رجب، رمضان، ذی القعدي او ذی الحجي په نهه ويشتمه د مياشتي (سپوږمۍ) تلاش کول واجب علی الکفايه دي، له دې پنځو مياشتو څخه بغير د نورو مياشتو په نهه ويشتمه د مياشتي تلاش کول او پسي کتل مستحب علی الکفايه دي. (عمدة الفقه)

د رمضان د مياشتي ثبوت

﴿١٠٣٥﴾ يَثْبُتُ رَمَضَانُ بِرُؤْيَةِ هِلَالِهٖ رمضان ثابتيږي (د رمضان) د مياشتي په ليدلو سره أَوْ بِعَدِّ شَعْبَانَ ثَلَاثِيْنَ إِنْ غُمَّ الْهِلَالُ يا د شعبان د دېرشو ورځو په شمېرلو (پوره کېدلو) سره که چيري مياشته پټه (مشتبه) وي.

لغات: ﴿هلال﴾ نوې مياشته (سپوږمۍ)، د اولي شپې مياشته، ﴿عَدّ﴾ د نصر د باب مصدر دی: شمېرل (شمارل)، ﴿غُمّ﴾ د نصر له بابه ماضي مجهوله ده، غَمَّ يَغُمُّ غمًّا: نيامېدل (نهامېدل)، پټېدل.

تشريح: د رمضان مياشته په دوو شيانو سره ثابتيږي: ① يا خو د شعبان په نهه ويشتمه (٢٩) د مياشتي په ليدلو سره، ② يا که مياشته نه وليدل سي، نو د شعبان د دېرشو ورځو په پوره کېدلو سره رمضان ثابتيږي، لهذا که په نهه ويشتمه د شعبان مياشته وليدل سوه، نو را روانه ورځ به روژه نيول کيږي او که مياشته نه وليدل سوه، نو د شعبان دېرش (٣٠) ورځي به پوره کړل سي او په را روانه ورځ به روژه نيول کيږي.

خلاصه دا چي د مياشتي د ثبوت مدار د مياشتي (سپوږمۍ) پر ليدلو دی، نه د مياشتي پر وجود، لهذا معلومه سوه چي که مياشته (سپوږمۍ) په اُفق کي موجوده وي، خو د وريځي، ګرز وغيره په وجه نه وليدل سي، نو د هغې د وجود اعتبار به نه کول کيږي او په دې سره به مياشته نه ثابتيږي. (درس ترمذی)

د یومُ الشک بـیان

﴿١٠٣٦﴾ وَيَوْمُ الشَّكِّ هُوَمَا يَلِيَ التَّاسِعَ وَالْعِشْرِيْنَ مِنْ شَعْبَانَ او د شک ورځ هغه ورځ ده کوم چې د شعبان د نهه ویشتمې (۲۹) سره متصله وي (یعني د شعبان دېرشمه ورځ) وَقَدِ اسْتَوٰى فِيْهِ طَرَفُ الْعِلْمِ وَالْجَهْلِ بِأَنْ غُمَّ الْهِلَالُ او په هغې کې (په میاشتې) د خبرېدلو او ناخبرۍ (یعني د میاشتې د شتون او نشتون) اړخ سره برابر وي په دې توګه چې میاشته پټه (مشتبه) پاتې وي.

لغات: ﴿استوىٰ﴾ د استفعال د باب ماضي ده، مصدر: استواءً: برابر کېدل. ﴿طرف﴾ طرف، اړخ، خوا، کناره، د یو شي آخري حدّ، جمع: أطراف. ﴿علم﴾ د سمع د باب مصدر دی: خبرېدل، واقف کېدل، پوهېدل، العلم؛ خبرتیا، پوهه. ﴿جهل﴾ دا هم د سمع د باب مصدر دی: ناخبره کېدل، ناپوه کېدل.

تشریح: له یومُ الشک څخه مراد د شعبان آخري ورځ ده چې د هغې په باره کې دا احتمال هم سته چې دا دې د رمضان اوله ورځ وي او دا احتمال هم پکښې سته چې د شعبان آخري ورځ یعني د شعبان دېرشمه دې وي.

یعني کله چې د شپې آسمان (مطلع) صفا نه وي، وریځ یا ډېر ګرز یا تېزه سره رڼا وي چې د هغه په وجه میاشته نه لیدل کېږي، نو را روانه ورځ یومُ الشک ده؛ ځکه په دې کې دوه احتماله دي: یو دا چې ممکنه ده د آسمان په څنډه کې میاشته موجوده وي او د علت په وجه نه لیدل کېږي نو دا به هغه د رمضان اوله ورځ وي، او دا هم ممکنه ده چې میاشته موجوده نه وي، نو دا به د شعبان دېرشمه ورځ وي، نو ځکه ورته یومُ الشک وایي.

وقد استوىٰ: د دې مطلب دا دی چې د شعبان دېرشمه په هغه صورت کې یوم الشک کېږي کله چې په نهه ویشتمه (۲۹) د شعبان د آسمان د ناصفا والي په وجه د میاشتې په شتون او نشتون (وجود او عدمِ وجود) کې شک وي (چې میاشته به موجوده وي لو که نه)، او که په هغه شپه آسمان او مطلع صفا وي، نو بیا را رواني ورځې ته یوم الشک نه ویل کېږي.

په یومُ الشک کې د روژې نیولو څو صورتونه

﴿١٠٣٧﴾ وَكُرِهَ فِيْهِ كُلُّ صَوْمٍ او مکروه ده د شک په ورځ هره روژه إِلَّا صَوْمَ نَفْلٍ جَزَمَ بِهٖ بِلَا تَرْدِيْدٍ بَيْنَهٗ وَبَيْنَ صَوْمٍ آخَرَ مګر هغه نفلي روژه چې د هغې (د نیولو) یې ټینګه (قطعي)

اراده کړې وي بغیر له متردّد کېدو (زړه نازړه کېدو) څخه د نفلي او بلي روژې تر مینځ وَإِنْ ظَهَـرَ أَنَّـهُ مِنْ رَمَضَـانَ او که ښکاره سي دا چې دغه د رمضان (ورځ) ده (یعني دغه د شک ورځ د رمضان ورځ سي) أَجْزَأَعَنْهُ مَا صَامَهُ نو کافي کیږي د رمضان له طرفه دا روژه کوم چې یې (په دې ورځ کې) نیولې ده وَإِنْ رَدَّدَ فِيْـهِ بَيْـنَ صِيَامٍ وَفِطْرٍ او که پکښې متردّد (زړه نازړه) سي په دې ورځ د روژې نیولو او خوړلو (نه نیولو) تر مینځ لَايَكُـوْنُ صَائِمًا نو هغه روژتي نه ګرځي (یعني که په مشکوکه توګه نیت وکړي چې دا ورځ [یوم الشک] که د رمضان سوه، نو روژه به مې وي، کنې روژه به مې نه وي، نو په دلسې صورت کې هغه روژه نیونکی نه شمېرل کیږي، نه د رمضان او نه د نفلي روژې؛ ځکه چې په روژه نیولو او نه نیولو کې ترډد دی، نو ګواکې ګرد سره د روژې نیت نه دی سوی، فلا یکون صائمًا).

لغات: ﴿جَزَمَ﴾ د ضرب له بابه ماضي معلومه ده، مصدر: جَـزْمًا: ټینګه اراده کول (پخه اراده کول)، قطعاً نافذول چې بیا رجوع پکښې نه وي، ﴿تردید﴾ د تفعیل د باب مصدر دی، د دې باب څو معناوې نقل سوې دي چې ځیني دا دي: ګرځېدل (متردّد کېدل)، پر یو طرف نه پاتېدل، مکرر کول، ګرځول (مصباح اللغات)، ﴿أَجْـزَأَ﴾ د افعال د باب ماضي معلومه ده: کافي کېدل، کفایت کول، جائز کېدل، د عَنْهُ ضمیر رمضان ته راجع دی، ردّدَفِيْـهِ أی ردّدَفی یوم الشّك.

تشریح: د عبارت حاصل دا دی چې د شک په ورځ (یوم الشک) کې هره روژه مثلاً د قضاء یا کفارې یا نذر روژه نیول مکروه تنزیهي دي، خو که په ټینګه اراده بغیر له څه تذبذب څخه د نفلو په نیت روژه ونیسي یعني چې د ده په نیت کې د نفلو سره د بلې روژې کېدلو تردّد نه وي، نو مکروه نه دي. او س که هغه په ټینګه د نفلي روژې نیت وکړي یا د قضاء یا د کفارې یا د نذر د روژې نیت وکړي او بیا د میاشتي لیدلو خبر راسي، نو ده چې په کوم نیت سره روژه نیولې ده، هغه د رمضان له طرفه اداء کیږي، او د قضاء، کفارې او نذر روژه به بیرته راګرځوي، او که د میاشتي لیدلو خبر رانه سي، نو د کومي روژې نیت چې یې کړی دی، هغه اداء کیږي.

وان ردّد إلخ: یعني که په یومُ الشک کې خپل نیت د روژې نیولو او نه نیولو تر مینځ دائر کړي په دې توګه چې که سبا ورځ د رمضان سوه، نو روژه مې ده او که نه سوه، نو روژه مې نه ده، یا په بله وینا دا چې په مشکوکه توګه نیت وکړي چې که سبا رمضان سو، نو روژه نیسم، کنې نم یې نیسم، نو په دې صورت کې یې روژه نه کیږي او روژتي نه شمېرل کیږي، برابره ده رمضان سي او که نه سي، ځکه په

ټینګه توګه (قطعي) نیت نه وسو، او که داسې نیت وکړي چي که میاشته ولیدل سوه، نو د رمضان روژه به مي وي، کنې نفلي به وي، نو دا مکروه دي. (شفاء الارواح، انوار الایضاح)

د شعبان په نهه ویشتمه یا په دېرشمه روژه نیول

﴿۱۰۲۸﴾ وَ كُرِهَ صَوْمُ يَوْمٍ أَوْ يَوْمَيْنِ مِنْ آخِرِ شَعْبَانَ او مکروه ده د یوې ورځې یا دوو ورځو روژه په آخر د شعبان کي وَلَا يَكْرُهُ مَا فَوْقَهُمَا او له دوو ورځو څخه بالا مکروه نه دي.

تشریح: په دې مسئله کي څه تفصیل دی او هغه دا دی چي د کوم چا د روژې د عادت والا ورځې د شعبان په آخري دوو ورځو کي واقع سي (مثلاً د یو چا عادت دا وي چي هره پنجشنبه روژه نیسي. بیا د شعبان ۲۹ یا ۳۰ د پنجشبې ورځ سي، یا مثلاً د یو چا عادت د هري میاشتي په آخره ورځ روژه نیول وي) نو د داسې کس په حق کي په دې ورځو کي روژه نیول مطلقاً مکروه نه دي، او کوم څوک چي څه عادت نه لري. نو د هغه لپاره د شعبان په آخري یوه ورځ یا دوو ورځو کي روژه نیول مکروه تنزیهي دی او له دوو څخه په زیاتو روژو نیولو کي دا کراهت هم نسته، یعني که څوک د شعبان آخري درې یا څلور ورځې یا تر دې زیاتي ورځې روژې نیسي، نو د هغه لپاره بېله کراهته دا جائز دي (او د دې وجه دا کېدلای سي چي ممانعت او کراهت اصلاً په هغه روژه کي دی کوم چي د احتیاط په غرض سره ونیول سي یعني چي کېدلای سي دا آخري ورځ به د رمضان وي [نو احتیاطاً روژه ونیسي] او احتیاط عموماً په یوه او دوو ورځو سره کېږي یعني د احتیاط په غرض سره صرف په آخري ورځ یا آخري دوو ورځو کي روژه نیول کېږي، لهذا که څوک تر دې زیات وخت روژه نیسي، نو د هغه اجازه به وي: ځکه چي د منع او کراهت علت مفقود سو). (شفاء الارواح، انوار الایضاح)

په یو الشک کي تر زواله پوري د انتظار کولو حکم او د خواصو او عوامو لپاره حکم

﴿۱۰۲۹﴾ وَيَأْمُرُ الْمُفْتِي الْعَامَّةَ بِالتَّلَوُّمِ يَوْمَ الشَّكِّ او د شک په ورځ به مفتي و عامو خلکو ته (اول) د انتظار حکم کوي ثُمَّ بِالْإِفْطَارِ إِذَا ذَهَبَ وَقْتُ النِّيَّةِ وَلَمْ يَتَعَيَّنِ الْحَالُ بیا به د روژې ماتولو (حکم ورته کوي) کله چي د نیت وخت ولاړ سي او هیڅ حال متعیّن نه سي وَيَصُوْمُ فِيْهِ الْمُفْتِيْ وَالْقَاضِيْ وَ مَنْ كَانَ مِنَ الْخَوَاصِّ او روژه دي ونیسي (د نفلو په نیت سره) په دې ورځ مفتي او قاضي او څوک چي له خواصو (خاصو خلکو) څخه وي وَهُوَ مَنْ يَتَمَكَّنُ مِنْ ضَبْطِ نَفْسِهٖ عَنِ التَّرْدِيْدِ فِي النِّيَّةِ وَ مُلَاحَظَةِ كَوْنِهٖ عَنِ الْفَرْضِ او خاص هغه دی کوم چي قدرت لري د خپل نفس (زړه) پر قابو کولو له مترڈد کېدلو څخه په نیت کي او (قدرت لري د خپل نفس پر قابو کولو) له لحاظ کولو څخه د دې روژې کېدلو له فرضي روژې څخه ایا په بله وینا، د دې نفلي روژې له

فرضي روژې کېدلو د لحاظ کولو شخه ا (يعني خواص هغه دي چي په نيت کي له تردد شخه پر خپل نفس قابو او کنټرول لري او په زړه کي د دې خبري لحاظ او تصور هم نه کوي چي که سبا ورځ د رمضان وه، نو دا مي د رمضان روژه ده. يا په لنډه وينا دا چي کوم چا ته د روژې د تفصيلي مسئلې علم او خبر وي، نو هغه له خواصو شخه دی).

لغات: ﴿العامّة﴾ عام خلک، عوام، جاء القومُ عامّةً: ټوله خلک راغلل. ﴿التلوّم﴾ د تفعّل د باب مصد دی: انتظار کول (تر آخر وخته پوري انتظار کول)، درنګ او توقف کول. ﴿يتمکن﴾ د تفعيل د باب مضارع معلومه ده، کله چي د دې باب په صله کي مِنْ راسي، نو معنیٰ يې ده: پر يو شي قادر کېدل، قدرت لرل. ﴿ضبط﴾ د نصر د باب مصدر دی: په قابو کي راوستل، کنټرولول. ﴿ملاحظة﴾ د مفاعلې د باب مصدر دی: لحاظ کول، خيال ساتل.

تشريح: د عبارت حاصل دا دی چي په يوم الشک کي دي مفتي وعامو خلکو ته فتویٰ ور کړي چي د زوال تر وخته پوري هغوی له خوراک، څښاک، جماع او داسي نورو ممنوعاتو شخه منع سي، که چيري تر زواله پوري د مياشتي ليدلو خبر راسي او ثابت سي، نو هغوی دي د رمضان د روژې نيت وکړي او روژه دي پوره وکړي، او که هغه ثابت نه سي او لمر زوال سي، نو بيا دي د افطار فتویٰ ور کړي چي اوس دي هغوی خوراک او څښاک وکړي او روژه دي نه نيسي.

ويصوم فيه المفتي إلخ: د دې حاصل دا دی چي مفتي، قاضي او خواص دي په يوم الشک کي (د عوامو په پټه) روژه ونيسي او دا د هغو لپاره مستحب دي، واجب نه دي (عمدة الفقه)، او د عوامو لپاره په دې ورځ روژه نيول مکروه دي، له خواصو شخه مراد هغه خلک دي کوم چي د نيت پر استحکام قادر وي. په تردّد کي واقع نه سي (يعني چي په يومُ الشک کي خالص د نفلي روژې نيت وکړي بغير له دې چي په شک او تردد کي واقع سي او په زړه کي دا خيال او تصوّر نه راولي چي که سبا ورځ د رمضان سوه نو بيا مي دغه روژه د رمضان ده. نه نفلي. نو داسي کس له خواصو شخه دی. او که دا خبره پکښي نه وي، نو هغه له عوامو شخه دی)، لنډه دا چي مفتي، قاضي او خواص دي په يوم الشک کي د نفلو په نيت سره روژه ونيسي، د دې لپاره چي پر احتياط عمل وسي؛ ځکه په يو الشک کي دا احتمال خو سته چي دا دي د رمضان ورځ وي (کما ذکرنا)، بيا که اتفاقاً دا ورځ د رمضان اوله ورځ سي، نو دا روژه يې فرض ګرځي (خو دا ضروري ده چي دا روژه د نفلو په نيت سره ونيول سي. د رمضان هيڅ تصوّر نه وي او همدا د خاص او عام معيار دی. کوم کس چي د نفلو پوخ نيت کولای سي. هغه خاص دی. او که نيت يې پوخ نه وي دا خيال يې وي چي که رمضان سو، نو روژه به مي د رمضان وي، هغه عام دی. او د عوامو په پټه به يې ځکه نيسي لئلا يتهم بالعصيان باب کتاب الصوم احاشيه ا). (شفاء الارواح، انوار الايضاح)

د يوه کس د مياشتي ليدلو حکم او د هغه لپاره د روژې حکم

﴿۱۰۲۰﴾ وَمَنْ رَأَىٰ هِلَالَ رَمَضَانَ أَوِ الْفِطْرِ وَحْدَهٗ او څوک چې يوازې (تنها) ووينې د رمضان يا کوچني اختر مياشته وَرُدَّ قَوْلُهٗ او د هغه قول رد کړی سي (ګواهي يې نه ومنل سي) لَزِمَهُ الصِّيَامُ نو (خپله) پر هغه روژه نيول لازم دي وَلَايَجُوْزُ لَهُ الْفِطْرُ او د هغه لپاره روژه خوړل جائز نه دي بِتَيَقُّنِهٖ هِلَالَ شَوَّالٍ د شوال د مياشتي په يقين سره هم (يعني که څه هم د ده دا يقين دی چې دا د شوال مياشته ده) وَإِنْ أَفْطَرَ فِي الْوَقْتَيْنِ او که روژه وخوري په دواړو وختونو کي (يعني د رمضان يا د شوال د مياشتي تر ليدلو وروسته...) قَضٰى وَلَا كَفَّارَةَ عَلَيْهِ نو قضاء دي راوړي او پر هغه کفاره نشته وَلَوْكَانَ فِطْرُهٗ قَبْلَ مَا رَدَّهُ الْقَاضِيْ که څه هم د ده روژه خوړل (نه نيول) د قاضي له رد کولو څخه مخکي وي فِي الصَّحِيْحِ د صحيح قول مطابق.

تشريح: د عبارت حاصل دا دی چې که تنها يو مسلمان د رمضان يا اختر مياشته ووينې او قاضي په يوه وجه د هغه ګواهي قبوله نه کړي مثلاً آسمان (مطلع) صفا وي چې په دې صورت کي د يوه کس ګواهي مقبوله نه ده، نو په دې وجه يې قبوله نه کړي، نو خپله پر داسي کس په دغه دېرشمه د شعبان او په دېرشمه د رمضان روژه نيول واجب دي او د اختر د مياشتي د ليدلو باوجود د هغه لپاره روژه پرېښوول جائز نه دي، لېکن بعضي فرمايي چې روژه دي نه نيسي، خو د خلکو مخ ته دي يې نه خوري.

وإن أفطر إلخ: يعني که دا کس (کوم چې د رمضان او شوال مياشته) ليدلې ده روژه ونيسي او ماته يې کړي، حال دا چې قاضي د ده ګواهي رد کړې ده، نو پر ده صرف قضاء واجبېږي، کفاره نه لازمېږي.

ولوكان إلخ: يعني که څه هم قاضي تر اوسه د ده ګواهي رد کړې نه وي، تر هغه مخکي روژه ماته کړي، نو هم صرف قضاء خو بالاتفاق واجب ده، لېکن د کفارې په واجبېدلو کي د مشايخو اختلاف دی. بعضي فرمايي چې په دې صورت کي کفاره واجبېږي، خو صحيح دا ده چې کفاره نه واجبېږي.

که آسمان (مطلع) صفا نه وي، نو څه حکم دی؟

﴿۱۰۲۱﴾ وَإِذَا كَانَ بِالسَّمَاءِ عِلَّةٌ مِنْ غَيْمٍ أَوْ غُبَارٍ أَوْ نَحْوِهٖ او کله چې په آسمان کې یو علت وي یعني وریځ یا ګرز (ګرد) یا داسې بل علت (مِنْ بیانیه دی) قُبِلَ خَبَرُ وَاحِدٍ عَدْلٍ أَوْ مَسْتُوْرٍ فِي الصَّحِيْحِ نو قبلول کیږي به (د رمضان لپاره) د یوه عادل کس خبر یا د پټ حاله (نامعلومه) کس خبر د صحیح قول مطابق وَلَوْ شَهِدَ عَلٰى شَهَادَةِ وَاحِدٍ مِثْلِهٖ که څه هم ګواهي یې ورکړې وي هغه د ځان په څېر د یوه (عادل) کس پر ګواهۍ وَلَوْ كَانَ أُنْثٰى أَوْ رَقِيْقًا أَوْ مَحْدُوْدًا فِيْ قَذْفٍ تَابَ او که څه هم هغه (یو کس) ښځه وي یا داسې کس وي چې د قذف (زنا د تهمت) په وجه پر هغه حدّ جاري سوی وي کوم چې (اوس) یې توبه کړې وي لِرَمَضَانَ د رمضان لپاره (به قبلول کیږي).

لغات: ﴿غيم﴾ وریځ (وریځه)، جمع: غُيُوْمٌ، ﴿مَحْدُوْد﴾ د نصر له بابه مفعول دی: هغه څوک چې د یو جرم په سزا کې حدّ پر جاري سوی وي، ﴿الْقَذَف﴾ د زنا تهمت (تور)، له محدود في القذف څخه هغه کس مراد دی چې پر یو چا د زنا تهمت ولګوي خو هغه ثابت نه کړی سي چې د هغه په وجه حدّ (شرعي سزا) ورکول سي، مثلاً یو څوک پر بل چا په دروغه تهمت ولګوي چې ده زنا کړې ده او بیا خپل تهمت ثابت نه کړی سي او دروغجن ثابت سي، نو پر داسې کس حدّ جاري کیږي کوم چې اتیا (۸۰) دُرې دي او بله سزا یې دا ده چې د آینده لپاره به د ده ګواهي نه قبلول کیږي، خو که توبه وکړي، نو په دیني اُمورو کې د ده روایت یا خبر قبلول کېدلای سي، څرنګه چې د رمضان د میاشتې ګواهي هم یو دیني امر دی، نو ځکه په دې کې به هم د هغه ګواهي قبلول کیږي. ﴿شهد علٰى شهادة﴾ دې ته "شهادة على الشهادة" وایي، یعني شاهد (ګواه) د یو عذر په وجه خپله د قاضي مخ ته نه سي حاضرېدلای او د یو بل چا مخ ته شهادت (ګواهي) ورکړي چې هغه دا شهادت د قاضي مخ ته پېش کړي، نو په دې صورت کې که څه هم په نورو احکامو کې دوه نارینه یا یو نارینه او دوې ښځې ګواهان ضروري دي چې د شاهد له طرف به دوی ګواهي پېشوي، خو د رمضان د میاشتې په شهادت کې دوه ضروري نه دي، صرف یوه هم کافي دی.

تشریح: که آسمان صفا نه وي، بلکي وریځ یا ګرز یا دود او اسي نور د آسمان په څنډه (افق) کي غورېدلي وي چي میاشته نه لیدل کیږي، نو په دې صورت کي د یوه عادل یا مستورُ الحاله کس ګواهي کافي ده چي د رمضان د میاشتي په لیدلو کي به قبلول کیږي.

عدل: په معنیٰ سره د عادل دی، د عادل کېدلو ادنیٰ درجه کوم چي په دې باب کي شرط ده دا ده چي کبیره ګناهونه نه کوي او پر صغیره ګناهونو ټینګار نه کوي او له بې ځایه او داسي کارونو څخه ځان ساتي کوم چي د مړاني خلاف وي (یعني خلافِ مروّت کارونه نه کوي).

مستور: له مستور څخه مراد هغه کس دی چي د هغه حالت پټ او نا څرګنده وي یعني په ښکاره نېک معلومیږي او د هغه نور حالت او باطني حالت نه معلومیږي چي بدکاره دی او که نېک، نو صحیح دا ده چي د داسي کس به هم ګواهي قبلول کیږي.

ولو شهد علی شهادة إلخ: یعني بل څوک ګواهي ورکړي چي زما مخ ته فلانکي کس د میاشتي لیدلو ګواهي ورکړه چي ما په خپلو سترګو میاشته لیدلې ده، نو دا ګواهي به هم قبلول کیږي او میاشته په ثابتیږي، مثلاً کوم چا چي میاشته لیدلې وي هغه مریض وي یا یو بل سخت عذر لري او د قاضي مجلس ته نه سي حاضرېدلای نو دیو بل چا مخ ته ګواهي ورکړي د دې لپاره چي هغه دا ګواهي د قاضي په مجلس کي ورکړي، نو د دې یوه کس ګواهي هم مقبوله ده، برابره ده آزاد وي او که غلام وي. سړی وي او که ښځه یا محدود في القذف وي.

﴿۱۰۴۲﴾ وَلَا يُشْتَرَطُ لَفْظُ الشَّهَادَةِ وَلَا الدَّعْوىٰ او شرط نه دي لفظ د شهادت (اشهدُ) ویل او نه (شرط دي) دعویٰ کول.

تشریح: د عبارت حاصل دا دی چي د ګواهي ورکونکي کس لپاره د ګواهي (شهادة) په لفظ سره ګواهي ورکول شرط او ضروري نه دي چي مثلاً په عربي کي به "أَشْهَدُ" وایي یا په پښتو کي به "زه ګواهي ورکوم" یا "زه شاهدي ورکوم" وایي، دا شرط نه دي، همدارنګه د میاشتي لیدلو په ګواهي کي دعویٰ هم شرط نه ده چي د قاضي په مجلس کي به له مخکي څخه د میاشتي لیدلو دعویٰ شروع وي یا به دعویٰ پېشول کیږي، بیا به ګواهي پېشول کیږي، دا شرط نه دي، بلکي ګواه به بغیر له څه دعوې څخه ګواهي پېشوي.

هسي خو په نورو مسئلو کي د قاضي په مجلس کي یو ګواهي هغه وخت پیشول کیږي کله چي مخکي یو دعویٰ سوې وي او پېشه کړل سوې وي، لېکن د میاشتي په ثبوت کي دعوې ته څه

ضرورت نسته چي مخکي به دعویٰ وي. بلکي بغير له دعوې څخه او بغير له لفظ شهادت څخه د شاهد ګواهي مقبوله ده (همدا وجه ده که د قاضي مخ ته محض يو څوک ګواهي پېش کړي او يو بل څوک هلته د ده ګواهي واوري او دئ په ظاهره عادل وي. نو پر سامع واجب دي چي روژه ونيسي. که څه هم قاضي تر اوسه حکم او فيصله نه وي کړې، هغه ته ضرورت نسته).

د اختر د مياشتي حکم

﴿۱۰۴۳﴾ وَشُرِطَ لِهِلَالِ الْفِطْرِ إِذَا كَانَ بِالسَّمَاءِ عِلَّةٌ او شرط دي د اختر د مياشتي لپاره کله چي وي پر آسمان يو علت لَفْظُ الشَّهَادَةِ مِنْ حُرَّيْنِ أَوْ حُرٍّ وَحُرَّتَيْنِ بِلَا دَعْوىٰ (شرط دي) لفظ د شهادت کوم چي به د دوو آزادو کسانو يا د يوه آزاد کس او دوو ښځو له طرفه (ويل سوی) وي بغير له دعوې څخه (يعني دعویٰ په دې صورت کي هم شرط نه ده).

تشريح: مخکي د رمضان د مياشتي په هکله تفصيل بيان سو، او س دلته د کوچني اختر د مياشتي په هکله تفصيل بيانوي، مسئله دا ده که د رمضان په نهه ويشتمه (۲۹) آسمان صفا نه وي، بلکي وريځ يا ګرز او داسي نور وي، نو د اختر د مياشتي په ثبوت کي د دوو سړيو يا د يوه سړي او دوو ښځو شهادت ضروري دی، د يوه کس ګواهي کافي نه ده، او د دې ګواهانو آزاد والی هم ضروري دی چي دوی به آزاد وي، همدارنګه د شهادت په لفظ سره ګواهي ورکول هم ضروري دي. مثلاً په عربي کي "أَشْهَدُ" ويل يا په بله ژبه کي د دې په معنیٰ سره جمله ويل مثلاً په پښتو کي "زه ګواهي ورکوم" يا "زه شاهدي ورکوم" (يا پېشوم)، خو په دې ګواهي کي هم دعویٰ شرط نه ده.

که آسمان (مطلع) صفا وي، نو څه حکم دی؟

﴿۱۰۴۴﴾ وَإِنْ لَّمْ يَكُنْ بِالسَّمَاءِ عِلَّةٌ او که پر آسمان هيڅ علت نه وي (روڼ صفا وي) فَلَا بُدَّ مِنْ جَمْعٍ عَظِيمٍ لِرَمَضَانَ وَالْفِطْرِ نو چاره نسته د يو لوی جماعت (له ګواهی) څخه د رمضان او اختر لپاره (يعني په دې صورت کي د رمضان او اختر دواړو د مياشتي لپاره د ډېرو خلکو ګواهي ضروري ده) وَمِقْدَارُ الْجَمْعِ الْعَظِيمِ مُفَوَّضٌ لِرَأْيِ الْإِمَامِ فِي الْأَصَحِّ او د لوی جماعت مقدار د امام رايي ته سپارل سوی دی، په صحيح ترين قول کي.

لغات: ﴿مفوّض﴾ د تفعيل له بابه مفعول دی: ور سپارل سوی، فَوَّضَ يُفَوِّضُ تَفْوِيْضًا: يو چا ته يو شی سپارل. يو چا ته په يو معامله کي د تصرف اختيار ورکول.

تشریح: مسئله دا ده چي که آسمان صفا وي یعني داسي وریځ، یا ګرز، یا دود نه وي کوم چي د میاشتي په لیدلو کي حائل او مانع وي، خو بیا هم د ښار او علاقې خلګ میاشته نه ویني، نو په داسي صورت کي د رمضان او اختر د میاشتي لپاره صرف د دوو، دریو ګواهانو ګواهی لره اعتبار نسته چي موږ په دې علاقه یا ښار کي میاشته لیدلې ده. بلکي په دې صورت کي د یو لوی جماعت ګواهي ضروري ده کوم چي له مختلفو اطرافو څخه راغلي وي او هر یو په خپل ځای کي د میاشتي لیدلو ګواهي ورکړي چي د یو سازښت او پلان جوړولو احتمال پاته نه سي. لوی جماعت یعني داسي زیات خلګ چي پر هغو دا خیال نه سي کېدلای چي دومره لوی جماعت به دروږغ وایي او د څه سازښت احتمال نه سي کېدلای، یا په بله وینا دومره لوی جماعت چي قاضي ته د هغو په ګواهی سره یقین حاصل سي چي واقعي دوی میاشته لیدلې ده. د داسي جماعت د شمېر په باره کي د فقهاؤ مختلفه اقوال دي، بعضو پنځوس (۵۰) شمېر بیان کړی دی، او بعضو ویلي دي چي له هر مسجد څخه یو، دوه کسه کېدل پکار دي، خو صحیح دا ده چي شرعاً څه خاص شمېر متعیّن نه دی، په څومره شمېر سره چي دا یقین حاصل سي چي دا ټول نو دروږغ نه سي ویلای، بس هغه شمېر کافي دی، برابره ده پنځوس وي او که تر دې کم یا زیات وي. (درس ترمذی ج: ۲، ص: ۵۲۶)

د یوه کس د ګواهی حکم

﴿۱۰۳۵﴾ وَإِذَا تَمَّ الْعَدَدُ بِشَهَادَةِ فَرْدٍ او کله چي (د د پرشو ورځو) شمېر پوره سي د یوه کس په ګواهی سره وَلَمْ يُرَ هِلَالُ الْفِطْرِ (خو بیا هم) د اختر میاشته نه ولیدل سي وَالسَّمَاءُ مَصْحِيَّةٌ حال دا چي آسمان (هم) صاف وي لَا يَحِلُّ لَهُ الْفِطْرُ نو د هغه یوه کس لپاره (هم) روژه خوړل روا نه دي.

لغات ﴿ولم يُر﴾ د فتح له بابه د جحد مجهول (نفي جحد بلم در فعل مستقبل) صیغه ده، مصدر: رَأيًا: لیدل.

﴿مصحية﴾ د مفعول صیغه ده: روښه ورځ چي په آسمان کي هیڅ وریځ نه وي، مصحية پر وزن د مرمية په اصل کي مصحوية وو، واو او یاء سره جمع سوه او له هغوی څخه اول ساکن وو. واو یې په یاء سره بدل کړی او بیا یې یاء په یاء کي مدغم کړه او د حاء ضمه یې د یاء په مناسبت سره په کسره بدله کړه مَصْحِيَةٌ سو.

تشریح: د عبارت مطلب دا دی چي که د رمضان د میاشتي په باره کي صرف یوه کس ګواهي ورکړې وه او د هغه یوه ګواه پر ګواهی قاضي فیصله کړې وي، اوس د هغه ګواهی او فیصلې مطابق د رمضان د پرش (۳۰) روژې پوره سوې، خو بیا هم د آسمان د صفا والي باوجود په یو د پرشمه شپه

میاشته نه ولیدل سوه، نو په دې صورت کې اختر جوړول صحیح نه دي. بلکې را وانه ورځ یو دېرشمه روژه به نیول کیږي. او قاضي ته دا حق سته چې پر هغه ګواه مقدمه وچلوي او سزا ور کړي. (انوار الایضاح. شفاء الارواح)

﴿۱۰۲۶﴾ وَاخْتَلَفَ التَّرْجِيْحُ فِيْمَا إِذَا كَانَ بِشَهَادَةِ عَدْلَيْنِ او ترجیح مختلفه سوې ده (یعنې د قول راجح په تعیین کې یې اختلاف سوی دی) په هغه صورت کې کله چې د دوو عادلو کسانو په ګواهۍ سره (د رمضان فیصله سوې) وي.

تشریح: مخکې د یوه کس د ګواهۍ حکم ذکر سو، اوس دلته دا بیانوي چې که د دوو عادلو کسانو په ګواهۍ سره د رمضان فیصله سوې وي او بیا د رمضان د دېرشو روژو تر پوره کېدلو وروسته هم میاشته نه ولیدل سي او آسمان هم صفا وي، نو په دې صورت کې اختلاف دی. یو قول دا دی چې په را روانه ورځ اختر جوړول صحیح دي او دویم قول دا دی چې اختر به نه جوړول کیږي. بعضو اول قول راجح ګرځولی دی او بعضو بیا دویم قول ته راجح ویلي دي. (شفاء الارواح. انوار الایضاح)

د آسمان (مطلع) نه صفا کېدلو د یو صورت حکم

﴿۱۰۲۷﴾ وَلَا خِلَافَ فِيْ حَلِّ الْفِطْرِ إِذَا كَانَ بِالسَّمَاءِ عِلَّةٌ او اختلاف نسته د اختر (روژه خوړلو) په حلال کېدو کې (چې دېرش ورځې پوره سي) کله چې پر آسمان یو علت وي وَلَوْ ثَبَتَ رَمَضَانُ بِشَهَادَةِ الْفَرْدِ که څه هم رمضان د یوه کس په ګواهۍ سره ثابت سوی وي.

لغات: ﴿فَرد﴾ د انسان وغیره یو شخص، تن، کس.

تشریح: د عبارت حاصل دا دی چې که د یوه کس پر ګواهۍ یا د دوو کسانو پر ګواهۍ رمضان ثابت سوی وو، بیا د رمضان د دېرشو روژو تر پوره کېدلو وروسته پر آسمان د وریځې یا د داسې بل علت په وجه په یو دېرشمه ورځ میاشته نه ولیدل سوه، نو په دې صورت کې بالاتفاق را روانه ورځ اختر جوړول صحیح دي. (شفاء الارواح)

د لوی اختر د میاشتې حکم

﴿۱۰۲۸﴾ وَهِلَالُ الْأَضْحٰى كَالْفِطْرِ او د لوی اختر میاشته د کوچني اختر (د میاشتې) په څېر ده.

تشریح: د لوی اختر (عید الاضحیٰ) د میاشتې حکم د کوچني اختر د میاشتې په څېر دی. یعنې د آسمان د ناصفا والي په حالت کې (یعنې چې پر آسمان وریځ یا داسې بل علت وي) د دوو سړیو یا د یوه سړي او

دوو ښځو په ګواهۍ سره دلوی اختر میاشته ثابتیږي، او د دې ګواهانو آزاد والی او محدود فی القذف نه کېدل شرط دي (لکه مخکي چي د دې وضاحت وسو) او د آسمان (مطلع) د صفا والي په حالت کي دلوی جماعت ګواهي شرط ده (شفاء الارواح)

له رمضان او اختر څخه وروسته د نورو میاشتو حکم

﴿١٠٢٩﴾ وَيُشْتَرَطُ لِبَقِيَةِ الْأَهِلَّةِ شَهَادَةُ رَجُلَيْنِ عَدْلَيْنِ او شرط دي د نورو میاشتو لپاره د دوو عادلو سړیو ګواهي أَوْ حُرٍّ وَحُرَّتَيْنِ غَيْرِ مَحْدُوْدَيْنِ فِيْ قَذْفٍ یا د یوه آزاد سړي او دوو آزادو ښځو ګواهي چي پر هغوی د تهمت په وجه حد نه وي جاري سوی

لغات: ﴿أهلّة﴾ جمع د هِلَالٌ ده: نوې میاشته (نوې سپوږمۍ). د اولو درو شپو (٣) سپوږمۍ ته هِلال وایي. وروسته بیا قَمَر ورته وایي، ﴿محدودین﴾ تثنیه د مَحْدُودٌ ده د نصر له بابه مفعول دی: هغه څوک چي د یو جرم په سزا کي حدّ باندي جاري سوی وي. ﴿قَذَف﴾ د ضرب د باب مصدر دی: پر یو چا د زنا تهمت (نور) لګول. د یو خبري تهمت باندي لګول. د محدود فی القذف وضاحت مخکي وسو چي هغه کس څني مراد دی چي پر یو چا د زنا تور ولګوي خو هغه ثابت نه کړی سي چي د هغه په وجه حدّ (شرعي سزا) ورکول سي.

تشریح: د عبارت حاصل دا دی چي د رمضان او اخترونو له میاشتي څخه بغیر په پاتو نهو (٩) میاشتو کي که آسمان صفا نه وي، نو د میاشتي د ثبوت لپاره د دوو سړیو یا د یوه سړي او دوو ښځو ګواهي کافي ده، په دې شرط چي د ګواهانو اوصاف په دوی کي موجود وي، او که آسمان (مطلع) صفا وي، نو بیا د میاشتي د ثبوت لپاره مجمع عظیم شرط دي یعني دومره خلک چي د هغوی په ګواهي سره ذا یقین حاصل سي چي واقعي دوی میاشته لیدلې ده. او بو قول دا دی چي برابره ده آسمان صفا وي او که نه وي د دې میاشتو د ثبوت لپاره د دوو سړیو یا د یوه سړي او دوو ښځو ګواهي کافي ده، ځکه د دې میاشتو د تلاش او کتني په عامه تو ګه اهتمام نه کول کیږي. دا قول علامه خیر الدین رملي رحمه الله بیان کړی دی. (خو اول قول ظاهر روایت دی او همدا اصح دی) (انوار الایضاح شفاء الارواح)

د اختلاف مطالع بیان

﴿۱۰۵۰﴾ وَإِذَا ثَبَتَ فِيْ مَطْلَعِ قُطْرٍ او کله چي د یو علاقې په مطلع کي (میاشته) ثابته سي لَزِمَ سَائِرَ النَّاسِ فِيْ ظَاهِرِ الْمَذْهَبِ نو پر ټولو خلکو لازمیږي، د ظاهر مذهب مطابق وَعَلَيْهِ الْفَتْوٰى وَأَكْثَرُ الْمَشَائِخِ او پر همدې فتوی ده او (پر همدې) زیاتره مشایخ دي.

لغات: ﴿مطلع﴾ (د سپوږمۍ او لمر) د راختلو ځای، مكان الطلوع. جمع: مطالع ﴿قُطْرٍ﴾ د دې لفظ څو معناوي نقل سوي دي: ناحیه، طرف، علاقه (په اکثره اُردو شروحاتو کي یې د علاقې اسمي معنیٰ سوې ده)، اقلیم (یعني د مختلفو ښارونو او آبادیو مجموعه کوم چي په خاص نوم سره مشهوره وي). قيل القطر لجملة من البلاد والنواحي تتميز باسم خاص، جمع: أَقْطَار. (المعجم الوسيط [illegible])

تشریح: په دې عبات کي د اختلافِ مطالع بیان دی. نو تاسي اختلافِ مطالع او د هغه حکم وپېژنئ! مَطَالِع جمع د مَطْلَع ده چي د هغه معنیٰ ده: د راختلو ځای. څرنګه چي ځمکه (دنیا) ګردې ده، نو ځکه سپوږمۍ او لمر د دنیا په هر طرف کي په جلا، جلا وخت کي راخېږي او پټېږي. اوس پاته سوه دا خبره چي اختلافِ مطالع معتبر دی، که نه؟، د معتبر کېدلو مطلب یې دا دی چي په هر طرف او هر ملک کي د هغه ځای لیدلو (رؤیت) لره اعتبار دی او د یوه طرف او ملک لیدل (رؤیت) د بل ځای لپاره معتبر او کافي نه دي، او د اختلافِ مطالع د نه معتبر کېدلو مطلب دا دی چي ټوله دنیا یو مطلع ده، نو په کوم طرف او ځای کي چي هم میاشته (سپوږمۍ) ولیدل سي، نو هغه به هر ځای منل کیږي یعني چیري چي په معتبره ذریعه سره د میاشتي لیدلو خبر ورسیږي، هلته به منل کیږي (د مثال په توګه که اختلافِ مطالع معتبر نه ومنل سي، نو بیا مثلاً په سعودي کي که د رمضان میاشته ولیدل سوه او بیا دا خبر ټولي دنیا ته د ټلیفون، معتبر ټلوېژون او داسي نورو په ذریعه ورسېدی. نو ټوله دنیا به یې روژه کوي). پخوا راجح قول دا وو چي اختلافِ مطالع معتبر نه دی خو صرف بعضي حضراتو هغه معتبر ګڼلو مثلاً په احنافو کي امام قدوري او امام زیلعي او بعضي شوافعو او داسي نورو. لېکن په څلور سره فقهو کي فتویٰ پر همدې خبره وه چي اختلافِ مطالع معتبر نه دی بلکي د یوه ځای د میاشتي د لیدلو اطلاع چي په معتبره ذریعه هر ځای ورسیږي. د هغه منل او د هغه مطابق عمل کول ضروري دي، لکه څرنګه چي مصنف رَحِمَهُ الله په عبارت کي همدا خبره بیان کړې ده لېکن کله چي په دې آخر وخت کي د خبر ذرائع (رسنۍ) پراخه سول چي اوس په دوو، دریو دقیقو کي د دنیا د یوه کونج خبر بل کونج ته رسیږي او په ورځ. دوو ورځو کي انسان پر ټوله ځمکه را ګرځېدلای سي نو به دې آخر کي

د علماؤ فتوىٰ بدله سوه، که څه هم بعضي حضرات اوس هم د پخواني رايي قائل دي چي اختلاف مطالع معتبر نه دی، خو په دې زمانه کي د نهه نيوي فيصده (۹۹٪) علماؤ رايه دا ده چي اوس په ممالک بعيده (ليري سره پراته هيوادو) کي اختلاف مطالع معتبر دی (يعني که په يوه ملک کي مثلاً د اختر مياشته وليدل سوه لېکن له هغه ځخه په ليري ملک کي مياشته نه وليدل سوه نو په دې ليري ملک کي نه سي اختر کېدلای) خو په ممالک قريبه کي اختلاف مطالع معتبر دی، اوس د ممالک بعيده او ممالک قريبه تر مينځ فرق څه دی؟. نو په آسانه وينا د دوی تر مينځ فرق دا دی چي د کومو ملکونو او ځايونو د مياشتي تاريخ چي همېشه يا اکثره يو ډول وي (يعني چي په ټولو کي د مياشتي ليدلو تاريخ او شپه يوه وي) نو داسي ځايونه ممالک قريبه دي، لکه سعودي او افغانستان يو د بل سره ممالک قريبه دي، او پاکستان، هندوستان او بنګله ديش يو د بل سره ممالک قريبه دي، او د کومو ملکونو او ځايونو تاريخونه چي همېشه يا اکثره يو د بل سره مختلف وي، لکه پاکستان او هندوستان د سعودي سره، نو داسي ځايونه ممالک بعيده دي، نو په دې اعتبار سره د افغانستان رؤيت د پاکستان او هندوستان لپاره معتبر نه دی او د پاکستان رؤيت د هندوستان لپاره معتبر او کافي دی (ځکه چي دوی ممالک قريبه دي). (تحفة الالمعي ج:۲. ص:۶۳. الدر المنضود ج:۴. ص:۱۸۴. ايضاح المسائل ص:۷۹ بحوالهٔ انوار الايضاح)

(او صاحب د شفاء الارواح د ممالک بعيده او ممالک قريبه تر مينځ فرق داسي بيان کړی دی چي کوم ملکونه چي دومره سره ليري وي چي که په دوی کي اختلاف مطالع معتبر نه ومنل سي نو د دوی تر مينځ دوې ورځي فرق راځي؛ ځکه په بعضي ملکو کي د مياشتي رؤيت اکثره له نورو ملکونو ځخه يوه، دوې ورځي مخکي هم واقع کېږي، نو دا ممالک بعيده دي او اختلاف مطالع پکښي معتبر دی؛ ځکه مثلاً که په داسي ليري ملکو کي هم اختلاف مطالع معتبر نه ومنل سي، نو په يوه ملک کي به مياشته پوره دېرش ورځي سي او په دې بل ليري ملک کي به اته وېشت (۲۸) ورځي سي. چي په شريعت کي د دې هيڅ نظير نسته (بحوالهٔ عمدة الفقه و درس ترمذی))

* * *

د "ثمرة النجاح" تشريح

صاحب د ثمرة النجاح (مولانا ثمير الدين قاسمي حفظه الله) د مذکوره عبارت تشريح په لاندي توګه کړې ده (کوم چي د نورو شروحو له تشريحاتو ځخه څه مختلفه ده):

واذا ثبت في مطلع قطر الخ: که د يو ملک (هيواد) په يوه ښار کي په شرعي دلائلو سره مياشته ثابته سي، نو په ټوله ملک کي د مياشتي منل ضروري دي؛ د دې لپاره چي په همدې يوه ملک کي دوه اخترونه يا دوه رمضانونه واقع نه سي؛ ځکه دا اجتماعي شيان دي (چي ټوله خلک به يې پر يوه ځای تانموي). مثلاً که د هندوستان په يوه ښار مثلاً په "دهلي" کي مياشته ثابته سي، نو په ټوله هندوستان کي همدا تاريخ کېدل پکار دي. لېکن پاکستان جلا ملک دی؛ نو ځکه هلته به دا (رؤيت)

نه نافذیږي، هغوی به خپل رؤیت کوي، بیا به نافذیږي، یا به هغوی دا یقین حاصلوي چې د هندوستان رؤیت صحیح دی او پر هغه به خپله فیصله صادروي، بیا به نافذیږي، لیکن شرط دا دی چې صحیح رؤیت وي، د دروغو ګواهي نه وي، اوس زمانه په ټوله نړۍ کې صورت حال دا دی چې له ټولو قرائنو څخه معلومه سي چې میاشته پر آسمان نسته (یعني په قرائنو سره دا څرګنده سي چې تر اوسه میاشته دلمره ده، په وجو کې راغلې نه ده)، لیکن دوی دروغجنې ګواهی پیښې کړي او په هغه سره میاشته ثابته کړي. دې میاشتې لره هیڅ اعتبار نسته. (ثمرة النجاح شرح اردو نور الایضاح، ج: ٢، ص: ١٩٠)

د ورځې د میاشتې لیدلو حکم

﴿١٠٥١﴾ وَلَا عِبْرَةَ بِرُؤْيَةِ الْهِلَالِ نَهَارًا او اعتبار نسته په ورځ کې د میاشتې لیدلو لره (یعني د ورځې میاشته لیدل معتبر نه دي) سَوَاءٌ كَانَ قَبْلَ الزَّوَالِ أَوْ بَعْدَهُ برابره ده تر زوال مخکې وي او که تر هغه وروسته وي وَهُوَ اللَّيْلَةُ الْمُسْتَقْبِلَةُ فِي الْمُخْتَارِ او دا (لیدل سوې میاشته) د راتلونکې شپې ده، د مختار روایت مطابق.

تشریح: صورت د مسئلې دا دی چې که مثلاً دا اختر میاشته قبل الزوال ولیدل سي او که بعد الزوال، په دواړو صورتونو کې د دې ورځې په حق کې دا رؤیت معتبر نه دی او په دواړو صورتونو کې روژه ماتول صحیح نه دي او د ماتولو په صورت کې قضاء او کفاره پر هغه واجب دي، برابره ده قبل الزوال یې ماته کړي او که بعد الزوال، په هر حال کې ممنوع دي او دا میاشته به د را رواني شپې میاشته شمېرل کیږي، دا د طرفینو (امام صاحب او امام محمد) رَحِمَهُمَا الله قول دی، همدا مختار او مفتیٰ به قول دی. (انوار الایضاح)

❀ ❀ ❀

بَابُ مَا لَا يُفْسِدُ الصَّوْمَ

(دا) باب د هغو شیانو (په بیان کي) دی کوم چي روژه نه فاسدوي (نه ماتوي)

په هېره خوراک، چښاک یا جماع کول

﴿۱۰۵۲﴾ وَهُوَ أَرْبَعَةٌ وَعِشْرُونَ شَيْئًا او هغه څلوریشت (۲۴) شیان دي (تقریبا) مَا لَوْ أَكَلَ أَوْ شَرِبَ أَوْ جَامَعَ نَاسِيًا (۱) څه شی که په هېره وخوري (۲) یا وڅیښي (۳) یا جماع (کوروالی) وکړي.

﴿۱۰۵۳﴾ وَإِنْ كَانَ لِلنَّاسِيْ قُدْرَةٌ عَلَى الصَّوْمِ او که هېرېدونکي (په هېره خوراک یا چښاک کونکي) لره په روژه باندي قدرت وي (یعني په هغه کي د روژه نیولو طاقت وي) يُذَكِّرُهُ بِهِ مَنْ رَآهُ يَأْكُلُ نو ور په یادوي به یې هغه کس کوم چي دئ ویني چي خوراک کوي (یعني کوم څوک چي دئ پر خوراک کولو ویني. هغه به خپل روژه ور په یادوي چي ستا روژه ده!) وَكُرِهَ عَدَمُ تَذْكِيْرِهِ او نه ور یادول یې مکروه دي وَإِنْ لَمْ يَكُنْ لَهُ قُوَّةٌ او که چیري ده لره (په روژه باندي) طاقت نه وي فَالْأَوْلَى عَدَمُ تَذْكِيْرِهِ نو بیا یې نه وریادول زیات ښه دي.

لغات: ﴿جَامَعَ﴾ د مفاعلې د باب ماضي ده، مصدر: مُجَامَعَةً و جِمَاعًا: جماع کول، کوروالی کول.

تشریح: صورت د مسئلې دا دی چي که روژتي په هېره خوراک یا چښاک یا جماع وکړي، نو په دې سره روژه نه ماتیږي او دا حکم هغه وخت دی کله چي د روژې یادېدلو په وخت کي سمدستي خوراک، چښاک او جماع پرېږدي یعني ګوله سمدستي له خولې څخه وغورځوي. له جماع څخه سمدستي جلا سي. لېکن که تر یادېدلو وروسته ګوله تېره کړي. یا له جماع څخه جلا نه سي، نو روژه یې فاسدیږي. بیا د ګولې تېرولو په صورت کي قضاء سته او د کفارې په وجوب کي اختلاف دی. او د جماع په صورت کي قضاء لازم ده او د ظاهر روایت مطابق کفاره لازم نه ده (عمد. ۱۵۵)

وان كان للناسي إلخ: كه يو روږتي په هېره خوراک يا څښاک كوي او بل څوک هغه ويني او ليدونكي ته دا اندازه ولګيږي چي دا روږتي قدرت او طاقت لري او په آساني سره خپل روژه پوره كولا سي، نو په داسي صورت كي هغه ته خبر وركول ضروري دي او خبر نه وركول يې مكروه تحريمي دي. خو كه دا روږتي داسي وي چي په روژه نيولو سره هغه ته د ضعف رسېدلو خطره وي او دليدونكي ګومان دا وي چي هغه په آساني سره دا روژه نه سي پوره كولای (مثلاً ډېر بوډا كس وي)، نو په داسي صورت كي يې خبر نه وركول ښه دي (او علامي زيلعي رحمه الله د دې تعبير داسي كړی دی چي كه په هېره خوراک يا څښاک كونكی كس ځوان وي، نو خبر وركول ضروري دي او كه بوډا وي، نو خبر نه وركول ښه دي). (شفاء الارواح، انوار الايضاح)

په نظر كولو سره انزال‌بدل، روغن لګول، په سترګو كي دواء اچول

﴿١٠٥٤﴾ أَوْ أَنْزَلَ بِنَظَرٍ أَوْ فِكْرٍ (۴) يا انزال سي په كتلو سره (۵) يا په خيال كولو سره (سوچ وهلو سره) وَإِنْ أَدَامَ النَّظَرَ وَالْفِكْرَ كه څه هم مسلسل كتل يا خيال كوي (يعني كه څه هم په مسلسل ډېرا كتلو يا ډېرا خيال كولو سره انزال سي، بيا يې هم روژه نه فاسديږي).

﴿١٠٥٥﴾ أَوِ ادَّهَنَ (۶) يا تېل (روغن) ولګوي.

﴿١٠٥٦﴾ أَوِ اكْتَحَلَ (۷) يا رانجه ولګوي (سترګي توري كړي) وَلَوْ وَجَدَ طَعْمَهُ فِيْ حَلْقِهٖ كه څۀ هم د هغه خوند په خپل حلق كي ومومندی (محسوس كړی).

لغات: ﴿ادّهن﴾ د افتعال د باب ماضي ده: روغن (تېل) لګول (ځان په غوړول)، په اصل كي اِدْدَهَنَ وو. د يوه جنس دوه حروفه په يوه كلمه كي سره جمع سوه، له هغوی څخه اول ساكن وو. نو يو يې په بل كي مدغم كړی. اِدَّهَنَ سو، ﴿اكتحل﴾ د افتعال د باب ماضي ده: رانجه لګول، سترګي تورول.

﴿طعم﴾ خوند. لذت. مزه.

تشريح. صورت د مسئلې دا دی چي كه د روژې په حالت كي نابېره د روږتي نظر پر يوه ښايسته ښځه پرېوځي او د كمزورۍ په وجه انزال سي، يا مثلاً د خپلي ښځي شرمګاه ته وګوري او انزال سي. يا د يو ښځي په باره كي خيال او فكر وكړي او انزال سي، نو په دې سره د هغه روژه نه فاسديږي (نه ماتيږي)، كه څه هم په دې فكر كي يې ډېر وخت لګولی وي، او د نامحرمه ښځي وطرف ته بار. بار كتل حرام دي، لېكن په دې حُرمت سره د روژې فاسدېدل نه لازميږي، او كه انزال نه سي، نو په درجهٔ اولیٰ روژه نه فاسديږي.

أو دَهن: پر بدن یا په سر او وربېتانو باندي د تېلو او روغنو په لګولو سره هم روژه نه فاسدیږي، که څه هم هغه خوشبوداره وي.

أو اكتحل إلخ: همدارګه په رانجه لګولو (سترګو تورولو) سره روژه نه فاسدیږي، که څه هم د رانجو اثر یعني خوند په حلق (ستوني) کي محسوس سي، یا د رانجو د تور والي اثر په نارو (لاړو) کي ولیدل سي. همدارنګه په سترګو کي په دواء اچولو سره هم روژه نه فاسدیږي، که څه هم د هغه خوند په حلق کي محسوس سي. (عمدة الفقه)

د روژې په حالت کي ښکر لګول، غیبت کول، د روژې ماتولو اراده کول، د یوشي دود یا ګرز یا مچ یا د دواء اثر ستوني ته ننوتل او محسوسول

﴿۱۰۵۷﴾ أَوِ احْتَجَمَ (۸) یا ښکر ولګوي.

﴿۱۰۵۸﴾ أَوِ اغْتَابَ (۹) یا غیبت وکړي.

﴿۱۰۵۹﴾ أَوْ نَوَى الْفِطْرَ وَلَمْ يُفْطِرْ (۱۰) یا (صرف) د افطار (روژې ماتولو) اراده وکړي او افطار نه وکړي.

﴿۱۰۶۰﴾ أَوْ دَخَلَ حَلْقَهُ دُخَانٌ بِلَا صُنْعِهِ (۱۱) یا د هغه حلق ته بغیر د هغه له فعل (کړني) څخه دود داخل سي.

﴿۱۰۶۱﴾ أَوْ غُبَارٌ وَلَوْ غُبَارَ الطَّاحُوْنِ (۱۲) یا ګرز (ور داخل سي) که څه هم د ژرندي ګرز وي.

﴿۱۰۶۲﴾ أَوْ ذُبَابٌ (۱۳) یا مچ (په حلق کي داخل سي).

﴿۱۰۶۳﴾ أَوْ أَثَرُ طَعْمِ الْأَدْوِيَةِ فِيْهِ وَهُوَ ذَاكِرٌ لِصَوْمِهِ (۱۴) یا د دوا ګانو د خوند اثر په حلق کي (داخل سي) په داسي حال کي چي هغه ته خپل روژه یاده وي.

لغات: ﴿احتجم﴾ د افتعال د باب ماضي ده: ښکر لګول. د ښکر یا د یو بلې آلې په ذریعه خرابه وینه کښل. ﴿اغتاب﴾ د افتعال د باب ماضي ده: غیبت کول.

تشریح: صورت د مسئلې دا دی چي د روژې په حالت کي په ښکر لګولو (وینه کښلو) سره روژه نه فاسدیږي. او که په ښکر لګولو سره د روژتي د کمزوري کېدلو خطره وي چي د روژې طاقت به پکښي پاته نه سي، نو بیا ښکر لګول (وینه کښل) مکروه دي.

أو اغتاب: دغیبت معنیٰ ده: په مسلمان پسې شاته (دهغه په پټه) داسې خبره کول چې که هغه یې واوري، نو بده به یې وګڼي او ناراضه به سي، (که چیري دا خبره په هغه مسلمان کې وي. او که نه وي نو دا خو بیا بهتان دی). مسئله دا ده چې دیو چا په غیبت کولو سره هم روژه نه فاسدیږي، خو دا د کمال صوم منافي دي او مکروه فعل دی او په دې سره ګنهګاره کیږي (ځکه غیبت ستره ګناه ده. خصوصاً د روژې په حالت کې).

أو نوی الفطر إلخ: یعني که یو څوک صرف د روژې ماتولو نیت او اراده وکړي او له نیت څخه بغیر بل څه روژه ماتونکی شی له هغه څخه واقع نه سي، نو صرف په نیت او اراده سره روژه نه ماتیږي. ها! که یو چا د روژې ماتولو پخه اراده کړې وي، نو که څه هم روژه خو یې نه ماتیږي. لېکن ګنهګاره کیږي. (مراقی الفلاح)

أو دخل حلقه إلخ: یعني که د روژتي حلق (ستوني) ته بغیر د هغه له قصد او ارادې څخه د یو شي دود ننوځي، یا د یو شي ګرز (غبار) او داسې بل شی د هغه حلق ته ننوځي او تېر سي. نو په دې سره هم روژه نه ماتیږي، برابره ده د هغه خپل روژه په یاده وي او که نه وي، او دا حکم هغه وخت دی کله چې د روژتي له فعل او قصد څخه بغیر خودبخوده حلق ته داخل سي او که روژه یې په یاده وي او په خپل فعل او قصد سره هغه له دې شیانو څخه یو شی حلق ته ننه کړي مثلاً سګرېټ یا بېړی وڅکوي. یا مثلاً یو خوشبوداره بوټی (یا کورټی وغیره) ولګوي او د هغه دود قصداً په پزه کش کړي. نو د هغه روژه فاسدیږي. (شفاء الارواح)

أو ذباب إلخ: همدارګه که مچ بېله قصده د روژتي ستوني ته ننوځي او نس ته یې ورسیږي. نو په دې سره هم د هغه روژه نه ماتیږي.

أو أثر طعم إلخ: د دې صورت دا دی چې که یو څوک د روژې په حالت کې یو درمل او دواء وکوټي او د هغه اثر (خوند) په حلق کې محسوس کړي، نو که څه هم هغه ته خپل روژه په یاده وي، نو بیا هم په دې سره روژه نه فاسدیږي، همدارنګه د خوشبویي په بویولو سره هم روژه نه ماتیږي.

د روژې په حالت کې جنب کېدل، د ذکر (یا فرج) په سوري کې یو شی اچول، په غوږ او به ننوتل

﴿۱۰۶۴﴾ أَوْ أَصْبَحَ جُنُبًا (۱۵) یا د جنابت په حالت کې سهار کړي وَلَوِ اسْتَمَرَّ يَوْمًا بِالْجَنَابَةِ که څه هم ټوله ورځ په جنابت کې تېره کړي.

﴿۱۰۶۵﴾ أَوْ صَبَّ فِي إِحْلِيلِهِ مَاءً أَوْ دُهْنًا (۱۶) یا وڅڅوي د خپل ذکر په سوري کې او به (۱۷) یا تېل (پکښې وڅڅوي).

﴿١٠٦٦﴾ أَوْ خَاضَ نَهْرًا فَدَخَلَ الْمَاءُ أُذُنَهُ (١٨) یا غوټه ووهي په واله (ویاله) کې نو د هغه غوږ ته اوبه ننوځي.

لغات: ﴿صبّ﴾ د نصر د باب ماضي ده: بیول (بهول)، اوبه اچول. ﴿إحلیل﴾ د متیازو د وتلو سوری: جمع: أَحَالِیْل، ﴿خاض﴾ د نصر د باب ماضي ده، خَوْضًا، د دې باب له معناوو څخه یو معنیٰ ده: په اوبو ننوتل او پکښې تلل یا په بله ربنا غوټه پکښې وهل.

تشریح: صورت د مسئلې دا دی چې که څوک د شپې جنب سي (هغه که د ښځې سره د جماع کولو په وجه وي او که د احتلام په وجه وي) او هغه روژه ونیسي او تر صبح صادق وروسته غسل وکړي، نو دا صحیح دي او په دې جنابت سره روژه نه ماتیږي که څه هم ټوله ورځ د جنابت په حالت کې باندې تېره سي، ځکه جنابت د روژې منافي نه دی، لیکن بېله عذره قصداً غسل ځنډول مکروه دي، او که د روژې په حالت کې احتلام سي (یعني په خوب کې یې شیطان خطا باسي)، نو هم یې روژه نه ماتیږي. (انوار الایضاح، شفاء الارواح)

أو صبّ إلخ: که روژتي د خپل ذکر په سوري کې اوبه، تېل یا دواء یا داسې بل شی واچوي، نو په دې سره **هغه** روژه نه ماتیږي (په دې شرط چې د هغه مثانې ته نه ورسیږي [هندیة ج:١، ص:٢٠٤])، او که ښځه داسې وکړي، نو سملستي د هغې روژه ماتیږي. (انوار الایضاح، شفاء الارواح)

مسئله: که د مرض د تشخیص یا د حمل د اندازې کتلو لپاره ښځه ډاکټره د یو ښځې شرمګاه (فرج) ته لاس ننه کړي، نو د دې دوه صورتونه دي: ① که لاس بالکل وچ وي چې پر هغه د اوبو یا دواء څه اثر نه وي، نو روژه یې نه ماتیږي، ② او که لوند لاس یا په دواء یا داسې بل څه ککړ لاس ور ننه کړي، نو روژه یې ماتیږي. (عالمګیري ج:١، ص:٢٠٢)

أو خاض إلخ: که روژتي په واله (ویاله) یا داسې بل شي کې غوټه ووهي او د هغه په غوږ اوبه ننوځي، نو روژه یې نه ماتیږي. لیکن که څوک (قصداً) په غوږ کې اوبه واچوي، نو د یوه قول مطابق روژه یې ماتیږي. لهذا احتیاط ضروري دی. (انوار الایضاح بحوالهٔ طحطاوي)

د روژې په حالت کې غوږ ګرول... او ګروبی (خراشکې) یا د خولې اوبه تېرول

﴿١٠٦٧﴾ أَوْ حَكَّ أُذُنَهُ بِعُوْدٍ فَخَرَجَ عَلَيْهِ دَرَنٌ (١٩) یا خپل غوږ په یو لرګي (چخله) سره وګروي نو پر هغه (د غوږ) خیره را ووځي ثُمَّ أَدْخَلَهُ مِرَارًا إِلَى أُذُنِهِ بیا هغه لرګی بیا، بیا په خپل غوږ ننه کړي.

﴿۱۰۶۸﴾ أَوْ دَخَلَ أَنْفَهُ مُخَاطٌ (۲۰) یا ده پزي ته کرنګ راسي فَاسْتَنْشَقَهُ عَمْدًا أَوِ ابْتَلَعَهُ نو دئ هغه قصدًا (دخولې استوني اخوا ته) کش کړي، یا یې تېر کړي وَيَنْبَغِي إِلْقَاءُ النُّخَامَةِ او مناسب ده د ګروبي بهر غورځول (ثوکل) حَتَّى لَا يَفْسُدَ صَوْمُهُ عَلَى قَوْلِ الْإِمَامِ الشَّافِعِيِّ رَحِمَهُ اللهُ د دې لپاره چې د ده روژه فاسده (ماته) نه سي د امام شافعي رَحِمَهُ الله د قول مطابق.

لغات: ﴿حَكَّ﴾ د نصر د باب ماضي ده: ګرول، مږل. ﴿مخاط﴾ کرنګ، د پزي بلغمي ماده. ﴿استنشق﴾ په پزي کشول (په پزه کي خېژول)، ﴿ابتلع﴾ د افتعال د باب ماضي ده، په مجردو کي د فتح له بابه راځي، بَلَعَ يَبْلَعُ بَلْعًا: تېرول، ﴿النخامة﴾ ګروبي (ګرروبي)، له سینې یا خیشوم څخه راوتلي بلغم (خراشکي).

تشریح: صورت د مسئلې دا دی چې که څوک د روژې په حالت کي د خپل غوږ دننه حصه په لرګي (چخلي) یا داسي بل شي سره وګروي او د غوږ دننه خیره را وباسي بیا دا لرګی (چغله) بار بار په غوږ دننه کړي (لکه عموما چې یې خلک کوي)، نو په دې سره هم روژه نه فاسدیږي.

أو دخل أنفه إلخ: د دې حاصل دا دی چې که څوک د روژې په حالت کي ګروبی وغیره تېر کړي، یا یې قصدًا لوړ کش کړي، نو په دې سره هم روژه نه ماتیږي، وروسته مصنف رَحِمَهُ الله فرمایي چې مناسب دا ده چې د تېرولو پر ځای ګروبی وغیره وتوکل سي (وغورځول سي)، د دې لپاره چې د امام شافعي رَحِمَهُ الله له اختلاف څخه ووځي؛ ځکه د هغه په نېز د دې شیانو په تېرولو سره روژه ماتیږي. او د امامانو د اختلاف پر موقع د خپل وس مطابق د دوی د مذهب رعایت کول مستحب دي. د دې لپاره چې روژه بالاتفاق د ټولو په نېز صحیح پاته سي. (انوار الایضاح، شفاء الارواح)

❀ ❀ ❀

مسئله: له خولې څخه پیدا سوی لونډوالی او ناړي (لاړي) تېرول هم د روژه ماتونکي نه دي، همدارنګه کله چې هغه له خولې څخه راووځي لېکن تر اوسه لاندي ځځېدلي او جلا سوي نه وي چې بیرته یې د خولې وطرف ته کش کړي، نو په دې سره هم روژه نه ماتیږي، او که لاندي وڅڅیږي بیا یې تېري کړي، نو روژه ماتیږي. (مراقي الفلاح بتغیر)

د روژې په حالت کي قی وهل

﴿۱۰۶۹﴾ أَوْ ذَرَعَهُ الْقَيْءُ وَعَادَ بِغَيْرِ صُنْعِهِ (۲۱) او یا ده ته خپله قی راسي او بیرته دده له فعل څخه بغیر خپله واپس (تېر) سي (نو روژه یې نه فاسدېږي) وَلَوْ مَلَأَ فَاهُ که څه هم د ده خوله ډکه کړي (یعني که څه هم دا قی په ډکه خوله وي) فِي الصَّحِيْحِ په صحیح قول کي أَوِ اسْتَقَاءَ أَقَلَّ مِنْ مِلْءِ فِيْهِ (۲) یا قصداً قی ووهي له ډکي خولې څخه کم (نو هم یې روژه نه فاسدېږي) عَلَى الصَّحِيْحِ د صحیح قول مطابق وَلَوْ أَعَادَهُ که څه هم بیرته یې واپس (تېر) کړي فِي الصَّحِيْحِ په صحیح قول کي.

لغات: ﴿ذرعه﴾ قی غالبه کېدل او خولې ته راتلل (بې اختیاره قی راتلل)، خواګرځی کېدل، ﴿صنع﴾ کوښښ، کار (فعل)، ﴿استقاء﴾ د استفعال د باب ماضي ده: د قي طلب کول، یعني قصداً قی وهل، ﴿ملء فیه﴾ په ډکه خوله، فِيْه دلته د فَمٌ د جرّ حالت دی او د ه ضمیر روژتي ته راجع دی.

تشریح: په دې عبارت کي مصنف رَحِمَهُ الله د روژې په حالت کي د قي وهلو حکم بیانوي، مسئله دا ده چي که خود بخوده (بلا قصده) قی راسي او بیا خپله وګرځي او تر ستوني تېر سي، نو برابره ده هغه په ډکه خوله وي او که کم وي، په داسي صورت کي د هغه روژه د صحیح قول مطابق نه فاسدېږي.

أو استقاء إلخ: یعني که قصد له ډکي خولې څخه کم قی ووهي، نو په دې صورت کي هم روژه نه فاسدېږي، که څه هم قصداً یې بیرته وګرځوي او تېر یې کړي د صحیح قول مطابق. دا حکم د امام ابویوسف رَحِمَهُ الله په نیز دی. لیکن د امام محمد رَحِمَهُ الله په نیز که قصداً له ډکي خولې څخه کم قی ووهي. نو روژه یې فاسدېږي، همدارنګه که قی قصداً تېر کړي، نو د امام محمد رَحِمَهُ الله په نیز یې روژه فاسدېږي. برابره ده قی لږ وي او که ډېر. (شفاء الاواح)

فایده: صاحب د البحر الرائق علامه ابن نجیم رَحِمَهُ الله په "البحر الرائق" کي دوولس (۱۲) صورتونه بیان کړي دي چي تفصیل یې دا دی چي قی به یا خپله راغلی وي یا قصداً به وهل سوی وي. په دواړو صورتونو کي به په ډکه خوله وي یا به نه وي، بیا له دوی څخه په هر صورت کي به دا قی بهر وتلی وي یا خپله به تېر سوی وي یا قصداً به یې تېر کړی وي، نو دا ټوله دوولس (۱۲) صورتونه

جوړيږي، صاحب د البحر الرائق رَحِمَهُ الله فرمايي چي له دې ټولو څخه صرف په دوو صورتونو کي روژه ماتيږي: يو دا چي په ډکه خوله وي او روژتي قصداً هغه بيرته تېر کړی وي. دويم دا چي قصداً په ډکه خوله يې قی وهلی وي، له دې دوو څخه بغير په بل صورت کي روژه نه فاسديږي. (طحطاوي، درسِ ترمذی)

له نخود څخه د کم مقدار حکم

﴿۱۰۷۰﴾ أَوْ أَكَلَ مَا بَيْنَ أَسْنَانِهِ وَكَانَ دُوْنَ الحِمَّصَةِ (۲۳) يا وخوري هغه څه (د خوراک ذره) کوم چي د غاښو په مينځ کي (پاته) وي او هغه له نخود څخه کم وي (نو هم يې روژه نه فاسديږي).

﴿۱۰۷۱﴾ أَوْ مَضَغَ مِثْلَ سِمْسِمَةٍ مِنْ خَارِجٍ فَمِهِ حَتّٰى تَلَاشَتْ (۲۴) يا وژووي ديوې کونجتي غوندي شی (کوم چي يې) له بهر څخه د خولې (وخولې ته دننه کړی وي) تر دې چي (په خوله کي) سره ختم سي وَلَمْ يَجِدْ لَهَا طَعْمًا فِيْ حَلْقِهِ او نه وموندي د هغه خوند په خپل حلق کي (يعني په ستوني کي يې خوند محسوس نه کړي).

لغات: ﴿الحِمَّصَة﴾ او الحِمِّصَة د "مُشدّد ميم" په فتحه او کسره سره: يو نخود، ﴿مضغ﴾ د فتح د باب ماضي ده: ژوول، ﴿سمسمة﴾ يوه کونجته، ﴿تلاشت﴾ د تفاعل د باب مضارع ده: لا شی کېدل، بالکل ختمېدل.

تشريح: صورت د مسئلې دا دی چي که د روژتي په غاښو کي د غوښو يو ريښه يا د يو بل خوراک ذره بنده وي او روژتي هغه ريښه يا ذره په ژبه سره وښوروي او په خوله کي يې وژووي او تېره يې کړي، نو ريښه او ذره که د نخود تر مقدار کمه وي، نو روژه نه فاسديږي، "دون الحمصة" يعني تر نخود کم (کوچنی)، لهذا که د نخود تر مقدار زيات شی وي، نو روژه فاسديږي، همدارنګه د نخود تر مقدار کم شی که يو وار له خولې څخه راوباسي، بيا يې بيرته تېر کړي، نو هم روژه فاسديږي.

أو مضغ مثل الخ: همدارنګه که روژتي کونجته يا د کونجتي په څېر بل کوچنی شی خولې ته واچوي او ويې ژوبي تر دې چي په خوله کي سره ختم (سره ولاړ) او ورک سي يعني په غاښونو، وريو او ژبه کي ومښلي او هلته سره ختم سي او د هغه خوند په حلق کي محسوس نه سي، نو په دې سره هم روژه نه فاسديږي (ځکه چي د ژوولو په وجه د کونجتي دانه بالکل ختمه سوه او تر معدې پوري نه ورسېده)، او که د هغه خوند په حلق کي محسوس سي يا روژتي دا شی تېر کړي، نو روژه فاسديږي، ځکه مصنف رَحِمَهُ الله "أو مَضَغَ" ويلي دي. لهذا که خولې ته يې واچوي او له ژوولو څخه بغير يې تېر کړي، نو هم روژه فاسديږي. (عمدة الفقه، طحطاوي)

❀ ❀ ❀

بَابُ مَا يَفْسُدُ بِهِ الصَّوْمُ وَتَجِبُ بِهِ الْكَفَّارَةُ مَعَ الْقَضَاءِ

دا باب د هغو شیانو (په بیان کي) دی چي په هغوی سره روژه
فاسدیږي (ماتیږي) او د هغوی په وجه قضاء د کفارې سره واجبیږي

د کومو شیانو په جه قضاء او کفاره دواړه واجبیږي؟

﴿۱۰۷۲﴾ وَهُوَ اِثْنَانِ وَعِشْرُوْنَ شَيْئًا او هغه دوویشت (۲۲) شیان دي (تقریبا) إِذَا فَعَلَ الصَّائِمُ شَيْئًا مِنْهَا طَائِعًا مُتَعَمِّدًا غَيْرَ مُضْطَرٍّ کله چي روژتي (روژه نیونکی) له هغوی څخه یو شی په خپله رضاء قصداً وکړي په داسي حال کي چي غیرِ مجبوره وي (یعني د هغه په کولو باندي مجبوره نه وي) لَزِمَهُ الْقَضَاءُ وَالْكَفَّارَةُ نو پر هغه قضاء او کفاره (دواړه) لازمیږي.

لغات: ﴿طائعًا﴾ د فاعل صیغه ده: راضي (په خپله رضاء سره)، په خپله خوښه. مختار (په اختیار سره). ﴿متعمدًا﴾ د تفعل له بابه د فاعل صیغه ده: قصداً کونکی، ﴿مضطر﴾ د افتعال د له بابه د مفعول صیغه ده: مجبور (مجبوره کړی سوی)، محتاج کړی سوی، ﴿کفّارة﴾ (بتشدید الفاء) لغتاً د گناه پټونکې (د گناه محوه کونکې)، اصطلاحاً: داسي تصرّف (یعني غلام آزادول. یا روژې نیول. یا صدقه کول او داسي نور) کوم چي شریعت د معیّني گناه د محوه کېدلو لپاره واجب کړی دی، یا په بله وینا شریعت چي د گناه له سزا څخه د خوندي کېدو لپاره کوم بدل تجویز کړی دی لکه روژه نیول، یا غلام آزادول، یا مسکینانو ته خوراک ورکول، هغه ته کفّاره وایي.

تشریح: په کومو شیانو سره چي روژه ماتیږي، هغه پر دوه قسمه دي: ① یو هغه دي چي د هغوی په وجه صرف قضاء لازمیږي. ② او دویم هغه شیان دي چي د هغوی په وجه قضاء او کفاره دواړه لازمیږي، د روژې د فاسدېدلو (ماتېدلو) په وخت کي خو قضاء په هر صورت کي واجبیږي، او د قضاء سره کفاره په یو څو خاصو صورتونو کي واجبیږي او دا هلته وي چي په هغوی کي د روژه ماتونکي کس فعل عمداً (قصداً) وي او په خپله رضاء سره وي، دیو چا په جبر او اکراه سره نه وي. لهذا که یو څوک د مرض وغیره په وجه. یا د یو چا د جبر او اکراه په وجه مضطرّ او مجبوره سي روژه ماته کړي، نو کفاره نه لازمیږي، مثلاً یو جابر کس روژتي تهووایي چي که ته دا شی نه وخوري! نو زه تا وژنم یا ستا لاس، غوږ یا داسي نور در پرېکوم، او روژتي هغه وخوري، نو په دې صورت کي صرف قضاء سته، کفاره نسته. (شفاء الارواح)

﴿۱۰۷۳﴾ وَ هِيَ الْجِمَاعُ فِيْ أَحَدِ السَّبِيْلَيْنِ (۱) او هغه جماع کول دي په یوه د دوو لارو (قبل یا دبر) کي عَلَى الْفَاعِلِ وَ الْمَفْعُوْلِ بِهٖ (نو په دې کي کفاره هم واجبیږي) پر فاعل او مفعول (دواړو).

تشریح: صورت د مسئلې دا دی چي که روژتي قصداً جماع وکړي. برابره ده په فرج کي وي کوم چي "محلِ حلال" دی او که په مقعد کي وي کوم چي "محلِ حرام" دي. نو پر هغه قضاء او کفاره دواړه واجبیږي، برابره ده انزال سي او که نه سي؛ ځکه د کفارې واجبېدو لپاره صرف ادخال شرط دی. انزال شرط نه دی، او د کوم چا سره چي یې جماع کړې ده یعني مفعول، که هغه په راضي وي (یعني په خپله خوښه یې جماع ور سره کړې وي)، نو پر هغه هم کفاره واجبیږي. (شفاء الارواح)

﴿۱۰۷۴﴾ وَالْأَكْلُ وَالشُّرْبُ (۲) او خوراک او څښاک کول سَوَاءٌ فِيْهِ مَا يُتَغَذّٰى بِهٖ أَوْ يُتَدَاوٰى بِهٖ برابر دي په دې کي هغه شیان چي په هغوی سره غذا حاصلول کیږي یا په هغوی سره دواء (علاج) کول کیږي.

لغات: ﴿یتغذیٰ﴾ د تفعّل له بابه مضارع مجهوله ده: غذا حاصلول، او غذا د خوراک او څښاک هغه شي ته وایي چي د هغه وطرف ته د طبیعت رغبت وي او د نس خواهش په هغه سره پوره کیږي لکه د غنمو ډوډۍ، غوښې، او به، ﴿یتداویٰ﴾ د تفاعل له بابه مضارع مجهوله ده: تداوي کول، دواء او علاج کول.

تشریح: صورت د مسئلې دا دی چي که روژتي د غذا یا دواء په توګه یو شی قصداً وخوري یا وڅیښي، نو پر هغه قضاء او کفاره دواړه واجبیږي. له غذا څخه مراد داسي شی دی چي طبیعت د هغه خوړلو ته راغب وي او په هغه سره د نس خواهش پوره کیږي، مثلاً د غنمو، اُوربشو یا داسي نورو ډوډۍ وخوري، یا شیدې او داسي نور وڅیښي، او له دواء څخه مراد داسي شی دی چي په هغه سره د بدن اصلاح او روغتیا کیږي. (شفاء الارواح)

﴿۱۰۷۵﴾ وَابْتِلَاعُ مَطَرٍ دَخَلَ إِلٰى فَمِهٖ (۳) او د باران (څاڅکی) تېرول کوم چي د ده خولې ته ننوتلی وي.

لغات: ﴿ابتلاع﴾ د افتعال د باب مصدر دی: تېرول (تر ستوني تېرول).

تشریح: صورت د مسئلې دا دی چي که روژتي قصداً خوله خلاصه کړي او د باران قطره یعني څاڅکی تېر کړي، نو قضاء او کفاره دواړه لازمیږي، او که بغیر له قصده د باران څاڅکی د هغه خولې

ته ننوځي او تر ستوني تېر سي، نو صرف قضاء سته (واوره او ژلۍ هم په دغه حکم کي داخل دي). (شفاء الارواح)

﴿١٠٧٦﴾ وَاَكْلُ اللَّحْمِ النَّيِّءِ (۴) او اُومې غوښي خوړل إِلَّا إِذَا دَوَّدَ مګر دا چي غوښي چینجي کړي وي (یعني چي ورستې سوي او چینجي پکښي پیدا سوي وي).

لغات: ﴿النيء﴾ اوم، اللحم النيء: اومه غوښه کوم چي په اُور نه وي پخ کړل سوې. ﴿دَوَّد﴾ د تفعیل د باب ماضي ده: چینجي (چینجیان) کول، چینجي پکښي پیدا کېدل.

تشریح: صورت د مسئلې دا دی چي د روژې په حالت کي د اُومو غوښو په خوړلو سره هم قضاء او کفاره دواړه لازمېږي، لېکن که غوښي ورستې سوي وي او چینجي یې کړې وي، نو د هغه په خوړلو سره صرف قضاء واجبېږي، کفاره نه واجبېږي؛ ځکه داسي غوښي له غذائیت څخه وتلي دي، د غذا معنیٰ پکښي نسته، بلکي اوس به هغه بدن ته نقصان رسونکي وي او په هغه سره به د بدن اصلاح نه کېږي. (شفاء الارواح)

﴿١٠٧٧﴾ وَأَكْلُ الشَّحْمِ (۵) او وازګه خوړل (هم قضاء او کفاره دواړه واجبوي) فِي اخْتِيَارِ الْفَقِيْهِ أَبِي اللَّيْثِ د فقیه ابو اللیث رَحِمَهُ الله په اختیار کړی سوي قول کي.

﴿١٠٧٨﴾ وَقَدِيْدِ اللَّحْمِ بِالْاِتِّفَاقِ (۶) او وچي غوښي (خوړل هم قضاء او کفاره دواړه واجبوي) په اتفاق سره.

لغات: ﴿الشحم﴾ وازګه (وازده)، ﴿قديد﴾ ټوټه کړل سوې غوښي چي مالګه پرې اچول سوې او وچي کړل سوي وي.

تشریح: د عبارت حاصل دا دی چي که روژتي وازګه (وازده) وخوري، نو د کفارې په لازمېدلو کي اختلاف دی، فقیه ابو اللیث رَحِمَهُ الله فرمایي چي کفاره هم واجبېږي، همدا صحیح او مختار قول دی.

او د وچو غوښو په خوړلو سره بالاتفاق کفاره هم واجبېږي؛ ځکه چي غوښي عادتاً همداسي خوړل کېږي.

﴿١٠٧٩﴾ وَأَكْلُ الْحِنْطَةِ وَقَضْمُهَا (۷) او غنم خوړل (۸) او د هغوی ژوول (په غاښو میده کول) إِلَّا أَنْ يَمْضَغَ قَمْحَةً فَتَلَاشَتْ مګر دا چي یو غنم (یوه دانه) وژووي او هغه (په خوله کي) سره ختم (سره ولاړ) سي.

لغات: ﴿حنطة﴾ غنم، جمع: حِنَطٌ، ﴿قضم﴾ مصدر دی، له ضرب او سمع دواړو بابونو څخه راځي: د غاښو په اطرافو یوشی میده کول (یا په بله وینا ژوول)، ﴿یمضغ﴾ د مضارع صیغه ده. له فتح او نصر دواړو بابونو څخه راځي، ژوول، ﴿قمحة﴾ د غنمو یوه دانه، ﴿تلاشت﴾ د تفاعل له بابه د واحد مؤنث غائب ماضي معلومي صیغه ده: لاشی کېدل، بالکل ختمېدل او ورکېدل.

تشریح: د عبارت حاصل دا دی چي که روژتي غنم وخوري یا هغوی په غاښو سره میده کړي او ویې خوري، نو هم قضاء او کفاره دواړه واجببږي، لېکن که د غنمو یوه دانه خولې ته واچوي او ویې ژووي، خو هغه کوچنۍ وي او په خوله کي سره ولاړه او ختمه سي (یعني په غاښو. وریو او ژبه کي ذره. ذره پاته سي) او دننه حلق ته ولاړه نه سي او نه یې خوند په حلق کي محسوس سي، نو په دې صورت کي د هغه روژه نه ماتیږي او قضاء او کفاره نه لازمیږي. (شفاء الارواح، انوار الایضاح)

﴿۱۰۸۰﴾ وَابْتِلَاعُ حَبَّةِ حِنْطَةٍ (۹) او د غنمو یوه دانه تېرول وَابْتِلَاعُ حَبَّةِ سِمْسِمَةٍ أَوْ نَحْوِهَا (۱۰) او د کونجتو یوه دانه یا داسي بل شی تېرول مِنْ خَارِجٍ فَمِهٖ له بهر څخه د خپلي خولې (یعني چي له دباندي څخه یې خولې ته اچولې وي، د خولې دننه دانه وي چي په خوله کي دننه په غاښو وغیره کي پاته وي، نو په دې سره هم قضاء او کفاره دواړه لازمیږي) فِي الْمُخْتَارِ د مختار (خوښ سوي) قول مطابق.

تشریح: فرمایي که روژتي د غنمو یوه دانه یا یوه کونجته یا داسي بله کوچنۍ دانه تېره کړي یعني له بهر (دباندي) څخه یې خولې ته واچوي او تېره یې کړي، نو مختار او مفتیٰ به قول دا دی چي په دې صورت کي هم قضاء او کفاره دواړه لازمیږي، که څه هم بعضي حضرات فرمايي چي کفاره نه لازمیږي. (شفاء الارواح، انوار الایضاح)

﴿۱۰۸۱﴾ وَأَكْلُ الطِّيْنِ الْأَرْمَنِيِّ مُطْلَقًا (۱۱) او ارمني خټه (خاوره) خوړل مطلقاً (یعني برابره ده د دې خاوري په خوړلو عادت اعادي اوي او که نه وي، په هر صورت کي پر هغه قضاء او کفاره دواړه واجببږي) وَالطِّيْنِ غَيْرِ الْأَرْمَنِيِّ كَالطَّفْلِ (۱۲) او له ارمني څخه بغیر بله خټه (خوړل) لکه طفل خټه إِنِ اعْتَادَ أَكْلَهٗ (په دې شرط) که د هغه په خوړلو عادت وي.

لغات: ﴿الطین الأرمنی﴾ دا یو ډول سره خاوره ده کوم چي په گلِ ارمني سره هم یادیږي، او دا په هغه تبه کي ډېره فایده کوي کوم چي د وُبا او طاعون په ورځو کي پیدا سي (شفاء الارواح)، ﴿اعتاد﴾ د

افتعال د باب ماضي ده: (په یو شي) عادت کېدل، عادي کېدل. ﴿الطِّـفْل﴾ د دې لفظ څو معناوې دي چي له هغوی څخه یوه معنیٰ ده: "یو ډول کلکه ژړه خټه" صاحب د معجم یې داسي تعریف کړی دی "طِینٌ أصفر یتجمد علی هَیْئَة رقائق بتأثیر ضغط مَا فَوْقه من صخور و تصبغ بِهِ الثِّیَاب" (یعني یو ډول کلکه ژړه خټه ده د پاڼو په څېر کوم چي دلویو ډبرو او پرېښو د تأثیر او بوج په وجه کلکه سوې وي او په هغه سره جامې رنګول کیږي)، او په پښتو کي یې بعضو د دې معنیٰ کړې ده "د خړو اوبو کرک".

تشریح: صورت د مسئلې دا دی چي که روژتي یو داسي خاوره او خټه وخوري کوم چي د درمل او دواء په توګه خوړل کیږي مثلاً "ارمني خاوره"، نو پر هغه هم کفاه واجبیږي. برابره ده هغه د دې خاوري په خوړلو عادت وي او که نه وي؛ ځکه چي دا د دواء په توګه خوړل کیږي. او له "ارمني خاوري" څخه بغیر بله خاوره هغه وخت د کفارې موجب ګرځي کله چي خوړونکی کس په هغه عادت (عادي) وي. کنې کفاره نه بلکي صرف قضاء واجبیږي. یعني د بې فایدې خاوري په خوړلو سره صرف قضاء واجبیږي. (شفاء الارواح)

﴿۱۰۸۲﴾ وَالْمِلْحِ الْقَلِیْلِ فِی الْمُخْتَارِ (۱۳) او لږ مالګه (خوړل) د مختار قول مطابق.

لغات: ﴿ملح﴾ مالګه، جمع: أملاح.

تشریح: فرمایي چي که روژتي لږ غوندي مالګه وخوي. نو قضاء او کفاره دواړه واجبیږي؛ ځکه زیاته مالګه نه د دواء په توګه خوړل کیږي او نه ورته رغبت او خواهش کیږي. لږ (قلیل) مقدار هغه دی کوم چي عادتاً په یوه دم خوړل کیږي (یعني په یوه ځل خوړل یې عادت وي). (انوار الایضاح، شفاء الارواح)

﴿۱۰۸۳﴾ وَابْتِلَاعُ بُزَاقِ زَوْجَتِهٖ أَوْ صَدِیْقِهٖ لَا غَیْرِ هِمَا (۱۴) او ناړي تېرول د خپلي ښځي (۱۵) یا (ناړي تېرول) د خپل ګران دوست، نه له دې دواړو څخه بغیر د بل چا.

لغات: ﴿ابتلاع﴾ د افتعال د باب مصدر دی: (تر ستوني) تېرول. ﴿بزاق﴾ ناړي (لاړي)، ﴿الصَدِیق﴾ (د صاد په فتحه او د دال په کسره سره): خالص محبت کونکی دوست، ریښتوني محبت والا ملګری. (معجم...)

تشریح: مسئله داده چي که روژتي د بل چا ناړي (ناړي) تیري کړي، نو روژه فاسدیږي او صرف قضاء لازمیږي، نه کفاره. همدارنګه که روژتي خپلي ناړي له خولې څخه بهر تو (تف) کړي او بیا یې په لاس را واخلي او تیري یې کړي، نو هم روژه فاسدیږي او صرف قضاء لازمیږي او کفاره نه لازمیږي. لېکن که روژتي د خپل خوښ کس مثلاً د خپلي ښځي یا د خپل خوښ ګران دوست ناړي تیري کړي؛ نو د قضاء سره کفاره هم لازمیږي؛ ځکه له هغه څخه د طبیعت نفرت نه کیږي او په هغه

سره لذت حاصلیږي، نو هغه د مُصلح بدن په حکم کي سو. او له نورو ناړو ځخه عموماً نفرت کول کیږي. (انوار الایضاح، شفاء الارواح)

۱۰۸۴ وَ أَكَلَهُ عَمَدًا بَعْدَ غِيْبَةٍ (۱۶) او قصداً خوراک کول تر غیبت کولو وروسته أَوْ بَعْدَ حَجَامَةٍ (۱۷) یا تر ښکر لګولو (وینه کښلو) وروسته أَوْ بَعْدَ مَسٍّ أَوْ قُبْلَةٍ بِشَهْوَةٍ (۱۸) یا تر مسه کولو (۱۹) یا مچولو وروسته په شهوت سره أَوْ بَعْدَ مُضَاجَعَةٍ مِنْ غَيْرِ إِنْزَالٍ (۲۰) یا تر پرېوتلو وروسته بغیر له انزالېدو ځخه أَوْ بَعْدَ دُهْنِ شَارِبِهِ (۲۱) یا د خپلو برېتو تر غوړولو وروسته ظَانًّا أَنَّهُ أَفْطَرَ بِذٰلِكَ په دې ګومان (خیال) کولو سره چي په دې شیانو سره یې روژه ماته سوه إِلَّا إِذَا أَفْتَاهُ فَقِيْهٌ مګر دا چي کله یو فقیه فتویٰ ورکړې وي أَوْ سَمِعَ الْحَدِيْثَ وَلَمْ يَعْرِفْ تَأْوِيْلَهُ عَلَى الْمَذْهَبِ یا یې حدیث اورېدلی وي او د هغه په تأویل نه وي پوهېدلی پر خپل مذهب وَإِنْ عَرَفَ تَأْوِيْلَهُ او که د هغه په تأویل پوه سوی وي (ورته معلوم وي) وَجَبَتْ عَلَيْهِ الْكَفَّارَةُ نو پر هغه کفاره واجبیږي.

لغات: ﴿قبلة﴾ مچه، جمع: قُبَلٌ و قُبُلَاتٌ، ﴿مضاجعة﴾ د مفاعلې د باب مصدر دی: یو د بل سره پرېوتل، بدن د بدن سره لګول، ﴿دهن﴾ تېل، روغن، جمع: أدهان، ﴿تأویل﴾ د تفعیل د باب مصدر دی: له ظاهري مطلب ځخه خبره اړول. (انوار الایضاح)

تشریح: د عبارت حاصل دا دی چي که روژتي د یو چا غیبت وکړي، یا ښکر ولګوي (وینه وباسي)، یا یو ښځه په شهوت سره مسه کړي، یا یې په شهوت سره مچه کړي، یا ور سره پرېوځي او په دې دریو صورتونو کي انزال نه سي، یا پر برېتو روغن ولګوي او روژتي دا ګومان وکړي چي په دې شیانو سره روژه ماتیږي نو په دې ګومان سره قصداً یو شی وخوري، نو قضاء او کفاره دواړه لازمیږي، لېکن که هغه له یو فقیه عالم ځخه پوښتنه وکړي او هغه فتویٰ ورکړي چي روژه دي ماته سوه او بیا هغه قصداً خوراک وکړي، نو صرف قضاء سته، کفاره نسته. او که هغه له یو مفتي ځخه پوښتنه نه وي

کړي بلکي هغه دا حديث اورېدلی وي چي "الغِيبَةُ تُفْطِرُ الصَّوْمَ" (غيبت روژه ماتوي) او همدارنګه بل حديث دی "أَفْطَرَ الْحَاجِمُ وَالْمَحْجُوْمُ" چي په ښکر لګولو سره د ښکر ورلګونکي او ورلګېدونکي دواړو روژه ماتيږي، نو روژتي د دې حديث پر ظاهر اعتماد کړی وي او د دې حديث په تفسير او تأويل پوه سوی نه وي او نه يې له بل چا څخه معلوم کړی وي (حال دا چي په دې ځای کي بالاجماع د روژې ماتېدلو تأويل په ثواب کمېدلو سره سوی دی يعني د حديث مطلب دا دی چي په داسي کولو سره د روژې اجر و ثواب کميږي، نه دا چي روژه يې ماتيږي)، نو په داسي صورت کي صرف قضاء سته، کفاره نسته. او که د حديث تأويل ور ته معلوم وي خو بيا هم خوراک يا څښاک وکړي، نو په دې صورت کي کفاره هم واجبيږي. (شفاء الارواح بحوالۀ درس ترمذی)

يادونه: د سفيان ثوري رَحِمَهُ الله په باره کي نقل سوي دي چي هغه په غيبت کولو سره د روژې فاسدېدلو قائل دی او جمهوره علماء د عدمِ فساد قائل دي.

د حديثونو تأويل: د غيبت د حديث تأويل خو ذکر سو چي په غيبت کولو سره د روژې ثواب کميږي (او بعضو ليکلي دي چي ثواب يې ختميږي)، او د ښکر لګولو په باره کي چي کوم حديث راغلی دی، د هغه مختلفه تأويلونه سوي دي: ① يو دا چي په "أفطر الحاجم والمحجوم" کي "أفطر" د "كَادَ أن يفطِرَ" په معنیٰ سره دی او مطلب يې دا دی چي په ښکر لګولو (وينه کښلو) سره د دواړو روژه ماتېدلو ته نژدې کيږي، د حاجم روژه په دې وجه چي هغه وينه راځېښي (ځکه مخکي به حجامه د ښکر په ذريعه کېدله چي حاجم به پر هغه خوله کېښوده او وينه به يې را کشوله)، نو حلق ته د وينې رسېدلو بېره سته، او د محجوم روژه په دې وجه چي د وينې وتلو په وجه هغه ته ضعف او کمزوري پېښېدلای سي چي د هغه په وجه د دواء خوړلو او روژې ماتولو بېره سته، ② بل تأويل يې دا سوی دی چي په "الحاجم والمحجوم" کي الف لام عهدي دی او مراد ځني هغه مخصوص کسان دي کوم چي د حجامت په دوران کي غيبت کوي، د دوی په باره کي نبي ﷺ کريم فرمايلي چي د دواړو روژه مات سوه يعني د دواړو د روژو ثواب ضايع سو، نو د ثواب ضايع کېدلو (ختمېدلو) علت حجامت نه سو، بلکي غيبت سو (شامي ج۲، ص۳۴۷)، ③ دريم تأويل دا چي "أفطر الحاجم والمحجوم" که څه هم جمله خبريه ده، خو په دې جمله کي انشاء مضمر ده او همدا انشاء مقصود ده. يعني نبي کريم ﷺ

خلکو ته دا مشوره ورکړې ده چي تاسي د روژې په حالت کي ښکر مه لګوئ او ممانعت شفقة وو، د حرمت په توګه نه وو؛ ځکه چي په دې سره روژتي ته ضعف او کمزوري رسيږي. (تحفة الألمعی ج: ۳، ص: ۱۴۸ بحوالهٔ انوار الايضاح)

﴿۱۰۸۵﴾ وَتجِبُ الْكَفَّارَةُ عَلٰى مَنْ طَاوَعَتْ مُكْرَهًا او (همدارنګه) کفاره واجبيږي پر هغه ښځي چي موافقت يې کړی وي د مجبوره کړل سوي سره (يا په بله وينا: چي [د جماع] قدرت يې ورکړی وي پر خپل ځان مجبوره کړل سوي سړي ته).

لغات: ﴿طاوعت﴾ د مفاعلې له بابه د واحد مؤنث غائب ماضي صيغه ده: طَاوَعَ يُطَاوِعُ مُطَاوَعَةً: موافقت ور سره کول، راضي کېدل او خبره ور سره منل پر خپل ځان (د جماع) موقع او قدرت ورکول.

﴿مكرهًا﴾ د افعال د باب مفعول دی: مجبوره کړل سوی، کوم چي بل چا په زوره (جبراً) پر يو شي مجبوره کړی وي.

تشريح: مسئله دا ده چي که يو چا روژتي ته مثلاً د مرګ يا د يو اندام پر پرېکولو دمکي ورکړه او مجبوره يې کړی چي د فلانکۍ ښځي سره جماع وکړه!، خو هغه ښځه په خپله خوښه او رضاء جماع ته اماده سوه (يعني هغه د يو چا له طرفه مجبوره نه کړل سوه)، نو په دې صورت کي صرف پر ښځي کفاره واجبيږي، نه پر سړي.

* * *

فَصْلٌ فِي الْكَفَّارَةِ وَمَا يُسْقِطُهَا عَنِ الذِّمَّةِ

دا فصل په (بيان د) كفارې او په (بيان د) هغو شيانو كي دی كوم چي د
(روژتي) له ذمې (غاړي) څخه كفاره ساقطوي

په كومو شيانو سره كفاره ساقطيږي؟

(١٠٨٢) تَسْقُطُ الْكَفَّارَةُ بِطُرُوِّ حَيْضٍ أَوْ نِفَاسٍ كفاره ساقطيږي د حيض يا نفاس په پېښېدلو (راتللو) سره أَوْ مَرَضٍ مُبِيحٍ لِلْفِطْرِ فِي يَوْمِهِ يا د داسي مرض (په پېښېدلو سره) كوم چي روا كونكی وي روژه ماتولو لره په هغه ورځ (يعني داسي مرض چي د هغه په وجه روژه ماتول او خوړل روا ګرځي)

لغات: ﴿طُرُوّ﴾ د فتح د باب مصدر دی، طَرَأَ يَطْرَأُ طَرَأً و طُرُوًّا: پېښېدل، ناڅاپه واقع كېدل، ﴿مُبِيح﴾ د افعال د باب فاعل دی: روا كونكی، جائز ګرځونكی.

تشريح: صورت د مسئلې دا دی چي كه روژتي ښځي قصداً خوراک يا څښاک كړی وي چي د هغه په وجه قضاء او كفاره دواړه باندي لازم سي، خو بيا په همدې ورځ كي ښځي ته حيض يا نفاس راسي، نو په دې صورت كي كفاره ساقطيږي، صرف قضاء لازميږي. همدارنګه كه يو سړي قصداً روژه ماته كړې وي، خو بيا په همدې ورځ داسي مريض سي چي كه روژتي وای نو روژه ماتول به ورته جائز وای. نو كفاره ځني ساقطيږي او صرف قضاء لازميږي.

فوائد قيود. مرض مبيح: مخكنی حكم هغه وخت دی كله چي دا مرض خپله روژتي نه وي پيدا كړی (يا په بله وينا خپله د مرض سبب نه وي جوړ سوی)، لهذا كه خپله ځان زخمي كړي، يا خپل ځان تر بام يا بل لوړي ځای را ايله كړي. يا يو داسي كار وكړي چي د هغه په وجه ډېر زيات مريض يا مثلاً د هغه په وجه ډېر زيات تږی سي. نو په دې ټولو صورتونو كي كه روژه ماته كړي، نو كفاره نه ساقطيږي (مراقي الفلاح، و حاشية نور الايضاح)

في يومه: همدارنګه مخكنی حكم هغه وخت دی كله چي حيض و نفاس يا مرض په هاغه ورځ پېښ سوي وي په كومه ورځ چي يې روژه ماته كړې وي، لهذا كه تر هغه ورځي مخكي يا تر هغه ورځي

وروسته دغه أمور پېښ سي، نو بیا کفاره نه ساقطیږي. (حاشیۀ نور الایضاح، مراقی الفلاح بحوالۀ انوار الایضاح)

﴿۱۰۸۷﴾ وَلَا تَسْقُطُ عَمَّنْ سُوْفِرَبِهٖ كُرْهًا بَعْدَ لُزُوْمِهَا عَلَيْهِ او کفاره نه ساقطیږي له هغه کس شخه کوم چي مسافر کړی سي (په سفر بېول سي) په زوره (جبرًا) د کفارې لازمېدلو شخه وروسته پر هغه فِيْ ظَاهِرِ الرِّوَايَةِ په ظاهر روایت کي.

لغات: ﴿سُوفِرَ﴾ د مفاعلې د باب ماضي مجهوله ده. مصدر: مُسَافَرَةً وسِفَارًا: سفر کول. او دلته د باء په ذریعه دا باب متعدي کړی سوی دی، نو معنیٰ یې ده: په سفر بېول، مسافر کول. سفر په کول.

تشریح: که یو شوک قصدًا روژه ماته کړي. تر دې وروسته یو شوک هغه پر سفر مجبوره کړي. نو د ظاهر روایت مطابق په دې سره کفاره نه ساقطیږي: ځکه دا آسماني او قدرتي عذر نه دی لکه حیض و نفاس، چي په حیض و نفاس کي د روژتي فعل لره هیڅ دخل نسته.

ها! که شوک د روژې په حالت کي په سفر ولاړ سي، برابره ده خپله ولاړ سي یا یو شوک یې مجبوره کړي او بیا چي هلته ولاړ سي روژه ماته کړي، نو ښکاره خبره ده چي په دې صورت کي صرف قضاء لازمیږي او کفاره ساقطیږي.

د روژې د کفارې بیان

﴿۱۰۸۸﴾ وَالْكَفَّارَةُ تَحْرِيْرُ رَقَبَةٍ وَلَوْكَانَتْ غَيْرَ مُؤْمِنَةٍ او کفاره د یوه مریي آزادول دي که شه هم هغه مؤمن (مسلمان) نه وي فَإِنْ عَجَزَعَنْهُ بیا که هغه له دې (مریي آزادولو) شخه عاجزه سي صَامَ شَهْرَيْنِ مُتَتَابِعَيْنِ نو دوې میاشتي دي پرلپسې روژه ونیسي لَيْسَ فِيْهِمَا يَوْمُ عِيْدٍ وَلَا أَيَّامُ التَّشْرِيْقِ چي په هغوی (دوو میاشتو) کي به دا اختر ورځ او د تشریق ورځي نه وي فَإِنْ لَّمْ يَسْتَطِعِ الصَّوْمَ او که د روژې طاقت نه لري أَطْعَمَ سِتِّيْنَ مِسْكِيْنًا نو شپېتو مسکینانو ته دي خوراک (ډوډی) ورکړي يُغَدِّيْهِمْ وَيُعَشِّيْهِمْ غَدَاءً وَعَشَاءً د سهار (غرمې) خوراک دي ورکړي او د ماخوستن خوراک دي ورکړي مُشْبِعَيْنَ د دوی تر مړه نه أَوْغَدَاءَيْنِ أَوْعَشَاءَيْنِ یا دوه د سهار خوراکونه یا دوه د ماخوستن خوراکونه (یا په بله وینا، دوې ورځي د سهار (غرمې) خوراک او دوې ورځي د ماخوستن خوراک) أَوْعَشَاءً وَسَحُوْرًا یا د ماخوستن خوراک او د پېشلمي خوراک أَوْ

يُعْطِيْ كُلَّ فَقِيْرٍ نِصْفَ صَاعٍ مِنْ بُرٍّ أَوْ دَقِيْقِهٖ أَوْ سَوِيْقِهٖ يا دي ورکړي هر غريب ته نيم صاع د غنمو يا د هغه (نيم صاع غنمو) اوړه يا د هغه نيني أَوْ صَاعَ تَمْرٍ أَوْ شَعِيْرٍ أَوْ قِيْمَتَهٗ يا (دي ورکړي) يو صاع د خُرماوو يا اُوربشو يا د هغه قيمت.

لغات: ﴿متتابعين﴾ تثنيه ده، واحد يې متتابعٌ دی، د تفاعل د باب فاعل دی: پرلپسې، ﴿يغدّی﴾ د تفعيل د باب مضارع ده، غَدّیٰ تَغْدِيَةً: د سهار خوراک ورکول (د غرمې ډوډۍ ورکول). غداء: د سهار خوراک، او په عربو کې د سهار خوراک پر لس، يوولس بجې خوړل کېدی لکه زموږ د غرمې خوراک. ﴿يعشيهم﴾ د تفعيل د باب مضارع دي، عشّٰی تَعْشِيَةً: د شپې يعني د ماخوستن په وخت کې خوراک ورکول (د ماخوستن ډوډۍ ورکول)، ﴿سَحور﴾ د پېشلمي خوراک، عَشَاء: د ماخوستن خوراک. ﴿مشبعين﴾ د افعال له بابه د جمع مذکر فاعل صيغه ده، أَشْبَعَ يُشْبِعُ إِشْبَاعًا: نس ډکول. مړول. تر ماړه نسه خوړل. ﴿نصف صاع﴾ د نيم صاع وزن پاؤ کم دوه کېلو کيږي (په پاکستاني کېلو سره). او ځينو ليکلي دي څه د پاسه يو نيم کېلو. ﴿دقيق﴾ وچ اوړه. ﴿سويق﴾ نينې، د غنمو او اوربشو ورېته سوي (کباب سوي) او ميده سوي دانې.

تشريح: د رمضان د روژې کفاره دا ده ① چې غلام يا مينځه دي آزاده کړي، برابره ده هغوی کافران وي او که مسلمانان. بالغان وي او که نا بالغه؛ ځکه په آيت کې "تحرير الرقبة" ذکر سوي دي کوم چې عام دی. خو مسلمان غلام آزادول زيات ښه دي، ② که د غلام آزادول ممکن نه وي لکه په اوس وخت کې. نو بيا به پرلپسې (مسلسل) دوې مياشتي روژې نيسي، چې په مينځ کې رمضان او کوچنی اختر يا لوی اختر او تر هغه وروسته درې ورځي (ايامُ التشريق) رانه سي، لهذا که د کفارې په دې دوو مياشتو کې يوه روژه هم پرېږدي، يا يې ماته کړي، برابره ده د عذر مثلاً د مرض وغيره په وجه وي يا بېله عذره وي. يا مثلاً په مينځ کې د لوی اختر ورځ او ايام التشريق راسي، نو مخکې نيول سوي روژې ټوله په کفاره کې نه شمېرل کيږي. بلکې بيا به له نوي سره پرلپسې دوې مياشتي روژې نيسي. (انوار الايضاح، شفاء الارواح)

فإن لم يستطع إلخ: ③ او که يو څوک په روژو نيولو باندې قادر نه وي يعني ډېر بوډا وي يا لا علاجه مريض وي چې د روغېدلو اُميد يې نه وي، نو هغه به شپېتو (۶۰) مسکينانو ته خوراک ورکوي. او د دې دوه صورتونه دي: ① يو دا چې شپېتو مسکينانو ته دوه وخته په ماړه نس (په ډک نس) خوراک

ورکړي او په دې کې تسلسل ضروري نه دی، بلکې په دوو جلا وختونو کې يې هم ورکولای سي، مثلاً دوې ورځې د سهار لخوا خوراک ورکړي، یا دوې ورځې د ماخوستن لخوا خوراک ورکړي. یا همداسې یو وخت د ماخوستن خوراک ورکړي او یو وخت په پېشلمي کې خوراک ورکړي. خو شرط دا دی چې په اوله ورځ یا په اول وخت کې چې يې وکومو شپېتو مسکینانو ته خوراک ورکړی دي، په راروانه ورځ یا راروان وخت کې به هم هاغه فقیران وي، که سره جلا سي، نو کفاره نه اداء کیږي. (مراقی الفلاح مع الطحطاوي ص: ۳۶۶)

② دویم صورت دا دی چې وهر مسکین ته نیم صاع غنم یا د هغه اوړه یا نیني یا د هغه قیمت ورکړي، یا یو صاع خرما یا اوربشي یا د هغه قیمت ورکړي، او که قیمت ورکوي. نو د بازاري قیمت اعتبار به کول کیږي، یا په بله وینا دومره قیمت به ورکوي چې که په هغه قیمت سره مسکین مثلاً (نیم صاع) غنم رانیول وغواړي، نو په آسانۍ سره يې له بازار څخه رانیولای سي. (انوار الایضاح بحوالهٔ فتاویٰ رحیمیه)

❀ ❀ ❀

مسئله (۱): که یوازې یوه مسکین ته شپېته ورځې سهار او ماښام خوراک ورکړي، نو هم کفاره اداء کیږي.

مسئله (۲): د لسو کالو کوچنیان کوم چې قریبُ البلوغ نه وي، هغو ته په خوراک ورکولو سره کفاره نه اداء کیږي، خو که هغو ته د کفارې مقدار تملیکاً ورکړي، مثلاً نصف صاع غنم یا د هغه قیمت هر کوچني ته ورکړي، نو صحیح دي. (انوار الایضاح، بحوالهٔ در مختار مع الشامي)

﴿۱۰۸۹﴾ وَ كَفَتْ كَفَّارَةٌ وَاحِدَةٌ عَنْ جِمَاعٍ وَّ أَكْلٍ مُتَعَدِّدٍ فِيْ أَيَّامٍ او کافي ده یوه کفاره له متعدده (څو واره) جماع کولو څخه او له متعدده خوراک کولو څخه په څو ورځو کې لَمْ يَتَخَلَّلْهُ تَكْفِيْرٌ (په دې شرط) چې د هغوی په مینځ کې کفاره اداء کول نه وي واقع سوي (یعني په دې شرط چې په هغه دوران کې يې کفاره نه وي اداء کړې) وَلَوْ مِنْ رَمَضَانَيْنِ که څه هم له دوو رمضانو څخه وي (یعني که څه هم دا کارونه اجماع او اکل... ایې په دوو رمضانو کې کړي وي) عَلَى الصَّحِيْحِ د صحیح قول مطابق فَإِنْ تَخَلَّلَ التَّكْفِيْرُ بیا که په مینځ کې کفاره اداء کول واقع سي لَاتَكْفِيْ كَفَّارَةٌ وَاحِدَةٌ فِيْ ظَاهِرِ الرِّوَايَةِ نو یوه کفاره نه کافي کیږي، په ظاهر روایت کې.

لغات: ﴿کفت﴾ د ضرب له بابه ماضي معلومه ده. مصدر: كِفَايَةٌ: کافي کېدل. کفایت کول. له یو شي ځخه بې پروا کول. ﴿لم یتخلل﴾ د تفعل له بابه د جحد (نفي جحد بلم) صیغه ده. مصدر: تَخَلُّلًا: په مینځ کي راتلل، په مینځ کي واقع کېدل. ﴿تکفیر﴾ د تفعیل د باب مصدر دی: کفاره ور کول.

تشریح: صورت د مسئلې دا دی چي که څوک په رمضان کي څو واره روژه ماته کړي. مثلاً څو واره جماع وکړي. یا څو واره خوراک وکړي. یا په یوه رمضان کي یوه روژه ماته کړي او تر اوسه یې د هغه کفاره نه وي اداء کړې چي په بل رمضان کي بیا یوه روژه ماته کړي، تر دې وروسته په آخر کي یوه کفاره اداء کړي، نو د ټولو له طرفه کفاره اداء کیږي (خو داسي کول سخته گناه ده). لیکن که له روژې ماتولو (مثلاً له جماع کولو) ځخه وروسته کفاره اداء کړي، بیا بل وار روژه ماته کړي (مثلاً بیا جماع وکړي). نو په دې صورت کي به دوېمه کفاره اداء کوي، اوله کفاره نه کافي کیږي، دلته مصنف رَحِمَهُ الله "على الصحيح" ویلي دي؛ ځکه بل قول دا دی چي که څوک په جلا، جلا رمضانو کي یوه، یوه روژه ماته کړي مثلاً په دوو رمضانو کي جماع وکړي او د اول رمضان کفاره اداء نه کړي، نو پر هغه دوې کفارې لازمیږي. (شفاء الارواح)

* * *

بَابُ مَا يُفْسِدُ الصَّوْمَ مِنْ غَيْرِ كَفَّارَةٍ

(دا) باب د هغو شیانو (په بیان کې) دی کوم چې روژه فاسدوي بغیر له کفارې څخه (یعني چې د هغوی په وجه صرف قضاء واجبېږي. نه کفاره)

په کومو شیانو سره صرف قضاء واجبېږي، نه کفاره؟

﴿١٠٩٠﴾ وَهُوَ سَبْعَةٌ وَّ خَمْسُوْنَ شَيْئًا او هغه اووه پنځوس (۵۷) شیان دي إِذَا أَكَلَ الصَّائِمُ أُرُزًّا کله چې روژتي وخوري وریجې نِيًّا اومې (یعني اومې وریجې وخوري) أَوْ عَجِيْنًا أَوْ دَقِيْقًا یا (وخوري) خیشته (اخښلي) اوړه یا وچ اوړه أَوْ مِلْحًا كَثِيْرًا دَفْعَةً یا ډېره مالګه په یوه وار أَوْ طِيْنًا غَيْرَ أَرْمَنِيّ لَمْ يَعْتَدْ أَكْلَهُ یا (وخوري) له ارمني ختې څخه بغیر بله خټه چې د هغه په خوړلو عادت نه وي أَوْ نَوَاةً أَوْ قُطْنًا أَوْ كَاغِدًا (كَاغَدًا) یا تاکی (د خرمامندکه) یا پنبه یا کاغذ أَوْ سَفَرْجَلًا وَلَمْ يُطْبَخْ یا بهي او هغه (تراوسه) پوخ سوی نه وي (یعني اوم بهي وخوري) أَوْ جَوْزَةً رَطْبَةً یا لوند (شین) جوز أَوِ ابْتَلَعَ حَصَاةً أَوْ حَدِيْدًا أَوْ تُرَابًا أَوْ حَجَرًا یا تېره کړي شګه یا اوسپنه یا خاوره یا ډبره.

لغات: ﴿أُرُزًّا﴾ وریجې. ﴿نِيًّا﴾ اوم (کچه). ﴿عجين﴾ اخښل سوي اوړه (خیشته اوړه). ﴿دقيق﴾ وچ اوړه. ﴿نواة﴾ د خرمامندکه (تاکی). ﴿قطن﴾ پمبه (پنبه). ﴿كَاغِد﴾ او كَاغَد: کاغذ (مصباح اللغات ص ۷۱۱). ﴿سَفَرْجَل﴾ پر وزن د فَعْلَل، د سېب په شان یوه مېوه ده کوم ته چې بهي ویل کیږي. په انګرېزي کې ورته پیرس (pears) وایي، جمع: سَفَارِج. ﴿جوزة﴾ جوز. ﴿حصاة﴾ شګه. کوچنی کانی.

تشریح: هر هغه شی کوم چې د غذا یا د دواء په غرض سره یا د عادت په توګه نه خوړل کیږي. د هغه په خوړلو سره صرف قضاء لازمیږي، نه کفاره. لهذا که څوک اومې وریجې وخوري. یا خیشته اوړه یا وچ اوړه. یا په یوه پلا ډېره مالګه (مثلا یو، لپه مالګه په یوه وار) وخوري، نو پر هغه صرف قضاء واجب ده. ځکه دغه شیان دا ډول نه د غذاء په توګه خوړل کیږي او نه د دواء په توګه. او نه د عادت په توګه

خوړل کيږي (ځکه وربجي او اوړه خو عادتاً پخول کيږي يعني پر پخېدو وروسته خوړل کيږي او مالګه عادتاً په يوه وار ډېره لږ خوړل کيږي).

أو طيناً غير أرمني: د دې حکم څه مخکي په تفصيل سره تېر سو.

أو سفرجلًا: د دې تعريف په لغاتو کي ذکر سو، دلته له دې څخه صرف سفر جل نه دی مراد، بلکي هر هغه مېوه مراد ده کوم چي اومه نه خوړل کيږي، لهذا که څوک داسي مېوه وخوري کوم چي (بالکل) اومه وي، نو پر هغه صرف قضاء لازم ده.

أو جوزة: که څوک د روژې په حالت کي لوند (اوم) جوز وخوري، نو هم صرف قضاء سته، کفاره نسته.

أو ابتلع إلخ: همدارنګه که څوک د روژې په حالت کي شګه، يا اوسپنه، يا د خاوري لوټه تېره کړي (داسي خاوره کوم چي مفيده نه وي لکه طين ارمني چي مفيده خاوره ده)، يا ډبره تېره کړي، نو پر هغه هم صرف قضاء لازمه ده، همدارنګه د سرپو، ژړو، سرو او سپينو زرو په تېرولو سره هم صرف قضاء لازميږي.

د حقنې (امالې) او په پزه کي د دواء اچولو حکم
په ستوني کي د نل په ذريعه د يو شي د اچولو حکم

﴿۱۰۹۱﴾ أَوِ احْتَقَنَ يا حقنه وکړي (يعني د شا په مقعد ا کي دواء واچوي).

﴿۱۰۹۲﴾ أَوِ اسْتَعَطَ يا په پزه کي دواء واچوي.

﴿۱۰۹۳﴾ أَوْ أَوْجَرَ بِصَبِّ شَيْءٍ فِيْ حَلْقِهِ يا په خوله کي يو شی ستوني ته توی کړي (نس ته يې ورسوي) عَلَى الْأَصَحِّ د صحيح ترين قول مطابق.

لغات: ﴿احتقن﴾ د افتعال د باب ماضي ده: حقنه ورکول (د شا د لاري ايعني د مقعدي لخوا د مريض معدې ته دواء رسول)، اماله کول. ﴿إِسْتَعَطَ﴾ دا هم د افتعال د باب ماضي ده (ماده: سعط): په پزه کي دواء اچول. دا لغوي معنیٰ ده، خو دا حکم صرف د دواء سره خاص نه دی، بلکي که او به ور واچوي، نو هم دغه حکم دی، ﴿أوجر﴾ د افعال د باب مصدر دی، أَوْجَرْتُ الْمَرِيْضَ إِيْجَارًا: دواء په حلق کي ور توېول (دوا په ستوني کي ور بهول)، په خوله کي دواء وراچول. (معجم الوسيط)

تشريح: د روژې په حالت کي په حقنه (اماله) کولو سره روژه ماتيږي او صرف قضاء لازميږي.

أو استعط: همدارنګه د روژې په حالت کي که څوک پزي ته يو دواء يا او به واچوي او سر ته يې ورسوي، نو روژه ماتيږي او صرف قضاء لازميږي.

لهذا داودس او غسل کولو په دوران کي د پزي پرېوللو په وخت کي احتياط کول پکار دي که چيري اوبه دماغ ته ورسيږي، نو روژه ماتيږي؛ ځکه د پزي له سوربو څخه وروسته د خولې وطرف ته هم سوری سته او د دماغ وطرف ته هم سته او بيا له دماغ څه د نس وطرف ته جلا سوری سته، او د احتياط طريقه دا ده چي ساه بنده کړي بيا اوبه کش کړي، نو په دې توګه دماغ ته اوبه نه خيږي. (تحفة الالمعی ج: ۳، ص: ۱۶۱، طحطاوي ص: ۳۶۷)

أو أوجربصب إلخ: د دې حاصل دا دی چي که د پيپ (نل) يا داسي بل شي په ذريعه د روژتي ستوني ته يو شی واچول سي او لاندي ورسول سي، نو په دې سره روژه ماتيږي او صرف قضاء لازميږي، نه کفاره.

علی الأصح: د دې قيد تعلق له "واحتقن" څخه تر آخره پوري د ټولو سره دی چي په دې دريو سره مسئلو کي د اصح قول مطابق صرف قضاء سته، او په دې قيد سره د امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله له قول څخه احتراز دی چي د هغه په نېز په دې دريو سره صورتونو کي کفاره هم واجبيږي. (حاشية نور الايضاح، شفاء الارواح، و انوار الايضاح)

❀ ❀ ❀

په پيچکارۍ سره د روژې ماتېدلو حکم

مسئله (۱): په پيچکارۍ خو روژه نه ماتيږي، خو که يې ضرورت نه وو، نو تر روژه مات پوري دي يې نه لګوي، "الحقن في العضل أو تحت الجلد أو في الوريد، والأولى عند الإمكان تأخيرها إلى المساء. أما الحقن الشرجية فتفطر". (الفقه الاسلامي وأدلته، مالايفسد الصوم عند الحنفية. جلد۳ص ۱۷۱۲، طبع: المكتبة الفريدية پشاور)

مفتي اعظم افغانستان مفتي عبد العلي ديوبندي رَحِمَهُ الله هم فرمايي: چي په پيچکارۍ لګولو سره روژه نه ماتيږي. (نصير الاسلام، ص ۳۶۶، ۳۶۷، طبع: افغانستان)

همدارنګه په دې لاندېني کتابونو کي ليکلي دي چي په پيچکارۍ سره روژه نه ماتيږي، برابره ده د رګ وي او که دغوښي:

(① امداد الفتاوی لحکيم الأمة تهانوي (رحمه الله). ② څلورسوه ضروري مسائل پښتو. ص ۳۰۲-۳۰۳. طبع: وحيدي کتب خانه پشاور. ③ فتاویٰ حقانيه اردو. جلد۴ ص ۱۶۲، طبع: حقانيه اکوړه ختک پشاور، ④ آلات جديده پښتو. ص ۱۹۶ الی ص ۲۰۲، طبع: پشاور. ⑤ احسن الفتاویٰ اردو. جلد۴ ص ۴۳۲، طبع: سعيد کراچي. ⑥ الملتقط عبد الستار. ص ۱۶۵ الی ص ۱۶۸، طبع: کوئټه. ⑦ فتاویٰ دار العلوم ديوبند. جلد۲ ص ۴۴۸ الی ص ۴۵۴. ⑧ فتاویٰ محموديه اردو. جلد۳ ص ۱۲۶، طبع: مظهري کتب خانه کراچي، ⑨ فتاویٰ رحيميه، جلد۷ ص ۲۵۷. طبع: دار الاشاعت کراچي، ⑩ کفايتُ المفتي پښتو. جلد۴، ⑪ فتاویٰ فريديه اردو. جلد۴. ص. ۱۳۱، ۱۳۰، ۱۲۹، ۱۲۸. طبع: پشاور. او داسي نور کتابونه)

په نسوارو سره د روژې ماتېدلو حکم

مسئله (۲): په نسوارو سره روژه ماتيږي، ځکه چي نسوار په خوله کي ايښوول عملًا د خوړلو په حکم کي دي. (فتاوی عثماني. جلد۲ص۲۲۱. ۲۲۰.. طبع: وحيدي کتب خانه پشاور)

څرنګه چي نسوار تيريږي اوعمومًا په حلق کي د هغوی تريخوالی محسوسيږي. نو ځکه روژه پـه ماتيـږي اودوبـاره بـه روژه نيسـي. (فقهي کچکول پښتو. ص۱۶۱. لمولانارشيد احمد حقاني. طبع: نورالاسلام پشاور. محمودالفتاویٰ فارسي. جلد۲ص۲۲۷. طبع: مکتبه حبيبيه کوټه)

که څه هم مفتي فريد رَحِمَهُ الله دا مسئله د پورتني تفصيل خلاف ليکلې ده. (فتاویٰ فريديه اردو. جلد۴. ص۱۳۷. ۱۳۶)

په غوږ کي تېل (روغن) يا دواء، يا اوبه اچول

﴿۱۰۹۳﴾ أَوْ أَقْطَرَ فِيْ أُذُنِهِ دُهْنًا أَوْ مَاءً يا وڅڅوي په خپل غوږ کي تېل يا اُوبه فِـي الْأَصَحِّ په صحيح ترين قول کي.

لغات: ﴿أقطر﴾ د افعال د باب ماضي ده: څڅول، ځاڅکي، ځاڅکی ور اچول. دا لفظ معلوم (معروف) او مجهول دواړه ويله ويل کېدلای سي، يعني أَقْطَرَ او أُقْطِرَ. د مجهول ويلو په صورت کي فِيْ إِذْنِهِ د هغه نائب فاعل دی او دويمه جمله مفعول ثاني دی، خو معلوم (معروف) ويل اولیٰ دي لکه څرنګه چي د مصنف رَحِمَهُ الله له عبارت څخه هم معلوميږي. (انوار الايضاح)

تشريح: مسئله دا ده چي که روژتي په غوږ کي تېل يا دواء واچوي، نو بالاتفاق روژه ماتيږي او صرف قضاء واجبيږي. برابره ده روژتي په خپل فعل سره اچولي وي يا خپله ور ننوتلي وي. او که غوږ ته خپله اوبه ننوځي، نو بالاتفاق روژه نه ماتيږي او که د روژتي په فعل سره غوږ ته اوبه ننوځي، نو په دې کي اختلاف دی، د بعضو په نېز روژه ماتيږي او صرف قضاء واجبيږي او د بعضو په نېز نه ماتيږي، په عمدة الفقه کي دي چي دې دواړو قولونو ته صحيح ويل سوي دي. نو ځکه احتياط په همدې کي دی چي په روژه کي په اوبو کي له غوټه وهلو او داسي نورو څخه ځان وساتي. (شفاء الارواح)

* * *

د غوږ د دواء په باره کي نور تحقيق

مسئله: مفتي سعيد احمد دَامَتْ بَرَكَاتُهُمْ (صاحب د تحفة الألمعي) فرمايي چي په غوږ کي په دواء څڅولو او اچولو سره د بعضو په نېز روژه ماتيږي او د بعضو په نېز نه ماتيږي، او د اختلاف وجه دا ده چي په غوږ کي دننه مخ ته د خولې وطرف ته خو بالاتفاق سوری نسته، خو د دماغ وطرف ته سوری سته، که نه؟ په دې کي اختلاف دی د کومو حضراتو په نېز چي سوری سته، د هغو په نېز په غوږ کي

دواء اچول مفسدِ صوم دي او د کومو حضراتو په نیز چي سوری نسته، هغوی د روژې نه ماتېدلو قائل دي، او زما (مفتي سعید احمد صاحب) په نیز به غوره کي په دواء اچولو سره روژه نه ماتیږي. خو بهتره دا ده چي د روژې په حالت کي غوږ ته دواء نه واچوي، لیکن که یې واچوي، نو روژه نه ماتیږي. (تحفة الالمعي ج: ۳، ص: ۱۶۱ بحوالهٔ انوار الایضاح)

د زخم د لاري نس یا دماغ ته د دواء رسېدلو حکم

﴿۱۰۹۵﴾ أَوْ دَاوىٰ جَائِفَةً أَوْ آمَّةً بِدَوَاءٍ یا علاج وکړي د نس د زخم یا د سر (دماغ) د زخم (یعني دواء پرې ولګوي) وَوَصَلَ إِلىٰ جَوْفِهٖ أَوْ دِمَاغِهٖ او هغه (دواء) نس یا دماغ ته ورسیږي.

لغات: ﴿دوایٰ﴾ د مفاعلې د باب ماضي ده: دواء کول، علاج او درملنه کول. ﴿جائفه﴾ هغه زخم ته وایي کوم چي جوف یعني دننه نس (معدې) ته رسیږي او هغه مستقل سوری جوړ سوی وي. جمع: جَوائِف. ﴿آمّة﴾ هغه زخم کوم چي دننه دماغ (ماغزو) ته رسیږي، د إلیٰ جوفهٖ تعلق د جائفة سره دی او د إلیٰ دماغهٖ تعلق د آمّة سره دی.

تشریح: مسئله دا ده که د چا په نس کي داسي زخم وي کوم چي د نس دننه حصې (معدې) ته رسیږي، یا په سر کي یې داسي زخم وي کوم چي دننه دماغ (ماغزو) ته رسیږي، او د روژې په حالت کي په هغه زخم کي دواء واچوي او دواء په یقیني توګه د زخم د لاري نس یا دماغ ته ورسیږي، نو برابره ده هغه دواء لنده وي او که وچه وي، د هغه روژه فاسدیږي او صرف قضاء واجبیږي، او که په یقیني توګه معلومه سي چي دواء دننه نس یا دماغ ته نه ده رسېدلې، نو د هغه روژه نه فاسدیږي او که په یقیني توګه له دوارو خبرو څخه یوه هم معلومه نه سي او دواء لنده دواء وي، نو د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نیز روژه ماتیږي او د صاحبینو رَحِمَهُمَا الله په نیز نه ماتیږي او که وچه دواء وي، نو بالاتفاق روژه نه ماتیږي. (شفاء الارواح)

﴿۱۰۹۶﴾ أَوْ دَخَلَ حَلْقَهٗ مَطَرٌ أَوْ ثَلْجٌ یا ننوځي (دننه سي) د ده ستوني ته باران یا واوره فِي الْأَصَحِّ د صحیح ترین قول مطابق وَلَمْ يَبْتَلِعْهُ بِصُنْعِهٖ او دئ هغه په خپل فعل سره تېر نه کړي.

تشریح: صورت د مسئلې دا دی چي که د روژتي خولې ته د باران څاڅکی یا د واوري ټوټه ننوځي (مثلاً د اربمی راتللو په وخت کي هغه سر پورته کړي او خوله یې خلاصه سي او ستوني ته یې د باران څاڅکی یا واوره تېره سي)، نو د ده روژه فاسدیږي او صرف قضاء واجبیږي، په دې شرط چي روژتي

هغه په خپل فعل سره (قصداً) نه وي تېر کړي، او که هغه په خپل فعل سره تېر کړي وي. نو پر ده کفاره هم واجبیږي.

خطاءً روژه ماتېدل (د اودس په دوران کي اوبه تر ستوني تېرېدل)

﴿۱۰۹۷﴾ أَوْ أَفْطَرَ خَطَأً بِسَبْقِ مَاءِ الْمَضْمَضَةِ إِلٰى جَوْفِهٖ یا په غلطي سره روژه ماته کړي (روژه یې خطاءً ماته سي) د خولې پرېمنځلو د اُوبو د مخکي کېدلو (تېرېدلو) په وجه ونس ته.

تشریح: مسئله دا ده چي که د رژوتي خپل رژوه په یاده وي او بیا په خطاء سره روژه ماته کړي، مثلاً خوله پرېولي او بېله قصده اوبه د هغه تر ستوني تیري سي او نس ته ولاړي سي، نو روژه یې فاسدیږي او صرف قضاء واجبیږي.

د خطاء مطلب دا دی چي هغه ته خو روژه په یاده وي او د هغه قصد د روژې ماتولو نه وي او له هغه شخصه روژه ماتونکی فعل یعني خوراک، څښاک او داسي نور بېله قصده صادر سي. (عمدة الفقه)

د بل چا په زوره او جــبر سره (مجبوراً) د روژې ماتولو حکم

﴿۱۰۹۸﴾ أَوْ أَفْطَرَ مُكْرَهًا وَلَوْ بِالْجِمَاعِ یا روژه ماته کړي په داسي حال کي چي مجبور کړل سوی وي که څه هم په جماع سره وي أَوْ أُكْرِهَتْ عَلَى الْجِمَاعِ یا ښځه پر جماع کولو مجبوره کړل سوې وي.

تشریح: صورت د مسئلې دا دی چي که یو څوک روژتي ته دمکي ورکړي او مجبوره یې کړي چي خوراک یا څښاک وکړي، یا د ښځي سره پر جماع کولو یې مجبوره کړي مثلاً هغه ته ووایي چي که ته داسي نه وکړې! نو تا وژنم یا یو اندام دي پرېکوم، یا د سخت وهلو دمکي ورکړي، او روژتي مجبوراً هغسي وکړي، نو پر هغه صرف قضاء واجبیږي، کفاره نه واجبیږي. همدارنګه که یوه روژتي ښځه پر جماع کولو مجبوره کړل سي او د هغې سره په زوره (جبراً) جماع وکړل سي، نو پر هغې صرف قضاء سته، کفاره نسته. (شفاء الارواح)

د خدمت کولو په وجه د روژې ماتولو حکم

﴿۱۰۹۹﴾ أَوْ أَفْطَرَتْ خَوْفًا عَلٰى نَفْسِهَا مِنْ أَنْ تَمْرَضَ مِنَ الْخِدْمَةِ یا ښځه روژه ماته کړي له دې بیري څخه پر خپل ځان چي هغه به د خدمت کولو په وجه مریضه سي أَمَةً كَانَتْ أَوْ مَنْكُوْحَةً برابره ده هغه مینځه وي او که منکوحه ښځه وي.

تشریح: صورت د مسئلې دا دی چي که روژتي مینځي ته یا منکوحه ښځي ته د روژې په حالت کي دا ډېره وي چي که کار او خدمت و کړم، نو مریضه به سم، او دا ډېره یې د ظن غالب په درجه کي وي محض وهم و خیال نه وي او روژه ماته کړي، نو پر هغې صرف قضاء سته، کفاره نسته.

په عمدة الفقه کي دي چي که روژتي په ګرمۍ کي په خپل اختیار او رضاء سره په یو کار کي دومره خواري وکاږي چي مریض سي او بیا هغه روژه ماته کړي، نو پر هغه د کفارې واجبېدلو په باره کي دوه قوله دي: ① بعضي فرمایي چي کفاره واجبیږي او بعضي فرمایي چي پر هغه کفاره نه واجبیږي. امام باقلي رَحِمَهُ الله د کفارې نه واجبېدلو فتویٰ ورکړې ده. د مینځي او غلام حکم د دې په خلاف دی چي که دوی د زیات کار او خواري کښلو په وجه مریضان سي او روژه ماته کړي، نو پر دوی کفاره نه واجبیږي: ځکه دوی د خپل مالک (بادار) تر حکم لاندي کېدلو په وجه معذوره دي. (شفاء الارواح)

﴿۱۱۰۰﴾ أَوْصَبَّ أَحَدٌ فِيْ جَوْفِهِ مَاءً وَهُوَنَائِمٌ یا څوک د ده (روژتي) نس ته اوبه توی کړي (ورسوي) په داسي حال کي چي دئ بیده وي (یعني د روژتي په خوله کي اوبه واچوي او هغه یې نس امعدې ته ورسیږي).

لغات: ﴿صَبَّ﴾ د نصر له بابه ماضي معلومه ده: اوبه اچول، بهول. ﴿جوف﴾ نس، د هر شي دننی حصه، جمع: أَجْوَافٌ.

تشریح: صورت د مسئلې دا دی چي که روژتي بیده وي او یو څوک د هغه په خوله کي اوبه واچوي کوم چي د هغه نس ته ورسیږي (یا په بله وینا د خوب په حالت کي یو څوک اوبه په وڅښي)، نو د هغه روژه ماتیږي او صرف قضاء لازمیږي.

د هیري تر خوراک وروسته قصداً د خوراک کولو حکم

﴿۱۱۰۱﴾ أَوْأَكَلَ عَمَدًا بَعْدَ أَكْلِهِ نَاسِيًا یا قصداً خوراک وکړي په هېره تر خوراک کولو وروسته وَلَوْعَلِمَ الْخَبَرَ که څه هم په حدیث باندي خبر وي عَلَى الْأَصَحِّ د صحیح ترین قول مطابق.

تشریح: صورت د مسئلې دا دی چي که روژتي په هېره څه وخوري، یا وڅښي او د هغه دا ګومان سي چي روژه مي ماته سوه، بیا هغه قصداً خوراک او څښاک وکړي، نو هم پر هغه صرف قضاء واجبیږي، او که هغه ته معلومه وي چي په هېره په خوراک کولو سره روژه نه ماتیږي لکه څرنګه چي په حدیث کي دي، خو بیا هم په هېره تر خوراک کولو وروسته هغه قصداً خوراک او څښاک

وکړي، نو هم د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نېز کفاره نه لازمیږي، صرف قضاء لازمیږي او همدا صحیح او مفتیٰ به قول دی. (شفاء الانوار، انوار الایضاح)

فایده: په عبارت کې له "خبر" څخه مراد د نبي کریم ﷺ دا حدیث دی "چې کوم څوک په هېره خوراک یا څښاک وکړي، هغه دې روژه نه ماتوي؛ ځکه دا یو رزق دی کوم چې الله تعالیٰ په ده وخوړی او وڅښی". (ترمذي)

﴿۱۱۰۲﴾ أَوْ جَامَعَ نَاسِيًا ثُمَّ جَامَعَ عَامِدًا یا په هېره جماع (کور والی) وکړي بیا قصداً جماع وکړي.

تشریح: که روژتي ته خپل روژه بالکل یاده نه وي او په هېره د ښځې سره جماع وکړي، بیا تر دې وروسته قصداً جماع ور سره وکړي، نو پر هغه صرف قضاء لازمیږي. برابره ده په مخکینۍ جماع سره د هغه دا ګومان وي چې روژه مې ماته سوه او که نه وي. (طحطاوي بحوالهٔ شفاء الارواح)

تر صبح صادق وروسته د نیت کولو په صورت کې د روژې ماتولو حکم

﴿۱۱۰۳﴾ أَوْ أَكَلَ بَعْدَ مَا نَوىٰ نَهَارًا یا د ورځې له نیت کولو څخه وروسته خوراک وکړي وَلَمْ يُبَيِّتْ نِيَّتَهُ او هغه له شپې څخه نیت نه وي کړی.

لغات: ﴿لم یبیّت﴾ د تفعیل له بابه د جحد معلوم صیغه ده: د شپې یو کار کول. (انوار الایضاح)

تشریح: د عبارت تر حل مخکې دا وپېژنئ! چې د رمضان او نذرِ معین په روژه کې د ائمه ثلاثه وو یعني د امام مالک، امام شافعي او امام احمد رَحِمَهُمُ الله په نېز تر صبح صادق (طلوع فجر) مخکې نیت کول ضروري دي لهذا که صبح صادق را وخیږي (یعني سپېدې وچاودي) او نیت نه وکړي، نو روژه یې نه کیږي او د احنافو په نېز په دې روژو کې تر صبح صادق وروسته هم نیت کولای سي.

صورت د مسئلې دا دی چې که د رمضان په میاشته کې یو کس تر صبح صادق (طلوع فجر) وروسته (تر نصف النهار مخکې) نیت وکړي او تر هغه وروسته قصداً خوراک، څښاک یا جماع وکړي، نو د هغه روژه ماته سوه او د قضاء سره کفاره هم لازمېدل پکار دي خو څرنګه چې د ائمه ثلاثه وو په مذهب کې تر صبح صادق وروسته نیت کول معتبر نه دي (اعتبار ورلره نسته)، نو ځکه دا کس د هغو د مذهب مطابق ګردسره روژتي نه شمېرل کیږي، نو اوس چې ده کوم خوراک یا څښاک او داسې نور کړي دي. هغه یې د غیرِ روژې (ناروژتي کېدو) په حالت کې کړي دي، نو د ائمه ثلاثه وو د دې مذهب پر بناء د ده د روژې ماتولو په جرم کې شبهه او کمزوري راغله. د دغه شبهې پر بناء به د کفارې حکم نه

ورکول کېږي: ځکه چي کفاره يو سزا ده او سزا د شبهې په صورت کې نه لازمېږي. (يا په بله وينا کفاره د شبهې په صورت کې ساقطېږي). (مراقی الفلاح مع الطحطاوي بحوالۀ انوار الايضاح)

که روژتي مسافر مقيم سي، نو څه حکم دی؟

﴿۱۱۰۴﴾ أَوْ أَصْبَحَ مُسَافِرًا يا سهار کړي د مسافر والي په حالت کې (يعني د سهار په وخت کې مسافر وي) فَنَوَى الْإِقَامَةَ ثُمَّ أَكَلَ بيا د پاتېدلو (مقيم والي) نيت وکړي بيا خوراک وکړي.

تشريح: صورت د مسئلې دا دی چي که يو کس د سهار په وخت کې مسافر وي او تر صبح صادق مخکې يې د روژې نيولو نيت کړی وي، يا نه وي کړی (په دواړو صورتونو کې حکم برابر دی). بيا وروسته هغه په يو ځای کې د پنځلسو ورځو اقامت (پاتېدلو) نيت اراده وکړي او تر دې وروسته خوراک يا څښاک وکړي او روژه ماته کړي. يا اول روژه ماته کړي (د مسافر کېدو په وجه). بيا د اقامت نيت وکړي، نو پر هغه کفاره نه واجبېږي، صرف قضاء لازمېږي. او اوس بقيه ورځ خوراک، څښاک کول حرام دي؛ د کفارې نه لازمېدلو وجه دا ده چي هغه مخکې مسافر وو چي په دې وجه د هغه لپاره روژه ماتول جائز وه، او کفاره په شبهې سره ساقطېږي. (مراقی الفلاح ص: ۳۶۹ بحوالۀ انوار الايضاح)

که روژتي مقيم مسافر سي، نو څه حکم دی؟

﴿۱۱۰۵﴾ أَوْ سَافَرَ بَعْدَ مَا أَصْبَحَ مُقِيمًا فَأَكَلَ يا مسافر سي وروسته تر دې چي سهار کړي د مقيم والي په حالت کې (يعني د سهار په وخت کې مقيم وي تر دې وروسته سفر شروع کړي) بيا خوراک وکړي.

تشريح: صورت د مسئلې دا دی چي که يو کس مقيم وي، روژه يې وي او تر صبح صادق وروسته په سفر ولاړ سي (مسافر سي) او بيا د سفر په حالت کې روژه ماته کړي او خوراک، څښاک يا جماع وکړي په دې گومان سره چي اوس خو زه مسافر يم (حال دا چي کوم څوک د روځې په شروع کې مقيم وي، نو پر هغه روژه پوره کول ضروري دي، خو روژه ماته کړي)، نو په دې صورت کې هم پر هغه صرف قضاء سته، کفاره نه سته. ځکه د مسافر لپاره د روژې نه نيولو رُخصت سته، نو که څه هم دا کس د ورځې په شروع کې مقيم دی، خو د دې رُخصت په وجه شبه پيدا سوه او په شبهې سره کفاره ساقطېږي، نو ځکه پر هغه کفاره نسته.

ها! که څوک بېرته له سفر څخه راوگرځي، وطن ته واپس سي او بيا قصداً روژه ماته کړي. نو اوس د قضاء سره کفاره هم لازمېږي؛ ځکه د راگرځېدلو او واپس کېدلو په وجه د ده سفر ختم سو، همدارنگه کله چي هغه د سفر په اراده روان سي، خو تر اوسه له خپل کلي او آبادۍ څخه نه وي وتلی (يعني شرعاً مسافر نه وي گرځېدلی) او په همدې حالت کې روژه ماته کړي، نو پر هغه هم کفاره لازمېږي: ځکه چي تر اوسه شرعاً هغه مسافر نه دی گرځېدلی. (مراقی الفلاح مع الطحطاوي ص ۳۶۹ بحوالۀ انوار الايضاح

بغیر له نیته د خوراک، څښاک وغیره نه کولو حکم

﴿۱۱۰۶﴾ أَوْ أَمْسَكَ بِلَانِيَّةِ صَوْمٍ وَلَانِيَّةِ فِطْرٍ یا ځان ونیسي (له خوراک، څښاک او ناسي نورو څخه) بېله نیت څخه د روژې نیولو او بېله نیت څخه د روژې خوړلو.

تشریح: صورت د مسئلې دا دی چي که څوک په رمضان شریف کي ټوله ورځ هسي بېله نیته له خوراک، څښاک او جماع څخه ځان ونیسي (یا په بله وینا: بېله نیته روژه ونیسي)، نه د روژې نیت وکړي او نه د روژې نه نیولو (روژې خوړلو) نیت وکړي، نو په دې صورت کي هم پر هغه صرف د دې ورځي قضاء واجبېږي، کفاره نه واجبېږي؛ وجه یې دا ده چي د روژې د صحیح کېدو لپاره نیت کول شرط دي، حال دا چي هغه نیت نه دی کړی او د شرط په نشتوالي سره مشروط ختمېږي. او کفاره پر هغه کس لازمېږي کوم چي د روژې نیولو څخه وروسته هغه ماته کړي، او دلته د نیت د نشتوالي په وجه روژه بالکل په وجود کي نه راغله، نو ځکه کفاره نه لازمېږي. (مراقی الفلاح مع الطحطاوي ص: ۳۶۹ بحوالۀ انوار الایضاح)

تر صبح صادق وروسته په خطاء سره د خوراک کونکي حکم

﴿۱۱۰۷﴾ أَوْ تَسَحَّرَ أَوْ جَامَعَ شَاكًّا فِيْ طُلُوْعِ الْفَجْرِ یا پېشلمی وکړي یا جماع وکړي په داسي حال کي چي شک کونکی وي د صبح صادق (سپېدو) په راختلو کي وَهُوَ طَالِعٌ حال دا چي هغه راختلی وي أَوْ أَفْطَرَ بِظَنِّ الْغُرُوْبِ یا روژه ماته کړي د لمر لوېدلو په ګومان سره وَالشَّمْسُ بَاقِيَةٌ حال دا چي لمر (تر اوسه) پاته وي.

لغات: ﴿تسحر﴾ د تفعّل له بابه ماضي معلومه ده: پېشلمی کول (یا په بله وینا د پېشلمي په وخت کي خوراک کول). ﴿شاک﴾ د نصر له بابه فاعل دی: شک کونکی، شکمن.

تشریح: که څوک په صبح صادق (سپېده چاود) کي شکمن وي، مثلاً نا وخته راویښ سي او په دې کي یې شک سي چي تر اوسه به صبح صادق سوی وي که نه وي (یا په بله وینا چي تر اوسه به سپېدې چاودلي وي، که نه)، په دې وخت کي پېشلمی (خوراک او څښاک) وکړي، یا جماع وکړي، حال دا چي په هغه وخت کي صبح صادق وي (یعني بیا معلومه سي چي د ده د پېشلمي خوړلو یا جماع کولو په وخت د سهار سپېدې چاودلي وې)، نو په دې صورت کي صرف قضاء واجبېږي.

همدارنګه که څوک ناوخته راویښ سي او ګومان یې دا سي چي تر اوسه شپه لا پاته ده او په همدې ګومان پېشلمی وکړي یا جماع وکړي، بیا وروسته ورته معلومه سي چي ما خو تر صبح

صادق (سپېده چاود) وروسته پېشلمی یا جماع کړی دی، نو هم پر هغه صرف قضاء واجبېږي؛ کفاره نه واجبېږي، خو بیا هم پاته ورځ به د روژتي په څېر خوراک او څښاک نه کوي.

أو أفطر بظنّ الغروب إلخ: همدارنګه که څوک د لمر لوېدلو په ګومان سره روژه ماته کړي، وروسته معلومه سي چي په حقیقت کي لمر لوېدلی نه وو، بلکي په هغه وخت کي خو لمر لوېدو ته څو دقیقې لا پاته وي، نو په دې صورت کي هم پر هغه صرف قضاء واجبېږي؛ ځکه تر څو چي لمر لوېدلی نه وي خوراک، څښاک او داسي نور صحیح نه دي، او کفاره نه واجبېږي. (انوار الایضاح، شفاء الارواح)

د چارپای یا د مړې ښځي سره د وطي کولو یا په ورنو او نس باندي د انزال حکم

﴿١١٠٨﴾ أَوْ أَنْـزَلَ بِوَطْئِ مَيْـتَةٍ أَوْ بَهِيْـمَةٍ یا انزال سي په وطي کولو سره د مړه یا د چارپای سره أَوْ بِتَفْخِيْذٍ أَوْ بِتَبْطِيْـنٍ یا (انزال سي) په نس یا ورون کي په مږلو سره.

لغات: ﴿میتـة﴾ په قاموسونو کي د "مَيْتَة" (بغیر تشدید الیاء) معنیٰ خو په "مړزګي" سره سوې ده: یعني داسي حیوان کوم چي په خپل مرګ مړ سوی وي (یا بله وینا: په خپله مردار سوی څاروی کوم چي ذبح کړی سوی نه وي) کوم ته چي "مرداره" هم وایي، او که "مَيِّتَة" (بتشدید الیاء) سي نو د "مړې ښځي" معنیٰ ورکوي، خو په شروحو کي "مَيْتَة" دی او معنیٰ یې په مطلق "مړه" (مرده) سره کړې ده.

تشریح: صورت د مسئلې دا دی چي که روژتي د مړه انسان یا د چارپای سره وطي وکړي او انزال سي، نو څرنګه چي په دې صورت کي له جانبینو څخه پوره قضاء شهوت نسته، نو ځکه په دې صورت کي صرف قضاء لازمېږي، همدارنګه که روژتي د خپلي ښځي په ورنو یا نس باندي ذکر ومږي او ځان انزال کړي، نو په دې صوت کي هم صرف د روژې قضاء لازمېږي، کفاره نه لازمېږي. (انوار الایضاح)

د مچي اخیستلو او مسه کولو په وجه د انزال حکم

﴿١١٠٩﴾ أَوْ قُبْلَةٍ أَوْ لَـمْسٍ یا (انزال سي) په مچولو (مچه اخیستلو) یا مسه کولو سره.

لغات: ﴿قبلة﴾ مچه، جمع: قُبَلٌ.

تشریح: که یو څوک د روژې په حالت کي له خپلي ښځي څخه مچه واخلي یا یې مسه کړي (مثلاً په غېږ کي یې ونیسي) چي د هغه په وجه انزال سي، نو روژه فاسدېږي او صرف قضاء لازمېږي، کفاره نه لازمېږي. (انوار الایضاح)

له رمضان څخه بغير د بلې روژې قصداً ماتولو حکم

﴿۱۱۱۰﴾ أَوْ أَفْسَدَ صَوْمَ غَيْرِ أَدَاءِ رَمَضَانَ يا د رمضان له ادائي روژې څخه بغير بله روژه فاسده (ماته) کړي.

تشریح: که یو چا د رمضان له روژې څخه بغیر بله روژه نیولې وي، مثلاً د رمضان د قضاء روژه، یا نفلي روژه، یا د کفارهٔ ظهار، کفارهٔ قتل او داسي بله روژه، او بیا یې ماته کړي، نو پر هغه کفاره نه راجبیږي. صرف قضاء لازمیږي. (انوار الایضاح)

د بیدې ښځي سره د جماع کولو حکم

﴿۱۱۱۱﴾ أَوْ وُطِئَتْ وَهِيَ نَائِمَةٌ يا د (روژتي) ښځي سره وطي وکړل سي په داسي حال کي چي هغه بیده وي.

تشریح: صورت د مسئلې دا دی چي که روژتي ښځه بیده وي او خاوند په همدې حالت کي وطي ور سره وکړي، نو د ښځي روژه فاسدیږي او صرف قضاء یې لازمیږي او (که خاوند روژتی وي. نو) پر خاوند قضاء او کفاره دواړه لازمیږي. (انوار الایضاح)

په شرمګاه (فرج) کي د دواء اچولو حکم

﴿۱۱۱۲﴾ أَوْ أَقْطَرَتْ فِيْ فَرْجِهَا يا ښځه څه شی وڅڅوي په خپل فرج کي (نو هم صرف قضاء لازمیږي) عَلَى الْأَصَحِّ د صحیح ترین قول مطابق.

تشریح: که ښځه په خپل شرمګاه کي دواء یا تېل او داسي نور وڅڅوي او واچوي، نو د اصح قول مطابق د هغې روژه ماتیږي او صرف د روژې قضاء لازمیږي. (انوار الایضاح بحوالهٔ البحر الرائق ج:۲. ص:۲۰۱)

په دُبر کي د ګوتي داخلولو حکم

﴿۱۱۱۳﴾ أَوْ أَدْخَلَ إِصْبَعَهُ مَبْلُوْلَةً بِمَاءٍ أَوْ دُهْنٍ فِيْ دُبُرِهٖ يا (روژتي) سړی ننه کړي خپله ګوته په داسي حال کي چي هغه خیشته (لنده) وي په اُوبو یا خیشته (غوړه) وي په تېلو سره خپل د شا په لاره (معقده) کي.

لغات: ﴿مبلولة﴾ د نصر له بابه اسم مفعول مؤنث دی: لنده، بَلَّ بَلَلًا: لندول، خیشتول.

تشریح: مسئله دا ده چي که روژتي خپل د شا په لاره کي ګوته واچوي، نو د دې دوه صورتونه دي:
① که ګوته وچه وي چي پر هغه د اوبو یا دواء اثر نه وي، نو روژه یې نه ماتیږي، ② او که لنده ګوته

وي کوم چي په اوبو، روغنو (تېلو) يا دواء سره لنده وي، نو روژه يې ماتيږي (ځکه اوبه يا تېل او داسي نور دننه نس ته ورسېدل)، او صرف قضاء لازميږي. (انوار الايضاح)

﴿۱۱۱۴﴾ أَوْ أَدْخَلَتْهُ فِيْ فَرْجِهَا الدَّاخِلِ يا ښځه دننه کړي خيشته ګوته په خپل دنني فرج کي (نو هم يې روژه ماتيږي او صرف قضاء لازميږي) فِي الْمُخْتَارِ د مختار (خوښ سوي) قول مطابق.

تشريح: صورت د مسئلې دا دی چي که يو ښځه په خپل دنني فرج (د شرمګاه په دننی حصه) کي لنده ګوته داخله کړي، نو فوراً د هغې روژه ماتيږي. (شامي ج: ۲، ص: ۱۳۵، شامي ج: ۳، ص: ۳۲۹)

په دُبر وغيره کي پمبه داخلول

﴿۱۱۱۵﴾ أَوْ أَدْخَلَ قُطْنَةً فِيْ دُبُرِهٖ أَوْ فِيْ فَرْجِهَا الدَّاخِلِ يا دننه کړي پمبه سړی خپل د شا په لاره کي يا ښځه په خپل دنني فرج کي وَغَيَّبَهَا او پکښې غائبه (ورکه) يې کړي.

لغات: ﴿غَيَّبَ﴾ د تفعيل د باب ماضي ده: غائبول، پټول، نهامول (نيلمول).

تشريح: صورت د مسئلې دا دی چي که يو سړی خپل د شا په لاره کي پمبه، يا د ټوکر يو ټوټه داخله کړيم يا يې ښځه په خپل دنني فرج کي داخله کړي او پوره لاندي يې ورسوي، نو په دې سره هم روژه فاسديږي او صرف قضاء لازميږي.

قصداً دود کشول

﴿۱۱۱۶﴾ أَوْ أَدْخَلَ حَلْقَهٗ دُخَانًا بِصُنْعِهٖ يا دننه کړي خپل حلق (ستوني) ته دود په خپل فعل سره.

تشريح: صورت د مسئلې دا دی چي که روژتي قصداً د يو شي دود (لکه د بټه بوی لرونکي بوټي دود يا د بل شي دود) د خولې د لاري يا د پزي د لاري کش کړي او ستوني يې ته داخل کړي، نو روژه يې فاسديږي او پر هغه صرف قضاء واجبيږي.

همدارنګه که روژتي قصداً سګرېټ، بېړی، او چلم وڅکوي، (يا مثلاً قصداً د عُود يا عنبر او داسي نورو دود ځان ته دننه داخل کړي)، نو په دې سره هم روژه ماتيږي او قضاء لازميږي او په بعضي صورتونو کي کفاره هم لازميږي يعني کله چي دا شيان (سګرېټ، چلم، عُود او داسي نور) نفع منډ وګڼي او له دوی څخه د نفع او لذت په حاصلولو سره د نس طلب پوره کوي، نو کفاره او قضاء دواړه لازميږي. کنې صرف قضاء سته. (فتاویٰ دار العلوم ج: ۶، ص: ۴۱۹، شامي ج. ۲. ص: ۱۳۴ بحوالهٔ انوار الايضاح)

په روژه کي قی وهل

﴿۱۱۱۷﴾ أَوِ اسْتَقَاءَ وَلَوْ دُوْنَ مِلْءِ الْفَمِ يا (قصدا) قی ووهي که څه هم په ډکه خوله وي (نو هم صرف قضاء لازميږي) فِيْ ظَاهِرِ الرِّوَايَةِ په ظاهر روايت کي وَ شَرَطَ أَبُوْيُوْسُفَ مِلْءَ الْفَمِ او امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله د خولې ډکوالی (په ډکه خوله قی وهل) شرط کړي دي وَ هُوَ الصَّحِيْحُ او همدا صحيح ده.

لغات: ﴿استقاء﴾ داستفعال دباب ماضي ده: د قي طلب کول. يعني قصداً قی وهل. ﴿دُوْن﴾ظرف مكان منصوب دی. د دې لفظ څو معناوي دي. د مضاف اليه په بدلون سره يې معنیٰ هم بدليږي. دلته يې معنیٰ ده: کم. د کمي درجې. لکه څرنګه چي ويل کيږي: هٰذَا الشَّیءُ دُوْنَ كَذَا: دا شی له هغه څخه د کمي درجې دی.

تشريح: مسئله دا ده چي که دروژې په حالت کي په خپل فعل سره مثلاً ګوته ستوني ته داخله کړې او قصداً قی ووهي، نو که دا قی په ډکه خوله وي. نو بالاتفاق روژه ماتيږي او قضاء لازميږي او که په ډکه خوله نه وي، نو هم دامام محمد رَحِمَهُ الله په نيز روژه ماتيږي. همدا ظاهر روايت دی او دامام ابو يوسف رَحِمَهُ الله په نيز نه ماتيږي او همدا صحيح ده.

﴿۱۱۱۸﴾ أَوْ أَعَادَ مَا ذَرَعَهُ مِنَ الْقَيْءِ وَكَانَ مِلْءَ الْفَمِ يا واپس (تېر) کړي هغه قی کوم چي ده ته خپله راغلی وي (بغير صنعه) او هغه په ډکه خوله وي وَهُوَ ذَاكِرٌ لِصَوْمِهِ په داسي حال کي چي هغه ته خپل روژه ياده وي.

لغات: ﴿ذرعه﴾ قی غالبه کېدل او خولې ته راتلل (بې اختياره قی راتلل). خوا ګرځی کېدل.

تشريح: صورت د مسئلې دا دی چي که يو روژتي ته خپله (د هغه له فعل څخه بغير) په ډکه خوله قی راسي او روژتي هغه قصداً ستوني ته وګرځوي او تېر يې کړي، نو روژه يې ماتيږي او صرف قضاء لازميږي. او که له ډکي خولې څخه کم قی وي او بيا يې قصداً وګرځوي، نو هم روژه ماتيږي لکه څرنګه چي په فتاویٰ عالمګيري (ج۱، ص۲۰۴) کي ليکلي دي، خو علامه طحطاوي رَحِمَهُ الله عدمِ فساد ته اصح ويلي دي.

د نخود په اندازه د غاښو په مینځ کي پاته شی خوړول

﴿۱۱۱۹﴾ أَوْ أَكَلَ مَا بَيْنَ أَسْنَانِهٖ یا وخوري هغه څه کوم چي یې د غاښو په مینځ کي (بند پاته) وي وَكَانَ قَدْرَ الْحِمَّصَةِ او هغه د نخود په اندازه وي.

لغات: ﴿أسنان﴾ جمع د سِنّ ده: غاښ. ﴿حِمَّصَة﴾ یو نخود.

تشریح: صورت د مسئلې دا دی چي مثلاً د پېشلمي په خوراک کي څه شی د روژتي په غاښو کي پاته سوی (بند سوی) وي، که روژتي هغه په ژبه سره را وباسي او وې خوري او هغه د نخود په اندازه وي. نو روژه یې ماتیږي او صرف قضاء لازمیږي. او که له خولي څخه یې بهر را وباسي او بیا یې وخوري. نو قضاء او کفاره دواړه لازمیږي. (شفاء الارواح، انوار الایضاح)

په هېره له خوراک کولو څخه وروسته د روژې د نیت کولو حکم

﴿۱۱۲۰﴾ أَوْ نَوَى الصَّوْمَ نَهَارًا بَعْدَ مَا أَكَلَ نَاسِيًا یا د روژې نیت د ورځي وکړي وروسته تر دې چي په هېره خوراک وکړي قَبْلَ إِيْجَادِ نِيَّتِهٖ مِنَ النَّهَارِ مخکي تر موجود والي د خپل نیت په ورځ کي (یعني د رمضان په ورځ کي یې تر اوسه د روژې نیت نه وي کړی او تر هغه مخکي په هېره خوراک وکړي او بیا د روژې نیت وکړي. نو په دې صورت کي هم صرف قضاء لازمیږي).

تشریح: صورت د مسئلې دا دی چي که په رمضان کي یو څوک په هېره خوراک یا چښاک وکړي، تر دې وروسته روژه ور په یاده سي چي دا خو د رمضان میاشته ده، نو د روژې اراده وکړي او له دغه په هېره خوراک او چښاک څخه مخکي یې د روژې نیت بالکل نه وي کړی. نو که څه هم دا خوراک او چښاک یې په هېره کړی دی خو (د نیت د ناموجود والي په وجه) بیا هم پر هغه قضاء لازمیږي. (په بله وینا دا چي که څوک د روژې له نیت کولو څخه مخکي په هېره خوراک یا چښاک وکړي. بیا د رمضان د روژې نیت له نصف النهار شرعي څخه مخکي وکړي. نو هم د هغه روژه نه صحیح کیږي او پر هغه قضاء لازمیږي، خو په عمدة الفقه کي دي چي د صحیح روایت پر بناء د هغه روژه صحیح کیږي (شفاء الارواح)، ها! که مخکي یې د روژې نیت کړی وی. بیا په هېره خوراک یا چښاک وکړي، نو اوس په روژه باندي هیڅ اثر نه لوېږي. (انوار الایضاح)

د روژې له نيت کولو څخه وروسته د بېهوښه کېدلو حکم

﴿۱۱۲۱﴾ أَوْ أُغْمِيَ عَلَيْهِ وَلَوْ جَمِيْعَ الشَّهْرِ يا پر هغه بېهوښي راسي (بې هوښه سي) که څه هم ټوله مياشته وي إِلَّا أَنَّهُ لَا يَقْضِي الْيَوْمَ الَّذِيْ حَدَثَ فِيْهِ الْإِغْمَاءُ أَوْ حَدَثَ فِيْ لَيْلَتِهِ خو قضاء به نه راوړي د هغه ورځي چي دا بېهوښي پکښي پېښه سوې وي يا چي د هغه ورځي په شپه کي دا بېهوښي پېښه سوې وي.

لغات: ﴿أُغمِي﴾ دافعال د باب ماضي مجهوله ده، مصدر: إِغْمَاء: بېهوښه کېدل (بې سده کېدل)،

﴿حدث﴾ د نصر د باب ماضي معلومه ده، مصدر: حُدُوْثًا: پېښېدل.

تشريح: صورت د مسئلې دا دی چي که څوک پېشلمی وکړي او د روژې نيت هم وکړي، تر دې وروسته په ورځ کي يا په همدې شپه کي بېهوښه سي او څو ورځي بېهوښه پروت وي، يا تر دې چي ټوله مياشت بېهوښه وي، نو په کومه ورځ چي بېهوښه سوی وي، د هغه ورځي قضاء پر ده واجب نه ده. لېکن تر هغه وروسته د نورو قضاء پر ده واجب ده؛ ځکه په کومه ورځ چي بېهوښه سوی دی، په هغه ورځ کي د روژې نيت موجود سو (ځکه د روژې نيت خو يې وکړی)، او د نيت کولو سره، سره دا بېهوښه کس د روژې له ماتونکو شيانو څخه هم منع او محفوظ سو، نو ځکه د هغه ورځي قضاء نه واجبېږي، او له هغه څخه بغير په نورو ورځو کي نيت موجود نه سو، لهذا په دې نورو ورځو کي د روژې له ماتونکو شيانو څخه منع کېدل روژه نه شمېرل کيږي، او نيت ځکه موجود نه سو چي بېهوښي له نيت څخه مانع ده. (انوار الايضاح، مراقي الفلاح)

په روژه کي د جنون (لېونتوب) ختمېدلو حکم

﴿۱۱۲۲﴾ أَوْ جُنَّ يا لېونی سي (مجنون سي) غَيْرَ مُمْتَدٍّ جَمِيْعَ الشَّهْرِ په داسي حال کي چي هغه (لېونتوب يې) ټوله مياشت نه وي غځېدلای (يعني جنون يې ټوله مياشت نه وي پاته سوی بلکي په بعضي حصه کي روغ سي).

لغات: ﴿جُنّ﴾ مصدر: جُنُونًا: لېونی کېدل، جنون پر دوه قسمه دی: يو اصلي دی او هغه دا چي جنون تر بلوغت مخکي پېښ سوی وي، دويم عارضي دی او هغه دا چي جنون تر بلوغت وروسته پېښ سوی وي، بيا به جنون ممتدّ وي (يعني ټوله مياشته به پاته سوی وي) يا به غير متمد وي (يعني ټوله مياشته به جنون نه وي پاته سوی). که جنون اصلي وي، نو برابره ده ممتدّ وي او که نه وي، قضاء يې نه لازمېږي، او که عارضي وي او

ممتدّ وي، نو هم قضاء لازمیږي لکه د تشریح په آخر کي چي ذکر سوي دي او که عارضي وي او غیر ممتد وي. نو د هغه حکم هم په تشریح کي مذکور دی. ﴿ممتدّ﴾ دافتعال له بابه فاعل دی: غوړېدلی. اوږد.

تشريح: صورت د مسئلې دا دی چي که مجنون د رمضان په یو حصه کي روغ سي او لېونتوب یې زائل سي (چي دې ته غیرِ ممتدّ جنون وایي)، نو د تېرو ورځو قضاء پر ده لازمیږي او په راروانو ورځو کي به روژه نیسي، حتیٰ که د رمضان په آخري ورځ هم مجنون تر زوال (نصف النهار) مخکي روغ سي. نو په دې صورت کي هم پر ده د هغه ټولو ورځو قضاء لازمیږي چي په هغوی کي دئ لېونی وو. او که ټوله رمضان تېر سي او دئ روغ نه سي (چي دې ته جنون ممتدّ وایي)، نو بیا پر ده قضاء نسته، ځکه چي غیر مکلف سو. (انوار الایضاح)

﴿۱۱۲۲﴾ وَلَايَلْزَمُهُ قَضَاؤُهُ بِإِفَاقَتِهِ لَيْلًا أَوْ نَهَارًا بَعْدَ فَوَاتِ وَقْتِ النِّيَّةِ او نه لازمیږي پر مجنون (لېوني) د رمضان قضاء د ده په روغېدلو (پر سد کېدلو) سره په شپه یا ورځ کي د نیت د وخت تر ختمېدلو وروسته فِي الصَّحِيْحِ د صحیح قول مطابق.

لغات: ﴿إفاقة﴾ د افعال د باب مصدر دی: په هوښ کي راتلل. پر سد کېدل، روغېدل.

تشريح: صورت د مسئلې دا دی چي که یو څوک د رمضان ټوله میاشته مجنون پاته سي او بیا د رمضان په آخري ورځ تر زوال (نصف النهار) وروسته یعني کله چي د نیت آخري وخت ختم او تېر سي بیا روغ سي، نو پر هغه قضاء نسته، همدارنګه که مجنون په شپه کي روغ سي. نو بیا هم پر هغه قضاء نسته. صاحب د مراقی الفلاح لیکلي دي "وعليه الفتوىٰ لأن الليل لا يُصام فيه ولا فيما بعد الزوال...". (انوار الایضاح)

یادونه: صاحب د شفاء الارواح د مذکوره عبارت پوره تشریح داسي کړې ده: چي که جنون غیرِ ممتدّ وي (یعني مجنون د رمضان په دوران کي یو وخت روغ سي) نو له روغوالي څخه مخکي د تیرو ورځو قضاء پر هغه لازم ده. او که ټوله رمضان مجنون وي یعني ټوله میاشت جنون باقي وي. یا د رمضان په دوران کي په یو شپه کي روغ سي، یا د رمضان په آخري ورځ تر نصفُ النهار شرعي وروسته روغ سي، نو په دې دریو صورتونو کي د امامانو اختلاف دی. د بعضو په نېز پر هغه قضاء لازم نه ده. همدې ته مصنف رَحِمَهُ الله "صحیح" ویلي دي، او د بعضو په نېز که مجنون د رمضان په هر یو ساعت کي هم روغ سي، برابره ده په شپه کي وي او که تر نصف النهار وروسته وي. نو پر هغه د تیرو ورځو قضاء لازمیږي، په کتابو کي دوارو قولونو ته صحیح ویل سوي دي. لیکن اصح او د فتویٰ لپاره مختار دویم قول دی. (شفاء الارواح بحوالۀ عمدة الفقه)

❁ ❁ ❁

فَصْلٌ فِیْ لَوَاحِقِهٖ

د روژې فاسدېدلو او د روژتیانو سره د مشابهت اختیارولو حکم

﴿۱۱۲۴﴾ يَجِبُ الْإِمْسَاكُ بَقِيَّةَ الْيَوْمِ عَلٰى مَنْ فَسَدَ صَوْمُهٗ واجب دي ځان نیول (له خوراک، چښاک او داسي نورو څخه منع کېدل) په پاته ورځ کي پر هغه چا چي روژه یې فاسده سوې (ماته سوې) وي.

لغات: ﴿إمساك﴾ د افعال د باب مصدر دی: نیول، منع کول، منع کېدل، پرهېز کول.

تشریح: صورت د مسئلې دا دی چي که دیو چا روژه ماته سي، نو د هغه لپاره ضروري ده چي پاته ورځ د روژتیانو په څېر له خوراک، چښاک او داسي نورو څخه پرهېز وکړي او تر ماښامه پوري د روژتیانو سره مشابهت اختیار کړي. برابره ده هغه بېله عذره روژه ماته کړې وي مثلاً قصداً یې خوراک یا چښاک کړی وي، یا د عذر مثلاً د سختي تبي په وجه یې ماته کړې وي او بیا تبه ختمه سي، په هر صورت کي به تر ماښامه پوري له خوراک، چښاک او داسي نورو څخه ځان ساتي.

بعضي حضراتو فرمایلي دي چي تر ماښامه پوري ځان ساتل او د روژتیانو سره مشابهت اختیارول مستحب دي، واجب نه دي، لېکن صحیح دا ده چي واجب دي. (شفاء الارواح)

﴿۱۱۲۵﴾ وَعَلٰى حَائِضٍ وَنُفَسَاءَ طَهُرَتَا بَعْدَ طُلُوْعِ الْفَجْرِ او (همدارنګه واجب دی امساک) پر هغه حیض والا او نفاس والا ښځي چي هغوی د صبح صادق له راختلو څخه وروسته پاکي سوي وي.

﴿۱۱۲۶﴾ أَوْ عَلٰى صَبِيٍّ بَلَغَ وَكَافِرٍ أَسْلَمَ او (همدارنګه واجب دی امساک) پر هغه کوچني (ملک) چي بالغ سي او پر هغه کافر چي اسلام راوړي وَعَلَيْهِمُ الْقَضَاءُ إِلَّا الْأَخِيْرَيْنِ او پر دوی ټولو قضاء واجب ده مګر پر آخري دوو (یعني له کوچني او نوي مسلمان څخه بغیر پر نورو د دې روژې قضاء هم واجب ده).

تشریح: یعني که تر صبح صادق (طلوع فجر) وروسته حیض یا نفاس والا ښځه له حیض یا نفاس څخه پاکه سي، یا نا بالغه هلک بالغ سي، یا کافر مسلمان سي، نو پر دوی ټولو د هغه ورځي په پاته حصه کي د روژتیانو په څېر له خوراک، چښاک او داسي نورو څخه منع کېدل واجب دي، او پر دغه حیض یا نفاس والا ښځي د هغه ورځي او د تېرو (فوت شده) روژو قضاء واجب ده، ماسوا له نابالغه هلک څخه چي د ورځي بالغ سي او ما سوا له کافر څخه چي د ورځي مسلمان سي، پر دوی د هغه ورځي قضاء واجب نه ده.

فَصْلٌ فِيْمَا يُكْرَهُ لِلصَّائِمِ وَفِيْمَا لَا يُكْرَهُ وَمَا يُسْتَحِبُّ

(دا) فصل په (بیان د) دهغو شیانو کي دی کوم چي د روژتي لپاره
مکروه دي او کو چي مکروه نه دي او هغه شیان کوم چي مستحب دي

د کنډورو او داسي نورو د ژوولو حکم

﴿۱۱۲۷﴾ كُرِهَ لِلصَّائِمِ سَبْعَةُ أَشْيَاءَ مکروه دي د روژتي (روژه دار) لپاره اووه شیان ذَوْقُ شَيْءٍ وَمَضْغُهُ بِلَا عُذْرٍ (۱) یو شی څکل (خوندیې کتل) (۲) او یو شی ژوول بغیر له عذر څخه.

لغات: ﴿ذَوق﴾ د نصر د باب مصدر دی: څکل، خوند کتل.

تشریح: مسئله دا ده چي د یو شي په څکلو (خوند کتلو) یا ژوولو سره روژه نه فاسدیږي. لیکن بېله عذره داسي کول مکروه دي. که عذر وي، نو مکروه نه دي، عذر مثلاً د یو ښځي خاوند ډېر بد مزاجه وي. د مالګي په کموالي یا زیاتولي سره ډېر ناراضه کیږي او سختي کوي. نو که د هغه ښځه مجبوراً د ښوروا یا کتغ وغیره خوند وڅکي، نو څه پروا نسته. او د څکلو (خوند کتلو) مطلب دا دی چي د ژبي په سر باندي یې داسي وڅکي او خوند یې وګوري چي د هغه ښوروا وغیره هیڅ جزء ستوني ته ولاړ نه سي.

او د ژوولو لپاره عذر دا دی چي بچي وږی وي او د هغه لپاره نرم (پوست) خوراک نه وي او نه د مور شیدې وي او نه د مور سره نژدې داسي څوک وي چي پر هغه روژه فرض نه وي مثلا حیض یا نفاس والا ښځه یا نا بالغه هلک یا مریض او داسي نور څوک چي د دغه بچي لپاره خوراک وژووي او ورېې کړي، نو په داسي صورت کي د روژتي ښځي لپاره خورواک ژوول او په بچي خوړل څه پروا نه لري. (شفاء الارواح)

ګوند یا داسي نور ژوول

﴿۱۱۲۸﴾ وَمَضْغُ الْعِلْكِ (۳) او ګوند ژوول.

لغات: ﴿الْعِلْك﴾ هر هغه ګوند (کنډوري) چي ژوول کیږي او په ژوولو سره یې ذات نه ویلي کیږي.

جمع: عُلُوْك و أَعْلَاك.

تشریح: مسئله دا ده چي که روژتي ګوند (کنډوري) وژووي. نو د هغه روژه خو نه فاسدیږي. خو د روژتي لپاره ګوند ژوول مکروه دي: ځکه کېدلای سي چي د هغه څه اجزاء تر ستوني تېر سي.

او په عمدة الفقه کي دي چي د کوم ګوند څه حصه هم د ناړو (لاړو) سره نس ته نه رسيږي، د هغه په ژوولو سره روژه نه ماتيږي او د کوم ګوند څه حصه هم چي د ناړو سره ګډ نس ته رسيږي، نو د هغه ګوند په ژوولو سره روژه ماتيږي (لکه د نن سبا ژاولي چي خوړ والى يې د ناړو سره نس ته رسيږي).

د روژې په حالت کي ښځه مچول او ور سره پرېوتل

﴿۱۱۲۹﴾ وَالْقُبْلَةُ وَالْمُبَاشَرَةُ (۴) او مچه اخيستل (۴) او يو د بل سره بدن مسه کول (يو ځاى ور سره پرېوتل) إِنْ لَمْ يَأْمَنْ فِيهِمَا عَلَى نَفْسِهِ الْإِنْزَالَ أَوِ الْجِمَاعَ که چيري په امن (مطمئن) نه سي په دې دواړو (مچولو او مسه کولو) کي پر خپل ځان له انزال او جماع څخه (نو مکروه دي) فِيْ ظَاهِرِ الرِّوَايَةِ په ظاهر روايت کي.

تشريح: د روژې په حالت کي خپله ښځه مچول او يو ځاى ور سره پرېوتل د داسي کس لپاره مکروه دي چي هغه ته د انزال يا جماع بېره وي او پر ځان يې باور نه وي، لېکن کوم کس ته چي دا بېره نه وي او پر ځان يې پوره باور وي، نو هغه ور سره پرېوتلاى سي. (انوار الايضاح بحوالهٔ در مختار مع الشامی)

ناړي (لاړي) تېرول

﴿۱۱۳۰﴾ وَجَمْعُ الرِّيْقِ فِي الْفَمِ ثُمَّ ابْتِلَاعُهُ او ناړي په خوله کي جمع کول او بيا تېرول.

لغات: ﴿رِيْق﴾ ناړي (لاړي)، جمع: أَرْيَاقٌ و رِيَاق.

تشريح: په خوله کي ناړي جمع کول او تېرول د روژې په حالت کي مکروه دي او له جمع کولو څخه بغير ناړي تېرول مکروه نه دي؛ ځکه له هغه څخه بچ کېدل ممکن نه دي. (شفاء الارواح)

داسي کار کول کوم چي د روژتي د ضُعف سبب ګرځي (مثلا وينه کښل)

﴿۱۱۳۱﴾ وَمَا ظَنَّ أَنَّهُ يُضَعِّفُهُ او (هر) هغه څه چي د هغه په باره کي د روژتي دا ګومان وي چي کمزوري به يې کړي (نو هغه هم مکروه دي) كَالْفَصْدِ وَالْحَجَامَةِ لکه رګ وهل او ښکر لګول (وينه کښل).

لغات: ﴿فصد﴾ د رګ د لاري خرابه (فاسده) وينه کښل. ﴿حجامة﴾ د ښکر په ذريعه خرابه وينه راخېښل (کښل)، د يو آلې په ذريعه خرابه وينه کښل.

تشريح: د روژې په حالت کي هر داسي کار چي په هغه سره د دومره ضعيف کېدلو بېره وي (چي روژتي به دومره اندازه ضعيف کړي) چي روژې ماتولو ته به مجبوره سي او د روژې ماتولو نوبت به راسي،

نو داسي كار اختيارول مكروه دي. او كه د ضُعف او كمزورۍ خطره ځني نه وي. نو جائز دي. ستلا شوګر (شكري) د ټيست (ازمايښت) لپاره په وينه وركولو كي هيڅ حرج نسته؛ ځكه په هغه كي لږ غونډي وينه اخيستل كيږي.

او په روژه خصوصاً په فرض روژه كي يو مريض ته خپله وينه وركول مكروه دي، همدارنګه ښكر لګول يا له رګ ځخه وينه كښل؛ ځكه چي له دې ځخه د ضُعف او كمزورتيا خطره شته. او كه دا خطره نه وي چي په دې عمل سره به د روژې ماتولو ته مجبوره نه سي، نو مكروه نه دي. (انوار الايضاح، شفاء الارواح)

نهه (۹) شيان كوم چي د روژتي لپاره مكروه نه دي

﴿۱۱۳۲﴾ وَتِسْعَةُ أَشْيَاءَ لَاتُكْرَهُ لِلصَّائِمِ او نهه (۹) شيان د روژتي لپاره مكروه نه دي اَلْقُبْلَةُ وَالْمُبَاشَرَةُ مَعَ الْأَمْنِ (۱) مچه اخيستل (۲) او يو د بل سره (يو تر بله) بدن مښه كول د امن سره (يعني چي پر ځان له انزال او جماع ځخه په امن او مطمئن وي).

تشريح: د روژې په حالت كي له خپلې ښځي ځخه مچه اخيستل او ور سره پر يو تل د داسي سړي لپاره بېله كراهته جائز دي چي هغه ته د انزال يا جماع خطره نه وي (يا په بله وينا چي پر ځان پلور لري چي انزال به نه سم او جماع ته به بالكل نژدې هم نه سم)، لهذا د ضعيفه بوډا كس لپاره بېله كراهته جائز دي.

﴿۱۱۳۳﴾ وَدَهْنُ الشَّارِبِ وَالْكَحْلُ (۳) او بريت غوړول (۴) او رانجه لګول (ستركي تورول) وَالْحَجَامَةُ وَالْفَصْدُ (۵) او ښكر لګول (۶) او رګ وهل.

تشريح: د روژې په حالت كي په بريتو باندي روغن لګول (بريتونه غوړول)، همدارنګه ستركي تورول (رانجه لګول) بېله كراهه جائز دي او په دې سره په روژه كي هيڅ خرابي نه راځي، همدارنګه ښكر لګول يا د رګ د لارې وينه كښل بېله كراهته صحيح دي كله چي له هغه ځخه د ضُعف پيدا كېدلو خطره نه وي.

د روژې په حالت كي مسواك وهل

﴿۱۱۳۴﴾ وَالسِّوَاكُ آخِرَ النَّهَارِ (۷) او مسواك وهل د ورځي په آخره (حصه) كي بَلْ هُوَسُنَّةٌ كَأَوَّلِهِ بلكي هغه (د ورځي په آخره كي مسواك وهل) سنت دي لكه د ورځي په اوله كي وَلَوْكَانَ رَطْبًا أَوْ مَبْلُوْلًا بِالْمَاءِ كه څه هم هغه مسواك خيشت (شين تازه) وي يا په اوبو سره لوند سوى وي.

تشريح: د روژې په حالت كې مسواک وهل بېله كراهته جائز دي، برابره ده د سهار په وخت كې وي او كه د ورځې په آخر كې وي، مصنف رحمه الله د "آخر النهار" قيد ځكه لګولى دى چې دا امام شافعي رحمه الله په نېز د روژتي لپاره تر زوال وروسته مسواک وهل مكروه دي. د هغه د مذهب رد كولو لپاره مصنف رحمه الله د "آخر النهار" قيد لګولى دى او فرمايلي يې دي چې مسواک هر وخت وهلاى سي. برابره ده مسواک خيشت تازه ي او كه وچ وي او برابره ده په اوبو لوند سوى وي او كه نه وي، مطلقاً هيڅ كراهت نسته. (شفاء الارواح)

❀ ❀ ❀

مسئله: كه د مسواک وهلو په وخت كې د مسواک ريښه ستوني ولاړه سي او نس ته ورسيږي، نو په دې سره روژه نه فاسديږي. (احسن الفتاوىٰ ج:۴، ص:۴۳۵)

﴿۱۱۳۵﴾ وَالْمَضْمَضَةُ وَالْاِسْتِنْشَاقُ لِغَيْرِ وُضُوْءٍ (۸) او خوله پرېولل او پزه پرېولل (اوبه پكښي اچول) بغير له اودس څخه (په بل وخت كې هم مكروه نه دي).

تشريح: د روژې په حالت كې له اودسه څخه بغير بل وخت خوله او پزه پرېولل يعني په خوله كې اوبه رغړول او پزي ته اوبه كښول او پرېولل بېله كراهته صحيح دي، خو په مضمضه او استنشاق كې په مبالغه كولو سره روژه مكروه كيږي (خو په دې كې ډېر احتياط كول پكار دي؛ ځكه كه د پزي يا د خولې د لاري اوبه ستوني ته داخل سي، نو روژه يې ماتيږي). (انوار الايضاح بحوالهٔ هنديه ج:۱، ص:۱۹۹)

د ګرمۍ يا تندي په وجه په روژه كي غسل كول

﴿۱۱۳۶﴾ وَالْاِغْتِسَالُ وَالتَّلَفُّفُ بِثَوْبٍ مُبْتَلٍّ لِلتَّبَرُّدِ (۹) او غسل كول او په لنده (خيشته) جامه كي ځان پېچل د ځان يخولو لپاره (هم مكروه نه دى) عَلَى الْمُفْتٰى بِهٖ د مفتىٰ بهٖ قول مطابق.

لغات: ﴿تلفّف﴾ د تفعل د باب مصدر دى: ځان پېچل (ځان پكښي نغښتل)، ﴿تبرّد﴾ دا هم د تفعّل له بابه اسم مصدر دى: يخوالى، ځان يخول، لكه څرنګه چي ويل كيږي تَبَرَّدَ مِنَ الْمَاءِ يَتَبَرَّدُ: فلانكى د يخوالي (ځان يخولو) لپاره اُوبو ته شوه سو.

تشريح: صورت د مسئلې دا دى چې د ګرمي يا تندي په وجه او د ځان يخولو لپاره ځان لندول، غسل كول (او بار. بار كول) بېله كراهته صحيح دي، همدارنګه په لنده خيشته كپړه كې ځان چېچل او لوند خيشت څادر يا داسي بل شى پر سر اېښوول بېله كراهته جائز دي. پر همدې فتوىٰ ده. دا د امام ابو

یوسف رَحِمَهُ الله مسلک دی. امام صاحب رَحِمَهُ الله دغه افعالو ته مکروه ویلي دي. (انوار الایضاح بحواله در مختار مع الشامی)

د روژې مستحبات (په پېشلمي کي تأخير کول او په روژه مات کي تعجيل کول)

﴿۱۲۶﴾ وَيَسْتَحِبُّ لَهُ ثَلَاثَةُ أَشْيَاءَ او مستحب دي د روژتي (روژه دار) لپاره درې شيان

السُّحُوْرُ (۱) پېشلمی کول وَتَأْخِيْرُهُ (۲) او پېشلمی ځنډول (د شپې آخري حصې ته) وَ

تَعْجِيْلُ الْفِطْرِ فِيْ غَيْرِ يَوْمِ غَيْمٍ (۳) او د وريځي له ورځ څخه بغير په بله ورځ کي

ژر (وختي) روژه ماتول (په تلوار سره او وختي ا روژه مات کول).

لغات: ﴿سحور﴾ (د سين په فتحه سره): پېشلمی، هغه خوراک کوم چي تر صبح صادق (طلوع الفجر) څخه

مخکي خوړل کيږي. ﴿غيم﴾ وريځ، جمع: غُيُوْمٌ.

تشريح: په دې عبارت کي د روژتي لپاره درې مستحبات بيان سوي دي:

①... د پېشلمي خوراک کول مستحب دي، که څه هم يوه ګوله يا دوې ګولې وخوري، يا يو. دوه غوړپه اوبه وچيښي، په روايتونو کي راځي چي کوم څوک يوه ګوله وخوري يا يو غوړپ اوبه وچيښي، نو هغه پېشلمی وکړی (مسند احمد، سنن سعيد بن منصور)، لهذا د کوم چا چي خوراک او څښاک ته اشتهاء نه کيږي او ضرورت يې نه وي، نو لږ تر لږه دي يوه يا دوې خرماوي وخوري، يا يو. دوه غوړپه اوبه دي وڅيښي، د دې لپاره چي د پېشلمي پر سنت عمل وسي؛ ځکه بعضي حضرات د پېشلمي د سنت والي قائل دي او همدا مشهوره ده. (عمدة الفقه)

په پېشلمي کولو کي فايده دا ده چي په هغه سره د روژتي زړه مطمئن کيږي. چا چي پېشلمی نه وي کړي، روژه پر هغه زور کوي. همدارنګه په پېشلمي کولو سره د مسلمانانو او اهلِ کتابو تر مينځ توپير راځي لکه څرنګه چي په يو حديث کي دي چي زموږ او د اهلِ کتابو په مينځ کي فرق د پېشلمي يوه ګوله ده. همدارنګه په پېشلمي کولو کي د سنت اتباع. په نشاط کي زياتوب او د دعاء قبلېدلو په ساعت (آخر الليل) کي د دعاء موقع تر لاسه کېدل او داسي نور ډېر فوائد پکښي سته.

②... پېشلمي ځنډول او د شپې په آخر کي د صبح صادق (طلوع فجر) سره نژدې کول مستحب دي او د پېشلمي ځنډول تر هغه وخته پوري مستحب دي کله چي یې یقین یا غالب گومان وي چي تر اوسه شپه باقي ده، او که په وخت کي یې شک واقع سي، نو په داسي وخت کي پېشلمی کول مکروه دي (خو څرنګه چي په اوس دور کي د وخت تعیین د ساعت او جدول (نقشې) په ذریعه سره کېږي. نو ځکه اوس د پېشلمي په تعیین او تأخیر کي څه شک او ستونزه نه راځي). (عمدة الفقه)

③... په روژه مات کي تلوار کول، یعني د لمر لوېدلو سره سمدستي تر لمونځ کولو مخکي روژه مات کول، په حدیث قدسي کي دي چي "ما ته په خپلو بندګانو کي هغه بندګان زیات خوښ دي کوم چي په روژه ماتولو کي تلوار (تېزي) کوي"، او په یو حدیث کي دي چي نبي کریم ﷺ وفرمایل "خلک به برابر په خیر کي وي تر څو چي په روژه ماتولو کي تلوار کوي (ترمذی ج:۱، باب ما جاء فی تعجیل الإفطار)، خو که چیري په آسمان باندي وریځ وي او د لمر لوېدلو په هکله یقین نه کېږي، نو بیا دي په روژه مات کي تلوار نه کول کېږي، بلکي هر کله چي د لمر لوېدلو په باره کي پوره مطمئن سي بیا دي روژه ماته کړي (لېکن اوس د ساعتونو او نقشو په دور کي دا ستونزه نه راځي). (انوار الایضاح، شفاء الارواح)

* * *

فَصْلٌ فِی الْعَوَارِضِ

(دا) فصل په (بیان د) عوراضو کي دی

تشریح: په دې فصل کي عوارض یعني هغه اعذار (عذرونه) بیانوي چي د هغوی په وجه روژه نه نیول یا روژه ماتول جائز دي.

اعذارِ مُبیحه

﴿۱۱۳۸﴾ لِمَنْ خَافَ زِيَادَةَ الْمَرَضِ (روژه خوړل روا دي) د هغه کس لپاره چي بیریږي د ناروغی پر زیاتېدو أَوْ بُطْءَ الْبُرْءِ یا د روغتیا پر ځنډېدو وَلِحَامِلٍ وَمُرْضِعٍ او (همدارنګه روا ږي) د هغه حامله ښځي او تي ورکونکي ښځي لپاره خَافَتْ نُقْصَانَ الْعَقْلِ أَوِ الْهَلَاكَ أَوِ الْمَرَضَ عَلَى نَفْسِهِمَا کوم چي بیریږي د عقل پر کموالي (دماغي کمزوری) یا له هلاکېدو یا ناروغه کېدو څخه پر خپلو ځانو (پر خپل ځان یا د بچي پر ځان) نَسَبًا كَانَ أَوْ رِضَاعًا برابره ده (بچی) نسبي وي او که رضاعي وي (یعني برابره ده د ښځي خپل نسبي بچی وي چي تی ورکوي یا د بل چا بچی وي چي د دایي په توګه تی ورکوي).

لغات: ﴿بُطء﴾ د کرُم د باب مصدر ده، بَطَأَ بُطْأً وبِطَاءً وبُطُوْءًا: سست کېدل (ستېدل)، کرارېدل، رفتار کرارېدل. ﴿بُرْء﴾ د سمع د باب مصدر دی: بَرِئَ بَرْئًا وبُرْئًا: جوړېدل، روغېدل، البرء، اسم مصدر دی: جوړښت. روغتیا، ﴿رَضَاع﴾ (د راء په فتحه او کسره دواړو سره ویل کېدلای سي. خو د راء فتحه یې اصل ده په فصیح لغت کي) د ضرب، فتح او سمع له بابونو څخه مصدر دی: د رضاع لغوي معنیٰ ده: د مور له سینې (تیو) څخه شیدې رودل، او اصطلاحي معنیٰ یې ده: "په ځانګړي وخت کي (یعني د

رضاعت په دو نیم کاله موده کې) دیو ښځي له سینې څخه د ځانګړي کوچني (یعني د رضیع بچي) شیدې رودل.

تشریح: په دې عبارت کې څو مسئلې بیان سوي دي:

(۱).... که څوک مریض وي او د روژې نیولو په وجه د هغه د مرض زیاتېدلو بېره وي. نو داسې مریض ته په رمضان کې د روژې ماتولو یا روژې نه نیولو اجازه سته، بیا چې کله روغ سي او د روژې نیولو قابل سي، نو د هغه قضاء دې راوګرځوي، (۲) که څوک مریض وي او د روژې نیولو په وجه د هغه د روغتیا ځنډېدلو (مرض اوږدېدلو) بېره وي. نو د داسې مریض لپاره هم روژه نه نیول جائز دي. (۳)د حمل په حالت کې یا بچي ته د شیدو ورکولو په حالت کې که ښځي ته دا بېره وي چې د روژې نیولو په وجه به مې په عقل کې نقص او کمزوري راسي یا به مریضه سم یا بچی به مې مریض سي یا د خپل ځان یا بچي پر هلاکت وبېرېږي. یعني حاملې ښځي ته پر خپل حمل (د نس پر بچي) بېره وي او تی ورکونکي ښځي ته د شیرخواره بچي بېره وي، نو د دې دواړو ښځو لپاره روژه نه نیول جائز دي او وروسته د هغه روژو قضاء پرې لازمه ده.

نسبًا.. رضاعًا: یعني دا (د روژه نه نیولو حکم) د بچي د خپل مور او د رضاعي مور (کوم چې بچي ته د تي ورکولو لپاره په اُجرت نیول سوې وي) د دواړو لپاره برابر دی.

﴿۱۱۳۹﴾ وَالْخَوْفُ الْمُعْتَبَرُ مَاكَانَ مُسْتَنَدًا لِغَلَبَةِ الظَّنِّ بِتَجْرِبَةٍ او معتبره بېره (کوم چې دلته اعتبار لري) هغه بېره ده کوم چې نژدې وي غالب ګومان لره په تجربه سره (یعني په تجربه سره د مذکوره خوف غالب ګومان وي) أَوْإِخْبَارِ طَبِيْبٍ مُسْلِمٍ حَاذِقٍ عَدْلٍ یا د مسلمان ماهره عادل طبیب (ډاکټر) په خبر ورکولو سره (د مذکوره خوف غالب ګومان وي).

لغات: ﴿تجربة﴾ ازموینه (ازمایل)، جمع: تَجَارِب. ﴿حاذق﴾ ماهر. کمال داره. جمع: حُذّاق.

تشریح: په تېر عبارت کې چې کوم د خوف (بېرې) یادونه وسوه چې د هغه په وجه روژه ماتول او روژه نه نیول جائز ګرځي، له دې څخه هغه خوف مراد دی چې روژه نیونکي ته په یو تجربه سره د مذکوره خوف (بېري) غالب ګومان وي (چې مرض به مې زیات سي یا مریض به سم او داسې نور)، یا یو مسلمان ماهره طبیب (ډاکټر) هغه ته د مذکوره خوف خبر ورکړي، نو داسې کس ته د روژه نه نیولو شرعي اجازه سته. لهذا تر څو چې دا قسم خوف نه وي، د هغه لپاره روژه نه نیول یا روژه ماتول جائز نه دي. بیا هم که هغه روژه نه ونیسي یا روژه ماته کړي، نو کفاره واجبېږي. (شفاء الارواح بحوالهٔ عمدة الفقه)

﴿۱۱۴۰﴾ وَلِمَنْ او (همدارنګه روا دي روژه خوړل) د هغه کس لپاره حَصَلَ لَهٗ عَطَشٌ شَدِيْدٌ أَوْ جُوْعٌ يُخَافُ مِنْهُ الْهَلَاكُ چې هغه ته سخته تنده یا لوږه رسېدلې وي چې له هغه څخه د هلاکت بېره وي.

لغات: ﴿عطش﴾ د سمع له بابه اسم مصدر دی: تنده، عَطِشَ يَعْطَشُ عَطَشًا: تږی کېدل. ﴿جوع﴾ د نصر له بابه اسم مصدر دی: لوږه (وږه)، جَاعَ يَجُوْعُ جَوْعًا و جَوْعَةً و مَجَاعَةً: وږی کېدل.

تشریح: که د یو کار کولو او خواري کښلو په وجه روژتي دومره تږی او بېتابه سي چې د ځان پر هلاکت وبېرېږي، نو د هغه لپاره روژه ماتول صحیح دي، لېکن که هغه خپله قصداً دا دومره کار کړی وي چې په دې وجه داسې حالت ته رسېدلی وي، نو ګنهګاره کېږي او د کفارې لازمېدلو په باره کې دوه قوله دي: یو قول دا دی چې کفاره هم لازمېږي او بل قول دا دی چې نه لازمېږي (انوار الایضاح بحواله در مختار)، (او صاحب د شفاءُ الارواح د مذکوره خبري تشریح داسې کړې ده چې که څوک له خپل طرفه داسې فعل وکړي مثلاً د ښکار کولو لپاره ولاړ سي او هلته ډېر وځغلي چې د هغه په وجه دومره تنده او لوږه ورته پېښه سي، نو په دې صورت کې د روژې ماتولو په وجه کفاره هم لازمېږي. خو نوکر او مزدور کوم چې پر دا قسم کار مجبوره وي او هغه دې حالت ته ورسېږي او روژه ماته کړي، نو پر هغه کفاره نه لازمېږي [شفاء الارواح]).

د مسافر لپاره څه حکم دی؟

﴿۱۱۴۱﴾ وَلِلْمُسَافِرِ الْفِطْرُ او د مسافر لپاره روژه خوړل (روا) دي وَصَوْمُهٗ أَحَبُّ او د ده (لپاره) روژه نیول افضل دي إِنْ لَّمْ يَضُرَّهٗ وَلَمْ تَكُنْ عَامَّةُ رُفْقَتِهٖ مُفْطِرِيْنَ وَلَا مُشْتَرِكِيْنَ فِي النَّفَقَةِ (په دې شرط) که روژه نیول ده ته نقصان نه کوي او د ده عام (اکثره) ملګري روژه خوړونکي نه وي او نه دوی (د ده) سره مشترک وي په نفقه کې فَإِنْ كَانُوْا مُشْتَرِكِيْنَ أَوْ مُفْطِرِيْنَ بیا که دوی (د ده) سره مشترک وي یا دوی روژه خوړونکي وي (روژه یې نه وي نیولې) فَالْأَفْضَلُ فِطْرُهٗ نو افضل د ده (لپاره) روژه خوړل دي مُوَافَقَةً لِلْجَمَاعَةِ د جماعت (ملګرو) سره د موافقت کولو لپاره.

لغات: ﴿لم یضرّه﴾ د نصر له بابه د جحد (نفي جحد بلم در فعل مستقبل معروف) صیغه ده: ضرر رسول، تاوان رسول. او دلته له ضرر څخه مراد هغه ضرور دی چې په هغه کې د ځان خطره نه وي، ځکه که د ځان خطره پکښې وي، نو بیا د مسافر لپاره روژه ماتول واجب دي.

تشریح: مسئله دا ده چې د مسافر لپاره روژه نه نیول جائز دي، لېکن که هغه ته روژه نیول څه ضرر او نقصان نه کوي یعني د هغه لپاره تکلیف او مشقت نه وي، نو د هغه لپاره روژه نیول مستحب او افضل دي. همدارنګه که څو ملګري یو ځای په سفر روان وي او د اکثرو ملګرو روژه وي او دوی د خوراک او څښاک په خرچه (توښهٔ سفر) کې مشترک نه وي بلکې د هر یوه سره جلا، جلا (توښهٔ) وي، نو هم روژه نیول افضل او غوره دي، لېکن که د اکثره ملګرو روژه نه وي، یا ټوله د خوراک او څښاک په خرچه (توښهٔ سفر) کې سره شریکان وي، نو د ملګرو په رعایت کې روژه نه نیول افضل دي: ځکه که د دوی سره موافقت نه وسي او روژه ونیول سي، نو د خوراک په انتظام او د خرچ په تقسیم کې به د ده ملګرو ته تکلیف وي، نو ځکه د ملګرو په موافقت کې به روژه نه نیول افضل وي. (انوار الایضاح. شفاء الارواح)

د مریض حکم

۱۱۳۲ وَلَا يَجِبُ الْإِيْصَاءُ عَلٰى مَنْ مَاتَ قَبْلَ زَوَالِ عُذْرِهٖ بِمَرَضٍ أَوْ سَفَرٍ وَنَحْوِهٖ او واجب نه دي (د فدیه اداء کولو) وصیت کول پر هغه کس کوم چې مړ سي د خپل مرض یا سفر د عذر او د داسې بل عذر تر زائلېدلو (ختمېدلو) مخکې كَمَا تَقَدَّمَ لکه مخې چې تېر سوه وَقَضَوْا مَا قَدَرُوْا عَلٰى قَضَائِهٖ بِقَدْرِ الْإِقَامَةِ وَالصِّحَّةِ او قضاء دې راوړي د څومره روژو پر قضاء چې قدرت لري (مسافر) د اقامت په اندازه او (مریض) د روغتیا په اندازه.

تشریح: مسئله دا ده چې که مریض د مرض په حالت کې مړ سي او مسافر د سفر په حالت کې مړ سي. نو د مرض او سفر په وجه چې د رمضان کومې روژې قضاء سوې دي، د هغوی د فدیې وصیت کول واجب نه دي چې "تاسې زما د مال له دریمې حصې (ثلثُ المال) څخه د دې روژو فدیه اداء کړئ!": ځکه د دې مریض او مسافر پر ذمه قضاء لازم سوې نه ده؛ ولې چې پر دوی قضاء هغه وخت لازمیږي کله چې د مرض او سفر تر ختمېدلو وروسته دومره زمانه پیدا کړي چې په هغه کې روژې نیولای سي. حال دا چې دلته دوی ته د قضاء بالکل هیڅ وخت نه دی تر لاسه سوی، نو ځکه قضاء نه باندې لازمیږي.

وقضوا الخ: یعني که مریض روغ سي او مسافر مقیم سي، بیا دوی مړه سي. نو پر دوی قضاء لازمیږي. اوس که له روغتیا او اقامت (مقیم کېدو) څخه وروسته دومره ژوندی پاته سي د څومره ورځو

چي روژې فوت سوي (پاته سوي) وي، نو د ټولو فوت شده روژه قضاء باندي لازمه ده او که يو څو ورځي ژوندی پاته سوي وي، نو د روغتيا او اقامت په اندازه د روژو قضاء باندي لازميږي. مثلاً د مرض يا سفر په وجه شل روژې څني فوت سوي وې، بيا له روغېدو يا مقيم کېدو څخه وروسته لس ورځي ژوندی پاته سي (او په دې لسو ورځو کي روژه نه ونيسي) او مړه سي. نو پر هغه د لسو روژو قضاء واجب ده. لهذا د مرګ په وخت کي به د لسو روژو د فديې ورکولو وصيت کوي؛ ځکه له دې څخه بغير د نورو روژو پر قضاء د دوی قدرت ثابت نه سو. (انوار الايضاح. شفاء الارواح)

د قضاء روژې پرلپسې نيول ضروري نه دي

﴿۱۱۳۲﴾ وَلَا يُشْتَرَطُ التَّتَابُعُ فِي الْقَضَاءِ او شرط نه دی پرلپسې والی (پرلپسې نيول) په قضاء (قضايي روژه) کي فَإِنْ جَاءَ رَمَضَانٌ آخَرُ بيا که بل رمضان راسي (حال دا چي قضائي روژه پر ده پاته وي) قَدَّمَ عَلَى الْقَضَاءِ نو مخکي دي يې کړي پر قضاء (قضائي روژې) وَلَا فِدْيَةَ بِالتَّأْخِيرِ إِلَيْهِ او (پر ده) فديه نسته د (قضائي روژې) ځنډولو په وجه ودويم رمضان ته.

لغات: ﴿تتابع﴾ د تفاعل د باب مصدر دی: پرلپسې والی. يو کار پرلپسې کول.

تشريح: د عبارت حاصل دا دی چي د رمضان په قضائي روژو کي تتابع شرط نه دی چي ټوله قضاء سوي روژې يو د بل سره متصل او پرلپسې به نيسي، بلکي د ده خوښه ده که يې جلا، جلا نيسي او که يې پر يوه ځای پرلپسې نيسي.

فإن جاء إلخ: يعني که تر اوسه يو چا د رمضان د قضاء روژې نه وي نيولي چي په دې دوران کي بل رمضان راسي، نو هغه دي د همدې بل رمضان روژې ونيسي او د تېر رمضان د قضاء روژې دي تر دغه رمضان وروسته اداء کړي، او د دې تأخير په وجه پر هغه هيڅ فديه نه واجبيږي.

د شيخ فاني او فانيه حکم

﴿۱۱۳۳﴾ وَيَجُوْزُ الْفِطْرُ لِشَيْخٍ فَانٍ وَعَجُوْزٍ فَانِيَةٍ او جائز دي روژه خوړل (روژه نه نيول) د زيات بوډا لپاره (کوم چي قريبُ الفناء وي) او د زياتي بوډۍ لپاره وَتَلْزَمُهُمَا الْفِدْيَةُ لِكُلِّ يَوْمٍ نِصْفُ صَاعٍ مِنْ بُرٍّ او لازمه ده پر دې دواړو فديه د هري ورځي (د روژې) په بدله کي نيم صاع د غنمو كَمَنْ نَذَرَ صَوْمَ الْأَبَدِ لکه څوک چي د همېشه (ټوله عمر) روژو نذر ومني فَضَعُفَ عَنْهُ

شْتِغَالِهٖ بِالْمَعِيْشَةِ بيا دي له هغه (نذر پوره کولو) څخه عاجزه سي په روزي د مشغولېدو په
زحه يعني د روزي گټلو او د ژوند د مصروفيت نو په وجه خپل نذر پوره نه کړی سي) يُفْطِرُ وَيَفْدِيْ هغه دي روژه
خوري او فديه دي ورکوي (نو لکه څرنگه چي هغه د هري روژې په عوض کي فديه ورکوي. همداسي به يې شيخ فاني
او فانيه هم ورکوي) فَإِنْ لَمْ يَقْدِرْ عَلَى الْفِدْيَةِ لِعُسْرَتِهٖ بيا که پر فديه قدرت نه لري د خپل
تنگلاسی په وجه يَسْتَغْفِرُ اللّٰهَ تَعَالٰى وَيَسْتَقِيْلُهٗ نو له الله تعالى څخه دي استغفار او د معافی
طلب (غوښتنه) کوي.

لغات: ﴿شيخ فاني﴾ ډېر بوډا. ډېر ضعيفه سپين ږيری چي په هغه کي بالکل هيڅ قوت پاته نه وي او مرگ ته نژدې سوی وي. د عُمر هيڅ تعيين پکښي نسته. پر قوت او عدمِ قوت باندي دار ومدار دی.

﴿عجوز﴾ بوډۍ. سپين سرې ښځه. جمع: عُجُزٌ و عَجَائِز. ﴿معيشة﴾ په کوم څه سره چي د انسان ژوند وي. د انسان د گزارې (ژوندې تېروني) سامان لکه خوراک، څښاک، آمدن او داسي نور. جمع: مَعَايِش.

﴿عُسْرَة﴾ تنگلاسي. مالي ستونزه. سختي. ﴿يستقيل﴾ د استفعال د باب مضارع ده. د دې باب له معناوو څخه يوه معنیٰ ده: د معافی طلب کول. له يو چا څخه غوښتل چي ده ته معافي وکړي او د ده له خطاء څخه تېر سي.

تشريح: شيخِ فاني او فانيه که په روژه نيولو باندي قدرت نه لري. نو د دوی لپاره روژه نه نيول جائز دي او پر دوی د هري روژې په بدله کي فديه ورکول واجب دي. د دې مثال داسي دی لکه يو کس چي تول عمر د همېشه روژو نيولو نذر ومني، بيا دا کس په کار او کسب د مشغولېدلو په وجه ضيعفه سي او له روژو نيولو څخه عاجزه سي، نو د هغه لپاره روژه نه نيول جائز دي او فديه ورکول باندي لازم دي. او د هري ورځي د روژې فديه د هر فرض لمانځه د فديې په څېر ده. او د فديې مقدار دا دی چي د هري روژې په بدله کي دي نيم صاع غنم يا يو صاع اُوربشي يا خرماوي (کجوري) يا د دې شيانو قيمت مسکينانو ته ورکول سي (يعني قيمت ورکول يې هم جائز دي)، او په فديه ورکولو کي د مسکينانو شمېر او د هر مسکين لپاره د صدقهٔ فطر مقدار ورکول شرط نه دي، لهذا که يوه مسکين ته د دوو ورځو فديه نيم صاع غنم ورکړي، يا يوه مسکين ته د ټولو روژو فديه ورکړي، يا د يوې روژې فديه غنم څو مسکينانو ته لږ. لږ ورکړي. نو هم جائز دي.

لإن لم یقدر إلخ: یعني پر کوم چا چي د روژې فدیه واجب وي. که هغه د تنګلاسی په وجه د هغه پر اداء کولو هم قادر نه وي. نو هغه دي له الله تعالیٰ څخه د بخښني (مغفرت) غوښتنه کوي او د الله تعالی د حق په اداینه کي د قصور واقع کېدو لپاره دي بخښنه او معافي غواړي.

د کفارهٔ یمین او کفارهٔ قتل فدیه ورکول جائز نه دي

﴿۱۱۲۵﴾ وَلَوْوَجَبَتْ عَلَيْهِ كَفَّارَةُ يَمِيْنٍ أَوْقَتْلٍ او که چیري واجب سي پر یو چا د قسم یا د قتل (قتلِ خطا) کفاره فَلَمْ يَجِدْ مَايُكَفِّرُبِهٖ مِنْ عِتْقٍ بیا هغه نه موندي داسي څه چي په هغه سره کفاره اداء کړي یعني غلام آزادول (یعني د کفاره اداء کولو لپاره یو غلام پیدا نه کړي) وَهُوَشَيْخٌ فَانٍ حال دا چي هغه شیخ فاني (زیات بوډا) وي (چي د روژه نیولو هیڅ طاقت پکښي نه وي) أَوْلَمْ يَصُمْ حَتّٰى صَارَ فَانِيًا یا (د کفارې واجبېدلو په وخت کي خو د روژې طاقت لري. لېکن) هغه روژې نه نیسي تر دې چي شیخ فاني وګرځي لَايَجُوْزُ لَهُ الْفِدْيَةُ نو د هغه لپاره فدیه ورکول جائز نه دي لِأَنَّ الصَّوْمَ هُنَا بَدَلٌ عَنْ غَيْرِهٖ ځکه چي روژه دلته د بل شي (غلام آزادولو یا صدقې) بدل ده.

تشریح: صورت د مسئلې دا دی چي که پر یو کس د قسم کفاره (کفارهٔ یمین) یا د قتل خطا کفاره واجب وي او هغه د غلام پر آزادولو قادر نه وي، نو پر هغه خو اوس روژې لازم دي (ځکه د کفارې په اداء کولو کي ترتیب دا دی چي اول به غلا آزادوي. که د هغه طاقت نه لري. نو بیا به روژې نیسي). لېکن دغه کس چي دی شیخ فاني دی او د روژو نیولو قدرت هم نه لري، یا دا چي د کفارې لازمېدلو په وخت کي شیخ فاني نه وو، لېکن ده روژې نه ونیولې تر دې چي شیخ فاني او معذوره سو، نو د داسي کس لپاره (د کفارهٔ یمین او کفارهٔ قتل) فدیه اداء کول جائز نه دي یا په بله وینا د داسي کس لپاره په خپل ژوند کي د فدیې وصیت کول جائز نه دي؛ ځکه د روژو پر ځای فدیه ورکول هغه وخت جائز کېدلای سي چي روژه بذات خود اصل وي (یا په بله وینا مستقل فرض وي) او د یو بل شي په بدله کي نه وي، حال دا چي دلته په دغه کفاره کي روژې د غلام په بدله کي دي (یعني کله چي هغه د غلام پر آزادولو قادر نه سو. نو د هغه په بدله کي روژې واجب سوې)، نو د دې بدل (روژو) پر ځای فدیه ورکول جائز نه دي (او صاحب د شفاء الارواح لیکلي دي چي بس د داسي کس لپاره له توبې او استغفار کولو څخه بغیر بله لاره نسته: ځکه اوس دوران کي خو د غلام آزادولو وصیت هم نه سي کېدلای). (انوار الایضاح. شفاء الارواح)

نفلي روژه بېله عذره ماتول او د مېلمستيا په وجه نفلي روژه ماتول

﴿۱۱۳۶﴾ وَيَجُوْزُ لِلْمُتَطَوِّعِ الْفِطْرُ بِلَا عُذْرٍ فِيْ رِوَايَةٍ او جائز دي د نفلي روژه نيونكي لپاره روژه ماتول بېله عذره، په يوه روايت كي.

﴿۱۱۳۷﴾ وَالضِّيَافَةُ عُذْرٌ عَلَى الْأَظْهَرِ لِلضَّيْفِ وَالْمُضِيْفِ او مېلمستيا عذر ده د ظاهر روايت مطابق د مېلمه او كوربه (دواړو) لپاره وَلَهُ الْبَشَارَةُ بِهٰذِهِ الْفَائِدَةِ الْجَلِيْلَةِ او د ده (مېلمه) لپاره زېرى دى د دغه لويې فايدې په وجه (يا په بله وينا داچي: د ده لپاره په دې لويه فايده كي زېرى هم شته).

لغات: ﴿متطوع﴾ د تفعّل د باب فاعل دى: نفلي عبادت كونكى، غيرِ مفروضه عبادت كونكى، ﴿الضيافة﴾ مېلمستيا، ﴿الضيف﴾ مېلمه (څرنګه چي دا مصدر دى نو ځكه مفرد، تثنيه، جمع، مذكر او مؤنث پكښې برابر دي)، جمع: ضُيُوْفٌ و أَضْيَافٌ، ﴿البشارة﴾ زېرى، خوشخبري، جمع: بَشَائِر.

تشريح: د عبارت اوله مسئله دا ده چي نفلي روژه ماتول څنګه دي؟ نو په دې باره كي د احنافو دوه قوله دي: مشهوره قول دا دى چي بېله عذره نفلي روژه ماتول مكروه (مكروهِ تحريمي) دي او كه څه معقول عذر وي، نو ماتولاى يې سي، همدا اصح او ظاهر روايت دى، او دويم قول دا دى چي بېله عذره هم نفلي روژه ماتول بلا كراهته جائز دي، او قضاء په دواړو صورتونو كي واجب ده (او له امام مالک رَحِمَهُ اللّٰه څخه بغير د نورو امامانو په نېز د هغه قضاء هم واجب نه ده). (انوار الايضاح بحوالة تحفة الالمعى. شفاء الارواح)

والضِّيافة إلخ: دويمه مسئله دا ده چي د نفلي روژې ماتولو لپاره ضيافت (مېلمستيا) هم يو عذر دى، لېكن په دې كي څه تفصيل دى او هغه دا دى چي كه مېلمستيا كونكى (كوربه) داسي كس وي چي كه مېلمه ډوډۍ نه وخوري، نو دئ (كوربه) نه ناراضه كيږي او نه په تكليف كيږي. بلكي دئ صرف د دې مېلمه په حاضرېدلو راضي وي. نو دا مېلمه دي روژه نه ماتوي. او كه د ډوډۍ نه خوړلو صورت كي كوربه په تكليف كيږي او ناراضه كيږي، نو روژه دي ماته كړي او وروسته دي د هغه قضاء راوړي، همدارنګه د كوربه لپاره هم مېلمستيا عذر دى، يعني كه مېلمه ټينګار كوي چي كوربه دي هم زما سره ډوډۍ وخوري (او له دې څخه بغير نه راضي كيږي)، نو كوربه دي روژه ماته كړي، او دا حكم هغه وخت دى كله چي هغه ته د روژې د قضاء راوړلو اعتماد وي (يعني پر ځان يې باور وي چي وروسته يې قضاء راوړلاى سم) او روژه ماتول له نصفُ النهار شرعي څخه مخكي وي، تر هغه وروسته دي روژه نه ماتوي. لېكن د مور يا پلار د فرمان منلو لپاره د مازيګر تر وخته پوري نفلي روژه ماتول جائز دي، تر هغه وروسته جائز نه دي.

وله البشارة إلخ: یعني کوم څوک چي د خپل ورور (کوربه) د احترام او رعایت په خاطر نفلي روژه ماتوي. نو د هغه لپاره په حدیث کي زېری او ډېر فضیلت راغلی دی او هغه د نبي ﷺ دا فرمان دی: "چي کوم څوک د خپل ورور په احترام کي روژه ماته کړي، نو هغه ته د زرو (۱۰۰۰) روژو ثواب حاصلیږي او کله چي د هغه قضاء راوړي، نو د دوو زرو (۲۰۰۰) روژو ثواب ورته حاصلیږي" په متن کي له بشارت څخه همدا مراد دی. (حاشیة نور الایضاح. مراقی الفلاح)

د نفلي روژې د قضاء حکم او د کوچني اختر، لوی اختر او د ایامُ التشریق د ورځو د نفلي روژې حکم

﴿۱۱۲۸﴾ وَإِذَا أَفْطَرَعَلٰى أَيِّ حَالٍ او کله چي (نفلي) روژه ماته کړي پر هر حالت که وي (یعني د نفلي روژې ماتول د عذر په وجه وي او که بېله عذره وي) عَلَيْهِ الْقَضَاءُ نو پر هغه قضاء سته (د روژې قضاء راوړل پر ده باندي لازم دي) إِلَّاإِذَا شَرَعَ مُتَطَوِّعًافِيْ خَمْسَةِ أَيَّامٍ مګر دا چي کله شروع کړې وي نفلي روژه نیونکی په پنځو ورځو کي (نو قضاء یې نه ورباندي لازمیږي) يَوْمَيِ الْعِيْدَيْنِ وَأَيَّامِ التَّشْرِيْقِ دوې ورځي د دوو اخترونو (کوچني اختر او لوی اختر) او (درې) ورځي د تشریق فَلَايَلْزَمُهٗ قَضَاؤُهٗ بِإِفْسَادِهَا فِي ظَاهِرِالرِّوَايَةِ نو نه لازمیږي د دې روژو قضاء د هغوی په فاسدولو (ماتولو) سره په ظاهر روایت کي وَاللّٰهُ أَعْلَمُ او الله تعالیٰ زیات علم والا دی.

تشریح: د عبارت حاصل دا دی چي څوک نفلي روژه تر شروع کولو وروسته ماته کړي. نو پر هغه قضاء واجب ده، برابره ده د عذر په وجه یې ماته کړې وي او که بېله عذره یې ماته کړې وي او برابره ده په خپل قصد سره یې ماته کړې وي او که بېله قصده ماته سوې وي مثلاً د نفلي روژې په حالت کي ښځي حیض جاري سي، نو پر هغې هم قضاء واجب ده.

إلا إذا شرع إلخ: یعني دا د قضاء حکم (چي د نفلي روژې قضاء واجب ده) له ممنوعه پنځو ورځو څخه بغیر په نورو ورځو کي دی. نو که څوک په دې پنځه ممنوعه ورځو کي یعني د کوچني. لوی اختر او د ایام التشریق په ورځو کي روژه شروع کړي (وني) بیا یې ماته کړي. نو ظاهر روایت دا دی چي پر هغه قضاء نه لازمیږي. بلکي هغه لره روژه ماتول واجب دي. (شفاء الارواح)

* * *

بَابُ مَا يَلْزَمُ الْوَفَاءُ بِهٖ مِنْ مَنْذُوْرِ الصَّوْمِ وَالصَّلٰوةِ وَنَحْوِهِمَا

(دا) باب د هغه عبادتونو (په بیان کي) دی چي د هغوی پوره کول لازم دي يعني نذر کړل سوي روژه او نذر کړی سوی لمونځ او داسي نور عبادتونه

د نذر (نذرانه) تعريف او شرائط

﴿۱۱۴۹﴾ إِذَا نَذَرَ شَيْئًا کله چي د يو شي نذر ومني (پر ځان يې نذر کړي) لَزِمَهُ الْوَفَاءُ بِهٖ إِذَا اجْتَمَعَ فِيْهِ ثَلَاثَةُ شُرُوْطٍ نو د هغه شي پوره کول وربانديلازم دي کله چي په هغه کي درې شرطونه جمع سي أَنْ يَكُوْنَ مِنْ جِنْسِهٖ وَاجِبٌ (يو) دا چي د هغه له جنس څخه يو واجب وي وَأَنْ يَكُوْنَ مَقْصُوْدًا او (دويم) او دا چي هغه (خپله) مقصود وي وَأَنْ يَكُوْنَ لَيْسَ وَاجِبًا او (دريم) دا چي هغه (خپله) واجب نه وي.

﴿۱۱۵۰﴾ فَلَا يَلْزَمُ الْوُضُوْءُ بِنَذْرِهٖ نو اودس په نذر منلو سره اودس نه لازميږي.

﴿۱۱۵۱﴾ وَلَا سَجْدَةُ التِّلَاوَةِ او نه سجدهٔ تلاوت.

﴿۱۱۵۲﴾ وَلَا عِيَادَةُ الْمَرِيْضِ او نه د ناروغ پوښتنه کول.

﴿۱۱۵۳﴾ وَلَا الْوَاجِبَاتُ او نه واجب عبادتونه بِنَذْرِهَا د دوی په نذر منلو سره (دوی نه لازميږي).

لغات: ﴿نذر﴾ د نصر او ضرب د باب ماضي معلومه ده: نَذَرَ يَنْذُرُ نَذْرًا وَنُذُوْرًا: يو شی پر خپل ځان واجبول (لازمول). نذر منل (چي که دا کار مي وسو نو دومره مال به غريبانو ته ورکوم مثلاً). ﴿الوفاء﴾ د ضرب مصدر دی: وَفٰى يَفِيْ وَفَاءً: (وعده. نذر) پوره کول. پوره اداء کول.

﴿عيادة﴾ په ناروغه کس باندي پوښتنه کول. د مريض ليدو او پوښتني ته ورتلل.

تشريح: پر خپل ځان د يو شي واجبولو ته نذر (نذرانه) ويل کيږي چي بنده پر ځان يو شی لازم کړي. صاحب د انوار الايضاح د نذر تعريف داسي نقل کړی دی "د بنده پر خپل ځان داسی شی واجب ګرځول کوم چي پر ده واجب نه وي. د يو (مقصود) کار او شي د موجودېدلو په وخت کي (يعني

چي که دا کار یا شی وسي نو مثلاً پر ما یوه روژه ده از به یوه روژه نیسم ا ". (یا) مثلا داسي ووايي چي که زه په امتحان کي کامیابه سوم، نو پر ما د خدای تعالیٰ لپاره یوه روژه لازم ده (یا پنځه سوه افغانی صدقه کول پر ما لازم دي او داسي نور). نو دلته نفلي روژه کوم چي پر بنده واجب نه ده، بنده پر خپل ځان واجب کړې ده په امتحان کي د کامیابۍ پر موجودېدلو.

اوس صورت د مسئلې ته ګورئ! چي که یو څوک پر ځان د یو شي او یو عبادت نذر ومني، نو د هغه پوره کول واجب دي، کله چي په هغه شي او هغه عبادت کي درې شرطونه موجود وي:

①... یو دا چي کوم شی او کوم عبادت چي نذر کول کیږي (یعني د کوم عبادت نذر چي منل کیږي یا په بله وینا کوم عبادت چي پر ځان لازمول کیږي)، په شریعت کي به د هغه د جنس یو واجب عبادت وي، مثلاً روژه، لمونځ، صدقه، اعتکاف، او که نه وي، نو نذر نه صحیح کیږي، یا په بله وینا دا چي یو داسي عبادت پر ځان لازمول صحیح دي چي د هغه له جنس څخه یو واجب عبادت وي لکه روژه، لمونځ او داسي نور، لهذا که څوک د مریض د پوښتني یا مسجد ته د داخلېدلو نذر ومني، یا مثلاً د یو سېر هندوانې خوړلو نذر ومني (چي که زما دا کار وسو، نو یو سېر هندوانه به خورم، یا که دا کار وسو، یا مثلاً که خدای تعالیٰ زما مریض پلار ته شفاء نصیب کړه، نو زه به پر فلانکي مریض پوښتنه کوم، یا مسجد ته به داخلېږم او داسي نور)، نو دا نذر نه صحیح کیږي او په دې سره پر هغه هیڅ شی نه لازمیږي، یعني د دې نذر پوره کول پر هغه لازم نه دي؛ ځکه د دې کارونو له جنس څخه هیڅ یو واجب عبادت نسته.

②... دویم شرط دا دی چي کوم شی او کوم عبادت چي نذر کول کیږي، هغه به خپله مقصود عبادت وي، د عبادت لپاره به وسیله او شرط نه وي، لهذا که څوک د جامو پرېوللو، یا د غسل کولو یا د اودس کولو نذر ومني (چي که دا کار مي وسو، نو زه به ټولي جامې پرېولم [یا په بله وینا: د ټولو جامو پرېوللو پر ما لازم دي]. یا به غسل یا اودس کوم او داسي نور)، نو دا نذر صحیح دی؛ ځکه جامې پاکول، غسل یا اودس کول په خپله مقصود نه دي، بلکي د لمانځه لپاره وسیله ده او اصل مقصود لمونځ کول دي.

③... درېیم شرط دا دی چي د کوم شي نذر چي منل کیږي، هغه به فی الحاله یا په آینده وخت کي پر هغه واجب او لازم نه وي، مثلاً که د وتر یا د ماپښین د لمانځه نذر ومني (چي که زما دا کار وسو، نو وتر یا د ماپښین لمونځ پر ما لازم دی)، نو دا نذر صحیح نه دی، ځکه وتر یا د ماپښین لمونځ خو خپله پر ده واجب او لازم دي، یا مثلاً سجدهٔ تلاوت چي هغه خپله واجب او لازم ده یعني د سجدې د آیت تر ویلو وروسته هغه خپله واجبیږي، نو د هغه نذر منل صحیح نه دي. (انوار الایضاح، شفاء الارواح بتغیر)

فلا یلزم الوضوء إلخ: مخکي درې شرطونه ذکر سوه، اوس له دې ځایه د هغوی تفریعات او مثالونه ذکر کوي خو د شرائطو د ترتیب په اعتبار سره نه دي ذکر سوي او موږ تر هر شرط لاندي په ترتیب سره ذکر کړل، دلته به یې بیا د آسانۍ لپاره په لنډه توګه ذکر کړو، د دغه عبارت "فلا یلزم الوضوء" تعلق د

دویم (۲) شرط سره دی؛ څرنګه چي اودس کول خپله عبادت مقصوده نه دی، بلکي د لمانځه لپاره صرف ذریعه او وسیله ده. نو د اودس نذر منل جائز نه دي.

ولا سجدة التلاوة: د دې تعلق د دریم (۳) شرط سره دی، څرنګه چي سجدهٔ تلاوت د آیت په ویلو سره خپله د الله تعالیٰ له طرفه واجبیږي، او کوم چي له مخکي څخه واجب وي، د هغه نذر منل جائز نه دي

ولاعيادة المريض: د دې تعلق د اول (۱) شرط سره دی؛ ځکه د مریض عیادت واجب نه دی، که څه هم نېک کار دی چي په هغه سره انسان ته زیات ثواب حاصلیږي، او بل فرق يې دا هم دی چي نذر د داسي عباداتو کېدل پکار دي کوم چي له حقوق الله څخه وي او د مریض عیادت او پوښتنه کول د بندګانو له حقوقو څخه دي.

ولا الواجبات بنذرها: یعني کوم عبادات چي واجب او فرض وي، د هغوی نذر منل هم صحیح نه دي، لکه پنځه فرض لمانځونه، د وترو لمونځ، د رمضان روژې او داسي نور؛ ځکه کوم شیان چي له مخکي څخه لازم وي، هغوی پر خپل ځان بیا لازمول محال او ناشوني دي. (انوار الایضاح بتغیرٍ)

﴿۱۱۵۴﴾ وَيَصِحُّ بِالْعِتْقِ وَالْاِعْتِكَافِ او صحیح کیږي (نذر منل) د غلام آزادولو او د اعتکاف کولو وَالصَّلٰوةِ غَيْرِ الْمَفْرُوْضَةِ وَالصَّوْمِ او (نذر منل) د غیرِ فرضي لمونځ کولو او روژه نیولو.

تشریح: صورت د مسئلې دا دی چي که څوک داسي نذر ومني چي "که زما فلانکی کار وسي. نو زما غلام آزاد دی". نو داسي نذر منل (نذرانه کول) صحیح دي (ځکه د دې له جنس څخه واجب عبادت موجود دی. یعني په کفاره کي د غلام آزادول کوم چي د کفارې یوه حصه ده او مالي عبادت دی اثمار الهدایه)۔ همدارنګه د اعتکاف نذر منل هم صحیح دي (ځکه په روژه کي اعتکاف کول سنت مؤکده دي کوم چي د واجب په درجه کي دي. او دا بدني عبادت دی اثمار الهدایه)؛ همدارنګه له فرضي لمانځونو څخه بغیر د نورو لمانځونو مثلاً د دوو رکعتو نفلو نذر منل صحیح دي او صاحب د انوار الایضاح د دې تشریح داسي کړې ده چي له فرض او واجب عبادتونو څخه بغیر کوم ته چي "نفل" وایي، د هغوی نذر منل صحیح دی (ځکه د دې جنس واجب او فرض عبادت سته) او د روژې نذر منل هم صحیح دي (ځکه د روژې له جنس څخه واجب او فرض عبادت سته. لکه د رمضان روژه)، او کوم لمونځ یا روژه چي فرض وي مثلاً د ماپښین لمونځ وي، یا د رمضان روژه، نو د هغه نذر منل صحیح نه دي (کما مرّ). ځکه چي دا له مخکي څخه فرض دي.

د نذرِ مطلق او نذرِ معلق بـیان

﴿۱۱۵۵﴾ فَإِنْ نَذَرَ نَذْرًا مُطْلَقًا بیا که څوک (له څه قید او شرط څخه بغیر) مطلق نذر ومني أَوْ مُعَلَّقًا بِشَرْطٍ وَوُجِدَ یا داسي نذر (ومني) کوم چي په یو شرط پوري معلق (تړلی) وي او هغه شرط موجود سي لَزِمَهُ الْوَفَاءُ بِهٖ نو پر ده هغه (نذر) پوره کول لازم دي.

تشریح: اولاً په دې پوهېدل پکار دي چي نذر پر دوه قسمه دی: ① نذرِ مطلق ② او نذرِ معلق، نذرِ مطلق دا دی چي له څه شرط لګولو څخه بغیر نذر ومنل سي، مثلاً مطلق داسي ووایي چي پر ما د خدای تعالیٰ لپاره یوه روژه لازم ده (یا په بله وینا: زه به د الله تعالیٰ لپاره یوه روژه نیسم)، یا پر ما د خدای تعالیٰ لپاره لازم ده چي دوه رکعته لمونځ به کوم، او نذرِ معلق دا دی چي نذر د یو شرط سره وتړل سي، مثلاً داسي ووایي چي که الله تعالیٰ زما ریض ته شفاء ورکړه، نو پر ما یوه روژه لازم ده.

مسئله دا ده چي نذر که مطلق وي او که معلق وي، د دواړو پوره کول لازم دي، خو د نذرِ معلق پوره کول هغه وخت لازم دي کله چي هغه شرط موجود سي پر کوم شرط چي یې دا نذر معلق کړی دی (مثلا په پورتني مثال کي مریض ته شفاء حاصله سي)، او که شرط موجود نه سي، نو د نذر پوره کول لازم نه دي. (انوار الایضاح، شفاء الارواح)

فایده: نذرِ معلق که څه هم جائز دی، خو ښه نه دی او نذرِ مطلق بېله کراهته جائز دی. (انوار الایضاح)

د لوی اختر، کوچني اختر په ورځو او په ایامُ التشریق کي د نذر بـیان

﴿۱۱۵۶﴾ وَصَحَّ نَذْرُ صَوْمِ الْعِيْدَيْنِ وَأَيَّامِ التَّشْرِيْقِ او صحیح دي د اخترونو (کوچني اختر او لوی اختر) او د تشریق د ورځو د روژې نذر منل فِي الْمُخْتَارِ د مختار (خوښ سوي) قول مطابق وَيَجِبُ فِطْرُهَا وَقَضَاؤُهَا او واجب دي د دې روژې ماتول او (بیا وروسته) د دې قضاء راوړل وَإِنْ صَامَهَا (خو بیا هم) که دا روژه ونیسي أَجْزَأَهُ مَعَ الْحُرْمَةِ نو کافي کیږي ده لره (خو) د حرمت سره.

تشریح: د عبارت حاصل دا دی چي کوم څوک په ممنوعه ورځو (ایام منهیه) کي یعني د لوی اختر او کوچني اختر په ورځ او د ایام التشریق په دریو ورځو کي د روژې نیولو نذر ومني، مثلاً داسي ووایي چي پر ما د کوچني اختر روژه لازم ده، یا پر ما د دواړو اخترونو روژه لازم ده، نو د مختار قول مطابق دا نذر صحیح کیږي لېکن د داسي کس لپاره واجب دي چي په هغه ورځو کي روژه نه ونیسي، بلکي

وروسته دي د هغوی قضاء راوړي. لېکن که بيا هم په دې ممنوعه ورځو کي روژه ونيسي. نو نذر خو يې پوره کيږي. لېکن دا کس د حرام مرتکب کيږي. (شفاء الارواح)

په نذر کي د زمان او مکان د تعيين حکم

﴿۱۱۵۷﴾ وَأَلْغَيْنَا تَعْيِيْنَ الزَّمَانِ وَالْمَكَانِ وَالدِّرْهَمِ وَالْفَقِيْرِ او موږ باطل کړی دی (په نذر کي) متعينول د وخت او ځای او درهم او فقير فَيُجْزِئُهٗ صَوْمُ رَجَبَ عَنْ نَذْرِهٖ صَوْمَ شَعْبَانَ نو د رجب روژه ورلره کافي کيږي د شعبان د روژې له نذر منلو څخه وَيُجْزِئُهٗ صَلٰوةُ رَكْعَتَيْنِ بِمِصْرَ نَذَرَ أَدَاءَهُمَا بِمَكَّةَ او په مصر کي هغه دوه رکعته لمونځ ورلره کافي کيږي چي د هغوی اداء کول يې په مکه کي نذر کړي وي (چي په مکه کي به يې اداء کوم) وَالتَّصَدُّقُ بِدِرْهَمٍ عَنْ دِرْهَمٍ عَيَّنَهٗ لَهٗ او يو (نامتعينه) درهم صدقه کول (کافي کيږي) د هغه (متعين) درهم په بدله کي کوم چي يې د نذر لپاره متعين کړی وي وَالصَّرْفُ لِزَيْدِ الْفَقِيْرِ بِنَذْرِهٖ لِعَمْرٍو او پر زيد فقير خرچ کول (صدقه کول. کافي کيږي) د عمرو فقير لپاره له نذر منلو څخه.

لغات: ﴿الغينا﴾ د افعال له بابه جمع متکلم ماضي معلومه ده، إلغاء: لغو کول. باطل ګرځول، ساقطول او ختمول. ﴿تعيين﴾ د تفعيل د باب مصدر دی: متعينول، ټاکل.

تشريح: زموږ (د احنافو) په نيز په نذر کي تعيين الزمان والمكان لغو دی او اعتبار ورلره نشته، لهذا که يو څوک په نذر کي (برابره ده معلق نذر وي او که مطلق) يو وخت، يو ځای يا درهم يا فقير متعين کړي، نو بيا هم هغه نه متعين کيږي او د ده دا قول لغو کيږي، مثلاً که څوک د شعبان په مياشته کي د روژو نذر ومني، بيا د شعبان پر ځای د رجب په مياشته کي هغه روژې ونيسي، نو هم جائز دي؛ ځکه چي په نذر کي د وخت تعيين لغو دی، همدارنګه که څوک په مکه شريفه کي د دوه رکعته لمونځ کولو نذر ومني، بيا د مکې شريفي پر ځای هغه په مصر يا په يو بل ښار کي ادا کړي، نو دا جائز دي؛ ځکه په نذر کي د مکان تعيين هم لغو دی، همدارنګه که څوک يو درهم د صدقې لپاره متعين کړي چي خاص دغه درهم به صدقه کوم. بيا د هغه پر ځای بل درهم صدقه کړي. نو دا هم

جائز او کافي دي؛ ځکه په نذر کي د درهم تعیین لغو دی، همدارنګه که څوک یوه فقیر ته د صدقې ورکولو نذر ومني چي خاص دغه فقیر ته به صدقه ورکوم. بیا د هغه پر ځای وبل فقیر ته صدقه ورکړي، نو هم جائز دي؛ ځکه په نذر کي د فقیر او مسکین تعیین هم لغو دی. (شفاء الارواح)

په نذرِ معلق کي تعجیل جائز نه دی

١١٥٩ وَإِنْ عَلَّقَ النَّذْرَ بِشَرْطٍ او که نذر پر یو شرط معلق کړي لَايُجْزِئُهُ عَنْهُ مَا فَعَلَهُ قَبْلَ وُجُوْدِ شَرْطِهٖ نو نه کافي کیږي ده لره د دې نذر له طرفه هغه کار کوم چي يې (د نذر) د شرط تر موجودېدو مخکي کړی وي.

تشریح: صورت د مسئلې دا دی چي که څوک نذر پر یو شرط معلق کړي. نو تر څو چي هغه شرط موجود او واقع نه سي، تر هغه وخته پوري نذر پوره کول هم نه لازمیږي. لهذا که د شرط له موجودېدو څخه مخکي يې دا نذر پوره کړی، هغه ور لره کافي او جائز نه دي (یا په بله وینا دا چي په نذر کي تعجیل جائز نه دی)، مثلاً که څوک ووایي چي که زید راغلی. نو زه د خدای تعالیٰ لپاره سل روپۍ صدقه کوم (یا پر ما سل روپۍ لازم دي)، بیا د زید له راتګ څخه مخکي هغه سل روپۍ صدقه کړي. نو دا صحیح نه دي. بلکي کله چي زید راسي، نو بیا صحیح کیږي.

یادونه: دا خبره یاد لرئ! چي په نذرِ معلق کي صرف تعجیل جائز نه دی. باقي د شرط له موجودېدو څخه وروسته تأخیر کول او د ځای، روپۍ او فقیر تبدیل جائز دی لکه څرنګه چي په نذرِ مطلق کي جائز دی. خلاصه دا چي د نذرِ معلق او نذرِ مطلق تر مینځ صرف په یوه خبره کي فرق سته او هغه دا چي په نذرِ معلق کي تعجیل جائز نه دی او په نذرِ مطلق (غیرِ معیَن) کي تعجیل هم جائز دی. (شفاء الارواح)

* * *

بَابُ الْاِعْتِكَافِ

(دا) باب د اعتکاف (په بیان کي) دی

تشریح: مصنف رَحِمَهُ الله د کتابُ الصوم د تکمیل لپاره په آخر کي د اعتکاف باب قائم کړی: ځکه څرنګه چي د روژې (فرضي روژې) تعلق د رمضان د میاشتي سره دی، همداسي د اعتکاف تعلق هم د رمضان سره دی چي د دې میاشتي په آخري عشره کي سنت دی. او روژه پر اعتکاف ځکه مخکي کړل سوه چي روژه د اعتکاف لپاره شرط ده (او اعتکاف مشروط دی)، او شرط پر مشروط مخکي وي. نو په دې وجه روژه هم مخکي بیان سوه.

د اعتکاف لغوي او اصطلاحي معنیٰ: اعتکاف له عکف څخه مشتق دی او د افتعال د باب مصدر دی، د عکف معنیٰ ده: (په یو ځای کي) پاته کېدل، درنګ کول، او د اعتکاف اصطلاحي معنیٰ مختصره دا ده: هو اللبث فی المسجد مع النیة، "یعني په مسجد کي [د روژې او عبادت] په نیت سره پاته کېدل" (تفصیل یې مصنف رَحِمَهُ الله ذکر کړی دی).

د اعتکاف اصطلاحي معنیٰ

﴿١١٥٩﴾ هُوَ الْإِقَامَةُ بِنِيَّتِهٖ فِيْ مَسْجِدٍ تُقَامُ فِيْهِ الْجَمَاعَةُ بِالْفِعْلِ لِلصَّلَوَاتِ الْخَمْسِ او هغه پاتېدل (اوسېدل) دي د اعتکاف په نیت سره په داسي مسجد کي چي په هغه کي جماعت درول کیږي بالفعل (اوس مهال) د پنځو لمنځونو لپاره (یعني چي په هاغه وخت کي هلته د پنځو لمنځونو جماعت کول کیږي) فَلَا يَصِحُّ فِيْ مَسْجِدٍ لَا تُقَامُ فِيْهِ الْجَمَاعَةُ لِلصَّلٰوةِ نو اعتکاف نه صحیح کیږي په داسي مسجد کي چي په هغه کي د لمانځه لپاره جماعت نه درول کیږي عَلَى الْمُخْتَارِ د مختار (اختیار سوي) قول مطابق.

لغات: ﴿الإقامة﴾ د دې باب څو معناوي دي: (په یو ځای کي) پاتېدل، (لمونځ وغیره) قائمول، درول، (حد وغیره) جاري کول، تُقَامُ له همدې باب څخه مضارع مجهوله ده په معنیٰ سره د قائمولو او درولو.

تشریح: مصنف رَحِمَهُ الله فرمایي چي د شریعت په اصطلاح کي د اعتکاف معنیٰ دا ده چي د اعتکاف په نیت سره په داسي مسجد کي پاتېدل چي په هغه کي پنځه سره لمنځونه په جماعت سره اداء کول

کیږي، لهذا په داسي مسجد کي اعتکاف صحیح نه دی چي هلته پنځه سره لمنځونه په جماعت سره نه کیږي، همدا مختار قول دی او د صاحبینو رَحِمَهُمَا الله په نیز په هر مسجد کي اعتکاف کول صحیح دي، برابره ده په هغه کي په جماعت سره لمونځ کیږي او که نه کیږي (شفاء الارواح)، (او صاحب د انوار الایضاح لیکلي چي له امام ابو یوسف رَحِمَهُ الله څخه منقول دي چي د واجب اعتکاف لپاره د جماعت مسجد ضروري دی او د نفلي اعتکاف لپاره مطلق مسجد کافي دی).

د ښځي لپاره په کور کي د اعتکاف کولو حکم

﴿۱۱۶۰﴾ وَلِلْمَرْأَةِ الِاعْتِكَافُ فِيْ مَسْجِدِ بَيْتِهَا او د ښځي لپاره اعتکاف (روا) دی د خپل کور په مسجد (لمونځ ځای) کي وَهُوَمَحَلٌّ عَيَّنَتْهُ لِلصَّلٰوةِ فِيْهِ او دا (د کور مسجد) هغه ځای دی کوم چي ښځي د لمونځ کولو لپاره متعین کړی (ټاکلی) وي.

تشریح: مسئله دا ده چي د ښځي اعتکاف د کور په مسجد کي صحیح دی، یعني ښځي چي په کور د خپل لمانځه لپاره کوم ځای ټاکلی (مقرر کړی) وي، په هغه کي اعتکاف کولای سي. او که په کور کي یې د لمانځه لپاره هیڅ ځای مقرّر نه وي، نو یو ځای دي مقرّر کړي او په هغه کي دي اعتکاف وکړي، خو د اعتکاف لپاره له خپل خاوند څخه اجازه اخیستل ضروري دي، همدارنګه دا هم لازم دي چي ښځه به له حیض او نفاس څخه پاکه وي (شفاء الارواح). او پاته سو د جماعت په مسجد کي د ښځي اعتکاف صحیح دی، که نه؟ په دې باره کي زموږ په نیز د جواز او عدمِ جواز دواړه قولونه نقل سوي دي. (انوار الایضاح، بحوالۀ الدر المنضود ج: ۴، ص: ۲۶۷)

د اعتکاف د دریو قسمونو بیان

﴿۱۱۶۱﴾ وَالِاعْتِكَافُ عَلٰى ثَلَاثَةِ أَقْسَامٍ او اعتکاف پر دري قسمه دی وَاجِبٌ فِي الْمَنْذُوْرِ (۱) واجب (اعتکاف)، په نذر کړل سوي صورت کي (یعني کله چي اعتکاف پر ځان نذر کړل سي. نو واجب دی).

﴿۱۱۶۲﴾ وَسُنَّةٌ كِفَايَةٌ مُؤَكَّدَةٌ فِي الْعَشْرِ الْأَخِيْرِ مِنْ رَمَضَانَ (۲) او سنتِ مؤکده کفایه (اعتکاف)، د رمضان په آخري لسو ورځو (آخري عشره) کي.

﴿۱۱۶۳﴾ وَمُسْتَحَبٌّ فِيْمَا سِوَاهُ (۳). او مستحب (اعتکاف)، له دې څخه ماسوا په بل وخت کي.

تشریح: اعتکاف پر درې قسمه دی:

①... واجب، دا هغه اعتکاف دی کوم چي په نذر منلو سره واجب سوی وی، برابره ده معلق وي او که غیرِ معلق وي، د غیرِ معلق مثال دا دی چي څوک داسي ووایي چي "د الله لپاره زما پر ذمه واجب دي

چې زه به دومره (مثلاً دري) ورځي اعتکاف کوم". او د معلق مثال دا دی چې مثلاً داسي ووايي "که الله زما ځوی ته شفاء ورکړي. نو زه به دري ورځي اعتکاف کوم".

(۲)... سنت مؤکده کفایه. دا هغه اعتکاف دی کوم چې صرف د رمضان المبارک د میاشتي په آخري عشره کي کیږي (دیوویشتم له شپې څخه بیا داختر د میاشتي تر لیدو پوري. او د رمضان په شلمه ورځ د لمر لوېدو څخه مخکي ایا په بله وینا دیوویشتم له ماښام څخه څه مخکي امسجد ته داخلېدل لازم دي). دا اعتکاف سنت مؤکده علی الکفایه دی یعني که په ټوله کلي او محله کي يې يو کس هم وکړي. نو د ټوله کلي او محلې والا له طرفه سنت اداء کیږي. لیکن که يو کس يې هم نه وکړي. نو پر ټوله کلي او محلې والا به د سنت پرېښوولو (ترک السنة) وبال وي. (شفاء الارواح)

له دې څخه معلومه سوه چې د سنت په پرېښوولو باندي هم عذاب سته. په درمختار کي دي چې که يو څوک په دائمي توګه سنن مؤکده پرېږدي، نو هغه عند الله مأخوذ کیږي. او په دې اعتکاف کي روژه شرط ده. (انوار الایضاح)

﴿۱۱٦۴﴾ وَالصَّوْمُ شَرْطٌ لِصِحَّةِ الْمَنْذُوْرِ فَقَطْ او روژه صرف د نذر کړل سوي اعتکاف د صحیح کېدو لپاره شرط ده.

﴿۱۱٦۵﴾ وَأَقَلُّهُ نَفْلًا مُدَّةٌ يَسِيْرَةٌ او د اعتکاف کم مقدار په داسي حال کي چې هغه نفل وي (یعني د نفلي اعتکاف کمترین مقدار) لږ غوندي موده ده وَلَوْكَانَ مَاشِيًا که څه هم تګ کونکی وي عَلَى الْمُفْتَى بِهِ د مفتیٰ به قول مطابق.

لغات: ﴿أقل﴾ کمتر، کمه درجه، نفلًا د حالیت پر بناء منصوب دی أی أقلّ الإعتکاف حال کونه نفلًا. ﴿یسیرة﴾ لږ غوندي، معمولي.

تشریح: د عبارت حاصل دا دی چې روژه صرف د واجب اعتکاف لپاره شرط ده، مثلاً که څوک د یوې میاشتي یا د یوې ورځي د اعتکاف نذر ومني، یا داسي ووايي چې که زما فلانی کار وسو، نو پر ما دومره اعتکاف لازم دی، نو د هغه لپاره دا نذر کړل سوی واجب اعتکاف د روژې سره واجب دی (برابره ده د روژې منل سوی وي او که نه وي)، له روژې څخه بغیر اعتکاف نه کیږي، او که څوک د رمضان په میاشته کي پر ځان اعتکاف نذر کړي، نو په هغه کي د رمضان روژه کافي کیږي.

واقله نفلًا الخ: یعني د نفلي اعتکاف لپاره هیڅ وخت مقرّر نه دی، بلکي د اعتکاف په نیت سره چې يې څومره وخت هم په مسجد کي تېر کړی وي، هغه ته اعتکاف ویل کیږي، که څه هم لږ کړی وي، تر دې چې که په مسجد کي کښېني هم نه، بلکي صرف په مسجد کي تېر سي او د اعتکاف نیت

وکړي. نو هم د مفتیٰ بهٖ قول مطابق دغه کس ته نفلي اعتکاف کونکی ویل کیږي. همدا وجه ده (یعني کله چي د نفلي اعتکاف لپاره د وخت تحدید نه سته نو په همدې وجه) د نفلي اعتکاف د صحیح کېدو لپاره روژه شرط نه ده.

یادونه: ولوکان ماشیًا إلخ: مسجد د تېرېدو لاره جوړول خو ممنوع دي. په دې عبارت کي و دې طرف ته اشاره ده چي که څوک په مسجد کي و بل طرف ته تیریږي، نو هغه دي د اعتکاف په نیت سره تېرسي، نو په داسي حیله کولو سره ممانعت نه پاتیږي. (مراقی الفلاح ص: ٣٨٣)

فایده: کله چي څوک مسجد ته داخل سي، نو هغه ته پکار دي چي د اعتکاف نیت وکړي. د دې لپاره چي ترڅو په مسجد کي وي، هغه ته د اعتکاف ثواب حاصل سي. د اعتکاف د نیت لپاره دي دا الفاظ په زړه کي یا په خوله هم ووایي: "نَوَیْتُ الإِعْتِکَافَ مَا دُمْتُ فِیْ هٰذَا الْمَسْجِدِ" یا داسي دي ووایي "نَوَیْتُ سُنَّةَ الإِعْتِکَافِ". (شفاء الارواح بحوالهٔ عمدة الفقه)

معتکف په کومو صورت کي له مسجد څخه وتلای سي؟

﴿١١٦٦﴾ وَلَا یَخْرُجُ مِنْهُ إِلَّا لِحَاجَةٍ شَرْعِیَّةٍ او نه به وځي له خپل اعتکاف ځای څخه مګر د شرعي ضرورت لپاره کَالْجُمُعَةِ لکه جمعه (د جمعې لمونځ).

﴿١١٦٧﴾ أَوْ طَبْعِیَّةٍ یا د طبعي (فطري) ضرورت لپاره کَالْبَوْلِ لکه بولي (متیازي).

﴿١١٦٨﴾ أَوْ ضَرُوْرِیَّةٍ یا د اضطراري (او ناڅاپه پېښېدونکي) ضرورت لپاره کَانْهِدَامِ الْمَسْجِدِ لکه مسجد نړېدل وَإِخْرَاجِ ظَالِمٍ کُرْهًا یا د یو ظالم (جابر) کس له طرفه په زوره ایستل کېدل وَتَفَرُّقِ أَهْلِهٖ وَخَوْفٍ عَلٰی نَفْسِهٖ أَوْ مَتَاعِهٖ مِنَ الْمُکَابِرِیْنَ او (یا) د هغه مسجد خلک منتشر (تیت پرک) کېدل او پر خپل ځان یا سامان بېرېدل له غلبه کونکو (ظالمانو) څخه فَیَدْخُلُ مَسْجِدًا غَیْرَهٗ مِنْ سَاعَتِهٖ نو (په دې صورتونو کي) دي بل مسجد ته داخل سي په هغه ګړي (سمدستي).

﴿١١٦٩﴾ فَإِنْ خَرَجَ سَاعَةً بِلَا عُذْرٍ بیا که یو ګړی هم بېله عذره ووځي فَسَدَ الْوَاجِبُ نو واجب (اعتکاف) فاسدیږي وَانْتَهٰی بِهٖ غَیْرُهٗ او له واجب څخه بغیر (بل اعتکاف) په دې وتلو

سره ختمیږي (یعني له واجب څخه بغیر که په بل اعتکاف کي بېله عذره ووځي. نو هغه ختمیږي اپوره کیږي او قضاء یې نه لازمیږي).

لغات: ﴿انهدام﴾ د انفعال د باب مصدر دی: نړېدل. ﴿کرهًا﴾ په زوره، جبراً، په ناخوښی سره. ﴿متاع﴾ سامان. "كُلُّ مَا يُنْتَفَعُ بِهِ مِنَ الحَاجَاتِ كَالطَّعَامِ وَأَثَاثِ الْبَيْتِ وَالأَدَوَاتِ وَالسِّلَعِ وَغَيْرِهَا سِوَى الذَّهَبِ وَالْفِضَّةِ". جمع: أَمْتِعَة. ﴿مکابرین﴾ د مفاعلې له بابه د جمع مذکر فاعل صیغه ده: عناد او دښمني کونکي، غلبه کونکی.

تشریح: د عبارت حاصل دا دی چي د معتکف لپاره له مسجد څخه وتل جائز نه دي، مګر دا چي یو عذر وي، نو په وتلو کي څه حرج نسته، له عذرونو څخه یو عذر د شرعي حاجت لپاره وتل دي، مثلاً په کوم مسجد کي چي یې اعتکاف کړی دی، هلته د جمعې لمونځ نه کیږي، نو د هغه لپاره د جمعې د لمونځ اداء کولو لپاره بهر وتل (یعني د جمعې والا مسجد ته تلل) جائز دي، اوس که د اعتکاف ځای له جامع مسجد څخه لیري وي، نو دومره مخکي دي ووځي چي هلته له رسېدو څخه وروسته څلور یا شپږ رکعته وکړل سي.

أو طبيعة إلخ: دویم عذر دا دی چي د یو طبعي حاجت لپاره بهر ووځي، مثلاً د رګ وهلو. قضاء حاجت. اودس او فرض غسل لپاره له مسجد څخه ووځي، نو څه پروا نسته.

أو ضرورية إلخ: درېیم عذر دا دی چي معتکف ته نا ببره یو داسي سخت ضرورت پېښ سي چي د هغه په وجه له مسجد څخه وتلو ته مجبوره سي، دې ته حاجتِ ضروریه وایي، مثلاً مسجد نړېږي (یا مثلاً منفجره مواد پکښې وي او د هغوی د پټاو ببره وي)، یا یو څوک یې په زوره له مسجد څخه وباسي، یا د مسجد خلک متفرق او منتشر سي یعني ټوله لمونځ ګزاران له هغه ځایه ولاړ سي، او اوس هلته پنځه وخته لمونځ په جماعت سره نه کیږي (عمدة الفقه)، یا په هغه مسجد کي د ظالمانو له طرفه د معتکف پر ځان یا مال ببره وي، نو په دې صورتونو کي که معتکف له مسجد څخه ووځي او په هاغه وخت کي د اعتکاف په نیت سره بل مسجد ته داخل سي، نو د هغه اعتکاف نه فاسدیږي.

فإن خرج إلخ: که معتکف بېله عذره د لږ ګړي لپاره هم له مسجد څخه ووځي، نو د هغه واجب اعتکاف فاسدیږي، برابره ده قصداً وتلی وي، یا په هېره وتلی وي (نو بیرته دي مسجد ته داخل سي او د یوې ورځي قضاء واجبیږي)، او که له واجب څخه بغیر نفل اعتکاف وي، نو هغه په بېله عذره وتلو سره پوره کیږي (او هیڅ قضاء نه واجبیږي)، د رمضان په آخري عشره کي د اعتکاف هم دغه حکم دی (لکه د واجب اعتکاف حکم. همدارنګه که په نفلي اعتکاف کي د وخت تعیین وکړي چي مثلاً د یوې ورځي او یوې شپې د اعتکاف نیت وکړي. یا مثلاً د درېو ورځو په نیت نفلي اعتکاف شروع کړي. نو هغه هم

دواجب په حکم ګرځي چي که لږ ګړی له مسجد څخه ووځي، نو دیوې ورځي قضاء لازمیږي)، اوس معتکف ته پکار دي چي سمدستي مسجد ته داخل سي او له رمضان څخه وروسته دیوې ورځي قضاء دي راوړي، یعني له یوه مانبامه څخه تر بل مانبامه پوري دي په یو مسجد کي اعتکاف وکړي او دورځي دي روژه هم ونیسي (او دیوې ورځي قضاء ځکه واجبیږي چي د هري ورځي اعتکاف مستقل عبادت دی، نو څوک چي مثلاً په دریمه ورځ اعتکاف مات کړي، نو صرف د هغه ورځي او شپې یعني د څلوروِشتو ساعتو قضاء واجبیږي؛ ځکه چي د تیرو ورځو اعتکاف صحیح دی او دآینده اعتکاف تر اوسه شروع سوی نه دی. نو د کومي ورځي اعتکاف چي یې مات کړی دی، صرف د هاغه قضاء واجبیږي، او د اعتکاف په قضاء کي روژه شرط ده او که څوک یې په [بل] رمضان کي قضاء راوړي، نو د رمضان روژه کافي ده. او که په نفلي اعتکاف کي یې د وخت تعیین نه وي وکړی، نو له مسجد څخه په وتلو سره سمدستي هغه پوره کیږي، لکه اوس چي ذکر سوه او د هغه هیڅ قضاء واجب نه ده). (انوار الایضاح، شفاء الارواح، تحفة الالمعي، البحر الرائق، مراقی الفلاح)

د معتکف لپاره په مسجد کي خوراک، څښاک، خوب او بیع کول

﴿۱۱۷۰﴾ وَأَكْلُ الْمُعْتَكِفِ وَشُرْبُهُ وَنَوْمُهُ وَعَقْدُهُ الْبَيْعَ لِمَا يَحْتَاجُهُ لِنَفْسِهِ أَوْعَيَالِهِ فِي الْمَسْجِدِ او د معتکف خوراک او څښاک او خوب او د بیع معامله کول (یعني خرڅول او رانیول) د هغه شیانو چي دئ ورته محتاجه وي د خپل ځان او خپل عیال لپاره (دا ټوله) به په مسجد کي کیږي (یعني د معتکف لپاره دا ټوله په مسجد کي کول روا دي) وَكُرِهَ إِحْضَارُ الْمَبِيْعِ فِيْهِ او مکروه دي د بیع شی مسجد ته حاضرول (راوړل) وَكُرِهَ عَقْدُ مَاكَانَ لِلتِّجَارَةِ او مکروه دي د هغه شیانو معامله (سودا) کول کوم چي د تجارت لپاره وي.

تشریح: د عبارت حاصل دا دی چي د معتکف لپاره په مسجد کي خوراک، څښاک او خوب کول جائز دي، همدارنګه د خپل ځان او د خپل اهل وعیال لپاره چي د کومو شیانو د رانیولو او خرڅولو ضرورت وي، د هغوی خرڅول او رانیول هم ورلره جائز دي، خو هغه شیان او سامان دي مسجد ته نه حاضروي. داسي کول مکروه تحریمي دي، صرف د خرڅلاو او رانیولو معامله کوم چي ضروري وي، هغه دي په مسجد کي تر سره کړي.

❀ ❀ ❀

مسئله: که د معتکف لپاره خوراک راوړونکی کس نه وي چي د هغه لپاره ډوډۍ او خوراک راوړي. یا چا ته نه سي ویلای، نو بیا د خوراک راوړلو لپاره هم بهر وتلای سي، او په دې کي دي ځنډ نه کوي او خوراک دي مسجد ته راوړي او په مسجد کي دي یې خوري. (طحطاوي)

په اعتکاف کي د خاموشۍ (چپتیا) حکم

﴿۱۱۷۱﴾ وَكُرِهَ الصَّمْتُ إِنِ اعْتَقَدَهُ قُرْبَةً او مکروه دي چپ پاتېدل (چپ کښېنستل) که چیري داسي کول عبادت (د ثواب کار) ګڼي وَالتَّكَلُّمُ إِلَّا بِخَيْرٍ او (مکروه دي) خبري کول مګر د خیر (نېکي خبري).

لغات: ﴿صمت﴾ د نصر د باب مصدر دی: چپ کېدل، خاموشه کېدل، او د "سکوت" پر ځای یې "صمت" ځکه استعمال کړی دی چي په دواړو کي فرق دی، "سکوت" وایي محض د دواړو شوندانو (یعني د خولې) بندېدلو ته او که دا (د خولې) بند والی اوږد سي، نو صمت دی (شامي ج:۲ ص:۱۸۵). ﴿قربة﴾ عبادت او د نېکۍ کار، داسي کار چي په هغه سره د خدای تعالیٰ قُربت او رضاء حاصلیږي، د ثواب کار (ثوابي کار)، جمع: قُرَب و قُرُبَات.

تشریح: په مسجد کي بده خبره کول د ټولو لپاره ناجائز دي او د معتکف لپاره خو په خاصه توګه ممنوع دي، د اعتکاف له آدابو څخه دا دي چي له ښې خبري څخه بغیر نوري خبري نه وکړي. او پاته سو چپ چاپ (خاموشه) کښېنستل په دې خیال او عقیده سره چي په دې کي ثواب زیات دی دا په اعتکاف کي مکروه دي، که یې دا خیال او عقیده نه وي، نو بیا هیڅ کراهت نسته. ها! که له بدو خبرو مثلاً له غیبت یا د بدو اشعارو له ویلو څخه د ځان ساتلو لپاره خاموشي اختیار کړي، نو دا ډېر لوی عبادت دی. همدارنګه که له بې ځایه (غیر مفیده) خبرو څخه یې د ژبي د ساتلو لپاره خاموشي اختیار کړې وي، نو دا هم مکروه نه دي، نو ځکه معتکف ته پکار دي چي خپل زیاتره وخت د قرآن په تلاوت او په ذکر او عبادت کي تېر کړي.

والتكلم إلخ: یعني له نېکو او ښه خبرو څخه بغیر نوري خبري کول هم د معتکف لپاره مکروه دي، په اعتکاف کي داسي خبري کول مباح (روا) دي چي په هغوی کي ګناه نه وي. د ضرورت په اندازه دنیوي خبري کول هم ممنوع نه دي، لېکن خبري کول دي خپله مشغله نه ګرځوي. (انوار الایضاح، شفاء الارواح)

د اعتکاف په حالت کي جماع کول حرام دي

﴿۱۱۷۲﴾ وَحَرُمَ الْوَطْءُ وَدَوَاعِيهِ او حرام دي (د اعتکاف کونکي لپاره) وطي او دواعي د وطي (یعني وطي ته بلونکي شیان اسباب لکه ښکُل کول، مسه کول او داسي نور) وَبَطَلَ بِوَطْئِهِ وَبِالْإِنْزَالِ

بِدَوَاعِيْهِ او باطلیږي د اعتکاف کونکي په وطي سره او (یا) په انزالېدو سره د وطي د دواعیو په سبب.

لغات: ﴿الوطء﴾ د سمع د باب مصدر دی، وَطَأَيَطَأُوَطْأً: وطي کول. او د دې باب خپله معنی ده: تر پښو لاندې کول (پایماله کول). ﴿دواعي﴾ جمع د اعية ده: (وطي او جماع ته) بلونکي شیان. یعني هغه کارونه کوم چې سړی پر جماع را پاروي، لکه ښځه په شهوت سره مسه کول. ور سره پرېوتل. مچول.

تشریح: مسئله دا ده چې د اعتکاف په حالت کې جماع کول حرام دي. مثلا که څوک د خپل طبعي ضرورت لپاره له مسجد څخه ووځي او د ښځې سره جماع هم وکړي، نو د هغه دا فعل حرام دی او دواعي د وطي (وطي ته بلونکي شیان) یعني هغه افعال کوم چې زیاتره وخت د جماع سبب ګرځي. مثلا ښځه مسه کول (په غېږ کې نیول)، مچول او داسې نور دا ټول هم حرام دي.

وبص،رح: که معتکف جماع وکړي برابره ده قصدا وي او که په هېره وي، انزال سي او که نه سي. د هغه اعتکاف باطلیږي.

وبالإنزال بدواعیه: یعني په دواعي د وطي سره هغه وخت اعتکاف باطلیږي کله چې انزال سي. او که انزال نه سي، نو اعتکاف نه باطلیږي، که څه هم د اعتکاف په حالت کې دا فعل حرام دی. (شفاء الارواح)

د ورځو د اعتکاف په نذر کولو سره د شپو اعتکاف هم لازمیږي

﴿۱۱۷۳﴾ وَلَزِمَتْهُ اللَّيَالِيْ أَيْضًا بِنَذْرِ اِعْتِكَافِ أَيَّامٍ او لازمیږي پر هغه د شپو اعتکاف هم د ورځو د اعتکاف په نذر کولو سره وَلَزِمَتْهُ الْأَيَّامُ بِنَذْرِ اللَّيَالِيْ مُتَتَابِعَةً او لازمیږي پر هغه ورځې (هم) د شپو په نذر کولو سره پرلپسې (یعني د ورځو اعتکاف یې پرلپسې لازمیږي) وَإِنْ لَمْ يَشْتَرِطِ التَّتَابُعَ که څه هم شرط یې نه وي لګولی د پرلپسې والي فِيْ ظَاهِرِ الرِّوَايَةِ په ظاهر روایت کې وَلَزِمَتْهُ لَيْلَتَانِ بِنَذْرِ يَوْمَيْنِ او لازمیږي پر هغه دواړې شپې (هم) د دوو ورځو (د اعتکاف) په نذر کولو کې.

تشریح: صورت د مسئلې دا دی چې که څوک د څو ورځو اعتکاف پر خپل ځان لازم کړي (نذر یې کړي). مثلا داسې ووایې چې د خدای تعالیٰ لپاره پر ما لس ورځې اعتکاف لازم دی. نو د دې لسو ورځو اعتکاف د هغوی د شپو سره لازمیږي او پرلپسې لازمیږي، که څه هم د پرلپسې والي شرط یې

نه وي لګولی، همدارنګه د دې برعکس که د څو شپو اعتکاف پر خپل ځان لازم کړي، نو پر هغه دا اعتکاف د ورځو سره لازمیږي او پرلپسې لازمیږي.

ولزمته لیلتان إلخ: یعني که څوک د دوو ورځو د اعتکاف نذر ومني، نو پر هغه د دوو ورځو اعتکاف د هغوی د دواړو شپو سره لازمیږي، او د امام ابو یوسف رَحِمَهُ اللّٰه په نیز اوله شپه نه داخلیږي. نو ګواکي د هغه په نیز دوې ورځې او یوه شپه اعتکاف لازمیږي. (شفاء الارواح)

﴿۱۱۷۴﴾ وَصَحَّ نِيَّةُ النُّهُرِ خَاصَّةً دُونَ اللَّيَالِيْ او صحیح دی خاص (فقط) د ورځو (د اعتکاف) نیت کول بغیر له شپو څخه.

تشریح: د عبارت حاصل دا دی چي که څوک د څو ورځو د اعتکاف نذر ومني، خو په ورځو "أيام" سره خاص د ورځو نیت وکړي، د شپو د اعتکاف نیت یې نه وي (چي فقط د ورځې اعتکاف کوم، نه د شپې)، نو د هغه نیت صحیح دی، مثلاً که داسي ووایې چي پر ما د الله تعالیٰ لپاره د پنځو شپو اعتکاف لازم دی او په پنځو ورځو سره خاص د ورځو نیت وکړي، نه د شپو، نو پر هغه فقط د پنځو ورځو اعتکاف لازمیږي، د هغوی د شپو اعتکاف نه باندي لازمیږي (خلاصه دا چي په نذر کړل سوي اعتکاف کي د ورځو سره د شپو اعتکاف هغه وخت لازمیږي کله چي یې د شپو نیت هم کړی وي. یا یې بالکل نیت نه وي کړی. لهذا که فقط د ورځو نیت وکړي او شپې په نیت کي جلا او منفي کړي. نو بیا د شپو اعتکاف نه لازمیږي).

د یوې میاشتي د اعتکاف د نذر کولو حکم

﴿۱۱۷۵﴾ وَإِنْ نَذَرَ اِعْتِكَافَ شَهْرٍ وَنَوَى النُّهُرَ خَاصَّةً أَوِ اللَّيَالِيْ خَاصَّةً او که نذر کړي (نذر ومني) د یوې میاشتي اعتکاف او نیت خاص (فقط) د ورځو وکړي یا خاص د شپو لَا تَعْمَلُ نِيَّتُهُ إِلَّا أَنْ يُصَرِّحَ بِالْإِسْتِثْنَاءِ نو د هغه دا نیت کار (اثر) نه کوي مګر دا چي د استثناء صراحت وکړي (یعني په ښکاره لفظو سره استثناء وکړي).

لغات: ﴿النهر﴾ جمع د نَهَارٌ ده: ورځ. یعني له صبح صادق (طلوع الفجر) څخه تر لمر لویدلو پوري وخت. ﴿يصرح﴾ د تفعیل د باب مضارع ده. مصدر: تصریحًا: په ښکاره لفظو کي ذکر کول، صراحت کول. ﴿الاستثناء﴾ د استفعال د باب مصدر دی: مستثنیٰ کول، جلا کول، خارجول.

تشریح: صورت د مسئلې دا دی چي که څوک دا نذر ومني چي یوه میاشته به اعتکاف کوي او هغه صرف د ورځو نیت وکړي، یا صرف د شپو نیت وکړي، نو د هغه دې نیت لره اعتبار نسته او صحیح نه دی: ځکه میاشته د یو معین مقدار نوم دی کوم چي په ورځو او شپو دواړو باندي مشتمل دی (ځکه

که میاشته مثلاً دېرش ورځې وي، نو په دې کې شپې هم مراد وي)؛ لیکن که هغه صراحتاً د شپو استثناء وکړي مثلاً داسې ووايي چې "زما پر ذمه دالله لپاره دیوې میاشتې د ورځو اعتکاف دی بغیر له شپو څخه"، نو په هغه کې صرف د ورځو اعتکاف لازمیږي.

او که صرف د ورځو استثناء وکړي مثلاً داسې ووايي چې "زما پر ذمه دالله لپاره دیوې میاشتې د شپو اعتکاف دی"، نو بیا د هغه پر ذمه هیڅ نسته؛ ځکه د ورځو په استثناء کولو سره محض شپې پاتې سوې او په شپو کې د نذر اعتکارف نه سي کېدلای؛ ځکه په نذر سوي (منذور) اعتکاف کې روژه شرط ده او شپې د روژې محل نه دي. (شفاء الارواح. انوار الایضاح)

د اعتکاف مشروعیت

﴿۱۱۷٦﴾ وَالْاِعْتِكَافُ مَشْرُوْعٌ بِالْكِتَابِ وَالسُّنَّةِ او اعتکاف په کتابُ الله او سنت (حدیث) سره مشروع (په شریعت کې ثابت سوی) دی.

لغات: ﴿مشروع﴾ د فتح له بابه اسم مفعول دی: په شریعت کې وارد او نافذ. په شریعت کې جائز کړی سوی.

تشریح: فرمايي چې اعتکاف په شریعت کې په قرآن او حدیث دواړو سره ثابت دی. له قرآن څخه دلیل دا آیت دی: ﴿وَلَا تُبَاشِرُوْهُنَّ وَأَنْتُمْ عَاكِفُوْنَ فِي الْمَسَاجِدِ﴾ (یعني کله چې تاسې په مسجدونو کې د اعتکاف په حالت کې يئ، نو د خپلو ښځو سره بدن هم مه مسه کوی). او سنت یعني له حدیثو څخه دلیل دا حدیث دی: "عن عائشه زوج النبی ﷺ أن النبی ﷺ کان یعتکف العشر الأواخر من رمضان حتّٰی توفّاه الله ثم اعتکف أزواجه من بعده" (بخاري شریف. باب الاعتکاف فی العشر الأواخر ص: ۲۷۱. حدیث رقم: ۲۰۲۲. مسلم شریف. کتاب الاعتکاف ص: ۳۷۱. حدیث رقم: ۱۱۷۲. ۲۷۸۴)، یعني له حضرت عائشې رضی الله عنها څخه روایت دی چې نبي کریم ﷺ به هر کال د رمضانُ المبارک په آخري عشره کې اعتکاف کوی تر دې چې هغوی ﷺ وفات سو. او د وفات په کال نبي کریم ﷺ شل ورځې اعتکاف وکړی. (انوار الایضاح. شفاء الارواح)

د اعتکاف فضیلت او اهمیت

﴿۱۱۷۷﴾ وَهُوَ مِنْ أَشْرَفِ الْأَعْمَالِ إِذَا كَانَ عَنْ إِخْلَاصٍ او اعتکاف له افضله اعمالو څخه دی کله چې په اخلاص سره وي وَمِنْ مَحَاسِنِهِ أَنَّ فِيْهِ تَفْرِيْغَ الْقَلْبِ مِنْ أُمُوْرِ الدُّنْيَا او د اعتکاف له ښېګڼو څخه دا دي چې په اعتکاف کې له دنیاوي معاملو څخه د زړه فارغول (خالي کول)

سته وَ تَسْلِيْمِ النَّفْسِ إِلَى الْمَوْلٰى او (همدارنګه په اعتکاف کي) ځان خپل مالک (رب تعالیٰ) ته سپارل دي وَ مُلَازَمَةَ عِبَادَتِهٖ فِيْ بَيْتِهٖ وَالتَّحَصُّنَ بِحِصْنِهٖ او (همدارنګه په اعتکاف کي) د خپل مالک د عبادت لازم نيول (پر ځان لازمول) دي د هغه په کور (مسجد) کي او د هغه په قلعه (کلا) کي محفوظ کېدل دي.

لغات: ﴿أشرف﴾ د کرُم له بابه اسم تفضيل دی: افضل او اعلیٰ. ﴿محاسن﴾ دا جمع د حُسن ده (خلاف القياس): ښېګني، ښکلاوي. ﴿تحصّن﴾ د تفعل د باب مصدر دی. د دې باب په صله کي چي باء او حصن ذکر سي، نو معنیٰ يې ده: ځان په محفوظه کول (ځان په خوندي کول)، پناه ور وړل.

تشريح: فرمايي چي که اعتکاف په اخلاص سره وي چي خالص د الله تعالیٰ د رضاء لپاره وسي، نو هغه افضل ترين عمل او عظيمُ الشان عبادت دی؛ ځکه د اعتکاف حاصل دا دی چي د خدای دَر ته راغلم او هلته ډېره سوم چي تر څو زما مراد (رضاء الهي) پوره نه سي تر هغه وخته پوري نه ځم.

ومن محاسنه إلخ: د اعتکاف له ښېګنو څخه يو دا ده چي د انسان زړه د دنيا له فکرونو څخه خالي کيږي؛ ځکه تر څو چي انسان په خلوت او په تنهايي کي وي، نو په کراره، کراره هغه ټول شيان ختم کيږي کوم چي د انسان توجّه له خدای څخه ليري کوي او زړه په پوره توګه د دنيا له خيالاتو څخه خالي سي او د الله وطرف ته متوجه سي او د هغه خوب، ويښتيا غرض هر وخت په عبادت کي شمېرل کيږي. همدارنګه د الله تعالیٰ په کلا (مسجد) کي له ګناهونو څخه محفوظه کيږي چي د خلکو سره د ګډون او د کاروبار په مشغولياتو کي له انسان څخه کوچني، کوچني ډېر ګناهونه کيږي.

د معتکف مثال

﴿۱۱۷۸﴾ وَقَالَ عَطَاءٌ رَحِمَهُ اللهُ او عطاء رَحِمَهُ الله فرمايلي دي مَثَلُ الْمُعْتَكِفِ مَثَلُ رَجُلٍ يَخْتَلِفُ عَلٰى بَابٍ عَظِيْمٍ لِحَاجَةٍ چي د اعتکاف کونکي مثال د هغه سړي په څېر دی کوم چي پر يوه لويه دروازه د يو ضرورت لپاره ځي راځي (تر څو چي يې ضرورت پوره کيږي) فَالْمُعْتَكِفُ يَقُوْلُ: لَا أَبْرَحُ حَتّٰى يَغْفِرَ لِيْ نو اعتکاف کونکی (ګواکي داسي) وايي: چي زه (له دې ځايه) نه

ليري کېږم تر دې چې الله تعالیٰ ما ته بخښنه وکړي (يا په بله وينا: چې تر څو ما ته بخښنه امغفرت انه وسي، تر هغه وخته دالله تعالیٰ له کور امسجدا څخه نه ځم).

لغات: ﴿يختلف﴾ دافتعال د باب مضارع ده، اِخْتَلَفَ يَخْتَلِفُ اِخْتِلَافًا: د دې باب په صله کې چې إلى المكان يا علىٰ او داسي نور ذکر سوي وي، نو معنیٰ يې ده: تلل راتلل (تګ راتګ). ﴿لا أبرح﴾ د سمع له بابه د واحد متکلم نفي صيغه ده: له خپل ځايه ليري کېدل، جلا کېدل.

تشريح: عطاء بن ابي رباح رَحِمَهُ الله ډېر ستر تابعي دی او د حضرت ابن عباس رضی الله عنهما شاګرد دی او زموږ د امام اعظم رَحِمَهُ الله اُستاذ دی، هغه فرمايي چې معتکف داسي دی لکه يو څوک چې د يو چا په دربار باندې پروت اووسي چې تر هغه وخته نه ځم تر څو چې مي خواست قبول نه سي، نو معتکف (په زبانِ حال سره) وايي چې تر څو ما ته بخښنه نه وسي، تر هغه وخته نه ځم، که حقيقتًا همدغه حالت وي، نو د انسان د مغفرت او رحمت الهي سبب ګرځي.

﴿۱۱۷۹﴾ (د نور الايضاح مصنف رَحِمَهُ الله فرمايي) وَهٰذَا مَا تَيَسَّرَ لِلْعَاجِزِ الْحَقِيْرِ بِعِنَايَةِ مَوْلَاهُ الْقَوِيِّ الْقَدِيْرِ او دا (څه چې بيان سوه، دا) هغه دي کوم چې آسانه سوه (ما) عاجزه بې حيثيته لره د خپل قوي او قدرت والا مالک (رب تعالیٰ) په توجّه (او مهرباني) سره اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ الَّذِیْ هَدٰنَا لِهٰذَا ټوله تعريفونه هغه الله ﷻ لره دي چې موږ ته يې هدايت (لاربنوونه) وکړه د دې (خدمت اتاليف ا) وَمَا كُنَّا لِنَهْتَدِیَ لَوْلَا أَنْ هَدٰنَا اللّٰهُ او موږ به هيڅکله هدايت (لاربنوونه) موندلې نه وای که چيري الله تعالیٰ موږ ته هدايت نه وای کړی وَصَلَّى اللّٰهُ عَلٰى سَيِّدِنَا وَمَوْلَانَا مُحَمَّدٍ خَاتِمِ الْأَنْبِيَاءِ او دالله رحمت (رحمتِ کامله) دې نازل وي زموږ پر سردار او زموږ پر مولا محمد ﷺ باندې چې آخر د نبيانو دی (له نبي کريم ﷺ څخه وروسته بل هيڅ نبي نه راځي، نه تشريعي، نه غيرِ تشريعي، نه ظلي، نه بروزي، صرف حضرت عيسیٰ عليه السلام به د نبي کريم ﷺ د امتي په حيثيت سره راسي چې هغه ته له نبي ﷺ څخه مخکې نبوت ورکول سوی دی) وَعَلٰى آلِهٖ وَصَحْبِهٖ وَذُرِّيَّتِهٖ وَمَنْ وَّالَاهُ او (رحمتِ کامله دې نازل وي) د ده پر آل (کورنۍ او قريبانو اهلِ بيتو ا) او د ده پر اصحابو او د ده پر اولاد او پر هغه ټولو چې د نبي کريم ﷺ ملديې کړی دی (يا په بله ترجمه، چې هغوی د نبي کريم ﷺ سره محبت او دوستي الري) وَنَسْأَلُ اللّٰهَ

سُبْحَانَهٗ مُتَوَسِّلِيْنَ او موږ خواست کوو له الله تعالیٰ څخه په داسي حال کي چي وسیله اختیارونکي یو (یعني د نبي کریم ﷺ په وسیله او واسطه سره دا خواست کوو) أَنْ يَّجْعَلَهٗ خَالِصًا لِوَجْهِهِ الْكَرِيْمِ چي دا کتاب د خپل کریم ذات لپاره خالص وګرځوي وَ أَنْ يَّنْفَعَ بِهِ النَّفْعَ الْعَمِيْمَ او دا چي ددې په ذریعه عامه نفع (عامه فایده) ورسوي وَيُجْزِلَ بِهِ الثَّوَابَ الْجَسِيْمَ او چي ددې په ذریعه پرېمانه (ډېر زیات) ثواب راکړي.

لغات: ﴿تیسّر﴾ د تفعّل د باب ماضي ده: آسانه کېدل. ﴿حقیر﴾ بې حیثیته. معمولي، ﴿عنایة﴾ توجّه، اهتمام. ﴿والاهُ﴾ د مفاعلې د باب ماضي ده: مدد کول، مرسته کول. محبت او دوستي کول، ﴿متوسّلین﴾ د تفعّل له بابه د جمع مذکر فاعل صیغه ده: یو شی وسیله او واسطه ګرځول، وسیله اختیارول. لکه څرنګه چي ویل کیږي یجوز للإنسان أن یتوسّل إلی الله بعمله الصالح (یعني د انسان لپاره جائز دي چي اد قبولیت په اُمید سره ا خپل نېک عمل د الله تعالیٰ لپاره واسطه وګرځوي). تقرّب حاصلول. ﴿يُجْزِل﴾ د افعال له بابه د واحد مذکر غائب مضارع معلومي صیغه ده: ډېر زیات ورکول. پرېمانه ورکول. ﴿جسیم﴾ عظیم، غټ، لوی، لوړ. (معجم الوسیط بتصرّف)

تشریح: مصنف رَحِمَهُ الله فرمایي چي د لمانځه، روژې او داسي نورو چي کوم مسائل پېش کړل سوه. هغه ټوله د لوی څښتن ﷻ لوېه مهرباني وه. کنې عاجزه بنده چیري ددې لائق وو.

مصنف رَحِمَهُ الله دغه کتاب (نور الایضاح) اولاً تر "کتاب الاعتکاف" پوري ولیکی او تر همدې ځایه یې د لیکني اراده وه. نو ځکه په آخر کي یې داسي اختتامي کلمات او دعائیه الفاظ هم ولیکل، بیا وروسته یې خیال سو چي د زکاة او حج مسائل هم اضافه کول پکار دي، نو بیا یې کتابُ الزکاة او کتابُ الحج هم ور سره اضافه کړی.

❁ ❁ ❁

كِتَابُ الزَّكوٰةِ

(دا) کتاب د "زکاة" (په بیان کي) دی

تشریح: مخکي تر دې مصنف رَحِمَهُ الله کتابُ الصّوم د خپلو متعلقاتو سره بیان کړی او اوس له دې ځایه د ارکانِ خمسه وو د یو اهم رکن یعني د زکاة مسئلې او تفصیلات بیانوي، او د دوی تر مینځ د مناسبت وجه دا ده چي صلاة او صوم دواړه عبادتِ بدنیه دي او زکاة عبادتِ مالیه دی، همدارنګه د اصح قول پر بناء د صوم فرضیت مخکي دی پر زکاة. نو ځکه مصنف رَحِمَهُ الله اولاً کتابُ الصلاة بیا کتابُ الصوم او تر هغه وروسته کتابُ الزکوة بیان کړی دی.

د زکاة فریضه: هر مسلمانِ ته خصوصاً په دې حقیقت پوهېدل پکار دي چي کوم څه دولت او سرمایه چي ده ته حاصلیږي، د هغه اصل مالک دئ خپله نه دی، بلکي الله ﷻ یې حقیقي مالک دی او هغه محض په خپل فضل او کرم سره موږ ته په خپل ملکیت کي د نیابت په توګه د تصرّف کولو حق را کړی دی، لهذا کله چي الله تعالیٰ د هغه مالک دی او د هغه د قدرت او فضل پر بناء موږ ته دا نعمت حاصل سوی دی، نو که چیري هغه وخپلو بندګانو ته دا حکم کړي وای چي دوی دي خپل ټوله مال دا لله ﷻ په لاره کي خرچ کړي، نو موږ لره به هیڅ د شکایت یا اعتراض موقع نه وای؛ ځکه شی د الله تعالیٰ دی. د هغه چي څومره او چیري خوښه وي، خرچ کولای سي. خو دا هم د هغه لوی فضل دی چي موږ ته یې چیري د خرچ کولو حکم کړی دی، هلته یې د ټوله مال نه. بلکي د څه حصې د خرچ کولو حکم یې کړی دی.

زکاة او صدقه په مال کي د اضافې سبب دي: په عامه توګه خلک دا ګڼي چي د زکاة په اداء کولو او په صدقه وخیرات کولو سره مال کمیږي، لیکن د قرآن او حدیث صراحت دا دی چي په صدقه سره مال نه ختمیږي بلکي زیاتیږي، او که سوال وسي چي د زکاة یا صدقې د ایستلو په وخت کي خو په ښکاره مال کمېدونکی لیدل کیږي، نو بیا ولي دا ویل سوي دي چي په صدقه سره مال نه کمیږي، نو جواب یې دا دی چي د صدقې په وجه که څه هم مال په ښکاره کمېدونکی لیدل کیږي، خو د هغه په بدله کي چي د الله تعالیٰ له طرفه کوم برکت کیږي په کاروبار کي د اضافې په صورت کي، یا له نقصان او مصائبو څخه د حفاظت په صورت کي، هغه د صدقې د مقدار په مقابله کي څو چنده زیات وي (همدا یې نغده فائده ده او په آخرت کي یې جلا عظیمُ الشان اجر او ثواب دی).

زکاة کله فرض سو؟ : زکاة د اسلام په ابتدائي دَور کي فرض سوی وو، سورةُ المزمل کوم چي له ابتدائي سورتونو څخه دی، د هغه په آخري آیت کي د زکاة ذکر دی، د الله تعالی فرمان دی ﴿وَأَقِيْمُوْا الصَّلٰوةَ وَآتُوا الزَّكوٰةَ﴾، خو په مکي دور کي د زکاة تفصیلات نازل سوي نه وه، صحابه وو پوښتنه هم کړې وه "يَسْأَلُوْنَكَ مَاذَا يُنْفِقُوْنَ قُلِ الْعَفْوَ" (خلک ستا څخه پوښتنه کوي چي څه خرچ کړي؟ هغو ته ووایه چي له خپل ضرورت څخه زائد څه خرچ کړي)، د مال هیڅ مقدار یې متعین نه کړی، کله چي تر هجرت وروسته د هجرت په دویم کال اسلامي نظام په وجود کي راغلی او اسلامي حکومت قائم سو، نو د زکاة تفصیلات نازل سول. (تحفة الالمعی ج: ۲، ص: ۵۰۷)

د زکاة سبب : د زکاة سبب د داسې نصاب مالک کېدل دي چي پر هغه یو کال تېر سوی وي او هغه مال د انسان له قرض (پور) او نورو اړتیاوو څخه فارغ وي.

د زکاة حکم : د زکاة په فرضیت باندي د ټوله امت اتفاق دی، کوم څوک چي د زکاة د فرضیت انکار کوي، پر هغه به د کفر فتویٰ لګیږي. (انوار الایضاح)

د زکاة لغوي او اصطلاحي معنیٰ: زکاة د خپل اصل او لغوي معنیٰ په اعتبار سره د څو معناګانو لپاره استعمالیږي: ① کله نا کله د پاکوالي په معنیٰ سره وي، لکه: قَدْ أَفْلَحَ مَنْ تَزَكّٰى (بې شکه کامیاب دی هغه څوک چي پاکي حاصله کړي). ② کله د زیاتېدلو، نما او ودې په معنیٰ سره وي، مثلاً کښت چي کله وده وکړي، نو عرب وایي: زَكَا الزَّرْعُ (یعني کښت وده وکړه). ③ او کله دا لفظ د صدقې او خیرات کولو په معنیٰ سره وي، لکه: تَزَكَّى الرَّجُلُ، أی تَصَدَّقَ الرَّجُلُ (یعني سړي صدقه وکړه).

د زکاة اصطلاحي معنیٰ خپله مصنف رَحِمَهُ الله بیان کړې ده.

د زکاة اصطلاحي معنیٰ

﴿۱۱۸۰﴾ هِيَ تَمْلِيْكُ مَالٍ مَخْصُوْصٍ لِشَخْصٍ مَخْصُوْصٍ دا (زکاة) په ملک کي ورکول دي د مخصوص مال و مخصوص کس ته (یعني فقیر یا داسې بل مستحق د مال د یو خاص مقدار مالک جوړول).

لغات: ﴿تملیك﴾ د تفعیل د باب مصدر دی: مالک جوړول (مالک کول)، د یو چا په ملکیت او قبضه کي مال وغیره ورکول.

تشریح: په دې عبارت کي د زکاة اصطلاحي تعریف بیان سوی دی چي د شریعت په اصطلاح کي د زکاة معنیٰ ده: د خپل مال یو خاص مقدار (کوم چي د شریعت له طرفه مقرر دی) خالص د الله تعالیٰ د

رضاء لپاره بېله عوضه یو مخصوص کس (نقیر وغریب غیرِ سیّد) ته په ملکیت کي ورکول (مالک یې جوړول).

تفصیل یې دا دی چي پر کوم مال یو کال تېر سي او هغه د نصاب په اندازه وي، له هغه څخه څلوېښتمه حصه داسي مسلمان کس ته په ملکیت کي ورکول (مالک یې جوړول) کوم چي فقیر وي او هاشمي یا د هاشمي له طرفه آزاد کړی سوی نه وي دالله د حکم د تعمیل په نیت سره.

د زکاة له تعریف څخه معلومه سوه چي د زکاة حقیقت تملیک (مالک جوړول ایا په بله ورنا په ملکیت کي ورکول ا) دي، لهذا چیري چي د تملیک معنیٰ موجوده نه سي، هغه به زکوٰة شرعي نه وي مثلاً په مسجد کي خرچ کول، د مړي په کفن کي ورکول، د مېلمنو او مسافرانو لپاره ځای (مسافر خانه) او داسي نور جوړول، همدارنګه که فقیر ته خپل یو ځای په کرایه ورکړي او د هغه په کرایه کي د زکاة نیت وکړي، نو په دې هم سره زکاة نه اداء کیږي، همدارنګه که مستحقو فقیرانو ته په ګډه یو ځای خوراک ورکول سي، نو په دې سره هم زکاة نه اداء کیږي، بلکي هغوی د خوراک مالکان جوړول ضروري دي (په اکثره مدرسو کي یو ځای په ګډه طالبانو ته د خوراک ورکولو رواج دی، نو منتظمینو ته پکار دي چي د زکاة مال د تملیک کولو څخه وروسته په خوراک کي خرچ کړي، کنې زکاة نه اداء کیږي!انوار الایضاح!). (طحطاوي ص:۳۸۹، دړ مختار ج:۳، ص:۱۶۱، ط: بیروت)

د زکاة د فرضیت شرائط

﴿۱۱۸۱﴾ فُرِضَتْ عَلٰى حُرٍّ مُسْلِمٍ مُكَلَّفٍ مَالِكٍ لِنِصَابٍ مِنْ نَقْدٍ فرض کړی سوی دی (زکاة) پر آزاد، مسلمان مکلف کس باندي کوم چي د نقد مال د نصاب مالک وي وَلَوْ تِبْرًا که څه هم (هغه نقد مال) د سرو او سپینو زرو ټوټې وي أَوْ حُلِيًّا أَوْ آنِيَةً یا زېورات وي یا لوښي وي أَوْ مَا يُسَاوِىْ قِيْمَتَهٗ مِنْ عُرُوْضٍ تِجَارَةٍ یا له تجارتي څخه وي داسي شی (سامان) وي کوم چي د نصاب د قیمت سره برابر وي فَارِغٍ عَنِ الدَّيْنِ وَعَنْ حَاجَتِهِ الْأَصْلِيَّةِ (او) چي (دا نصاب) له قرض او د ده له ضرورت اصلي څخه فارغ (زیات) وي نَامٍ وَلَوْ تَقْدِيْرًا (او) نما کونکی (وده کونکی) وي که څه هم (هغه وده کول) تقدیراً (او فرضاً) وي.

لغات: ﴿نصاب﴾ د دې معنیٰ ده: "اصل"، او په شریعت کي نصاب د مال، اسبابو او څارویو هغه مقدار ته وایي چي په هغه کي زکاة فرض کیږي، ﴿نقد﴾ نغد مال، "نقدان" سرو زرو او سپینو

زرو ته وايي، د فقهاؤ په نېز د "نقد" لفظ په دوو معناوو سره مستعمل دی: یو خو د سرو زرو او سپینو زرو د سکو لپاره (یعني دراهم او دنانیر)، د دې جمع "نُقُوْد" ده. بیا فقهاؤ د دې په استعمال کې توسع وکړه او په هر ډول سکې او نوټ باندې يې د "نقود" اطلاق وکړی (یعني هر هغه څه چې په هغه باندې خلک نقده معامله کوي او خلک یې نقد مال ګڼي). دویم "نقد" د نغد اداء کولو په معنیٰ سره راځي. د دې په مقابله کې د پور (قرض) لفظ دی (قاموس الفقه ج:۵، ص:۲۱۹). ﴿تِبرٌ﴾ د سرو او سپینو زرو ټوکړه (ټوټه)، هغه سره او سپین زره چې تر اوسه سکه او زیورات ځنې جوړ سوي نه وي. ﴿حُلِيٌّ﴾ جمع د حَلْيٌ ده (د حاء په فتحه او د لام په سکون سره): زېور (لکه غاړګی او داسې نور شیان کوم چې ښځه د ښکلا او سینګار په توګه استعمالوي)، دلته د سرو او سپینو زرو زېورات مراد دي؛ ځکه زکاة د هغه سره متعلق دی او کوم زېورات چې له جواهرو څخه جوړ وي، په هغوی کې زکاة نسته. ﴿آنیة﴾ لوښي جمع أَوَانِي، ﴿عُروض﴾ (بضم العين) جمع د عَرْضٌ ده، لکه څرنګه چې فُلُوْس جمع د فَلْسٌ ده: سامان، له سرو او سپینو زرو څخه بغیر نور شیان، او بعضو لیکلي دي چې عرض هغه سامان کوم چې مکیلي او موزوني نه وي او نه حیوان وي او نه جائیداد وي (المصباح المنير). ﴿نامٍ﴾ د نصر له بابه د فاعل صیغه ده: نما کونکی، وده کونکی، داسې مال چې په هغه کې د وده کولو (زیاتېدلو) صلاحیت وي.

تشریح: د زکاة د فرض کېدلو لپاره لاندیني شرطونه لازم دي، یعني زکاة پر هغه چا فرض کیږي چې په هغه کې دا شرطونه موجود سي: ① آزادي، نو پر غلام زکاة فرض نه دی، ② اسلام، نو پر کافر زکاة فرض نه دی، ③ مُکلّف کېدل، یعني عاقل او بالغ کېدل، لهذا پر مجنون او نا بالغه هلک زکاة نه فرض کیږي، ④ د نصاب په اندازه مال لرل، یعني د دومره مال مالک کېدل کوم چې د نصاب په اندازه وي. شریعت د زکاة یو نصاب مقرر کړی دی، د چا سره چې هغه نصاب موجود وي، پر هغه زکاة فرض کیږي او هغه نصاب د سرو زرو په حساب سره اُووه نیمې تولې سرزر دي (کوم چې ۸۷ ګرامه و ۷۹ ملي ګرامه کیږي)، نو که د چا سره دغه مذکوره نصاب د نغدو روپو په شکل کې وي یا د سرو او سپینو زرو په شکل کې وي، برابره ده هغوی جوړ سوي سره زر یا سپین زر (یعني زېورات) وي او که نا جوړ سوي ټوټې وي، یا مذکوره نصاب د تجارت د سامان په شکل کې وي، نو پر هغه زکاة واجبیږي، په دې شرط چې دا روپۍ او مال د هغه له ضروریات اصلیه وو څخه زیات (اضافه) وي. یعني له ورځني ضروریاتو مثلاً د اوسېدلو ځای (استوګنځی)، د استعمال لوښي، کالي (جامې)، یخچال، د کالیو د پرېوللو او ګنډلو مشین (ماشین)، چپر کټ او الماری (فرنیچر)، موبائل، ټلیفون، موټر ګاټ او داسې نورو څخه زیات وي، او په دې شرط چې هغه مال پر خپلې ښځې او

بچیانو (کورنۍ) له خرچ کولو څخه زیات وي، او دا هم شرط دی چي دا کس قرضداره (پور وړی) نه وي، لهذا که په ده قرض باندي وي، نو د قرض تر منها (جلا) کولو وروسته به کتل کیږي چي اوس پاته مال د نصاب په اندازه دی او که تر هغه زیات دی (یا په بله وینا: دې ته به اندازه لګول کیږي چي اوس فی الحاله چي د ده سره کوم مال او روپۍ دي، که هغه په قرض اداء کولو کي صرف کړل نسي نو څومره مال نور پاتیږي، که چیري د نصاب په اندازه یا تر هغه زیات پاتیږي)، نو زکاة فرض کیږي، او که پاته مال د نصاب له مقدار څخه کمیږي، نو زکاة نه فرض کیږي.

نامِږولو تقدیرًا: او یو شرط دا دی چي دا مال به وده کونکی (زیاتیدونکی) هم وي برابره ده حقیقتًا وده کونکی وي لکه د تجارت مال، څارویان (رمه) چي د بچیانو په زیږولو سره وده وکړي، یا تقدیرًا وده کونکی وي لکه سره زره او سپین زر چي په دوی کي پیدایشي (خلقي) وده سته؛ ځکه سره او سپین زر اسلام د تجارت او کاروبار ذریعه ګرځولې ده، برابره ده له دوی څخه یو شی (زیور) جوړ سوی وي او که نه وي، او برابره ده د تجارت نیت یې پکښي کړی وي او که نه وي هغه نامي (وده کونکي) دي په دوی کي په هر حال کي زکاة فرض دی، او که مال وده کونکی نه وي، نه حقیقتًا او نه تقدیرًا، هغه که څه هم له ضرورت څخه زیات وي، نوهم په هغه کي زکاة نسته، لکه له یوه څخه زیات (د استوګني) ځایونه یا د استعمال موټران او داسي نور. (شفاء الارواح)

د زكاة پر مال د كال تېرېدل شرط دي او په مينځ كي اضافه سوی مال په نصاب كي شامليږي

﴿۱۱۸۲﴾ وَشَرْطُ وُجُوْبِ أَدَائِهَا حَوْلَانُ الْحَوْلِ عَلَى النِّصَابِ الْأَصْلِيِّ او د زکاة اداء کولو (ورکولو) د واجبېدلو شرط د (پوره) کال تېرېدل دي پر اصلي نصاب.

﴿۱۱۸۳﴾ وَأَمَّا الْمُسْتَفَادُ فِيْ أَثْنَاءِ الْحَوْلِ او کوم چي د کال په مينځ کي حاصل سوی (اضافه سوی) مال دی فَيُضَمُّ إِلٰى مُجَانِسِهٖ نو هغه به د خپل همجنس مال سره یو ځای کول کیږي (ضمول کیږي) وَيُزَكّٰى بِتَمَامِ الْحَوْلِ الْأَصْلِيِّ او د اصلي کال پر پوره کېدلو (ختمېدلو) به (د ټوله مال) زکاة ورکول کیږي سَوَاءٌ اُسْتُفِيْدَ بِتِجَارَةٍ أَوْ مِيْرَاثٍ أَوْ غَيْرِهٖ برابره ده هغه (د کال په مينځ کي حاصل سوی) مال په تجارت سره حاصل سوی وي یا په میراث یا په بله ذریعه سره.

لغات: ﴿مستفاد﴾ د استفعال لـه بابـه مفعـول دی: حاصـل سوی، ترلاسـه کـړی سوی مـال، ﴿أثناء﴾ مینځ، دوران، لکه څرنګه چي ویل کیږي جاءوا في اثناء الأمر: هغوی د کار په مینځ کي راغلل، ﴿مجانس﴾ د مفاعلې له بابه فاعل دی: هَمْ جنس (همجنس)، د خپل جنس والا.

تشريح: صورت د مسئلې دا دی چي د زکاة فرضیت خو له همغه وخت څخه کیږي کله چي انسان د نصاب مالک سي، خو د هغه اداء کول (ورکول) هغه وخت فرض کیږي کله چي کال پوره سي، او د کال شمېرولو أصول دا دی چي په کومه ورځ (تاریخ) چي انسان ته د نصاب په اندازه مال په لاس ورسي، له همغه ورځي (تاریخ) څخه د میاشتي (سپوږمۍ) په حساب سره د پوره کال په تېرېدلو بانډي چي څومره مال د ده په ملکیت کي وي، د هغه زکاة واجبیږي، مثلاً که څوک د شعبان په اوله ورځ د نصاب خاوند سي، نو د دې نصاب کال د را روان کال د شعبان په اوله پوره کیږي، اوس که د کال په دوران کي د نصاب سره څه نور مال اضافه او یو ځای سي (یا په بله وینا دا چي دا د نصاب خاوند څه نور مال وګټي او ورته حاصل سي)، برابره ده په تجارت سره یې وګټي، یا یو څوک څه مال ورته هبه کړي، یا په میراث کي ورته حاصل سي، نو پر دغه اضافه حاصل سوي مال علیحده پوره کال تېرېدل ضروري نه دي، بلکي کله چي اوله د شعبان راسي، نو پر یوه ځای د اول مال او د دغه اضافه سوي مال ټولو زکاة ورکول لازمیږي، که څه هم دا اضافه سوی مال له شعبان څخه فقط دوې، درې ورځي مخکي ورته حاصل سوی وي.

فیضم إلی مجانسه: یعني کوم مال چي د کال په مینځ کي ورته حاصل سي، هغه به د خپل جنس سره یو ځای کول کیږي او په اول مال بانډي د کال له تېرېدو څخه وروسته به دا نوی حاصل سوی (اضافه سوی) مال او هغه اول مال ټوله سره یو ځای کول کیږي (یعني یو د بل سره به ګډول کیږي) او زکاة به یې اداء کول کیږي (کما ذکرنا)، مثلاً سره زره، سپین زر او د دوی سکې، روپۍ (افغانۍ یا کلداري)، ډالر، زېورات او د تجارت مال ټوله یو جنس دی (کوم ته چي نقد مال هم ویل کیږي)، نو دا به یو د بل سره یو ځای کول کیږي، لهذا که د چا سره د کال په شروع کي اووه نیمي تولې سره زر وي، بیا د کال له تېرېدلو (پوره کېدو) څخه مخکي پنځوس تولې سپین زر ورسره اضافه سي، یا مثلاً د یو چا سره دوپنځوس نیمي تولې سپین زر وي (یعني د سپینو زرو نصاب)، بیا د کال له تېرېدو څخه مخکي پنځوس زره روپۍ نوري ورته حاصلي سي، نو دا وروسته حاصل سوی (اضافه سوی) مال به د اصل مال سره یو ځای کول کیږي، له جلا څخه به نه شمېرل کیږي.

ها! څرېدونکي څارویان (لکه پسونه او داسي نور) جلا جنس دی، هغوی به د نقد مال سره نه یو ځای کول کیږي، همدارنګه په څرېدونکي څارویانو کي هم جلا، جلا جنسونه سته، یعني اوښ جلا جنس دی، غوا، غویی او ګامېښه جلا جنس دی، پسه، وزه (بزه) او داسي نور جلا یو جنس دي،

نو دا به هم يو جنس د بل جنس سره نه يو ځای کول کيږي، مثلاً که د کال په شروع کې د يو چا سره د نصاب په اندازه نقد مال وي، بيا د کال په مينځ کې هغه ته څو اوښان حاصل سي، نو دا اوښان به د هغه نقد مال سره نه يو ځای کول کيږي، يا مثلاً که د چا سره د نصاب په اندازه غوبان وي، بيا د کال په مينځ کې څو پسونه ورته حاصل سي، نو هغوی به د پسونو سره نه يو ځای کيږي (بلکې هر يوه ته به جلا حساب کول کيږي). (شفاء الارواح)

✽ ✽ ✽

يادونــه: دا مسئله ضرور ياده ساتل پکار دي؛ ځکه چې بعضې تاجران د آسانۍ لپاره د انګريزي (ميلادي) مياشتو په اعتبار سره د زکاة حساب لګوي (مثلاً له يوه مارچ څخه تر بل مارچ پوري) او د قمري (هجري) کال اعتبار نه کوي چې د هغه په وجه شرعي حساب نه پوره کيږي، نو ځکه پر زکاة ايستونکو لازم دي چې د قمري (هجري) مياشتې په کوم تاريخ (ورځ) د نصاب خاوندان سي، په هماغه تاريخ دي هر کال خپل زکاة ته حساب لګوي. (انوار الايضاح بحوالۀ تلخيص المسائل)

مخکي (پيشګي) زکاة اداء کول

﴿۱۱۸۴﴾ وَلَوْعَجَّلَ ذُوْنِصَابٍ لِسِنِيْنَ او که مخکې (پېشګي) ورکړي د نصاب خاوند د څو کلونو لپاره (يعني د څو کالو زکاة پر يوه ځای مخکې اداء کړي) صَحَّ نو صحيح دي.

لغات: ﴿عجّل﴾ د تفعيل د باب ماضي ده: تلوار او تېزي کول، مخکېتوب (وړاندېتوب) کول، او چې په صله کې يې ثمن او داسې نور ذکر سي، نو معنی يې ده: مخکې ورکول (پېشګي ورکول).

﴿ذُوْ﴾ والا، خاوند، لکه ذُوْ مَالٍ (د مال خاوند، مال والا)، له اسماء ستّه مکبّره وو څخه دی.

تشريح: مخکې ذکر سوه چې د وجوبُ الاداء (يعني د زکاة اداء کولو د واجبېدو) لپاره حولانِ حول شرط دی يعني د زکاة اداء کول هغه وخت لازميږي کله چې پر نصاب کال تېر سي، اوس دلته دا فرمايي چې که څوک له وجوبُ الاداء څخه مخکې زکاة اداء کړي، نو زکاة اداء کيږي، مثلاً د يو چا سره څلوېښت زره افغانۍ وي او هغه د زرو افغانيو پر ځای دوه زره افغانۍ په زکاة کې ورکړي او نيت د را روان کال د زکاة هم وکړي، نو د را روان کال زکاة هم اداء کيږي (همدارنګه که د څو کالو زکاة پيشګي اداء کړي. نو هم صحيح کيږي. خو په راروانو کلونو کې چې څومره مال زيات سي، نو هغه زيات سوي مال ته به حساب لګول کيږي او د هغه زکاة به جلا ايستل کيږي)، او که څوک د نصاب له پوره کېدو څخه مخکې زکاة اداء کړي. نو نه صحيح کيږي او د دې اداء سوي زکاة حيثيت د نفلي صدقې دی (يعني ګواکي هغه دا اداء سوی مال خيرات کړی). (شفاء الارواح، انوار الايضاح)

د زكاة نيت كول شرط دي او د زكاة د نيت كولو وخت

«۱۱۸۵» وَشَرْطُ صِحَّةِ أَدَائِهَا نِيَّةٌ مُقَارِنَةٌ لِأَدَائِهَا لِلْفَقِيْرِ أَوْ وَكِيْلِهٖ او د زكاة اداء كولو د صحيح كېدو شرط داسي نيت دی كوم چي متصل (يو ځای سوی) وي فقير يا خپل وكيل ته د زكاة وركولو سره أَوْ لِعَزْلِ مَا وَجَبَ (يا دا نيت متصل وي) د واجب سوي مقدار د جلا كولو سره (يعني يا د واجب زكاة د مقدار جلا كولو په وخت كي به نيت ور سره متصل وي) وَلَوْ مُقَارَنَةً حُكْمِيَّةً كه څه هم دا متصل والی (اتصال) حكمي وي (په حكمي توګه ور سره متصل وي) كَمَا لَوْ دَفَعَ بِلَا نِيَّةٍ ثُمَّ نَوٰى وَالْمَالُ قَائِمٌ بِيَدِ الْفَقِيْرِ (د حكمي اتصال مثال) لكه كه (د زكاة مال) بېله نيته ور كړي (فقير ته) بيا نيت وكړي په داسي حال كي چي مال د فقير په لاس (قبضه) كي موجود وي.

لغات: ﴿مقارنة﴾ د مفاعلې له بابه د اسمِ فاعل مؤنث صيغه ده: متصل، جوخت. يو د بل سره يو ځای. ﴿وكيل﴾ د بل له طرفه قائم مقام او ذمه وار، جمع: وُكَلَاء. ﴿عزل﴾ د ضرب د باب مصدر دی: جلا كول. برطرفه كول.

تشريح: د عبارت حاصل دا دی چي د زكاة اداء كولو لپاره نيت كول شرط دي. كنې زكاة نه اداء كيږي، اوس پوښتنه دا ده چي د نيت وخت يې څه دی؟، نو فرمايي چي نيت دي يا فقير ته د زكاة وركولو په وخت كي وكړی سي چي زه زكاة وركوم، يا كله چي د زكاة وركولو لپاره يو څوک خپل وكيل جوړ كړي او هغه ته مال په لاس وركوي نو په دې وخت كي دي د زكاة نيت وكړي، بيا كه وكيل فقير ته د زكاة وركولو په وخت كي نيت نه وكړي، نو هم زكاة اداء كيږي: ځكه اصلاً د زكاة وركونكي نيت لره اعتبار دی، يا كله چي د زكاة مال له خپل مال څخه جلا كوي، په هغه وخت كي دي د زكاة نيت وكړي. يعني كله چي د ټوله مال حساب وكړي او د زكاة مقدار معلوم كړي، د هغه د جلا كولو په وخت كي دي دا نيت وكړي چي دا د زكاة مال دی، بيا كه فقير ته د زكاة وركولو په وخت كي د زكاة نيت وكړي او كه نه وكړي، په دواړو صورتونو كي زكاة اداء كيږي.

ولو مقارنة إلخ: يعني د زكاة اداء كولو په وخت كي كه د نيت اتصال حكمي وي (حكماً د اداء سره متصل وي). نو بيا هم زكاة اداء كيږي، مثلاً كه څوک يو فقير ته بغير له نيت څخه مال وركړي او بيا وروسته په زكاة كي د دې مال وركولو نيت وكړي (چي دا ما په زكاة كي وركړی). نو هغه مال كه د فقير په ملكيت كي موجود وو، نو نيت يې معتبر دی او زكاة اداء كيږي، دا د نيت د حكماً متصل كېدو مثال

دی، او که د زکاة تر نیت کولو مخکي فقیر هغه مال خرچ کړی وي. نو نیت یې نه صحیح کیږي او زکاة نه اداء کیږي۔ (شفاء الارواح)

❀ ❀ ❀

له مال ورکولو څخه بغیر د زکاة وکیل جوړول

مسئله(١): که څوک وبل چا ته د زکاة اداء کولو حکم وکړي او اوس مال نه ورکړي بلکي ورته وواییِ چي زما له طرفه زکاة اداء کړه! نو د هغه په اداء کولو سره هم زکاة اداء کیږي۔

مسئله (٢): که د زکاة اداء کولو وکیل د مالک له اجازې څخه بغیر بل څوک وکیل جوړ کړي. نو هم جائز دي۔ (انوار الایضاح)

د زکاة اخیستونکي خبرېدل شرط نه دي او د هبې یا قرض په وینا سره زکاة ورکول صحیح دي

﴿١١٨٦﴾ وَلَا يُشْتَرَطُ عِلْمُ الْفَقِيْرِ أَنَّهَا زَكوٰةٌ او شرط نه دي د فقیر خبرېدل (په دې) چي دا (مال د) زکاة دی عَلَى الْأَصَحِّ د صحیح ترین قول مطابق حَتّٰى لَوْ أَعْطَاهُ شَيْئًا وَسَمَّاهُ هِبَةً أَوْ قَرْضًا وَنَوٰى بِهِ الزَّكوٰةَ تر دې چي که فقیر ته یو شی ورکړي او هغه ته د هبې (تحفې) یا قرض نوم ورکړي او په هغه سره د زکاة نیت وکړي صَحَّتْ نو صحیح کیږي (زکاة اداء کیږي).

لغات: ﴿هبة﴾ په تحفه او هدیه کي ورکول، یو چا ته داسي شی ورکول کوم چي د هغه لپاره نفع مند وي، برابره ده مال وي او که غیر مال وي۔ (انوار الایضاح)

تشریح: مسئله دا ده چي د زکاة اخیستونکي کس په دې خبرېدل شرط نه دي چي دا زکاة دی (یعني د زکاة صحیح کېدو لپاره دا شرط نه دي چي زکاة اخیستونکی مستحق [فقیر وغیره] به په دې خبرول کیږي چي دا د زکاة مال دی)، بلکي فقط د زکاة ورکونکي نیت کافي دی، لهذا که څوک یو مستحق کس ته څه مال یا یو شی په قرض یا هبه ورکړي او په خپل زړه کي د زکاة نیت وکړي، نو زکاة یې اداء کیږي، همدا اصح قول دی. (شفاء الارواح)

که ټوله نصاب صدقه کړي، نو ضمناً زکاة هم اداء کیږي

﴿١١٨٧﴾ وَلَوْ تَصَدَّقَ بِجَمِيْعِ مَالِهٖ وَلَمْ يَنْوِ الزَّكوٰةَ او که چیري خپل ټوله مال صدقه کړي او د زکاة نیت نه وکړي سَقَطَ عَنْهُ فَرْضُهَا نو د زکاة فرض له هغه څخه ساقطیږي۔

تشریح: صورت د مسئلې دا دی چي که څوک د نصاب مالک سي، بیا هغه ټوله مال خیرات کړي خو د زکاة نیت نه پکښې وکړي. نو استحساناً د هغه له غاړي څخه زکاة ساقطیږي، یعني د قیاس

تقاضا خو همدا ده چي له نيت څخه بغير زكاة اداء نه سي، خو څرنګه چي اوس د ده سره هيڅ ماليت باقي پاته نه سو، نو ځکه د ده له ذمې څخه د دې نصاب د زكاة فريضه ساقطه سوه. (انوار الايضاح)

د قرض د زكاة بيان او تفصيل

﴿۱۱۸۸﴾ وَزَكوٰةُ الدَّيْنِ عَلٰى أَقْسَامٍ او د قرض (پور) زكاة پر درې قسمه دی فَإِنَّهٗ قَوِيٌّ وَوَسَطٌ وَضَعِيْفٌ ځکه (يو) قوي قرض دی او (دويم) متوسط قرض دی او (درېيم) ضعيف قرض دی فَالْقَوِيُّ وَهُوَبَدَلُ الْقَرْضِ وَمَالُ التِّجَارَةِ إِذَا قَبَضَهٗ وَكَانَ عَلٰى مُقِرٍّ نو قوي هغه قرض دی کوم چي د قرض يا د مالِ تجارت بدل (په بدله کي) وي کله چي پر دې قرض قبضه وکړي (ترلاسه يې کړي) او دا قرض پر اقرار کونکي کس وي (يعني مقروض د هغه اقرار کونکی وي) وَلَوْ مُفَلَّسًا که څه هم هغه زيات غريب وي أَوْعَلٰى جَاحِدٍ عَلَيْهِ بَيِّنَةٌ يا دا قرض پر انکار کونکي کس وي چي پر هغه (د قرض ورکونکي سره) ګواهان موجود وي زَكَاةُ لِمَا مَضٰى نو د دې زكاة به ورکوي د تېر سوي وخت (يعني د داسي قرض د تېر وخت زكاة به هم ورکوي) وَيَتَرَاخٰى وُجُوْبُ الْأَدَاءِ إِلٰى أَنْ يَّقْبِضَ أَرْبَعِيْنَ دِرْهَمًا او (د زكاة) اداء کولو وجوب ځنډېږي (مؤخر کېږي) تر دې چي څلوېښت درهمه ترلاسه کړي فَفِيْهَا دِرْهَمٌ نو په څلوېښتو درهمو کي يو درهم دی لِأَنَّ مَا دُوْنَ الْخُمْسِ مِنَ النِّصَابِ عَفْوٌ لَازَكوٰةَ فِيْهِ ځکه د نصاب تر پنځمي حصې کمه حصه (يعني تر څلوېښتو کمه) معاف ده وَكَذَا فِيْمَا زَادَ بِحِسَابِهٖ او همدارنګه (تر څلوېښتو درهمو) په زيات (مال) کي د هماغه په حساب سره دي (مثلاً که اتيا درهمه وي، نو په هغه کي دوه درهمه دي).

لغات: ﴿قرض﴾ پور، جمع: قُرُوْض، ﴿مفلّس﴾ د تفعيل له بابه د اسم مفعول صيغه ده: هغه کس چي په هغه کي د قرض اداء کولو طاقت نه وي، ډېر غريب، اصلاً هغه کس ته وايي چي قاضي هغه مفلس ګرځولی وي (يعني دا فيصله او اعلان يې کړی وي چي دا کس مفلس او دېوالي دی، لهذا د قرض مالک دي اوس کار نه په لري). ﴿جاحد﴾ د فتح له بابه فاعل دی: انکار کونکی، جَحَدَ يَجْحَدُ جَحْدًا او جُحُوْدًا: انکار کول (د علم بلوجود انکار کول)؛ ﴿خُمُس﴾ پنځمه حصه، جمع: أخماس، د سپينو زرو

نصاب دوه سوه درهمه دی، نو پنځمه حصه يې څلويښت درهمه کيږي (ځکه دوه سوه چې پنځه حصې کړل سي، نو هره حصه يې څلويښت کيږي).

تشريح: صورت د مسئلې دا دی چي که ديو سړي پر بل چا قرض (پور) باندي وي، نو په هغه قرض کي زکاة کيږي، که نه؟، د دې جواب دا دی چي قرض پر درې قسمه دی: ① قوي. ② متوسط. ③ضعيف، په دې عبارت کي د قوي قرض د زکاة بيان دی، تفصيل يې دا دی چي که يو سړي وبل چا ته قرض ورکړی وي او د قرض د ترلاسه کېدلو اُميد يې وي، مثلاً قرض اخيستونکی (پور وړی) د قرض اقرار کوي خو فی الحاله د هغه سره پيسې نه وي، يا قرض اخيستونکی له قرض څخه انکار کوي او د مالک سره شرعي ثبوت وي (دا د قوي قرض څو صورتونه دي)، نو د داسي قرض زکاة د قرض له اخيستلو (ترلاسه کولو) څخه مخکي اداء کول لازم نه دي، بلکي هر وخت چي له مقروض (پور وړي) څخه قرض ترلاسه کړي، نو بيا يې زکاة لازميږي او څومره چي يې ځني ترلاسه کړی وي، صرف د هغه حصې زکاة لازميږي او د تېرو کلونو زکاة يې هم لازميږي، همدا د تجارتي قرض حکم دی، يعني که په قرض يې سامان خرڅ کړی وي او د هغه د پيسو ترلاسه کېدلو اُميد وي، نو د داسي قرض له اخيستلو (ترلاسه کولو) څخه وروسته د دې قرض د تېرو کلونو زکاة هم لازميږي لکه څرنګه چي نن سبا عموماً د تجارت او کاروبار همدغه طريقه رواج ده، (لهذا که څوک خپل قرض مثلاً درې کاله وروسته ترلاسه کړي، يا کوم مال چي يې خرڅ کړی وي د هغه قيمت [يعني تجارتي قرض] درې کاله وروسته ترلاسه کړي، نو د تېرو دريو کلونو زکاة اداء کول واجبيږي).

تر دې وروسته مصنف رَحِمَهُ الله دا مسئله په يو مثال سره واضحه کړې ده، مثلاً که څوک د قرض څلويښت درهمه ترلاسه کړي، نو د هغه څلويښتمه حصه يعني يو درهم دي په زکاة کي ورکړي، بيا چي کله نور څلويښت درهمه ترلاسه کړي، نو يو درهم دي بيا په زکاة کي ورکړي، بيا وروسته په هرو څلويښتو درهمو کي يو درهم واجبيږي، لهذا په ۱۲۰ شلو کي درې درهمه. په ۱۶۰ کي څلور درهمه، په ۲۰۰ درهمو کي پنځه درهمه لازميږي او په دوه سوه څلويښت ۲۴۰ درهمو کي شپږ درهمه لازميږي وَهَلُمَّ جَرًّا، او پاته سو تر څلويښتو په کمه کي زکاة نسته، ځکه د نصاب تر پنځمي حصې کم (يعني تر څلويښتو کم) معاف دی، لهذا که تر څلويښت درهمه کم ترلاسه کړي. نو په هغه کي زکاة نه واجبيږي.

او د تېرو کلونو د زکاة اداء کولو طريقه علامه شامي رَحِمَهُ الله په يو مثال سره واضحه کړې ده او هغه دا چي که يو سړی مثلاً خالد وبل چا مثلاً زيد ته درې سوه درهمه په قرض ورکړي او بيا پر هغوی درې کاله تېر سي او درې کاله وروسته د قرض مالک (خالد) دوه سوه درهمه ۲۰۰ ځني ترلاسه کړي، نو اوس د اول کال زکاة پنځه درهمه لازميږي (ځکه په دوه سوه درهمو کي پنځه درهمه لازميږي) او د دويم او درېيم کال زکاة څلور، څلور درهمه لازميږي (ځکه کله چي له ۲۰۰ څخه پنځه درهمه

ويستل سوه. ۲۰۰ څخه څه کم سوه چي په هغه کي څلور درهمه زکاة دی، ځکه له ۱۶۰ څخه بيا تر ۱۹۹ پوري څلور درهمه پکښي لازميږي او په ۲۰۰ کي بيا تر ۲۳۹ پوري پنځمه درهمه...). (انوار الايضاح. شفاء الارواح)

﴿۱۱۸۹﴾ وَالْوَسْطُ وَهُوَبَدَلُ مَالَيْسَ لِلتِّجَارَةِ او متوسط قرض او دا دهغه شي بدل دی کوم چي د تجارت لپاره نه وي (يعني کوم مال چي د داسي شي په بدله کي وي چي هغه شی د تجارت او کاروبار لپاره نه وی. نو داسي مال ته متوسط قرض وايي) كَثَمَنِ ثِيَابِ الْبِذْلَةِ وَعَبْدِ الْخِدْمَةِ وَدَارِ السُّكْنٰى لکه قيمت د استعمالي (کاروالا) جامو او (قيمت) د خدمت والا غلام او (قيمت) د استوګني د کور لَا تَجِبُ الزَّكٰوةُ فِيْهِ مَالَمْ يَقْبِضْ نِصَابًا په دې قرض کي زکاة نه واجبيږي تر څو چي يو نصاب (د نصاب په اندازه) ترلاسه نه کړي وَيُعْتَبَرُلِمَا مَضٰى مِنَ الْحَوْلِ مِنْ وَقْتِ لُزُوْمِهٖ لِذِمَّةِ الْمُشْتَرِیْ او اعتبار به کول کيږي د کال د تيري سوي حصې د قرض د لازميدلو له وخت څخه د مشتري پر ذمه (يعني له کوم وخته څخه چي مشتري دغه استعمالي جامې يا د خدمت غلام او داسي نور رانيولي دي او ده پر ذمه د دوی قيمت لازم سوی دی، له هغه وخت څخه به کال شمېرل کيږي. يا په بله وينا دا چي له هغه وخت څخه به تېر سوی کال يا د کال تېره سوې حصه په حساب کي راوستل کيږي يعني په هغه کي هم زکاة واجبيږي) فِیْ صَحِيْحِ الرِّوَايَةِ په صحيح روايت کي.

لغات: ﴿ثياب البذلة﴾ د کار کالي کوم چي سړی د کار او خدمت په وخت کي اغوندي، ﴿السكنٰى﴾ استوګنه، اوسېدنه.

تشريح: په دې عبارت کي د متوسط قرض د زکاة بيان دی او دا هغه قرض دی چي د داسي مال په عوض کي واجب سوی وي کوم چي د تجارت لپاره نه وي او نه يې نغد مال (روپۍ) په قرض ورکړي وي. يا په بله وينا داسي شی يې خرڅ کړی وي کوم چي د تجارت لپاره نه وي مثلاً زيد د استعمال (اغوستلو) کالي يا د خدمت غلام يا د اوسېدلو کور پر خالد خرڅ کړی وي او د هغه قيمت پر خالد پاته سي، دا قرض وسط دی، نو که هغه پاته قيمت د نصاب (د سپينو زرو د نصاب) په اندازه وي يا تر هغه زيات وي او مثلاً يو کال وروسته يې ځني واخلي (ترلاسه يې کړي)، نو تر اخيستلو وروسته به د تېر کال زکاة اداء کول کيږي، او د کال شروع به د خرڅولو له وخت څخه لګول کيږي يعني کله چي يې دا شيان پر خالد (مشتري) خرڅ کړي وه او د خالد پر ذمه قيمت لازم سوی وو، له هغه وخت څخه به حساب لګول کيږي، مثلاً کله چي خالد پر زيد شيان خرڅ کړه، نو له هغه وخت

څخه يو نيم کال وروسته يې له زيد څخه قيمت (پيسې) ترلاسه کړې، نو د قيمت ترلاسه کولو وروسته به خالد د تېر کال زکاة اداء کوي او بيا به شپږ مياشتي وروسته د راروان کال زکاة اداء کوي.

همدارنګه که څو کاله وروسته يې ځني واخلي، نو تر اخيستلو وروسته د تيرو ټولو کلونو زکاة پر هغه لازميږي، او که ټوله قرض په يوه وار نه ځني واخلي، بلکي په لږ، لږ سره يې ځني واخلي، نو تر څو چي د نصاب په اندازه ترلاسه نه کړي، تر هغه وخته زکاة نه پکښي لازميږي، ليکن دا حکم هلته دی کله چي د قرض له مال څخه بغير د ده سره بل مال نه وي، لهذا که د قرض له مال څخه بغير بل مال د نصاب په اندازه ور سره موجود وي، نو اوس په قرض کي اخيستل سوی (ترلاسه سوی) مال به د هغه سره يو ځای کول کيږي او کله چي د هغه اول مال نصاب پوره سي، نو د ټولو زکاة به يو ځای ور کول کيږي (لکه په مالِ مستفاد کي چي د دې وضاحت تېر سو).

في صحيح الرواية: د متوسط قرض (دينِ وسط) په باره کي دوه روايتونه دي: ① يو دا چي په متوسط قرض کي هغه وخت زکاة لازميږي کله چي يې د نصاب په اندازه ترلاسه کړي او مخکي يو کال بلندي تېر سوی وي يعني تر اخيستلو (ترلاسه کولو) وروسته جلا کال باندي تېرېدل شرط نه دي لکه په تشريح کي چي د دې وضاحت وسو (چي د مثال په توګه مو ږ ديو نيم کال مثال پېش کړی)، همدا صحيح رواويت دی، ② دوېم روايت دا دی چي کله دا قرض (دينِ وسط) د نصاب په اندازه ترلاسه کړي او پر هغه يو کال بل تېر سي، نو بيا زکاة لازميږي، يعني تر اخيستلو وروسته پر هغه له نوي سره جلا کال تېرېدل ضروري دي. (شفاء الارواح، انوار الايضاح)

﴿۱۱۹۰﴾ وَالضَّعِيْفُ وَهُوَبَدَلُ مَالَيْسَ بِمَالٍ او ضعيف قرض او هغه د داسي شي بدل دی کوم چي مال نه وي (يعني چي د داسي شي په بدله کي وي چي هغه شی مال نه وي) كَالْمَهْرِ لکه مهر (ځکه مهر د مال په بدله کي نه دی، بلکي د ښځي ادبضع ا په بدله کي دی) وَالْوَصِيَّةِ وَبَدَلِ الْخُلْعِ او (لکه) وصيت او بدلِ خلع (دا هم د مال په بدله کي نه دي، د ټولو وضاحت به په تشريح کي وسي) وَالصُّلْحِ عَنْ دَمِ الْعَمَدِ وَالدِّيَةِ او (لکه) د قتلِ عمد په بدله کي د صلح مال او ديت وَبَدَلِ الْكِتَابَةِ وَالسِّعَايَةِ او (لکه) بدلِ کتابت او بدلِ سعايه لَاتَجِبُ فِيْهِ الزَّكٰوةُ مَالَمْ يَقْبِضْ نِصَابًا وَيَحُوْلُ عَلَيْهِ الْحَوْلُ بَعْدَ الْقَبْضِ په دې قرض کي زکاة نه واجبيږي تر څو چي يو نصاب (د نصاب په اندازه) ترلاسه نه کړي او د ترلاسه کولو څخه وروسته پر هغه يو کال تېر سي.

﴿۱۱۹۱﴾ وَهٰذَا عِنْدَ الْإِمَامِ او دا (پورتنی تفصیل) دامام صاحب رَحِمَهُ الله په نیز دی وَأَوْجَبَا عَنِ الْمَقْبُوْضِ مِنَ الدُّيُوْنِ الثَّلَاثَةِ بِحِسَابِهِ مُطْلَقًا او صاحبینو رَحِمَهُمَا الله واجب کړی دی (زکاة) د درېو سره قرضونو د ترلاسه کړل سوي (اخیستل سوي) حصې څخه د هغه په حساب سره مطلقاً (یعني صاحبینو په درېو سره قرضونو اقوي، متوسط او ضعیف ا کي مطلقاً د هغه په حساب سره زکاة واجب کړی دی، یعني برابره ده قرض قوي وي او که اوسط یا ضعیف وي، څومره، څومره چي ترلاسه کول کیږي ا اخیستل کیږي ا د هغه زکاة واجبیږي، برابره ده له څلوېښتو درهمو څخه کم ترلاسه کړي یا زیات...).

لغات: ﴿مهر﴾ ولور، هغه روپۍ وغیره کوم چي د مسلمانانو د نکاح په وخت کي د خاوند پر ذمه د ښځي لپاره مقررول کیږي، جمع: مُهُوْرٌ و مُهُوْرَةٌ، ﴿دیة﴾ خون بها، هغه مالي بدل چي قاتل یې د مقتول وارثانو ته ورکوي. که یو سړی په خطاء سره یو څوک قتل کړي چي دې ته "قتلِ خطاء" وایي، نو په دې قتل کي د مقتول دیت سل اوښان دي، هغه پر ټوله عاقله وو لازمیږي او پر ټولو به تقسیمول کیږي او په درې کاله کي دننه به د مقتول وارثانو ته ورکول کیږي، ﴿سعایة﴾ د فتح د باب مصدر دی: سعی او کوشش کول، خواري کښل، یعني کسب او مزدوري کول او د ځان آزادولو لپاره مال ګټل (یا په بله وینا دومره مال ګټل چي د غلام پاته حصه په آزاده کړل سي).

تشریح: په دې عبارت کي د قرضِ ضعیف د زکاة بیان دی، قرضِ ضعیف هغه قرض دی کوم چي د یو مال په بدله کي نه وي واجب سوی، یعني نه یې نغد مال (روپۍ) چا ته په قرض ورکړي وي او نه یې یو شی (په قرض) خرڅ کړی وي، بلکي په یو بل سبب سره واجب سوی وي، مصنف رَحِمَهُ الله د دې قرض څو مثالونه بیان کړي دي، مثلاً: ① د ښځي مهر د خاوند پر ذمه پاته وي او پر هغه یو کال تېر سوی وي، (مهر د ښځي د بُضع اعضو خاص ا په بدله کي دی، د مال په بدله کي نه دی)، ② یا یو چا وصیت کړی وي چي تاسي زما له مال څخه مثلاً شل زره روپۍ خالد ته ورکړئ!، خو وارثانو له ډېره وخته (مثلاً له یوه کال) څخه هغه د وصیت مال (شل زره) خالد ته نه وي ورکړي، (وصیت هم د مال په بدله کي نه دی، بلکي د مال وعده ده)، ③ یا د خاوند بدلِ خلع د ښځي پر ذمه پاته وي، مثلاً ښځي پر دې شرط له خاوند څخه طلاق اخیستی وي چي هغه به و خاوند ته شل زره روپۍ ورکوي، لیکن ښځي له ډېره وخته څخه دا بدلِ خلع (شل زره) خاوند ته نه وي ورکړي، (بدلِ خلع هم د ښځي د بضع اعضو خاص ا په بدله کي دی، نه د مال)، ④ یا هغه مال کوم چي د قتلِ عمد په صلح کي حاصل سوی وي، هغه تر اوسه له قاتل څخه نه وي اخیستل سوی (قبضه کړی سوی)، چي د هغه صورت دا دی چي زید مثلاً حامد قتل کړی، بیا زید د حامد د اولیاؤ (مشرانو) سره په شل زره باندي صلح وکړه، لیکن دا بدلِ صلح (شل زره) له ډېره وخته څخه د زید (قاتل) سره وي او د حامد (مقتول) ولیانو ته یې نه وي ورکړی، (بدلِ صلح د ځان انفس ا په بدله

کي دی، نه د مال)، ⑤ یا په دیت کي حاصل سوی مال تر اوسه نه وي اخیستل سوی، مثلاً زید په خطاء سره حامد قتل کړی وي او قاتل (زید) له ډېره وخته څخه دیت نه وي ورکړی، (دیت هم د ځان انفس ا په بدله کي دی، نه د مال)، ⑥ یا بدلِ کتابت د غلام سره پاته وي، مثلاً مالک (بادار) غلام ته ویلي وي چي کله ته شل زره وګټې او ما ته یې راکړې، نو ته آزاد یې!، اوس دا بدلِ کتابت (شل زره) تر ډېره وخته پوري غلام نه وي ورکړي، (بدل کتابت هم د غلام د ځان انفس ا په بدله کي دی، نه د مال)، ⑦ یا د سعایه (سعی کولو) بدلِ د غلام سره پاته وي، د دې صورت دا دی چي که یو غلام د دوو کسانو تر مینځ مشترک وي او یوه شریک خپله حصه آزاده کړي، نو غلام به د دې بل شریک لپاره کوشش (سعی) او ګټه کوي چي کله د هغه د حصې قیمت ورکړي نو بیا پوره آزادیږي (دغه کوشش او ګټه کولو ته سعایه وایي او څومره مال او روپۍ چي وګټي، هغه ته بدلِ سعایه وایي)، نو اوس که دا د کوشش (سعایه) بدل تر ډېره وخته پوري (مثلاً یو کال) د غلام سره پاته وي، تر دې وروسته مالک (دویم شریک) هغه ځني ترلاسه کړي (قبضه بانډي وکړي)، (بدلِ سعایه هم د غلام د نفس په بدله کي دی، نه د مال)، دا ټوله ضعیف قرضونه دي.

نو په دغه ټولو صورتونو کي د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نېز تر هغه وخته پوري زکاة نه لازمیږي، تر څو چي هغه له دې مالونو څخه د نصاب پر اندازه قبضه نه کړي (ترلاسه نه کړي) او بیا له قبضې (ترلاسه کولو) څخه وروسته یو کال باندي تېر نه سي، لهذا کله چي د نصاب په اندازه د مال له قبضه کولو څخه وروسته یو کال باندي تېر سي، نو بیا زکاة پکښي واجبیږي. دا حکم هم هغه وخت دی کله چي د هغه سره له قرض څخه بغیر بل مال نه وي، لېکن که له مخکي څخه د نصاب په اندازه نور مال موجود وي، نو دا قبضه کړل سوی (ترلاسه کړی) مال چي هر څومره وي، هغه به د اول مال سره یو ځای کول کیږي او کله چي د اول مال کال پوره سي، نو د دواړو زکاة به اداء کول کیږي، او د صاحبینو رَحِمَهُمَا الله په نېز ټوله قرضونه سره برابر دي، چي د دوی د زکاة اداء کول تر قبضې (ترلاسه کولو) وروسته لازمیږي، یعني څومره قدر چي قبضه کوي (ترلاسه کوي)، برابره ده لږ وي او که ډېر وي، د هغه زکاة به اداء کوي، مثلاً کله چي شل درهمه ترلاسه کړي، نو نیم درهم زکاة به اداء کوي، خو دیت، بدلِ کتابت او بدلِ سعایه دا درې سره د صاحبینو رَحِمَهُمَا الله په نېز هم له دې حکم څخه مستثنیٰ دي یعني د صاحبینو رَحِمَهُمَا الله په نېز هم په دغه درېو سره مالونو کي هغه وخت زکاة واجبیږي، کله چي دوی د نصاب په اندازه ترلاسه کړل سي (قبضه بانډي وسي) او بیا یو کال باندي تېر سي. (شفاء الارواح)

د کوم مال د ترلاسه کېدلو چي هیڅ امید نه وي، په هغه کي زکاة نسته

﴿ ۱۱۹۲ ﴾ وَإِذَا قَبَضَ مَالَ الضِّمَارِ او کله چي مالِ ضمار (غائب سوی مال) ترلاسه کړي لَاتَجِبُ زَكٰوةُ السِّنِيْنَ الْمَاضِيَةِ نو د تېرو کلونو زکاة نه (پکښي) واجبېږي وَهُوَكَاٰبِقٍ وَمَفْقُوْدٍ او هغه (مالِ ضمار) لکه تښتېدلی غلام او (لکه) ورک سوی مال وَ مَغْصُوْبٍ لَيْسَ عَلَيْهِ بَيِّنَةٌ او (لکه) غصب کړی سوی مال چي پر هغه هیڅ ګواه (شاهد) نه وي وَمَالٍ سَاقِطٍ فِي الْبَحْرِ او (لکه) په دریاب کي لوېدلی مال وَ مَدْفُوْنٍ فِيْ مَفَازَةٍ أَوْ دَارٍ عَظِيْمَةٍ وَقَدْ نَسِيَ مَكَانَهُ او (لکه) په دښت یا لوی سرای کي ښخ کړم سوی مال چي د هغه ځای ځني هېر سوی وي وَ مَأْخُوْذٍ مُصَادَرَةً او (لکه) د تاوان (او سزا) په توګه اخیستل سوی مال (یا په ظلم او غلبه سره اخیستل سوی مال) وَ مُوْدَعٍ عِنْدَ مَنْ لَا يَعْرِفُهُ او (لکه) هغه مال کوم چي په امانت ایښوول سوی وي دا سي چا ته چي دئ یې نه پېژني وَ دَيْنٍ لَا بَيِّنَةَ عَلَيْهِ او (لکه) هغه قرض چي پر هغه هیڅ ګواه نه وي.

لغات: ﴿مال الضمار﴾ د ضمار لغوي معنیٰ ده: غائبول، پټول او په اصطلاح کي "مال ضمار" د انسان هغه مال ته وایي کوم چي غائب وي او د هغه د پیدا کېدلو او ترلاسه کېدلو هیڅ اُمید نه وي، یا په بله وینا چي د هغه ترلاسه کول ناممکن وي، او د کوم مال د پیدا کېدلو اُمید چي وي، نو هغه ته مالِ ضمار نه ویل کیږي.
﴿آبق﴾ د واحد مذکّر اسم فاعل صیغه ده، له سمع، نصر او ضرب ټولو بابونو څخه راځي: تښتېدلی غلام. تښتېدونکی غلام، کوم چي د خپل شرارت په وجه یعني بغیر له څه ظلم و زیاتوب څخه تښتي، او که د مالک (بادار) د ظلم و زیاتوب په وجه تښتي، نو هغه ته هَارِب ویل کیږي، ﴿مفقود﴾ د ضرب له بابه د اسم مفعول صیغه ده: ورک سوی (نادرکه)، غائب سوی، ﴿مغصوب﴾ دا هم د ضرب له بابه اسم مفعول دی: په زوره (جبرًا) اخیستل سوی شی وغیره، ﴿مفازة﴾ دښت، بیابان، جمع: مَفَاوِز، ﴿مُصادرة﴾ د مفاعلې د باب مصدر دی: ضبطول، د تاوان او سزا په توګه ځني اخیستل، په تېنګار سره مطالبه کول، ﴿مودَع﴾ (بفتح الدال): هغه کس چي امانت ورته ایښوول سوی وي، یا په بله وینا چي یو شی او مال امانتًا ورکول سوی وي.

تشریح: د مال ضمار تعریف په لغاتو کي ذکر سو چي د انسان هغه مال چي د هغه د پیدا کېدلو او ترلاسه کېدلو اُمید نه وي.

مسئله دا ده چې په مالِ ضمار کې زکاة نه واجبېږي، مصنف رَحِمَهُ الله د مالِ ضمار څو صورتونه بیان کړي دي.

كآبق: مثلاً د تجارت غلام دی او هغه وتښتېدی، بیا له کال تېرېدو څخه وروسته پیدا سو. یا څو کاله وروسته پیدا سو، نو په دې غلام کې د تېر کال یا د تېرو کلونو زکاة نه واجبېږي.

ومفقود: یعني که دیو چا مال ورک (نادرکه) سي، نو هغه هم مالِ ضمار دی، لهذا که څو کاله وروسته پیدا سي، نو په هغه کې هم د تېرو کلونو زکاة نه واجبېږي.

ومغصوب: یعني کوم مال چې غصب کړل سوی وي او د مالک سره د غاصب په خلاف ګواهان نه وي، نو هغه هم مالِ ضمار دی، بیا که څو کاله وروسته مالک هغه مال له غاصب څخه واپس واخلي، نو په هغه کې هم د تېرو کلونو زکاة نه واجبېږي.

ومال ساقط: کوم مال چې په سمندر او دریاب کې لوېدلی وي، هغه هم مالِ ضمار دی، لهذا که هغه څو کاله وروسته پیدا سي او را ویستل سي، نو د تېرو کلونو زکاة نه پکښې واجبېږي.

ومدفون: هغه مال کوم چې په دښت او بیابان کې یا په یو لوی سرای کې ښخ کړل سوی وي او ځای یې هېر وي، نو هغه هم مالِ ضمار دی، لهذا که هغه څو کاله وروسته ور په یاد سي، نو د تېرو کلونو زکاة پکښې واجب نه دی.

ومأخوذ: هغه مال کوم چې باچا یا یو بل چا د تاوان او سزا په توګه اخیستی وي، یا یو ظالم په ظلم (په زوره) اخیستی وي، هغه هم مالِ ضمار دی او زکاة پکښې واجب نه دی.

ومودع: هغه مال کوم چې نامعلومه (پردي) کس ته امانتاً ایښوول سوي وي، بیا یې هغه هېر سي، نو دا هم مالِ ضمار دی او زکاة پکښې واجب نه دی.

ودین: همدارنګه هغه قرض چې مقروض (پوروړی) انکار ځنې کړی وي او د قرض د مالک سره ګواهان نه وي، نو دا هم مالِ ضمار دی، لهذا که دا مال څو کاله وروسته د قرض مالک ته را پس ورکول سي، نو په هغه کې د تېرو کلونو زکاة نسته. (شفاء الارواح)

د قرض په معاف کولو سره زکاة نه اداء کیږي

﴿ ۱۱۹۳ ﴾ وَلَایُجْزِئُ عَنِ الزَّکٰوةِ دَیْنٌ أُبْرِئَ عَنْهُ فَقِیْرٌ بِنِیَّتِهَا او نه کافي کیږي د زکاة له طرفه هغه قرض چي فقیر (مقروض) د زکاة په نیت له هغه څخه بری کړی سي (یعني چي د زکاة په نیت فقیر مقروض ته ور وبخښل سي).

لغات: ﴿دَیـن﴾ قرض کوم چي د متعیّن مودت (معلوم وخت) لپاره ور کول سوی وي، او د کوم قرض (پور) لپاره چي متعیّن مودت نه وي، هغه ته په عربي کي قرض ویل کیږي، نه دَین.

﴿أُبرئ﴾ د افعال له بابه د واحد مذکر غائب ماضي مجهولي صیغه ده. مصدر: إبراءٌ: بري کول. حق ور معاف کول (ور بخښل).

تشریح: صورت د مسئلې دا دی چي که یو څوک و فقیر ته مثلاً سل روپۍ په قرض ور کړي. بیا دا فقیر له قرض اداء کولو څخه عاجزه سي، نو هغه کس خپل قرض د زکاة په نیت سره ودې فقیر ته ور معاف کړي، نو زکاة نه اداء کیږي، د دې صحیح طریقه دا ده چي فقیر ته د زکاة په نیت سره سل روپۍ ور کړي او ور ته ووایي چي اوس زما قرض را اداء کړه!.

د سرو زرو او سپینو زرو په زکاة کي بل شی ور کول

﴿ ۱۱۹۴ ﴾ وَصَحَّ دَفْعُ عَرْضٍ وَمَکِیْلٍ وَمَوْزُوْنٍ عَنْ زَکٰوةِ النَّقْدَیْنِ بِالْقِیْمَةِ او صحیح دي ور کول د یو سامان یا (ور کول) د یو پیمانه کېدونکي یا تول کېدونکي شي د سرو زرو او سپینو زرو د زکاة له طرفه د قیمت په حساب سره.

﴿ ۱۱۹۵ ﴾ وَإِنْ أَدّٰی مِنْ عَیْنِ النَّقْدَیْنِ او که (زکاة) اداء کړي له خاص سرو زرو او سپینو زرو څخه (یعني د سرو زرو په زکاة کي سره زر ور کوي او د سپینو زرو په زکاة کي سپین زر ور کوي) فَالْمُعْتَبَرُ وَزْنُهُمَا أَدَاءً نو معتبر په دې دواړو کي وزن (تول) دی په اداء کېدلو کي (یعني معتبر دا ده چي د وزن په اعتبار سره یې زکاة اداء کړل سي) کَمَا اعْتُبِرَ وُجُوْبًا لکه څرنګه چي (د زکاة) په واجبېدلو کي د وزن اعتبار سوی دی.

لغات: ﴿عرض﴾ سامان، جمع: عُرُوْض، ﴿مکیل﴾ کیلي شی، پیمانه کېدونکی شی (هغه شے چي په معلوم لوښي / پیمانه / سره خرڅول کیږي)، ﴿موزون﴾ وزن کېدونکی شی (تلل کېدونکی شی، کوم چي په وزن او تول سره خرڅول کیږي)، ﴿نقدین﴾ دوه نغد مالونه، مراد څني سره زر او سپین زر دي (کما ذکرنا).

تشریح: صورت د مسئلې دا دی چې که مثلاً د زید سره سپین زر او سره زر وي چې په هغه کې زکاة واجب وي او زید وغواړي چې زکاة د بل جنس په شي سره اداء کړي، مثلاً د موجوده سرو زرو یا سپینو زرو زکاة د قیمت په حساب سره پنځه سوه روپۍ کیږي او زید وغواړي چې د دغومره قیمت لوښي یا کالي یا مکیلي یا یو موزني شی (مثلاً غنم، وریجې یا اوسپنه او داسې نور) په بازار کې رانیسي او په زکاة کې یې ورکړي، نو دا صحیح او جائز دي.

وإن أدّی من عین إلخ: د دې حاصل دا دی چې که د سرو زرو په زکاة کې همداغه سره زر ورکول غواړي، یا د سپینو زرو په زکاة کې سپین زر ورکول غواړي، نو څرنګه چې د سرو زرو او سپینو زرو د زکاة په واجبېدلو کې د وزن اعتبار سوی دی (چې مثلاً شل مثقاله، یا اُووه نیمې تولې سره زر به وي)، نو همداسې د زکاة په اداء کولو کې به د وزن اعتبار کول کیږي، لهذا که سره زر وي، نو څومره سره زر چې ور سره وي، د هغوی څلویښتمه حصه به په زکاة کې ورکوي، او که سپین زر وي، نو د هغوی څلویښتمه حصه به په زکاة کې ورکوي (مثلا که شل مثقاله سره زر ور سره وي اکوم چې د سرو زرو نصاب هم دی انو د هغه څلویښتمه حصه نیم مثقال دی، چې هغه به په زکاة کې ورکوي...).

❀ ❀ ❀

مسئله: په سرو زرو او سپینو زرو کې زکاة اصلاً د وزن په اعتبار سره واجبیږي مثلاً په ۴۰ ګرامه سرو زرو کې یو ګرام سره زر واجبیږي، اوس که څوک د روپیو په ذریعه هغه اداء کوي (لکه عموماً چې همداسې کیږي)، نو څومره وزن سره زر چې په زکاة کې واجب سوي وي. د هغه بازاري نرخ به په زکاة کې ایستل کیږي.

که د چا سره تجارتي سامان، سره زره یا سپین زر وي او دواړه له نصاب څخه کم وي؟

> ﴿۱۱۹۶﴾ وَ تُضَمُّ قِيْمَةُ الْعُرُوْضِ إِلَى الثَّمَنَيْنِ او یو ځای کول کیږي به د سامانونو قیمت د سرو زرو او سپینو زرو سره وَالذَّهَبِ إِلَى الْفِضَّةِ قِيْمَةً او (یو ځای کول کیږي به قیمت) د سرو زرو د سپینو زرو سره د قیمت په اعتبار سره.

تشریح: په دې عبارت کې دوې مسئلې بیان سوي دي: ① که دیو چا سره تجارتي سامان وي کوم چې د نصاب په اندازه نه وي (یعني د سپینو زرو نصاب ته نه رسیږي)، خو څه سره زر یا سپین زر هم ور سره وي او دومره وي چې که هغه او د سامان قیمت سره یو ځای کړل سي، نصاب ته رسیږي، نو زکاة پکښې واجبیږي، مثلاً د تجارتي سامان قیمت یې لس زره دی او د ده سره یوه توله سپین زره هم سته، نو څرنګه چې د ټولو قیمت د زکاة نصاب (یعني د سپینو زرو نصاب) ته رسیږي، نو ځکه زکاة پکښې واجبیږي. (یا په بله وینا چې مثلاً دیو چا سره دوویشت [۲۲] تولې سپین زر دي، او بل تجارتي سامان هم ور سره دی چې د هغه قیمت د سپینو زرو په حساب سره دیرش نیمې [۳۰.۵] تولې کیږي، نو څرنګه چې دا دواړه دو

پنځوس نیمي (۵۲.۵) تولې سپین زر کیږي، نو ځکه زکاة پکښې واجبیږي. ځکه د سپینو زرو نصاب دو پنځوس نیمي تولې دی).

والذهب إلی الفضة: یعني که د چا سره نه د سپینو زرو نصاب پوره کیږي او نه د سرو زرو نصاب ورسره پوره کیږي، بلکې دا هریو تر نصاب کم ورسره وي، خو دواړه چې سره یو ځای کړل سي نو یو نصاب کیږي یا تر نصاب زیاتیږي، نو زکاة پکښې واجبیږي، مثلاً نن سبا د سرو زرو او سپینو زرو په قیمت کې ډېر فرق دی، نو که دیو چا سره مثلاً یو نیمه توله سره زر او پنځه تولې سپین زر وي او د دواړو قیمت چې اندازه کړل سی، نو د سپینو زرو په اعتبار سره نصاب ته رسیږي (یعني دو پنځوس نیمي تولې کیږي)، نو زکاة پکښې واجبیږي. (انوار الایضاح، شفاء الارواح)

که د کال په منځ کې نصاب کم سي؟

﴿۱۱۹۷﴾ وَنُقْصَانُ النِّصَابِ فِي الْحَوْلِ لَا يَضُرُّ او د نصاب کمبدل په (منځ د) کال کې ضرر نه کوي اِنْ كَمُلَ فِيْ طَرَفَيْهِ (په دې شرط) که د کال په دواړو طرفونو (اول او آخر) کې نصاب کامل وي.

لغات: ﴿حَوْل﴾ کال، جمع: أَحْوَال. ﴿كَمُل﴾ د كرُم له بابه ماضي معلومه ده: کامل کېدل. پوره کېدل.

تشریح: مسئله دا ده چې که د کال په شروع او د کال په آخر کې نصاب پوره وي، خو د کال په منځ کې د هغه مقدار کم سوی وي، نو بیا هم د ټوله (پوره) نصاب زکاة واجبیږي.

﴿۱۱۹۸﴾ فَإِنْ تَمَلَّكَ عَرْضًا بِنِيَّةِ التِّجَارَةِ بیا که څوک دیو سامان مالک سي د تجارت په نیت سره وَهُوَ لَا يُسَاوِيْ نِصَابًا او هغه سامان د نصاب برابر نه وي وَلَيْسَ لَهٗ غَيْرُهٗ او له هغه سامان څخه بغیر د ده سره بل مال نه وي ثُمَّ بَلَغَتْ قِيْمَتُهٗ نِصَابًا فِيْ آخِرِ الْحَوْلِ بیا د هغه قیمت د کال په آخر کې نصاب ته ورسیږي لَا تَجِبُ زَكٰوتُهٗ لِذٰلِكَ الْحَوْلِ نو زکاة یې نه واجبیږي د هغه کال.

لغات: ﴿تملّك﴾ د تفعّل د باب ماضي معلومه ده. تملّكًا: مالک کېدل. مالک جوړېدل. ﴿يُساوى﴾ د مفاعلې د باب مضارع ده: برابر کېدل (برابرېدل).

تشریح: دا پر مخکینی مسئلې باندې تفریع ده. صورت د مسئلې دا دی چې که دیو چا سره صرف تجارتي سامان وي (یعني سره زر، سپین زر، نقد مال او داسې نور نه وي) او په هغه سامان سره تجارت او

کاروبار وکړي، خو هغه سامان په شروع کي له نصاب څخه کم وي. بیا په تجارت کولو سره سامان ګټه وکړي او د کال په آخر کي د دې تجارتي سامان قیمت د نصاب سره برابر سي، نو پر دې سامان د هغه کال زکاة نه واجبیږي، بلکي څه وخت چي د نصاب اندازې ته رسېدلی دی، له هاغه وخت څخه چي یو کال باندي تېر سي، بیا زکاة پکښي واجبیږي.

د سرو زرو او سپینو زرو د نصاب اندازه

﴿۱۱۹۹﴾ وَنِصَابُ الذَّهَبِ عِشْرُوْنَ مِثْقَالًا او د سرو زرو نصاب شل مثقاله دی وَنِصَابُ الْفِضَّةِ مِائَتَا دِرْهَمٍ او د سپینو زرو نصاب دوه سوه درهمه دی مِنَ الدَّرَاهِمِ الَّتِيْ كُلُّ عَشْرَةٍ مِنْهَا وَزْنُ سَبْعَةِ مَثَاقِيْلَ له هغه دراهمو څخه چي په هغوی کي هر لس درهمه د اوو مثقالو په وزن سره وي (یا په بله وینا دا چي: هغه دراهم به د "وزنِ سبعه والا" دراهمو څخه وي).

لغات: ﴿مثقال﴾ یو وزن (مقدار) دی کوم چي څلور "ماشې" او څلور "رتی" کیږي او د ګرام په حساب سره تقریباً څلور (۴) ګرامه کیږي. ﴿درهم﴾ د سپینو زرو سکه. یو درهم څه د پاسه درې (۳) ګرامه کیږي، یعني ۳ ګرامه او ۶۲ ملي ګرامه او د بعضو په نېز ۳ ګرامه او ۴۰۲ ملي ګرامه.

﴿وزن سبعة﴾ دې ته وایي چي لس درهمه د اوو (۷) مثقالو سره (په وزن کي) برابر وي. په دې صورت کي یو درهم د یوه مثقال اووه حصې (۰.۷) کیږي یعني له یوه مثقال څخه څه کمیږي. د "وزن سبعه والا" د یوه درهم وزن تقریباً درې (۳) ګرامه کیږي. د حضرت عمر ﷺ په زمانه کي همدا وزنِ سبعه والا دراهم په بازار کي رائج کړل سوه. (أثمار الهدایه)

تشریح: شل مثقاله د تولې په حساب سره اووه نیمي (۷.۵) تولې کیږي، او دوه سوه درهمه د تولې په حساب سره دو پنځوس نیمي (۵۲.۵) تولې کیږي، او په اوس وخت کي د انګرېزي وزن په حساب سره اووه نیمي تولې ۸۷ ګرامه، ۴۷۹ ملي ګرامه (یا په بله وینا څه د پاسه اووه اتیا ګرامه) کیږي. او دو پنځوس نیمي تولې ۶۱۲ ګرامه، ۳۵ ملي ګرامه کیږي (کما مرّ).

نو که د چا سره دو پنځوس نیمي تولې (یا د ګرام په حساب سره څه د پاسه ۶۱۲ ګرامه) سپین زر وي او پر هغه کال هم تېر سي، نو د هغه زکاة ایستل ضروري دي (او د زکاة په باب کي د سپینو زرو نصاب معتبر دی یعني دو پنځوس نیمي تولې یا دوه سوه درهمه).

من الدراهم التي إلخ: د نبي کریم ﷺ مبارک په زمانه کي درې قسمه درهمه رواج ول: ① یو هغه درهم وو چي د هغه وزن یو مثقال وو، نو د هغه لس درهمه لس مثقاله کېدل (یا په بله وینا لس درهمه یې د

لسو مثقالو سره برابره وه)، ② دویم هغه درهم وو چي وزن یې نصف مثقال (نیم مثقال) وو، نو د هغه لس درهمه پنځه مثقاله کېدل، ③ او د درېیم قسم لس درهمه شپږ مثقاله کېدل (یا په بله وینا لس درهمه یې د شپږو مثقالو سره برابر وه)، بیا د امیرُ المؤمنین حضرت عمر ﷛ د خلافت زمانه کي دا سوال را پورته سو چي د زکاة د نصاب لپاره به کوم قسم درهم معیار ګرځول کیږي، نو بیا د دې دریو سره درهمونو تناسب را ویستل سو، یعني د دې دریو سره قسمونو لس، لس درهمه چي د ټولو مجموعتاً وزن یوویشت (۲۱) مثقاله کېدی، دا (۲۱ مثقاله) پر دریو تقسیم کړل سوه، نو اوس یو داسي قسم را ووتلی چي د هغه لس درهمه د اوو مثقالو سره برابر سول، همدې ته د فقهاؤ په اصطلاح کي "وزنِ سبعه" وایي (چي لس درهمه د اوو مثقالو په وزن سره وي)، دا وسني وزن په اعتبار سره وزنِ سبعه والا یو درهم تقریباً درې ګرامه کیږي او لس درهمه یې څه د پاسه دېرش (۳۰) ګرامه کیږي (یعني ۳۰ ګرامه او ۶۱۸ ملي ګرامه)، نو د حضرت عمر ﷛ په زمانه کي همدا وزنِ سبعه والا دراهم د نصاب معیار وټاکل سوه او نور ټوله وزنونه حضرت عمر ﷛ ختم کړل او د وزنِ سبعه حکم یې وکړی او هم په دې وزن سره یې د عُشر، خراج، د زکاة، سرسایې او داسي نورو د اداء کولو حکم جاري کړی.

پر نصاب د زیاتوب کولو حکم

﴿۱۲۰۰﴾ وَمَازَادَعَلٰى نِصَابٍ وَبَلَغَ خُمْسًا او کوم څه مال چي پر نصاب زیات سي او (د نصاب) پنځمي حصې ته ورسیږي زَكَاةُ بِحِسَابِهِ نو د هغه زکاة دي د هاغه په خپل حساب سره ورکړي.

تشریح: مخکي دا مسئله ذکر سوه چي د سپینو زرو نصاب دوه سوه درهمه (دو پنځوس نیمي تولې) دی او د سرو زرو نصاب شل مثقاله دی، اوس دلته دا بیانوي چي که تر دوه سوه درهمه زیات سپین زر ور سره وي، نو په زیاتوب (زائده حصه) کي زکاة هغه وخت واجبیږي کله چي هغه زیاتوب د نصاب پنځمي حصي ته یعني څلوېښتو درهمو ته ورسیږي، لهذا که دوه سوه څلوېښت درهمه وي، نو په هغوی کي شپږ درهمه واجبیږي، او که دوه سوه نهه دېرش درهمه وي، نو په دې نهه دېرشو کي زکاة نسته، صرف په هغه دوه سوه درهمو کي پنځه درهمه واجبیږي؛ ځکه دا نهه دېرش (۳۹) د نصاب پنځمه حصه نه ده، ګواکي تر دوه سوه نهه دېرشو پوري صرف پنځه درهمه واجبیږي، بیا په هرو څلوېښتو کي یو درهم واجبیږي (مثلاً که دوه سوه اتیا درهمه وه، نو دوه نور درهمه یعني اوه درهمه پکښي واجبیږي ...الخ). (شفاء الارواح)

د هغه سرو یا سپینو زرو حکم چي بل شی (کوټ) په ګډ سوی وي

﴿۱۲۰۱﴾ وَمَاغَلَبَ عَلَى الْغَشِّ او (له سرو او سپینو زرو څخه) چي کوم پر کوټ غالب وي فَكَالْخَالِصِ مِنَ النَّقْدَيْنِ نو هغه د خالص سرو او سپینو زرو په څېر دی.

لغات: ﴿غش﴾ کوټ، امیزش (ملاوټ)، یعني په سرو زرو یا سپینو زرو د بل فلز [عنصر] ګډون. لکه ژېړ، ګیلټ، اوسپنه او داسي نور، ﴿نقدین﴾ دوه نغد مالونه، مراد څني سره زر او سپین زر دي (کـا ذکرنا).

تشریح: د عبارت حاصل دا دی چي که په سرو زرو او سپینو زرو یو بل شی ګډ سوی وي (لکه عموما چي د زرو د جوړولو په وخت کي د جوړښت او تیار والي لپاره بل شی په ګډول کیږي) چي هغه ته کوټ وایي، نو په دې صورت کي به د زیات (غالب) یوه اعتبار کول کیږي، که چیري سره زر یا سپین زر بانـدي زیات وي، نو هغه د سرو زرو او سپینو زرو په حکم کي دی، او که کوټ زیات (غالب) وي او سره یا سپین زر کم (مغلوب) وي، نو هغه د سامان په حکم کي دی (یا په بله وینا کوم شی چي په ګډ سوی وي. د هغه شي په حکم کي دی)، نو اوس به د هغه قیمت اندازه کول کیږي، که چیري هغه د نصاب مقدار ته رسیږي، نو زکاة پکښي واجبیږي، کنې نه واجبیږي. (شفاء الارواح، انوار الایضاح)

د استعمال په جواهراتو او ملغلرو کي زکاة واجب نه دی

﴿۱۲۰۲﴾ وَلَازَكوٰةَ فِي الْجَوَاهِرِ وَاللَّآلِئِ او زکاة نسته په قېمتي کانو او ملغلرو کي إِلَّا أَنْ يَتَمَلَّكَهَا بِنِيَّةِ التِّجَارَةِ مګر دا چي د تجارت په نیت سره د هغوی مالک سي كَسَائِرِ الْعُرُوْضِ لکه نور ټوله سامانونه (چي که د تجارت په نیت سره رانیول سي، نو زکاة پکښي سته. کنې نسته).

لغات: ﴿جواهر﴾ جمع د جَوْهَرٌ ده: قېمتي کاڼی (ډبره) چي له هغه څخه نفع مند شیان (مثلاً غمیان او داسي نور) جوړیږي، ﴿لآلی﴾ جمع د لُؤْلُؤَةٌ ده: ملغلره (مرغلره)، ﴿سَائِر﴾ د دې لفظ دوې معناوي نقل سوي دي: ① ټوله (تمام)، ② نور (پاته، باقي).

تشریح: جواهرات، هیره او ملغلري کوم چي د استعمال (اغوستلو...) په غرض سره رانیول سوي وي، په هغوی کي زکاة نسته، که هر څومره قېمتي وي، لېکن که په جواهراتو او ملغلرو سره تجارت

كوي، نو د تجارتي مال كېدلو په اعتبار سره د هغوی په قيمت كي زكاة واجبېږي كله چي كال باندي تېر سي، همدا حكم د عام سامان دی. (انوار الايضاح، شفاء الارواح)

﴿۱۲۰۲﴾ وَلَوْ تَمَّ الْحَوْلُ عَلٰى مَكِيْلٍ أَوْ مَوْزُوْنٍ فَغَلَا سِعْرُهُ أَوْ رَخُصَ او كه كال پوره (تېر) سي پر پېمانه كېدونكي يا تول كېدونكي شي بيا د هغه نرخ گران سي يا ارزانه سي (پورته يا كښته سي) فَأَدّٰى مِنْ عَيْنِهٖ رُبْعَ عُشْرِهٖ بيا اداء كړي (وركړي) خاص له هغه شي څخه د هغه د لسمي څلورمه حصه (يعني د هغه څلوېښتمه حصه په زكاة كي وركړي) أَجْزَأَهُ نو كافي كيږي ده لره وَإِنْ أَدّٰى مِنْ قِيْمَتِهٖ او كه يې د هغه له قيمت څخه اداء كړي تُعْتَبَرُ قِيْمَتُهٗ يَوْمَ الْوُجُوْبِ نو د هغه د(زكاة) واجبېدلو د ورځي د قيمت اعتبار به كول كيږي وَهُوَتَمَامُ الْحَوْلِ عِنْدَ الْإِمَامِ او هغه (د زكاة واجبېدلو ورځ) د كال پوره كېدلو ورځ ده، د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نېز وَقَالَا: يَوْمَ الْأَدَاءِ لِمَصْرِفِهَا او صاحبين رَحِمَهُمَا الله فرمايي: چي (اعتبار به كول كيږي) مصرف (مستحق كس) ته د زكاة اداء كولو د ورځي (د قيمت. يعني د دوی په نېز د زكاة واجبېدلو د ورځي قيمت معتبر نه دی. بلكي د هغه ورځي قيمت معتبر دی په كومه ورځ چي مستحق كس (فقير لو داسي نورو) ته زكاة وركول كيږي).

لغات: ﴿غلا﴾ د نصر له بابه ماضي معلومه ده، مصدر: غَلَاءً: گرانېدل، نرخ پورته لوړېدل، ﴿رخُص﴾ د كرُم له بابه ماضي معلومه ده، مصدر رُخْصًا: ارزانه كېدل. ﴿رُبع عشر﴾ د لسمي څلورمه حصه، يعني څلوېښتمه حصه. ﴿مصرف﴾ د ضرب له بابه اسمِ ظرف دی: د صرف كولو يا مصرفولو (خرچ كولو) ځای، مراد ځني مستحق كس دی يعني هغه كس چي پر هغه به د زكاة وغيره مال خرچول كيږي (وركول كيږي).

تشريح: صورت د مسئلې دا دی چي كه چا يو مكيلي شی (لكه غنم، وربجي) يا موزوني شی (لكه اوسپنه يا بل شی) د تجارت په غرض سره رانيوی، بيا چي كله پر هغه شي يو كال تېر سو، نو د هغه شي نرخ پورته سوی وو، گران سوی وو، يا ارزانه سوی وو، نو د داسي شي او سامان د زكاة وركولو دوه صورتونه دي: ① كه مالك بعينهٖ له هغه شی څخه زكاة وركول غواړي، نو د هغه څلوېښتمه حصه دي اداء كړي (مثلاً چي څومره غنم يا اوسپنه ور سره ده، د هغه څلوېښتمه حصه دي را وباسي او په زكاة كي دي يې وركړي).

② او كه قيمت وركول غواړي، نو دې ته به كتل كيږي چي كال يې په كومه ورځ پوره سوی دی، په هاغه ورځ د دې سامان بازاري قيمت (نرخ) څو وو؟ نو د هغه په اعتبار سره به زكاة

باسي (مثلاً یو سړي د کال په شروع کې د پنځوسو زرو غنم رانیول او چې کله یو کال باندې تېر سو. نو په هغه وخت کې یې قیمت اتیا زرو (۸۰۰۰) ته رسېدلی وو. او بیا یو څو ورځې وروسته هغه وغوښتل چې د دې غنمو زکاة اداء کړي. نو په کومه ورځ چې یې زکاة اداء کوی. په هغه ورځ د غنمو قیمت نیوي زرو (۹۰۰۰) ته رسېدلی وو. نو په دې صورت کې د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نېز پر دغه کس د اتیا زرو (۸۰۰۰) زکاة لازمیږي. نه د نیوي زرو؛ ځکه د کال پوره کېدلو په وخت کې یې قیمت اتیا زره وو). او صاحبین رَحِمَهُمَا الله فرمايي چې په کومه ورځ زکاة اداء کوي، د هغه ورځې د قیمت په اعتبار سره به زکاة ورکوي (مثلاً په پورتني مثال کې د صاحبینو رَحِمَهُمَا الله په نېز پر دغه کس د نیوي زرو (۹۰۰۰) زکاة واجبیږي، ځکه چې د اداء په ورځ یې همدا قیمت دی). (انوار الایضاح، شفاء الارواح)

❀ ❀ ❀

د تجارت په مال کې د خرڅلاو قیمت معتبر دی

مسئله: د تجارتي سامان په زکاة کې به دې ته کتل کیږي چې د زکاة واجبېدلو په وخت کې د هغه بازاري قیمت څو دی؟، د هغه قیمت په حساب سره به زکاة اداء کول کیږي، د تاجر د رانیولو د وخت قیمت لره اعتبار نسته، مثلاً که یو تاجر په لک روپۍ سامان رانیسي او بیا چې یې دوکان ته راوړي، نو هغه په ګټه سره په دوه لکه روپۍ خرڅوي، نو هغه به د خرڅلاو د قیمت په اعتبار سره زکاة باسي. (انوار الایضاح بحوالۂ تلخیص المسائل بتغیرٍ)

په زکاة کې د تأخیر کولو او د مال هلاکېدلو حکم

﴿۱۲۰۴﴾ وَلَا يَضْمَنُ الزَّكٰوةَ مُفْرِطٌ غَيْرُ مُتْلِفٍ او نه ضامن کیږي د زکاة (یعني د زکاة ضمان [تاوان] نه ورباندې لازمیږي پر) افراط کونکی (سستي کونکی) کس کوم چې د مال تلفونکی (ضایع کونکی) نه وي (یعني هغه کس کوم چې د زکاة په اداء کولو کې سستي او غفلت کوي او بیا مال خپله تلف او هلاک سي او دئ یې هلاکونکی نه وي) فَهَلَاكُ الْمَالِ بَعْدَ الْحَوْلِ يُسْقِطُ الْوَاجِبَ نو د مال هلاکېدل (ضایع کېدل) له کال تېرېدلو څخه وروسته واجب زکاة ساقطوي وَهَلَاكُ الْبَعْضِ حِصَّتَهٗ او د بعضې مال هلاکېدل د هغه د حصې مطابق (واجب زکاة ساقطوي).

لغات: ﴿مُفرط﴾ په دې لفظ کې دوه لغته دي: یو دا چې دا د تفعیل له بابه فاعل سي یعني د راء په تشدید سره مُفَرِّط، نو معنیٰ یې ده: سستي (کهالي) کونکی، دویم دا چې د افعال له بابه فاعل سي

یعني د راء په تخفیف سره مُفْرِط، نو معنیٰ یې ده: زیاتوب کوونکی، دلته د دواړو لغاتو ګنجائش سته (انوار الایضاح). ﴿مُتلف﴾ د افعال له بابه فاعل دی: تلفونکی، ضایع کوونکی، بربادونکی.

تشریح: صورت د مسئلي دا دی چي که په مال کي زکاة واجب سي یعني پوره کال باندي تېر سي خو بیا یې هم د سستۍ او غفلت په وجه اداء نه کړي او تأخیر (ځنډ) پکښې وکړي، تر دې چي ټول مال هلاک سي، مثلاً غلا سي، نو د هغه زکاة ساقطیږي که څه هم د تأخیر کولو په وجه ګنهګاره کیږي، او که خپل مال قصداً هلاک کړي، مثلاً په دریاب کي یې وغورځوي، نو په دې صورت کي زکاة نه ساقطیږي. او که څه حصه مال هلاک سي (یعني د هغه له قصد څخه بغیر هلاک سي)، نو په حساب سره د هغه هلاک سوي مال په اندازه زکاة ساقطیږي، مثلاً که د یو چا سره یو نیم لک روپی وي، یو کال وروسته پنځوس زره ځني غلا سي، نو اوس به صرف د لکو روپو زکاة ورکوي.

د هلاک سوي زکاة تعلق د نصاب سره دی او که د عفو د مقدار سره

﴿۱۲۰۵﴾ وَيُصْرَفُ الْهَالِكُ إِلَى الْعَفْوِ او ګرځول کیږي به هلاک سوی مال (اول) د عفو (معاف مقدار) وطرف ته (یعني هلاک شده مال به اول له عفو مقدار څخه شمېرل کیږي) فَإِنْ لَّمْ يُجَاوِزْهُ بیا که هغه (هلاک سوی مال) له عفو څخه تېر (زیات) نه سي فَالْوَاجِبُ عَلٰى حَالِهٖ نو واجب زکاة پر خپل حال پاتیږي (او نه ساقطیږي).

تشریح: په مال کي یو نصاب وي او بل عفو، مثلاً (د نصاب له پوره کېدو څخه وروسته) په څلوېښتو (۴۰) درهمو کي یو درهم واجبیږي او له هغه څخه کم یعني نهه دېرش (۳۹) درهمه عفو دی، یا مثلاً په څلوېښتو پسونو کي یو پسه واجب دی او بیا تر یو سل و شلو (۱۲۰) پوري همدا یو پسه دی او کله چي یو سل و یوویشت (۱۲۱) سي، نو دوه پسونه دي، لهذا څلوېښت پسونه خو نصاب دی لېکن په مینځ کي له یو څلوېښت (۴۱) څخه تر یو سل وشلو (۱۲۰) پوري عفو مقدار دی، لنډه دا چي تر نصاب کم مقدار ته عفو ویل کیږي.

اوس د عبارت مسئله دا ده چي که څه مال هلاک سي، نو که هغه د عفو له مقدار څخه زیات وي، نو هغه به تر عفو وروسته له نصاب څخه شمېرل کیږي، او که هلاک سوی مال د عفو له مقدار څخه کم وي، نو له عفو څخه به شمېرل کیږي او داسي به نه کول کیږي چي له زکاة څخه د ځان خلاصولو لپاره هغه (هلاک سوی مقدار) له نصاب څخه وشمېرل سي، مثلاً که د یو چا سره دوه سوه نهه دېرش (۲۳۹) درهمه وه، بیا نهه دېرش (۳۹) درهمه هلاک سوه مثلاً غلا سوه، نو دا هلاک سوی

مال (۳۹ درهمه) به له عفو څخه شمېرل کیږي یعني همدا به کمل کیږي چې عفو ضایع سوه، نو دوه سوه درهمه پوره پاته سوه چې په هغه کې زکاة واجبیږي، او داسې به نه کول کیږي چې هلاک سوی مال له نصاب (۲۰۰ درهمو) څخه هلاک وشمېرل سي او زکاة نه ورکول سي، خو که مثلاً یو څلوېښت (۴۱) درهمه هلاک سوه، نو بیا به څلوېښت (۴۰) درهمه له عفو څخه او یو درهم له اصل نصاب څخه هلاک شمېرل کیږي او زکاة به ساقطیږي (ځکه کله چې له اصل نصاب څخه یو عدد هم کم سي. نو زکاة ساقطیږي لو کله چې دا یو عدد پکښې پوره سي، نو بیرته زکاة واجبیږي). (انوار الایضاح، شفاء الارواح بحوالۀ ایضاح الاصباح)

جبراً زکاة اخیستل، تر مرګ وروسته له میراث څخه زکاة اخیستل

﴿۱۲۰۶﴾ وَلَاتُؤْخَذُ الزَّكٰوةُ جَبْرًا اونه به اخیستل کیږي زکاة په زوره (په جبر سره).

﴿۱۲۰۷﴾ وَلَا مِنْ تَرْكَتِهٖ او نه (به اخیستل کیږي) د مړي له میراث څخه إِلَّا أَنْ يُّوْصِيَ بِهَا مګر دا چې مړي د هغه وصیت وکړي فَتَكُوْنُ مِنْ ثُلُثِهٖ نو بیا به د هغه له ثلث (درېیمي حصې) څخه وي (یعني بیا به د میراث د مال له درېیمي حصې څخه زکاة اخیستل کیږي).

لغات: ﴿جبرًا﴾ په زوره، بېله رضاء، مجبوراً، ﴿ترکة﴾ په دې لفظ کې دوه لغته دي یو بکسر الراء او بل بسکون الراء یعني تَرِكَة او تَرْكَة، همدارنګه بکسر التاء یعني تِرْكَة ویل هم جائز دی، د ترکه معنیٰ ده: پرېښوول سوی مال، په اصطلاح کې هغه مال ته ویل کیږي کوم چې مړي خپل تر شا پرې ایښی وي او د هغه سره د بل چا حق تړلی نه وي، برابره ده هغه کثیر وي او که قلیل، منقول وي او که غیرِ منقول (جائیداد).

تشریح: صورت د مسئلې دا دی چې که پر یو چا زکاة واجب وي، خو هغه زکاة نه اداء کوي، نو له هغه څخه په زوره (جبرا) زکاة اخیستل جائز نه دي. همدارنګه که د زکاة له اداء کولو څخه بغیر مړ سي، نو د هغه له میراث (ترکې) څخه به هم نه اخیستل کیږي، ها! که هغه تر مرګ مخکې د زکاة وصیت کړی وي (چې زما له طرفه زما زکاة اداء کړئ!)، نو بیا د هغه د مال له درېیمي حصې (ثلث) څخه زکاة اداء کول پر وارثانو لازمیږي. (شفاء الارواح)

له زکاة واجبېدلو څخه مخکې د هغه د ساقطېدلو حیله

﴿۱۲۰۸﴾ وَيُجِيزُ أَبُوْيُوْسُفَ رَحِمَهُ الله الْحِيْلَةَ لِدَفْعِ وُجُوْبِ الزَّكٰوةِ او امام ابو یوسف رَحِمَهُ الله حیله جائز ګرځوي (روا بولي) د زکاة واجبېدو د لیرې کولو لپاره (یعني له ځان څخه د زکاة د وجوب دفع کولو لپاره یو حیله اختیارول د امام ابو یوسف رَحِمَهُ الله په نېز جائز ده) وَكَرِهَهَا مُحَمَّدٌ رَحِمَهُ الله او امام محمد رَحِمَهُ الله دا حیله مکروه ګرځولې ده.

لغات: ﴿یجیز﴾ د افعال له بابه مضارع معلومه ده، مصدر: إجازةً: جائز ګرځول، ﴿الحیلة﴾ تدبیر، چل، ترکیب، داسې ماهرانه طریقه او کړنلاره کوم چې له ظاهر څخه لیرې تر مقصده د رسېدلو پر حکمت مبني وي، جمع: حِيَلٌ و حِوَلٌ.

تشریح: مسئله دا ده چې که څوک له زکاة څخه د ځان خلاصولو لپاره یوه حیله وکړي مثلاً د کال تر پوره کېدلو مخکې خپل ټوله مال (د نصاب په اندازه مال) بل چا ته ورکړي (مثلاً د هدیې او تحفې په توګه یې ورکړي) بیا د کال تر پوره کېدلو وروسته هغه واپس ځنې واخلي (برابره ده په قانوني کاروایي سره یې ځنې واخلي و که بغیر له قانوني کاروایي څخه)، نو په دې صورت کې پر هغه زکاة نه واجبېږي او د امام ابو یوسف رَحِمَهُ الله په نېز د داسې حیله کولو اجازه سته؛ ځکه په دې صورت کې یې د هیچا حق نه دی ضایع کړی، او په محیط کې دي چې همدا مسلک صحیح دی، لیکن امام محمد رَحِمَهُ الله دې ته مکروه ویلي دي او ناخوښه یې ګڼلې دي، او شیخ حمید الدین فریري رَحِمَهُ الله همدې کراهت ته مختار مذهب ویلي دی؛ ځکه په داسې حیله کولو کې د فقیرانو او غریبانو نقصان دی. پر همدې فتویٰ ده. او په طحطاوي کې دي چې د فرض ساقطولو په غرض سره حیله کول یا د بخل پر بناء داسې صورت اختیارول چې زکاة باندې واجب نه سي، دا بالاجماع مکروهِ تحریمي دي. (شفاء الارواح بحوالهٔ ایضاح الاصباح)

* * *

بَابُ الْمَصْرِفِ

(دا) فصل د زكاة د مستحق كس (په بيان كي) دى

تشريح: مصرف اسم ظرف دى. لغوي معنىٰ يې ده: د صرف كولو (خرچ كولو) ځاى. او په اصطلاح كي هغه مسلمان ته ويل كيږي چي هغه ته زكاة وركول په شريعت كي صحيح وي. يا به په بله وينا هغه كس كوم چي شرعاً د زكاة مستحق وي، نو په دې باب كي د هغو مستحقو خلكو تفصيل ذكر كوي چي هغو ته زكاة وركول (زكاة باندي مصرفول) صحيح دي، د مصرف جمع مصارف ده. د زكاة د مصارفو په باره كي اصل د الله تعالىٰ دا فرمان دى ﴿إِنَّمَا الصَّدَقٰتُ لِلْفُقَرَآءِ وَالْمَسٰكِيْنِ وَالْعٰمِلِيْنَ عَلَيْهَا وَالْمُؤَلَّفَةِ قُلُوْبُهُمْ وَفِى الرِّقَابِ وَالْغَارِمِيْنَ وَفِىْ سَبِيْلِ اللهِ وَابْنِ السَّبِيْلِ فَرِيْضَةً مِّنَ اللهِ، وَاللهُ عَلِيْمٌ حَكِيْمٌ﴾[التوبة: ۶۰]، (بېشكه زكاة حق دى د فقيرانو، مسكيناتو..إلخ) د دغه آيت په رڼا كي د زكاة او صدقاتو (١) اول مصرف فقيران دي، (٢) دويم مسكينان دي، (٣) دريم محصلين او اخيستونكي د زكاة دي، (۴) څلورم مؤلفة القلوب دي (يعني هغه كفار چي اسلام ته د هغوى تأليفِ قلوب او راجلبول مطلوب وي، كوم چي اوس بالاتفاق ساقط دي)، (۵) پنځم رِقاب يعني د غلامانو بدل كتابت اداء كول او د هغو آزادول دي، (۶) شپږم غارمين يعني مقروضين (پور وړي) او نور دي، (٧) اُووم مجاهدين دي. (٨) او اتم مسافرين دي، د اسلام په شروع كي دغه اته قسمه مصارف وه كوم چي په آيت كي ذكر سوي دي، او فقهاؤ اووه(٧) قسمه مصارف ذكر كړي دي؛ ځكه يو مصرف "مؤلفة القلوب" د صحابه وو په اجماع سره ساقط سو، له مؤلفة القلوب څخه هغه خلك مراد وه چي هغو ته به نبي ﷺ د اسلام راوړلو په هيله څه مال وركوى، يا له دې څخه هغه كمزوري عقيدې والا مسلمانان مراد وه. چي هغوى به په اسلام كي محكم او مضبوطه نه پاته كېدله، نو هغو ته به په اسلام كي د ثبات او محكمتيا لپاره څه مال وركول كېدى، لېكن كله چي الله تعالىٰ اسلام ته تقويه وركړه او هر طرف ته اسلامي بېرغ رپاند سو، نو بيا د ابو بكر ﷺ د خلافت په زمانه كي د حضرت عمر ﷺ په مشوره له دغو اته

قسمو څخه یو مصرف او یو صنف یعني مؤلفة القلوب ساقط کړی سو، په دې باب کي مصنف رَحِمَهُ الله د دوی ټولو تفصیل بیانوي. (شفاء الارواح، فتح الهدایه)

د زکاة مصارف

﴿۱۲۰۹﴾ هُوَالْفَقِيْرُ (۱) هغه (د زکاة اول مصرف) فقیر دی وَهُوَمَنْ يَّمْلِكُ مَا لَا يَبْلُغُ نِصَابًا وَلَا قِيْمَتَهٗ مِنْ أَيِّ مَالٍ كَانَ او فقیر هغه دی کوم چي (له زیاتو څخه زیات) د دومره مال مالک وي کوم چي نه رسیږي نصاب ته او نه د نصاب قیمت ته، هغه که هر مال وي وَلَوْصَحِيْحًا مُكْتَسِبًا که څه هم هغه (فقیر) روغ (صحت مند) او ګټونکی وي (یعني کسب لو کته کولای سي).

﴿۱۲۱۰﴾ وَالْمِسْكِيْنُ (۲) او (بل مصرف) مسکین دی وَهُوَمَنْ لَّاشَيْءَلَهٗ او مسکین هغه کس دی چي هغه لره هیڅ شی نه وي.

لغات: ﴿مکتسب﴾ د ضرب له بابه د فاعل صیغه ده: کسب کونکی، په چا کي چي د ګټي او کسب کولو طاقت وي.

تشریح: په دې عبارت کي د زکاة له مصارفو څخه د اول کس بیان دی او هغه فقیر دی، فقیر هغه کس دی کوم چي د نصاب خاوند نه وي یعني د نصاب په اندازه مال نه لري، یا د نصاب په اندازه خو مال ور سره وي، لېکن د هغه له ضرورت اصلیه څخه زیات نه وي بلکي مال د هغه په ضروریاتو کي راګیر وي مثلاً د اوسېدلو کور، د استعمال جامې او د خپل کسب او پیشې آلات. دا هم فقیر دی. نو که څه هم هغه فقیر روغ رمټ او د کسب کولو لائق وي، بیا هم د هغه لپاره زکاة او صدقات واجبه حلال او جائز دي، خو د داسي روغ رمټ کس لپاره د زکاة سوال کول او زکاة اخیستل جائز خو دي لېکن اولیٰ او مناسب نه دي چي صحیحُ الاعضاء او د ګټي کولو قابل کس د زکاة په خیرو باندي ګزاره وکړي.

والمسکین الخ: د زکاة دویم مصرف مسکین دی او مسکین هغه کس دی چي د هغه سره هیڅ څه نه وي چي ګزاره په وکړي (یا په بله وینا چي شبا روز (څلور ویشت ساعته) ګزاره په وکړل سي). ګواکي مسکین له فقیر څخه زیات تنګ حاله دی، داسي کس د زکاة سوال کولای سي.

❀ ❀ ❀

فائده: د فقیر او مسکین د غه معنوي فرق صرف د زکاة په باب کي سته. کنې نور په هر ځای کي د فقیر او مسکین په مصداق کي فرق نسته لکه څرنګه چي ابن قدامه رَحِمَهُ الله ویلي دي، خو څرنګه چي په زکاة کي د غه دوه مصارف قرآن

کریم په جلا مستقله توګه ذکر کړي دي، نو ځکه اهلِ علم حضراتو ویلي دي چې په دې دوو لفظو کې له یوه څخه لږ حاجت مند او له بل څخه زیات حجت مند مراد دی، بیا په دې کې اختلاف دی چې زیات احتیاج په فقیر کې دی او که په مسکین کې؟ په عامه توګه د احنافو رجحان ودې طرف ته دی چې مسکین زیات حاجت مند دی (کماذکر) یعني فقیر هغه دی چې د هغه سره د کفایت په اندازه څه مال او سامان وي، او مسکین هغه دی چې د هغه سره هیڅ نه وي "الفقیر من له أدنیٰ شيء والمسکین من لاشيء له". بعضو د دې برعکس فقیر زیات محتاجه او مسکین کم محتاجه ګرځولی دی، او همدا خبره زیاته صحیح معلومیږي: اول خو ځکه چې په قرآن کریم کې اول د فقیر او بیا د مسکین ذکر کېدل په ظاهره د دې خبرې قرینه ده چې فقیر د مسکین په مقابله کې زیات حاجت مند دی. او دویم خپله د قرآن کریم په یوه واقعه کې ذکر سوی دی ﴿أما السّفینة فکانت لمسٰکین یعملون فی البحر﴾(الکهف: ۷۹)، د قرآن کریم له دې بیان څخه معلومیږي چې کومو خلکو ته الله تعالی "مساکین" ویلي دي، هغوی د کښتۍ مالکان وه او هغو په همدې کښتۍ سره روزي حاصلوله، له دې څخه د دې خبرې تصدیق کیږي چې مسکین د څه غوندې مال مالک وي، خو دومره مال نه چې د هغه د ضروریاتو لپاره کافي وي. ښکاره دې وي چې د اهلِ لغت او مفسرینو په دې اختلاف سره د زکاة پر احکامو هیڅ اثر نه لویږي. (قاموس الفقه، عنوانِ زکاة و فقیر)

﴿۱۲۱۱﴾ وَالْمُكَاتَبُ (۳) او مکاتب دی.

تشریح: د زکاة دریم مصرف مکاتب دی، په مذکوره آیت کې له "فـي الرقـاب" څخه مراد د اکثره علماؤ په نیز مکاتب غلام دي، همدا قول مصنف رَحِمَهُ الله اختیار کړی دی، مکاتب هغه غلام دی چې خپل مالک (بادار) ورته ویلي وه چې کله ته دومره مال مثلاً زر درهمه ما ته راکړې!، نو ته آزاد یې!، نو د داسي مکاتب مرسته کول او زکاة ورکول جائز دي چې هغه خپل مالک ته دا مال (بدلِ کتابت) ور اداء کړي او خپله غاړه د غلامۍ له طوق څخه خلاصه کړي.

﴿۱۲۱۲﴾ وَالْمَدْيُوْنُ الَّذِيْ لَايَمْلِكُ نِصَابًا وَلَا قِيْمَتَهُ فَاضِلًا عَنْ دَيْنِهِ (۴) او هغه مقروض (پور وړی) دی کوم چې د داسي نصاب یا د نصاب د قیمت مالک نه وي کوم چې د ده له قرض څخه زائد (اضافه) وي.

تشریح: د زکاة څلورم مصرف مقروض (پوروړی) دی چې هغه ته په قرآن کې "غارم" ویل سوي دي، له "غارم" څخه مراد هغه مقروض کس دی چې د هغه سره خو مال وي لیکن ټول مال یا بعضې مال په قرض کې را ګیر وي او له قرض اداء کولو څخه وروسته د نصاب په اندزه نه ور سره پاتېږي، داسي کس که څه هم په ښکاره مالدار دی خو په حقیقت کې فقیر دی، نو ځکه هغه ته زکاة ورکول او د هغه لپاره اخیستل جائز دي.

❀ ❀ ❀

مسئله (۱): که یو څوک زیات مقروضه وي او دا خطره وي چي که هغه ته زکاة ورکول سي، نو خپله به یې وخوري او قرض به په اداء نه کړي، نو زکاة ورکونکی دي له هغه څخه اجازه واخلي او د خپل زکاة په مال سره دي هغه قرض اداء کړي، نو په دې توګه به د فقیر قرض او د مالداره زکاة دواړه اداء سي. (احسن الفتاویٰ ج: ۴، ص: ۲۵۰)

مسئله (۲): که یو څوک زیات مقروضه وي (کوم چي له نصاب څخه هم زیات قرض وي)، نو د قرض اداء کولو لپاره هغه ته له نصاب څخه زیات مال ورکول پروا نه لري، خو بعضي کاروباریان له دغه مسئلې څخه غلطه فایده اخلي چي ځیني وخت پر دوی د کاروبار یا حکومت قرض دومره زیات سي چي د دوی له اصل سرمایې څخه زیات وي، نو دوی خلکو ته ورسي او وایي چي موږ زیات مقروضه یو او د زکاة مستحقه یو، لهذا زموږ سره مرسته وکړئ! او د زکاة په مال سره زموږ قرضونه را اداء کړئ!، نو په دې توګه هغوی د لکاوو روپیو مطالبه لري، نو داسي خلکو ته پکار دي چي اول د خپل ذاتي مالیت جائیداد، موټران او داسي نور خرڅ کړي او خپل قرض په اداء کړي، خو که اوس هم د دوی قرض اداء نه سي، نو بیا دي د مرستي مطالبه وکړي، تر دې مخکي خپل ځان ته د زکاة مستحقین ویل د غریبانو سخت حق تلفي ده. (انوار الایضاح بتصرفٍ)

﴿۲۱۳﴾ وَفِيْ سَبِيْلِ اللهِ (۵) او د الله په لاره کي (یعني بل مصرف د الله د لاري والا) دی وَهُوَمُنْقَطِعُ الْغُزَاةِ أَوِ الْحَاجِّ او هغه له غازیانو یا له حاجیانو څخه جلا کېدونکی (شاته پاتېدونکی) کس دی.

لغات: ﴿منقطع﴾ د انفعال له بابه فاعل دی: قطع کېدونکی، جلا کېدونکی، ﴿غُزاة﴾ جمع د غازی ده: حمله کونکی، مجاهد، ﴿حاجّ﴾ حاجي، د حج د ارکانو اداء کونکی، جمع: حُجَّاج.

تشریح: د زکاة پنځم مصرف "فی سبیل الله" دی، د "فی سبیل الله" تفسیر د جمهورو په نېز په مجاهدینو سره سوی دی د فقر او ضرورت له قید څخه بغیر، او په احنافو کي د امام ابو یوسف رَحِمَهُ الله رایه هم دغه ده خو د ضرورت او فقر په قید سره، یعني هغه مجاهدین ځني مراد دي کوم چي جهاد ته تلل غواړي لېکن هغوی د جهاد په سامان برابرولو باندي د قدرت نه لرولو په وجه د مجاهدینو له جماعت څخه منقطع کېږي، نو د داسي مجاهد مرسته کول او زکاة ورکول او د هغه لپاره زکاة اخیستل صحیح او حلال دي، همدا په منقطعُ الغزاة سره تعبیر سوی دی، یا په بله وینا هغه مجاهدین او غازیان کوم چي د مال او سامان د نشتوالي په وجه له اسلامي لښکر څخه پاته سوي وي، ګواکي د جهاد کولو لپاره د زکاة په مال سره د مجاهدینو مدد کول کېدای سي.

او د امام محمد رَحِمَهُ الله په نیز له فی سبیل الله څخه مراد منقطع الحاج دی، یعني هغه کس چي پر هغه حج فرض سوی وي، لېکن فی الحاله فقیر وي (یا په بله وینا: هغه کس کوم چي د فقیری او غربت په وجه د حاجیانو له قافلې څخه پاته سوی وي)، داسي کس ته د فرض حج اداء کولو لپاره زکاة ورکول کېدلای سي. (انوار الایضاح، شفاء الارواح)

﴿١٢١٤﴾ وَابْنُ السَّبِيْلِ (۶) او (بل مصرف) دلاري والا دی وَهُوَ مَنْ لَهٗ مَالٌ فِيْ وَطَنِهٖ وَلَيْسَ مَعَهٗ مَالٌ او دا هغه کس دی چي د هغه لپاره په خپل وطن کي مال وي او (فی الحاله) د ده سره مال نه وي.

تشریح: د زکاة شپږم مصرف "ابن السبیل" دی، له ابن السبیل څخه مراد هغه مسافر دی چي په خپل وطن کي د هغه سره ډېر مال موجود وي، خو اوس وخت (په لاره یا بل وطن کي) د هغه سره هیڅ نه وي، مثلاً ټول مال یې خرچ کړی وي یا غلا سوي وي، نو ګواکي فی الحاله دا کس فقیر دی او فقیر ته زکاة ورکول او د هغه لپاره زکاة اخیستل جائز دي، خو له ضرورت څخه زیات اخیستل ور ته حلال نه دي. علماؤ لیکلي دي چي غوره دا ده چي دا کس قرض واخلي او چي کور ته ولاړ سي، هغه دي اداء کړي، لېکن کوم کس چي په خپل وطن کي هم فقیر وي، نو له ضرورت څخه زیات اخیستل هغه ته صحیح دي. (شفاء الارواح بحوالۂ عمدة الفقه)

﴿١٢١٥﴾ وَالْعَامِلُ عَلَيْهَا (٧) او کار کونکی پر زکاة (د زکاتونو ټولونکی) يُعْطٰى قَدْرَ مَا يَسَعُهٗ وَأَعْوَانَهٗ هغه ته به دومره ورکول کیږي چي مناسب او کافي وي د هغه او د هغه د معاونینو لپاره.

لغات: ﴿یسع﴾ د سمع د باب مضارع ده، مصدر: سَعَةٌ: ګنجائش کېدل، وس کېدل. ﴿أعوان﴾ جمع د عَوْنٌ ده: معاون، مرستیال او مددګار، هر معاون شی. علیها د ضمیر مرجع زکوٰة دی. یسعه و أعوانه د دواړو ضمیرونو مرجع عامل دی.

تشریح: د زکاة اُووم (آخري) مصرف عامل دی، عامل هغه کس دی کوم چي د اسلامي حکومت له طرفه د زکاة اخیستلو او راټولولو لپاره ټاکل سوی وي (چي له خلکو څخه زکاة او صدقات راټول کړي)، نو اسلامي حکومت به داسي عامل او د هغه سره کار کونکو (مرستیالانو) ته د زکاة له مال څخه د دوی د عمل په اندازه مال ورکوي، لېکن د دې خیال دي ساتي چي دومره به ورکوي کوم چي د عامل او د هغه

د مرستيالانو لپاره کافي وي (يعني د کفايت په اندازه)، لېکن که د زکاة مال صرف دومره وي چي که عاملينو ته د کفايت په اندازه مال ورکول سي نو ټوله زکاة به په همدې کي صرف سي، نو په داسي صورت کي به دوی ته نصف (نيمه حصه) ورکول کيږي، او کوم زکاة چي عامل ته ورکول کيږي، هغه د زکاة په حيثيت سره نه، بلکي د عمل د عوض او حقُ الزحمه په توګه ورکول کيږي، نو ځکه عامل ته به په هر حال کي ورکول کيږي، برابره ده هغه مالداره وي او که فقير وي.

د زکاة په ټولو مصارفو کي صرف همدا يو مصرف داسي دی چي هغه ته د معاوضهٔ عمل او حقُ الزحمه په توګه زکاة ورکول کيږي، کنې زکاة خو وايي هغه ورکړي ته کوم چي فقراؤ ته بغير له څه معاوضهٔ عمل څخه ورکول سي. (انوار الايضاح بحوالهٔ الدر المنضود ج: ٣، ص: ٩٨)

﴿۱۲۱۶﴾ وَلِلْمُزَكِّيْ الدَّفْعُ إِلٰى كُلِّ الْأَصْنَافِ او زکاة ورکونکي لره (مذکوره) ټولو قسمونو ته ورکول جائز دي وَلَهُ الْإِقْتِصَارُ عَلٰى وَاحِدٍ مَعَ وُجُوْدِ بَاقِيْ الْأَصْنَافِ او د نورو قسمونو د موجودوالي سره صرف پر يوه قسم اکتفاء کول (هم) ور لره جائز دي.

لغات: ﴿مزکّی﴾ د تفعيل له بابه فاعل دی: زکاة ورکونکی، ﴿أصناف﴾ جمع د صِنْفٌ ده: قسم، نوع.

تشريح: مذکوره أووه سره قسمه خلک د زکاة مصرف دي، د مال مالک ته اختيار دی چي په دغه أوو قسمونو کي هر يوه ته يې ورکوي، يا ټوله زکاة صرف يو قسم خلکو ته ورکوي، يا صرف يوه کس ته يې ورکوي، که څه هم بل قسم خلک موجود وي، مثلاً مسافر يا مکاتب موجود وي خو د مال مالک صرف فقير ته زکاة ورکړي، نو دا جائز دي، خو يوه کس ته په يوه وار دومره مال ورکول چي هغه د نصاب خاوند سي مکروهِ تحريمي دي، خو که هغه مقروض وي او د قرض اداء کولو لپاره ډېر مال ورکړي، نو څه حرج نسته (لکه مخکي چي ذکر سوه). (شفاء الارواح، انوار الايضاح)

﴿۱۲۱۷﴾ وَلَا يَصِحُّ دَفْعُهَا لِكَافِرٍ او صحيح نه دي زکاة ورکول و کافر ته.

﴿۱۲۱۸﴾ وَغَنِيٍّ يَمْلِكُ نِصَابًا او داسي مالدار ته کوم چي د نصاب مالک وي أَوْ مَا يُسَاوِيْ قِيْمَتَهٗ مِنْ أَيِّ مَالٍ كَانَ يا د دومره مال (مالک وي) چي هغه د نصاب د قيمت سره برابر وي، هغه

که هر مال وي فَاضِلٍ عَنْ حَوَائِجِهِ الأَصْلِيَّةِ (په دې شرط چې دا نصاب یا قمیت د نصاب) زائد وي د ده له اصلي ضروریاتو څخه.

﴿۱۲۱۹﴾ وَ طِفْلٍ غَنِيّ او (صحیح نه دي زکاة ورکول) د مالداره کس وبچي ته.

لغات: ﴿فاضل﴾ زائد، له ضرورت څخه زیات، اضافي، فَضَلَ یَفْضُلُ فَضْلًا (باب نصر): له ضرورت څخه زیاتېدل، باقي پاتېدل، عربي مقوله ده: أَنْفِقْ مِنْ مَالِكَ مَا فَضَلَ (ستا له مال څخه چې کوم تر ضرورت زیات وي، هغه نفقه کړه!)، ﴿الطفل﴾ بچی، له ولادت څخه تر بلوغ پورې بچي ته "طفل" وایي، پر مذکر او مؤنث دواړو یې اطلاق کېږي. (معجم)

تشریح: د زکاة مصرف فقط مسلمان فقیر او غریب دی، کافر فقیر ته زکاة ورکول جائز نه دي، خو هغه ته نفلي خیرات ورکولای سي، او که څوک کافر فقیر ته زکاة ورکړي، نو د هغه زکاة نه اداء کېږي او هغومره زکاة دوباره مسلمان غریب ته ورکول لازم دي.

وغنيٍ یملك نصابًا إلخ: یعني کوم څوک چې د نصاب خاوند وي، یعني د هغه سره دوه پنځوس نیمې (۵۲.۵) تولې سپین زر وي، یا د هغومره قیمت والا مال ور سره وي، برابره ده د تجارت لپاره وي او که نه وي، په دې شرط چې د هغه له حاجتِ اصلیه څخه زیات وي (حاجتِ اصلیه لکه د اوسېدلو کور، د کور ضروري سامان، د اغوستلو جامې، سپارلي او داسې نور. له دې څخه دا مال زائد وي)، نو داسې کس مالدار (غني) دی او هغه ته زکاة ورکول جائز نه دي (لهذا لوی، لوی دېګونه او فرشونه او داسې نور شیان چې په ډېرو کلونو کي کله نا کله ضرورت ورته پېښېږي، هغه په حاجت اصلیه کي داخل نه دي، داسې سامان والا ته زکاة ورکول جائز نه دي). (شفاء الارواح بحوالۀ عمدۀ الفقه)

وطفل غنی إلخ: یعني د مالداره کس ونا بالغه بچي ته زکاة ورکول جائز نه دي، برابره ده هغه عاقل وي او که نه؛ ځکه نابالغه اولاد د خپل پلار په مالدار والي سره مالداره شمېرل کېږي. ها! که د مالداره کس ځوی بالغ او فقیر وي، نو هغه ته زکاة ورکول جائز دي.

* * *

مسئله: همدارنګه د غريب کس وغيرِ عاقل بچي ته که څوک زکاة ورکړي، نو زکاة نه اداء کيږي، خو که د بچي ولي د بچي له طرفه قبضه باندي وکړي، نو زکاة صحيح کيږي، او که د غريب کس عاقل بچي ته زکاة ورکړي، نو زکاة اداء کيږي. (انوار الايضاح بحوالهٔ در مختار مع الشامي)

بنو هاشم (سيدانو) ته زکاة ورکول جائز نه دي

﴿۱۲۲۰﴾ وَبَنِيْ هَاشِمٍ وَمَوَالِيْهِمْ او (همدارنګه صحيح نه دي د زکاة ورکول) بنو هاشمو او د هغو آزاد کړل سوو غلامانو ته وَاخْتَارَ الطَّحَاوِيُّ جَوَازَ دَفْعِهَا لِبَنِيْ هَاشِمٍ او امام طحاوي رَحِمَهُ الله بنو هاشمو ته د زکاة ورکولو جائز والی اختيار کړی دی.

تشريح: بنوهاشم سيدانو ته زکاة ورکول جائز نه دي، ځکه نبي کريم ﷺ خپل خاندان والا د زکاة او صدقاتِ واجبه له استعمال څخه منع کړي دي، نو ځکه سيدانو او د هغوی آزاد کړل سوو غلامانو ته زکاة ورکول جائز نه دي.

د دغه مسئلې په باره کي د ابو عصمه رَحِمَهُ الله په حواله سره د امام ابو حنيفه رَحِمَهُ الله يو قول دا نقل سوی دی چي په کوم ځای کي د اسلامي حکومت له طرفه د بنو هاشمو لپاره وظيفه مقرّره نه وي، هلته دوی ته زکاة ورکول صحيح دي، همدا قول امام طحاوي رَحِمَهُ الله خوښ کړی دی او بنو هاشمو ته يې د زکاة ورکولو د جائز کېدلو فتویٰ ورکړې ده، خو د فقهاؤ په نيز دا قول مرجوح او غيرِ معتبر دی او صحيح او مفتیٰ به قول همدا دی چي بنو هاشمو سيدانو ته زکاة ورکول صحيح نه دي، خو دوی ته له زکاة او صدقاتِ واجبه څخه بغير نور نفلي صدقات ورکول کېدلای سي، بلکي د پېغمبر ﷺ سره د نسبي نسبت پر بناء د دوی مالي خدمت کول د ډېر لوی ثواب کار دی. (انوار الايضاح)

❀ ❀ ❀

له بنو هاشمو څخه څوک مراد دي؟

له بنو هاشمو څخه د پنځو (۵) خاندانو افراد مراد دي: ① د حضرت علي ؓ تمام اولاد، ② د حضرت عباس ؓ تمام اولاد، ③ د حضرت جعفر ؓ تمام اولاد، ④ د حضرت عقيل ؓ تمام اولاد، ⑤ د حضرت حارث بن عبد المطلب ؓ تمام اولاد. همدارنګه د دې ټولو موالي (يعني کوم غلامان چي دوی آزاد کړي وي)؛ د دغه حضرات او د دوی اولاد په دې وجه بنو هاشم دي چي دا ټول د نبي کريم ﷺ د لوړ نيکه هاشم بن عبد مناف و طرف ته منسوب دي، او د بنوهاشم قبيله هم د هاشم بن عبد مناف و طرف ته منسوبه ده، نو په دې حواله سره دوی ته هاشميان ويل کيږي، او د دوی آزاد سوي غلامان ځکه له دوی څخه شمېرل کيږي چي د نبي ﷺ غلام ابو رافع يو وار له نبي کريم ﷺ

څخه پوښتنه وکړه: أتحلُّ لي الصدقة. (یعني آیا زما لپاره صدقه حلاله ده)، نو نبي کریم ﷺ هغه ته وفرمایل: لا أنت مولانا. (یعني ستا لپاره صدقه حلاله نه ده؛ ځکه ته زموږ آزاد سوی غلام یې)، نو کله چې زموږ لپاره صدقه حلاله نه ده، نو ستا لپاره به څنګه حلاله وي!، ځکه چې ته (خو) هم زموږ په څېر په بنوهاشمو کې داخل او شامل یې.

کومو خپلوانو او قریبانو ته زکاة ورکول جائز نه دي؟

﴿۱۲۲۱﴾ وَأَصْلِ الْمُزَكِّيْ وَفَرْعِهٖ وَزَوْجَتِهٖ او (همدارنګه زکاة ورکول جائز نه دي) د زکاة ورکونکي خپل أصولو (یعني پلار، مور، نیکه، انا او داسې نورو) ته او د زکاة ورکونکي خپل فروعو (ځوی، لور، لمسي او داسې نورو) ته او خپلې ښځې ته وَمَمْلُوْكِهٖ وَمُكَاتَبِهٖ وَمُعْتَقِ بَعْضِهٖ او (نه زکاة ورکول جائز دي) خپل غلام او خپل مکاتب او خپل هغه غلام ته چې د هغه بعضې حصه آزاده کړل سوې وي.

تشریح: مسئله دا ده چې دوه قسمه خپلوانو ته زکاة ورکول جائز نه دي: ① یو خپل أصولو او فروعو ته، أصول یعني د کومو کسانو سره چې د ده د ولادت تعلق وي. یا په بله وینا له کومو کسانو څخه چې دئ پیدا سوی وي لکه مور و پلار، انا او نیکه، ورنیکه.... او فروع یعني کوم کسان چې له ده څخه پیدا سوي وي لکه زوی، لور، لمسی، لمسی....، ② دویم هغه خپلوان دي چې د هغوی سره د ده د نکاح تعلق وي، یعني خاوند خپلو ښځو ته او ښځې خپل خاوند ته زکاة نه سي ورکولای، او له دغه دوه قسمه خپلوانو څخه بغیر ټولو قریبانو ته که هغوی غریبان وي زکاة ورکول جائز دي. لهذا سړی د خپل مور بنې (مېرې)، مړور، یا زوم (د لور خاوند) ته زکاة ورکولای سي کله چې دوی د زکاة مستحق وي، همدارنګه ورور خپلې خور ته او د هغې اولاد ته او همدارنګه خپل اکا، امه، ماما، خاله او داسې نورو ټولو ته زکاة ورکولای سي، او دوی ته زکاة ورکول نه صرف دا چې جائز دي بلکې اولیٰ او غوره دي او دوچنده ثواب پکښې سته: یو د زکاة ورکولو او بل د صله رحمی (یعني د خپلوانو سره د ښهٔ چلند کولو او تعلق ساتلو. لهذا مالداره کس ته پکار دي چې نورو پردیو او دلیرې ځایو خلکو ته د زکاة ورکولو پر ځای اول باید په خپلو قریبانو کې فقیران او غریبان ولټوي او هغو ته دې زکاة ورکړي او که غریب قریب د شرم په وجه زکاة نه ځنې اخلي. نو په پټه تو ګه دې یې د بل چا په ذریعه ورکړي. بیا به زکاة ورکونکی په خپلو سترګو د زکاة برکات وویني، ځکه د دوی حق مقدم دی. همدارنګه د خپل کلي د مسجد او مدرسې والا حق مقدم دی د بلې علاقې له مسجد او مدرسې څخه. لهذا په مرسته کولو او چنده ورکولو کې هغوی مخکې کول پکار دي، او دا ډېر خراب مزاج او بد خصلت دی چې نور لیرې خلک له خپلو مستحقو قریبانو یا له خپل نژدې مسجد او مدرسې څخه مخکې کړل سي، په دې هکله پوره احتیاط کول پکار دي).

ومملوکه ومکاتبه: فرمايي چي خپل غلام او خپل مکاتب ته هم زکاة ورکول جائز نه دي؛ ځکه غلام او د غلام هر څه د مالک دي او د هغه ټوله مال او ګټه د مالک ده، همدارنګه د مکاتب غلام په مال او ګټه کي د مالک حق دی، نو دوی ته زکاة ورکول ګواکي خپل ځان ته زکاة ورکول دي، او خپل ځان ته په زکاة ورکولو سره زکاة نه اداء کيږي.

ومعتق بعضه: همدارنګه هغه غلام چي بعضي حصه يې آزاده سوې وي او بعضي يې نه وي آزاده سوې، هغه ته هم زکاة ورکول جائز نه دي. صورت د مسئلې دا دی چي يو غلام د دوو کسانو په مينځ کي مشترک دی، په دوی کي يوه شريک خپله حصه آزاده کړه، نو شريک آخَر (بل شريک) ته اختيار دی چي که دئ هم خپله حصه آزادوي او که په غلام کسب او کار کوي او د خپلي حصې قيمت ځني اخلي، اوس که شريک آخَر د خپلي حصې قيمت اخيستل اختيار کړي، نو دا غلام د شريک آخَر په حق کي د مکاتب په درجه کي دی او خپل مکاتب ته زکاة ورکول جائز نه دي، نو ځکه د شريک آخَر لپاره هم خپل دغه غلام (معتق البعض) ته زکاة ورکول جائز نه دي. (انوار الايضاح، شفاء الارواح)

د زکاة مال د مړي په کفن او قرض کي خرچول

﴿۱۲۲۲﴾ وَ كَفَنِ مَيِّتٍ وَ قَضَاءِ دَيْنِهِ او (همدارنګه د زکاة صرفول جائز نه دي) د مړي په کفن کي او د مړي په قرض اداء کولو کي وَثَمَنِ قِنٍّ يُعْتَقُ او د داسي غلام په قيمت کي کوم چي آزادول کيږي.

لغات: ﴿قِنّ﴾ خالص غلام (کوم چي مکاتب او مدبر نه وي)، جمع: أقنان.

تشريح: مسئله دا ده چي د زکاة په مال سره مړي ته کفن ورکول جائز نه دي او د زکاة په مال سره د مړي قرض اداء کول جائز دي؛ ځکه د زکاة رکن تمليک (مالک جوړول) دي او مړی مالک نه سي جوړول کېدای؛ ځکه چي په هغه کي د مالک جوړېدلو صلاحيت نسته.

وثمن قن: يعني د زکاة په مال سره د آزادولو لپاره غلام يا مينځه رانيول جائز نه دي (چي غلام يا مينځه رانيسي د زکاة په مال سره او آزاد يې کړي)، په دې سره زکاة نه اداء کيږي.

❀ ❀ ❀

دلته صاحب د البحرُ الرائق د زکاة صحيح کېدلو لپاره يوه حيله ليکلې ده او هغه دا چي په داسي صورت کي دي يو فقير ته زکاة ورکول سي او هغه ته دي ووېل سي چي ته په دې مال سره د مړي لپاره د کفن او دفن انتظام وکړه! يا په دې سره غلام رانيسه! او آزاد يې کړه!، نو په دې توګه به د

مالک زکاة هم اداء سي او فقير ته به په مذکوره شيانو باندي د مال خرچ کولو ثواب هم حاصل سي. (البحر الرائق ج: ۲، ص: ۲۶۱)

مالدار کس ته د فقير په ګومان د ورکول سوي زکاة حکم

﴿۱۲۲۳﴾ وَلَوْ دَفَعَ بِتَحَرٍّ لِمَنْ ظَنَّهُ مَصْرِفًا او که ورکړي (زکاة) په غور و فکر سره (يعني تر طلب او تلاش وروسته) داسي کس ته چي پر هغه يې د مستحق ګومان کړی وي فَظَهَرَ بِخِلَافِهِ بيا هغه د دې په خلاف ښکاره سي (مثلا مالدار يا سيد ثابت سي) أَجْزَأَهُ نو ده لره کافي دي (زکاة يې اداء کيږي) إِلَّا أَنْ يَّكُوْنَ عَبْدَهُ وَ مُكَاتَبَهُ مګر دا چي هغه د ده غلام او مکاتب وي.

لغات: ﴿تَحَرٍّ﴾ د تفعّل د باب مصدر دی، د دې خپله معنیٰ ده: غور و فکر کول، طلب کول، او صاحب د شفاءُ الارواح دلته د تحرّي مطلب دا بيان کړی دی چي په اټکل سره د يو شي په باره کي غالب ګومان حاصلول.

تشريح: صورت د مسئلې دا دی چي که زکاة ورکونکی له ښه غور و فکر کولو څخه وروسته پر يو کس د فقير ګومان وکړي مثلاً هغه کس خپل شکل د فقيرانو په څېر جوړ کړی وي، يا د فقيرانو په صف کي ولاړ وي او هغه ته زکاة ورکړي، له تحقيق څخه وروسته معلومه سي چي هغه کس خود زکاة مستحق نه وو، مثلاً مالداره وو، يا هاشمي (سيّد) وو، يا کافر وو، يا هغه د زکاة ورکونکي خپل پلار يا ځوی او داسي نور وو، نو په داسي صورتونو کي د زکاة ورکونکي زکاة اداء کيږي، لېکن که هغه کس د ده غلام يا مکاتب وو، نو بيا يې زکاة نه اداء کيږي؛ ځکه خپل غلام او مکاتب د خپل مال مالکان نه سي جوړول کېدلای، حال دا چي د زکاة اداء کېدلو رکن تمليک (مالک جوړول) دي. (انوار الايضاح، شفاء الارواح)

له نصاب څخه د زيات زکاة ورکولو حکم

﴿۱۲۲۴﴾ وَكُرِهَ الْإِغْنَاءُ او مکروه دي (فقير) مالداره کول (د نصاب مالک جوړول) وَهُوَ أَنْ يَّفْضُلَ لِلْفَقِيْرِ نِصَابٌ بَعْدَ قَضَاءِ دَيْنِهِ وَبَعْدَ إِعْطَاءِ كُلِّ فَرْدٍ مِنْ عِيَالِهِ دُوْنَ نِصَابٍ مِنَ الْمَدْفُوْعِ إِلَيْهِ او هغه دا دي چي زائد پاته سي د فقير سره يو نصاب د ده د قرض تر اداء کولو وروسته او د ده له عيال څخه و هر فرد ته تر نصاب د کم ورکول کېدلو څخه وروسته له هغه مال څخه کوم چي ده ته ورکول سوی دی (يعني د مالداره کولو صورت دا دی چي د فقير د قرض تر اداء کېدلو وروسته او

د هغه له عیال څخه وهر فرد ته تر نصاب د کم مال رسېدلو څخه وروسته بیا هم د فقیر سره د نصاب مقدار پاته سي) وَإِلَّا فَلَا يُكْرَهُ کني مکروه نه دی.

لغات: ﴿الإغناء﴾ د افعال د باب مصدر دی: مالداره کول (مالداره جوړول)، بې پروا کول (مستغني کول).

تشریح: مسئله دا ده چي فقیر کس مالداره کول یعني له نصاب (دوه سوه درهمو) څخه زیات مال د زکاة په توګه ور کول مکروه دي، په دې شرط چي پر هغه هیڅ قرض نه وي او د هغه عیال نه وي، نو که پر هغه قرض وي (مقروضه وي)، نو هغه ته دومره د زکاة مال ور کول چي تر قرض اداء کولو وروسته له نصاب (دوه سوه درهمو) څخه کم ور سره پاتېږي، بېله کراهته جائز دي او که پوره نصاب ور سره پاتېږي، نو مکروه دي.

همدارنګه که هغه د عیال خاوند وي، نو دومره د زکاة مال ور کول چي که د هغه پر عیال تقسیم کړل سي، نو هر یوه ته له نصاب (دوه سوه درهمو) څخه کمه حصه رسېږي، بېله کراهته جائز دي، او که په اهل وعیال کي خو هر کس ته له نصاب څخه کمه حصه ور سېږي، لېکن خپله فقیر ته پوره نصاب پاتېږي، نو دا هم مکروه دي. (شفاء الارواح)

خومره زکاة ور کول پکار دي؟

﴿۱۳۲۵﴾ وَنُدِبَ إِغْنَاؤُهُ عَنِ السُّؤَالِ او مستحب دي فقیر له سوال څخه بې پروا کول (مستغني کول).

تشریح: مستحق کس او فقیر ته دومره مال ور کول مستحب دي چي په هغه ورځ دئ سوال او خواست محتاجه نه سي، او افضل او غوره دا ده چي دده د قرض او دده د اهل وعیال د ضرورت په لحاظ کولو سره زکاة ور کول سي، او له ضرورت څخه مراد صرف خوراک نه دی، بلکي کپړه (جامه)، تېل، د کور کرایه او داسي نور ټول هغه شیان چي دئ د خپل ځان او د خپل اهل وعیال لپاره په هغه ورځ ور ته محتاج وي. په متفرّقه توګه وځو کسانو ته د لږ، لږ ور کولو پر ځای د یوه کس ضرورتونه پوره کول افضل دي. (شفاء الارواح بحوالۂ ایضاح الاصباح)

بل ښار ته د زکاة وړلو حکم

﴿۱۳۲۶﴾ وَكُرِهَ نَقْلُهَا بَعْدَ تَمَامِ الْحَوْلِ لِبَلَدٍ آخَرَ او مکروه دي د زکاة نقلول (وړل) د کال تر پوره کېدو وروسته و بل ښار ته لِغَيْرِ قَرِيبٍ وَأَحْوَجَ وَأَوْرَعَ وَأَنْفَعَ لِلْمُسْلِمِينَ بِتَعْلِيمٍ

داسي کس ته (ورکړل) کوم چي نه وي قريب يا (نه وي) زيات محتاجه يا زيات تقویٰ داره يا د تعليم په سلسله کي د مسلمانانو لپاره زيات نفع مند.

لغات: ﴿أحوج﴾ اسم تفضيل دی: زيات محتاج، ﴿أورع﴾ دا او أنفع هم اسم تفضيل دی: زيات پرهېزګاره، زيات تقویٰ داره، ﴿أنفع﴾ زيات نفع مند (ګټور).

تشريح: مسئله دا ده چي د زکاة مال له يوه ښار څخه وبل ښار ته وړل مکروه دي، ها! که په بل ښار کي د ده غريب قريب وي، يا د بل ښار خلک له دې ښار والا څخه زيات محتاجه وي، يا مثلاً بعضي مدرسې په داسي پسمانده علاقو کي واقع وي چي هلته تعاون ورسره کول د ديني تعليم د بقاء لپاره ضروري وي، يا د بل ښار فقير زيات پرهېزګاره وي، يا هغه داسي کس وي چي مسلمانانو ته له هغه څخه زيات نفع رسيږي، نو په دې صورتونو کي بل ښار او علاقې ته د زکاة په وړولو کي هيڅ کراهت نشته، بلکي د زيات ثواب باعث دي. (شفاء الارواح، انوار الايضاح)

کومو کسانو ته زکاة ورکول افضل او غوره دي؟ (غريب قريبان، بيا همسايه ګان...)

﴿۱۲۲۷﴾ وَالْأَفْضَلُ صَرْفُهَا لِلْأَقْرَبِ فَالْأَقْرَبِ مِنْ كُلِّ ذِيْ رَحِمٍ مَحْرَمٍ مِنْهُ او افضل دي د زکاة خرچ کول (ورکول) تر ټولو نږدې قريب ته بيا (تر هغه وروسته) نږدې قريب په خپل ذی رحم محرم قريبانو کي (يعني په خپل ذی رحم محرم قريبانو کي تر ټولو نږدې قريب ته زکاة ورکول افضل دي بيا تر هغه وروسته نږدې قريب ته..) ثُمَّ لِجِيْرَانِهٖ بيا خپلو همسايه ګانو ته ثُمَّ لِأَهْلِ مَحَلَّتِهٖ بيا خپلي محلې (کلي) والا ته ثُمَّ لِأَهْلِ حِرْفَتِهٖ بيا خپل هم کسب (هم پېشه) والا ته ثُمَّ لِأَهْلِ بَلَدَتِهٖ بيا خپل ښار والا ته وَقَالَ الشَّيْخُ أَبُوْحَفْصِ الْكَبِيْرِ رَحِمَهُ اللهُ او شيخ ابو حفص کبير رَحِمَهُ الله فرمايلي دي لَا تُقْبَلُ صَدَقَةُ الرَّجُلِ وَقَرَابَتُهُ مَحَاوِيْجُ چي نه قبلول کيږي صدقه د سړي په داسي حال کي چي د هغه خپل قريبان محتاجه وي حَتّٰى يَبْدَأَ بِهِمْ فَيَسُدُّ حَاجَتَهُمْ تر دې چي په هغوی شروع وکړي او د هغوی ضرورت ور پوره کړي.

لغات: ﴿جيران﴾ جمع د جَارٌ ده: همسايه، ﴿أهل حرفة﴾ پېشه ور، کسب و پېشې والا، ﴿ذی رحم محرم﴾ هغه قريب چي نکاح ورسره کول د همېشه لپاره حرام وي، ډېر نږدې قريب، لکه ورور،

خور، د دوی اولاد، اکا، امه، ماما، خاله او داسي نور، کله چي دا خلک د زکاة مستحق وي،

﴿محاویج﴾ جمع د مُحْوَجٌ ده: (احتیاج مند)، ضرورت مند. (انوار الایضاح)

تشریح: د زکاة ورکولو په وخت کي افضل دا ده چي اول وخپلو قریبانو ته ورکول سي، دوی ته په زکاة ورکولو کي دوچنده ثواب دی: یو د زکاة او بل د صله رحمی او قرابت، ښکاره دي وي چي له اُصولو او فروعو (لکه مخکي چي ذکر سوه) څخه بغیر بل هر غریب احتیاج مند قریب مثلاً ورور او خور، د دوی اولاد، اکا، امه، ماما، خاله، خوربی او داسي نور تولو ته زکاة ورکول شرعاً صحیح دي بلکي افضل دي، بیا تر دې وروسته د همسایه گانو حق دی، بیا د کلي او محلې والا حق دی، بیا د خپل هَم پېشه خلکو حق دی (کوم چي د ده سره په پېشه او کسب کي شریکان وي)، بیا د خپل ښار والا حق دی.

که غریب قریب موجود وي او زکاة بل چا ته ورکول سي، نو زکاة یې نه قبلیږي

وقال الشیخ لاتُقْبَل إلخ: مصنف رَحِمَهُ الله په عبارت کي د شیخ ابو حفص کبیر رَحِمَهُ الله قول نقل کړی دی، په دې باره کي علامه شامي رَحِمَهُ الله له حضرت ابو هریره ﷺ څخه یو مرفوع روایت هم په وضاحت سره نقل کړی دی چي نبي کریم ﷺ وفرمایل: اې خلکو! په هغه ذات دي مي قسم وي چا چي زه په حق سره رالېږلی یم چي الله تعالیٰ د هغه کس صدقه و خیرات نه قبلوي (یعني هغه ته یې ثواب نه حاصلیږي، که څه هم فریضه د هغه له غاړي څخه ساقطیږي) چي د هغه قریبان احتیاج مند وي او هغه یې پر نورو خرچ کړي او په هغه ذات دي مي قسم وي د چا په قبضه کي چي زما روح دی، الله تعالیٰ به د قیامت په ورځ د داسي کس وطرف ته د نظر په رحمت سره نه وگوري. (الله تعالیٰ دي مو وساتي او الله تعالیٰ دي موږ ته د غریب قریب سره د تعاون او ښه سلوک توفیق راکړي، آمین). (انوار الایضاح بحوالۀ شامي ج: ۲، ص: ۹۳، او طبع بیروت ج: ۳، ص: ۲۷۴)

⁂

بَابُ صَدَقَةِ الْفِطْرِ

(دا) باب د صدقة الفطر (سرسایې، په بیان کي) دی

تشریح: څرنګه چي زکاة او صدقة الفطر (سرسایه) دواړه مالي عبادتونه دي، نو ځکه یې یو تر بل وروسته بیان کړي دي، خو څرنګه چي زکاة فرض دی او صدقهٔ فطر واجب ده، او ښکاره ده چي د فرضو درجه له واجبو څخه مخکي وي، نو ځکه یې مخکي د فرضو یعني د زکاة احکام او مسائل بیان کړل، او اوس د واجب یعني د صدقهٔ فطر مسائل بیانوي.

د صدقه لغوي او اصطلاحي معنیٰ: د صدقه معنیٰ ده: ورکړه (عطیه)، او دلته څني مراد هغه ورکړه او عطیه ده چي هغه د الله جَلَّ جَلَالُهٗ د تقرّب (نژدیکت حاصلولو) په خاطر ورکړل سي. د صدقة الفطر شرعي او اصطلاحي تعریف دا دی: هغه مال چي د عبادت او صلې په توګه د ترحّم په خاطر ورکړل سي، او صدقه ته په دې وجه صدقه وایي چي په دې سره په ثواب حاصلولو کي د انسان غوښتنه او رغبت صادق (رښتونی) وي.

د حدیثو په کتابو کي د صدقة الفطر لپاره څو نومان ذکر سوي دي: (۱) صدقة الفطر، (۲) زکوة الفطر، (۳) زکوة رمضان، (۴) زکوة صوم، (۵) صدقة الصوم، (۶) صدقة رمضان، (۷) صدقة الرؤوس، (۸) زکوة الأبدان.

د روژې زکاة (صدقهٔ فطر): روژتي که هر څومره هم پرهېز او پابندي وکړي، خو بیا هم د روژې په دروان کي څه ناڅه کمي او کوتاهي پېښېږي، له خوراک، څښاک او داسي نورو څخه پرهېز او بچ کېدل خو آسانه وي، لېکن د لغو کلام، بې ځایه مصروفیاتو او نامناسبه خبرو څخه پوره پرهېز نه سي کېدلای، نو ځکه د داسي کمیو او کوتاهیو د تلافۍ او جبران لپاره شریعت د رمضانُ المبارک په آخر کي د صدقة الفطر په نامه سره (ګواکي د روژې زکاة) جلا واجب کړې ده، له حضرت عبد الله ابن عباس رضی الله عنهما څخه روایت دی چي نبي کریم ﷺ صدقة الفطر ضروري وګرځوله کوم چي د روژتي د لغو او فحش خبرو څخه د پاکۍ ذریعه ده او د مسکینانو لپاره د خوراک انتظام دی، کوم څوک چي هغه د اختر تر لمانځه مخکي اداء کړي، نو دا مقبول زکاة دی او کوم څوک چي هغه تر لمانځه وروسته اداء کړي، نو دا له عامو صدقاتو څخه یو صدقه ده. (انوار الایضاح بحوالۂ ابو داؤد شریف حدیث شمېره: ۱۶۰۹)

له دغه روایت څخه معلومه سوه چې د صدقهٔ فطر د واجبېدلو دوه مقصده ده: ① په روژه کې د واقع سوي کمی او کوتاهی تلافي، ② د اُمت د مسکینانو لپاره د اختر په ورځ د رزق انتظام، د دې لپاره چې هغوی هم په دې ورځ د خلکو سره په خوشحالیو کې شریک سي، په همدې وجه نبي کریم ﷺ فرمایلې دي چې "أَغْنُوْهُمْ عَنِ السُّؤَالِ فِي هٰذَا الْيَوْمِ" (منهاج المسلم ص: ٢٣٢)، یعنې په دې ورځ مسکینانو ته دومره مال او خرچه ورکړئ! چې هغوی هم له سوال کولو څخه مستغني سي، نو ځکه په مال لرونکو مسلمانانو باندې لازمه ده چې پر خپل وخت د صدقهٔ فطر اداء کولو پابندي وکړي، لکه څرنګه چې په پورتنې حدیث کې ذکر سوه چې د اختر تر لمانځه مخکې د صدقهٔ فطر اداء کولو ثواب زیات دی، پر همدې بنیاد عبد الله بن عمر رضی الله عنهما به له اختر څخه دوې، درې ورځې مخکې صدقهٔ الفطر اداء کوله (ابو داؤد شریف، حدیث شمېره: ١٦١٠)، او دا مناسب هم ده، د دې لپاره چې مستحق غریبان له مخکې څخه اختر ته تیاری وکړل سي.

د صدقهٔ فطر مشروعیت: صدقهٔ فطر له زکاة څخه مخکې د هجرت په دویم کال تر اختر دوې ورځې مخکې مشروع سوه. (شفاء الارواح، فتح الهدایه. و انوار الایضاح بحوالهٔ اوجز المسالک)

صدقة الفطر پر چا واجب ده؟

﴿١٢٢٨﴾ تَجِبُ عَلٰى حُرٍّ مُسْلِمٍ مَالِكٍ لِنِصَابٍ أَوْ قِيْمَتِهِ صدقهٔ فطر واجب ده پر (هر) آزاد مسلمان کوم چې د نصاب یا د هغه د قیمت مالک وي وَإِنْ لَّمْ يَحُلْ عَلَيْهِ الْحَوْلُ که څه هم پر نصاب کال نه وي تېر سوی عِنْدَ طُلُوْعِ فَجْرِ يَوْمِ الْفِطْرِ د کوچني اختر د صبح صادق راختلو (سپېده چاود) په وخت کې وَلَمْ يَكُنْ لِلتِّجَارَةِ او (که څه هم هغه نصاب یا د نصاب قیمت) د تجارت لپاره نه وي فَارِغٍ عَنِ الدَّيْنِ وَحَاجَتِهِ الْأَصْلِيَّةِ وَحَوَائِجِ عَيَالِهِ (خو) فارغ (او زائد) وي له قرض او د ده له اصلي حاجت او د عیال له حاجاتو (ضروریاتو) څخه.

﴿١٢٢٩﴾ وَالْمُعْتَبَرُ فِيْهَا الْكِفَايَةُ لَا التَّقْدِيْرُ او معتبر په حاجت (ضرورت) کې کافي کېدل دي، نه (له خپل خلته) فرض کول (یعني صرف د کافي کېدلو امکان او اټکل معتبر نه دی) وَهِيَ مَسْكَنُهُ وَأَثَاثُهُ وَثِيَابُهُ او حاجت د ده کور (استوګنځی) او د کور سامان او د ده جامې دي وَفَرَسُهُ وَسِلَاحُهُ وَعَبِيْدُهُ لِلْخِدْمَةِ او (همدارنګه) د ده آسونه او د ده وسله او د ده د خدمت غلامان دي.

لغات: ﴿مسکن﴾ استوګنځی (داوسېدلو ځای)، ﴿أثاث﴾ د کور سامان. د زینت او ښکلا سامان.

﴿عبید﴾ جمع د عَبْدٌ ده: غلام.

تشریح: د عبارت حاصل دا دی چي صدقهٔ فطر پر هغه کس واجب ده چي په هغه کي درې شرطونه موجود سي: ① آزاد به وي، پر غلام صدقهٔ فطر واجب نه ده. ② مسلمان به وي. پر کافر صدقهٔ فطر واجب نه ده. ③ د نصاب د مقدار به مالک وي، برابره ده هغه نصاب نامي وي، که نه وي او کال باندي تېر سوی وي، که نه وي، خو هغه به د ده او د ده د اهل وعیال له اصلي حاجت و ضرورت او قرض څخه به زائد (اضافه) وي، حاجت مثلاً له دې څخه شیانو څخه به زائد وي: د اوسېدلو کور، د اغوستلو جامې، د کورني استعمال سامان، د سپر تیا آسونه، د خدمت غلامان. لهذا د کوم چا سره چي له حاجت اصلیه څخه زائد سامان وي او د هغوی قیمت د نصاب برابر وي، نو پر هغه صدقهٔ فطر واجبیږي، مثلاً که د چا دوه کورونه وي: په یوه کي اوسیږي او په بل کي نه اوسیږي. نو برابره ده هغه یې په کرایه ورکړی وي او که نه، په دواړو صورتونو کي که هغه د نصاب (دوه سوه درهمو) برابر وي، نو پر هغه صدقهٔ فطر واجبیږي.

عند طلوع الفجر: صدقهٔ فطر د کوچني اختر په ورځ تر صبح صادق (طلوع الفجر) وروسته واجبیږي، لهذا کوم څوک چي تر صبح صادق مخکي مړ سوی وي، پر هغه صدقهٔ فطر واجب نه ده او کوم څوک چي په دې ورځ تر صبح صادق وروسته مړ سوی وي، پر هغه صدقهٔ فطر واجب ده.

والمعتبر الخ: یعني پورته چي کوم دریېم شرط بیان سو چي د نصاب په اندازه مال به د ده او اهل وعیال له ضرورت څخه زائد وي، نو په دې باره کي فرمایي چي د ده سره به دومره مال وي چي خپله د ده او د بچیانو د ضرورت لپاره فی الواقع کافي کیږي، صرف د کافي کېدلو امکان او اندازه (اټکل) کافي نه دی، لکه څرنګه چي په بعضي عبادتونو کي صرف امکان شرط وي او دا پکښي ضروري نه وي چي په حقیقت کي به وي، مثلاً په سفر کي صرف د تکلیف د امکان په وجه قصر کیږي یعني په سفر کي دا فرض کړل سوي (اټکل سوي) ده چي په سفر کي تکلیف دی او دا ضروري نه ده چي په حقیقت کي تکلیف دی، همدا وجه ده چي په راحت او آرام سره سفر کونکی به همداسي قصر کوي لکه څرنګه چي په تکلیف سره سفر کونکی قصر کوي. (شفاء الارواح بتصرّف)

صدقهٔ فطر به سړی د خپل ځان، بچیانو او غلامانو له طرفه اداء کوي

﴿۱۲۲۰﴾ فَيُخْرِجُهَا عَنْ نَفْسِهٖ وَأَوْلَادِهِ الصِّغَارِ الْفُقَرَاءِ نو صدقهٔ فطر (سرسایه) به باسي له خپل طرفه او د خپل کوچنیو (نابالغه) غریبو بچیانو له طرفه وَإِنْ كَانُوْا أَغْنِيَاءَ او که د ده بچي

مالداره وي يُخْرِجُهَا مِنْ مَالِهِمْ نو (بیا) به یې د دوی له مال څخه باسي.

تشریح: صدقۂ فطر د خپل ځان له طرفه او د خپل نا بالغه اولاد له طرفه اداء کول واجب دي؛ ځکه د صدقۂ فطر د واجبېدلو سبب داسي ذات دی چي سړی د هغه خرچ زغمي (نفقه ورکوي) او چي هغه د سړي تر سرپرستۍ لاندي وي، خو په دې شرط چي نا بالغه بچیان خپله دیو نصاب مالکان نه وي، لېکن که بچیان خپله د نصاب خاوندان وي، نو بیا پر پلار نه واجبیږي، بلکي خپله د دوی له مال څخه به صدقۂ فطر ایستل کیږي.

﴿ ۱۲۲۱ ﴾ وَلَاتَجِبُ عَلَى الْجَدِّ فِيْ ظَاهِرِالرِّوَايَةِ او (دلمسیانو صدقۂ فطر) پر نیکه واجب نه ده په ظاهر روایت کي وَاخْتِيْرَأَنَّ الْجَدَّ كَالْأَبِ عِنْدَ فَقْدِهٖ أَوْ فَقْرِهٖ او غوره کړل سوې ده (یعني مختار قول دا دی) چي نیکه د پلار په څېر دی، د پلار د نشتوالي (ناموجودیت) یا فقیر والي په وخت کي.

لغات: ﴿أُخْتِيْرَ﴾ دافتعال له بابه ماضي مجهوله ده، مصدر: اِخْتِيَار: خوښول، اختیارول (غوره کول)، په اصل کي أُخْتُيِرَوو، له ضمې څخه وروسته کسره پر یاء ثقیله وه، نو کسره یې ماقبل ته نقل کړه او د تاء ضمه یې لیري کړه أُخْتِيْرَسو.

تشریح: د عبارت حاصل دا دی چي پر نیکه د لمسیانو صدقۂ فطر اداء کول واجب نه دي، که څه هم د دوی پلار (د نیکه زوی) موجود نه وي، دا ظاهر روایت دی؛ ځکه د نیکه ولایت مطلق نه وي، خو غوره او مختار مذهب دا دی چي نیکه د پلار په څېر دی که چیري پلار موجود نه وي یا موجود خو وي، لېکن محتاج او مفلسه وي، نو په دواړو صورتونو کي پر نیکه د نابالغه لمسیانو او لمسیو صدقۂ فطر واجبیږي. (انوار الایضاح)

﴿ ۱۲۲۲ ﴾ وَعَنْ مَمَالِيْكِهٖ لِلْخِدْمَةِ وَمُدَبَّرِهٖ وَأُمِّ وَلَدِهٖ او (همدارنګه صدقۂ فطر به باسي) د خپل هغه غلامانو له طرفه کوم چي د خدمت لپاره دي او د خپل مدبّر غلام او اُمِّ ولد مینځي له طرفه وَلَوْكُفَّارًا که څه هم هغوی کافران وي لَاعَنْ مُكَاتَبِهٖ وَلَاعَنْ وَلَدِهِ الْكَبِيْرِوَزَوْجَتِهٖ وَقِنٍّ مُشْتَرَكٍ نه د خپل مکاتب له طرفه او نه د خپل لوی (بالغ) ځوی او خپلي ښځي او مشترک غلام له طرفه وَآبِقٍ إِلَّابَعْدَ عَوْدِهٖ او (نه) د تښتېدلي غلام له طرفه مګر د هغه تر واپس راتللو

وروسته وَكَذَا الْمَغْصُوْبُ وَالْمَأْسُوْرُ او همدارنګه (حکم دی د) غصب کړی سوي او قید کړی سوي (بندي) غلام (چې د دوی له طرفه به هم صدقهٔ فطر نه باسي، خو که دوی واپس ترلاسه سي. نو د تېرو کلونو صدقهٔ فطر يې واجبېږي (انوار الایضاح، عون المفتاح)).

لغات: ﴿ممالیك﴾ جمع د مَمْلُوْكٌ ده: هغه کس کوم چې د بل چا تر ملکیت لاندي وي (یا په بله ورنا: کوم چې د بل چا په غلامتوب کې وي)، د مذکر او مؤنث یعني د غلام او مینځې دواړو لپاره استعمالیږي. ﴿مدبّر﴾ هغه غلام چې مالک ورته ویلي وي: چې زما تر مرګ وروسته ته آزاد يې (یعني د هغه آزادي يې پر خپل مرګ معلقه کړې وي). ﴿مکاتب﴾ هغه غلام چې خپل مالک ورته ویلي وي: چې ته ما ته دومره پیسې راوړه! (مثلاً پنځه سوه درهمه راوړه!) نو ته آزاد يې! او غلام دا معامله منظور کړي، نو دې غلام ته مکاتب وایي او دغه معاملې ته کتابت وایي. ﴿مأسور﴾ د ضرب له بابه مفعول دی: قید کړی سي (بندي). أَسَرَ يَأْسِرُ أَسْرًا او إِسَارًا: قیدول (بندي کول).

تشریح: د عبارت حاصل دا دی چې څرنګه چې د نابالغه بچیانو له طرفه سړی صدقهٔ فطر اداء کوي، همداسې به يې د خپلو غلامانو له طرفه هم اداء کوي؛ ځکه مخکې ذکر سوه چې د صدقهٔ فطر د واجبېدلو سبب هغه ذات دی کوم چې سړی د هغه خرچ زغمي (نفقه ورکوي) او چې هغه د سړي تر ولایت او سرپرستی لاندي وي، او غلام همداسې دی. او په دې خبره کې غلام او مینځه ټوله سره برابر دي، همداسې برابره ده هغوی مسلمانان وي او که کافران وي. نو د هر غلام او مینځې صدقهٔ فطر پر مالک واجب ده. په مسلمان او نامسلمان کې توپیر کول صحیح نه دي او دا مسئله اوس مهمه نه ده؛ ځکه اوس غلامان نسته.

ولا عن ولده الکبیر إلخ: د بالغ اولاد خرچ پر پلار واجب نه دی؛ نو ځکه د دوی صدقهٔ فطر هم پر پلار واجب نه ده، لېکن که دوی د پلار په پالنه کې اوسیږي او پلار د دوی له طرفه صدقهٔ فطر اداء کړي، نو صحیح کیږي. او که یو زوی مجنون (لېونی) وي یا د عقل په اعتبار سره کمزوری وي، نو د هغه له طرفه به هم پلار صدقهٔ فطر اداء کوي، که څه هم بالغ او لوی وي.

وزوجته: همدارنګه د ښځې صدقهٔ فطر پر خاوند واجب نه ده. که چیري ښځه د نصاب مالکه وي، نو صدقهٔ فطر خپله پر هغې واجب ده، لېکن که خاوند يې د هغې له طرفه اداء کړي، نو اداء کیږي برابره ده له ښځې څخه يې اجازه اخیستې وي او که نه وي.

وقن مشترك: یعني که یو غلام د دوو کسانو تر مینځ مشترک وي، نو د هغه صدقهٔ فطر له دوی څخه پر یوه شریک هم نه واجبیږي؛ ځکه له دوی څخه یوه ته هم پر هغه ولایت تامه نسته او نه پر یوه د هغه کامله نفقه لازم ده. حال دا چې دا دواړه شیان د صدقة الفطر د وجوب سبب دي.

و آبق إلخ: یعني که د یو چا غلام تښتېدلی وي یا غلام یو چا غصب کړی وي یا قید کړی سوی وي. نو پر مالک د دوی صدقهٔ طرف واجب نه ده تر هغه وخته پوري چې دوی واپس د مالک په قبضه کي راسي. (انوار الایضاح. شفاء الارواح)

د صدقهٔ فطر شرعي مقدار

﴿۱۲۲۲﴾ وَهِيَ نِصْفُ صَاعٍ مِنْ بُـرٍّأَوْ دَقِيْقِـهٖ أَوْ سَوِيْـقِهٖ او صدقهٔ فطر (سرسایه) له غنمو څخه یا د غنمو له اوړو یا د غنمو له نینو څخه نیم صاع ده أَوْ صَاعُ تَمْـرٍأَوْ زَبِيْـبٍ أَوْ شَعِيْرٍ یا د خرماوو یا کشمشو یا اوربشو یو صاع دی وَهُوَثَمَانِيَةُ أَرْطَالٍ بِالْعِرَاقِيِّ او صاع اته رطله دی په عراقي رطل سره (یعني یو صاع اته عراقي رطله کیږي).

لغات: ﴿دقیق﴾ وچ اوړه، ﴿سویق﴾ نینې، ﴿تمر﴾ خرما، کجوري، ﴿زبیب﴾ کشمش، وشکي (وچ کړل سوي انګور)، ﴿شعیر﴾ اوربشي.

تشریح: د صدقهٔ فطر مقدار له غنمو یا د غنمو له اوړو څخه د احنافو په نیز نیم صاع دی، او له خرماوو یا له کشمشو یا اوربشو څخه یو صاع دی، او د راجح قول مطابق له کشمشو څخه هم نیم صاع دی د غنمو په څېر (او د ائمه ثلاثه وو په نیز له هري غلې څخه یو صاع دی). نو اوس که څوک د غنمو یا اوړو یا د نینو په ذریعه صدقهٔ فطر ورکول غواړي، نو هغه به د هر نفر او هر فرد له طرفه نیم صاع ورکوي، همدا د کشمشو حکم دی د راجح قول مطابق چې نیم صاع به ورکوي، او که د کجورو او خرماوو په ذریعه صدقهٔ فطر ورکول وغواړي، نو بیا به یو صاع ورکوي.

❀ ❀ ❀

د صاع مقدار

یو صاع اته (۸) عراقي رطله کیږي، کوم چې تقریباً زموږ د وزن په اعتبار سره دري نیم کېلو کیږي (په پاکستاني کېلو سره)، ځکه رطل په اوسني حساب سره (۴۴۲.۵۲) ګرامه کیږي، یعني څلور سوه دوڅلوېښت ګرامه کیږي او لږ څه زیات. نو دې ته چې په اته (۸) کي ضرب ورکول سي،

مجموعتاً درې زره پنځه سوه اته دېرش (۳۵۳۸) ګرامه کیږي یعني تقریباً درې نیم کیلو (ځکه زر ګرامه یو کیلو دی).

د صاع وزن د اوسني او پخواني وزن په اعتبار سره

صاع	رطل	کیلو	ګرام	لیټر
یو صاع	۸ رطله	۳.۵۳۸ (یعني ۳ کیلو او ۵۳۸ ګرامه کیږي) تقریباً درې نیم کیلو	۳۵۳۸	۵.۸۸
نیم صاع	۴ رطله	۱.۷۶۹ (یعني یو کیلو او ۷۶۹ ګرامه کیږي) تقریباً پاؤ کم دوه کیلو	۱۷۶۹	۲.۹۴

د مالداره کسانو لپاره مشوره

نن سبا د نیم صاع قیمت ډېر کم پرېوځي (تقریباً ۱۲۰ یا ۱۳۰ کلداري) کوم چي د مالداره کسانو لپاره هیڅ وقعت او حیثیت نه لري، نو ځکه سرمایه داره خلکو ته مشوره ورکول کیږي چي د زیات ثواب حاصلولو لپاره د نیم صاع غنمو پر ځای د یو صاع خرماوو یا کشمشو د قیمت صدقۂ فطر ورکړي، په دې کي به ثواب هم زیات حاصل سي او فقراؤ ته به نفع هم زیاته حاصله سي (او بعضي بزرګانو ته په تجربه سره دا خبره ثابته سوې ده چي که دارزانه صدقۂ فطر انیم صاع غنموا پر ځای لوړ قیمت والا صدقۂ فطر ورکول سي، نو ټوله کال به تنګي باندي را نه سي او په پراخي کي به وي ان شاءالله تعالیٰ)، په یو روایت کي دي چي کله حضرت علي ﷛ د بصرې ښار ته راغلی او هغه ولیدل چي د غنمو بازاري نرخ ارازنه دی، نو ویې فرمایل: چي الله تعالیٰ په تاسو باندي پراخي را وستې ده (یعني مالداره یاست)، لهذا که تاسي صدقۂ فطر له هر شي څخه د یوه صاع په حساب سره وباسئ! ، نو زیاته ښه ده (ابوداؤد. حدیث: ۱۶۲۲). له دې څخه معلومه چي وس لرونکو کسانو ته په زیاتوب او اضافه سره صدقۂ فطر ایستل پکار دي. (انوار الایضاح)

په صدقۂ فطر کي قیمت ورکول جائز نه، بلکي افضل دي

﴿۱۳۳۴﴾ وَيَجُوْزُ دَفْعُ الْقِيْمَةِ او د قیمت ورکول (هم) جائز دي وَهِيَ أَفْضَلُ عِنْدَ وِجْدَانِ مَا يَحْتَاجُهُ او همدا (قیمت ورکول) افضله دي د هغه شي د پیدا کېدو (ترلاسه کېدو) په وخت کي کوم ته چي فقیر محتاج (مجبور) وي لِأَنَّهَا أَسْرَعُ لِقَضَاءِ حَاجَةِ الْفَقِيْرِ ځکه دا (قیمت) د فقیر حاجت لره ژر پوره کونکی دی (یعني د فقیر ضرورت په قیمت او پیسو سره ژر پوره کیږي) وَإِنْ كَانَ زَمَنَ شِدَّةٍ او که د سختی (وچکالی) زمانه وي فَالْحِنْطَةُ وَالشَّعِيْرُ وَ مَا يُؤْكَلُ أَفْضَلُ مِنَ

الدَّرَاهِمِ نو غنم، اُوربشي او کوم څه چي خوړل کیږي (یعني خوراکي شیان) افضل دي له دراهمو څخه.

تشريح: فرمايي چي په صدقهٔ فطر کي د مذکوره شیانو قیمت ورکول هم جائز دي. بلکي په اوس وخت کي قیمت ورکول افضل دي، کله چي فقیر یو خاص شي ته محتاجه وي او هغه په بازار کي پیدا کیږي؛ او افضل ځکه دي چي فقیر به خپل د خوښی شی په رانیسي او د غنمو او داسي نورو په ورکولو کي دا فایده نه حاصلیږي، ها! که وچکالي وي او خلک غلې او داسي نورو ته زیات محتاجه وي، نو بیا همداغه ورکول افضل دي. (انوار الایضاح)

د صدقهٔ فطر د اداء کولو وخت

﴿۱۲۲۵﴾ وَوَقْتُ الْوُجُوْبِ عِنْدَ طُلُوْعِ فَجْرِيَوْمِ الْفِطْرِ او (د صدقهٔ فطر) د واجبېدلو وخت د کوچني اختر په ورځ د صبح صادق (سپېدو) راختلو وخت دی فَمَنْ مَاتَ أَوِ افْتَقَرَقَبْلَهٗ نو څوک چي تر دې وخت (صبح صادق) مخکي مړ سي یا فقیر (غریب) سي أَوْ أَسْلَمَ أَوِ اغْتَنٰى أَوْ وُلِدَ بَعْدَهٗ یا تر دې وخت وروسته مسلمان سي یا مالداره سي یا پیدا سي لَاتَلْزَمُهٗ نو پر هغه صدقهٔ فطر (سرسایه) نه لازمیږي.

لغات: ﴿افتقر﴾ د افتعال له بابه ماضي معلومه ده، مصدر: اِفْتِقَارًا: محتاجه کېدل، ناداره کېدل، مفلس کېدل، ﴿اغتنٰى﴾ د افتعال د باب ماضي معلومه ده، مصدر: اِغْتِنَاءً: مالداره کېدل.

تشريح: صدقهٔ فطر د کوچني اختر (عید الفطر) په ورځ د صبح صادق (طلوعُ الفجر) په وخت کي واجبیږي، لهذا کوم کس چي له صبح صادق څخه مخکي مړ سي یا فقیر سي، نو پر هغه صدقهٔ فطر نه واجبیږي، همدارنګه که د دې وخت له تېرېدو څخه وروسته یو کافر مسلمان سي، یا فقیر مالدار سي، یا یو کوچنی پیدا سي، نو پر هغه صدقهٔ فطر نه واجبیږي.

﴿۱۲۲۶﴾ وَيَسْتَحِبُّ إِخْرَاجُهَا قَبْلَ الْخُرُوْجِ إِلَى الْمُصَلّٰى او مستحب دي ایستل یې عیدګاه ته تر تللو مخکي وَصَحَّ لَوْقَدَّمَ أَوْ أَخَّرَ او صحیح ده که یې مخکي کړي یا یې وځنډوي (یعني که یې تر دې مخکي یا وروسته وباسي، نو هم صحیح ده) وَالتَّأْخِيْرُ مَكْرُوْهٌ او ځنډول (- خپل وخت وروسته کول) مکروه دي.

تشريح: مستحب او افضل دا ده چي صدقهٔ فطر داختر په ورځ عيدګاه ته له تللو څخه مخکي اداء کړي، او که څوک يې داختر له ورځي څخه مخکي په رمضان کي اداء کړي، نو هم جائز او صحيح دي، او که له رمضان څخه يې هم مخکي اداء کړي، نو هم جائز دي لېکن خلاف احتياط دي. او که د اختر ورځ تېره سي او صدقهٔ فطر اداء نه کړي، نو د هغه غاړه نه خلاصيږي، بلکي صدقهٔ فطر د مخکي په څېر واجب پاتيږي، هغه که هر څومره تأخير وسي، خو داختر له ورځي څخه تأخير کول مکروه دي.

صدقهٔ فطر به يوه کس ته ورکول کيږي او که څو کسانو ته؟

﴿۱۲۲۷﴾ وَيَدْفَعُ كُلُّ شَخْصٍ فِطْرَتَهُ لِفَقِيْرٍ وَاحِدٍ او هر کس دي خپله سرسايه يوه فقير (غريب) ته ورکړي وَاخْتُلِفَ فِيْ جَوَازِ تَفْرِيْقِ فِطْرَةٍ وَاحِدَةٍ عَلٰى أَكْثَرِ مِنْ فَقِيْرٍ او اختلاف سوی دی له يوه څخه پر زياتو فقيرانو ديوې سرسايې د تقسيمولو په جائز کېدو کي وَيَجُوْزُ دَفْعُ مَا عَلٰى جَمَاعَةٍ لِوَاحِدٍ عَلَى الصَّحِيْحِ او جائز دي ورکول د هغه سرسايې کوم چي پر يوه جماعت (ډېرو کسانو) وي يوه کس ته، د صحيح قول مطابق (يعني د صحيح قول مطابق د څو کسانو سرسايه يوه فقيره ته ورکول هم جائز دي) وَاللّٰهُ الْمُوَفِّقُ لِلصَّوَابِ او هم الله د حق (او صحيح) خبرو توفيق ورکونکی دی.

لغات: ﴿يدفع﴾ د فتح له بابه مضارع ده، مصدر: دَفْعًا: د دې باب څو معناوي دي چي له هغوی څخه يوه معنیٰ ده: ورکول، اداء کول، ﴿تفريق﴾ د تفعيل د باب مصدر دی: د دې لفظ له معناوو څخه يوه معنیٰ ده: تقسيمول (وېشل) (معجم الوسيط)، ﴿فِطْرَة﴾ صدقهٔ فطر، سرسايه، جمع: فِطَرٌ، ﴿الصّواب﴾ صحيح والی (دُرست والی او سموالی)، حق.

تشريح: غوره دا ده چي د يوه کس صدقهٔ فطر و يوه مسکين او غريب ته ورکول سي، او که د يوه کس صدقه فطر دوو، يا زياتو مسکينانو ته ورکول سي، نو د بعضو په نېز جائز نه دي. لېکن زيات صحيح دا ده چي د يوه کس صدقهٔ فطر څو کسانو ته ورکول جائز دي.

ويجوز الخ: همدارنګه د څو کسانو صدقهٔ فطر صرف يوه مسکين او غريب ته ورکول هم د صحيح قول مطابق جائز دي. (شفاء الارواح، انوار الايضاح)

۲۸ ذی القعدة/ يوم الجمعة/ ۱۴۴۲هـ

اللّٰهم احفظنا من الفتن وأمتنا على الايمان واحفظنا من ابليس وجنوده

وارزقنا العافية والمعافاة في الدنيا والآخرة

آمين برحمتك يا ارحم الراحمين

كِتَابُ الْحَجِّ

(دا) کتاب د ''حج'' (په بیان کې) دی

تشریح: مصنف رَحِمَهُ الله تر كتابُ الزكاة وروسته اوس حج او د هغه احکام بیانوي. وجه د مناسبت یې دا ده چې عبادات پر درې قسمه دي: ① صرف بدني عبادات (لکه لمونځ، روژه)، ② صرف مالي عبادات (لکه زکاة وغیره)، ③ بدني او مالي مشترک عبادات (لکه حج)، نو په همدې ترتیب سره مصنف رَحِمَهُ الله هغوی ذکر کړي کړي.

ښکاره دې وي چې د ''حج''لفظ د حاء په کسره او فتحه دواړو سره مستعمل دی، په قرآن کریم کې د دواړو مثال سته، د کسرې مثال دا آیت دی: ﴿وَلِلّٰهِ عَلَى النَّاسِ حِجُّ الْبَيْتِ مَنِ اسْتَطَاعَ إِلَيْهِ سَبِيلًا﴾ [آلِ عمران: ۱۹۷]، او د فتحې مثال دا آیت دی: ﴿اَلْحَجُّ أَشْهُرٌ مَّعْلُومَاتٌ﴾ [البقرة: ۱۹۷]، وګورئ! په اول آیت کې دا لفظ په کسره د حاء حِجّ دی او په دویم آیت کې په فتحه د حاء حَجّ دی. بعضو ویلي دي چې بالکسر مصدر او بالفتح اسمِ مصدر دی، وقیل بعکسه.

د حج لغوي او اصطلاحي معنیٰ: د حج لغوي معنیٰ ده: قصد کول، اراده کول، او د حج اصطلاحي معنیٰ ده: القصد إلى مكان مخصوص في أوان مخصوص مع فعل مخصوص على وجه التعظيم. (یعني د ځانګړي ځای [مکې شریفې] وطرف ته اراده کول په ځانګړي وخت کې د ځانګړو فعلونو سره د تعظیم په توګه). لکه څنګه چې مصنف رَحِمَهُ الله هم د حج همداسې تعریف ذکر کړی دی.

د حج د فرضیت دلائل: د حج فرضیت په کتاب، سنت او اجماع ټولو سره ثابت دی، په کتابُ الله کې خو د حج فرضیت په دې آیت سره ثابت دی: ﴿وَلِلّٰهِ عَلَى النَّاسِ حِجُّ الْبَيْتِ مَنِ اسْتَطَاعَ إِلَيْهِ سَبِيلًا﴾ [آل عمران: ۹۷]؛ او په سنت کې په ډېرو حدیثونو سره د حج فرضیت ثابت دی چې له هغوی څخه دوه حدیثونه دا دي: (۱) بُنِيَ الإسلامُ على الخمس.... الحديث، په دې حدیث کې د اسلام له پنځو بناګانو څخه یوه بناء حج هم شمېرل سوی دی، (۲) من مات ولم يحجّ فليمت إن شاء يهودياً أو

نصرانياً؛ او اجماع خو ښکاره ده چي د نبي کریم ﷺ له زمانې څخه واخله تر ننه پورې پر حج د ټولو مسلمانانو اتفاق او اجماع را روانه ده.

د فرضیت سنه : د حج د فرضیت په زمانه کي ډېر قولونه دي، خو د جمهورو په نېز راجح قول دا دی چي د هجرت په شپږم (۶) کال حج فرض سوی دی، او علامه شامي رَحِمَهُ الله د نهم (۹) هجري په آخر کي د حج د فرضیت والا قول ته ترجيح ورکوي او فرمايي چي په هغه کال (۹ هجري کي) نبي کریم ﷺ په دې وجه حج نه وکړی چي د حج د فرضیت حکم د حج د وخت له تېرېدو څخه وروسته سوی وو. (فتح الهدایه، انوار الایضاح)

د حکم په اعتبار سره د حج قسمونه

د حکم او صفت په اعتبار سره د حج لاندیني پنځه قسمونه دي:

①...فرضِ عين: يعني د وس لرونکي کس لپاره په ټوله عمر کي يو وار حج کول فرض دي.

②... واجب: مثلاً له میقات څخه بېله احرامه تېر سي او د هغه د تلافی لپاره د بل حج اراده وکړي. نو دې ته واجب حج ویل کیږي.

③... نفل: له يوه وار څخه زيات حجونه چي په ژوند کي وکړل سي او هغوی د واجب وغيرهٔ له قسم څخه نه وي، نو پر هغه د نفل اطلاق کیږي.

④... حرام: د نوم او شهرت په غرض سره يا په حرام مال سره حج کول حرام دي.

⑤... مکروه تحريمي: مثلاً د ضعيف پلار او مور (کوم چي د ځوی خدمت ته محتاجه وي) له اجازې څخه بغير تلل يا د اهل وعيال د نفقې له انتظام کولو څخه بغير تلل. (غنية الناسک ص: ۱۰)

د حج اصطلاحي تعریف

﴿۱۲۲۸﴾ هُوَزِيَارَةُ بِقَاعٍ مَخْصُوْصَةٍ بِفِعْلٍ مَخْصُوْصٍ فِيْ أَشْهُرِهٖ هغه (حج) زیارت کول دي د څو مخصوصو ځايونو په مخصوص فعل سره د هغه (حج) په خپلو میاشتو کي.

لغات: ﴿بِقَاع﴾ جمع د بُقْعَةٌ ده: د ځمکي يوه حصه (ټوټه)، دلته څني مراد کعبه او عرفات دي. (انوار الایضاح)

تشریح: حج هغه خاصو (ځانګړو) افعالو او مناسکو (وقوفِ عرفه، طوافِ زیارت او داسي نورو) ته وايي کوم چي د حج په نيت سره د احرام تړولو په حالت کي په خپل خاص وخت (د حج په میاشتو) کي اداء کول کیږي. (غنية الناسک ص: ۱۰)

د حج وخت

﴿۱۲۲۹﴾ وَهِيَ شَوَّالٌ وَذُو الْقَعْدَةِ وَعَشْرُ ذِي الْحَجَّةِ او هغوى (د حج مياشتي) شوال، ذو القعده او د ذو الحجې (اولي) لس ورځي دي.

لغات: ﴿شوّال﴾ د قمري كال لسمه مياشته، د كوچني اختر مياشته، پر شوّال ځيني وخت الف لام هم داخليږي، جمع: شَوَاوِيْلٌ و شَوَاوِلُ. ﴿ذو القعدة﴾ د قمري كال يوولسمه مياشته، دې ته ذو القعده (د ناستي مياشته) ځكه ويل كيږي چي په دې مياشته كي به عرب پر كور كښېنستل، نه به يې سفر كوى او نه به يې جنګ وغيره كول جمع: ذَوَاتُ الْقَعْدَةِ. ﴿ذو الحجة﴾ د قمري كال آخري مياشته، د حج مياشته، جمع: ذَوَاتُ الحِجَّة.

تشريح: د حج اداء كولو لپاره په شريعت كي معلوم وخت ټاكل سوى دى چي هغه ته ميقاتِ زماني ويل كيږي، او هغه د شوال او ذو القعدې دوې مياشتي او د ذو الحجې د مياشتې اولي لس ورځي دي، له دغه وخت څخه مخكي د حج يو عمل مثلاً طواف زيارت يا سعى او داسي نور اداء كول معتبر نه دي او د حج احرام تړل هم له دغو مياشتو څخه مخكي مكروهِ تحريمي دي، نو ځكه د شوال د مياشتي له شروع كېدو څخه وروسته به د حج اعمال شروع كول كيږي. (انوار الايضاح)

حج على الفور واجب دى

﴿۱۲۴۰﴾ فُرِضَ مَرَّةً عَلَى الْفَوْرِ فرض كړى سوى دى (په ټوله عمر كي) يو وار په سمدستي توګه (اداء كول) فِي الْأَصَحِّ په صحيح ترين قول كي.

لغات: ﴿على الفور﴾ فوراً، سمدستي، لاس په لاس.

تشريح: حج په ژوند كي يو وار فرض دى، هر كال فرض نه دى او له يوه وار څخه وروسته نور حجونه نفلي شمېرل كيږي، او بله خبره دا ده چي كله په يو كس د حج د فرض كېدو ټوله شرطونه جمع سي، نو حج په هاغه كال كي على الفور (سمدستي) واجبيږي، كه بېله عذره يې وځنډوي، نو ګنهګاره كيږي، دا د امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله مسلک دى يعني د امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله په نيز په هاغه اول كال د حج اداء كول ضروري دي، د دې لپاره چي د حج د فوتېدلو امكان باقي پاته نه سي. او مصنف رحمه الله همدې ته اصح ويلي دي او د امام محمد رَحِمَهُ الله په نيز حج على التراخى واجب دى (په دې شرط چي د فوتېدلو امكان يې نه وي)، لهذا كه څوک په هاغه اول كال حج نه وكړي بلكي ويې ځنډوي

او په را روانو کلونو کي يې وکړي، نو د امام محمد رَحِمَهُ الله په نيز نه ګنهګاره کيږي، او مصنف رَحِمَهُ الله د "في الأصح" په وړاندې سره د امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله مسلک راجح ګرځولی دی. (شفاء الارواح)

❀ ❀ ❀

مسئله (۱): د ښځي (ماينې) د مرض په وجه حج ځنډول: که پر يو چا حج فرض سوی وي ليکن د هغه ښځه مريضه وي، نو دا د هغه لپاره په حج کي د تأخير عذر نه سي کېدلای (لهذا د ښځي د علاج او پوښتني لپاره دي معقول انتظام وکړي او خپله دي حج ته ولاړ سي).

مسئله (۲): د مور وپلار د مرض په وجه حج ځنډول: که پر يو کس حج فرض سوی وي او د هغه مور يا پلار داسي مريض وي چي د ده خدمت ته محتاجه وي، نو ده ته پکار دي چي د حج اراده وځنډوي او د مور وپلار خدمت پر ځای کړي.

مسئله (۳): د کوچني بچي په وجه حج ځنډول: که پر يو ښځي حج فرض سوی وي ليکن د هغې په غېږ کي کوچنی بچی وي چي د هغه د پالني او ساتني پر بناء ښځه فوراً له حج کولو څخه عاجزه وي، نو د بچي په رعايت کي د هغې لپاره په حج کي تأخير جائز دی.

مسئله (۴): د ساه لنډۍ يا د نزلې او زکام د مرض په وجه حج ځنډول: که څوک د ساه لنډۍ په مرض مبتلا وي چي په لږ تللو سره يې ساه بنديږي، يا د نزلې او زکام مسلسل مريض وي چي لږ يخ هم نه سي زغملای، نو د هغه لپاره په حج کي د تأخير کولو ګنجائش نسته، بلکي پر هغه هم په اول وخت کي حج اداء کول لازم دي او مذکوره امراض د هغه لپاره عذر نه سي جوړېدلای (ګواکي مناسب سفري انتظامات دي وکړي، مثلاً د ضرورت کپړې، دواګاني، اسباب او داسي نور، او بيا دي د حج فريضه اداء کړي، همدا حکم د فشار ابلډ پرېشر ا د مريض هم دی). (انوار الايضاح بحوالهٔ غنية الناسک)

د حج د فرضيت شرطونه

﴿۱۲۲۱﴾ وَ شُرُوْطُ فَرْضِيَّتِهٖ ثَمَانِيَةٌ عَلَى الْأَصَحِّ او د حج د فرض کېدلو شرطونه اته (۸) دي. د صحيح ترين قول مطابق اَلْإِسْلَامُ (۱) مسلمان کېدل.

﴿۱۲۲۲﴾ وَالْعَقْلُ (۲) او عاقل کېدل.

﴿۱۲۲۳﴾ وَالْبُلُوْغُ (۳) او بالغ کېدل.

﴿۱۲۲۴﴾ و الْحُرِيَّةُ (۴) او آزاد کېدل.

﴿۱۲۴۵﴾ وَالْوَقْتُ (۵) او (د حج) وخت کېدل.

لغات: ﴿شروط﴾ جمع د شَرْطٌ ده: شرطونه او قیود. شرط هغه قید ته وايي چې له هغه څخه بغیر شی نه پوره کيږي لېکن د هغه شي له حقیقت څخه خارج وي.
تشریح: د حج د فرض کېدو لپاره اته (۸) شرطونه دی، کله چې په یو کس کي دغه ټوله شرطونه موجود سي، نو پر هغه حج فرض کیږي، او که دا ټوله شرطونه، یا له دوی څخه یو هم پکښي موجود نه سي، نو پر هغه حج نه فرض کیږي، شرطونه دا دي:

①... الإسلام (مسلمان کېدل)، نو پر کافر حج فرض نه دی او نه د یو کافر لپاره د حرم په حدودو کي داخلېدل جائز دي.

②... العقل (عاقل کېدل)، نو پر مجنون (لېوني) حج فرض نه دی. او که د مجنون ولي (سرپرست یعني پلار وغیره) د هغه له طرفه احرام وتړي او بیا په هغه سره د حج ارکان اداء کړي، نو دا د مجنون له طرفه نفلي حج کیږي او ولي ته هم ثواب حاصلیږي.

③... البلوغ (بالغ کېدل)، نو پر نابالغه هلک حج فرض نه دی، لهذا کوم څوک چې له بلوغ څخه مخکي حج وکړي، نو په دې سره د هغه فرضي حج نه اداء کیږي، بلکي دا نفلي حج کیږي.

④... الحریّة (آزاد کېدل)، نو پر غلام حج فرض نه دی، او نه د هغه په حج کولو سره د هغه فرضي حج اداء کیږي، بلکي تر آزادېدو وروسته که استطاعت وي، نو دوباره به حج کوي.

⑤... الوقت (د حج وخت کېدل)، یعني د حج استطاعت (وس لرل) د حج په زمانه کي کېدل ضروري دي، او د حج زمانه هغه د حج میاشتي دي: شوال، ذو القعده او د ذو الحجې د شروع لس ورځي، لهذا له وخت څخه مخکي به څوک صاحب استطاعت نه شمېرل کیږي. (شفاء الارواح)

﴿۱۲۴۶﴾ وَالْقُدْرَةُ عَلَى الزَّادِ (۶) او قدرت لرل (دلاري او سفر) پر توښه وَلَوبِمَكَّةَ که څه هم په مکه کي وي بِنَفَقَةٍ وَسْطٍ په متوسط (میانه) خرچ سره (پر توښه قدرت لرل) وَالْقُدْرَةُ عَلَى رَاحِلَةٍ مُخْتَصَّةٍ بِهٖ (۷) او قدرت لرل پر داسي سپارلی، کوم چې د ده سره خاص وي أَوْ عَلَى شِقِّ مَحْمَلٍ یا (قدرت لرل) د کجاوې پر یوه حصه بِالْمِلْكِ وَالْإِجَارَةِ په ملکیت او (یا) په کرایه سره (یعني پر سپارلی یا شقِ محمل باندي د ده قدرت لرل به په دې توګه وي چې دئ به يې یا خپله مالک وي یا په

کرایه به یې نیولی وي) لَا الْإِبَاحَةِ وَ الْإِعَارَةِ نه په مباح کولو او خواست کولو سره (یعني پر سپارلۍ یا شق محمل باندې د ده قدرت لرل به په دې توګه نه وي چې یو چا د احسان په توګه ورکړې اوتر ته مباح کړې اوي. یا ده له یو چا څخه خواست کړی وي او هغه ورکړې وي) لِغَيْرِ أَهْلِ مَكَّةَ د مکې له خلکو څخه بغیر د نورو لپاره (یعني دا شرط او حکم د بهرني خلکو لپاره دی. نه د هغه خلکو لپاره کوم چې په مکه یا د مکې شا وخوا ته اوسیږي) وَ مَنْ حَوْلَهُمْ إِذَا أَمْكَنَهُمُ الْمَشْيُ بِالْقَدَمِ وَ الْقُوَّةِ بِلَا مَشَقَّةٍ او څوک چې (په مکه مکرمه یا) د دوی (اهل مکه) په شا وخوا کې دي (پر هغو حج هغه وخت فرض کیږي) کله چې هغوی لره په خپل طاقت سره بېله مشقته په پښو (پیاده) تلل ممکن وي وَإِلَّا فَلَا بُدَّ مِنَ الرَّاحِلَةِ مُطْلَقًا کنه چاره نشته له سپارلۍ څخه مطلقاً (یعني که بېله مشقته پیاده تلل ورلره ممکن نه وي. نو بیا مطلقاً سپارلي ضروري ده) وَتِلْكَ الْقُدْرَةُ فَاضِلَةٌ عَنْ نَفَقَتِهِ وَ نَفَقَةِ عِيَالِهِ إِلَى حِيْنِ عَوْدِهِ او دا قدرت به (یعني د سفر پر توښه او خرچ چې کوم قدرت لري. هغه) به زائد (اضافه) وي د ده او د ده د بچو له نفقې (خرچې) څخه د ده تر واپس راتلو پورې وَ عَمَّا لَا بُدَّ مِنْهُ كَالْمَنْزِلِ وَ أَثَاثِهِ وَ آلَاتِ الْمُحْتَرِفِيْنَ وَ قَضَاءِ الدَّيْنِ او (همدارنګه زائد به وي) له هغه شیانو څخه چې چاره ځني نشته (یعني ضروري شیان) لکه کور. د کور سامان او د کسبګرو (پېشه ګرو) آلې او د قرض ادائینه.

لغات: ﴿زاد﴾ د سفر توښه او خرچه. هغه خوراکه کوم چې یې انسان په سفر کې د ځان سره وړي (د لارې خوراکه او خرچه). جمع: أَزْوَادٌ و أَزْوِدَةٌ. ﴿نفقة﴾ د خوراک و څښاک او داسې نورو ضروریاتو خرچه (خرڅه). ﴿راحلة﴾ سپارلي. د سپرتیا لائق اوښ. د سفر او بار وړلو لپاره طاقتور اوښ یا اوښه (د مذکر او مؤنث دواړو لپاره مستعمل دی). جمع: رَوَاحِل. ﴿مَحْمِل﴾ کجاوه (هودج). د لښتو او لرګیو څخه جوړ سوی هغه ځای کوم چې به پر اوښ د سپرېدو او کښېنستلو لپاره ایښوول کېدی. همدارنګه هغه خورجین او لویه خلته (د خورجین په څېر) کوم چې د چارپای دواړو طرفونو ته ځړول سوې وي چې په هغه کې بار او سامان ایښوول کیږي. جمع: مَحَامِل. ﴿شق محمل﴾ یوه حصه د کجاوې. پر اوښ چې کومه کجاوه پرته وي د هغې دوې حصې وي او په هره حصه کې یو. یو سړی کښېني. یوې حصې ته "شق محمل" وایي. همدارنګه پر اوښ یا داسې بل سپارلي چې کومه خورجین او خلته ایښوول سوي وي. د هغه هم دوې حصې وي کوم چې دواړو طرفونو ته راځړیږي. هرې حصې ته یې "شق محمل" وایي. ﴿مِلك﴾ د ضرب د باب مصدر دی: مالک کېدل (مالک جوړېدل). ملکیت.

﴿إجارة﴾ د افعال د باب مصدر دی: په کرايه ورکول، په أُجرت (مزدوري) نيول، ﴿إباحة﴾ دا هم د افعال د باب مصدر دی: مباح کول، روا ګرځول، له يو شي څخه مفته نفع اخيستل، ﴿إعارة﴾ دا هم د افعال د باب مصدر دی: بېله عوضه يو شی ورکول چي بيرته به يې واپس کوي، خواست کونکي ته شی ورکول، مثلاً زيد خالد ته خواست وکړي چي فلانکی شی ما ته د يو څو وخت لپاره راکړه! چي زما ضرورت پوره سي بيرته يې درکوم، او خالد هغه شی ورکړي، نو دې ته عاريتاً ورکول وايي، يا په بله وينا د مفت استعمال لپاره د ضرورت تر وخته پوري شی ورکول او وروسته ځني اخيستل، ﴿حول﴾ شاوخوا، اطراف، ﴿قدم﴾ قدم، د پښې خپره، يعني د پښې هغه حصه کوم چي پر ځمکه ايښوول کيږي، ﴿مشقة﴾ تکليف، مشقت، جمع: مَشَاقّ و مَشَقّات، ﴿منزل﴾ استوګنځی، ځای، جمع: مَنَازِل، ﴿أَثَاث﴾ کورنی سامان، ﴿محترفين﴾ واحد د مُحْتَرِفٌ دی: کسب او پېشې والا، پېشه ګر.

تشريح: ⑥... شپږم شرط "زاد" يعني د حج د لاري په توښه باندي قدرت لرل دي، ⑦... اُووم شرط "راحله" يعني د سپرتيا په شي (سپارلي) باندي قدرت لرل دي.

په زاد او راحله باندي د قدرت لرلو مطلب دا دی چي د ده سره به له اصلي او بنيادي ضرورياتو (کور، کاليو، کورني سامان وغيره) څخه بغير نور زائد دومره مال وي چي په هغه سره مکې شريفي ته د تګ راتګ او هلته د استوګني او خوراک خرچ اداء کولای سي او د واپس کېدلو تر وخته پوري د خپل هغه اهل وعيال د خرچ انتظام هم کولای سي چي د هغوی نفقه د ده پر ذمه واجب ده.

مختصة به إلخ: يعني کوم څوک چي په مکه شريفه کي نه اوسيږي، د هغه لپاره دا هم شرط دي چي په راحله باندي د ده قدرت لرل خو به يا د ملکيت په توګه وي (يعني راحله به د ده خپل ملکيت وي. يا په بله وينا: دئ به يې مالک وي) يا به د اجارې په توګه وي، يعني يا د ده سره به دومره مال وي چي د کجاوې يو طرف (يا په اوس کي وخت کي د طيارې يا موټر يو سيټ) تر مکې شريفي پوري په کرايه نيولای سي (مخکي چي پر اُوښ وغيره به کومه کجاوه يا د سپرتيا شی پروت وو، په هغه کي به راسته او چپه طرف ته دوه ځايه وه چي په هر طرف کي به يو مسافر کښېنستی).

لا الإباحة إلخ: يعني په راحله باندي د ده قدرت لرل به د اباحت يا عاريت په توګه نه وي، يعني که بل چا خپله سپارلي ورکړې وي، يا د سفر د خرچ او اخراجاتو لپاره يې مال ورکړی وي چي په دې باندي حج وکړه!، نو په دې سره په زاد او راحله باندي قدرت نه ثابتيږي نو پر داسي کس حج نه فرض کيږي او دا مال او سپارلي قبلول پر هغه نه لازميږي. (شفاء الارواح، انوار الايضاح)

ومن حولهم إلخ: څه مخکې ذکر سوه چې د حج د فرضیت له شرطونو څخه یو شرط په راحله باندې قدرت لرل دي، لېکن د مکې شریفې او د مکې شریفې د شا وخوا (اطرافو) پر اوسېدونکو د حج فرض کېدلو لپاره راحله شرط نه ده، لهٰذا که د هغه ځای له اوسېدونکو څخه یو څوک په راحله باندې قدرت نه لري، نو هم پر هغه حج فرض کیږي، په دې شرط چې هغه بېله مشقته په خپل طاقت سره په پښو (پیاده) تللو باندې قادر وي او که هغه بېله مشقته په پیاده تللو باندې قادر نه وي، نو د هغه په حق کې به هم د حج د فرضیت لپاره راحله شرط وي.

له "حَوالی مکه" (د مکې له اطرافو) څخه څه مراد دي؟، نو په دې باره کې دوه قوله دي: ① یو قول دا دی چې کوم خلک د مکې شریفې او میقات تر مینځ آباد دي، هغوی ټولو ته د "حَوالی مکه" اوسېدونکي ویل کیږي، ② دویم دا چې د هغوی او مکې شریفې تر مینځ له دریو ورځو (مودتِ سفر) څخه کمه مسافه وي، نو هغوی ټول ه د اهلِ مکه په حکم کې دی. (شفاء الارواح بحوالهٔ عمدة الفقه)

وتلك القدرة إلخ: د دې تشریح په شروع کې وسوه.

❀ ❀ ❀

د حج لپاره به حوائجِ اصلیه نه خرڅول کیږي؟

مسئله (۱): د کور ضروري سامان مثلاً یخچال، کولر او داسې نور که څه هم قیمتي وي، د هغوی په وجه به د حج د وجوب حکم نه کول کیږي، لهٰذا د هغوی خرڅول او حج تلل ضروري نه دي. بلکې د حج د وجوب لپاره له حوائجِ اصلیه وو څخه زائد مال موجودېدل ضروري دي. (غنیة الناسک ص: ۲۰)

که د حج لپاره مال وي خو د یو شي رانیولو ته ضرورت وي؟

مسئله (۲): که د یو چا سره د حج په اندازه مال موجود وي، لېکن هغه ته د کور لپاره د یو شي رانیولو ته ضرورت وي، مثلاً د کور د برق لپاره څو شمسیاتو او بېټریو ته ضرورت وي، نو که د حج وخت راغلی وي، دا شیان دې نه رانیسي بلکې اول دې حج وکړي او که د حج وخت لیرې وي، نو د ضرورت لپاره هغوی رانیولای سي او پر هغه حج نه فرض کیږي. (غنیة الناسک ص: ۲۰ بتصرفٍ)

اول به حج کول کیږي او که واده؟

مسئله (۳): که واده ته ضرورت وي او د حج وخت راسي، نو اولاً دې حج وکړي، او که حج ته ډېر وخت پاته وي، نو واده کولو لره ترجیح ده، همدا حکم د خپل بچي د واده وغیره دی چې د بچي د واده په وجه حج مؤخر کول جائز نه دي. (غنیة الناسک ص: ۲۰)

﴿۱۲۲۷﴾ وَيُشْتَرَطُ الْعِلْمُ بِفَرْضِيَّةِ الْحَجِّ لِمَنْ أَسْلَمَ بِدَارِ الْحَرْبِ او شرط دي علم (خبرېدل) د حج په فرضیت د هغه کس لپاره کوم چې اسلام راوړی وي په دارُ الحرب کې أَوِ الْكَائِنُ بِدَار

الْإِسْلَامِ یا (شرط دي) په دار الاسلام کي کېدل (لهذا که څوک په دارُ الاسلام او مسلمان ملک کي وي. نو د هغه لپاره د حج د فرضیت علم هم شرط نه دی).

تشریح: ⑧... اتم او آخري شرط دا دی چي د حج په فرضیت به عالم (خبر) وي (چي اوس په ما باندي حج فرض دی). برابره ده علمِ حقیقي وي او که علمِ حکمي وي، د حکمي مطلب دا دی چي سړی په دارُ الاسلام کي یا په اسلامي چاپېریال کي اوسېږي چي هلته اوسېدونکی به حکماً په فرضیت عالم شمېرل کیږي او د هغه لپاره به دا خبره عذر نه شمېرل کیږي چي ما ته د فرضیت علم نه وو، او د کوم چا استوګنه او پالنه چي په دارُ الحرب کي په غیرِ اسلامي چاپېریال کي سوې وي او هغه ته له مخکي څخه د حج د فرضیت علم نه وي سوی، نو پر هغه حج فرض نه دی، لېکن که هغه یې وکړي، نو بیا هم د هغه حج اداء کیږي. (انوار الایضاح)

د حج اداء کولو د وجوب شرطونه

﴿۱۲۴۸﴾ وَشُرُوْطُ وُجُوْبِ الْأَدَاءِ خَمْسَةٌ او د (حج د) اداء کولو د واجبېدلو شرطونه پنځه دي عَلَى الْأَصَحِّ د صحیح ترین قول مطابق صِحَّةُ الْبَدَنِ (۱) د بدن روغتیا وَزَوَالُ الْمَانِعِ الْحِسِّيِّ عَنِ الذَّهَابِ لِلْحَجِّ (۲) او حسّي مانع زائلېدل حج ته له تللو څخه (یعني کوم څه چي له حج څخه مانع او خنډ وي، د هغه ختمېدل) وَأَمْنُ الطَّرِيْقِ (۳) او لاره په امن کېدل.

﴿۱۲۴۹﴾ وَعَدَمُ قِيَامِ الْعِدَّةِ (۴) او (د ښځي) عده نه پاتېدل (چي ښځه به په عده کي نه وي).

﴿۱۲۵۰﴾ وَخُرُوْجُ مَحْرَمٍ (۴) او (د ښځي سره) محرم سړی وتل (یعني داسي سړی ورسره تلل چي د هغه سره د ښځي نکاح د همېشه لپاره حرامه وي) وَلَوْ مِنْ رَضَاعٍ أَوْ مُصَاهَرَةٍ که څه هم (هغه محرم د نکاح حرمت) له رضاع یا له خسرګني قرابت څخه وي (یا په بله ویناداچي که څه هم د دوی تر مینځ نکاح د رضاع یا د خېښي توب د قرابت په وجه حرامه وي) مُسْلِمٍ مَأْمُوْنٍ عَاقِلٍ بَالِغٍ أَوْ زَوْجٍ لِامْرَأَةٍ (داسي محرم) چي هغه مسلمان، په امن، عاقل، بالغ وي یا د ښځي خاوند وي فِيْ سَفَرٍ په سفر کي (یعني دا د ښځي سره مذکوره محرم یا خاوند کېدل په هر سفر کي شرط دي).

﴿۱۲۵۱﴾ وَالْعِبْرَةُ بِغَلَبَةِ السَّلَامَةِ بَرًّا وَبَحْرًا او اعتبار د سلامتیا غالب والي لره دی په وچه او سمندر کي (یعني د مفتیٰ به قول مطابق د ځمکني لاري او دریابي لاري په امن کېدلو کي معتبر دا ده چي اکثره

لاروبان به صحیح سالم را واپس کیږي. یا معنیٰ دا چي د لاري د سلامتیا او په امن کېدو به غالب ګومان وي) عَلَى الْمُفْتَى بِهٖ پر هغه قول چي فتویٰ باندي ورکول سوې ده.

لغات: ﴿زوال﴾ د نصر د باب مصدر دی، کله چي د دې په صله کي عَنْ راسي، نو معنیٰ يې ده: ختمېدل، ليري کېدل. ﴿مَحْرِم﴾ هغه قريب ته وايي چي نکاح ور سره حرامه وي (يا په بله وينا چي د قرابت په وجه نکاح ورسره ناجائز وي)، جمع: مَحَارِم. ﴿مُصاهرة﴾ د مفاعلې له بابه اسم مصدر دی: د خسرتوب او خوابنسي توب قرابت، يا په بله وينا د خېښۍ او زومتوب قرابت. ﴿بَرّ﴾ وچه ځمکه (زميني) لاره، جمع: بُرُوْر. ﴿البحر﴾ سمندر، درياب، جمع: أَبْحُرٌ و بُحُوْرٌ.

تشريح: مخکي چي کوم شرطونه تېر سوه، هغه د حج د فرضيت شرطونه وه، يعني د هغوی تر موجودېدلو وروسته حج فرض کيږي او لازميږي، اوس له دې ځايه د حج د اداء د وجوب شرطونه بيانوي، يعني د حج اداء کول بيا هغه وخت لازميږي او واجبيږي کله چي دا ټوله شرطونه موجود سي، لهذا په کوم کس کي چي د حج د فرضيت شرطونه موجود وي، لېکن د وجوبْ الاداء نه شرطونو څخه يو پکښي نه وي، نو بيا خپله پر هغه حج اداء کول نه فرض کيږي، بلکي د خپل ځان له طرفه بل څوک استول، يا له خپل مال څخه د حج اداء کولو وصيت کول باندي فرض کيږي، دلته مصنف رَحِمَهُ الله "على الأصح" ځکه ويلي دي چي د بعضو په وينا همدا د حج د فرضيت شرطونه دي، نو مصنف رَحِمَهُ الله د "أصح" په قيد سره د هغو له قول څخه احتراز وکړی.

صحة البدن: ① ... اول شرط د بدن روغتيا او سلامتيا ده، لهذا شل او ګوډ، فالج وهلی ړوند او داسي پخوانی مريض چي د هغه د روغتيا (جوړېدلو) اُميد نه وي او هغه کس چي دواړي پښې يا يوه پښه يې پرې سوې وي، يا دواړه لاسونه يا يو لاس يې پرې سوی وي او داسي بوډا کوم چي خپله پر سپارلي نه سي کښېنستلای او بغير له سخت تکليف او مشقت څخه پر سپارلي نه سي ټينګېدلای، نو پر دغه ټولو د حج اداء کول واجب نه دي، لېکن څرنګه چي د حج د فرضيت شرائط پکښي موجود دي، نو ځکه حج خو فرض سو، لېکن اداء کول يې باندي واجب نه دي، بلکي فى الحاله له خپل مال څخه بل څوک د خپل ځان له طرفه استول او حج په کول واجب او لازم دي، او که داسي نه وکړي، نو د مرګ په وخت کي د دې وصيت کول واجب او لازم دي.

وزوال المانع: ② ... مانعِ حسّی، مثلاً هغه په بنديخانه او محبس کي بندي وي، يا د حکومت له طرفه حج ته پر تللو ممانعت او بنديز وي، (لکه اوس چي د اتکلي کرونا په وجه پر سفر او حج بنديز لګولی دی. يا

مثلاً یو وخت حکومت په وېزه او ټکټ باندي بندیز لګولی وي)، نو پر داسي کس د حج اداء کول واجب نه دي بلکي هغه دي خپل پر ځای بل څوک واستوي، یا دي د مرګ په وخت کي د حج وصیت وکړي، او دا حکم هغه وخت دی کله چي دا عذر یعني قیدي کېدل یا د حکومت له طرفه ممانعت او بندیز د هغه د مرګ تر وخته پوري وي، لهذا که د مرګ تر وخته پوري نه وي او بیر ته زائل سي، نو د عذر تر زائلېدلو وروسته خپله د هغه لپاره حج کول واجب دي.

وأمن الطّریق: ③... یعني د ځان او مال له هلاکت او ډاکه ماری څخه د لاري په امن کېدل، او د دې معیار دا دی چي اکثره خلک به صحیح سالم ځي راځي، لهذا که صرف بعضي وخت نابېره په لاره کي غلا او ډاکه ماري کېږي، یا کښتی کله نا کله ډوبیږي، نو بیا هم داسي لاره په امن شمېرل کېږي او د حج اداء کول واجب کېږي.

وعدم قیام العدة: ④... دا شرط صرف د ښځي سره خاص دی چي ښځه به په عده کي نه وي، یعني که د هغې خاوند وفات سوی وي، یا یې طلاق ورکړی وي، نو تر څو چي هغه په عده (عدت) کي وي، تر هغه وخته پوري د حج اداء کول پاندي واجب نه دي.

وخروج محرم إلخ: ⑤... یعني پر ښځي د حج اداء کول هغه وخت واجبیږي کله چي د هغې سره مَحرِم وي یا خاوند وي، مَحرِم هغه قریب ته وایي چي د همېشه لپاره نکاح ور سره حرامه وي، برابره ده د نکاح دا حُرمت د قرابت په وجه وي لکه ورور، ځوی او داسي نور، یا د رضاعت په وجه وي لکه رضاعَي ورور، مثلاً دواړو په کوچنیوالي کي د یوې ښځي شیدې رودلي وي، نو دا دواړه په خپل مینځ کي رضاعي ورور او خور سوه، یا د نکاح حُرمت د مصاهرت یعني د خېښی د تعلق په وجه وي، مثلاً د خوابنې سره د هغې زوم وي، چي د دوی تر مینځ هم حرمتِ ابدي دی.

مسلم: له دې ځایه د مَحرِم قریب شرطونه بیانوي چي د مَحرِم لپاره دا شرط دي چي هغه به مسلمان وي؛ ځکه که کافر وي، نو دا خطره سته چي هسي نه له اسلام څخه د ښځي د اړولو کوښښ وکړي.

مأمون: یعني مَحرِم به داسي کس وي چي د هغه له طرفه به اطمینان وي، یعنِي حقیقتاً به دیندار وي؛ ځکه که هغه بدمعاشه، بې شرمه او فاسق وي، نو ښځه خپله له هغه څخه نه سي په امن کېدلای؛ حال دا چي د مَحرِم له ملګر تیا څخه مقصود همدا دي چي د ښځي عزت او ناموس محفوظ وي او هغه په فاسق کي مفقود دي.

عاقل بالغ: یعني محرم به عاقل او بالغ هم وي؛ ځکه لېوني او بچي دواړه خپل حفاظت ته محتاجه دي، نو د بل چا به څه حفاظت وکړی سي!.

والعبرة بغلبة السلامة: مخکښي یو شرط دا ذکر سو چي لاره به په امن وي، اوس د هغه وضاحت کوي چي د لاري په امن کېدو کي اعتبار دې خبري لره دی چي غالبه (اکثره) لارویان به صحیح سالم را واپس کیږي (کماز کرنا)، علامه ابن نجیم رَحِمَهُ الله د فتح القدیر په حواله سره لیکلي دي چي د سلامتیا د غالبوالي مطلب دا دی چي بېره به نه وي (د ځان او مال پر هلاکت)، لهذا که د ډاکوګانو بېره وي او هغوی ځو واره غالب سوي وي او مسافران بذاتِ خود کمزوري وي، یا مثلاً په سمندر کي د کښتۍ د ډوبېدلو یا د ډاکوګانو د حملې غالبه بېره وي، نو په داسي صورت کي د حج اداء کول نه واجبیږي. (شفاء الارواح، انوار الایضاح بتغیرٍ)

د حج شرائط او فرائض

﴿۱۲۵۲﴾ وَيَصِحُّ أَدَاءُ فَرْضِ الْحَجِّ بِأَرْبَعَةِ أَشْيَاءَ لِلْحُرِّ او صحیح کیږي د فرض حج اداء کول په څلورو شیانو سره د آزاد کس لپاره الْإِحْرَامُ وَالْإِسْلَامُ وَهُمَا شَرْطَانِ (۱) احرام (محرم کېدل چي احرام به یې تړلی وي) (۲) اسلام (مسلمان کېدل)، او دا دواړه شرط دي ثُمَّ الْإِتْيَانُ بِرُكْنَيْهِ (۳، ۴) او بیا د حج دوه رکنونه اداء کول وَهُمَا الْوُقُوفُ مُحْرِمًا بِعَرَفَاتٍ لَحْظَةً مِنْ زَوَالِ يَوْمِ التَّاسِعِ إِلَى فَجْرِ يَوْمِ النَّحْرِ او هغه دوه رکنونه (یو دا چي) په عرفات کي د احرام په حالت کي دیوه ګړي لپاره درېدل دي (د ذو الحجې) د نهمي ورځي له زوال څخه د لوی اختر د ورځي تر سهاره پوري (یعني په دې دوران کي هلته په عرفات کي یو ګړی درېدل د حج رکن دی) بِشَرْطِ عَدَمِ الْجِمَاعِ قَبْلَهُ مُحْرِمًا د جماع (کورولي) نه کولو په شرط سره تر هغه مخکښي د احرام په حالت کي وَالرُّكْنُ الثَّانِيْ هُوَ أَكْثَرُ طَوَافِ الْإِفَاضَةِ فِيْ وَقْتِهٖ او دویم رکن د طوافِ افاضه (طوافِ زیارت) اکثره حصه اداء کول دي د هغه په خپل وخت کي وَهُوَ مَا بَعْدَ طُلُوْعِ فَجْرِ النَّحْرِ او د هغه وخت د لوی اختر له صبح صادق راختلو څخه دی (یعني چي د لوی اختر په ورځ کله د سهار سپېدې وچاودي او صبح صادق سي، نو د طوافِ زیات وخت شروع سو).

لغات: ﴿لحظة﴾ لږ ګړی، مختصره وقفه، جمع: لَحَظَاتٌ، ﴿طواف إفاضة﴾ د افاضه معنیٰ ده: روانېدل، او له طوافِ افاضه څخه مراد "طوافِ زیارت" دی، همدارنګه د طوافِ زیارت بل نوم طوافِ یوم نحر دی، په حج کي طوافِ زیارت رکن او فرض دی او د هغه اداء کول ضروري دي، د طوافِ زیارت

لپاره نور نومونه هم سته چي شپږ نومونه يې مشهوره دي: ① طواف زيارت. ② طواف فرض، ③طواف افاضه، ④ طواف رکن، ⑤ طواف يوم النحر، ⑥ طواف مفروض، او د طواف زيارت د صحيح کېدلو دېر شرطونه دي چي له هغوی څخه مصنف رَحِمَهُ الله صرف يو شرط بيان کړی دی او هغه دا چي د طواف زيارت اکثره حصه يعني لږ تر لږه څلور شوطه (څلور چکره) پوره کول په طواف کي فرض او شرط دي، کنې طواف نه کيږي.

تشریح: له دې ځايه د حج هغه شرائط او ارکان بيانوي چي د هغوی په پوره کولو سره د حج اداء صحيح کيږي:

① ... الإحرام: اول شرط د حج د صحيح کېدلو لپاره احرام دی، نو له احرام څخه بغير نه صحيح کيږي.

②... الإسلام: دويم شرط مسلمان کېدل دي، نو د کافر حج نه صحيح کيږي.

③... الوقوف: دا دريم شی (يعني وقوف) او څلورم شی د رکن له قبيل څخه دي، نو دريم شرط په عرفات کي د احرام په حالت کي وقوف کول دي، که څه هم ديوه گړي لپاره وي، په دې شرط چي له وقوف عرفه څخه مخکي يې د احرام په حالت کي جماع نه وي کړې؛ ځکه که له وقوف عرفه څخه مخکي يې جماع کړې وي، نو د هغه وقوف نه صحيح کيږي، او د وقوف وخت د عرفات په ورځ يعني په نهمه د ذی الحجې د لمر له زوال څخه شروع کيږي او د لسمي (۱۰) ذی الحجې له صبح صادق (سپېده چاود) څخه تر لږ مخکي پوري پاتيږي، لهذا که څوک له احرام څخه بغير وقوف وکړي، يا د وقوف په وخت کي ديوه گړي لپاره هم عرفات ته داخل نه سي، نو د هغه د حج رکنِ وقوف اداء نه سو.

④... والرکن الثاني: دويم رکن د طواف زيارت اکثره حصه (څلور شوطه) اداء کول دي، نو د رکن اداء کېدلو لپاره اکثره (يعني څلور) شوطونه کافي دي، او پاته درې شوطه واجب دي چي د هغوی په پرېښوولو باندي دَم (د څاروي ذبح کول) واجبيږي، د هغه وخت د ذی الحجې د لسمي له صبح صادق څخه شروع کيږي او په ټوله عمر کي په يو وخت کي اداء کول فرض دي، لېکن د قرباني په ورځو کي د هغه اداء کول واجب دي. (شفاء الارواح بحوالهٔ عمدة الفقه)

د حج واجبات (له ميقات څخه احرام تړل)

﴿۱۲۵۳﴾ وَ وَاجِبَاتُ الْحَجِّ او د حج واجبات (دا) دي. (دوويشت [۲۲] واجبات يې ذکر کړي دي).

﴿۱۲۵۳﴾ إِنْشَاءُ الْإِحْرَامِ مِنَ الْمِيْقَاتِ (۱) احرام له ميقات څخه شروع کول.

تشريح: له دې ځايه د حج واجبات بيانوي، د واجباتو حکم دا دی چي که هغوی پاته سي، برابره ده په هېره وي يا قصداً وي يا په مسئلې د نه خبرېدلو په وجه وي، په هر صورت کي حج اداء کېږي لېکن په ډېرو صورتونو کي دَم يعني د څاروي ذبح کول واجبېږي او د قصداً پرېښوولو په صورت کي ګنهګاره کېږي هم، صرف په دَم سره نه معاف کېږي تر څو چي يې توبه نه وي کړې:

(۱)... له ميقات څخه احرام ترل، يعني بغير له احرامه به تر ميقات نه تېرېږي، کنې د واجب کار پرېښوونکي ګرځي.

ميقات په اصل کي ټاکل سوي وقت ته ويل کېږي، بيا وروسته د دې په استعمال کي نور وسعت راغلی او (مجازاً) ټاکل سوي ځای ته هم ميقات ويل سوه، له ميقات څخه دلته هغه ټاکلي ځايونه مراد دي چي بغير له احرامه له هغوی څخه تېرېدل جائز نه دي، نو هلته به احرام ترل کېږي، دا د مکې شريفې څلور سره طرفونو ته معيّن ځايونه دي، او د هري علاقې لپاره جلا ميقات دی، مثلاً د اهل آفاق (آفاقي) يعني کوم خلک چي له ميقات څخه بهر اوسېږي يعني د نورو ملکو خلک (مثلاً افغانستان، پاکستان والا) د هغو لپاره جلا ميقات دی، همدارنګه د اهلِ حِلّ يعني کوم خلک چي په ميقات کي دننه او د حرم له حدودو څخه بهر اوسېږي، د هغو ميقات جلا دي، همدارنګه د اهلِ حرم يعني د اهلِ مکه او د حرم په حدودو کي د اوسېدونکو لپاره جلا ميقات دی (د حرم حدود له مکې شريفې څخه د مدينې شريفې پر طرف درې ميله دي او د عراق او طائف پر طرف اُووه. اُووه ميله دي او د يمن پر طرف هم اُووه ميله دي، دا له هر طرف څخه د حرم حدود دی، د ميقاتو نومونه او ځايونه په لويو کتابو کي په تفصيل سره بيان سوي دي)

يادونه: د حج واجبات په بنيادي توګه شپږ دي: ① وقوفِ مزدلفه، ② د صفا و مروه تر مينځ سعی کول، ③ جمار (شيطانان) ويشتل، ④ قارن او متمتع لره دمِ شکر ورکول، ⑤ حلق يا قصر کول، ⑥ آفاقي حاجي لره طوافِ وداع (طوافِ صدر) کول، خو مصنف رَحِمَهُ الله دوويشت (۲۲) واجبات بيان کړي او بعضو تر پنځه ديرشو (۳۵) پوري رسولي دي، هغه په حقيقت کي بلا واسطه د حج واجبات نه دي، بلکي د حج د افعالو واجبات دي (يا په بله وينا د حج د واجباتو مُلحقات دي) مثلاً بعضي د احرام واجبات دي او بعضي د طواف دي او په هغوی کي د حج د شرائطو واجبات هم شمېرل سوي دي، بلا واسطه د حج واجبات صرف شپږ دي.

(مصنف رَحِمَهُ الله خو دلته دوويشت واجبات او مُلحقات د واجباتو ذکر کړي دي، که هغوی ته په غور سره وکتل سي او سره جلا کړل سي، نو تقريباً پنځه دېرشو (۳۵) ته رسېږي).

تر لمر لوېدو پورې په عرفات کې وقوف کول

﴿۱۲۵۵﴾ وَ مَدُّ الْوُقُوْفِ بِعَرَفَاتٍ إِلَى الْغُرُوْبِ (۲) او په عرفات کې وقوف (دریدل) تر لمر لوېدو پورې اوږدول.

تشریح: (۲)... مخکې ذکر سوه چې د وقوف عرفه وخت د ذو الحجې په نهمه ورځ د لمر له زوال څخه وروسته شروع کېږي او تر هغه مخکې وقوف نه صحیح کېږي، پر دې موقع په دعاگانو مشغولېدل او ذکر و تلبیه ویل مسنون دي، اوس دلته فرمایي چې د حج له واجباتو څخه یو واجب دا دی چې په عرفات کې به تر لمر لوېدو پورې پاتېږي، لهذا که تر لمر لوېدو مخکې له عرفات څخه ووځي، نو د واجب پرېښوولو په وجه دَم لازمېږي. (انوار الایضاح بتغیر)

په مزدلفه کې وقوف کول

﴿۱۲۵۶﴾ وَالْوُقُوْفُ بِالْمُزْدَلِفَةِ فِيْمَا بَعْدَ فَجْرِ يَوْمِ النَّحْرِ وَ قَبْلَ طُلُوْعِ الشَّمْسِ (۳) او په مزدلفه کې درېدل (پاتېدل) د لوی اختر د ورځې له سهار (صبح صادق) څخه وروسته او تر لمر لوېدو مخکې.

لغات: ﴿مزدلفه﴾ دا د منیٰ او عرفات تر مینځ یو لوی میدان دی چې د هغه درې سره طرفونو ته غر دی، د مزدلفې حدود متعیّن دي چې هلته وقوف کول لازم دي.

تشریح: (۳)... د ذی الحجې په لسمه (یعني د لوی اختر په ورځ) له صبح صادق (سپېده چاود) څخه وروسته تر لمر راختلو پورې د څه وخت لپاره په مزدلفه کې پاتېدلو ته وقوفِ مزدلفه وایي، دا هم واجب دي، لهذا که څوک له صبح صادق څخه مخکې یا تر لمر لوېدو وروسته په مزدلفه کې وقوف وکړي، نو د هغه وقوف د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نېز نه صحیح کېږي. (د ېر خلک د مزدلفې له حدود څخه مخکې قیام کوي او شپه تېروي او بیا تر لمر راختلو وروسته له مزدلفې څخه تېرېږي، څرنګه چې له داسې خلکو څخه وقوفِ مزدلفه فوتېږي، نو ځکه پر هغو دَم واجبېږي).

شیطانان ویشتل (رمی الجمار)

﴿۱۲۵۷﴾ وَ رَمْيُ الْجِمَارِ او د جمرو رمی کول (یا په بله وینا: شیطانان ویشتل).

لغات: ﴿جمار﴾ دا په منیٰ کې هغه درې مشهوره ستنې (پایې) دي، یا په بله وینا درې تمبې (میلان) دي کوم چې په کوچنیو کانو ویشتل کېږي (چې په اصطلاح کې هغوی ته شیطانان ویل کېږي).

تشریح: (۴)... د جمراتو رمی کول (یا په بله وینا، شیطانان ویشتل) هم واجب دي، په منیٰ کې درې ستنې دي چې هغوی به په شکو ویشتل کېږي، که د یوې ورځې رمی (ویشتل) پرېږدي، یا د درېو سره ورځو رمی پرېږدي، نو صرف یو دَم [illegible]

د قارن او متمتع ذبح کول

﴿۱۲۵۸﴾ وَ ذَبْحُ الْقَارِنِ وَالْمُتَمَتِّعِ (۵) او د حجِ قِران او حجِ تمتع کونکي (لپاره) ذبح کول.

لغات: ﴿قارن﴾ حَج قِرَان کونکی (يا په بله وينا: هغه حاجي کوم چي حج قِران کوي)، ﴿متمتّع﴾ حجِ تمتّع کونکی. حج پر درې قسمه دی: ① حَجِّ إِفْرَاد، حجِ افراد دې ته وايي چي حاجي له ميقات څخه يوازي د حج احرام وتړي (يعني فقط د حج لپاره احرام وتړي، نه د عمرې لپاره) او چي کله د حج ارکان اداء کړي او حج ختم کړي، نو احرام خلاص کړي، داسي حاجي ته مُفْرِد وايي، ② حَجِّ قِرَان، دې ته وايي چي له ميقات څخه د حج او عُمرې دواړو احرام يو ځای وتړي، داسي حاجي ته قَارِن وايي. ③ حَجِّ تَمَتُّع، دې ته وايي چي د حج په مياشتو کي صرف د عمرې احرام وتړي او چي کله عمره ختمه کړي، نو احرام خلاص کړي، بيا د ذو الحجې په اتمه ورځ (يوم الترويه) باندي د حج احرام وتړي، داسي حاجي ته مُتَمَتِّع وايي.

تشريح: (۵)... د قارن او متمتع لپاره قرباني کول واجب دي، لهذا که له قرباني کولو څخه بغير احرام خلاص کړي، نو په جرمانه کي يوه بله قرباني باندي لازميږي.

سر خرېيل (حلق)

﴿۱۲۵۹﴾ وَالْحَلْقُ (۶) او سر خرېيل.

تشريح: (۶)... د احرام خلاصولو لپاره سر خرېيل (يا د سر وربښتان کوچنی کول په غچي يا ماشين سره) واجب دي، يعني له رمی الجمار (د شيطانانو له ويشتلو) څخه وروسته دي سر وخريي، يا وربښتان دي کوچني کړي (غچي کړي)، دا هم وجب دي، او په دې کي دوه شرطونه دي چي په را روان عبارت کي به ذکر سي.

﴿۱۲۶۰﴾ وَتَخْصِيْصُهُ بِالْحَرَمِ وَأَيَّامِ النَّحْرِ (۷) او د سر خرېيل خاص په حرم کي او د قربانۍ په ورځو (يعني د ذو الحجې په لسمه، يوولسمه يا دوولسمه) کي کول.

لغات: ﴿الحَرَم﴾ د مکې شريفي چار طرفه متعينه ځمکه ده او د هغې پر حدودو نښي لګول سوي دي، کوم چي تقريباً په ۵۵۰ مربع کيلو متره باندي مشتمله ده، د دغه نښو دننۍ حصې ته حرم ويل کيږي(انوار الايضاح)، ﴿أيام النحر﴾ د ذو الحجې د لسمي څخه د ذو الحجې تر دوولسمي پوري (يا په بله

وړاندې لوی اختر د اولې ځخه تر درېیمې پورې) دغه ورځو ته أیام النحر هم وایي، تخصیصه: د دې ضمیر حَلْق ته راجع دی.

تشریح: (۷) د حرم په حدودو کې او د قربانۍ په ورځو (لسمه، یوولسمه او دوولسمه د ذو الحجې) کې د سر وربېنتان صفا کول او احرام خلاصول واجب دي، لهذا که څوک د حرم له حدودو ځخه بهر یا تر دوولسمې ذو الحجې وروسته حلق یا قصر وکړي، نو په جرمانه کې یو دَم لازمیږي. (انوار الایضاح)

رمی پر حلق مخکې کول

﴿۱۲۶۱﴾ وَتَقْدِيْمُ الرَّمْيِ عَلَى الْحَلْقِ (۸) او رَمی (ویشتل د جمرو) تر سر خرېیلو مخکې کول.

تشریح: (۸)... د جمرهٔ عقبه رمی له حلق ځخه مخکې کول واجب دي. (په منیٰ کې چې د حرم شریف وطرف ته بالکل په آخر کې کومه ستنه [تمبه] ده، یا په بل وړاندې د حرم شریف وطرف ته آخرني شیطان، هغه ته جمرهٔ عقبه وایي)، او ترتیب به داسې وي چې په یوم النحر (د لوی اختر په ورځ) دې اولاً د جمرهٔ عقبه رمی وکړي، تر هغه وروسته دې قرباني وکړي (که قرباني باندې لازم وي)، تر هغه وروسته دې حلق یا قصر وکړي، دا ترتیب واجب دی، لهذا که له رمي ځخه مخکې قرباني یا حلق وکړي، یا له قربانۍ ځخه مخکې حلق وکړي، نو په جرمانه کې یو دَم لازمیږي (خو د صاحبینو رَحِمَهُمَا الله په نیز دا ترتیب سنت دی؛ نو د دې په خلاف کولو کې دَم نه لازمیږي، او نن سبا د ډېر رش په وجه علماء کرام پر همدې فتویٰ ورکوي). (انوار الایضاح)

قرباني پر حلق مخکې کول

﴿۱۲۶۲﴾ وَنَحْرُ الْقَارِنِ وَالْمُتَمَتِّعِ بَيْنَهُمَا (۹) او د حجِ قران کونکي او حجِ تمتع کونکي (لپاره) د رَمی او حَلق په مینځ کې قرباني کول.

لغات: ﴿نحر﴾ قرباني کول، د نحر اصل معنیٰ ده: سینې ته نژدې رګونه په تېره شي باندې داسې پرېکول چې په یوه وارېې کار خلاص سي، ﴿قارن، متمتع﴾ د دې دواړو وضاحت څه مخکې د مسئله نمبر ﴿۱۲۵۸﴾ په لغاتو کې وسو.

تشریح: (۹)... د متمتّع او قارن لپاره قرباني پر حلق مخکې کول واجب دي، لهذا که حلق مخکې کړي، نو دم لازمیږي. (انوار الایضاح)

طواف زيارت د قرباني په ورځو (ايام النحر) كي كول

﴿۱۲۶۳﴾ وَإِيْقَاعُ طَوَافِ الزِّيَارَةِ فِيْ أَيَّامِ النَّحْرِ (۱۰) او طواف زيارت (طواف افاضه) د قرباني په ورځو كي واقع كول.

تشريح: (۱۰)... طواف زيارت د قرباني په ورځو يعني د ذو الحجې په لسمه يا يوولسمه يا دوولسمه كي اداء كول واجب دي، يعني كه په دغه دريو ورځو كي يو ورځ هغه اداء كړي، نو جرمانه نه واجبيږي. (انوار الايضاح)

د صفا و مروه تر مينځ سعی كول

﴿۱۲۶۴﴾ وَالسَّعْيُ بَيْنَ الصَّفَا وَالْمَرْوَةِ فِيْ أَشْهُرِ الْحَجِّ (۱۱) او د حج په مياشتو كي د صفا او مروه تر مينځ سعی كول.

لغات: ﴿السعی﴾ د فتح له بابه اسمِ مصدر دی، د دې باب له معناوو څخه يوه معنیٰ ده: تګ كول، مراد ځني د صفا و مروه تر مينځ په مخصوصه طريقه سره تلل دي، ﴿صفا﴾ دا د كعبې شريفي مشرقي جنوبي طرف ته يو كوچنی غر دی او له همدې څخه د سعی ابتداء كول كيږي، ﴿مروة﴾ صفا غره ته مخامخ بل كوچنی غر دی، دلته سعی ختميږي.

تشريح: (۱۱)... د صفا ومروه تر مينځ سعی واجب ده، د سعی د پرېښوولو په صورت كي جرمانه لازميږي، د ائمه ثلاثه وو په نيز هغه ركن ده.

﴿۱۲۶۵﴾ وَحُصُوْلُهٗ بَعْدَ طَوَافٍ مُعْتَدٍّ بِهٖ (۱۲) او دا سعی تر معتبر طواف وروسته واقع كېدل (يعني له طواف كولو څخه وروسته سعی كول).

لغات: ﴿حصول﴾ د نصر د باب مصدر دی: حاصلېدل، واقع كېدل، ثابتېدل، د ضمير مرجع السّعی ده، ﴿معتدّ﴾ د افتعال له بابه مفعول دی، اِعْتَدَّ يَعْتَدُّ اِعْتِدَادًا: د دې باب له معناوو څخه يوه معنیٰ ده: اعتبار كول (قاموس)، همدارنګه بله معنیٰ يې ده شمېرل او داسي نور.

تشريح: (۱۲)... يعني دا سعی بين الصفا والمروه به تر داسي طواف وروسته وي كوم چي له جنابت، حيض او نفاس څخه د پاكوالي په حالت كي سوی وي، نو دا سعی تر معتد به (معتبر) طواف وروسته واقع سوه، لنډه دا چي له هري سعی څخه مخكي يو طواف كېدل واجب دي، برابره ده طواف قدوم وي، طوافِ زيارت وي او كه طوافِ نفل وي، لهذا كه څوک بغير له طواف څخه سعی وكړي، نو په جرمانه كي دم لازميږي. (انوار الايضاح)

په پښو (پیاده) سعی کول

﴿۱۲۶۶﴾ وَ الْمَشْيُ فِيْهِ لِمَنْ لَاعُـذْرَلَـهٗ (۱۳) او (همدارنګه واجب دي) په سعی کي پیاده تلل د هغه کس لپاره چي هیڅ عذر ورلره نه وي.

تشریح: (۱۳) دنامعذوره کس لپاره په سعی کي په پښو تلل واجب دي، لهذا که بېله عذره پر سپارلي سعی وکړي، نو دَم لازمیږي.

له صفا غره څخه سعی شروع کول

﴿۱۲۶۷﴾ وَبِدَاءَةُ (بِدَايَةُ) السَّعْيِ مِنَ الصَّفَا (۱۴) او سعی له صفا څخه شروع کول.

لغات: ﴿بداءة﴾ دفتح دباب مصدر دی: شروع کول، پېلول.

تشریح: (۱۴)... دسعی کولو په وخت کي له صفاغره څخه شروع کول دبعضي علماؤ په نېز واجب دي او دبعضو په نېز سنت، خو له صفا څخه دشروع نه کولو په صورت کي دهیچا په نېز دَم نه واجبیږي، فقط له صفا څخه به دسعی اعاده وکړي، نور هیڅ جرمانه نسته. او که اعاده نه وکړي، نو یوه صدقهٔ فطر لازمیږي. (انوار الایضاح)

طوافِ وداع (طوافِ صدر) کول

﴿۱۲۶۸﴾ وَ طَوَافُ الْوَدَاعِ (۱۵) او طوافِ وداع کول (دا واجب دآفاقي لپاره خاص دی).

تشریح: (۱۵)... پر آفاقي کس وطن ته دروانېدلو په وخت کي طوافِ وداع کول واجب دي، دې ته طواف صدر هم وایي.

یادونه: آفاقي هغه حاجي یا عمره کونکي ته وایي کوم چي له میقات څخه بهر اوسیږي (که څه هم له اهلِ مکه څخه وي)، یا په بله وینا چي له میقات څخه بهر له بل وطن او بل ملک څخه حرم شریف ته راغلی وي لکه افغانی، پاکستانی، یمنی، مصری او داسي نور.

له حجرِ اسود څخه د طواف شروع کول

﴿۱۲۶۹﴾ وَبِدَاءَةُ كُلِّ طَوَافٍ بِالْبَيْتِ مِنَ الْحَجَرِ الْأَسْوَدِ (۱۶) او دبیتُ الله (کعبي شریفي) هر طواف له حجرِ اسود څخه شروع کول.

تشریح: (۱۶)... دکعبې شریفي هر طواف له حجرِ اسود څخه شروع کول واجب دي. همداسي صاحب د "درمختار" ویلي دي، او زیاتره علماؤ سنت ورته ویلي دي. د دې د پرېښوولو په صورت کي دراجح قول مطابق دَم نه واجبیږي.

﴿۱۲۷۰﴾ وَالتَّیَامُنُ فِیْهِ (۱۷) او په طواف کي له راسته طرف څخه شروع کول.

لغات: ﴿التیامن﴾ د تفاعل د باب مصدر دی: له راسته طرفه کار کول، له راسته طرفه شروع کول. (معجم لغة الفقهاء)

تشریح: (۱۷)... طواف چي څرنګه له حجرِ اسود څخه شروع کول واجب دي، همداسي له راسته طرفه شروع کول واجب دي. یعني کعبې شریفې ته چي ورسیږي، نو اول دي د حجرِ اسود استلام وکړي (یعني هغه دي مسه کړي)، بیا دي راسته طرف ته روان سي او اُووه واره دي په کعبې شریفې باندي راوګرځي (یعني اُووه شوطه دي پوره کړي)، دا یو طواف سو.

طواف پیاده کول

﴿۱۲۷۱﴾ وَالْمَشْیُ فِیْهِ لِمَنْ لَا عُذْرَ لَهٗ (۱۸) او په طواف کي پیاده تلل د هغه کس لپاره چي هیڅ عذر ورلره نه وي.

تشریح: (۱۸)... په طواف کي پیاده (په پښو) تلل واجب دي که قدرت لري او څه عذر نه وي، لهذا که د قدرت باوجود بېله عذره پر سپارلي طواف وکړي، نو په جرمانه کي دَم لازمیږي.

طواف د پاکۍ په حالت کي کول

﴿۱۲۷۲﴾ وَالطَّهَارَةُ مِنَ الْحَدَثَیْنِ (۱۹) او له دواړو بې اودسیو (کوچنۍ او لویه بې اودسیا) څخه پاکېدل.

تشریح: (۱۹)... له بې اودسۍ او جنابت څخه د پاکوالي په حالت کي طواف کول واجب دي.

په طواف کي عورت پټول

﴿۱۲۷۳﴾ وَسَتْرُ الْعَوْرَةِ (۲۰) او عورت پټول.

تشریح: (۲۰)... د طواف په حالت کي عورت (د عورت استر االندامونه) پټول [illegible] په لڅ [illegible] د طواف کولو په صورت کي دَم واجبیږي.

﴿۱۲۷۴﴾ وَأَقَلُّ الْأَشْوَاطِ بَعْدَ فِعْلِ الْأَکْثَرِ مِنْ طَوَافِ الزِّیَا[illegible] التحر[illegible]
طواف زیارت د اکثره (یعني د څلورو) شوطونو تر اداء کولو وروسته کم [illegible] کو[illegible]

لغات: ﴿أشواط﴾ جمع د شَوْطٌ ده: پر کعبې شریفې یو ځل راګرځېدلو ته یو "شَوط" ویل کیږي، کوم ته چې "دَور" هم وایي، په طواف کې اُووه شوطه (اووه دَوره) کول کیږي، نو اکثریې څلور شوطه کیږي او تر څلورو کم اقلّ دي.

تشریح: (۲۱)... د طواف زیارت د اکثره حصې (څلور شوطو) له پوره کولو څخه وروسته کم (یعني درې شوطه) اداء کول واجب دي. مطلب دا چې په طوافِ زیارت کې د شوط اکثره حصه یعني لږ تر لږه څلور شوطه پوره کول خو فرض دي، کنې طواف نه صحیح کیږي او تر هغه وروسته پاتې درې شوطه واجب دي، فرض نه دي. او دا طواف به د قربانۍ په ورځو (ایامُ النحر) کې کول کیږي.

د احرام ممنوعات

﴿۱۲۷۵﴾ وَتَـرْكُ الْمَحْظُـوْرَاتِ (۲۲) او ممنوعه شیان پرېښوول (دا هم واجب دي) كَلُبْسِ الرَّجُلِ الْمَخِيْطَ (ممنوعه شیان) لکه د سړي (لپاره) ګنډل سوي جامې اغوستل وَسَتْرِ رَأْسِهٖ وَوَجْهِهٖ او خپل سر او خپل مخ پټول وَسَتْرِ الْمَرْأَةِ وَجْهَهَا او د ښځې (لپاره) خپل مخ پټول وَالرَّفَثِ او ګنده (فحش) خبرې کول وَالْفُسُوْقِ او نافرماني (او د ګناه کار) کول وَالْجِدَالِ او جګړه (او جنجال) کول وَقَتْلِ الصَّيْدِ او ښکار وژل وَالْإِشَارَةِ إِلَيْهِ او (یا) د ښکار وطرف ته اشاره کول وَالدَّلَالَةِ عَلَيْهِ او (یا) د ښکار پر طرف ښوونه کول.

لغات: ﴿محظورات﴾ جمع د مَحْظُوْرٌ ده: ممنوع شی (ناروا)، هر هغه شی چې له هغه څخه به ځان ساتل کیږي، ﴿رفث﴾ ګنده او چټې بدې خبرې، لکه د ښځو په موجودیت کې د جماع او داسې نورې بدې خبرې کول. د نکاح، جماع وغیره کومې خبرې چې کنایتاً کول کیږي هغه صراحتاً کول، د احرام په حالت کې د دې ګنجائش هم نسته، رَفَثَ يَرْفُثُ رَفْثًا: ګنده او بدې خبرې کول، ځینې وخت له رفث څخه جماع هم مرادیږي، لکه په دې آیت کې: ﴿أُحِلَّ لَكُمْ لَيْلَةَ الصِّيَامِ الرَّفَثُ إِلٰى نِسَائِكُمْ﴾.

﴿فسوق﴾ بدکاري، ګناه او معصیت (نافرماني)، د حق او صلاح له لارې څخه اوښتل. د ګناه کار خو په هر حال کې حرام او ناجائز دی، لیکن د احرام په حالت کې نور هم سنګین جرم دی، لهذا په حج کې له ګناه او معصیت څخه بچ کېدل ضروري دي، کنې حج به یې مقبول نه وي، ﴿جدال﴾ جګړه، نښته، زیات بحث او تکرار کول، د حج د ملګرو سره جګړې او جنجالونه کول، له دې څخه هم بچ

کېدل ضروري دي، ﴿صيد﴾ ښکار ﴿إشارة﴾ وښکار ته اشاره کول، يعني چې ښکار مخ ته موجود وي او محرم د هغه وطرف ته اشاره وکړي، دا ناجائز دي، ﴿دلالة﴾ د ښکار لا رښوونه، يعني ښکار خو مخته موجود نه وي ليکن د ښکار په باره کې محرم ته معلومات وي او هغه بل چا ته وښيي، دا هم ناجائز دي.

تشريح: (۲۲)... د احرام په حالت کې د احرام له ممنوعاتو څخه ځان ساتل واجب دي، مثلاً د سړي لپاره له ګنډل سوو جامو څخه ځان ساتل، سر او مخ له پټولو څخه ساتل او داسې نور، همدارنګه د ښځې لپاره هم د احرام په حالت کې مخ پټول ممنوع دي، ليکن که له پرديو خلکو (اجنبيانو) څخه د پرده کولو په نيت پر مخ کپړه داسې واچوي چې کپړه مخ مسه نه کړي (يعني کپړه له مخ څخه ليرې وي او نه ور سره لګيږي)، نو جائز دي او د دې خيال ساتل ضروري دي چې کپړه به د مخ سره نه لګيږي.

همدارنګه د احرام په حالت کې به له هغه خبرو څخه ځان ساتي کوم چې الله تعالىٰ منع کړي دي، يعني مثلاً د ښځې په موجوديت کې د جماع خبرې او داسې نورې سپکې او ګنده (فحش) خبرې کول، جماع او دواعي د جماع خو هلته پرېږده!، خو که ښځه ور سره نه وي او د احرام په حالت کې عشقيه خبره يا عشقيه شعر ووايي، نو د احنافو په نيز دا رفث نه دی، همدارنګه له ملګرو سره جنګ وجنجال کول د حج په دوران کې له دې څخه هم ځان ساتل ضروري دي، د حج په سفر کې پر معمولي خبرو جنګ وجنجال پېښيږي، نو له دې څخه پوره بچ کېدل پکار دي، همدارنګه د احرام په حالت کې به د حرم شريف په ښکار کار نه لري او نه به يې وژني او نه به وبل چا ته د دې ښکار اشاره او لا رښوونه کوي. (انوار الايضاح)

د حج سنتونه (له احرام څخه مخکې غسل يا اودس کول)

﴿۱۲۷۶﴾ وَسُنَنُ الْحَجِّ او د حج سنتونه (تقريبا ټول يې دوه څلوېښت [۴۲] سنتونه ذکر کړي دي) مِنْهَا الْاِغْتِسَالُ (۱) له هغوی (د حج له سنتو څخه يو) غسل کول دي وَلَوْلِحَائِضٍ وَنُفَسَاءَ که څه هم د حيض والا يا نفاس والا ښځه وي (يعني که څه هم ښځه په حيض يا نفاس کې وي، د هغې لپاره هم غسل کول سنت دي) أَوِ الْوُضُوْءُ (۲) يا اودس کول إِذَا أَرَادَ الْإِحْرَامَ کله چې هغه د احرام تړلو اراده وکړي.

تشريح: د حج د سنتونو حکم دا دی چې د هغوی په کولو سره زيات اجر او ثواب حاصليږي. قصداً پرېښوول يې مکروه دي، خو حج اداء کيږي او څه جرمانه يعني دَم يا صدقه نه لازميږي (مصنف رَحِمَهُ الله دلته تقريبا دوڅلوېښت [۴۲] سنن ذکر کړي دي او بعضو څلور څلوېښت (۴۴) ليکلي دي لو چې سره جلا کړل سي او

مکرر افعال جلا وشمېرل سي. نو تقریبا شپېتو (۶۰) ته رسيږي لکه څرنګه چي صاحب د ثمرة النجاح په آخر کي همدغه سنتونه ټوله ۶۰ سنته ليکلي دي).

ښکاره دي چي د سنن په ذکر کولو سره فقهاء کله سنن او مستحبات دواړه مرادوي او کله بيا د دې برعکس کوي، دلته هم د سننو په ضمن کي بعضي مستحبات ذکر سوي دي، او بله خبره دا ده چي بعضي شيان د حج سنتونه دي او بعضي د احرام سنتونه دي، دلته دواړه يو ځای (ګډ) بيان سوي دي. حتى الامکان به د دواړو وطرف ته اشاره وکړو (ان شاء الله تعالىٰ).

الاغتسال إلخ: فرمايي کله چي يو کس د احرام تړلو اراده وکړي، نو اول دي غسل وکړي يا دي اودس وکړي، خو غسل کول افضل دي او غسل يا اودس کول د حج او احرام دواړو لپاره سنت دي؛ ځکه احرام له شعائرُ الله څخه دی، نو په غسل يا اوداسه سره د احرام تړل د هغه لپاره تعظيم او احترام دی لکه څرنګه چي قرآن کريم په اوداسه سره مسه کول د هغه تعظيم دی.

او که د لمبېدو موقع نه وي، نو بغير د لمبېدو څخه هم د احرام په تړلو کي هيڅ حرج نسته لکه نن سبا چي د طيارو (جهازونو) د لاري سفر کيږي او پر هيڅ هوايي ډګر د لمبېدو انتظام نه وي، نو له کور څخه د روانېدو په وخت کي لمبېدل کافي دي.

همدارنګه د حيض و نفاس په حالت کي احرام تړل او له طواف څخه بغير نور اُمور ترسره کول بېله کراهته جائز دي. يعني حيض ونفاس له احرام وغيره څخه مانع نه دي. (انوار الايضاح)

د احرام کپړې

﴿۱۲۷﴾ وَلُبْسُ إِزَارٍ وَرِدَاءٍ جَدِيْدَيْنِ أَبْيَضَيْنِ (۳) او لنګ او څادر اغوستل کوم چي دواړه نوي (او) سپين وي (يعني نوي سپين لنګ او څادر اغوستل).

لغات: ﴿لُبْس﴾ د سمع د باب مصدر دی: اغوستل. ﴿إزار﴾ لنګ، جمع: أُزُرٌ. ﴿رداء﴾ څادر (پټو)، جمع: أَرْدِيَةٌ.

تشريح: فرمايي چي د احرام لپاره تر غسل يا اودس کولو وروسته د احرام دوې کپړې يعني يو څادر او يو لنګ اغوستل د سړي لپاره سنت دي، او دواړه کپړې به نوي وي يا به پرېولل سوي وي، دا د احرام له مستحباتو څخه دي او په احرام کي د سپينو کپړو استعمال افضل دی، خو بيا هم که څوک له سپين رنګ څخه بغير بل رنګ مثلاً تور، سور، زېړ يا زرغون رنګ استعمال کړي. نو هم صحيح دي، يا رنګين دوه يو څادر وغيره واغوندي، نو هم څه حرج پکښې نسته. (انوار الايضاح)

پر بدن د خوشبويي لګولو حکم

﴿۱۲۷۸﴾ وَالتَّطَيُّبُ (۴) او خوشبويي لګول.

تشريح: د احرام تړلو لپاره تر غسل کولو وروسته په بدن باندي عطر وغيره لګول سنت دي. کله چي عطر او خوشبويي په آساني سره تر لاسه کېدلای سي، او د احرام پر کپړو داسي ګاټه (خنډ) عطر لګول مثلاً کلک مشک چي د هغه اثر او نښه تر ډېره وخته پوري نه ځي، صحيح نه دي. (انوار الايضاح)

دوه رکعته صلاة احرام

﴿۱۲۷۹﴾ وَصَلوٰةُ رَكْعَتَيْنِ (۵) او دوه رکعته نفل کول.

تشريح: دوه رکعته لمونځ کول د احرام سنت دي، په اول رکعت کي دي "قُل يا أيها الكافرون" او په دويم رکعت کي دي "قُل هو الله أحد" ووايي. او که يو څوک په مکروه وخت کي احرام وتړي. نو په هغه وخت کي دي لمونځ نه کوي. (انوار الايضاح)

تلبيه زياته ويل، په لوړ آواز سره ويل او په هر حالت کي ويل او مکرّره ويل

﴿۱۲۸۰﴾ وَالْإِكْثَارُ مِنَ التَّلْبِيَةِ بَعْدَ الْإِحْرَامِ (۶) او له احرام تړلو څخه وروسته تلبيه زياته (په کثرت سره) ويل.

﴿۱۲۸۱﴾ رَافِعًا بِهَا صَوْتَهٗ (۷) په داسي حال کي چي لوړونکی وي په تلبيه سره د خپل آواز (يعني تلبيه په لوړ آواز سره ويل هم سنت دي).

﴿۱۲۸۲﴾ مَتٰى صَلّٰى أَوْ عَلَا شَرَفًا (تلبيه په هر حالت کي زياته او په زوره ويل سنت دي يعني) کله چي لمونځ کوي يا يو لوړ ځای ته خېژي أَوْ هَبَطَ وَادِيًا يا يو کښته (لاندي) ځای ته شوه کېږي أَوْ لَقِيَ رَكْبًا يا د قافلې (کاروان والا) سره يو ځای کېږي وَبِالْأَسْحَارِ او د سهار (او پېشلمي) په وختونو کي.

﴿۱۲۸۳﴾ وَتَكْرِيْرُهَا كُلَّمَا أَخَذَ فِيْهَا (۸) او تلبيه بار، بار (څو واره) ويل هر کله چي هم تلبيه ويل شروع کړي. (کم از کم درې واره پرلپسې ويل)

لغات: ﴿إكثار﴾ د افعال د باب مصدر دی: زيات کول، شمېر ور زياتول. ﴿علا﴾ د نصر د باب ماضي ده، مصدر: عُلُوًّا: لوړېدل، پورته کېدل. ﴿شَرَفًا﴾ د سمع له بابه اسم مصدر دی الشَّرَفُ: د دې لفظ

څو معناوي دي چي له هغوی څخه یوه معنیٰ ده: لوړ ځای (کوم چي له خپل شاوخوا ځمکي څخه پورته وي)، ﴿هبط﴾ د ضرب د باب ماضي ده: کښته کېدل، لاندي راتلل، ﴿واديًا﴾ شله (شېله)، د غرونو یا غونډیو په مینځ کي کښته د باراني اوبو د بهېدلو لاره، دلته ځني مراد کښته (لاندي) ځای دی، ﴿رَكْبًا﴾ جمع د رَاكِبٌ ده: دلسو یا زیاتو سپرو (سپارلیو) قافله، ﴿أسحار﴾ جمع د سَحَرْ ده: د شپې آخر له صبح صادق (طلوع الفجر) څخه لږ څه مخکي وخت، د سهار (صبح کاذب او صبح صادق) وخت ته هم ویل کیږي، لکه څرنګه چي وايي: لقيتُه في أعلى السّحرين (یعني د فلانکي سره په پیشلمي او سهار کي ملاو سم)، لکه څرنګه چي فَجْران فجر کاذب او فجر صادق ته وَیل کیږي، ﴿تکریر﴾ د تفعیل د باب مصدر دی: بار، بار کول، راګرځول، ﴿أخذ﴾ د نصر د باب ماضي ده، کله چي د دې باب په صله کي فِيْ راسي، نو معنیٰ یې ده: شروع کول.

تشریح: د احرام په شروع کي یو وار تلبیه ویل شرط دي او له یوه وار څخه زیاته تلبیه ویل سنت دي او په هر حالت کي زیاته تلبیه ویل مستحب دي، یعني د ناستي، ولاړي، تللو، راتللو، پاکي، ناپاکي لنډه دا چي په هر حالت کي له زیاتو څخه زیاته تلبیه ویل مطلوب دي. (انوار الایضاح)

رافعًا بها إلخ: د احرام یو سنت دا دی چي سړی به تلبیه په څه لوړ آواز سره وايي، خو دومره په زوره به یې نه وايي چي د تکلیف او سټړیا باعث وګرځي، او ښځه به تلبیه په کراره وايي چي پردي خلک یې نه واوري.

متى صلّى أو علا إلخ: یعني په هر حالت کي تلبیه له زیاتو څخه زیاته ویل مستحب او مطلوب دي، خو د حالت او وقت د بدلون په وخت کي د تلبیې په استحباب کي نور زیات تأکید راځي، مثلاً د لاندي څخه د لوړ ځای وطرف ته د ختلو په وخت کي، یا لاندي ځای ته د شوه کېدلو په وخت کي، سهار، ماښام او له فرضي لمنځونو څخه وروسته په دغه اوقاتو کي په خصوصي توګه تلبیه ویل پکار دي.

وتکریرها إلخ: او کله چي هم په تلبیه شروع وکړي، نو په هغه وخت کي لږ تر لږه درې واره پرلپسې تلبیه ویل مستحب دي. او د تلبیه په دوران کي دي بله هیڅ خبره نه کوي.

درود شریف ویل او دعاګاني کول

﴿۱۲۸۳﴾ وَالصَّلوٰةِ عَلَى النَّبِيِّ ﷺ (۹) او پر نبي کریم ﷺ درود (زیات) ویل (پر "التلبية" باندي عطف دی "ای الإکثار من الصلوة علی...") وَسُؤَالِ الْجَنَّةِ وَصُ [illegible]

نېکانو د ملګرتیا سوال (خواست) کول وَالْاِسْتِعَاذَةِ مِنَ النَّارِ او له اُور څخه پناه غوښتل.

لغات: ﴿صحبة﴾ ملګرتیا، یو ځای والی، ﴿أبـرار﴾ جمع د بَـرٌّ ده: نېک، رېښتونی او د خیر کس. نېکي کونکی، ﴿استعاذة﴾ د استفعال د باب مصدر دی: پناه غوښتل، په حفاظت کي راتلل، ﴿نار﴾اُور، سوځونکې ګرمي او لمبه، دوږخ، جمع: نِیْرَان.

تشريح: فرمايي چي په کثرت سره دي درود او سلام وايي او تر څو چي ممکنه وي په همدې کي دي مستغرق او وسي، او د دې تر څنګ دي د جنت او هلته د نېکو خلکو د ملګرتيا سوال په کثرت سره کوي او د دوږخ له اُوره څخه دي پناه غواړي.

مکې شريفي ته د داخلېدلو پر مهال غسل کول، او د باب المعلاة د لاري د ورځي داخلېدل

﴿۱۲۸۵﴾ وَالْغُسْلُ لِدُخُوْلِ مَكَّةَ (۱۱) او مکې مکرّمې ته د داخلېدلو لپاره غسل کول وَ دُخُوْلُهَا مِنْ بَابِ الْمُعَلَّاةِ نَهَارًا (۱۲) او مکې مکرمې ته له "باب معلاة" (معلاة دروازې) څخه د ورځي داخلېدل.

تشريح: فرمايي چي مکې شريفي ته د داخلېدو په وخت کي غسل کول سنت دي. څرنګه چي پخوا به له مديني منوّرې څخه خلک ومکې مکرّمې ته تقريباً په لسو ورځو کي رسېدله او په ټوله لاره کي به دوړي او ګرزونه وه او د سړي حالت به ډېر خراب وو، نو ځکه دا سنت سوه چي مکې ته د داخلېدو په وخت غسل وکړي او د احرام کپړې واغوندي بيا مکې ته داخل سي، په دې کي د کعبې شريفي تعظيم دی، لېکن اوس وخت حالت مختلف دی، خلک په بسانو او موټرانو کي سفر کوي. لهذا که موقع وي، نو په جده کي دي غسل وکړي، کنې مکې ته د رسېدلو په وخت کي دي هلته غسل وکړي، هلته د غسل او لمبېلو لپاره معقول انتظام سته. (انوار الايضاح)

ودخولها من باب إلخ: مکې شريفي (بيت الله) ته د داخلېدلو لپاره دوې لاري دي: ① يوه د لوړي خوا څخه ور ته راځي، ② دويمه د لاندي خوا څخه ور ته راځي، نو د لوړي خوا (معلاة څخه) ور ته راتلل دا سنت دي؛ ځکه نبي کريم ﷺ د مکې شريفي له پاسنۍ حصې څخه ومکي ته داخلېدئ "عن ابن عمر (رض) قال: كان رسول الله ﷺ يدخل مكة من الثنية العُليا ويخرج من الثنية السفلى" (بخاري شريف، باب من اين يدخل مكة، ص: ۲۵۶، حديث رقم: ۱۵۷۵)، صاحب د نور الايضاح رَحِمَهُ الله همدا په "من باب المعلاة" سره بيان کړي دي (او ځينو ليکلي دي چي باب المعلة د يو خاص دروازې نوم دی). نن

سبا خلک د بسانو او موټرانو د لاري سفر کوي، نو ځکه پر کومه لاره چي بس او موټر ځي، له هماغه طرف څخه مکې ته دخول کیږي، ها! که څوک په خپل شخصي موټر کي سفر کوي، نو د لوړي خوا څخه مکې ته داخلېدل افضل دي.

نهاراً: د دې په اړه خبره دا ده چي نبي کریم ﷺ مکې مکرّمې ته د ورځي داخل سوی وو، او د دې څو وجهي وې، روایت دا دی "عن ابن عمر (رض) قال بات النبي ﷺ بذی طویٰ حتّی أصبح ثم دخل مکّة و کان ابن عمر (رض) یفعله" (بخاري شریف، باب دخول مکة نهاراً أو لیلا، ص: ۲۵۵، حدیث رقم: ۱۵۷۴)، نو ځکه د ورځي داخلېدل سنت دي. خو نن سبا صورتِ حال مختلف دی. (انوار الایضاح، ثمرة النجاح)

د کعبې شریف د لیدلو په وخت کي کلمه ویل او دعاء کول

﴿١٣٨٦﴾ وَالتَّكْبِيْرُ وَالتَّهْلِيْلُ تِلْقَاءَ الْبَيْتِ الشَّرِيْفِ (۱۳) او "الله أكبر" او "لا إله إلا الله" ویل د کعبې شریفي د زیارت کولو په وخت کي (یا د "تلقاء" معنیٰ ده: د کعبې شریفي ومخ ته، چي د زیارت کولو په وخت کي کعبې ته مخامخ تکبیر او تهلیل ویل) وَالدُّعَاءُ بِمَا أَحَبَّ عِنْدَ رُؤْيَتِهِ (۱۴) او دعاء کول د هغه څه کوم چي د ده خوښ وي د کعبې شریفي د لیدلو په وخت کي وَهُوَ مُسْتَجَابٌ (ځکه) دا دعاء قبلېدونکې ده (یعني د کعبې شریفي د لیدلو په وخت کي دعاء قبلیږي).

لغات: ﴿تِلْقَاء﴾ د سمع د باب مصدر دی: ملاقات کول (دیو چا سره یو ځای کېدل)، د طرف او جهت په معنیٰ سره هم راځي (معجم الوسیط). ﴿مستجاب﴾ د استفعال له بابه مفعول: قبلېدونکی، قبول کړی سوی.

تشریح: کله چي مسجدِ حرام ته داخل سي او پر کعبه شریفه یې نظر پرېوځي، نو درې واره دې "الله اکبر" او درې واره دې "لا إله إلا الله" ووایي او بغیر د لاس پورته کولو څخه د خپل زړه د مرادونو او د خپل خوښ شي دعاء حتماً وکړي؛ غوره دا ده چي د آخرت لپاره دعاء وکړي؛ ځکه په دې وخت کي دعاء قبلیږي. (انوار الایضاح، ثمرة النجاح)

طواف قدوم کول

﴿۱۲۸۷﴾ وَ طَوَافُ الْقُدُوْمِ وَلَوْ فِيْ غَيْرِ أَشْهُرِ الْحَجِّ (۱۵) او طواف قدوم کول که څه هم د حج له میاشتو څخه په غیر (بل وخت) کي وي.

تشریح: له بهر څخه د راتللو په وخت کي چي کوم طواف کول کيږي، هغه ته طواف قدوم (د راتګ طواف) ویل کيږي، د آفاقي کس (کوم چي له بهر ملک څخه مکې شریفي ته راغلی وي) د هغه لپاره طواف قدوم کول سنت دي د تحیّة المسجد په څېر، برابره ده د حج په میاشتو کي مکې شریفي ته راغلی وي، یا له هغه څخه بغیر په بل وخت کي (او دا د هغه آفاقي لپاره سنت دي کوم چي مفرد بالحج یا قارن وي. د متمتع آفاقي یا عمره کونکي او اهلِ مکه لپاره دا طواف سنت دی (انوار الایضاح)). او د دې صورت دا دی چي کله حرم شریف ته داخل سي، نو فوراً دي یو طواف د نفل په توګه وکړي، همدې ته طوافِ قدوم وايي. (ثمرة النجاح. انوار الایضاح)

د اضطباع حکم

﴿۱۲۸۸﴾ وَالْاِضْطِبَاعُ فِيْهِ وَالرَّمَلُ (۱۶) او (همدارنګه سنت دي) په طواف کي اضطباع او رمل کول إِنْ سَعٰى بَعْدَهٗ فِيْ أَشْهُرِ الْحَجِّ (په دې شرط) که تر طواف وروسته سعی (بین الصفا والمروه) کوي د حج په میاشتو کي.

لغات: ﴿اضطباع﴾ د افتعال د باب مصدر دی: له راسته بغل څخه څادر وغیره ایستل او پر چپه اوږه اچول، مصنف رَحِمَهُ الله وروسته په "فصل فی کیفیة ترکیب افعال الحج" کي د اضطباع معنیٰ داسي بیان کړې ده: وَهُوَ أَنْ تَجْعَلَ الرِّدَاءَ تَحْتَ الْإِبْطِ الْأَيْمَنِ وَتُلْقِيَ طَرَفَيْهِ عَلَى الْأَيْسَرِ. ﴿رَمَل﴾ د نصر د باب مصدر دی: په خیال او فخر سره تګ کول. د تګ او رفتار په وخت کي د مېړني جنګیالي کس په څېر خپل دواړه لاسونه لیري ساتل او سینه راکښل او خپل اوږې ښورول، دې ته رَمَل وايي، مصنف رَحِمَهُ الله وروسته په "فصل فی کیفیة ترکیب افعال الحج" کي د دې معنیٰ داسي بیان کړې ده: وَهُوَ الْمَشْيُ بِسُرْعَةٍ مَعَ هَزِّ الْكَتِفَيْنِ.

تشریح: په طواف کي اضطباع کول هم سنت دي، اضطباع دا ده چي محرم به خپل څادر له راسته بغل څخه لاندي راوباسي او پر چپه اوږه به يې واچوي؛ ځکه چي همداسي نبي کریم ﷺ کړي وه.

هر داسي طواف چي تر هغه وروسته سعی بین الصفا والمروة کول کيږي، په هغه طواف کي اضطباع او رمل کول سنت دی د سړیو لپاره، نه د ښځو لپاره، او اضطباع د رمل د آسانتیا لپاره ده، رمل دا دی چي د طواف کولو په دوران کي سینه راایستل او مضبوطه کول او دواړه لاسونه لیري کول، اوږې ښورول او څه تېز تلل، لکه جنګیالی مېړنی کس چي کله میدان ته راشوه کيږي، او کوم څوک چي

قصداً رمل پرېږدي یا د رش او ګڼه ګوڼي په وجه رمل نه وکړي، نو پر هغه هیڅ نه واجبېږي؛ ځکه چي رمل سنت دی.

د احنافو په نېز قاعده دا ده چي تر کوم طواف وروسته سعی وي، په هغه کي رمل سته. او تر کوم وطواف وروسته چي سعی نه وي، په هغه کي رمل نسته، او دا قاعده د مکّي او آفاقي ټولو لپاره ده، څرنګه چي د عمرې تر طواف وروسته سعی سته، نو ځکه د عمرې په طواف کي به هم رمل کول کېږي، نو پر دې بناء د مصنف رَحِمَهُ الله د "فی أشهر الحج" جمله زائده ده؛ ځکه د حج له میاشتو څخه بغیر چي کله بل وخت هم عمره کوي، نو په هره عمره کي یو وار سعی کوي.

ښکاره دي وي چي رمل د طواف په دریو دَورونو (شوطونو) کي سنت دی او اضطباع په اُووه سره دَورنو کي سنت ده (او بعضو لیکلي دي چي اضطباع په اولو دریو دَورونو کي سنت ده، والله اعلم). (ثمرة النجاح، انوار الایضاح بحوالة تحفة الألمعی و ایضاح المناسک)

❀ ❀ ❀

فایده: د رمل د مشروعیت سبب دا وو چي کله مسلمانان د صُلح حدیبیه په دویم کال مکې ته داخل سول او مشرکینو تر دریو ورځو پوري مکه مبارکه خالي پرېښووله، غروته ولاړل، نو نبي کریم ﷺ د صحابه وو سره د کعبې طواف وکړی، د طواف په دوران کي مشرکینو په بعضو مسلمانانو ملنډي ووهلې او داېې وویل چي: أَضْنَاهُمْ حُمّٰى يَثْرَب، (یعني د مدینې تبې دوی ناتوانه او کمزوري کړي دي). کله چي دا خبره نبي کریم ﷺ ته ورسېدله، نو نبي کریم ﷺ د ایماني قوت د څرګندولو په غرض رمل شروع کړی، د نبي کریم ﷺ د دې عمل په لیدلو سره نورو صحابه وو هم رمل شروع کړی. او د دې فایده دا سوه چي د مشرکینو له زړونو څخه د مسلمانانو د کمزورۍ او ضُعف احساس ختم سو. تر فتحِ مکه وروسته که څه هم د رمل سبب ختم سو، لېکن بیا نبي کریم ﷺ د حجةُ الوداع پر موقع هم رمل وکړی او تر نبي کریم ﷺ وروسته د صحابه وو په زمانه کي هم دا حکم او عمل جاري وو. لهذا تر قیامته پوري د طواف کونکو په حق کي دا سنت عمل وګرځول سو.

د سعی په هر دَور (شوط) کي د میلین اخضرین تر منځ تېز تلل

﴿۱۳۸۹﴾ وَالْهَرْوَلَةُ فِيْمَا بَيْنَ الْمِيْلَيْنِ الْأَخْضَرَيْنِ لِلرِّجَالِ (۱۷) او تېز تلل د دوو زرغونو میلونو په منځ کي (کوم چي د صفا او مروه په منځ کي د رول سوي دي) د خلکو لپاره (دا سنت دي) وَالْمَشْيُ عَلٰى هِيْنَةٍ فِيْ بَاقِي السَّعْيِ (۱۸) او په آرامه (په کراره اېر خپل طبعي حالت) تلل په پاته سعی کي.

لغات: ﴿هرولة﴾ د فَعْلَلَةٌ د باب مصدر دی: تېز تلل (د ځغاستي او عادي تګ تر مینځ تګ)، ﴿مِیلَین﴾ تثنیه د مِیْلٌ ده: هغه نښه او علامه چي په لاره کي درول سوې وي. د مسافې د ښوونې او مسافرو ته د لار ښوونې لپاره په لاره کي درول سوې مناره (پایه)، ﴿مشي﴾ د ضرب د باب مصدر دی: تلل. تګ کول. ﴿هینة﴾ له هَوْنٌ څخه دی: په نرمۍ سره. په کراره.

تشریح: مِیْلَیْن أخْضَرَیْن دوه زرغونه میله (پایې) دي کوم چي د صفا او مروه (دوو غرونو) د لاري په مینځ کي درول سوي دي، سړی چي کله د صفا او مروه په مینځ کي سعی کوي او میلین اخضرین ته ورسیږي نو څه دي تېز سي، علیحده ځغستل پکار نه دي، بلکي ځغاستي ته نژدې تېر تلل سنت دي. او د سعی په هر دَور (شَوط) کي د میلین اخضرین سره تېر تلل سنت دي.

❀ ❀ ❀

فایده: د میلین اخضرین تر مینځ تېز تلل د حضرت هاجرې د یادګار په توګه دي کوم چي د حج په مناسکو کي شامل کړل سوي دي، دغه ځای کوم چي د دوو زرغونو میلونو تر مینځ دی (چي یو طرف ته یې د صفا غر دی او بل طرف ته د مَروه غر دی)، دلته مخکي شله (شېله) وه چي د باران او به پکښي راتلې، حضرت هاجره چي کله د اوبو په تلاش کي له صفا غره څخه مَروه ته او له مَروه غره څخه صفا ته تلله او راتلله، نو په دې لاندیني ځای کي به هغه په منډه (په تېزي سره) تېرېدله، د هغې دا منډه او ځغاسته الله ﷻ ته دومره خوښه سوه چي د حج په مناسکو کي یې شامله کړه.

زیات طوافونه کول (او نفلي طواف له نفلي لمانځه څخه افضل دی)

﴿۱۲۹۰﴾ وَالْإِكْثَارُ مِنَ الطَّوَافِ (۱۹) او طواف زیات (په کثرت سره) کول وَهُوَ أَفْضَلُ مِنْ صَلٰوةِ النَّفْلِ لِلْأَفَاقِيِّ او طواف افضل دی له نفلي لمانځه څخه د آفاقي لپاره.

تشریح: له حج او عمرې څخه وروسته تر څو چي په مکه شریفه کي وي، طواف دي کوي. د آفاقي لپاره دا طواف له نفلي لمانځه څخه افضل دی؛ ځکه کور ته چي ولاړ سي، نو بیا د طواف موقع نه ورته حاصلیږي. په یو حدیث کي دي "عن ابن عباس (رض) قال: قال رسول الله ﷺ: من طاف بالبیت خمسین مرّةً خرج من ذنوبه کیوم ولدته أمه" (یعني څوک چي پر کعبه شریفه پنځوس طوافه وکړي. هغه له ګناهونو څخه داسي صفا کیږي لکه په کومه ورځ چي دئ مور زېږولی وي)، او صاحب د تحفة الألمعي لیکلي دي چي په دې شمېر کي نفل، فرض او واجب ټوله طوافونه شامل دي، همدارنګه دا پنځوس

طوافونه په یوه سفر کي کول ضروري نه دي، بلکي د ټوله ژوند د طوافونو مجموعه که پنځوسو ته ورسیږي، نو هم د دې فضیلت مستحق کیږي. (ثمرة النجاح ج: ۲، ص: ۳۲۲، تحفة الألمعی ج: ۳، ص: ۲۶۶)

امام به درې ځایه خطبه وایي

﴿۱۲۹۱﴾ وَالْخُطْبَةُ بَعْدَ صَلوٰةِ الظُّهرِ يَوْمَ سَابِعِ الْحَجَّةِ بِمَكَّةَ (۲۰) او (همدارنګه سنت دي) خطبه ویل (د امام لپاره) د ماپښین تر لمانځه وروسته د ذو الحجې په اُوومه په مکه مکرمه کي وَهِيَ خُطْبَةٌ وَاحِدَةٌ بِلَا جُلُوْسٍ يُعَلِّمُ الْمَنَاسِكَ فِيْهَا او دا یوه خطبه ده بغیر له کښېنستلو څخه (د منځ په مینځ کي، او) په هغې کي به ور وښیي (خلکو ته) د حج افعال (د حج عبادات او طریقې).

لغات: ﴿مناسك﴾ جمع د مَنْسِك ده: د حج عبادات (افعال و ارکان).

تشریح: په حج کي درې خطبې سنت دي چي امام به درې ځایه خطبه وایي: ① د ذو الحجې په اُوومه (۷) په مکه مکرمه کي، ② د ذو الحجې په نهمه په عرفات کي، ③ د ذو الحجې په یوولسمه (۱۱) په منیٰ کي، په دې عبارت کي د اولې خطبې بیان دی، فرمایي چي د ذو الحجې په اُوومه به د ماپښین تر لمانځه وروسته یوه خطبه وواییي چي په هغه کي به خلکو ته د حج د افعالو تعلیم ورکړي. (انوار الایضاح)

د ذو الحجې د اتمې افعال

﴿۱۲۹۲﴾ وَالْخُرُوْجُ بَعْدَ طُلُوْعِ الشَّمْسِ يَوْمَ التَّرْوِيَةِ مِنْ مَكَّةَ لِمِنٰی (۲۱) او په یوم الترویه (یعني د ذو الحجې په اتمه) تر لمر لوېدو وروسته له مکې شریفي څخه و منیٰ ته وتل (روانېدل) وَالْمَبِيْتُ بِهَا (۲۲) او په منیٰ کي شپه تېرول ثُمَّ الْخُرُوْجُ مِنْهَا بَعْدَ طُلُوْعِ الشَّمْسِ يَوْمَ عَرَفَةَ إِلٰی عَرَفَاتٍ (۲۳) بیا د عرفات په ورځ (په نهمه) تر لمر لوېدو وروسته و عرفات ته وتل (روانېدل).

لغات: ﴿یوم الترویة﴾ د ذو الحجې اتمه ورځ، ﴿منٰی﴾ منیٰ له مسجد حرام څخه د درېو میلو پر فاصل واقع ده، کوم چي له وادئ محسر څخه تر جمرۂ عقبه پوري یو پراخ میدان دی چي دواړو طرفونو ته یې غرونه دي، ﴿مبیت﴾ د ضرب له بابه مصدر میمي دی: شپه تېرول.

تشریح: د ذو الحجې په اتمه ورځ (یومُ الترویه) کي تر لمر راختلو وروسته د منیٰ و طرف ته روانېدل سنت دي او هلته شپه تېرول هم سنت دي، د دې لپاره چي په نهمه (یومُ العرفه) کي عرفات ته تلل آسانه سي، ځکه د ذو الحجې په نهمه ورځ تر لمر راختلو وروسته له منیٰ څخه عرفات ته وتل سنت دي.

یادونه: لېکن په اوس وخت کي د شپې لخوا منیٰ ته روانېدل شروع کېږي. د عامو خلکو لپاره د هغه ځای له تاکلو بسانو او موټرانو څخه بغیر په منیٰ کي خپل خېمو ته رسېدل ډېر مشکل دي. نو ځکه عوامو ته همدا مشوره ورکول کېږي چي کوم وخت هم هغه بسانو او موټرانو والا د دوی د بېولو لپاره ټاکلی وي. د هغه پابندي دي وکړي او تر لمر راختلو پوري دي انتظار نه کوي. (انوار الایضاح)

په عرفات کي تر زوال وروسته خطبه ویل او د ماپښین او مازیګر لمنځونه یو ځای اداء کول

﴿۱۲۹۳﴾ فَيَخْطُبُ الْإِمَامُ بَعْدَ الزَّوَالِ (۲۴) بیا دي امام خطبه ووایي تر زوال وروسته قَبْلَ صَلٰوةِ الظُّهرِ وَالْعَصْرِ مَجْمُوْعَةً جَمْعَ تَقْدِيْمٍ مَعَ الظُّهْرِ د ماپښین او (همدارنګه د) مازیګر تر لمانځه مخکي په داسي حال کي چي (دا دواړه لمنځونه) جمع کړل سوي وي د جمع تقدیم په توګه (یعني چي د مازیګر لمونځ دي له خپل وخت څخه را مقدم کړل سي) د ماپښین د لمانځه سره (دي یو ځای اداء کړل سي) خُطْبَتَيْنِ يَجْلِسُ بَيْنَهُمَا دوې خطبې چي د هغوی دواړو په مینځ کي دي کښېني. (په لنډه وینا دا چي: بیا دي امام [په عرفات کي] تر زوال وروسته دوې خطبې ووایي د مازیګر او ماپښین د لمنځونو له جمع تقدیم څخه مخکي او د دواړو خطبو په مینځ کي دي ناسته وکړي).

لغات: ﴿مجموعةً﴾ د فتح له بابه مفعول دی: جمع کړی سوی (یو ځای کړی سوی)، دا له "العصر" څخه د حال کېدو پر بناء منصوب دی، ﴿تقدیم﴾ د تفعیل د باب مصدر دی: مقدّم کول، مخکي کول، **جمع تقدیم**: د مازیګر لمونځ د ماپښین وخت ته را مخکي کول او د ماپښین د لمانځه سره یو ځای اداء کولو ته جمع تقدیم وایي.

تشریح: د ذو الحجې په نهمه (د عرفات په ورځ) تر زوال وروسته به فوراً د ماپښین اذان کېږي او تر اذان وروسته به امام د جمعې د ورځي په څېر تر لمانځه مخکي دوې خطبې وایي چي په هغوی کي به د حج احکام بیانوي او تکبیر تشریق به وایي او له خطبې څخه تر فراغت وروسته به د ماپښین لمونځ او د مازیګر لمونځ دواړه یو ځای د ماپښین په وخت کي په دوو جلا، جلا اقامتونو سره اداء کوي، دا جمع بین الصلاتین ده او دې ته جمع تقدیم وایي (ځکه په دې کي د مازیګر لمونځ له خپل وخت څخه را مقدّم کول کېږي)، او تر لمونځ کولو وروسته به وقوف کول کېږي. (انوار الایضاح، ثمرة النجاح)

د وقوف عرفه سنت طریقه

﴿۱۲۹۴﴾ وَالْاِجْتِهَادُ فِي التَّضَرُّعِ وَالْخُشُوْعِ وَالْبُكَاءِ بِالدُّمُوْعِ (۲۵) او کوشش کول د عاجزۍ (عجز) او د ځان د ټیټ وسي (او بیري) په ښکاره کولو (او توجه سره لو) او په اوښکو سره ژړلو کي

وَالدُّعَاءُ لِلنَّفْسِ وَالْوَالِدَيْنِ وَالْإِخْوَانِ الْمُؤْمِنِيْنَ بِمَا شَاءَ مِنْ أَمرِ الدَّارَيْنِ (۲۶) او دعاء كول د خپل ځان، مور و پلار او مؤمنانو ورونو لپاره د دين او دنيا له كارونو څخه چي د كوم څه (دعاء) يې خوښه وي فِي الْجَمْعَيْنِ په دارو جمعو (مجمعو) كي.

لغات: ﴿الاجتهاد﴾ د افتعال د باب مصدر دی: پوره كوشش كول، محنت كول. ﴿تضرّع﴾ د تفعّل د باب مصدر دی: د عاجزۍ اظهار كول، د خپل بې وسۍ او لاچارۍ اظهار كول. ﴿خشوع﴾ د فتح د باب مصدر دی، د دې باب څو معناوي دي: ځان ټيټ ښكاره كول (ځان ټيټول)، د عاجزۍ اظهار كول (لكه د تضرّع چي همدا معنیٰ ده)، ښېړېدل او داسي نور، په لمانځه او داسي نورو عباداتو كي د خشوع او تضرع مطلب دا دی چي د عبادت په دوران كي د الله ﷻ په ستر دربار كي ځان حاضر گڼل او د ځان د عاجزۍ او ټيټوالي اظهار كول او په زړه او دماغ ټولو سره د الله وطرف ته پوره متوجه كېدل، همدارنگه كلمات وغيره په توجّه سره ويل. ﴿فی الجمعين﴾ دا جار و مجرور د "الاجتهاد" مصدر سره متعلق دي، او صاحب د ثمرة النجاح ليكلي دي چي له دوارو جمعو څخه د عرفات جمع بين الصلاتين او د مزدلفې جمع بين الصلاتين مراد ده (په مزدلفه كي هم د ماښام او ماخوستن لمنځونه د ماخوستن په وخت كي سره جمع كول كيږي) (والله أعلم).

تشريح: په عرفات كي د وُقوف كولو په دوران كي دي مخ پر قبله ودرېږي، دواړه لاسونه دي د آسمان وطرف ته پورته كړي، تكبير، تهليل، تسبيح، حمد وثناء، استغفار او درود شريف دي وايي او د زړه په حضور سره دي د خپل مور و پلار، قريبانو، عزيزانو، دوستانو او ټولو مؤمنانو (نارينه او ښځينه) لپاره په ژړا، ژړا سره دعاء وكړي او په همدې طريقه سره دي بار، بار دعاگاني وغواړي (دا سنت دي). (انوار الايضاح)

يادونه: صاحب د ثمرةُ النجاح (مولانا ثمير الدين قاسمي مدّظله العالی) ليكلي دي چي له "جمعين" څخه مراد د عرفات او مزدلفې دوارو جمع بين الصلاتين ده او مطلب د عبارت دا دی چي په عرفات او مزدلفه كي دي په خشوع وخضوع او ژړا سره دعاگاني كوي. (ثمرة النجاح ج: ٢، ص: ٣٢٥)، خو د نور الايضاح په نورو شروحو كي مي دا صراحت نه ومیندی.

﴿١٢٩٥﴾ وَالدَّفْعُ بِالسَّكِيْنَةِ وَالْوَقَارِ بَعْدَ الْغُرُوْبِ مِنْ عَرَفَاتٍ (۲۷) او روانېدل په سكون (آرام) او په حلم (زغمنه او نرمتوب) سره تر لمر لوېدلو وروسته له عرفات څخه.

لغات: ﴿وقار﴾ په عربي كي د دې لفظ څو معناوي دي: حِلم (تكليف زغمل، تحمّل)، نرمتوب، لويي، عزت او درنښت. (معجم الوسيط بتفصيل)

تشريح: د عرفات په ورځ تر لمر لوېدو وروسته دي په سکون او وقار سره له میدان عرفات څخه ووځي په داسي حال کي چي د تلبیه، تکبیر او تهلیل ویونکي او ذکر کونکي وي، دا هم سنت دي، او د عرفات په ورځ د حاجیانو لپاره تر لمر لوېدو مخکي د عرفات له حدودو څخه وتل جائز نه دي. (ثمرة النجاح. انوار الایضاح)

وقوف مزدلفه

﴿۱۲۹۶﴾ وَالنُّزُوْلُ بِمُزْدَلِفَةَ مُرْتَفِعًا عَنْ بَطْنِ الْوَادِيْ بِقُرْبِ جَبَلِ قُزَحَ (۲۸) او کښته کېدل (تمبدل) په مزدلفه کي له بطن وادي څخه لوړ (لوړي خواته) جبل قُزح ته نژدې.

لغات: ﴿جبل قزح﴾ دا د مزدلفې په میدان کي یو کوچنی غر دی چي د هغه په لمنه کي "مسجدِ مشعرحرام" جوړ سوی دی، او د دې غره لړ آثار پاته دي، کله چي له عرفات څخه مزدلفې ته روانیږي، نو راسته او چپه طرف ته دوه غرونه دي کله چي د دواړو غرونو تر مینځ تېر سي او د غره حصه ختمه سي، نو د مزدلفې حصه شروع کیږي او مخامخ جبل قزح او "مسجد مشعر حرام" لیدل کیږي (ایضاح المناسک). قُزَح پر وزن د عُمَر دی، غیرِ منصرف دی د علمیت او عدل پر بناء، له قازح څخه معدول دی په معنیٰ سره د لوړوالي. (طحطاوي)

تشريح: د وقوفِ مزدلفه وخت د ذو الحجې لسمه (یعني د لوی اختر په ورځ) له صبح صادق څخه تر طلوع الشمس پوري (دا لږ وخت) دی، لهذا که څوک له صبح صادق (طلوع الفجر) څخه مخکي یا له طلوع الشمس (لمر راختلو) څخه وروسته وقوف وکړي، نو د هغه وقوف نه صحیح کیږي، او په مزدلفه کي یو ځای "بطن وادي" دی، هلته دي نه درېږي، بلکي د قُزَح غره سره دي نژدې درېږي، دا سنت دي (او صاحب د "انوار الایضاح" لیکلي دي چي مستحب دي).

﴿۱۲۹۷﴾ وَالْمَبِيْتُ بِهَا لَيْلَةَ النَّحْرِ (۲۹) او شپه تېرول په مزدلفه کي د قرباني (لوی اختر) شپه.

تشريح: د عبارت مطلب دا دی چي کله د ذو الحجې په نهمه تر لمر لوېدو وروسته له عرفات څخه ومزدلفې ته ولاړ سي، نو را روانه شپه کوم چي د ذو الحجې لسمه شپه ده یعني د لوی اختر شپه هلته په مزدلفه کي تېرول سنت دي او وقوفِ مزدلفه (چي په تېر عبارت کي یې بیان وسو) واجب دی.

د منیٰ ورځي او شپې

﴿۱۲۹۸﴾ وَبِمِنٰى أَيَّامَ مِنٰى بِجَمِيْعِ أَمْتِعَتِهٖ (۳۰) او (شپه تېرول اوپاتېدل) په منیٰ کي د منیٰ په ورځو کي د خپل ټوله سامان سره.

﴿۱۲۹۹﴾ وَكُرِهَ تَقْدِيْمُ ثِقْلِهِ إِلٰى مَكَّةَ إِذْ ذَاكَ او مکروه دي خپل سامان مخکي استول ومکې مکرمې ته په دغو ورځو کي.

لغات: ﴿جميع﴾ ټوله، کُل، د تأکید لفظي لپاره دی، ﴿أمتعة﴾ جمع د مَتَاع ده: سامان. هر د استفادې قابل شی، ﴿ثِقْل﴾ وزن، بوج، درووند والی (درووند شی)، جمع: أَثْقَال.

تشریح: د ذو الحجې په لسمه (د لوی اختر په ورځ) چي طوافِ زیارت وکړی، نو واپس دي منیٰ ته راسي او د منیٰ په ورځو (یعني د ذو الحجې په لسمه، یوولسمه او دوولسمه) کي دي هلته رمی جمار کوي (یعني په دې دریو ورځو کي دي شیطانان ولي) او دا درې شپې دي هلته (په منیٰ) کي پاتېږي، دا سنت دي. (لهذا که له منیٰ څخه بغیر بل ځای شپې تېروي قصداً، نو پر هغه هیڅ شی واجب نه دي)

فایده: په حقیقت کي د حج ټوله پنځه ورځي دي: د ذو الحجې اتمه، نهمه، لسمه، یوولسمه او دوولسمه، د ذو الحجې له دغو پنځو ورځو څخه درې ورځي ایام منیٰ دي، یعني ۱۰/ ۱۱/ ۱۲ د ذو الحجې. یعني نهمه د ذو الحجې له ایام منیٰ څخه نه ده، بلکي هغه د عرفات ورځ ده.

و کُرِهَ تقديم إلخ: او په دې د منیٰ (رمی) په ورځو کي خپل ټوله سامان یعني د پروتي، ناستي پاستي او داسي نور سامان ومکې مکرّمې ته نقل کول مکروه دي؛ ځکه په سامان د مشغولېدو په وجه زړه د حج له افعالو څخه غافله کیږي. خو نن سبا په مکه مکرّمه کي په خپل استوګنځي کي سامان په حفاظت سره پروت وي او حاجیان د ضرورت په اندازه خپلي بسترې د ځان سره وړي. په دې کي څه حرج نسته.

﴿۱۳۰۰﴾ وَيَجْعَلُ مِنٰى عَنْ يَّمِيْنِهٖ وَمَكَّةَ عَنْ يَّسَارِهٖ حَالَةَ الْوُقُوْفِ لِرَمْيِ الْجِمَارِ (۳۱) او (دا هم سنت دي چي) منیٰ دي وخپل راسته طرف ته او مکه دي وخپل چپه طرف ته کړي د جمراتو د رمی (شیطانانو ویشتلو) لپاره د درېدلو په حالت کي.

تشریح: د رمي کولو لپاره د میدان په مېنځ کي داسي درېدل چي کعبه شریفه وچپه طرف ته راسي او منیٰ وراسته طرف ته راسي، دا سنت دي، هسي خو له څلورو سره طرفونو څخه رمی کول صحیح دي، خو سنت پورتنی طریقه ده؛ ځکه نبي کریم ﷺ د میدان له مېنځ (بطنِ وادي) څخه رمی کړې وه او د رمي لپاره همداسي درېدلی وو چي کعبه یې شریف یې چپه طرفه ته وه او منیٰ راسته طرف ته وه، خو نن سبا هلته نه وادي سته او نه د هغه مېنځ سته، خو د سنت په لحاظ کولو سره د رمي لاره جوړه سوې ده. (انوار الایضاح، ثمرة النجاح)

د رمي (شیطان ویشتلو) په وخت کي د درېدلو طریقه

﴿۱۳۰۱﴾ وَكَوْنُهُ رَاكِبًا حَالَةَ رَمْيِ جَمْرَةِ الْعَقَبَةِ فِيْ كُلِّ الْأَيَّامِ (۳۲) او د ده سپور کېدل (چي دئ به سپور وي) د جمرهٔ عقبه د رمی (ویشتلو) په حالت کي په ټولو ورځو کي مَاشِيًا فِي الْجَمْرَةِ الْأُوْلَى الَّتِيْ تَلِيَ الْمَسْجِدَ وَالْوُسْطٰى (او د ده) پیاده کېدل په (حالت د ویشتلو د) جمرهٔ اولیٰ کي کوم چي د مسجد (مسجدِ خیف) سره متصل ده او په جمرهٔ وسطیٰ کي.

﴿۱۳۰۲﴾ وَالْقِيَامُ فِيْ بَطْنِ الْوَادِيْ حَالَةَ الرَّمْيِ (۳۳) او درېدل په "بطنِ وادي" کي د رمی په حالت کي.

لغات: ﴿جمرهٔ عقبه﴾ په منیٰ کي چي کوم مشهوره درې ستني (پایې) دي کوم چي په کاڼو ویشتل کیږي (چي عوام ورته شیطانان وایي)، له هغوی څخه د حرم شریف وطرف ته چي تر ټولو آخره کومه ستنه (پایه) ده، هغه ته جمرهٔ عقبه وایي، همدارنګه جمرهٔ کُبریٰ او جمرهٔ اُخریٰ هم ورته ویل کیږي، او کومه ستنه (پایه) چي د "مسجدِ خیف" سره نژدې ده، هغه ته "جمرهٔ اولیٰ" وایي (مسجدِ خیف په منیٰ کي یو لوی مسجد دی، هغه ته نژدې چي کوم شیطان دی، هغه ته جمرهٔ اولیٰ وایي)، او د "جمرهٔ اولیٰ" څنګ ته چي کومه ستنه (پایه) ده، هغه ته "جمرهٔ اولیٰ" وایي.

تشریح: مسئله دا ده چي د ذو الحجې په لسمه (یعني دلوی اختر په ورځ) به صرف جمرهٔ عقبه ویشتل کیږي او په یوولسمه او دوولسمه کي د درېو سره جمراتو ویشتل (رمی) واجب دي، اوس دلته مصنف رَحِمَهُ الله فرمایي چي د جمرهٔ عقبه (جمرهٔ آخره) ویشتل به په ټولو ورځو کي د سپرتیا په حالت کي کول کیږي او پاته سوه جمرهٔ وسطیٰ او جمرهٔ اولیٰ، هغه په پښو (پیاده) ویشتل افضل دي.

د همدې په رڼا کي احنافو دلته دا قاعده بیان کړې ده چي تر کومي رمي (ویشتلو) وروسته بله رمی وي، نو هغه رمی په پښو کول افضل دي او چي تر کومي رمی وروسته رمی نه وي (لکه د جمرهٔ عقبه رمی)، هغه په سپرتیا سره کول افضل دي. خو نن سبا ټوله خلک په پښو (پیاده) رمی کوي؛ ځکه پر سپارلي د رمی کولو اوس هیڅ صورت نسته. (انوار الایضاح بتصرّفٍ)

والقیام فی إلخ: یعني کله چي رمي (ویشتل) کوي، نو د میدان له مینځ څخه دي یې کوي، د دې تفصیل څه مخکي په ﴿۱۳۰۰﴾ نمبر مسئله کي تېر سو.

﴿۱۳۰۳﴾ وَكَوْنُ الرَّمْيِ فِي الْيَوْمِ الْأَوَّلِ فِيْمَا بَيْنَ طُلُوْعِ الشَّمْسِ وَزَوَالِهَا (۳۴) او په اوله ورځ د لمر راختلو او زوال تر مینځ د رمی کېدل وَفِيْمَا بَيْنَ الزَّوَالِ وَغُرُوْبِ الشَّمْسِ فِيْ بَاقِي الْأَيَّامِ او په پاتې (دوو) ورځو کې د زوال او لمر لوېدلو تر مینځ (د رمی کېدل) وَكُرِهَ الرَّمْيُ فِي الْيَوْمِ الْأَوَّلِ وَالرَّابِعِ فِيْمَا بَيْنَ طُلُوْعِ الْفَجْرِ وَالشَّمْسِ او په اوله او څلورمه ورځ د صبح صادق او لمر راختلو په مینځ (دوران) کې رمی کول مکروه دي.

تشريح: له اولي ورځې څخه مراد د ذوی الحجې ۱۰ (یعني دلوی اختر ورځ) ده چې په دې ورځ تر لمر راختلو وروسته د رمی وخت شروع کیږي او تر زواله پورې د رمی سنت وخت دی، لېکن که تر ماښامه پورې یې په یو وخت کې وکړي، نو هم څه حرج نشته، او د صاحبینو رَحِمَهُمَا الله په نېز که د شپې هم رمی وکړي، نو جائز دي، نن سبا د خلکو د ډېر رش په وجه د صاحبینو پر قول فتویٰ ده (ځکه د ورځې د ډېر رش په وجه جمراتو ته رسېدل مشکل وي).

له باقي ورځو څخه مراد د ذو الحجې ۱۱ او ۱۲ ده، په دې دوو ورځو کې تر زوال وروسته د رمی وخت شروع کیږي او تر ماښامه پورې رمی کول سنت دي، لېکن که څوک یې د شپې وکړي، نو ادا، کیږي، نن سبا د ډېر رش په وجه پر همدې فتویٰ ده.

وكره الرمي الخ: په اوله ورځ یعني د ذو الحجې په لسمه، همدارنګه په څلورمه ورځ یعني د ذو الحجې په دیارلسمه له صبح څخه تر لمر راختلو پورې رمی کول مکروه دي. (شفاء الارواح. ثمرة النجاح)

﴿۱۳۰۴﴾ وَكُرِهَ فِي اللَّيَالِي الثَّلَاثِ او په دریو سره شپو کې (رمی کول) مکروه ده وَصَحَّ او صحیح ده (یعني که د مکروه والي باوجود په شپو کې رمی وکړل سي، نو صحیح ده) لِأَنَّ اللَّيَالِيَ كُلَّهَا تَابِعَةٌ لِمَا بَعْدَهَا مِنَ الْأَيَّامِ ځکه چې ټوله شپې تابع دي د هغه ورځو کوم چې تر شپو وروسته دي (مثلا اول د جمعې شپه راځي بیا تر شپې وروسته یې د جمعې ورځ راځي، خو څلور شپې له دغه قاعدې څخه مستثنیٰ دي چې هغه دا دي) إِلَّا اللَّيْلَةَ الَّتِيْ تَلِيَ عَرَفَةَ مګر (یو) هغه شپه کوم چې د عرفات (د ورځې) سره متصل ده (یعني د عرفات د ورځې څخه وروسته (راروانه) شپه کوم چې د لوی اختر شپه ده، هغه د عرفات د ورځې تابع ده یعني هغه د عرفات شپه کیږي) حَتّٰى صَحَّ فِيْهَا الْوُقُوْفُ بِعَرَفَاتٍ تر دې چې

په دې شپه کې په عرفات کې وقوف کول صحیح دي وَهِيَ لَيْلَةُ الْعِيْدِ او همدا شپه د اختر شپه ده (خو تابع د عرفات د ورځې ده یعنې د عرفات شپه کیږي) وَلَيَالِيَ رَمْيِ الثَّلَاثِ او (بل) د درېو جمرو د رمی شپې (یعنې د شیطانانو د ویشتلو درې شپې، یعنې د ذو الحجې یوولسمه، دوولسمه او دیارلسمه شپه) فَإِنَّهَا تَابِعَةٌ لِمَا قَبْلَهَا نو دا شپې د خپل مخکنیو ورځو تابع دي.

تشریح: په اسلامي تاریخ کې شپه همېشه د را رواني ورځې تابع وي یعنې اول شپه راځي او تر هغه وروسته یې ورځ راځي (یا په بله وینا شپه همېشه د مابعد تابع وي، نه د ماقبل)، مثلاً اول د جمعې شپه راځي بیا تر شپې وروسته د جمعې ورځ راځي، خو څلور شپې د مابعد تابع نه دي بلکې د ماقبل تابع دي، یعنې د ذو الحجې ۹، ۱۰، ۱۱، ۱۲ له دغه قاعدې څخه مستثنیٰ دي، مثلاً د ذو الحجې په نهمه د عرفات ورځ ده او د عرفات شپه را روانه شپه کیږي کوم چې د لوی اختر شپه ده. د قاعدې په لحاظ سره خو تېره شپه د عرفات شپه کېدل پکار دي خو دلته د ذو الحجې د لسمې یعنې د لوی اختر شپه د عرفات شپه کیږي (همدا وجه ده که د ذو الحجې په نهمه ورځ وقوفِ عرفه وکړي او په دې را روانه شپه هم وقوفِ عرفه وکړي، نو هم اداء کیږي)، همدغه ډول را رواني درې ورځې یعنې ۱۰، ۱۱ او ۱۲ کوم چې د رَمی ورځې دي، هغوی مخکې دي او بیا د دوی شپه راځي.

اوس مسئلې ته ګورئ! صورت د مسئلې دا دی چې د ذو الحجې د لسمې (یعنې د لوی اختر د ورځې) رَمی تر لمر راختلو وروسته کول افضل او اولیٰ دي او تر لمر راختلو مخکې په شپه کې رَمی کول جائز نه دي (ځکه دا شپه د ماقبل تابع ده، نو دا د لوی اختر شپه د نهمې ورځې [عرفات] شپه کیږي. او تاسې ته معلومه ده چې د عرفات ورځ د رَمی ورځ نه ده)، او که دا د ذو الحجې د لسمې ورځې رَمی په را روانه شپه وکړي (کوم چې د یوولسمې شپه ده)، نو هم رمی اداء کیږي (ځکه هغه د لسمې شپه کیږي)، خو داسې کول مکروه دي، همدارنګه د یوولسمې او دوولسمې ورځې د رَمی وخت خو له زوال څخه شروع کیږي بیا تر لمر لوېدو پورې، خو که یې په را روانه شپه وکړي، نو هم رَمی اداء کیږي، خو داسې کول مکروه دي، لنډه دا چې د دې ورځو شپه یعنې تر لمر لوېدو وروسته تر صبح صادق پورې دا مکروه وخت دی او تر هغه مخکې (یعنې له زوال څخه تر لمر لوېدو پورې) مسنون وخت دی، له دغه تفصیل څخه معلومه سوه چې رمی په ورځ کې کول پکار دي، که د شپې رمی وکړل سي، نو مکروه دي، لېکن که د ورځې

د زیات رش په وجه جمراتو (شیطانانو) ته رسېدل مشکل وي، نو بیا د شپې رمی کول بېله کراهته صحیح دي.

﴿۱۳۰۵﴾ وَالْمُبَاحُ مِنْ أَوْقَاتِ الرَّمْيِ مَا بَعْدَ الزَّوَالِ إِلَى غُرُوْبِ الشَّمْسِ مِنَ الْيَوْمِ الْأَوَّلِ او د رمی له وختونو څخه مباح وخت په اوله ورځ (یعني ذو الحجې په لسمه) له زوال څخه وروسته تر لمر لوېدو پوري دی.

تشریح: د رمی په اوله ورځ یعني د ذو الحجې په لسمه (کوم چي د لوی اختر ورځ ده) له زوال څخه تر لمر لوېدو پوري د رمی لپاره مباح (روا) وخت دی (لهذا په اوله ورځ که څوک د طلوعُ الشمس او زوال په مینځ کي رمی نه وکړي کوم چي د رمی مسنون وخت دی، نو بیا د زوال او غروب الشمس په مینځ کي هم د هغه لپاره رمی کول روا دي). خو بېله عذره تر زواله پوري تأخیر خلاف سنت دی.

﴿۱۳۰٦﴾ وَبِهٰذَا عُلِمَتْ أَوْقَاتُ الرَّمْيِ كُلُّهَا جَوَازًا وَكَرَاهَةً وَاسْتِحْبَابًا او په همدې (بیان) سره معلوم سول د رمی ټوله وختونه د جائز والي، مکروه والي او مستحب والي په اعتبار سره (یعني له مخکیني بیان څخه د رمی [شیطان ویشتلو] جائز وختونه او مکروه او مستحب وختونه ټوله معلوم سول).

تشریح: له مسئله نمبر ﴿۱۳۰۳﴾ څخه تر دې ځایه پوري چي کوم عبارت دی، له دې ټوله عبارت څخه د رمی د جواز، کراهت او استحباب وختونه معلوم سول، یعني چي کله رمی کول جائز ده، کله مکروه ده او کله مستحب ده، ستاسي د آسانتیا لپاره به ټوله صراحتاً را نقل کړو:

د اولي یعني د ذو الحجې د لسمي ورځي رَمی له طلوع الشمس څخه تر زواله پوري کول مستحب او افضل دي، او له طلوع الشمس څخه مخکي او تر صبح صادق (سپېده چاود) وروسته کول مکروه دي او له صبح صادق څخه مخکي د شپې کول بالکل ناجائز دي (ځکه دا شپه د ما قبل یعني د عرفات د ورځي تابع ده کوم چي د رمی ورځ نه ده)، او په همدې لسمه ورځ له زواله څخه تر غروبُ الشمس پوري هم رمی کول بېله کراهته مباح او جائز دي، خو بېله عذره تر دې وخته پوري تأخیر کول خلاف سنت دي او له غروبُ الشمس څخه وروسته رمی کول مکروه دي.

او د ذو الحجې د یوولسمي او دوولسمي د رمی وخت له زواله څخه شروع کېږي او د را رواني ورځي تر صبح صادق پوري پاتېږي، خو له زواله څخه تر غروب الشمس پوري دا یې سنت وخت دی او له غروب الشمس څخه تر صبح صادق پوري دا یې مکروه وخت دی او تر صبح صادق وروسته د قضاء وخت شروع کېږي او د رمی د قضاء وخت د ذو الحجې د دیارلسمي ورځي تر غروبُ الشمس پوري پاتېږي، تر دې وروسته د رمی وخت ختمېږي، او که د ذو الحجې په دیارلسمه هم په منیٰ کي پاته سي، نو تر زواله پوري د درېو سره جمراتو رمی کول واجب دي (لکه څه وروسته په ﴿۱۳۰۹﴾ نمبر مسئله کي به هم دا جزئیه ذکر سي)، او د صاحبینو رَحِمَهُمَا الله په نېز تر زوال مخکي رمی جائز نه ده، که تر

زوال مخکې رمی وکړي، نو اعاده یې لازم ده یعني تر زوال وروسته به دوباره رمی کوي. او که اعاده نه وکړي، نو په جرمانه کې یوه قرباني واجبیږي. او دامام صاحب رَحِمَهُ الله په نیز په دې صورت کې یعني په دیارلسمه ورځ تر زوال مخکې د رمی کولو په صورت کې اعاده نشته. (انوار الایضاح بحواله الجوهرة النیرة ج:۱، ص:۱۹۷، وحاشیة نور الایضاح)

قرباني د کوم حاجي لپاره سنت او د کوم یوه لپاره واجب ده؟

﴿۱۳۰۷﴾ وَمِنَ السُّنَّةِ هَدْىُ الْمُفْرِدِ بِالْحَجِّ (۳۵) او (همدارنګه) له سنت څخه دي هدی کول (یر ثاروی اقرباني اذبح کول) د حجِ إفراد کونکي حاجي (لپاره) وَالْأَكْلُ مِنْهُ او له دې هدي (قرباني) څخه خوړل (ورلره جائز دي) وَمِنْ هَدْيِ التَّطَوُّعِ وَالْمُتْعَةِ وَالْقِرَانِ فَقَطْ او له نفلي هدی (نفلي قرباني) او د تمتع او قِران له هدی څخه (هم خوړل جائز دي) فقط (یعني ذبح کونکي امالک الره فقط له دغه هدیو اقربانیو اڅخه خوړل جائز دي او پاته سوله دې څخه بغیر د جنایاتو له قربانیو څخه خوړل ورلره جائز نه دي).

لغات: ﴿مُفرِد بالحج﴾ حجِ إفراد کونکی (یعني کوم چې یوازي حج کوي، نه عمره). مخکې ذکر سوه چې حج پر درې قسمه دي: ① حَجِّ إفْرَاد. حجِ إفراد دې ته وایي چې حاجي له میقات څخه یوازي د حج احرام وتړي (یعني فقط د حج لپاره احرام وتړي. نه د عمرې لپاره) او چې کله د حج ارکان اداء کړي او حج ختم کړي. نو احرام خلاص کړي. داسي حاجي ته مُفرِد وایي. ② حَجِّ قِرَان. دې ته وایي چې له میقات څخه د حج او عُمرې دواړو احرام یو ځای وتړي. داسي حاجي ته قَارِن وایي. ③ حَجِّ تَمَتُّع. دې ته وایي چې د حج په میاشتو کې صرف د عمرې احرام وتړي او چې کله عمره ختمه کړي، نو احرام خلاص کړي، بیا د ذوالحجې په اتمه ورځ (یوم الترویه) باندي د حج احرام وتړي. داسي حاجي ته مُتَمَتِّع وایي.

تشریح: مسئله دا ده چې کوم څوک حجِ تمتّع یا حجِ قران کوي، نو پر هغه قرباني کول واجب دي (لکه مخکې چې هم ذکر سوه)، لیکن کوم څوک چې حجِ إفراد کوي. نو پر هغه قرباني لازمه نه ده. خو سنت دا ده چې هغه هم قرباني وکړي. او هغه د خپلي قرباني غوښې خوړلای هم سي، همدارنګه د حجِ تمتع او حجِ قران د قرباني غوښې هم خپله خوړلای سي، خو کومه قرباني چې د یو جرم (جنایت) پر بناء کول کیږي، نو د هغې مستحق صرف فقراء او غریبان دي، خپله خوړل یا مالدارانو ته ورکول صحیح نه دي، (په لنډه توګه دا چې د جنایاتو قرباني صرف د غریبانو لپاره جائز ده. او د حجِ قران قرباني. نفلي قرباني، د تمتع او إفراد قرباني خپله د قرباني کونکي لپاره هم جائز ده).

د حج درېیمه خطبه

﴿۱۳۰۸﴾ وَمِنَ السُّنَّةِ الْخُطْبَةُ يَوْمَ النَّحْرِ مِثْلَ الْأُوْلٰى (۳۶) او (همدارنګه) له سنت څخه دي خطبه ویل په یومُ النحر کي د اولي خطبې په څېر يُعَلِّمُ فِيْهَا بَقِيَّةَ الْمَنَاسِكِ په دې کي به د حج پاته افعال (او ارکان) ور ښیي وَهِيَ ثَالِثَةُ خُطَبِ الْحَجِّ او دا درېیمه خطبه ده د حج په خطبو کي.

لغات: ﴿یوم النحر﴾ د قرباني ورځ کوم چي لسمه د ذو الحجې ده یعني د لوی اختر ورځ، خو دلته له یومُ النحر څخه مراد یوولسمه د ذو الحجې ده (یعني د لوی اختر دویمه ورځ). (انوار الایضاح)

تشریح: مخکي ذکر سوه چي په حج کي درې خطبې سنت دي چي امام به یې وایي: ① د ذو الحجې په اوومه (۷) په مکه مکرّمه کي، ② د ذو الحجې په نهمه په عرفات کي، ③ د ذو الحجې په یوولسمه (۱۱) په منیٰ کي، په دې عبارت کي د آخري درېیمي خطبې بیان دی چي د ذو الحجې په یوولسمه به یوه خطبه وایي چي په هغه کي به خلکو ته د حج هغه احکام بیان کړي کوم چي باقي پاته سوي وي چي په مخکینو خطبو کي یې نه وي بیان کړي.

فایده: د حج د خطبو په شمېر کي د فقهاؤ اختلاف دی، د احنافو او مالکیانو په نېز درې خطبې دي کوم چي به د ذو الحجې په ۷/ ۹ / ۱۱ کي ویل کیږي، د شوافعو او حنابله وو په نېز څلور خطبې دي کوم چي به د ذو الحجې په ۷/ ۹/ ۱۰ / ۱۲ کي ویل کیږي، او د امام زفر رَحِمَهُ الله په نېز هم درې خطبې دي، خو هغه به د ذو الحجې په ۸/ ۹/ ۱۰ کي ویل کیږي. (انوار الایضاح بحوالهٔ الدر المنضود ج: ۳، ص: ۲۶۵)

د ذو الحجې په دوولسمه له منیٰ څخه روانېدل

﴿۱۳۰۹﴾ وَتَعْجِيْلُ النَّفْرِ إِذَا أَرَادَهٗ مِنْ مِنٰى قَبْلَ غُرُوْبِ الشَّمْسِ مِنَ الْيَوْمِ الثَّانِيْ عَشَرَ (۳۷) او (همدارنګه سنت دي) ژر واپس کېدل (بېرته تلل) کله چي د هغه اراده وکړي له منیٰ څخه (د ذو الحجې) د دولسمي ورځي تر لمر لوېدو مخکي وَإِنْ أَقَامَ بِهَا حَتّٰى غَرَبَتِ الشَّمْسُ مِنَ الْيَوْمِ الثَّانِيْ عَشَرَ او که په منیٰ کي پاته سي تر دې چي د دولسمي ورځي لمر ولوېږي فَلَا شَيْءَ عَلَيْهِ نو پر ده هیڅ شی نسته (هیڅ جرمانه بانديې واجب نه ده) وَقَدْ أَسَاءَ خو ده بد وکړه (دا یې بد کار وکړی) وَإِنْ أَقَامَ بِمِنٰى إِلٰى طُلُوْعِ فَجْرِ الْيَوْمِ الرَّابِعِ او که د څلورمي

ورځي (یعني د ذو الحجې د دیارلسمي) تر صبح صادق راختلو (سپېده چاود) پوري په منیٰ کي پاته سي لَزِمَهٗ رَمْیُهٗ نو پر ده د هغه ورځي رمی (هم) لازم سوه.

لغات: ﴿تعجیل﴾ د تفعیل د باب مصدر دی: تېزي او تلوار کول، ژر کول. ﴿نفر﴾ د ضرب د باب مصدر دی: یوځای پرېښوول بل ځای ته تلل (واپس کېدل)، کوچ کول. دلته مراد څني د حاجیانو له منیٰ څخه ومکې ته واپس راتلل دي. ﴿أساء﴾ د افعال د باب ماضي ده: بد یا غلط کار کول.

تشریح: د عبارت حاصل دا دی چي کله د ذو الحجې په دوولسمه (کوم چي دلوی اختر درېیمه ده) له رمی څخه فارغ سي او له منیٰ څخه د وتلو اراده وکړي، نو تر لمر لوېدو مخکي وتل سنت دي. لېکن که لمر ولوېږي، نو بیا هم وتل جائز دي خو د کراهت سره، او د دې کراهت په وجه پر هغه هیڅ شی (جرمانه) نه واجبېږي.

خو که هغه د ذو الحجې د دیارلسمي (کوم چي د اختر څلورمه ده) تر صبح صادق (طلوع الفجر) پوري هلته په منیٰ کي پاته سي، نو د دریو سره جمراتو (شیطانانو) رمی کول پر هغه لازم سوه چي تر زواله پوري به یې په یو وخت کي کوي، لهذا که له رمی کولو څخه بغیر روان سي، نو په جرمانه کي یوه قرباني باندي واجبېږي. (انوار الایضاح)

په محصّب کي د پړاؤ کولو بیان

﴿۱۳۱۰﴾ وَمِنَ السُّنَّةِ النُّزُوْلُ بِالْمُحَصَّبِ سَاعَةً بَعْدَ ارْتِحَالِهٖ مِنْ مِنٰی (۳۸) او له سنت څخه په "مُحصّب" کي لږ ګړی کښته کېدل (تمېدل) دي له منیٰ څخه تر روانېدلو وروسته.

لغات: ﴿مُحصّب﴾ دې ځای ته په روایاتو کي أبطح او خیفِ بني کنانه هم ویل سوي دي (یعني دا ټول ه د یو ځای نومونه دي) او دا هغه میدان دی چي هلته قریشو پر خپل شرک او کفر باندي قسمونه اخیستي وه او له بنو هاشمو او بنو عبد المطلب څخه یې د تعلق پر قطع کولو قسمونه اخیستي وه او عهد یې کړی وو چي تر څو دوی مونږ ته نبي کریم ﷺ نه وسپاري. موږ به د دوی سره هیڅ قسم تعلق نه ساتو، نه به نکاح ور سره کوو. او نه به بیع او سودا ور سره کوو، دا د اسلام د شروع زمانه وه (نو په بله ربنا دا چي کفارو په دې ځای کي د اسلام ختمولو فیصله او قسمونه کړې وه)، درې کاله په همدې حالت کي د نبي کریم ﷺ پر خاندان په مشقت سره تېر سول. بیا اطلاع ورکول سوه چي قریشو کومه عهد نامه په کعبه شریفه کي ځړولې وه. هغه ربنه وو (کوم چي مشهوره خزنده ده) خوړلې ده ما سوا د الله له نامه څخه، صرف د الله نوم پاته دی، نو په دې وخت کي د قریشو د قطع التعلق عهد ختم سو او نبي کریم ﷺ او د هغه خاندان له دې قید څخه خلاصون ومومی (ګواکي اسلام وژغورل سو). نو په همدې خاطر چي کله نبي ﷺ تر رمی کولو وروسته له منیٰ څخه راوپس سو. نو په محصّب نومي میدان کي یې پړاؤ وکړی او له مازیګر څخه تر ماخوستنه پوري یې څلور لمنځونه همدلته په محصّب کي اداء کړل او د

ماخوستن تر لمانځه وروسته يې طواف وداع وکړی او د شپې ناوخته خپل ښار مدينې منوّرې ته روان سو (نو په محصّب کي په شوه کېدلو او پاتېدلو سره د نبي کريم ﷺ مقصد دا وو چي کفارو ته وښوول سي چي تاسي خو دلته د اسلام ختمولو قسمونه کړي وه، حال دا چي د الله تعالیٰ په رحم او کرم سره اسلام بېرته د خپل قوت سره دلته مکې ته واپس راغلی او په مسلمانانو باندي الله رحم وکړی، قوت او طاقت يې ور په برخه کړی، نو د همدې په شکرانه کي نبي کريم ﷺ او صحابه وو په محصّب مقام کي پړاؤ وکړی)، نو په دې وجه په محصب کي د څه وخت لپاره پاتېدل سنت سوه. ﴿ارتحال﴾ د افتعال د باب مصدر دی: سفر کول او روانېدل، کوچېدل.

تشريح: محصّب نومي ځای د منیٰ او مکې شريف په مينځ کي دی، لهذا کله چي آخري رمی وکړي او له منیٰ څخه د مکې وطرف ته روان سي، نو اول دي په محصّب کي د څه وخت لپاره شوه او پاته سي، بيا دي مکّې شريفي ته ولاړ سي، دا سنت دي؛ دليل او تفصيل په لغاتو کي ذکر سو، خو څرنګه چي نن سبا هلته ځايونه جوړ سوي دي، نو ځکه اوس هلته د پړاؤ کولو څه صورت نسته. (تحفة الالمعی ج: ۳، ص: ۳۲۵)

د زمزم اوبه چيښل

﴿۱۳۱۱﴾ وَ شُرْبُ مَاءِ زَمْزَمَ (۳۹) او د زمزم اوبه چيښل وَالتَّضَلُّعُ مِنْهُ او تر ډک نسه پوري د هغوی چيښل (يعني ښه زياتي چيښل او ځان پوره په اُوبول).

﴿۱۳۱۲﴾ وَ اسْتِقْبَالُ الْبَيْتِ وَالنَّظَرُ إِلَيْهِ قَائِمًا (۴۰) او (د چيښلو په وخت کي) کعبې شريفي ته مخ کول (۴۱) او هغې ته کتل، په داسي حال کي چي ولاړ وي (يعني د زمزم اوبه مخ پر قبله کعبې شريفي ته په کتلو سره په ولاړي چيښل) وَالصَّبُّ مِنْهُ عَلٰى رَأْسِهٖ وَ سَائِرِ جَسَدِهٖ او د زمزم له اُوبو څخه څه اوبه په خپل سر او په ټوله بدن باندي اچول (توېول).

﴿۱۳۱۳﴾ وَ هُوَ لِمَا شُرِبَ لَهٗ مِنْ اُمُوْرِ الدُّنْيَا وَالْاٰخِرَةِ او دا اُوبه د (هر) هغه څه (مقصد) لپاره دي د کوم څه لپاره چي وچيښل سي د دنيا او آخرت له کارونو (مقاصدو) څخه (يعنيٰ له دُنيوي او اُخروي مقاصدو څخه چي د کوم مقصد لپاره هم وچيښل سي، د هغه لپاره مؤثره دي چي هغه مقصد به يې ان شاء الله پوره سي).

لغات: ﴿زمزم﴾ (غيرِ منصرف دی): د کعبې شريفي سره متصل مبارک څاه چي د هغه مبارکي اوبه حاجيان وغيره چيښي او د تبرّک په توګه يې خپل وطن ته وړي، ﴿تضلّع﴾ د تفعّل د باب مصدر دی: تر ډک (ماړه) نسه خوړل يا چيښل، دومره خوړل يا چيښل چي نس ډک سي، ځان پوره اُوبول، ﴿صبّ﴾ د نصر د باب مصدر دی: اوبه وغيره اچول، توېول.

تشریح: د زمزم په اوبو کي الله تعالیٰ داسي برکت ایښی دی چي د هغه هیڅ انتهاء نسته، دغه اوبه الله تعالیٰ د هر مرض لپاره شفاء ګرځولې ده، نو ځکه دا اُوبه دي د برکت حاصلولو لپاره ښه زیاتي وڅیښي.

واستقبال البیت إلخ: د زمزم د اوبو څیښلو سنت طریقه دا ده چي مخ پر قبله ودرېږي او په ولاړه یې وڅیښي، له نبي کرم ﷺ څخه په ولاړه دا څیښل ثابت دي، او د څیښلو په وخت کي دي خپل مرادونه په زړه کي راولي او لږ د زمزم اوبه دي پر خپل سر او بدن هم واچوي.

وهولما شرب له إلخ: فرمایي چي د زمزم په اوبو کي پروردګار داسي برکت او تاثیر ایښی دی چي د هغوی د څیښلو او استعمالولو په وخت کي کوم نیت هم وکړل سي، ان شاء الله هغه به ضرور پوره کیږي (خو یقین شرط دی)، لکه څرنګه چي په حدیث کي هم داسي نقل سوي دي: "سمعتُ جابر بن عبدالله یقول سمعتُ رسول الله ﷺ یقول: ماء زمزم لما شُرِبَ له". (ابن ماجه شریف. ص: ۲۳. حدیث رقم: ۳۰۶۲)، همدارنګه نقل سوي دي چي سترو علماؤ د غټو کارو لپاره ماءِ زمزم استعمال کړي دي او د دوی مطلب حلّ سوی دی.

د ملتزم سره التزام او دعاء کول

﴿۱۳۱۴﴾ وَمِنَ السُّنَّةِ اِلْتِزَامُ الْمُلْتَزَمِ (۴۳) او (همدارنګه) له سنت څخه دي د "ملتزم" سره ځان نیول (ځان ور سره لګول) وَهُوَأَنْ يَّضَعَ صَدْرَهٗ وَوَجْهَهٗ عَلَيْهِ او هغه (التزام) دا دی چي خپله سینه او مخ پر ملتزم کښېږدي (ور سره ولګوي).

﴿۱۳۱۵﴾ وَالتَّشَبُّثُ بِالْأَسْتَارِ سَاعَةً (۴۴) او (همدارنګه له سنت څخه دي. د کعبې شریفي) پردې نیول د لږ ګړي لپاره دَاعِيًا بِمَا أَحَبَّ (۴۵) په داسي حال کي چي (په دې وخت کي) دعاء کونکی وي د هغه څه کوم چي ور ته خوښ وي وَتَقْبِيْلُ عَتَبَةِ الْبَيْتِ (۴۶) او د کعبې شریفي چوکاټ (درشل) مچول وَ دُخُوْلُهٗ بِالْأَدَبِ وَالتَّعْظِيْمِ (۴۷) او (بیا) کعبې شریفي ته په ادب او احترام سره داخلېدل.

لغات: ﴿التزام﴾ د افتعال د باب مصدر دی، د دې باب څو معناوي دي: د یو شي سره مښتل، لازم نیول، یو شي پر ځان لازمول. ﴿ملتزم﴾ له حجرِ اسود څخه د کعبې شریفي تر دروازې پوري چي د

کعبې شریفي کومه حصه ده، هغه ته ملتزم وايي. ﴿صدر﴾ سینه (له غاړي څخه لاندي تر نسه پوري)، جمع: صُدُوْر. ﴿تشبث﴾ د تفعل د باب مصدر دی: یو شی نیول (په لاسو سره نیول)، تمسک. ﴿أستار﴾ جمع د سِتْرٌ ده: پرده. ﴿عتبة﴾ د دروازې چوکاټ، یعني د دروازې لاندینی حصه کوم چي تر پښو لاندي راځي، چي هغه ته درشل هم ویل کیږي.

تشريح: د عبارت حاصل دا دی چي کله حاجي و خپل وطن ته واپس ځي او رخصتیږي، نو ملتزم ته دي راسي او پر هغه دي خپل سینه او مخ کښېږدي او دواړه لاسونه دي وغځوي، د دې حصې سره دي یې ولګوي او د کعبې شریفي کومه پرده چي باندي راځړېدلې ده، د هغه سره دي لږ ګړی ځان ولګوي (پسې ودي منبلي) او په ژړا، ژړا دي دعاګاني وکړي او د خپل مراد او د خپل خوښ شي دعاء دي وغواړي. په "تذكرةُ الخليل" کي لیکلي دي چي حضرت سهارنپوري رَحِمَهُ الله به فرمایله: چي پر ملتزم ما له الله تعالیٰ څخه دري دعاوي غوښتي دي او درې سره قبول سوي دي. (ثمرة النجاح، انوار الایضاح بحوالۀ الدر المنضود ج: ۳، ص: ۲۴۲)

يادونه: "والتشبث بالأستار" دا په هغه صورت کي دي کله چي د کعبې شریفي د پردو نیول ممکن وي او که نیول یې ممکن نه وي، نو خپل لاسونه دي وغځوي او خپل سر دي پر دېوال کښېږدي او له الله تعالیٰ څخه دي د دنیا او آخرت مرادونه وغواړي.

وتقبيل عتبة البيت: د حج د مناسکو په کتابو کي امام نووي رَحِمَهُ الله او ملا علي قاري رَحِمَهُ الله لیکلي دي چي له طواف وداع څخه تر فراغت وروسته د حاجي لپاره مستحب ده چي د کعبې شریفي د دروازې چوکاټ مچ کړي، او که و کعبې شریفي ته د داخلېدلو موقع چا ته نصیب سي. نو په ډېر زيات ادب او تعظیم سره داخلېدل پکار دي او هلته دعاګاني کول پکار دي، او که موقع وي، نو لمونځ کول هم مستحب دي، ښکاره دي وي چي کعبې شریفي ته داخلېدل د حج له مناسکو څخه نه دي. (انوار الایضاح)

د نبي كريم ﷺ د روضې زيارت كول

﴿۱۳۱۶﴾ ثُمَّ لَمْ يَبْقَ عَلَيْهِ إِلَّا أَعْظَمَ الْقُرُبَاتِ بيا (ترې وروسته) په ده باندي څه (

سوه مګر تر ټولو لوی عبادت وَهِيَ زِيَارَةُ النَّبِيِّ ﷺ وَأَ [illegible] دبی

د هغه د اصحابو رَضِيَ اللهُ عَنْهُمْ زیارت دی فَيَنْوِيهَا عِنْدَ

سَبِيْكَةَ مِنَ الثَّنِيَّةِ السُّفْلٰى نو نيت دي وكړي (د نبي ﷺ او د اصحابو) د زيارت له مكې شريفې څخه د وتلو په وخت كې (چې وځي به) له بابِ سبيكه څخه د ثنية السفلىٰ (لاندې خوا سفله ا) څخه وَ سَنَذْكُرُ لِلزِّيَارَةِ فَصْلًا عَلٰى حِدَتِهٖ إِنْ شَاءَ اللّٰهُ تَعَالٰى او ژر به موږ ذكر كړو د زيارت لپاره خپل يو جلا (عليحده) فصل، ان شاء الله تعالى (كه لله تعالىٰ وغوښتل).

لغات: ﴿قُربَات﴾ جمع د قُرْبَةٌ ده: د نېكۍ او ثواب كار (داسې كار چې په هغه سره د الله تعالىٰ نژدېكت حاصليږي)، عبادت.

تشريح: د حج له ختمولو څخه وروسته دې له مكې شريفې څخه د سيّدُ المرسلين، خاتمُ النبيين، رحمة للعالمين حضرت محمد مصطفىٰ ﷺ د روضې مباركې د زيارت په نيت ومدينې ته ولاړ سي، او مخكې ذكر سوه چې مكې ته داخلېدل به د لوړې خوا (لوړ طرف) څخه كيږي او اوس چې له مكې څخه وځي، نو د لاندې خوا به د "باب سبيكه" د لارې (له مَسْفَلَه) څخه تيريږي، او كله چې له مكې شريفې څخه ووځي، نو د روضې مباركې نيت دې وكړي، ځرنګه چې نن سبا په بسانو او موټرانو كې سفر كيږي، نو د كومې لارې چې يې بسانو والا بيايي، حاجيان مجبوراً په هغه لاره ځي، انسان بې وسه وي، ها! كه په خپل شخصي موټر كې سفر كوي، نو بيا دې د لاندې خوا (يعني له مَسْفَلې) څخه تېر سي، (د ثنية السفلىٰ نوم كُدىٰ هم دى).

❀ ❀ ❀

فَصْلٌ فِيْ كَيْفِيَّةِ تَرْكِيْبِ أَفْعَالِ الْحَجِّ

(دا) فصل دى په (بيان د) طريقه كي د تركيب (او ترتيب) د افعالو د حج

تشريح: په دې فصل كي دا بيانول كيږي چي حج به څنګه كوي او كوم، كوم اعمال به چيري او څنګه كوي او كله به يې كوي او حيثيت يې څه دى؟ (لنډه دا چي مخكي د حج كوم افعال او اعمال بيان سول، اوس په دې فصل كي د هغوى د تركيب او ترتيب وضاحت كوي او د حج پوره كيفيت او طريقه بيانوي).

له ميقات څخه د احرام تړلو حكم

﴿۱۳۱۷﴾ إِذَا أَرَادَ الدُّخُوْلَ فِى الْحَجِّ كله چي (يو څوک) په حج كي د داخلېدلو اراده وكړي أَحْرَمَ مِنَ الْمِيْقَاتِ نو احرام دي له ميقات څخه وتړي كَرَابِغَ لكه له رابغ (نومي ځاى) څخه (كوم چي له جحفه ميقات څخه مخكي يو ميقات دى).

تشريح: كله چي د حج اراده وكړي، نو له ميقات څخه دي احرام وتړي، بېله احرامه له ميقات څخه تېرېدل جائز نه دي.

كوم خلک چي له مصر او شام څخه د تبوک د لاري ومكې شريفي ته راځي، د هغو لپاره ميقات جحفه دى (لكه په لاندي جدول كي چي ذكر سوى دى)، خو اوس دا ځاى وېران سوى دى او متعيّن نه دى، نو ځكه هغه ته نږدې له "رابغ" نومي ځاى څخه به احرام تړل كيږي كوم چي د بدر په لاره باندي واقع دى. له دې ځايه مكه شريفه ۱۸۷ كيلومتره ليري ده.

ټول ميقاتونه په يوه جدول كي

ذو الحليفه	دا د مدينې د خلكو ميقات دى	د شمال پر طرف له مكې مكرمې څخه ۴۱۰ كيلو متره ليري دى (يو كيلو متر ۱۰۰۰ متره كيږي).
ذات عرق	دا د عراق د خلكو ميقات دى	د مشرق پر طرف له مكې مكرمې څخه ۹۰ كيلو متره ليري دى
جحفة	دا د شام د خلكو ميقات دى	د شمال، مغرب پر طرف له مكې مكرمې څخه ۱۸۲ كيلومتره ليري دى
قرن	دا د نجد د خلكو ميقات دى	د مشرق پر طرف له مكې مكرمې څخه ۸۰ كيلومتره ليري دى
يلملم	دا د يمن د خلكو ميقات دى	د مشرق پر طرف له مكې مكرمې څخه ۱۳۰ كيلومتره ليري دى
تنعيم	دا د مكې د خلكو ميقات دى	د شمال، مغرب پر طرف له مكې مكرمې څخه 7.5 (يعني اووه نيم) كيلومتره ليري دى

له احرام تړولو څخه مخکې د غسل يا اودس کولو حکم

﴿۱۳۱۸﴾ فَيَغْتَسِلُ أَوْيَتَوَضَّأُ نو غسل دې وکړي يا اودس دې وکړي وَالْغُسْلُ وَهُوَأَحَبُّ لِلتَّنْظِيْفِ او غسل چې دی هغه (داودسه په مقابله کې) ډېر ښه دی د صفايي لپاره (او دا غسل هم د صفايي لو دبدن د پاکېدو لپاره دی، نه د جنابت وغيره لپاره) فَتَغْتَسِلُ الْمَرْأَةُ الْحَائِضُ وَالنُّفَسَاءُ إِذَالَمْ يَضُرَّهَا نو حيض والا او نفاس والا ښځه دې (هم) غسل وکړي کله چې هغې ته ضرر نه کوي.

لغات: ﴿تنظيف﴾ د تفعيل د باب مصدر دی: صفا کول، پاکول، التنظيف: صفايي، صفا والی (پاکوالی)، ﴿لم يضرّ﴾ د نصر له بابه د نفي جحد بلم صيغه ده: ضرر رسول، تکليف رسول.

تشريح: مصنف رَحِمَهُ الله فرمايي چې کله يو کس د احرام تړلو اراده وکړي، نو هغه دې اول غسل يا اودس وکړي، خو غسل کول افضل دي، دا غسل د پاکوالي لپاره دی چې بدن ښه پاک صفا سي، د ناپاکۍ (جنابت وغيره) د ليرې کولو لپاره نه دی، همدا وجه ده چې په حيض مبتلا ښځه به هم دا غسل کوي، همدارنګه که نفاس والا ښځي ته غسل تاوان نه کوي، نو هغه به يې هم کوي، او که د غسل او لمبېلو موقع نه وي، نو بغير له غسله په احرام تړولو کې هيڅ حرج نسته. (انوار الايضاح)

د احرام بعضې مستحبات

﴿۱۳۱۹﴾ وَيَسْتَحِبُّ كَمَالُ النَّظَافَةِ او مستحب دي پوره (کامله) صفايي حاصلول بِقَصِّ الظُّفُرِوَالشَّارِبِ د نوکانو او برېتو په پرېکولو (کوچني کولو) سره وَنَتْفِ الْإِبِطِ وَحَلْقِ الْعَانَةِ او د بغلو (تخرګو د وربښتانو) په کښلو او د سپوخځي (تر نامه لاندې وربښتانو) په خرېيلو سره وَجِمَاعِ الْأَهْلِ او د خپلې ښځې سره په جماع کولو سره وَالدُّهْنِ وَلَوْمُطَيَّبًا او د تېلو (روغنو) په لګولو سره که څه هم خوشبوداره وي.

لغات: ﴿نظافة﴾ د کرُم د باب مصدر دی: صفا کول، النظافة: صفايي، ﴿قصّ﴾ د نصر د باب ماضي ده: پرېکول، کاټول، ﴿ظفر﴾ نوک، جمع: أظْفَار، ﴿شارب﴾ برېت، تثنيه: شَارِبَيْن، جمع: شَوَارِب، ﴿إبط﴾ بغل، تخرګ، جمع: آبَاط، ﴿عانة﴾ سپخوځه (سپوخته). ﴿مُطيّب﴾ د تفعيل له بابه اسمِ مفعول دی: خوشبوداره، خوشبويه.

تشریح: له دې ځایه د احرام بعضي مستحبّات بیانوي، حاصل د عبارت دا دی چي له احرام تړلو څخه وروسته بیا ډیري ورځي د بدن د پاکوالي او صفايۍ موقع نه تر لاسه کیږي، نو ځکه مخکي د بدن د پاکوالي او صفايۍ ټوله صورتونه اختیارول پکار دي، مثلاً نوکان پرېکول، برېتونه کوچني کول، د بغل وربښتان صفا کول، تر نامه لاندي وربښتان صفا کول، او که ښځه ور سره وي او څه مانع نه وي. نو د هغې سره کور والی (جماع) کول، د دې لپاره چي د احرام په دوران کي یې زړه او فکر فارغه وي او په دې دوران کي چي په رش کي کومي ښځي مخ ته راځي پر هغه به یې د شهوت نظر نه پرېوځي، همدارنګه د احرام لپاره تر غسل کولو وروسته سر ږمنځول او په سر او ږیره باندي روغن لګول (غوړول) هم مستحب دي، برابره ده هغه روغن خوشبوداره وي او که نه وي. (انوار الایضاح بحوالهٔ غنیة الناسک ص: ۶۷، ۷۰)

د احرام کپړې

﴿۱۳۲۰﴾ وَيَلْبَسُ الرَّجُلُ إِزَارًا وَرِدَاءً جَدِيْدَيْنِ أَوْغَسِيْلَيْنِ او سړی به یو لنګ او څادر اغوندي چي هغه دواړه به نوي یا پرېولل سوي وي وَالْجَدِيْدُ الْأَبْيَضُ أَفْضَلُ او نوی سپین رنګ والا افضله دی.

تشریح: تر غسل یا اودس کولو وروسته د احرام دوې کپړې یعني یو څادر او یو لنګ اغوستل د سړیو لپاره د احرام سنت دي او څادر به د ومره اوږد وي کوم چي له راسته اوږې څخه لاندي تر را باسلو وروسته په آسانۍ سره پر چپه اوږه راسي او د بدن هیڅ حصه ښکاره پاته نسته، او لنګ (ازار) به داسي وي چي عورت په ښه توګه پټ کړي او پکار دا ده چي دا دوې کپړې (څادر او لنګ) دواړه نوي یا پرېولل سوي وي. دا د احرام له مستحباتو څخه دي او په احرام کي د سپین رنګه کپړو اغوستل افضل دی.

❀ ❀ ❀

مسئله: بچي ته به هم احرام یعني څادر او لنګ ور اغوستل کیږي، تر دې چي کوم بچی د پوهې او شعور وخت ته نه وي رسېدلی، د هغه له طرفه د احرام تړلو په وخت کي به د هغه له بدن څخه کالي ایستل کیږي او څادر او لنګ به ور اغوستل کیږي. (غنیة الناسک ص: ۸۴)

د احرام کپړې به څنګه وي؟

﴿۱۳۲۱﴾ وَلَا يَزُرُّهٗ او (د احرام) په څادر کي دي نه تنۍ (بټني) اړدي وَلَا يَعْقِدُهٗ او نه دي یې غوټه کوي (تړي) وَلَا يُخَلِّلُهٗ او نه دي چاک پکښي جوړوي (چي په غاړه یې کړي، او یو عالم د دې معنی دا کړې ده: چي نه دي تلفي ستني پکښي لګوي. یعني لنګ او څادر دي په تلفي ستنو سره هم نه تړي) فَإِنْ فَعَلَ او که

داسي وکړي (یعني له مذکوره کارونو څخه یو کار وکړي) كُرِهَ نو مکروه دي وَلَاشَيْءَعَلَيْهِ (خو) پر ده څه شی نسته.

لغات: ﴿یزر﴾ د نصر د باب مضارع ده: زَرَّ القمیصَ زرًا: تنۍ پکښي اېښوول، بټني ورکول. الزِّر: تنۍ، بټن. ﴿یعقد﴾ د ضرب د باب مضارع ده، عَقْدًا: غوټه ورکول (غوټه کول، تړل. ﴿یخلل﴾ د نصر د باب مضارع معلومه ده، د دې باب ډیري معناوي نقل سوي دي چي له هغوی څخه یوه معنیٰ ده: څیرل او چاک پکښي جوړول، د دوو شیانو په مینځ کي چاک او سوری جوړول. صاحب د انوارُ الایضاح او نورو شارحینو دلته د دې معنیٰ لیکلې ده: د قمیص په څېر د غاړي پر طرف چاک پکښي جوړول او اغوستل.

تشریح: د احرام په څادر کي دي نه بټني لګوي او نه دي یې په تار، یا قُلفي ستن او داسي نورو سره تړي (یعني داسي دي نه کوي چي د څادر په دوو سرونو کي تنۍ یا داسي نور ولګوي او د هغه په ذریعه یې پر ځان ټینګ کړي) او نه دي د احرام کپړه څیري چي په غاړه کي یې واچوي (د کمیس په څېر)، او که داسي وکړي نو مکروه دي، لېکن څرنګه چي دا د ګنډل سوي (جوړي سوي) جامې په درجه کي نه دي، نو ځکه هیڅ جرمانه او جزاء نه باندي واجبیږي.

یادونه: که څوک د عورت لڅېدو له بیري څخه د لنګ یو کونج د بل کونج سره وتړي. لکه څرنګه چي بعضي خلکو ته د لنګ خلاصېدلو احساس او بېره وي بلکي د خوب په وخت کي خلاصیږي هم، نو د عورت لڅېدو له مجبوری څخه غوټه ورکړي، نو په دې کي څه پروا نسته او هیڅ جزاء نه باندي لازمیږي.

خوشبويي لګول، دوه رکعته لمونځ او دعاء کول

﴿۱۳۲۲﴾ وَتَطَيَّبْ او (بیا) خوشبویي ولګوه!.

﴿۱۳۲۳﴾ وَصَلِّ رَكْعَتَيْنِ او دوه رکعته لمونځ وکړه!.

﴿۱۳۲۴﴾ وَقُلْ: اَللّٰهُمَّ إِنِّيْ اُرِيْدُ الْحَجَّ فَيَسِّرْهُ لِيْ وَتَقَبَّلْهُ مِنِّيْ او (تر هغه وروسته دا دعاء) ووایه!: اللهمّ إنّي إلخ (اې الله! زه د حج اراده کوم، نو هغه زما لپاره آسانه کړه! او زما څخه یې قبول کړه!).

لغات: ﴿تَطَيَّبْ﴾ د تفعّل له بابه د واحد مذکر امرِ حاضر صیغه ده: خوشبویي لګول (خوشبوداره شی استعمالول). ﴿اللّٰهمّ﴾ په معنیٰ سره د "یا الله" (اې الله) دی ﴿یسّر﴾ د تفعیل له بابه د امرِ حاضر صیغه ده: آسانه کول. ﴿تقبّل﴾ د تفعّل له بابه مخکني صیغه ده: قبلول.

تشريح: له احرام تړلو څخه وروسته عطر وغيره لګول سنت دي کله چي په آساني سره تړلاسه کېدلای سي، همدارنګه دوه رکعته لمونځ اداء کول د احرام سنت دي، لېکن که څوک په مکروه وخت کي احرام وتړي، نو په هغه وخت کي دي لمونځ نه کوي، او تر لمونځ کولو وروسته دي په مذکوره الفاظو سره دعاء وکړي (کوم چي په متن کي ذکر سوه).

اوله تلبيه به څه وخت ويل کيږي؟ او د تلبيه الفاظ

﴿۱۲۲۵﴾ وَلَبِّ دُبُرَصَلٰوتِكَ تَنْوِيْ بِهَا الْحَجَّ او تلبيه ووايه! تر خپل لمانځه وروسته په داسي حال کي چي نيت به وکړې په دې تلبيه سره د حج!.

﴿۱۲۲۶﴾ وَهِيَ او تلبيه دا ده لَبَّيْكَ اللّٰهُمَّ لَبَّيْكَ حاضريم اې الله! (ستا په حضور کي) زه حاضريم لَاشَرِيْكَ لَكَ لَبَّيْكَ تا لره هيڅ شريک نسته زه حاضريم إِنَّ الْحَمْدَ وَالنِّعْمَةَ وَالْمُلْكَ لَكَ بېشکه ټوله حمد (تعريفونه) او نعمت او باچاهي تا لره دي (د بخاري او مسلم په روايت کي "لك والملك" دی يعني هلته "لك" پر "والملك" مخکي دی) لَاشَرِيْكَ لَكَ تا لره هيڅ شريک نسته.

لغات: ﴿لبّ﴾ د تفعيل له بابه د واحد مذکر امرِ حاضر صيغه ده: تلبيه ويل، ﴿دُبُر﴾ د هر شي شاتنی حصه، جمع: أَدْبَار.

تشريح: له دوه رکعته لمونځ (صلاة الاحرام) کولو څخه وروسته د سلام ګرځولو سره متصلاً دي په هاغه مجلس کي د احرام په نيت سره تلبيه وويل سي، لهذا د احرام د لمانځه او د احرام د نيت او تلبيه په مېنځ کي فاصله نه راتلل پکار دي، که زيات فاصله راسي. نو په سنت طريقه سره چي کوم د احرام تړلو حکم دی، پر هغه به عمل نه وسي او د سنت طريقې له ثواب څخه به هم محرومه سي.

وهي لبّيك اللّٰهمّ إلخ: د تلبيه چي کوم الفاظ له نبي کريم ﷺ څخه نقل سوي دي (يعني مذکوره الفاظ)، د هغه ويل کافي دي، او که بعضي د تعظيم الفاظ نور پکښي اضافه کړي (لکه په را روان عبارت کي)، نو جائز دي (بلکي د ابن عمر (رض) الفاظ خو سنت دي)، خو له مذکوره الفاظو څخه يو لفظ کمول مکروه دي.

❀ ❀ ❀

د تلبيه پر ځای بل ذکر کول

مسئله (۱): د احنافو په نېز هر يو ذکر د تلبيه قائم مقام کيږي، يعني د حج يا عمرې تر نيت کولو وروسته چي هر د الله ذکر وکړي مثلاً الحمد لله ووايي يا سبحان الله ووايي، نو احرام شروع سو، دا

ذکر د تلبیه قائم مقام کیږي، یعني ګواکي هغه تلبیه ووېله. او له عربي څخه بغیر په بله ژبه د تلبیه ترجمه هم ویلای سي، خو عربي افضله ده. (شامی ج: ۲، ص: ۲۱۷)

تلبیه په ژبه سره ویل شرط دي

مسئله (۲): تلبیه په ژبه سره (په خوله) داسي ویل شرط دي چي حروف صحیح اداء سي او کم از کم خپله یې واوري، که چیري په زړه، زړه کي تلبیه ووایي، یا یې په ژبه سره داسي ووایي چي حروف خو صحیح اداء سي، لېکن خپله یې نه اوري، یعني ډېر په کراره یې ووایي، نو دا تلبیه معتبره نه ده.

مسئله (۲): د ګونګي کس لپاره د تلبیه ویلو په وخت کي صرف ژبه ښورول کافي دي. (انوار الایضاح)

د تلبیه په الفاظو کي کمي و زیاتوب کول

﴿۱۳۲۷﴾ وَلَاتَنْقُصُ مِنْ هٰذِهِ الْأَلْفَاظِ شَيْئًا او مه کموه! له دغو الفاظو څخه هیڅ څه (هم) وَ زِدْ فِيْهَا او زیات کړه! په دې کي (دغه را روان الفاظ) لَبَّيْكَ وَ سَعْدَيْكَ حاضر یم او ستا عبادت نېک بختي ګڼم (او بعضو د "سعدیك" معنیٰ کړې ده: او ستا موافقت کوم) وَالْخَيْرُ كُلُّهٗ بِيَدَيْكَ او تمام خیرونه ستا په قبضه کي دي لَبَّيْكَ وَالرُّغْبٰى إِلَيْكَ حاضر یم او ټوله رغبت (مي) ستا وطرف ته دی وَالزِّيَادَةُ سُنَّةٌ او زیاتوب (یعني دغه مذکور الفاظو سره زیاتول) سنت دي.

لغات: ﴿تنقص﴾ د نصر له بابه مضارع معلومه ده: کم کول (کمول). ﴿زِدْ﴾ د ضرب له بابه د واحد مذکر امر حاضر صیغه ده: زیاتول، اضافه کول. ﴿سعدیك﴾ د سَعْدٌ تثنیه ده او د کاف ضمیر د مخاطب دی. جمع: أَسْعُدٌ و سُعُوْدٌ: نېکبختي (د الله له طرفه د نېکی او ښېګڼي حاصلولو توفیق او اعانت). ﴿ید﴾ لاس، مراد څني ملکیت او قبضه ده. ﴿رُغْبٰى﴾ د سمع د باب مصدر دی: په عجزی سره غوښتل، التجا کول.

تشریح: د تلبیه په آخر کي زیاتوب کول خو مستحب دي. لېکن په مینځ کي یې زیاتوب کول یا تلبیه له خپل منقوله الفاظو څخه کمول مکروه تنزیهي دي. له عبدالله بن عمر (رض) څخه روایت دی چي نبي کریم ﷺ داسي ووېل "لَبَّيْكَ اللّٰهُمَّ لَبَّيْكَ، لَبَّيْكَ لَاشَرِيْكَ لَكَ لَبَّيْكَ إِنَّ الْحَمْدَ وَالنِّعْمَةَ لَكَ وَالْمُلْكَ، لَاشَرِيْكَ لَكَ". عبدالله بن عمر (رض) به فرمایل چي دا د رسول الله ﷺ تلبیه ده. او عبدالله بن عمر (رض) به د دې سره (په آخر کي) دا الفاظ هم زیاتول: "لَبَّيْكَ لَبَّيْكَ، سَعْدَيْكَ وَالْخَيْرُ بِيَدَيْكَ لَبَّيْكَ

وَالرَّغْبٰى إِلَيْكَ" (مسلم شریف باب التلبیه و صفتها و وقتها ص: ۴۸۹، حدیث رقم: ۱۱۸۴، ۲۸۱۲)، معلومه سوه چې که څوک دغه جملې د تلبیه سره اضافه کړي کوم چې ابن عمر^(رض) اضافه کړې دي، یا داسې نورې جملې ور سره اضافه کړي چې په هغه کې د الله تعالىٰ تعظیم وي، نو جائز دي (ثمرة النجاح، تحفة الألمعی)

په تلبیه ویلو سره حاجي محرم ګرځي او په حالت د احرام کې د پرهېز کولو حکم

۱۲۲۸ ﴿ فَإِذَا لَبَّيْتَ نَاوِيًا بیا کله چې ته تلبیه ووایې په داسې حال کې چې د حج نیت کونکی یې (یعنې چې په تلبیه سره د حج نیت وکړې) فَقَدْ أَحْرَمْتَ نو (بس) ته محرم سوې فَاتَّقِ الرَّفَثَ وَهُوَ الْجِمَاعُ نو (تر دې وروسته) ځان ساته! له رفث څخه او هغه جماع ده وَقِيْلَ: ذِكْرُهُ بِحَضْرَةِ النِّسَاءِ وَالْكَلَامُ الْفَاحِشُ او ویل سوي دي (یعنې بل قول دا دی): چې (رفث) د جماع ذکر د ښځو په حضور کې کول دي (یعنې د ښځو مخ ته جماع یادول) او بدې (فحش) خبرې کول دي وَالْفُسُوْقَ وَالْمَعَاصِيَ او (ځان ساته!) له نافرمانۍ او ګناهونو څخه وَالْجِدَالَ مَعَ الرُّفَقَاءِ وَالْخَدَمِ او (ځان ساته!) له جنګ (وجنجال) څخه د خپلو ملګرو او خدمتګارانو سره وَقَتْلَ صَيْدِ الْبَرِّ وَالْإِشَارَةَ إِلَيْهِ وَالدَّلَالَةَ عَلَيْهِ او (ځان ساته) د وچې (دښت) د ښکار له وژلو او د هغه و طرف ته له اشاره کولو او د هغه د لارښوولو (ځای ور ښوولو) څخه.

لغات: ﴿اتق﴾ د افتعال له بابه د واحد مذکر امرِ حاضر صیغه ده: ځان ساتل، پرهېز کول، د الله ﷻ له بېرې څخه له ممنوعه شیانو ځان ساتل، ﴿الفاحش﴾ د نصر له بابه اسم فاعل دی: ډېر بد، د مذمت قابل. ﴿معاصی﴾ جمع د معصیة ده: ګناه، خطا، ﴿رفقاء﴾ جمع د رَفِيْقٌ ده: ملګری، ﴿الخَدَم﴾ جمع د خَادِم ده: خدمتګار.

تشریح: کله چې د احرام په نیت سره تلبیه وویل سي، نو بس احرام شروع کېږي یعنې انسان محرم (احرام تړونکی) ګرځي (ځکه په اصل کې همدغه اوله تلبیه ویلو ته احرام تړل وایي).

نو له احرام تړلو څخه وروسته به د هغه ټولو شیانو څخه پرهېز کوي چې له هغوی څخه الله تعالىٰ منع کړې ده یعنې ګنده او بندې خبرې کول، معصیت او ګناه کول، جماع یا دواعي د جماع کول. له خپلو ملګرو او خدمتګارانو سره جنګ و جنجال کول، د احرام په دوران کې دې له دې ټولو شیانو څخه په کلکه ځان ساتي، همدارنګه د احرام په حالت کې به د وچې په ښکار کار نه لري او نه به

یې وژني، همداسې نه د محرم لپاره د ښکار وطرف ته اشاره کول جائز دي او نه د ښکاره په هکله لارښوونه ورته جائز ده، یعني نه دا جائز دي چې محرم د بل چا لپاره ښکار ته اشاره وکړي او ځای یې ور وښیي چې هغه یې ونیسي او یا ښکار خو مخ ته حاضر نه وي لېکن محرم ته د هغه معلومات وي او دئ بل چا ته ووایي چې ښکار په فلانکي ځای کې دی، نو دا لارښوونه هم جائز نه ده.

فایده: "والفسوق والمعاصی" د دغه عبارت په باره کې علامه طحطاوي رَحِمَهُ الله فرمایي چې دلته عطف تفسیري دی یعني د فسوق تفسیر په معاصي سره سوی دی (یعني له فسوق څخه مراد ګناهونه دي)، او محشي حضرت مولانا اعزاز علي رَحِمَهُ الله لیکلي دي چې د معاصي په شروع کې حرفِ واو د ناسخینو اضافه ده، اصل عبارت "الفسوق المعاصی" یعني بغیر له واو څخه دی، کما علیه عامة الکتب الفقهیة. (حاشیة نور الایضاح)

محرم بچی به هم د احرام له ممنوعاتو څخه منع کول کیږي

مسئله: ولي (سرپرست) ته پکار دي چې (محرم) بچی هم د احرام له ممنوعاتو څخه وساتي، خو بیا هم که بچی د یو ممنوع شي ارتکاب وکړي، نو په دواړو کې پر یوه هم هیڅ شی نه لازمیږي. (غنیة الناسک ص: ۸۴)

﴿۱۳۲۹﴾ وَلُبْسَ الْمَخِيْطِ وَالْعِمَامَةِ وَالْخُفَّيْنِ او (ځان وساته) د ګنډل سوي جامې او لنګوټې او موزو له اغوستلو څخه وَ تَغْطِيَةَ الرَّأْسِ وَالْوَجْهِ وَ مَسَّ الطِّيْبِ او (ځان وساته!) د سر او مخ له پټولو او له خوشبویي لګولو څخه وَحَلْقَ الرَّأْسِ وَالشَّعْرِ او (ځان وساته!) د سر او وریښتانو له خرېیلو څخه.

تشریح: د احرام په حالت کې د سړي لپاره داسې ګنډل سوې جامه اغوستل ممنوع او ناجائز دي کوم چې د بدن د هیئت او جوړ مطابق ګنډل سوې او جوړه کړل سوې وي لکه کمیس، پرتوګ. بنین (کنجی)، پتلون، لنګوټه او داسې نور.

همدارنګه احرام د پښو لپاره هم دی، یعني د احرام په حالت کې د سړیو لپاره داسې موزې او بوټونه په پښو کول ممنوع دي چې په هغه سره د پښې بجلکي او پاسنی هډوکی پټ سي، لهذا که محرم داسې بوټونه او څپلۍ په پښو کړي چې په هغه سره بجلکي نه پټیږي (بلکي تر دې لاندي وي)، نو څه حرج نسته (او که څپلۍ نه وي، نو موزه دې تر بجلکو لاندي پرېکړي چې د څپلیو په څېر سي، بیا هغه په

ښو کولای سي)، همدارنګه محرم دي خپل سر او مخ نه پټوي او د احرام په حالت کي دي خوشبويي نه استعمالوي، همدارنګه د خپل سر او بدن وربښتان دي هم نه خريي.

❀ ❀ ❀

غوږونه او ږيره پټول، په غيرِ معتاد شي سره مخ پټول، پر مخ ماسک لګول

مسئله (۱): د محرم لپاره خپل غوږونه، ږيره او تر زني لاندي برخه پټول ګنجايش لري، څه حرج پکښي نسته.

مسئله (۲): محرم که خپل سر يا مخ په داسي شي سره پټ کړي چي له هغه څخه عموماً د سر او مخ د پټولو کار نه اخيستل کيږي مثلاً تخته، بټيبنه، اوسپنه يا سايوان او داسي نور، نو په دې کي هم څه حرج نسته، که څه هم په دې پټولو سره له يخ يا ګرمۍ څخه ځان ساتل مقصود وي، خو که په سر باندي څادر يا دسمال وغيره وتړي، نو دا مکروه دي، او که د يوې ورځي يا يوې شپې په اندازه يې همداسي تړلی پريږدي، نو دَم لازميږي.

مسئله (۳): نن سبا له جراثيمو څخه د بچ کېدو لپاره د احرام په حالت کي پر مخ او خوله ماسک لګول عام سوي دي (خصوصاً دې فرضي کرونا په مرض کي)، نو په دې باره کي شرعي حکم ښه ياد ساتئ! چي په احرام کي داسي ماسک اغوستل بلا شبه ممنوع دي. (غنية الناسک ص: ۲۵۴، ۲۵۵)

د احرام په حالت کي د غسل کولو، يا د سايه حاصلولو حکم

﴿۱۳۲۰﴾ وَيَجُوْزُ الْاِغْتِسَالُ او جائز دي غسل کول وَالْاِسْتِظْلَالُ بِالْخَيْمَةِ وَالْمَحْمَلِ وَغَيْرِهِمَا او (جائز دي) سايه حاصلول په خېمه او کجاه او نورو شيانو سره (يعني د دوی په سايه کي کښېنستل او پاتېدل جائز دي).

لغات: ﴿استظلال﴾ د استفعال د باب مصدر دی: سايه حاصلول، سايه اخيستل.

تشريح: د احرام په حالت کي محرم غسل کولای سي، د ټولو په نيز جائز دي، د امام مالک رَحِمَهُ الله پکښي اختلاف دی، د هغه په نيز مکروه دی، همدارنګه تر يو چت يا داسي بل شي لاندي يا په خېمه کي کښېنستل او سايه حاصلول د محرم لپاره جائز دي.

د هميانۍ او بټوه تړلو حکم

﴿۱۳۲۱﴾ وَشَدُّ الْهِمْيَانِ فِي الْوَسْطِ او (جائز دي) هميانۍ (د پيسو بټوه) په ملا باندي تړل.

لغات: ﴿هميان﴾ (د هاء په کسره سره): هغه تېلۍ او بسته کوم چي په ملا باندي تړل کيږي او په هغه کي پيسې او داسي نور ايښوول کيږي، جمع: هَمَايِنُ و هَمَايِيْنُ.

تشریح: د محرم لپاره همیانۍ، بټوه، یا خلته پر ملا تړل او په هغه کي د خپلي خرچي لپاره پیسي ایښوول (یا مثلاً ټکټ او داسي نور اسناد پکښي خوندي کول) بېله کراهته جائز دي.

د تلبیه د زیات ویلو حکم

﴿۱۳۳۲﴾ وَأَكْثِرِ التَّلْبِيَةَ مَتٰى صَلَّيْتَ أَوْ عَلَوْتَ شَرَفًا أَوْ هَبَطْتَّ وَادِيًا او تلبیه زیاته (په کثرت سره) وایه! (په هر حالت کي یعني) کله چي ته لمونځ کوې یا یو لوړ ځای ته خېږې یا یو کښته ځای ته شوه کیږې أَوْ لَقِيْتَ رَكْبًا وَبِالْأَسْحَارِ یا چي ته د یو قافلې (کارون والا) سره یو ځای کیږې، او د سهار په وختونو کي رَافِعًا صَوْتَكَ بِلَا جُهْدٍ مُضِرٍّ په داسي حال کي چي ته لوړونکی (پورته کونکی) یې د خپل آواز بېله ضررناکه کوښښ (او تکلیف) څخه (یعني دومره په زوره او په داسي انداز سره به یې وایي چي نه دي خپل ځان ته ضرر او سټریا ورسیږي او نه بل چا ته ضرر ورسوې).

تشریح: د احرام په حالت کي له زیاتو څخه زیاته تلبیه ویل پکار دي، د محرم په اعمالو کي الله تعالیٰ ته تر ټولو خوښ تلبیه او قرباني ده، نو هغه دي تلبیه په کثرت سره وایي، خصوصاً د احوالو او اوقاتو د بدلون په وخت کي، مثلاً کله چي لوړ ځای، غره او داسي نورو ته خېږي یا لاندي راشوه کیږي او داسي نور (لکه مخکي چي د دې تفصیل تېر سو)، ښځه به تلبیه سرًا (په کراره) وایي او له سرّ څخه مراد په زړه کي ویل نه دي، بلکي دومره کرار دي یې وایي چي حروف صحیح اداء کیږي او د هغې خپل غوږونه یې اوري او سړی به یې جهرًا (په زوره) وایي، خو دومره په زوره نه چي د چیغو کیفیت ته ورسیږي او نور ځني په تکلیف سي او خپل ځان او نورو ته ضرر او نقصان ورسوي.

❀ ❀ ❀

مسئله: که څو خلک (حاجیان) سره یو ځای وي، نو په اجتماعي توګه دي تلبیه نه وایي (مثلاً یو کس یې ووایي. بیا نور خلک په ګډه د هغه الفاظ تکرار کړي)، بلکي هر کس دي بېلاتِ خود تلبیه ووایي. (غنیة الناسک ص:۷۵)

یادونه: نن سبا په دې باره کي لا پروایي کیږي او د سفر په دوران کي په ګډ آواز سره تلبیه ویل کیږي کوم چي مناسب نه دي.

﴿۱۳۳۳﴾ وَإِذَا وَصَلْتَ إِلٰى مَكَّةَ او کله چي ته مکې مکرّمې ته ورسیږې يُسْتَحَبُّ أَنْ تَغْتَسِلَ نو مستحب دي دا چي ته غسل وکړې وَتَدْخُلَهَا مِنْ بَابِ الْمُعَلّٰى او مکې مکرّمې ته له "باب معلیٰ" څخه داخل سې لِتَكُوْنَ مُسْتَقْبِلًا فِيْ دُخُوْلِكَ بَابَ الْبَيْتِ الشَّرِيْفِ تَعْظِيْمًا دي

لپاره چي ته مخامخ سې! په خپل داخلېدلو کي د کعبې شريفي ته د تعظيم په خاطر.

لغات: ﴿باب المعلٰی﴾ ښکاره دي وي چي ومکې شريفي ته د داخلېدلو له آدابو څخه دا هم دي چي له ثنية العُليا څخه ور داخل سي او له ثنية السُفلیٰ څخه ووځي، د ثنية العُليا نوم كَدَاء او جحون هم دی، او دا لاره پر جنتُ المُعَلیٰ را شوه کيږي کوم چي د مکې د خلکو هديره ده، او نن سبا دا ځای د "معاهده" په نوم سره مشهور دی، پر همدې ځای قصر الملک هم دی. (انوار الایضاح)

تشريح: کله چي محرم (احرام تړونکی) ومکې شريفي ته ورسيږي، نو غسل دي وکړي، دا مستحب دي، او له نبي کريم ﷺ څخه غسل کول ثابت دي؛ "عن ابن عمر قال: اغتسل النبی ﷺ لدخول مكة بفخ". (ترمذی شریف)

يادونه: نن سبا چي حاجيان له جدې څخه روان سي، نو مکې شريفي ته له داخلېدلو څخه مخکي د غسل موقع نه ترلاسه کيږي، نو ځکه غوره دا ده چي که څه عذر او مشکل نه وي، نو له جدې څخه تر روانېدلو مخکي دي (په حج ترمينل کي) په همدې نيت سره غسل وکړل سي، هلته د غسل وغيره معقول انتظامات سته.

وتدخلها إلخ: د باب مُعلیٰ د لاري چي ور داخل سي، نو د کعبې شريفي استقبال راځي او په دې کي د کعبې شريفي تعظيم دی.

❀ ❀ ❀

مکې شريفي ته له رسېدو څخه وروسته به مسجدِ حرام ته کله حاضريږي؟

که څه هم افضل دا ده چي مکې شريفي ته له رسېدلو څخه وروسته حاجي تر ټولو مخکي مسجدِ حرام او کعبې شريفي ته حاضر سي، لېکن د نن سبا حالت ته په کتلو سره په دې باره کي د لاندينيو خبرو خيال ساتل ضروري دي: ① نن سبا هلته عموماً د بسانو د لاري سفر کيږي چي په هغه کي د ټولو حاجيانو سامان مخلوط ورخپرول کيږي او د حاجيانو پر استوګنځي يا د معلم پر دفتر باندي شوه کول کيږي، نو ځکه مکې شريفي ته له رسېدلو څخه وروسته نن سبا تر ټولو مخکي پکار دا ده چي خپل سامان سره يو ځای کړل سي او خپلي کمرې ته ورسول سي، که سامان پرېښوول سي او سمدستي حرم ته تګ وسي، نو وروسته لويه ستونزه کېدلای سي، ② عموماً اوس د حاجيانو استوګنځی له حرم څخه پر ډېره فاصله وي، نو ځکه د استوګنځي ادرس او د ښا وخوا علامات پېژندل ضروري دي، که د هغوی د پېژندلو څخه بغير حرم ته ولاړ سي، نو واپسي به ډېره سخته وي، ③ نن سبا د حکومتي نظام او د سفر د سختو او سترو پړاونو په وجه عموماً حاجيان مکې ته په

رسېدلو سره ډېر ستړي ستومانه وي او سمدستي د آرام کولو تقاضا وي، نو په داسي کیفیت کي سمدستي د مسجدِ حرام زیارت کولو ته ښه کار نه سي ویل کېدای، نو ځکه په داسي صورت کي له آرام کولو او ځان هوسا کولو څخه وروسته ښه په اطمینان سره حرم ته تلل پکار دي.

خو که څوک مکې شریفي ته په داسي حالت کي ورسېږي چي واقعتاً هیڅ ستړيا باندي نه وي او استوګنځی هم آسانه او معلوم وي او د سامان هم هیڅ فکر نه وي، نو هغه ته پکار دي چي مسجدِ حرام ته حاضر سي او بېله عذره تأخیر نه وکړي، کنې خلاف اولیٰ به وي.

مسجدِ حرام ته د داخلېدلو ادب

﴿۱۲۲۴﴾ وَيَسْتَحِبُّ أَنْ تَكُوْنَ مُلَبِّيًا فِيْ دُخُوْلِكَ او مستحب دي دا چي ته تلبیه ویونکی یې! په خپل داخلېدلو کي (یعني چي د داخلېدلو په وخت کي تلبیه وایې!) حَتّٰى تَأْتِيَ بَابَ السَّلَامِ تر دې چي بابُ السلام ته راسې (ورسېږې!) فَتَدْخُلَ الْمَسْجِدَ الْحَرَامَ مِنْهُ مُتَوَاضِعًا خَاشِعًا مُلَبِّيًا نو مسجد حرام ته به له همدې (بابُ السلام) څخه ته داخل سې! په داسي حال کي چي تواضع کونکی، خشوع کونکی (د عاجزۍ ښکاره کونکی) او تلبیه ویونکی یې! مُلَاحِظًا جَلَالَةَ الْمَكَانِ (او په داسي حال کي چي ته په خپل زړه کي) لحاظ ساتونکی یې! د دې (مُقدس) ځای د عظمت (ستروالي) مُكَبِّرًا مُهَلِّلًا مُصَلِّيًا عَلَى النَّبِيِّ ﷺ (او) الله اکبر ویونکی. لا إله إلا الله ویونکی (او) پر نبي کریم ﷺ درود ویونکی یې! مُتَلَطِّفًا بِالْمُزَاحِمِ او (په داسي حال کي چي ته) نرمي کونکی یې! د خنډ جوړېدونکي (مزاحمت کونکي) کس سره دَاعِيًا بِمَا أَحْبَبْتَ (او) دعاء کونکی یې! د هغه څه کوم څه چي در ته خوښ وي فَإِنَّهُ مُسْتَجَابٌ عِنْدَ رُؤْيَةِ الْبَيْتِ الْمُكَرَّمِ ځکه د کعبې شریفي د لیدلو په وخت کي دعاء قبلېدونکې ده.

لغات: ﴿بَابُ السَّلَامِ﴾ د مقامِ ابراهیم پر طرف چي کومه دروازه مخامخ پر کعبې شریفي راخلاصېږي، د هغه نوم "باب السلام" دی، نبي کریم ﷺ به په همدې دروازه باندي حرم ته داخلېدی، د دې دروازې څو نومونه دي: لکه باب بني شیبة، باب الجنائز، باب النبي ﷺ او داسي نور. د لار ښوووني لپاره په حرم شریف کي د "باب السلام" په نامه سره ښي لکول شـوی دي، ﴿مسجد

حرام﴾ دا همدا د کعبې شریفې چار طرفه جوړ سوی مسجد دی، په دې کې دیوه لمانځه ثواب دیوه لک لمونځونو سره برابر دی. ﴿ملاحظًا﴾ د مفاعلې له بابه د فاعل صیغه ده: کتونکی. لحاظ کونکی. ﴿جلالة﴾ عظمت. ﴿متلطفًا﴾ د تفعل له بابه فاعل دی: نرمي او مهرباني کونکی. ﴿مُزاحِم﴾ د مفاعلې له بابه فاعل دی: خنډ جوړېدونکی، مقابل.

تشریح: فرمایي کله چې محرم و مسجدِ حرام ته د داخلېدلو اراده وکړي، نو افضل دا ده چې د "بابُ السلام" د لارې ور داخل سي (لېکن نن سبا حرم ماشاء الله دومره پراخه سوی دی چې د نوې کس لپاره د دروازو پېژندل او دننه رسېدل او بیرته په صحیح لاره واپس راتلل ډېر مشکل وي. نو ځکه اوس همدا مشوره ورکول کېږي چې د دغه مستحب حاصلولو په کوشش کې خپل ځان په نور مشکل کې نه واچوي. بلکې له خپل استوګنځې څخه د راتللو په وخت کې چې کوم ګېټ (دروازه) مخ ته راسي. د هغه نمبر دې یاد کړي او له هماغه ګېټ څخه دې ور داخل او را واپس سي)، او په ډېره تواضع او عاجزي سره او په زړه کې د دې مبارک او عظیمُ الشان ځای عظمت ته په پام کولو سره چې هیڅ ډول بې ادبي یې ونه سي او د تکبیر و تهلیل او درود شریف په ویلو سره دې ور داخل سي او که رش او ګڼه ګوڼه وي. نو په اطمینان سره دې روان سي او که له چا څخه تکلیف ورته ورسېږي (مثلاً څوک دیکه وکړي). نو نرمي دې کوي او هغه ته دې معافي وکړي او پر بیتُ الله (کعبې شریفې) د نظر لګېدلو سره سمدستي دې درې واره الله اکبر او درې واره لا إله إلا الله ووایي او لاس دې پورته کړي او په پوره توجه او اهتمام سره دې دعاء وکړي؛ ځکه په دې وخت کې دعاء قبلیږي (لکه مخکې چې ذکر سوه).

له طواف کولو څخه مخکې د حجر اسود استقبال کول

﴿۳۲۵﴾ ثُمَّ اسْتَقْبِلِ الْحَجَرَ الْأَسْوَدَ مُكَبِّرًا مُهَلِّلًا بیا حجرِ اسود ته مخ کړه! په داسې حال کې چې الله أکبر ویونکی (او) لا إله إلا الله ویونکی یې! رَافِعًا يَدَيْكَ كَمَا فِي الصَّلٰوةِ (او په داسې حال کې چې) پورته کونکی یې! د خپلو لاسونو لکه په لمانځه کې (چې د تکبیر تحریمه لپاره پورته کول کېږي) وَضَعْهُمَا عَلَى الْحَجَرِ وَقَبِّلْهُ بِلَا صَوْتٍ او دواړه لاسونه پر حجرِ اسود کېښېږده! او هغه بغیر له آواز څخه مچ کړه! فَمَنْ عَجَزَ عَنْ ذٰلِكَ إِلَّا بِالْإِيذَاءِ او که څوک له دې څخه عاجز سي مګر (نورو ته) په تکلیف رسولو سره (یعني بغیر له ایذاء څخه پر حجر اسود لاسونه ایښوول او حجر اسود په خوله مچول مشکل وي) تَرَكَهُ وَمَسَّ الْحَجَرَ بِشَيْءٍ وَقَبَّلَهُ نو دا دې پرېږدي او حجر اسود دې په یو شي سره مسه کړي او هغه شی دې مچ کړي أَوْ أَشَارَ إِلَيْهِ مِنْ بَعِيدٍ یا دې له

لیري څخه د حجرِ اسود وطرف ته (په لاس) اشاره وکړي مُكَبِّرًا مُهَلِّلًا حَامِدًا مُصَلِّيًا عَلَى النَّبِيِّ ﷺ په داسې حال کې چې الله أکبر وېونکی، لا إله إلا الله وېونکی، حمد وېونکی (او) پر نبي کريم ﷺ درود وېونکی وي.

تشریح: له دعاء څخه تر فارغه کېدو وروسته دي د طواف کولو لپاره د حجرِ اسود وطرف ته راسي، یعنې اول دي د کعبې شریفې په کوم طرف کې چې حجر اسود ده، هلته دي مخامخ کعبې ته داسې ودرېږي چې ټوله حجرِ اسود د ده وراسته طرف ته راسي او د طواف نیت دي وکړي، په زړه سره نیت کول ضروري دي او په ژبې هم ویل افضل دي، په ژبه (په خوله) دي داسې ووایي "اَللّٰهُمَّ إِنِّيْ أُرِيْدُ طَوَافَ بَيْتِكَ الْحَرَامِ، فَيَسِّرْهُ لِيْ وَتَقَبَّلْهُ مِنِّيْ".

د طواف تر نیت کولو وروسته دي د حجرِ اسود استقبال وکړي یعنې حجر اسود ته دي مخامخ ودرېږي او څرنګه چې په لمانځه کې د تکبیرِ تحریمه لپاره لاسونه پورته کوي، هغسې دي دواړه لاسونه تر غوږو یا اوږو پورې پورته کړي او تکبیر او لا إله إلا الله دي ووایي، صاحب د شفاء الارواح دا دعاء را نقل کړې ده چې دا دي ووایي "بِسْمِ اللّٰهِ اللّٰهُ أَكْبَرُ لَا إِلٰهَ إِلَّا اللّٰهُ وَلِلّٰهِ الْحَمْدُ وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰى رَسُوْلِ اللّٰهِ"، بیا دي دواړه لاسونه ایله کړي او پر حجرِ اسود دي یې کېښېږدي او د دواړو لاسونو په مینځ کې دي خپل سر او خوله پر حجرِ اسود کېښېږدي او په ډېر اداب سره دي یې داسې مچ کړي چې آواز نه وکړي یعنې چې د مچې آواز پکښې نه وي (همدې ته استلام وایي چې دواړه لاسونه پر حجرِ اسود کېښېږدي او مخ او خوله پر حجرِ اسود کېښېږدي او مچ یې کړي)، بیا دي طواف شروع کړي.

﴿د حجرِ اسود د استلام او مچولو پنځه طریقې﴾

① که موقع وي او رش نه وي، نو حجر اسود دي مچ کړي (په پورتنۍ طریقه سره). ② که یې مچ نه کړل سي، نو په لاس سره دي یې مسه کړي او بیا دي خپل لاس مچ کړي. ③ که دا هم نه سي کېدلای سي، نو که په لاس کې یې لکړه یا داسې بل شی وي، نو په هغه سره دي حجر اسود مسه کړي او بیا دي هغه لکړه مچ کړي. ④ او که په لکړه، لرګي وغیره سره هم حجرِ اسود نه سي مسه کولای. نو په لکړه وغیره سره د حجرِ اسود وطرف ته اشاره وکړي او بیا دي هغه مچ کړي. ⑤ او که په لاس کې لکړه. لرګی وغیره نه وي، نو بیا دي په لاس سره د حجرِ اسود وطرف ته د لیري څخه اشاره وکړي لولاس دي مچ کړي.

فمن عجز إلخ: يعني که رش وي او د حجر اسود په مسه کولو کي چا ته تکليف رسيږي او په لاس کي يې لکړه يا بل شی وي، نو په هغه سره، او که شی ورسره نه وي، نو په لاس سره دي دليري څخه د حجرِ اسود وطرف ته اشاره وکړي او هغه شی يا خپل لاس دي مچ کړي، دا هم کافي دي (کماذکرنا).

مکبرًا مصليًا إلخ: يعني د حجرِ اسود له استلام يا اشاره کولو څخه مخکي دي الله أکبر، لا إله إلا الله، د الله حمد او په نبي ﷺ باندي درود شريف ووايي، يا پورتنی کلمه دي ووايي، يعني "بسم الله أالله أکبر.. إلخ"، او په کوم وخت کي چي يې مچوي يا اشاره ورته کوي، نو په هغه وخت کي دي خاموشي اختيار کړي. (ماخوذ از شفاء الارواح، انوار الايضاح، ثمرة النجاح بتصرف).

د طواف کولو طريقه

﴿۱۲۳۶﴾ ثُمَّ طُفْ آخِذًا عَنْ يَمِيْنِكَ بيا طواف وکړه! په داسي حال کي چي شروع کونکی يې! له خپل راسته طرفه مِمَّا يَلِيَ الْبَابَ يعني له هغه حصې څخه کوم چي (د کعبې شريفي) د دروازې سره متصل ده (ځکه د کعبې شريفي دروازه له حجرِ اسود څخه راسته طرف ته ده) مُضْطَبِعًا (او) په داسي حال کي چي اضطباع کونکی يې! (په طواف کي) وَهُوَ أَنْ تَجْعَلَ الرِّدَاءَ تَحْتَ الْإِبْطِ الْأَيْمَنِ وَتُلْقِيَ طَرَفَيْهِ عَلَى الْأَيْسَرِ او اضطباع دا ده چي ته (د احرام) څادر تر راسته بغل لاندي کړې! او د هغه دواړه طرفونه (سرونه) پر چپه اوږه واچوې! سَبْعَةَ أَشْوَاطٍ (طواف وکړه!) اووه دوره (يعني اووه واره پر کعبې شريفي راوګرځه!) دَاعِيًا فِيْهَا بِمَا شِئْتَ په داسي حال کي چي دعاء کونکی يې! په دې (اووه دوره طواف) کي د هغه څه کوم چي ته وغواړې وَطُفْ وَرَاءَ الْحَطِيْمِ او طواف وکړه! له حطيم څخه شا ته (ځکه حطيم خپله د کعبې شريفي ايت الله احصه ده، لهذا د حطيم له احاطې څخه شا ته ابهرا به طواف کول کيږي!، چي پر حطيم باندي هم طواف راسي).

لغات: ﴿طُفْ﴾ د نصر له بابه د واحد مذکر امرِ حاضر صيغه ده، طَوْفًا و طَوَافًا: (په يو شي باندي) شا وخوا راګرځېدل، دَور لګول، د شريعت په اصطلاح کي د طواف اطلاق لږ تر لږه له ۴ دَورونو څخه تر ۷ دَورونو باندي کيږي (يعني چي له ۴ څخه تر ۷ وارو پوري په کعبې شريفي باندي راوګرځيږي)، لهذا له ۴ څخه کم

دَورونه طواف کول شرعاً معتبر نه دي، ﴿مضطبعًا﴾ د افتعال له بابه فاعل دی: اضطباع کونکی، د اضطباع معنیٰ ده: له راسته بغل څخه څادر ایستل او پر چپه اُوږه اچول. څرنګه چي په اضطباع کي د سړي دواړه مټان او یوه اُوږه ښکاره وي، نو ځکه ورته اضطباع وايي، ﴿تُلْقِ﴾ د افعال له بابه د واحد مذکر مخاطب صیغه ده، إِلْقَاءٌ: اچول، یو شی په بل شي باندي اېښوول، ﴿حطیم﴾ دا د کعبې شریفي سره متصل هغه حصه ده کوم چي کوچنی غوندي دېوال باندي راګرځېدلی دی او بله نښاني يې دا ده چي په دې طرف کي د کعبې شریفي ناوه (میزابِ رحمت) واقع ده چي په هغه کي د کعبې شریفي د بام اوبه راتوییږي (او دا د کعبې شریفي د شمال طرف دی)، کله چي د نبي کریم ﷺ عمر مبارک ۳۵ کاله وو، په هغه وخت کي قریشو د کعبې د تعمیرولو اراده وکړه؛ ځکه کعبه شریفه زړه او خرابه سوې وه، نو د کعبې د تعمیر لپاره چنده وسوه او شرط دا ولګول سو چي فقط حلال او پاک مال به په چنده کي ورکول کیږي، نو چنده او مال لږ سره جمع سو، نو ځکه قریشو کعبه کوچنۍ جوړه کړه او څه حصه يې له کعبې شریفي څخه بهر پرېښووله کوم ته چي اوس حطیم ویل کیږي، لنډه چي حطیم د کعبې شریفي جزء دی، او دې ته ځکه حطیم ویل کیږي چي د حطم معنیٰ ده: ماتېدل، او اوس ذکر سوه چي قریشو د مال او خرڅ د کمښت په خاطر دا حصه له کعبې څخه را ماته او جلا کړه، نو ځکه ورته حطیم وايي، او د حطیم دویم نوم حِجر هم دی، حِجر ځکه ورته وايي چي د حِجر معنیٰ ده: منع کړی سوی، لیري کړی سوی، او حطیم هم له کعبې شریفي څخه د خرڅ د کمښت په وجه لیري کړی سو او په کعبه شریفه کي داخل نه سو، او درېیم نوم يې جدر هم دی: یعني کوچنی دېوال.

تشریح: د حجرِ اسود تر استقبال او استلام وروسته دي طواف له راسته طرف څخه شروع کړي، یعني له حجرِ اسود څخه راسته طرف ته چي د کعبې شریفي دروازه ور سره متصل ده. له هغه طرف څخه دي طواف شروع کړي، او که تر طواف وروسته سعی بین الصفا والمروه هم کوي، نو بیا دي له طواف شروع کولو څخه مخکي اضطباع هم وکړي (کماذکر) یعني څادر دي تر راسته بغل لاندي را وباسي او پر چپه اُوږه دي يې واچوي او راسته اُوږه دي لڅه (ښکاره) پرېږدي، او د طواف له اول څخه تر آخره پوري اضطباع کول سنت دي، خو کله چي د طواف دوه رکعته لمونځ کوي، په هغه وخت کي دي دواړي اُوږې پټي کړي، او د طواف په دوران کي دي دعاء غواړي؛ ځکه د طواف په حالت کي دعاء قبلیږي او د دې لپاره څه خاص دعاء منقوله نه ده، بلکي کومه دعاء چي د ده زړه وغواړي او کومه دعاء چي ضروري وګڼي، هغه دي وکړي (ځیني عوامو په لاس کي کتاب اخیستی وي، او د طواف په حالت کي هغه الفاظ په مشکل سره اداء کوي، نو ځکه غوره دا ده چي کوم څه د ده په زړه او پوهه کي رسي او کوم شي ته چي ضرورت وي، په خپله ژبه دي د هغه دعاء وکړي)، خو دلته دوې دعاوي منقوله دي: یوه د، رکنِ یماني څخه د حجرِ اسود په مینځ کي او هغه دا ده " ربّنا آتنا فی الدنیا حسنةً وفی الآخرة حسنةً وقنا عذاب النار ".

دویمه دعاء د حجرِ اسود او حطیم په مینځ کي منقوله ده او هغه دا ده "اَللّٰهمّ قنّعنی بما رزقتنی وبارِكْ لی فیه واخلف علی کل غائبة لی بخیرٍ، لا إلٰه إلّا الله وحدهٗ لا شریك لهٗ، له الملكُ وله الحمد وهو علی کلّ شیءٍ قدیر".

وطف وراء الحطیم: یعني طواف دي له حطیم څخه بهر (ښلدي) کول کیږي، د حطیم وضاحت په لغاتو کي وسو.

د طواف سره متعلق څو نوري مسئلې

﴿۱۳۲۷﴾ وَإِنْ أَرَدْتَ أَنْ تَسْعٰى بَيْنَ الصَّفَا وَالْمَرْوَةِ عَقْبَ الطَّوَافِ او که ته اراده وکړې چي تر طواف وروسته د صفا او مروه په مینځ کي سعی وکړې فَارْمُلْ فِي الثَّلَاثَةِ الْأَشْوَاطِ الْأُوَلِ نو رمل وکړه! په اولو دریو دورونو کي وَهُوَ الْمَشْيُ بِسُرْعَةٍ مَعَ هَزِّ الْكَتِفَيْنِ او رمل په تېزي سره تلل دي سره د ښورولو د اوږو كَالْمُبَارِزِ يَتَبَخْتَرُ بَيْنَ الصَّفَّيْنِ لکه د مقابلې لپاره را وتونکی کس چي د دواړو صفونو په مینځ کي په فخر (او خیال کولو) سره ځي فَإِنْ زَحَمَهُ النَّاسُ بیا که خنډ جوړ سي د ده لپاره خلک (یعني د ده مخ ته د خلکو ګڼه ګونه سي) وَقَفَ نو ودي دریږي فَإِذَا وَجَدَ فُرْجَةً رَمَلَ بیا چي کله د رَمَل (لپاره) پراخوالی (خالي ځای) ومومي لَا بُدَّ لَهُ مِنْهُ نو چاره نسته ده ته له رمل څخه (یعني بیا د ده لپاره رمل کول ضروري دي) فَيَقِفُ حَتّٰى يُقِيْمَهُ عَلَى الْوَجْهِ الْمَسْنُوْنِ نو دومره کړی دی ودریږي چي پر سنت طریقه رمل وکړی سي بِخِلَافِ اِسْتِلَامِ الْحَجَرِ الْأَسْوَدِ په خلاف د حجرِ اسود د مسه کولو (او مچولو) لِأَنَّ لَهُ بَدَلًا ځکه چي هغه لره بدل سته وَهُوَ اسْتِقْبَالُهٗ او هغه (بدل) حجرِ اسود ته مخ کول دي (حجرِ اسود ته مخامخ کېدل دي) وَيَسْتَلِمُ الْحَجَرَ كُلَّمَا مَرَّ بِهٖ او حجرِ اسود دي مسه کوي هر کله چي هم د هغې سره تېرېږي وَيَخْتِمُ الطَّوَافَ بِهٖ وَبِرَكْعَتَيْنِ فِيْ مَقَامِ إِبْرَاهِيْمَ عليه السلام او ختم دي کړي طواف په همدې مسه کولو (استلام) سره او په دوه رکعته لمونځ سره په مقام ابراهیم کي أَوْ حَيْثُ تَيَسَّرَ

مِنَ الْمَسْجِدِ یا چیري چي هم (ورته) آسانه وي په مسجدِ حرام کي ثُمَّ دَعَا فَاسْتَلَمَ الْحَجَرَ بیا دي دعاء وکړي، بیا دي حجر اسود مسه کړي وَ هٰذَا طَوَافُ الْقُدُوْمِ او دا طوافِ قدوم دي وَ هُوَ سُنَّةٌ لِلْآفَاقِيِّ او دا طواف د آفاقي لپاره سنت دی.

لغات: ﴿هَزّ﴾ د نصر د باب مصدر دی: هَزَّ یَهُزُّ هَزًّا: ښورول. ﴿کَتِف﴾ اوږه. جمع: اَکْتَاف. ﴿مُبارِز﴾ جنګیالی مېړنی، بَارَزَ یُبَارِزُ مُبَارَزَةً: د جنګ (مقابلې) لپاره ور سره مخامخ کېدل. مخامخ جنګ کول. د دې ماده بَرُزَ ده چي د هغه معنیٰ ده: راښکاره کېدل. څرنګه چي هغه کس کوم چي د جنګ په میدان کي د خپل مقابل ومخ ته راځي او له صفونو څخه بهر راوځي، نو ځکه هغه ته مُبارز وایي، ﴿یتبختر﴾ د تفعلل د باب مضارع ده: په ناز او نخره سره تلل. ﴿یستلم﴾ د استفعال د باب مضارع ده، مصدر: اِسْتِلَام، دا یا له سَلَام څخه مأخوذ دی چي د هغه معنیٰ ده تحیة: سلام کول. ګواکي حجرِ اسود مسه کول د هغه تعظیم او سلام کول دي، یا له سِلَام (بکسر العین) څخه مأخوذ دی چي د هغه معنیٰ الحجارة یعني مس الحجارة ده. ﴿مقام إبراهیم﴾ له دې څخه مراد هغه ډبره ده چي حضرت ابراهیم عليه السلام د کعبې شریفي د جوړولو په وخت کي پر هغې درېدلی وو. دغه ډبره نن هم پر خپل حالت پاته ده او په هغې کي دوه قدمه جوړ سوي دي، کوم چي د حضرت ابراهیم ﷺ د قدمونو نښې دي. د کعبې شریفي د دروازې ومخ ته دغه ډبره په ښیښه کي ایښوول سوې ده او بیا پر دې ښیښه د ژړو او مسو جالۍ راګرځول سوې ده او دا د جنت له ډبرو څخه ده، الله تعالی د هغې رڼا ور ختمه کړې ده. که الله تعالیٰ د هغې رڼا ور ختمه کړې نه وای، نو د مشروق او مغرب ترمینځ هر شی به یې روښانه کړي وای، ﴿آفاقيّ﴾ (اطراني) هغه کس کوم چي په مکه کي نه اوسېږي بلکي له مکې او میقات څخه بهر په اطرافو کي اوسېږي (که څه هم له اهلِ مکه څخه وي)، یا په بله وینا آفاقي هغه حاجي یا عمره کونکي ته وایي کوم چي له میقات څخه بهر له نورو ملکو او ښارونو څخه حرم شریف ته راغلی وي لکه افغانی، پاکستانی، یمني، مصری او داسي نور.

تشریح: مسئله دا ده چي له کوم طواف څخه وروسته سعی بین الصفا والمروه کول کیږي، نو په هغه طواف کي د سړیو لپاره دوه زائد کارونه کول هنت دي: یو اضطباع او بل رمل، د رمل طریقه دا ده چي د طواف په دوران کي دواړه اوږې دي په تېزي سره ښوروي لکه څرنګه چي جنګیالی، پهلوان کس د جنګ ډګر ته ځي (لکه مخکي چي هم د دې تفصیلي معنیٰ ذکر سوه) او رمل دي صرف په دریو دَورونو (شوطونو) کي وکړي، په پاته څلورو دَورونو کي دي په سکون او اطمینان سره ځي.

فإن زحمه إلخ: او که د خلکو د رش په وجه رمل کول مشکل وي، نو په ولاړه دي انتظار وکړي او بغیر له رمل څخه دي طواف نه کوي، کله چي څه پراخي ووینې، نو رمل دي وکړي، د دې لپاره چي د سنت مطابق طواف اداء سي، په خلاف د حجرِ اسود د استلام، چي که د حجرِ اسود استلام مشکل وي، نو انتظار دي نه کوي، بلکي د حجرِ اسود استقبال دي وکړي او طواف دي شروع کړي؛ ځکه د حجرِ اسود استقبال د حجرِ اسود د استلام بدل دی او د رمل هیڅ بدل نسته. (خو بیا هم کوم څوک چي قصداً رمل پرېږدي، یا یې د رش او ګڼې ګوڼې په وجه نه وکړي، نو پر هغه هیڅ شی نه واجبېږي؛ ځکه چي رمل سنت دی).

ویستلم إلخ: یعني طواف کوونکی چي کله هم د حجرِ اسود سره نږدې تېرېږي، نو د قدرت په صورت کي دي د حجرِ اسود استلام کوي، یعني هغه دي مچوي او که د استلام قدرت یې نه وي، نو د حجرِ استقبال دي کوي او د طواف په آخر کي دي هم د حجرِ اسود استلام وکړي چي طواف د حجرِ اسود پر استلام ختم سي (نو په یوه طواف کي به اته واره استلام راسي).

وبرکعتین فی مقام إلخ: فرمایي چي له طواف څخه تر فراغت وروسته دي د مقامِ ابراهیم سره دوه رکعته لمونځ وکړي، د مقامِ ابراهیم وضاحت په لغاتو کي وسو، او که هلته ځای پیدا نه سي، نو په حطیم کي دي تر میزابِ رحمت لاندي یا د حطیم هسي یو حصه کي دي یې وکړي او که هلته ځای تر لاسه نه کړي، نو په ټوله مسجدِ حرام کي چي هر ځای تر لاسه کړي، هلته دي دوه رکعته لمونځ وکړي. له هر طواف څخه وروسته دا دوه رکعته کول واجب دي او د دې پرېښوول لویه ګناه ده، برابره ده طواف فرض وي، واجب وي او که نفل وي، په ټولو کي د دغه لمونځ حکم برابر دی.

ثم دعا إلخ: (په بعضي نسخو کي دلته "ثم عاد" لیکل سوي دي): له دوه رکعته لمونځ کولو څخه وروسته دي کعبې شریفي ته واپس راسي، د کعبې چوکاټ دي مچ کړي، د ملتزم او د کعبې شریفي د دېوال سره دي ځان او خپل رخسار ولګوي، خپل مرادونه او دعاګاني دي وغواړي، تر دې وروسته دي د زمزم اوبه وڅیښي، بیا دي په آخر کي د حجرِ اسود استلام وکړي (نو په دې توګه به په یوه طواف کي اته واره استلام وسي).

وروسته مصنف رَحِمَهُ الله فرمایي چي ودغه طواف ته طوافِ قدوم ویل کیږي (او بل نوم یې طوافِ لقاء او طوافِ وُرود هم دی)، او دا طوافِ قدوم د هغه آفاقي لپاره سنت دی کوم چي مُفرِد یا قارِن وي (یعني چي حجِ إفراد یا حجِ قِران کوي)، او پاته سو اهلِ مکه او هغه کس کوم حجِّ تمتع یا عمره کوي، د هغه لپاره دا طواف سنت نه دی. (شفاء الارواح، انوار الایضاح)

د سعی بین الصَّـفا والمروه کولو طریقه او وضاحت

﴿۱۳۲۸﴾ ثُمَّ تَخْرُجُ إِلَى الصَّفَا بیا به ته د صفا (غره) وطرف ته ووځې! (ولاړ سې!) فَتَصْعَدُ وَتَقُوْمُ عَلَيْهَا حَتّٰى تَرَى الْبَيْتَ نو پر هغه به وخېژې او ودرېږې! تر دې چي کعبه شریفه وویني فَتَسْتَقْبِلُهٗ مُكَبِّرًا مُهَلِّلًا مُلَبِّيًا دَاعِيًا نو د کعبې شریفي وطرف ته به مخ کړې! په داسي حال کي چي الله اکبر ویونکی. لا إله إلا الله ویونکی، تلبیه ویونکی (او) دعاء کونکی یې وَتَرْفَعُ يَدَيْكَ مَبْسُوْطَتَيْنِ اوپورته به کړې! خپل دواړه لاسونه په داسي حال کي چي دواړه دي غوړولي وي ثُمَّ تَهْبِطُ نَحْوَ الْمَرْوَةِ عَلٰى هِيْنَةٍ بیا به راشوه سې! د مَروه (غره) وطرف ته په سکون سره (په آرامه) فَإِذَا وَصَلَ بَطْنَ الْوَادِيْ بیا چي کله دئ "بطنِ وادي" (د وادي نس) ته ورسیږي سَعٰى بَيْنَ الْمِيْلَيْنِ الْأَخْضَرَيْنِ سَعْيًا حَثِيْثًا نو د دوو زرغونه میلونو تر مینځ دي په تېزي سره ولاړ سي فَإِذَا تَجَاوَزَ بَطْنَ الْوَادِيْ بیا چي کله له "بطنِ وادي" څخه تېر سي مَشٰى عَلٰى هِيْنَةٍ حَتّٰى يَأْتِيَ الْمَرْوَةَ نو په سکون (په آرامه) دي روان سي تر دې چي مَروه ته راسي فَيَصْعَدَ عَلَيْهَا نو پر هغه (مروه) دي وخېژي وَيَفْعَلَ كَمَا فَعَلَ عَلَى الصَّفَا او (پر مَروه دي) داسي وکړي څرنګه چي یې پر صفا کړي وه يَسْتَقْبِلُ الْبَيْتَ مُكَبِّرًا مُهَلِّلًا مُلَبِّيًا مُصَلِّيًا (یعني) کعبې شریفي ته دي مخ کړي په داسي حال کي چي الله أکبر ویونکی، لاأله إلا الله ویونکی، تلبیه (او) درود ویونکی وي دَاعِيًا بَاسِطًا يَدَيْهِ نَحْوَ السَّمَاءِ (او) دعاء کونکی وي په داسي حال کي چي خپل دواړه لاسونه یې دآسمان وطرف ته غوړولي (او پورته کړي) وي وَهٰذَا شَوْطٌ او دا یو دَور دی (یعني چي صفا ته وخېژي او بیا له هغه څخه ومَروه ته سعی وکړي د مذکوره افعالو سره. نو دا په سعی کي یو شوط (دَور) اسو) ثُمَّ يَعُوْدُ قَاصِدَ الصَّفَا بیا دي را وګرځي په داسي حال کي چي د صَفا قصد کونکی وي (یعني بیا دي له مَروه څخه وصَفا ته د تللو په اراده له مَروه څخه واپس روان سي)

فَإِذَا وَصَلَ إِلَى الْمِيْلَيْنِ الْأَخْضَرَيْنِ بیا چي کله دوو زرغونه میلونو ته ورسیږي سَعْي نو په تېزه دي ولاړ سي ثُمَّ مَشٰى عَلٰى هِيْنَةٍ حَتّٰى يَأْتِيَ الصَّفَا بیا دي په سکون (په آرامه) روان سي تر دې چي صَفا ته راسي فَيَصْعَدَ عَلَيْهَا وَيَفْعَلَ كَمَا فَعَلَ أَوَّلًا نو پر صفا دي وخېږي او داسي دي وکړي څرنګه چي اول وار کړي وه وَهٰذَا شَوْطٌ ثَانٍ او دا دویم دَور دی فَيَطُوْفُ سَبْعَةَ أَشْوَاطٍ نو طواف دي وکړي (همداسي) اووه دَوره يَبْدَأُ بِالصَّفَا وَيَخْتِمُ بِالْمَرْوَةِ له صَفا څخه دي شروع کوي او پر مَروه دي ختموي وَيَسْعٰى فِيْ بَطْنِ الْوَادِيْ فِيْ كُلِّ شَوْطٍ مِنْهَا او تېز تګ دي کوي (تېزدي ځي) په نَس د وَادي (شېلې) کي د دغو اُوو دَورونو په هر دَور کي.

لغات: ﴿مكبّرًا﴾ د تفعیل له بابه فاعل دی: الله اکبر ویونکی، د الله تعالیٰ لویي بیانونکی، ﴿مهلّلا﴾ مخکینی صیغه ده: لا إله إلّا الله ویونکی، ﴿ملبّیا﴾ د تفعیل له بابه اسم فاعل دی: تلبیه ویونکی، تلبیه مصدر دی، په حج کي لَبَّيْكَ اللّٰهُمَّ ویل، ﴿مبسوطتین﴾ د نصر له بابه تثنیه اسمِ مفعول دی، مصدر: بَسْطًا: غوړول، هوارول، ﴿هینة﴾ په دې کي څو لغات نقل سوي دي، غوره یې بکسر الهاء دی یعني هِيْنَة کوم چي له هَوْنَ بفتح الهاء څخه ماخوذ دی: په سکون او وقار سره تلل، هِيْنَة په اصل کي هِوْنَةٌ وو، واو ساکن ماقبل یې مکسور وو، نو ځکه واو یې په یاء سره بدل کړی، هِيْنَةٌ سو، ﴿بطن وادی﴾ د بَطْن معنیٰ ده: نَس یعني مینځ، مینځوی حصه، وَادِی شلې (شېلې) ته وایي چي په هغه کي له غرونو وغیره څخه د باران اوبه راځي، ، نو د بطنِ وادی معنیٰ ده: د شلې مینځ، دلته ځني مراد د دوو غرونو (صفا او مروه) تر مینځ هغه حصه ده کوم چي هواره ده چي پورته او کښته پکښي نسته، خو نن سبا تقریباً ټوله حصه هواره کړل سوې ده، نو ځکه په بطنِ وادي کي یې دوې زرغوني نښي لګولي دي چي هغه ته میلین أخضرین وایي، له بطنِ وادي څخه همدغه ځای مراد دی، ﴿حثیثًا﴾ تېز، وَلّٰى حَثِيْثًا: هغه په تېزي سره واپس ولاړی، ﴿شوط﴾ پر کعبې شریفي یو ځل راګرځېدلو ته یو شَوط او دَور ویل کیږي (یا په بله وینا: د کعبې شریفي د طواف هر دَور ته شوط وایي). همدارنګه د صفا او مروه تر مینځ یو ځل تللو ته هم شَوط ویل کیږي، دلته په عبارت کي همدا دویمه معنیٰ مرا ده.

تشريح: صَفا او مَروه دوه غرونه دي کوم چې مسجدِ حرام ته نژدې دي، د سعى لغوي معنىٰ ده: ځغستل او د شريعت په اصطلاح کې د صفا و مروه تر مينځ په مخصوصه توګه (تېز) تللو راتللو (دَور لګولو) ته وايي، دا د حضرت اسماعيل عليه السلام د مور بي بي هاجرې د يو خاص عمل ياد ګار دى (چې حضرت هاجرې دلته د اوبو په تلاش کې ځغستلي وه. لکه مخکې چې يې هم يادونه وسوه. واقعه مشهوره ده)، او په حج او عمره دواړو کې دا سعى کول واجب دي.

د عبارت حاصل دا دى چې له طوافِ قدوم څخه تر فارغېدلو وروسته به د سعى لپاره اول صَفا ته راسي او پر صَفا به دومره وخېژي چې کَعبه شريفه (بيتُ الله) په نظر ورسي، بيا دي هلته مخ پر قبله ودرېږي او الله اکبر. لا إِلٰه إِلّا الله دي ووايي، تلبيه او درود شريف دي ووايي او د دعاء لپاره دي لاس پورته کړي، دا د دعاء قبلېدلو ځاى دى، بيا دي له صفا څخه د مَروه وطرف ته په خپل تګ سره روان سي او کله چې هغه ځاى ته رانژدې سي چېرې چې ميلين اخضرين يعني په دېواله کې زرغونه رنګ والا دوې ستنې (تمبې) لګېدلي دي (او لوس هلته زرغونه بلېان د نښانۍ په توګه لګول سوي دي، نو دې ځاى ته چې را ورسېږي) يعني چې د ده او ميلين اخضرين تر مينځ شپږ لاسه (شپږ شرعي ګزه) فاصله پاته سي، نو هغه دي ځغاسته (تېز تګ) شروع کړي او تر دويمې زرغونې ستنې (تمبې) وروسته دي شپږ لاسه قدر خپله ځغاسته جاري وساتي (يعني تر دويم زرغونه ميل وروسته دي هم تر شپږو ګزو پورې تېز ولاړ سي)، ښکاره دې وي چې په تېزه ځغستل پکار نه دي، بلکې ځغاستې ته نژدې تېز تلل سنت دي، او کله چې له دواړو ستنو (ميلونو) څخه ووځي، نو بيرته دي د خپل تګ مطابق روان سي تر دې چې مَروه ته ورسېږي، بيا دي پر مَروه وخيږي او د کعبې شريفې پر طرف مخامخ دي ودرېږي او څرنګه چې يې پر صفا غره د دعاء لپاره لاس پورته کړی وو، تکبير او تهليل او دعاء يې کړې وه، هغسې عمل به دلته هم وکړي، دلته هم دعاء قبلېږي، دا يو دَور (شَوط اچکرا) سو، بيا دي همداسې له مَروه څخه صفا ته راسي، نو دويم دَور (دويم شوط) به پوره سي، او په دې توګه به اُووم دَور پر مَروه پوره سي، او په آخر کې دي مخ پر قبله سي او له الله تعالىٰ څخه دي خپل مرادونه وغواړي او تکبير او تهليل دي ووايي.

فايده: علامه طحطاوي رَحِمَهُ الله فرمايي چې په عبارت کې چې کوم دا ذکر سوي دي چې پر مَروه به مخ پر قبله ودرېږي (تر دې چې کعبه شريفه په نظر ورسي)، دا د هغه زمانې خبره ده کله چې د مَروه او کعبې شريفې (بيتُ الله) تر مينځ هيڅ پرده او تعمير نه وو، او له مَروه غره څخه کعبه شريفه صفا ليدل کېده، خو په اوس وخت کې صورتِ حال مختلف دى، په مينځ کې عمارتونه راغلي دي، خو اوس هم حکم دا دى چې د کعبې شريفې وطرف ته به مخ کوي، که څه هم هغه په نظر نه ورځي. (طحطاوي ص۴۰۰)

یادونه: په اوس وخت کي د سعودي حکومت له طرفه دا د صَفا او مرو د سعی ځای د مخکي په مقابله کي څو چنده پراخه کړل سوی دی او هغه څو چته (څو منزله) جوړ کړل سوی دی او د تنګ راتنګ لاري سره جلا کړل سوي دي، نو د حکومت د تحقیق مطابق دا ټوله ځای د صفا او مروه غرونو په مینځ کي واقع دی، نو ځکه هلته پر هر چت (منزل) کي سعی بلا تردّده صحیح ده.

له طواف او سعی کولو څخه وروسته په مکه کي د پاتــېدلو حکم

﴿۱۳۳۹﴾ ثُمَّ يُقِيْمُ بِمَكَّةَ مُحْرِمًا بیا دي په مکه کي پاته سي د محرم والي په حالت کي (چي احرام یې تړلی وي) وَيَطُوْفُ بِالْبَيْتِ كُلَّمَا بَدَا لَهٗ او طواف دي کوي پر کعبې شریفي هر کله چي هم د ده خیال سي (یا په بله وینا: هر کله چي هم د ده طبیعت ازړه او غواړي).

﴿۱۳۴۰﴾ وَهُوَ أَفْضَلُ مِنَ الصَّلٰوةِ نَفْلًا لِلْآفَاقِيِّ او طواف افضل دی له نفلي لمانځه څخه د آفاقي (اطرافي ابهرنیا) کس لپاره.

لغات: ﴿یقیم﴾ د افعال د باب مضارع معلومه ده: په یو ځای کي پاتېدل، استوګنه اختیارول،

﴿بدا﴾ یو بَدَأَ دی (په همزه سره) کوم چي د فتح د باب ماضي ده چي د هغه معنیٰ ده: شروع کول، او بل بَدَا (بغیر له همزې) دی کوم چي د نصر د باب ماضي ده چي د هغه معنیٰ ده: ښکاره کېدل، یو شي ته خیال کېدل، چي د انسان یو شي ته خیال او طبیعت سي (مصباح اللغات، معجم الوسیط)، دلته بَدَا (بغیر له همزې) منقول دی، ﴿آفاقیّ﴾ مخکي یې تعریف ذکر سو چي هغه کس کوم چي په مکّه کي نه اوسیږي بلکي له مکّې او میقات څخه بهر په اطرافو کي اوسیږي، یا په بله وینا کوم چي له بل ملک او بل ښار څخه حرم شریف ته راغلی وي لکه افغانی، پاکستانی او داسي نور.

تشریح: له طوافِ قدوم او سعی څخه تر فراغت وروسته دي د احرام په حالت کي په مکه مکرمه کي پاته سي؛ ځکه چي هغه د حج کولو په اراده سره احرام تړلی دی، نو د حج د افعالو له پوره کولو څخه بغیر دي له احرامه څخه نه وځي یعني داسي څه کار دي نه کوي چي په هغه سره له احرامه څخه ووځي، او په دې دوران کي دي د مسجدِ حرام حاضري او زیات نفلي طوافونه کول لوی سعادت وګڼي، په بازارونو او مجلسونو کي دي بېله ضرورته دا قیمتي وخت نه ضایع کوي.

﴿ نفلي طواف له نفلي لمانځه څخه افضل دی ﴾

په حرم شریف کي تر ټولو افضل عبادت طواف دی، نوافل، اذکار، د قرآن تلاوت او داسي نور پر دویم نمبر دي، او له بهر څخه دراتلونکو مسافرانو (آفاقیانو) لپاره په هر وخت کي نفلي طواف له نفلي لمانځه څخه افضل دی (یعني برابره ده د حج موسم وي او که بل وخت وي). او پاته سو مکّي کس یعني کوم چي په مکه کي اوسیږي، د هغه لپاره د حج په موسم کي نفلي لمونځ له نفلي طواف څخه افضل دی، او د مکي او غیرِ مکي تر مینځ دا فرق په دې وجه دی چي د مکې اوسېدونکو ته ټوله کال د نفلي طواف لپاره موقع حاصله ده او د لیري څخه راتلونکو مسافرانو ته صرف د حج په موسم کي دا موقع حاصلیږي، اوس که د حج په موسم کي د مکې اوسېدونکي هم د نفلي طواف لپاره راسي، نو د رش او ګڼې ګوڼي په وجه به دغو سترو مسافرانو ته پوره د حج موقع حاصله نه سي، نو په دې وجه د دوی تر مینځ دا فرق وکړی سو.

د ذو الحجې په اتمه (یوم الترویه) باندي د حج افعال

﴿۱۲۲۱﴾ فَإِذَا صَلَّى الْفَجْرَ بِمَكَّةَ ثَامِنَ ذِي الْحَجَّةِ بیا کله چي د ذو الحجې په اتمه د سهار لمونځ په مکه مکرّمه کي وکړي تَأَهَّبَ لِلْخُرُوْجِ إِلٰى مِنٰى نو منیٰ ته دي د وتلو تیاري وکړي فَيَخْرُجُ مِنْهَا بَعْدَ طُلُوْعِ الشَّمْسِ نو له مکې څخه دي تر لمر لوېدو وروسته ووځي وَ يَسْتَحِبُّ أَنْ يُّصَلِّيَ الظُّهْرَ بِمِنٰى او مستحب دا ده چي د ماپښین لمونځ په منیٰ کي وکړي وَلَا يَتْرُكُ التَّلْبِيَّةَ فِيْ أَحْوَالِهٖ كُلِّهَا او تلبیه دي په خپل ټولو حالاتو کي نه پرېږدي إِلَّا فِي الطَّوَافِ مګر په طواف کي وَيَمْكُثُ بِمِنٰى إِلٰى أَنْ يُّصَلِّيَ الْفَجْرَ بِهَا بِغَلَسٍ او په منیٰ کي به پاته سي تر دې چي د سهار لمونځ په تیاره (تاریکه) کي وکړي وَيَنْزِلُ بِقُرْبِ مَسْجِدِ الْخَيْفِ او مسجد خیف ته به نژدې کښېنته سي (یعني د هغه سره دي نژدې قیام او پړاؤ وکړي).

لغات: ﴿تأهّب﴾ د تفعّل د باب ماضي ده، مصدر: تأهُّبًا: تیارېدل، چمتو کېدل. ﴿یمکث﴾ د نصر له بابه مضارع معلومه ده، مصدر: مَكْثًا و مُكُوْثًا: پاتېدل، قیام کول، درنګ کول، ﴿غَلَس﴾ (بفتحتین) د شپې د آخر تاریکي کله چي د سهار څه رڼا ور سره ګډه وي، ظلمَة آخر اللَّيل إذا اختلطت بضوء الصَّباح وَفي

الحَدِيث "أَنّ النَّبِي ﷺ كَانَ يُصَلِّ الصُّبْح بِغَلَس". ﴿مسجد خيف﴾ دا په منیٰ کي جمراتو ته نژدې يو لوی مسجد دی.

تشريح: د ذو الحجې په اتمه د سهار د لمونځ کولو څخه وروسته دي منیٰ ته د تللو تياري وکړي، کله چي لمر را وخېږي، نو منیٰ ته دي روان سي (منیٰ شريفه له مکې مکرّمې څخه د درېو ميلو پر فاصله واقع ده. منیٰ د غرونو په مينځ کي يو ډېر لوی ميدان دی)، په منیٰ کي د اتمي ورځي له ماپښين څخه د نهمي ورځي (يعني د عرفات د ورځي) تر سهاره پوري پنځه لمنځونه کول او دا شپه په منیٰ کي پاتېدل سنت دي، او منیٰ ته د تللو او هلته د پاتېدلو په وخت کي دي تلبيه وايي. په منیٰ کي د "مسجدِ خيف" سره نژدې پاتېدل (پړاو کول) مستحب دي، دا ډېر لوی مسجد دی او د منیٰ په جنوبي حصه کي د غره سره متصل واقع دی. (شفاء الارواح)

ولا يترك التلبية إلخ: ....د تلبيه ويلو حکم تر کومه وخته پوري دی؟ د دې جواب دا دی چي د احرام تړلو له وخت څخه د تلبيه سلسله شروع کېږي او په عمره کي د طواف شروع کولو تر وخته او په حج کي د ذو الحجې تر لسمي د جمرهٔ عقبه تر ويشتلو (رمی) پوري جاري پاتېږي، له دغه اوقاتو څخه وروسته د تلبيه ويلو حکم نسته. (انوار الايضاح)

يادونه: بعضي خلک هر وخت مسلسله تلبيه وايي، برابره ده په احرام کي وي او که نه وي، همدارنګه بعضي خلک د عمرې د طواف او د طوافِ زيارت په دوران کي د تلبيې ورد کوي، دا طريقه خلافِ سنت ده. (انوار الايضاح)

عرفات ته د روانېدلو بيان او د عرفات د افعالو تفصيل

﴿۱۳۴۲﴾ ثُمَّ بَعْدَ طُلُوْعِ الشَّمْسِ يَذْهَبُ إِلَى عَرَفَاتٍ بيا تر لمر راختلو وروسته به عرفات ته ولاړ سي فَيُقِيْمُ بِهَا نو په عرفات کي به قيام وکړي (يعني هلته دي پاته سي) فَإِذَا زَالَتِ الشَّمْسُ بيا کله چي لمر زائل سي (د آسمان له مينځ څخه واوړي، زوال سي) يَأْتِي مَسْجِدَ نَمِرَةَ نو مسجدِ نمره ته به راسي فَيُصَلِّيَ مَعَ الْإِمَامِ الْأَعْظَمِ أَوْ نَائِبِهِ الظُّهْرَ وَالْعَصْرَ نو د لوی امام (امام الحج) يا د هغه د نائب سره به د ماپښين او مازيګر لمنځونه (دواړه يو ځای) وکړي (چي دې ته جمع تقديم وايي) بَعْدَ مَا يَخْطُبُ خُطْبَتَيْنِ يَجْلِسُ بَيْنَهُمَا وروسته تر دې چي امام دوې خطبې ووايي چي د هغوی دواړو په مينځ کي به کښېني.

﴿ ۱۳۴۲ ﴾ وَيُصَلِّي الْفَرْضَيْنِ بِأَذَانٍ وَإِقَامَتَيْنِ او دواړه فرضونه (دماپښين او مازيګر) به په يوه اذان او دوو اقامتونو سره وکړي وَلَايَجْمَعُ بَيْنَهُمَا إِلَّا بِشَرْطَيْنِ او ددې دواړو (ماپښين او مازيګر) تر مينځ به جمع نه کوي مګر په دوو شرطونو سره الْإِحْرَامِ وَالْإِمَامِ الْأَعْظَمِ ① احرام (چې په احرام کې به وي) ② او لوی امام (چې دحج په امام پسې به لمونځ کوي) وَلَايَفْصِلُ بَيْنَ الصَّلٰوتَيْنِ بِنَافِلَةٍ او ددې دواړو لمنځونو تر مينځ دي په نفلي لمانځه سره فصل (جلا والی) نه راوالي وَإِنْ لَمْ يُدْرِكِ الْإِمَامَ الْأَعْظَمَ او که چيرې لوی امام (امامُ الحج) نه ونيسي (نه ومومندي) صَلّٰى كُلَّ وَاحِدَةٍ فِيْ وَقْتِهَا الْمُعْتَادِ نو دا هر لمونځ دې په خپل مقرر (ټاکلي) وخت کې وکړي.

لغات: ﴿مسجدة نمرة﴾ دا يو ډېر پراخ لوی مسجد دی کوم چې دعرفات بالکل پر څنډه دی، نبي کريم ﷺ په عرفات کې دماپښين او مازيګر لمونځ يو ځای اداء کړی وو، چيرې چې نبي کريم ﷺ لمونځ اداء کړی وو، پر هغه ځای دا مسجد نمره جوړ دی، ددې مسجد دمغربي ديوال لانديني حصه له عرفات څخه خارج ده، هغۀ حصې ته بطن عُرنه ويل کيږي کوم چې په عرفات کې داخله نه ده، دلته وقوف معتبر نه دی، ﴿يخطب﴾ دنصر له بابه مضارع معلومه ده، مصدر: خُطْبَةٌ: تقرير کول، خطبه ويل، ﴿يفصل﴾ دضرب دباب مضارع ده، مصدر: فَصْلًا و فُصُوْلًا: دوه شيان سره جلا کول، بيلتون پکښې راوستل، ﴿لم يدرك﴾ دافعال له بابه دجحد صيغه ده، مصدر: إدراكًا: نيول، موندل، ﴿معتاد﴾ دافتعال دباب اسمِ مفعول دی، او اسمِ فاعل يې هم پر دغه وزن راځي، دلته مراد مفعولي معنیٰ ده: عادت کړی سوی شی، دعادت مطابق، دمعمول مطابق، هغه څه چې عرفاً مقرر وي. (انوار الايضاح)

تشريح: دذو الحجې په نهمه (يعني دعرفات په ورځ) دسهار دلمونځ کولو څخه وروسته چې کله لمر راوخيږي او رڼا څه وغوړيږي، نو له منیٰ څخه دې دعرفات لپاره روان سي (عرفات له مکې څخه دنهو ميلو پر فاصله دحرم له حدودو څخه بهر ډېر پراخ، عظيم الشان ميدان دی، په دې ټوله ميدان کې هر ځای وقوف کېدلای سي)، دعرفات حدود څلور سره طروفونو ته متعيّن دي، اوس دسعودي حکومت پر هغه حدودو نښې لګولي دي، ددې لپاره چې وقوف عرفه کوم چې دحج رکنِ اعظم دی دعرفات له حدودو څخه بهر واقع نه سي، عرفات ته چې ورسيږي، نو هلته دې پاته سي، بيا چې کله لمر زوال

سي، نو مسجدِ نمره ته دي راسي (د مسجدِ نمره وضاحت په لفاتو کي وسو)، په مسجد کي دي امامُ المسلين (امام الحج) يا د هغه نائب خلکو ته د ماپښين او مازيګر دوارو لمنځونه د ماپښين په وخت کي ورکړي، ترتيب به يې دا وي چي کله امام په منبر باندي کښېني، نو په دې وخت کي دي مؤذن اذان وکړي، تر دې وروسته دي امام د جمعې په څېر دوې خطبې ووايي چي په هغه کي به خلکو ته د حج افعال وښيي او د دوارو خطبو په مينځ کي دي په ناسته سره فصل وکړي (لکه څرنګه چي د جمعې په خطبو کي کيږي)، له خطبو څخه تر فراغت وروسته چي کله امام له منبر څخه راشوه سي، نو مؤذن دي اقامت وکړي او امام دي د ماپښين لمونځ ورکړي، تر دې وروسته دي مؤذن دويم وار اقامت وکړي او امام دي د مازيګر لمونځ ورکړي (يعني د ماپښين تر لمانځه وروسته دي په همدې د ماپښين په وخت کي سملستي بيا د مازيګر لمونځ ورکړي. همدې ته "جمع تقديم" وايي)، او د ماپښين تر فرضو وروسته دي امام او مقتديان دواړه د ماپښين سنت مؤکده يا نفل نه کوي او د مازيګر تر لمانځه وروسته دي هم د ماپښين سنت يا نفل نه کوي. او د دغي جمع بين الصلاتين لپاره شرط دا ده چي د حج احرام به يې تړلی وي او د امام المسلمين (امامُ الحج) يا د هغه د نائب په اقتداء کي به يې اداء کوي. (شفاء الارواح)

ولايجمع بينهما إلخ: د دې څه وضاحت پورته وسو، دلته به يې نور وضاحت کړو: د "جمع تقديم" لپاره يعني په عرفات کي د ماپښين په وخت کي د ماپښين او مازيګر د لمانځه جمع کولو (جمع بين الصلاتين) لپاره بالاتفاق احرام شرط دی، او د امامُ الحج (اميرُ الموسم) په اقتداء کي لمونځ کول شرط دي، که نه؟ په دې کي اختلاف دی، د احنافو په نيز دا هم شرط دي، لهذا کوم کس چي په مسجدِ نمره کي په امام پسي لمونځ اداء کوي، صرف هاغه دا جمع بين الصلاتين کولای سي، او کوم سړی او ښځه چي په خپل خېمه کي لمونځ کوي، برابره ده په جماعت سره يې کوي او که تنها يې کوي، د هغو لپاره جمع بين الصلاتين کول جائز نه دي؛ ځکه د هغو لپاره دا هر لمونځ په خپل وخت کي کول مشکل نه دی، حال دا چي په مسجدِ نمره کي د جمع بين الصلاتين حکم په همدې وجه دی چي هلته مجبوري ده؛ ځکه که چيري خلک د ماپښين د لمونځ کولو څخه وروسته يو وار د وقوف لپاره جبلِ رحمت ته ځي (چي د هغه سره وقوف کول افضل دي)، بيا د مازيګر په وخت کي بيرته مسجد ته راځي او د مازيګر لمونځ کوي او بيرته جبلِ رحمت ته ځي او وقوف کوي، نو ټوله وخت به په تګ راتګ کي خرچ سي، نو ځکه شريعت په مسجدِ نمره کي د جمع بين الصلاتين اجازه ورکړې ده او کوم کسان چي په خپله خېمه کي لمونځ کوي (او په امامُ الحج پسي يې په مسجد کي نه کوي). د هغو لپاره څه مجبوري ده!، نو ځکه د هغو لپاره د جمع کولو اجازه نسته. (انوار الايضاح بحوالة تحفة الألمعی ج:٣، ص:٢٨٩)

په عرفات کي د وقوف (درېدلو) ځای، طریقه او تفصیل

﴿۱۳۴۴﴾ فَإِذَا صَلّٰى مَعَ الْإِمَامِ بیا کله چي د امام سره لمونځ وکړي يَتَوَجَّهُ إِلَى الْمَوْقِفَ نو موقف (ځای د درېدلو) ته دي متوجه سي (روان سي) وَعَرَفَاتٌ كُلُّهَا مَوْقِفٌ إِلَّا بَطْنَ عُرَنَةَ او عرفات ټوله موقف (ځای د درېدلو) دی، مګر "بطن عُرنه" (د "عُرنه" شېلې مېنځ).

﴿۱۳۴۵﴾ وَيَغْتَسِلُ بَعْدَ الزَّوَالِ فِيْ عَرَفَاتٍ لِلْوُقُوْفِ او غسل دي وکړي تر زوال وروسته په عرفات کي د وقوف (درېدلو) لپاره.

﴿۱۳۴۶﴾ وَيَقِفُ بِقُرْبِ جَبَلِ الرَّحْمَةِ مُسْتَقْبِلًا مُكَبِّرًا مُهَلِّلًا مُلَبِّيًا او د "جبلِ رحمت" سره دي نږدې ودرېږي په داسي حال کي چي مخ پر قبله وي (او) الله أکبر وېونکی، لا إله إلا الله وېونکی او تلبیه وېونکی وي دَاعِيًا مَادًّا يَدَيْهِ كَالْمُسْتَطْعِمِ (او په داسي حال کي چي) دعاء کونکی (او) د خپل دواړو لاسو غوړونکی (غځونکی) وي لکه ږوږی غوښتونکي کس وَيَجْتَهِدُ فِي الدُّعَاءِ لِنَفْسِهٖ وَوَالِدَيْهِ وَإِخْوَانِهٖ او (پوره) کوشش دي وکړي په دعاء کي د خپل ځان او د خپل مور و پلار او د خپل (تمام) ورونو لپاره وَيَجْتَهِدُ عَلٰى أَنْ يَّخْرُجَ مِنْ عَيْنَيْهِ قَطَرَاتٌ مِنَ الدَّمْعِ او کوشش دي وکړي پر دې خبره (هم) چي د ده له سترګو څخه یو څو قطرې د اوښکو ووځي فَإِنَّهٗ دَلِيْلُ الْقَبُوْلِ ځکه دا د قبلېدلو (قبولیت) نښه ده وَيُلِحُّ فِي الدُّعَاءِ مَعَ قُوَّةِ رَجَاءِ الْإِجَابَةِ او په دعاء کي دي پوره ټینګار (او زاری) وکړي، د (دعاء) قبلېدلو د پوره اُمید سره (یعني دا به یې قوي اُمید وي چي دعاء مي قبلېدونکې ده او په همدې اُمید سره دي په دعاء کي ښه ټینګار او زاری وکړي) وَلَا يُقَصِّرُ فِيْ هٰذَا الْيَوْمِ او په دې ورځ کي دي کوتاهي (او غفلت) نه کوي إِذْ لَا يُمْكِنُهٗ تَدَارُكُهٗ ځکه چي د ده لپاره د دې ورځي تدارک (بیرته موندل) ممکن نه دي سِيَّمَا إِذَا كَانَ مِنَ الْآفَاقِ خصوصاً کله چي هغه له اطرافو (بهرني وطنو) څخه وي.

﴿۱۳۴۷﴾ وَالْوُقُوْفُ عَلَى الرَّاحِلَةِ أَفْضَلُ او (په عرفات کي) په سپارلي باندي وقوف کول افضل

دي وَالْقَائِمُ عَلَى الْأَرْضِ أَفْضَلُ مِنَ الْقَاعِدِ او پر ځمکه درېدونکی (ولاړ) کس له کښېنستونکي څخه افضل دی.

لغات: ﴿الموقف﴾ د ضرب له بابه د اسمِ ظرف صيغه ده: د درېدلو ځای، د وقوف کولو ځای. ﴿جبل الرحمة﴾ دا د عرفات ميدان په مينځ کي واقع يو مشهوره غوره دی، هلته تلل او دوه رکعته لمونځ کول او دعاګاني کول قبوليت ته نژدې دي، د عرفات په ورځ پر دغه غره ډېر رش وي، نو ځکه کمزورو خلکو ته پکار دي چي پر هغه د ختلو کوښښ نه وکړي، هسي نه چي د رش په وجه ځاني تاوان ورته پېښ نه سي، ﴿مادًّا﴾ د نصر له بابه فاعل دی، مصدر: مَدًّا: اوږدول. کشول. ﴿مستطعم﴾ د استفعال له بابه فاعل دی، مصدر: اسْتِطْعَامًا: د خوراک طلب کول. ډوډی غوښتل. ﴿يُلِحّ﴾ د افعال د باب مضارع معلومه ده، مصدر: إِلْحَاح: په خواست او غوښتنه کي ټينګار کول. ﴿لا يُقَصِّر﴾ د تفعيل له بابه د نفي معلوم صيغه ده، مصدر: تقصيرًا: په يو کار کي سُستي کول، لا پروايي او کمي کول، ﴿تدارك﴾ د تفعل د باب مصدر دی: تېر سوی شی بيرته موندل، نيول، د واقع سوي نقصان تلافي کول، واقع سوې کمي پوره کول، ﴿سيّما﴾ خصوصاً (په خصوصي توګه)، په ځانګړې توګه، ﴿راحلة﴾ سپارلي، د سپرتيا قابل اوښ يا اوښه، د مذکر او مؤنث دواړو لپاره راځي، تاء د مبالغې ده، جمع: رَوَاحِل.

تشريح: په عرفات کي له جمع بين الصلاتين څخه تر فارغېدو وروسته دي امام او خلک ټول وقوف وکړي، له زوال څخه تر لمر لوېدلو پوري په ټوله عرفات ميدان کي چي چيري وغواړي وقوف کولای سي (درېدلای سي)، د وقوف لپاره څه خاص ځای لازم نه دی (خو د جبل رحمت سره وقوف کول افضل دی)، او پاته سو په بطنِ عُرنه کي وقوف جائز نه دی، دا د مزدلفې له طرف څخه چي کله د عرفات ميدان ته را داخليږي، نو اول يوه باراني شله (شېله) راځي، همدې ته بطن عرنه ويل کيږي او دا حصه په عرفات کي داخله نه ده، تر دې وروسته د عرفات ميدان شروع کيږي (او مخکي موږ ذکر کړه چي د مسجد نمره د مغربي دېوال لاندينۍ حصه په همدې بطن عرنه کي واقع ده کوم چي له عرفات څخه خارج ده). په بطنِ عرنه کي وقوف کول معتبر نه دی، که څوک هلته وقوف وکړي، نو حج يې نه کيږي.

ويغتسل إلخ: د حج له سنتونو څخه دا هم ده چي په عرفات کي تر زوال وروسته غسل وکړي، بيا وقوف وکړي.

ويقف بقرب جبل إلخ: د عرفات ميدان ډېر پراخ دی او ټوله ميدان د درېدلو ځای دی، خو افضل دا ده چي د جبلِ رحمت سره نژدې پر کوم ځای چي رسول الله ﷺ وقوف کړی وو، هلته دي وقوف وکړي (د جبلِ رحمت سره نژدې څه پر لوړ ځای چي د غټو تورو ډبرو فرش دی، همدا د رسول الله ﷺ د وقوف ځای وو، که په آسانۍ سره ممکنه وي، نو دلته درېدل افضل دي)، لېکن که جبلِ رحمت ته رسېدل مشکل وي، يا د واپسۍ په وخت کي خپله خېمه پيدا کول مشکل وي، لکه نن سبا چي عموماً همداسي کېږي، نو بيا دي په خېمه کي وقوف وکړي.

او افضل او اعلیٰ خو دا ده چي مخ پر قبله ودرېږي او تر مابنامه پوري وقوف عرفه وکړي او که په دې ټوله وخت کي نه سي درېدلای، نو څومره چي يې وس وي او تر کومه وخته چي يې پښې وچي سوي نه وي، هغومره دي ولاړ اووسي، بيا دي کښېني او کله چي قوت پکښې راسي، نو بيا دي ودرېږي، او په دې ټوله وخت کي دي په خشوع و خضوع سره بار،بار تلبيه وايي، په ژړا او زارۍ سره دي د الله په ذکر، تلاوت، درود شريف او استغفار کي مشغول اووسي، د ديني او دنياوي مقاصدو لپاره او د خپل مور و پلار، ملکرو او دوستانو او ټولو مسلمانانو لپاره دي دعاګاني غواړي، دا د دعاء قبلېدلو خاص وقت دی، دا خصوصاً آفاقي ته بار، بار نه نصيب کېږي، په دې وخت کي دي بېله ضرورته په خپل مينځ کي له جائزو خبرو څخه هم پرهېز وکړي، ټوله وخت دي په دعاء او ذکر الله کي صرف کړي، او پر سپارلي (يعني د سپرتيا په حالت کي) وقوف کول افضل دي؛ ځکه د نبي کريم ﷺ سنت همدا وو. (انوار الايضاح، شفاء الارواح، هدايه)

فايده: د عرفات په ميدان کي تر ټولو افضله او غوره دعاء "دعاءِ توحيد" يعني څلورمه کلمه ده، په روايت کي راځي چي نبي کريم ﷺ وفرمايل: چي ما او زما څخه مخکي نبيانو چي د عرفات په ميدان کي کومي دعاګاني کړي دي، په هغوی کي تر ټولوه افضله دعاء "دعاءِ توحيد" يعني څلورمه کمه ده، د دغه کلمې تر ويلو وروسته چي کوم مرادونه او دعاګاني وغوښتل سي، ان شاء الله قبولي به سي، او که ممکنه وي، نو څلورمه کلمه دي سل (۱۰۰) واره ووايي.

له عرفات څخه مزدلفې ته د روانېدلو بيان او د مزدلفې د افعالو تفصيل

﴿۱۳۲۸﴾ فَإِذَا غَرَبَتِ الشَّمْسُ بيا چي کله لمر ولوېږي أَفَاضَ الْإِمَامُ وَالنَّاسَ مَعَهُ عَلٰى هِيْنَتِهِمْ نو را واپس دي سي امام او د هغه سره ټوله خلک په سکون (اطمينان) سره (په خپل طبعي تګ) وَإِذَا وَجَدَ فُرْجَةً او کله چي پراخوالی (د ځای خالي والی) ومومي يُسْرِعُ مِنْ غَيْرِ أَنْ يُؤْذِيَ أَحَدًا نو تېز دي روان سي بغير له دې چي يو چا ته تکليف ورسوي وَيَتَحَرَّزُ عَمَّا يَفْعَلُهُ

الْجَهَلَةُ مِنَ الْاِشْتِدَادِ فِى السَّيْرِ وَالْاِزْدِحَامِ وَالْإِيْذَاءِ او ځان دي بچ ساتي له هغه شيانو څخه کوم چي يې ناپوه (ناخبره) کسان کوي يعني په تګ کي تېزي کول (خفستل) او يو بل ديکه کول او (نورو ته) تکليف رسول فِإِنَّهٗ حَرَامٌ ځکه دا حرام دي حَتّٰى يَأْتِىَ مُزْدَلِفَةَ تر دې چي مزدلفې شريفي ته راسي فَيَنْزِلُ بِقُرْبِ جَبَلِ قُزَحَ نو (هلته) دي د "جبل قزح" سره نژدې کښته سي (قيام دي وکړي) وَيَرْتَفِعُ عَنْ بَطْنِ الْوَادِىْ او له "بطن وادي" (مينځ د شېلې) څخه دي څه پورته سي (يعني جبل قزح نژدې له بطن وادي څخه دي څه لوړي خوا ته پورته سي) تَوْسِعَةً لِلْمَارِّيْنَ د پراخى را وستلو په خاطر د تېرېدونکو کسانو لپاره (يعني چي د تېرېدونکو لپاره د بطن وادي اشېلې لاره پراخه او ايله سي).

﴿۱۳۴۹﴾ وَيُصَلِّىْ بِهَا الْمَغْرِبَ وَالْعِشَاءَ بِأَذَانٍ وَاحِدٍ وَإِقَامَةٍ وَاحِدَةٍ او په مزدلفه کي دي د ماښام او ماخوستن لمنځونه (دواړه يو ځاى) وکړي په يوه اذان او يوه اقامت سره (چي دې ته "جمع تأخير" وايي).

﴿۱۳۵۰﴾ وَلَوْتَطَوَّعَ بَيْنَهُمَا أَوْ تَشَاغَلَ او که نفل وکړي د دې دواړو (ماښام او ماخوستن د جمع) په مينځ کي يا (په يو کار) مشغوله سي أَعَادَ الْإِقَامَةَ نو اقامت دي را وګرځوي.

﴿۱۳۵۱﴾ وَلَمْ تَجُزِ الْمَغْرِبُ فِىْ طَرِيْقِ الْمُزْدَلِفَةِ او جائز نه دی د ماښام لمونځ د مزدلفې په لاره کي وَعَلَيْهِ إِعَادَتُهَا مَالَمْ يَطْلُعِ الْفَجْرُ او پر ده يې راګرځول واجب دي (که يې وکړي) تر څو چي صبح صادق (سپېدې) راختلې نه وي.

لغات: ﴿افاض﴾ د افعال د باب مصدر دی، مصدر: إفاضةً: د دې لغوي معنىٰ ده: واپس کېدل، راګرځېدل، او اصطلاحي معنىٰ يې ده: له عرفات څخه واپس کېدل (بېرته تلل)، ﴿يتحرز﴾ د تفعّل د باب مضارع ده: بچ کېدل، ځان ساتل، ﴿جهلة﴾ جمع د جاهل ده: نا خبره، نا پوه، ﴿سَيْر﴾ تګ، رفتار، چال، ﴿ازدحام﴾ د افتعال له بابه اسم مصدر دی: د زيات شمېر (رش) په وجه يو بل ته ديکه ورکول (په رش کي يو د بل سره ديکه کول)، د زيات شمېر په وجه ځاى تنګېدل، يعني زيات ګڼه ګونه (رش) جوړېدل، ﴿مازين﴾ د نصر له بابه د جمع مذکر فاعل صيغه ده: تېرېدونکي. ﴿تطوّع﴾ د

تشريح: د ذو الحجې په نهمه (يعني د عرفات په ورځ) چي کله لمر ولوېږي، نو د ماښام لمونځ دي نه کوي، بلکي امام او خلک دي په ډېر سکون او اطمينان سره له عرفات څخه ووځي او مزدلفې ته دي روان سي (تر لمر لوېدو مخکي د عرفات له حدودو څخه وتل جائز نه دي، لهذا که څوک ووځي. نو عرفات ته واپس کېدل واجب دي)، کله چي مزدلفې ته روان سي، نو که په لاره کي رش نه وي او پراخه وي، نو څه تېز دي روان سي، کنې په احتياط سره دي ځي، چا ته تکليف رسول حرام دي. کله چي مزدلفې ته ورسيږي، نو د جبلِ قزح په لمن کي دي وقوف وکړي، دا مستحب دي، خو په لاره کي دي نه درېږي، بلکي د لاري راسته يا چپه طرف ته دي ودرېږي؛ ځکه په لاره کي د وقوف کولو په صورت کي خلک په تکليف کيږي، او په مزدلفه کي به د ماښام او ماخوستن دواړه لمنځونه د ماخوستن په وخت کي په يوه اذان او يوه اقامت سره وکړي، يعني اول دي اذان او اقامت وکړي او د ماښام لمونځ دي وکړي، بيا تر هغه وروسته دي بغير له اذان او اقامت څخه د ماخوستن لمونځ وکړي. او دغه جمع بين الصلاتين واجب ده، په خلاف د عرفات د جمع بين الصلاتين، هغه سنت ده. (چي هلته د ماپښين او ملزيګر لمونځ د ماپښين په وخت کي سره جمع کول کيږي)، او په مزدلفه کي د جمع بين الصلاتين لپاره امامُ المسلمين (امامُ الحج) يا د هغه نائب شرط نه دی او جماعت هم شرط نه دی او تر لمانځه مخکي خطبه ويل هم سنت نه دي، لنډه دا چي د هر حاجي (کوم چي د حج احرام تړلی وي) لپاره په مزدلفه کي د ماښام او ماخوستن لمونځ سره جمع کول (جمع بين الصلاتين) جائز ده، برابره ده هغه د امامُ المسلمين په اقتداء کي لمونځ کوي، يا د خپل پړاؤ په ځای کي په جماعت سره لمونځ کوي، يا يوازي لمونځ کوي.

ولوتطوع إلخ: يعني په مزدلفه کي دي هم د ماښام د لمانځه او د ماخوستن د لمانځه تر مينځ سنت يا نفل نه کوي، او که په مينځ کي نفل وکړي، يا يو بل کار وکړي، نو اقامت به راګرځول کيږي (يعني د ماخوستن د لمانځه لپاره به دوباره اقامت کول کيږي)، او د ماښام او د ماخوستن سنتونه او وتر دي د ماخوستن تر لمانځه وروسته وکړي.

ولم تجز إلخ: يعني د عرفات په ورځ د ماښام لمونځ په عرفات کي يا د مزدلفې په لاره کي کول جائز نه دي، او که څوک د ماښام لمونځ په عرفات کي يا په لاره کي وکړي، نو مزدلفې ته له رسېدو څخه وروسته تر صبح صادق (طلوع الفجر) مخکي د هغه راګرځول واجب دي (که څه هم هغه په دې وجه د ماښام لمونځ کړی وي چي د جمع بين الصلاتين په مسئله خبر نه وي، لو د ماښام د وخت وتلو له ډېري څخه يې لمونځ په عرفات يا لاره کي کړی وي)، خو بيا هم که لمونځ نه راوګرځوي تر دې چي صبح صادق سي (د سهار

سپېدې وچاودي)، نو هغه مخکېنی لمونځ یې معتبر او کافي دی، تر صبح صادق وروسته یې نه سي راګرځولای، یعنې تر دې وروسته یې قضاء نه واجبېږي. (انوار الایضاح، شفاء الارواح، معلم الحجاج بتصرف)

په مزدلفه کي شپه تېرول، د وقوفِ مزدلفه بیان او تفصیل

﴿١٣٥٢﴾ وَيُسَنُّ الْمَبِيْتُ بِالْمُزْدَلِفَةِ او سنت دي شپه تېرول په مزدلفه کي.

﴿١٣٥٣﴾ فَإِذَا طَلَعَ الْفَجْرُ بیا کله چي صبح صادق سي (یعني د سهار سپېدې وچاودي) صَلَّى الْإِمَامُ بِالنَّاسِ الْفَجْرَ بِغَلَسٍ نو امام دي وخلکو ته د سهار لمونځ په تیاره (تاریکه) کي ورکړي ثُمَّ يَقِفُ وَالنَّاسُ مَعَهٗ بیا دي ودرېږي (یعني په مزدلفه کي دي وقوف وکړي) امام او (ټوله) خلګ د هغه سره.

﴿١٣٥٤﴾ وَالْمُزْدَلِفَةُ كُلُّهَا مَوْقِفٌ إِلَّا بَطْنَ مُحَسِّرٍ او مزدلفه ټوله د وقوف (درېدلو) ځای دی، مګر بطن مُحسِّر (وادئ مُحسِّر).

﴿١٣٥٥﴾ وَيَقِفُ مُجْتَهِدًا فِيْ دُعَائِهٖ او ودي درېږي (وقوف دي وکړي) په داسي حال کي چي په خپل دعاء کي (پوره) کوشش کونکی وي وَيَدْعُوا اللهَ أَنْ يُتِمَّ مُرَادَهٗ وَسُؤَالَهٗ فِيْ هٰذَا الْمَوْقِفِ كَمَا أَتَمَّهٗ لِسَيِّدِنَا مُحَمَّدٍ ﷺ او دعاء دي وغواړي له الله تعالیٰ څخه چي د ده مراد او د ده سوال (داسي) پوره کړي لکه څرنګه چي یې زموږ د سردار حضرت محمد ﷺ لپاره پوره کړی وو.

لغات: ﴿مبیت﴾ د ضرب له بابه مصدرِ میمي دی، بَاتَ يَبِيْتُ بَيْتُوْتَةً وبَيْتًا وبَيَاتًا ومَبِيْتًا: شپه تېرول، ﴿مُحسِّر﴾ (د میم په ضمه، د حاء په فتحه او د مشدد سین په کسره سره): له مزدلفې څخه د منیٰ و طرف ته د راتللو په لاره کي یو میدان دی، د هغه نوم وادئِ محسر دی، په هغه کي وقوف کول جائز نه دي او دلته په تېزي سره تېرېدل پکار دي.

تشریح: په مزدلفه کي شپه تېرول سنت دي، د دې شپې فضیلت له شب قدر څخه کم نه دی، په دې شپه کي وېښېدل، په تلاوت، نوافلو او دعاګانو مشغولېدل مستحب او لویه نېکبختي ده، بیا چي کله صبح صادق سي (یعني د لوی اختر د ورځي [یومُ النحر] د سهار سپېدې وچاودي)، نو امام دي وخلکو ته د سهار لمونځ په تیاره کي ورکړي (دلته په تیاره کي یعني په خپل اول وخت کي لمونځ کول سنت دي)، او که د امام سره یو ځای لمونځ کول ممکن نه وي، نو خپله دي جماعت وکړي او یوازي (تنها) لمونځ کول هم جائز دي، خو جماعت افضله دی، بیا دي امام او نور حاجیان وقوف وکړي (د وقوفِ مزدلفه وخت له

صبح صادق څخه تر لمر راختلو پورې دی. لهذا له هغه څخه یا وروسته وقوف نه صحیح کیږي)، او د مزدلفې په ټوله میدان کي چي چیري هم وغواړي، وقوف کولای سي ما سوا له وادي محسر څخه. دا د منیٰ وطرف ته له مزدلفې څخه بهر هغه مقام دی چیري چي پر اصحاب فیل عذاب راغلی وو، هغه ته اوس وادیُ النار هم وایي (د سعودي حکومت د هغه په شروع کي تختې لګولي دي چي څوک په غلطي سره په وادی محسر کي وقوف نه وکړي (رفیق حج)). او د مزدلفې په وقوف کي دي هم په دعاء کي ډېر کوشش وکړي؛ ځکه دا د دعاګانو د قبلېدلو مقام دی، د الله رسول ﷺ په دې ځای کي ځو دعاګاني کړي وې او د ابن عباس رَضِی اللّٰهُ عَنْهُمَا د روایت مطابق ټولي دعاګاني قبولي سوې تر دې چي د ناحقه قتل کونکو او ظلم کونکو د معاف کولو په حق کي هم. (شفاء الارواح، هدایه، انوار الایضاح)

له مزدلفې څخه ومنیٰ ته د روانېدلو بیان او تفصیل

﴿۱۳۵۶﴾ فَإِذَا أَسْفَرَ جِدًّا بیا چي کله ښه رڼا سي أَفَاضَ الْإِمَامُ وَالنَّاسُ قَبْلَ طُلُوعِ الشَّمْسِ نو واپس دي سي (روان دي سي) امام او خلک تر لمر لوېدلو مخکي.

﴿۱۳۵۷﴾ فَيَأْتِي إِلَىٰ مِنًى وَيَنْزِلُ بِهَا نو منیٰ ته دي راسي او هلته دي کښته سي (پاته سي) ثُمَّ يَأْتِي جَمْرَةَ الْعَقَبَةِ. بیا دي جمرهٔ عقبه ته راسي فَيَرْمِيهَا مِنْ بَطْنِ الْوَادِي بِسَبْعِ حَصَيَاتٍ نو هغه دي وولي له بطنِ وادي (د شېلې له منځ) څخه په اُوو (کوچني) کاڼو سره مِثْلَ حَصَى الْخَذْفِ لکه د ویشتلو (کوچني) کاڼي (یعني په دومره کوچني کاڼو سره چي په دوو ګوتو سره ویشتل (غورځول) کېدای سي لکه مردکه).

﴿۱۳۵۸﴾ وَيُسْتَحَبُّ أَخْذُ الْجِمَارِ مِنَ الْمُزْدَلِفَةِ أَوْ مِنَ الطَّرِيقِ او مستحب دي د کاڼو را اخیستل له مزدلفې څخه یا له لاري څخه.

﴿۱۳۵۹﴾ وَيُكْرَهُ مِنَ الَّذِي عِنْدَ الْجَمْرَةِ او مکروه دي را اخیستل له هغه (کاڼو) څخه کوم چي د څلي (شیطان) سره (پراته) وي.

﴿۱۳۶۰﴾ وَيُكْرَهُ الرَّمْيُ مِنْ أَعْلَى الْعَقَبَةِ او مکروه دي رمی کول (کاڼي ویشتل) د جمرهٔ عقبې د لوړي خوا څخه لِإِيذَائِهِ النَّاسَ د تکلیف رسولو په وجه د دې رمي و خلکو ته (یعني دا د لوړي خوا

ځنځه ويشتل خلکو ته ضرر رسوي).

﴿۱۳۶۱﴾ وَيَلْتَقِطُهَا الْتِقَاطًا او هغه کاڼي دي (له يو ځای ځنځه) را واخلي (يعني د جمرې اشیطان او ويشتو کاڼي دي هم له يو ځايه را پورته کړي. که څه هم له لارې ځنځه وي) وَلَايَكْسِرُ حَجَرًا جِمَارًا او نه دي ماتوي يو ډبره د جمرې د کاڼو لپاره وَيَغْسِلُهَا لِيَتَيَقَّنَ طَهَارَتَهَا او هغوی دي پرېولي، د دې لپاره چې د هغوی د پاکوالي (په هکله) يې يقين سي فَإِنَّهَا يُقَامُ بِهَا قُرْبَةٌ ځکه په دې کاڼو سره يو عبادت (د ثواب کار) اداء کول کيږي وَلَوْ رَمٰى بِنَجِسَةٍ او که په مردار کاڼي سره ويشتل وکړي أَجْزَاهُ وَكُرِهَ نو (هم) ور لره کافي دی، خو مکروه دي.

﴿۱۳۶۲﴾ وَيَقْطَعُ التَّلْبِيَةَ مَعَ أَوَّلِ حَصَاةٍ يَرْمِيهَا او تلبيه دي ختمه کړي (پرېږدي) د اول کاڼي سره چې (کله) هغه ووېلي (يعني کله چې اول کاڼی وغورځوي، نو تلبيه ويل دي پرېږدي).

لغات: ﴿أسفر﴾ د افعال د باب ماضي ده: رڼا کېدل، روښانه کېدل، ښکاره کېدل. ﴿جِدًّا﴾ ډېر ښه، د مصدريت په وجه منصوب دی، ﴿حصيات﴾ جمع د حصاة ده: کاڼی، کوچنۍ ډبره، شګه، ﴿حَصَىٰ﴾ اسمِ جنس دی: پر يوه او ډېرو ټولو يې اطلاق کيږي، ﴿الخذف﴾ دا په اصل کې د ضرب د باب مصدر دی: مراد ځني په دوو ګوتو سره د کاڼي غورځول (ويشتل) دي، د شهادت والا ګوتې او بټې ګوته په واسطه سره کاڼی ويشتل، او له حصی الخذف ځنځه مراد د ويشتلو (غورځولو) کاڼي دي، يعني هغه کوچنی کاڼي او کوچنۍ ډبرې ځني مراد دي چې په دوو ګوتو سره نيول کېدای او غورځول کېدای سي [يعني چې نه ډېر لوی کاڼي وي او نه ډېر کوچني وي بلکې د مردکي په څېر يا تر دې څه غټ کاڼي وي] (القاموس القهی. فتح الهدايه)، او خزف په "زاء" سره کودي ته وايي يعني د مات خاورين لوښي ټوټه، واحد: خَزْفَةٌ، ﴿الجِمار﴾ جمع د جَمْرَةٌ ده: د دې لفظ له معناوو ځنځه يوه معنیٰ ده: کوچني کاڼی، خصوصاً د جمرې کاڼي يعني هغه کاڼي چې په منیٰ کې جمرات (شيطانان) په ويشتل کيږي. (معجم الوسيط)، ﴿يلتقط﴾ د افتعال له بابه مضارع معلومه ده، مصدر: اِلْتِقَاطًا: له ځمکې ځنځه را پورته کول، را اخيستل. ﴿يكسر﴾ د ضرب له بابه مضارع ده، مصدر: كَسْرًا: ماتول.

تشریح: د ذو الحجې په لسمه (یعني دلوی اختر په ورځ) تر لمر لوېدلو مخکي کله چي رڼا ښه وغوړېږي امام او حاجیان دي له مزدلفې څخه و منیٰ ته روان سي، کله چي منیٰ ته ورسیږي، نو تر ټولو اول کار د جمرهٔ عقبه رمی (ویشتل دي). په منیٰ کي درې ځایونه دي چي هلته د ډبرو درې ستني (ټمبې) جوړې سوي دي چي هغوی ته جمرات (یا په بله وینا: شیطانان ورته) ویل کیږي او هغوی هر یو اُووه اُووه کاڼي ویشتل کیږي، اوله جمره (اول شیطان) د منیٰ د لوی مسجد یعني د مسجد خیف سره نژدې دی چي هغه ته "جمرهٔ اولیٰ" وایي، دویمه جمره تر هغه وروسته ده چي هغه ته "جمرهٔ وُسطیٰ" وایي، درېیمه جمره بالکل په آخر کي ده چي هغه ته "جمرهٔ عقبه" وایي، نو د ذو الحجې په لسمه (یعني د لوی اختر په ورځ) به صرف جمرهٔ عقبه اُووه کاڼي ویشتل کیږي، د "رَمْی" معنیٰ د کاڼي ویشتلو ده (چي شیطان په ویشتل سي)، دا رمی د حضرت ابراهیم عليه السلام د هغه مقبول عمل یادګار دی چي کله هغه د الهي حکم په عملي کولو کي خپل ګران ځوی حضرت اسماعیل عليه السلام د ذبح لپاره روان کړی وو، او په دې دوران کي شیطان ملعون درې واره هغه ته راښکاره سو چي هغه د الهي حکم له عملي کولو څخه منع کړي، خو هر وار حضرت ابراهیم عليه السلام د کاڼي په ویشتلو سره هغه معلون وتراټی (نو الله تعالیٰ ته د هغه دا عمل دومره محبوب سو چي د قیامت تر ورځي پوري یې دا عمل پر بندګانو لازم وګرځوی).

ویستحب إلخ: په اوله (د لوی اختر په) ورځ اُووه کاڼي له مزدلفې څخه راوړل مستحب دي، که له لاري یا له یو بل ځای څخه یې راواخلي، نو هم جائز دي، خو د جمره (شیطان) سره پراته کاڼي دي نه را اخلي؛ ځکه د جمراتو سره چي کوم کاڼي پراته وي، د هغوی په هکله په حدیث شریف کي راغلي دي چي "دا کاڼي د الله تعالیٰ په نېز مردود دي، د کومو کسانو حج چي قبول سي، د هغوی کاڼي پورته کول کیږي او د کومو حج چي قبول نه سي، د هغوی کاڼي پرېښوول کیږي"، او پاته سو د نورو ورځو د رمی لپاره له مزدلفې څخه کاڼي راوړل مستحب نه دي، د هر ځای کاڼي سره برابر دي، خو له جمراتو څخه دي یې نه را اخلي.

ویکره الرمي من أعلی إلخ: فرمایي چي د جمرهٔ عقبه رمی د لوړي خوا څخه کول (د لوړ طرف څخه په کاڼي ویشتل) مکروه دي؛ ځکه په دې کي خلګو ته تکلیف رسېدلای سي.

صاحب د ثمرةُ النجاح د دې تشریح داسي کړې ده چي: یو تر جمرهٔ عقبه وروسته چي کومه ځمکه ده، هغه څه لاندي ده کوم ته چي "بطنِ وادي" وایي، رمی له هغه ځایه کول پکار دي چي خلګو ته تکلیف نه ورسیږي، لیکن که د زیات رش (ګڼي ګوڼي) په وجه یا په بله وجه د جمرهٔ عقبه سره چي کومه لوړه (پورته) ځمکه ده، له هغه څخه رمی وکړي، نو هم جائز دي (خو بېله عذره داسي کول مکروه دي).

خو نن سبا صورت حال مختلف دی، پر جمراتو څو منزله عمارت جوړ سوی دی او د هر منزل والا لپاره د تګ راتګ لاَره جلا ده، پر یوه منزل د رمی کولو په صورت کي بل منزل والا ته هیڅ دقّت او ستونزه نه وي.

ویلتقطها ولا یکسر إلخ: یعني د رمی لپاره خو مستحب او افضل همدا ده چي له مزدلفه څخه کاڼي راوړي، لېکن که یې له لاري څخه را پورته کړي، نو هم څه حرج نسته، خو د جمراتو د ویشتلو لپاره لوېه ډبره ماتول او کوچني، کوچني کاڼي څني جوړول مکروه دي.

ویغسلها إلخ: کوم کاڼي چي یې د ویشتلو (رمی) لپاره را اخیستي وي، د هغوی پرېولل او پاکول مستحب دي، که څه هم له پاک ځای څخه یې را اخیستي وي، او کوم کاڼي چي یقیناً ناپاکه وي، په هغوی سره رمی کول مکروه دي.

ویقطع التلبیة إلخ: د حج تلبیه به حاجي د جمرهٔ عقبه تر رمي پوري مسلسله وایي، خو د جمرهٔ عقبه د رمی د شروع کولو سره به سمدستي تلبیه ویل پرېږدي، بیا تر دې وروسته به هم تلبیه نه ویل کیږي. (شفاء الارواح، انوار الایضاح)

د رمي کولو طریقه

﴿۱۳۳﴾ وَكَيْفِيَّةُ الرَّمْيِ أَنْ يَّأْخُذَ الْحَصَاةَ بِطَرَفِ إِبْهَامِهٖ وَسَبَّابَتِهٖ او د ویشتلو (کاڼي غورځولو) طریقه دا ده چي کاڼی دي ونیسي په سر د خپل بټي ګوتي او د شهادت ګوتي فِي الْأَصَحِّ په صحیح ترین قول کي لِأَنَّهٗ أَيْسَرُ وَأَكْثَرُ إِهَانَةً لِلشَّيْطَانِ ځکه چي دا ډېر آسانه او ډېر زیات سپکونکي (د زیات توهین باعث) دي د شیطان لپاره وَالْمَسْنُوْنُ الرَّمْيُ بِالْيَدِ الْيُمْنٰى او سنت په خپل راسته لاس سره ویشتل دي (چي کاڼي په راسته لاس وغورځوي) وَيَضَعُ الْحَصَاةَ عَلٰى ظَهْرِ إِبْهَامِهٖ وَيَسْتَعِيْنُ بِالْمُسَبَّحَةِ او کاڼی دي د خپلي بټي ګوتي پر شا کېږدي او د شهادت په ګوته سره دي مدد واخلي (یعني په هغه سره دي یې ونیسي) وَيَكُوْنَ بَيْنَ الرَّامِيْ وَمَوْضِعِ السُّقُوْطِ خَمْسَةُ أَذْرُعٍ او د ویشتونکي او د (کاڼي) لوېدلو په مینځ کي دي پنځه (شرعي) ګزه فاصله وي وَلَوْ وَقَعَتْ عَلٰى رَجُلٍ أَوْ مَحْمَلٍ وَثَبَتَتْ او که کاڼی پر یو

سړي يا پريو كجاوه باندي ولوېږي او (هلته، بند) پاته سي (ودرېږي) أَعَادَهَا نو د هغه رمی دي را وګرځوي (يعني د هغه پر ځای دي بل كاڼی وغورځوي) وَإِنْ سَقَطَتْ عَلٰى سُنَنِهَا ذٰلِكَ او كه هغه كاڼی د خپل رفتار مطابق روان ولوېږي (يعني كه هغه كاڼی هلته بند پاته نه سي، بلكې له هغه ځايه د خپل رفتار مطابق ولاړ سي او پر جمره ولګېږي) أَجْزَاهُ نو ورلره كافي دي (فلا يُعيدها).

﴿۱۳۶۴﴾ وَ كَبَّرَ بِكُلِّ حَصَاةٍ او د هر كاڼي (ويشتلو) سره دي الله أكبر وايي.

لغات: ﴿إبهام، سبَابة﴾ بټي ګوتي ته په عربي كي "إِبْهَام" وايي او د هغې څنګ والا يعني د شهادت ګوتي ته "سَبَّابَة" وايي او "مُسَبِّحَة" هم ورته وايي او د هغې څنګ والا يعني مينځوی ګوتي ته "وُسْطٰی" او د هغې څنګ والا يعني د ګوتمی ګوتي ته "بِنْصَر" وايي او تر ټولو كوچنی يعني خچی ګوتي ته "خِنْصَر" وايي، نو د شهادت والا ګوتي دوه نومان دي: سبّابة او مسبّحة، صاحب د معجم يې وجهٔ تسميه داسي نقل كړې ده: قيل سميت بالسبّابة لأنهم كانوا يشيرون بها بالسبّ والمخاصمة. وسميت بالمسبّحة لانه يتم بها تحريك حبّات المسبحة حين التسبيح،

﴿اهانة﴾ د افعال د باب مصدر دی: سپكاوی، ذلالت، تحقير وتذليل، ﴿شيطان﴾ ګمراه كونكی شرير او خبيث روح، له پېرياتو څخه هر سركښه او كافر پېری، ﴿محمل﴾ كجاوه، يعني د لښتو او لرګيو څخه جوړ سوی هغه ځای كوم چي به پر اوښ د سپرېدلو او كښېنستلو لپاره ايښوول كېدی، همدارنګه هغه خورجين يا د خورجين غوندې لويه خلته كوم چي د چارپای دواړو طرفونو ته را ځړول سوې وي چي په هغه كي سامان ايښوول كيږي، جمع: مَحَامِل.

تشريح: د رمي طريقه دا ده چي كاڼی دي د راسته لاس په بټه ګوته او د شهادت (كلمې) په ګوته سره ونيسي يعني د دې دواړو ګوتو په سر دي يې ونيسي او د بِسْمِ اللّٰهِ اَللّٰهُ أَكْبَر په ويلو سره دي يو، يو كاڼی پر جمره (شيطان) ور غورځوي، او كه دا دعاء يادولای سي نو دا دي هم وايي " رغمًا للشيطان و رِضًى للرحمٰن اللّٰهم اجعلهٗ حجًّا مبرورًا وسعيًا مشكورًا وذنبًا مغفورًا"، همدا طريقه اصح ده؛ ځكه چي په دې كي آساني ده او په دې كي د شيطان زيات توهين دی (ګواكي ويشتونكی دا هم نه خوښوي چي د دې كار لپاره خپل پوره لاس استعمال كړي).

ويضع الحصاة على ظهر إلخ: دا (په اصل كي) د رمي كولو دويمه طريقه ده چي كاڼی دي د خپل راسته بټي ګوتي پر شا (يعني د نوك پر طرف) كښېږدي او د شهادت والا ګوتي په مرسته سره دي يې وغورځوي،

خو اصح اوله طريقه ده؛ ځکه عادتاً هغه آسانه ده، او دا طريقه څه مشکله ده او بل دا چي په دې سره کاڼی تر ليري پوري نه ځي. او لـه جمـره (شيطان) څخـه دي کـم از کـم د پنځـو لاسـو (شرعي گـزو) پـر فاصـله ودريږي، که زياته فاصله وي نو حرج نسته، خو تر دې کمه فاصله مکروه ده. (ثمرة النجاح، عون الفتاح)

ولو وقعت إلخ: په هري جمرې (هر شيطان) باندي چاپېره د دېوال گردی دائره (احاطه) جوړه سوې ده او کاڼی په هغه کي لوېدل پکار دي، که په دائره (احاطه) کـي کـاڼی ولويـږي، نو رمی اداء کيـږي او کوم کاڼي چي په دائره کي (يا په بله وينا په جمره باندي) نه ولوېږي، نو د هغه پر ځای به بل کاڼی ويشتل کيږي، اوس دلته دا فرمايي چي که کاڼی پر يـو انسـان يا کجاوه وغيره باندي ولگيـږي او د څه گړي لپاره هلته ودريږي (يعني په سړي يا کجاوه باندي بند پاته سي) بيا د سړي او کجاوې يا د بل شي د حرکت په وجه هغه کاڼی په جمره کي ولوېږي، نو د دې کاڼي پر ځای به بل کاڼی ويشتل کيږي، ځکه چي دا کاڼی د ويشتونکي په فعل (ويشتلو) سره په جمره کي نه دی لوېدلی (بلکي د بل څه د حرکت په وجه ور لوېدلی دی)، او که پر سړي يا کجاوه باندي د کاڼي تر لوېدلو وروسته هغه کاڼی هلته نه ودريږي بلکي د خپل رفتار مطابق روان وي او په جمره کي ولويـږي، نو دا رمی شمېرل کيږي او د راگرځولو ضرورت يې نسته؛ ځکه چي دا د هغه په فعل (ويشـتولو) سره پـه جمره باندي لگېدلی دی. (شفاء الارواح، ثمرة النجاح)

و كبّر بكل حصاة: يعني د هر کاڼي ويشتلو (غورځولو) په وخت کي دي الله اکبر وايي، تکبير ويل سنت دي، او کـه څوک پـه زش (گنـه گونـه) کـي سـر گردانه سي او تکبيـر ځني هېر سـي، نـو څـه حـرج نسته. (انوار الايضاح)

قرباني به کله کول کيـږي؟

﴿۱۳۶۵﴾ ثُمَّ يَذْبَحُ الْمُفْرِدُ بِالْحَجِّ إِنْ أَحَبَّهُ بيا دي ذبح (قرباني) وکړي حج إفراد کونکی، که يې خوښه وه ثُـمَّ يَحْلِـقُ أَوْيُقَصِّـرُ بيـا دي سر وخريي يا دي وربښـتان کـوچني کـړي (لنډي کړي) وَالْحَلْقُ أَفْضَلُ او سر خرييل افضل دي وَيَكْفِـيْ فِيْـهِ رُبْـعُ الـرَّأْسِ او کافي دي په دې (سر خريلو) کي څلورمه حصه وَالتَّقْصِيْـرُأَنْ يَّأْخُذَ مِـنْ رُؤُوْسِ شَعْـرِهٖ مِقْدَارَ الْأَنْمِلَةِ او قصر کول (وربښتان کوچني کول) دا دي چي د خپل وربښتانو له سرو څخه د گوتي د سر په اندازه واخلي

وَقَدْ حَلَّ لَهُ كُلُّ شَيْءٍ إِلَّا النِّسَاءَ او (وس) د ده لپاره هر شی حلال (روا) سو (کوم چي د احرام په وجه ور ته حرام وه)، مګر ښځي (یعني د خپل ښځو سره جماع اوس هم ور ته روا نه ده).

لغات: ﴿یحلق﴾ د ضرب د باب مضارع معلومه ده: سر خرییل، ورېښتان لیري کول. ﴿یقصر﴾ د تفعیل د باب مضارع معلومه ده: ورېښتیان کوچني کول، لنډول. ﴿الأنملة﴾ په دې لفظ کي څو لغات دي: الأُنْمُلَةُ، الأَنْمِلَةُ، الأَنْمَلَةُ، الأُنْمِلَةُ، الإِنْمَلَةِ: د ګوتي سر، جمع: أَنَامِل، أنملَات.

تشریح: د جمرهٔ عبقه تر رمی وروسته دي مُفْرِد بِالحَجّ (حج افراد کونکي) د حج د شکرانې په توګه قرباني وکړي، دا قرباني د مُفْرِد لپاره مستحب ده او د قارن او متمتّع لپاره واجب ده، څرنګه چي دلته کلام د مُفْرِد بالحجّ په باره کي دی، نو ځکه یې إِنْ أَحَبَّه فرمایلي دي (د قرباني لپاره په منیٰ کي د سعودي حکومت د حاجیانو د آسانۍ لپاره یو ډېر لوی ځای مقرّر کړی دی، چي هلته څارویان، قصابان او غوښه وړونکي حضرات په آسانۍ سره تر لاسه کیږي)، له ذبح څخه تر فارغېدو وروسته دي د سر ورېښتان وخریي یا کوچني کړي، لېکن حَلق افضل دی او د سر د څلورمي حصې ورېښتان خرییل یا کوچني کول واجب دي، او که تر دې کم مقدار وخریې، یا یې کوچني کړي، نو محرم نه حلال کیږي.

والتقصیرالخ: د ورېښتانو د کوچني کولو مطلب دا دی چي د سر ورېښتان د ګوتي د سر په اندازه پرېکړي (غوڅي کړي).

او د احرام په وجه چي کوم شیان د حاجي لپاره حرام او ممنوع وه، اوس په حلق یا قصر کولو سره هغه حلال ګرځي، مثلاً خوشبویي لګول، ګنډل سوې جامه اغوستل او داسي نور، خو د ښځي سره جماع او دواعي د جماع تر هغه وخته پوري حرام پاتېږي، تر څو چي له طوافِ زیارت څخه فارغ نه سي.

مکې شریفي ته د راتګ او د طوافِ زیارت بیان

﴿١٣٦٦﴾ ثُمَّ يَأْتِيْ مَكَّةَ مِنْ يَوْمِهِ ذٰلِكَ أَوْ مِنَ الْغَدِ أَوْ بَعْدَهٗ بیا دي راسي ومکې مکرمې ته له هاغه ورځي څخه (یعني د ذو الحجې په لسمه کوم چي د لوی اختر ورځ ده) یا له سبا څخه یا تر هغه وروسته (بل سبا) فَيَطُوْفُ بِالْبَيْتِ طَوَافَ الزِّيَارَةِ سَبْعَةَ أَشْوَاطٍ نو پر کعبې شریفي دي طوافِ زیارت وکړي اووه دوره وَحَلَّتْ لَهُ النِّسَاءُ او (اوس) د ده لپاره ښځي حلالي سوې.

﴿۱۳۶۷﴾ وَأَفْضَلُ هٰذِهِ الْأَيَّامِ أَوَّلُهَا او افضل د دغو ورځو اوله ورځ د دوی ده وَإِنْ أَخَّرَهُ عَنْهَا او که وځنلوي (وروسته کړي) طوافِ زیارت له دې ورځو څخه لَزِمَهُ شَاةٌ نو پر ده یو پسه لازمیږي لِتَأْخِيرِ الْوَاجِبِ د واجب (طوافِ زیارت) د ځنډولو په وجه.

تشریح: فرمایي چي په منیٰ کي له رمی او له ذبح او حلق څخه وروسته دي په هاغه ورځ یعني د ذو الحجې په لسمه (دلوی اختر په ورځ) که وخت وو، نو مکې مکرّمې ته دي راسي، کنې په یوولسمه یا دوولسمه دي راسي او طوافِ زیارت دي (کوم چي دحج رکن دی) وکړي.

وأفضل إلخ: د طوافِ زیارت لپاره تر ټولو افضل وخت لسمه د ذو الحجې ده. لیکن که تأخیر پکښي وکړي او د ذو الحجې په دوولسمه (کوم چي دلوی اختر دریمه ده) یې تر لمر لوېدو مخکي وکړي، نو هم جائز دي، او که دوولسمه هم تېره سي او طوافِ زیارت نه وکړي، نو پر هغه په جرمانه کي یو دَم (قرباني) لازمیږي، خو بیا هم طوافِ زیارت واجب پاتیږي چي هغه به وروسته اداء کوي، او له طوافِ زیارت څخه وروسته د ښځي سره جماع وغیره حلالیږي.

د ذو الحجې په دوولسمه او یوولسمه د رمی کولو وخت او طریقه

﴿۱۳۶۸﴾ ثُمَّ يَعُوْدُ إِلٰى مِنٰى فَيُقِيْمُ بِهَا بیا دي منیٰ ته واپس (ولاړ) سي نو هلته دي پاته سي فَإِذَا زَالَتِ الشَّمْسُ مِنَ الْيَوْمِ الثَّانِيْ مِنْ أَيَّامِ النَّحْرِ بیا کله چي لمر زائل سي په دویمه ورځ د قرباني (لوی اختر) له ورځو څخه رَمَى الْجِمَارَ الثَّلَاثَ نو دری سره جمرې (شیطانان) دي وویلي يَبْدَأُ بِالْجَمْرَةِ الَّتِيْ تَلِيْ مَسْجِدَ الْخَيْفِ شروع دي په هغه جمره سره وکړي کوم چي د مسجدِ خیف سره متصل ده (چي هغه ته "جمرۂ اُولیٰ" وایي) فَيَرْمِيْهَا بِسَبْعِ حَصَيَاتٍ مَاشِيًا نو هغه دي اُووه کاڼي وویلي په داسي حال کي چي پیاده (په پښو) وي (نه د سپرتیا په حالت کي) يُكَبِّرُ بِكُلِّ حَصَاةٍ د هر کاڼي (ویشتلو) سره دي الله أکبر وایي ثُمَّ يَقِفُ عِنْدَهَا دَاعِيًا بِمَا أَحَبَّ حَامِدًا لِلّٰهِ تَعَالٰى مُصَلِّيًا عَلَى النَّبِيِّ ﷺ بیا دي د هغې (جمرۂ اولیٰ) سره ودرېږي په داسي حال کي چي دعاء کونکی وي د هغه څه کوم چي ده ته خوښ وي (او) الله تعالیٰ لره حمد ویونکی (او) او پر

نبي کریم ﷺ درود ویونکی وي وَيَرْفَعُ يَدَيْهِ فِي الدُّعَاءِ وَيَسْتَغْفِرُ لِوَالِدَيْهِ وَإِخْوَانِهِ الْمُؤْمِنِيْنَ او په دعاء کي دي خپل دواړه لاسونه پورته کړي او مغفرت (بخښنه) دي وغواړي د خپل مور و پلار او د خپل مؤمنانو وروڼو لپاره ثُمَّ يَرْمِي الثَّانِيَةَ الَّتِي تَلِيْهَا مِثْلَ ذٰلِكَ بیا دي دویمه جمره وویلي کوم چي د هغي (جمرهٔ اولیٰ) سره متصل ده، د هغې په څنګ (یعني څرنګه چي یې اوله جمره ویشتلې وه، هغسي دي د دویمي جمرې سره هم وکړي) وَيَقِفُ عِنْدَهَا دَاعِيًا او د دې (دویمي جمرې) سره دي (هم) ودرېږي په داسي حال کي چي دعاء کونکی وي ثُمَّ يَرْمِيْ جَمْرَةَ الْعَقَبَةِ رَاكِبًا بیا دي (په آخر کي) جمرهٔ عقبه وویلي د سپرتیا په حالت کي وَلَايَقِفُ عِنْدَهَا او د جمرهٔ عقبه سره دي نه درېږي فَإِذَا كَانَ الْيَوْمُ الثَّالِثُ مِنْ أَيَّامِ النَّحْرِ بیا چي کله درېیمه ورځ سي د قربانۍ (لوی اختر) له ورځو څخه رَمَى الْجِمَارَ الثَّلَاثَ بَعْدَ الزَّوَالِ كَذٰلِكَ نو درې سره جمرې دي تر زوال وروسته هغسي وویلي.

تشریح: د ذو الحجې په لسمه له طوافِ زیارت کولو څخه وروسته دي حاجی و منیٰ ته واپس راسي او د شپې په منیٰ کي پاتېدل سنت دي، بیا دي د ذو الحجې په یوولسمه د ما پښین د لمونځ کولو څخه وروسته د درېو سره جمراتو رمی وکړي (یعني درې سره شیطانان دي وویلي)؛ ځکه د ذو الحجې په یوولسمه او دوولسمه د درېو سره جمراتو رمی واجب ده او د دې دواړو رمي وخت له زوال څخه شروع کېږي او تر صبح صادقه پوري پاتېږي (خو بېله عذره تر لمر لوېدلو وروسته رمی کول مکروه دي)، که تر زوال مخکي رمی وکړي، نو د راجح قول مطابق هغه رمی نه صحیح کېږي، او تر ټولو مخکي به هغه جمره (شیطان) په اُوو کاڼو سره وویلي کوم چي د مسجدِ خیف سره نژدې ده چي هغه ته "جمرهٔ اولیٰ" وايي، د هر کاڼي ویشتلو سره دي الله اکبر وايي، له رمی څخه تر فارغېدلو وروسته دي له مجمعې څخه څه ګوښه مخ پر قبله ودرېږي او د دعاء لپاره دي لاس پورته کړي، د الله تعالیٰ حمد او ثناء او درود شریف دي ووايي او د خپل مور و پلار، همدارنګه د ټولو مسلمانانو لپاره د مغفرت دعاء وکړي، تر دې وروسته دي "جمرهٔ وسطیٰ" ته راسي کوم چي د "جمرهٔ اولیٰ" څنګ ته ده او د "جمرهٔ اولیٰ" په څېر دي دلته هم هغسي رمی وکړي، تر رمی وروسته دي له مجمعې څخه څه ګوښه مخ پر

قبله سي، دعاء او استغفار دي وکړي، بيا دي "جمرهٔ عقبه" ته راسي او پر هغې دي هم په اُوو کاڼو سره رمی وکړي او تر دې وروسته دي د دعاء لپاره نه درېږي، بلکي له رمی څخه تر فارغېدلو وروسته دي خپل استوګنځي ته واپس ولاړ سي او د شپې دي په منیٰ کي پاته سي، بيا دي را روانه ورځ يعني د ذو الحجې په دوولسمه بالکل په هغه طريقه درې سره جمرات ووېلي څرنګه چي يې په يوولسمه وېشتلي وه.

د ذو الحجې په دوولسمه له منیٰ څخه د روانېدلو يا د تأخير کولو بيان

﴿۱۳۶۹﴾ وَإِذَا أَرَادَ أَنْ يَّتَعَجَّلَ او کله چي اراده وکړي چي ژر روان سي (له منیٰ څخه ومکې ته) نَفَرَ إِلَى مَكَّةَ قَبْلَ غُرُوْبِ الشَّمْسِ نو تر لمر لوېدلو مخکي دي و مکې ته واپس سي وَإِنْ أَقَامَ إِلَى الْغُرُوْبِ او که تر لمر لوېدلو پوري (په منیٰ کي) پاته سي كُرِهَ نو مکروه دي وَلَيْسَ عَلَيْهِ شَيْءٌ او پر ده هيڅ شی واجب نه دی.

﴿۱۳۷۰﴾ وَإِنْ طَلَعَ الْفَجْرُ وَهُوَ بِمِنٰى فِي الرَّابِعِ او که سهار (صبح صادق) را وخېږي (يعني د سهار سپېدې وچلوېږي) حال دا چی دئ (تر لوسه) په څلورمه ورځ (هم) په منیٰ کي وي لَزِمَهُ الرَّمْيُ نو پر ده (د درې ورځي هم) رمی لازم سوه وَجَازَ قَبْلَ الزَّوَالِ او جائز دي (دا رمي) تر زوال مخکي وَالْأَفْضَلُ بَعْدَهٗ او افضل تر زوال وروسته دي.

﴿۱۳۷۱﴾ وَكُرِهَ قَبْلَ طُلُوْعِ الشَّمْسِ او تر لمر راختلو مخکي مکروه دي.

لغات: ﴿يتعجل﴾ د تفعّل د باب مضارع ده، مصدر: تَعَجُّلًا: تلوار کول، تېزي کول، ﴿نفر﴾ د ضرب له بابه ماضي ده: يو ځای پرېښوول او بل ځای ته تلل، کوچ کول (کوچېدل)، مراد ځني له منیٰ څخه ومکې شريفي ته واپس راتلل دي.

تشريح: د ذو الحجې په دوولسمه له رمی څخه تر فارغېدلو وروسته که د حاجي تلوار وي چي مکې شريفي ته ژر ولاړ سي، نو تر لمر لوېدلو مخکي دي له منیٰ څخه ووځي، که چيري لمر ولوېږي، نو بيا له منیٰ څخه وتل مکروه دي، په داسي صورت کي پکار ده چي نن شبه هم په منیٰ کي پاته سي او د ذو الحجې په ديارلسمه له رمی کولو څخه وروسته ومکې شريفي ته ولاړ سي، او که

بغیر له رمی څخه تر صبح صادق مخکي ولاړ سي، نو د کراهت سره جائز دي او د دې کراهت په وجه هیڅ جرمانه نه باندي واجبیږي، او که پر هغه صبح صادق سي یعني هغه په منیٰ کي وي او هلته باندي سهار سي (د سهار سپېدي وچاودي)، نو اوس پر هغه د دې ورځي رمي واجب سوه. بغیر له رمی څخه تلل جائز نه دي، که بغیر له رمی څخه ولاړ سي، نو دَم واجبیږي، خو د دې ورځي په رمی کي دا آساني هم سته چي هغه تر زوال مخکي هم جائز ده د امام صاحب رَحِمَهُ الله د یوه روایت مطابق او افضل دا ده چي تر زوال وروسته رمی وکړي، خو تر لمر راختلو مخکي مکروه ده، او صاحب د نور الایضاح لیکلي دي چي مفتیٰ بهٖ قول دا دی چي په دې ورځ هم تر زوال مخکي جائز نه ده، که یې وکړي، نو اعاده یې لازم ده. (شفاء الارواح، انوار الایضاح)

کومه رمی به پیاده (په پښو) کول کیږي او شپې به په منیٰ کي تېرول کیږي

﴿۱۲۷۲﴾ وَكُلُّ رَمْيٍ بَعْدَهٗ رَمْيٌ او هره هغه رمی چي تر هغه وروسته رمي وي (یعني تر هغه وروسته بیا رمی کول کیږي) تَرْمِيْهِ مَاشِيًا نو هغه رمی به ته پیاده کوې لِتَدْعُوَ بَعْدَهٗ د دې لپاره چي تر هغه وروسته ته (پیاده) دعاء وکړل سې (ځکه تر هغه وروسته دعاء کول کیږي او پیاده دعاء کول افضل دي چي تضرّع ته اقرب دي) وَإِلَّا رَاكِبًا کنې (یعني تر کومي رمی وروسته چي بیا رمی نه کول کیږي نو) په سپر تیا به یې کوې لِتَذْهَبَ عَقِبَهٗ بِلَا دُعَاءٍ د دې لپاره چي تر هغه وروسته ته بېله دعاء کولو ولاړ سې (ځکه تر هغه وروسته دعا نه کول کیږي، نو تر رمی وروسته به پر سپارلي روان سې).

﴿۱۲۷۳﴾ وَكُرِهَ الْمَبِيْتُ بِغَيْرِ مِنًى لَيَالِيَ الرَّمْيِ او مکروه دي شپه تېرول له منیٰ څخه په غیر (بل ځای) کي د رمی په شپو کي.

لغات: ﴿عقب﴾ پسي شاته، وروسته.

تشریح: احنافو دا قاعده بیان کړې ده چي تر کومي رمی وروسته رمی وي، هغه پیاده کول افضل دي او چي تر کومي رمی وروسته رمی نه وي، هغه د سپرتیا په حالت کي کول افضل دي (مثلاً له دریمي جمرې اجمرۂ عقبا څخه وروسته رمی نسته، نو هغه دي د سپرتیا په حالت کي کوي).

فایده: دا صرف بیان د افضلیت دی، نور جائز هر ډول دي که یې پیاده (په پښو) کوي او که یې په سپرتیا کوي، دا مسئله له امام ابو یوسف رَحِمَهُ الله څخه د هغه د نزع په وخت کي روایت سوې ده (سبحان الله!)، هغه دا چي ابن جراح (کوم چي د عطاء بن ابی رباح رَحِمَهُ الله ستر شاگردانو عالم وو، هغه) وایي چي زه امام ابو یوسف رَحِمَهُ الله ته راغلم، او هغه په هوښ کي نه وو، کله چي هغه را بیدار سو، نو ما

ته یې وویل: اې ابراهیمه! په "رمی الجمار" کې ستا څه رایه ده چې هغه به حاجي په سپرتیا کوي او که پیاده؟، ما ورته وویل: چې پیاده به یې کوي، نو هغه وویل: خطا وتلې!. بیا ما ورته وویل: چې په سپرتیا به یې کوي، نو هغه بیا وویل: خطا وتلې!، نو ما وویل: چې د امام څه رایه ده؟، نو ده راته وویل: چې تر کومي رمی وروسته رمی وي، نو هغه به پیاده کوي او تر کومي رمی وروسته چې رمی نه وي، هغه به په سپرتیا کوي، ابن جراح رَحِمَہُ اللہ وایي چې تر دې وروسته زه له امام ابو یوسف رَحِمَہُ اللہ څخه رخصت سوم، کله چې ووتلم، نو د ده په کور کې مې د خلکو ژړوي واورېدلې، یو چا راته وویل چې امام ابو یوسف رَحِمَہُ اللہ وفات سو، نو زه حیران سوم د امام ابو یوسف رَحِمَہُ اللہ پر دومره علمي حرص په داسي پېښه کي (چې په دې آخري حالت کي یې هم فکر او زه په دیني مسئله کي وو. سبحان الله!). (حاشیة نور الایضاح بتصرّفٍ)

وجه: تر کومي رمی وروسته چې بله رمی وي، نو هغه به ځکه پیاده (په پښو) کول کیږي ځکه چې تر هغه رمی وروسته دعاء کول کیږي، نو که د سپرتیا په حالت کي دعاء کوي، نو په توجّه سره دعاء کول او تر ډېره وخته (اوږده) دعاء کول به ورته مشکله وي چې سپارلي (ځاروی) به زور وهي او د تللو کوښش به کوي (ځکه کله چې پر سپارلي [ځاروي] څوک سپور سي، نو هغه تک ته زورونه وهي او د تک لپاره آماده کیږي، نو دعاء به مختصره او بېله توجه سي) حال دا چې پر دې موقع ښه په توجه، تضرّع او اطمینان سره دعاء کول پکار دي، او هغه پیاده کېدلای سي، او تر کومی رمی وروسته چې بله رمی نه وي یعني آخري رمی وي، نو تر هغه وروسته خو حاجي ځي او دعاءنه کول کیږي، نو ځکه هغه که په سپرتیا وکړي، نو څه حرج نسته. (ثمرة النجاح و شفاء الارواح بتصرّفٍ)

خو نن سبا ټوله پیاده رمی کوي؛ ځکه پر ځاروي د سپرتیا په حالت کي اوس د رمی کولو هیڅ صورت نسته. (دا ټوله تفصیل مو صرف د عبارت د حلّ لپاره پېش کړی).

و کره المبیت الخ: یعني د رمی په شپو کي له منیٰ څخه بغیر بل ځای بېله عذره شپه تېرول مکروه دي.

فایده: مخکي ذکر سوه چې د منیٰ درې ورځي دي چې په هغه کي به رمی کول کیږي او هغه دا دي: ۱۰، ۱۱، ۱۲ یعني د ذو الحجې لسمه، یوولسمه او دوولسمه، او مخکي دا قاعده هم ذکر سوه چې په اسلامي تاریخ کي شپه همېشه د مابعد یعني د راروانې ورځي تابع وي، خو څلور شپې د مابعد تابع نه دي بلکي د ماقبل تابع دي، یعني د ذو الحجې ۹، ۱۰، ۱۱، ۱۲ له دغه قاعدې څخه جلا دي، مثلاً د ذو الحجې په نهمه د عرفات ورځ ده، نو د قاعدې په لحاظ سره خو تېره شپه د عرفات شپه کېدل پکار دي، خو دلته د ذو الحجې د لسمي یعني را روانه د لوی اختر شپه د عرفات شپه کیږي، همدغه ډول را رواني درې ورځي یعني ۱۰، ۱۱ او ۱۲ کوم چې د رَمی ورځي دي. هغوی مخکي دي او بیا د دوی شپه راځي.

په محصّب کې پړاؤ کول او د طواف وداع کولو بیان

﴿۱۳۷۴﴾ ثُمَّ إِذَا رَحَلَ إِلٰى مَكَّةَ بیا چې کله ومکې ته روان سي نَزَلَ بِالْمُحَصَّبِ سَاعَةً نو د څه ګړي لپاره دي په محصّب کې کښېنسي (پاته سي).

﴿۱۳۷۵﴾ ثُمَّ يَدْخُلُ مَكَّةَ بیا دي مکې ته داخل سي وَيَطُوْفُ بِالْبَيْتِ سَبْعَةَ أَشْوَاطٍ او طواف دي وکړي پر کعبې شریفې اُووه دَوره بِلَا رَمَلٍ وَ سَعْيٍ إِنْ قَدَّمَهُمَا بغیر له رمل کولو او سعی کولو څخه (یعني په دې طواف کې دې نه رمل کوي او نه دې تر طواف وروسته سعی کوي) که چیري یې دواړه مخکې (اداء) کړي وي وَهٰذَا طَوَافُ الْوَدَاعِ او دا طوافِ وداع دی وَيُسَمّٰى أَيْضًا طَوَافَ الصَّدْرِ او دا په طوافِ صدر سره هم نومول کیږي وَهٰذَا وَاجِبٌ إِلَّا عَلٰى أَهْلِ مَكَّةَ وَمَنْ أَقَامَ بِهَا او دا واجب دی مګر (نه) پر مکې والا وو او پر هغه کسانو چې په مکه کې پاته سوي (استوګن) وي.

﴿۱۳۷۶﴾ وَيُصَلِّيْ بَعْدَهٗ رَكْعَتَيْنِ او تر طواف وروسته دي دوه رکعته لمونځ وکړي.

لغات: ﴿رحل﴾ د فتح د باب ماضي ده، مصدر: رَحْلًا و رَحِيْلًا و رِحْلَةً: سفر کول او روانېدل، کوچېدل.

تشریح: له منیٰ څخه ومکې ته د تللو پر مهال په لاره کې مُحصّب نومې ځای راځي کوم چې د منیٰ او مکّې شریف په مینځ کې دی، په دې ځای کې د څه وخت لپاره پاتېدل سنت دي (مخکې په ﴿۱۳۱۰﴾ نمبر مسئله کې د دې تفصیل تېر سو)، خو اوس هلته ځایونه جوړ سوي دي او هلته د پاتېدلو څه صورت او ځای نسته او نه یې اوس رواج سته (همدارنګه نن سبا په بسانو او موټرانو کې سفر کیږي کوم چې د حاجیانو په اختیار کې نه دي. نو ځکه هلته درېدل مشکل دي که څه هم څه ځای پیدا سي، نو ځکه اوس د دې په پرېښوولو کې څه حرج نسته).

ثم یدخل مکة إلخ: اوس د حج له کارو څخه صرف طوافِ وداع (درخصتی طواف) پاته سو کوم چې پر آفاقي حاجیانو د واپسۍ په وخت کې واجب دی (آفاقي یعني هغه حاجیان کوم چې له میقات څخه بهر اوسیږي یا په بله وینا: هغه حاجیان کوم چې له بل وطن او بهر ملک څخه راغلي وي)، هغوی چې کله خپل وطن ته واپس کیږي، نو مسجدِ حرام ته دې ولاړ سي او یو طواف دې وکړي چې په هغه کې به نه رمل کوي او نه به تر هغه وروسته د صفا او مروه سعی کوي، او دې طواف ته طوافِ صدر هم وایي، د "صدر" معنیٰ ده "صادرېدل" (روانېدل)، څرنګه چې په دې طواف سره حاجیان له مکې شریفې څخه روانیږي او خپل وطن ته واپس کیږي، نو ځکه ورته "طوافِ صدر" وایي، او "طوافِ آخرِ عهد" ځکه ورته وایي چې همدا د حاجیانو آخري عهد او کار دی او تر دې وروسته له کعبې څخه روانیږي، او "طوافِ وداع"

ځکه ورته وايي چې تر دې طواف وروسته حاجيان له کعبې څخه رخصتيږي او کعبې ته خداى په امان وايي. (شفاء الارواح، فتح الهدايه)

ويصلي بعده إلخ: له هر طواف څخه وروسته دوه رکعته شکرانه نفل کول واجب دي، د هغه پرېښوول ګناه ده، طواف برابره ده فرض وي او که واجب وي او که نفلي طواف وي، په ټولو کې د دې لمانځه حکم برابر دى (کما ذکر). (انوار الايضاح)

له طواف څخه وروسته د ماء زمزم چيښلو بيان او تفصيل

﴿۱۲۷۷﴾ ثُمَّ يَأْتِيْ زَمْزَمَ فَيَشْرَبُ مِنْ مَائِهَا بيا دې د زمزم (څاه) ته راسي او د هغه اوبه دې وچيښي وَيَسْتَخْرِجُ الْمَاءَ مِنْهَا بِنَفْسِهِ إِنْ قَدَرَ او له هغه څخه دې خپله اوبه را وباسي، که يې قدرت وو (يعني که پر اوبو را ايستلو قادر وو) وَيَسْتَقْبِلُ الْبَيْتَ او مخ دې د کعبې و طرف ته کړي (يعني کعبې شريفې ته دې مخامخ سي) وَيَتَضَلَّعُ مِنْهُ او هغه دې تر ډک (ماړه نس) پوري وچيښي (يعني به ډېري اوبه دي ور څخه وچيښي او ځان دي پوره په اوبه کړي) وَيَتَنَفَّسُ فِيْهِ مِرَارًا او په هغه کي (يعني د زمزم چيښلو په دوران) کي دي څو واره ساه واخلي وَيَرْفَعُ بَصَرَهٗ كُلَّ مَرَّةٍ يَنْظُرُ إِلَى الْبَيْتِ او هر وار دي خپل نظر (سترګي) پورته کوي، کعبې شريفې ته دي ګوري وَيَصُبُّ عَلٰى جَسَدِهٖ إِنْ تَيَسَّرَ او پر خپل بدن دي يې واچوي، که آسانه (ممکنه) وي وَإِلَّا يَمْسَحُ بِهٖ وَجْهَهٗ وَرَأْسَهٗ کنې په هغوى سره دي خپل مخ او سر مسح کړي (يعني که يې پر بدن نه واچوي، نو پر مخ دي يې تيري کړي) وَيَنْوِيْ بِشُرْبِهٖ مَا شَاءَ او نيت دي وکړي د زمزم د چيښلو په وخت کي د هغه څه (مقصد) کوم څه چي يې خوښه وي وَكَانَ عَبْدُ اللهِ بْنُ عَبَّاسٍ رضي الله عنهما إِذَا شَرِبَ يَقُوْلُ او عبدالله ابن عباس (رض) چي به کله (د زمزم اوبه) چيښلې نو ويل به يې (يعني دا دعاء به يې کول) اَللّٰهُمَّ إِنِّيْ أَسْأَلُكَ عِلْمًا نَافِعًا اې الله! زه سوال (خواست) کوم ستا څخه د نفع رسونکي (نفع منډ) علم وَرِزْقًا وَاسِعًا او د پراخه روزۍ وَشِفَاءً مِنْ كُلِّ دَاءٍ او له هري ناروغۍ څخه د شفاء و

قَالَ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: مَاءُ زَمْزَمَ لِمَا شُرِبَ لَهُ او نبي کریم ﷺ فرمایلي دي: چې د زمزم اوبه د (هر) هغه څه (مقصد) لپاره دي، د کوم څه (مقصد) لپاره چې وڅښل سي.

لغات: ﴿یتضلّع﴾ د تفعّل د باب مضارع ده: تر ماړه نسه خوړل یا څښل، دومره خوړل یا څښل چې نس ډک سي، ځان پوره په اوبول، ﴿یتنفّس﴾ دا د تفعّل د باب مضارع ده: ساه کښل، ساه اخیستل، ﴿مرارًا﴾ جمع د مَرَّةً ده: څو واره، ﴿بصر﴾ نظر، نګاه، جمع: أَبْصَار، ﴿تیسّر﴾ د تفعّل د باب ماضي ده، د دې باب دوې معناوي نقل سوي دي: ① آسانه کېدل (قدرت باندي راتلل، ترلاسه کېدل)، ② یو کار ته تیارېدل (چمتو کېدل)،

تشریح: له طواف وداع او صلاة طواف څخه وروسته دي د زمزم اوبه وڅښي او ښه دي ځان په اوبه کړي، او د څښلو طریقه یې دا ده چې مخ پر قبله دي هغه په ولاړي وڅښي، په درېو ساه ګانو دي یې وڅښي او هر وار دي له لوښي څخه خوله جلا کوي او هر وار دي کعبې شریفي ته ګوري، فرمایي چې د زمزم اوبه دي پر خپل بدن، مخ او سر باندي هم واچوي (توی کړي)، دا د خیر او برکت باعث دي، او د څښلو په وخت کې دي خپل مرادونه په زړه کې لري او په دغه اوبو کې الله تعالیٰ غذائیت ایښی دی او د هر مرض او ناروغی لپاره یې شفاء ګرځولې ده. (انوار الایضاح)

﴿۱۲۸﴾ وَيَسْتَحِبُّ بَعْدَ شُرْبِهِ أَنْ يَأْتِيَ بَابَ الْكَعْبَةِ او د زمزم له څښلو څخه وروسته مستحب دي چې د کعبې شریفي دروازې ته راسي وَيُقَبِّلَ الْعَتَبَةَ او (د دروازې) چوکاټ مچ کړي ثُمَّ يَأْتِيَ إِلَى الْمُلْتَزَمِ بیا دي ملتزم ته راسي وَهُوَ مَا بَيْنَ الْحَجَرِ الْأَسْوَدِ وَالْبَابِ او ملتزم هغه دی کوم چې د حجرِ اسود او (د کعبې شریفي) د دروازې تر مینځ دی فَيَضَعُ صَدْرَهُ وَوَجْهَهُ عَلَيْهِ نو پر هغه دي خپله سینه او مخ کېښږدي وَيَتَشَبَّثُ بِأَسْتَارِ الْكَعْبَةِ سَاعَةً او د څه ګړي لپاره دي د کعبې شریفي پردې ونیسي يَتَضَرَّعُ إِلَى اللهِ تَعَالَىٰ بِالدُّعَاءِ بِمَا أَحَبَّ مِنْ أُمُورِ الدَّارَيْنِ عاجزي دي وکړي (د خپل بې وسۍ او لاچارۍ اظهار دي وکړي) د الله تعالیٰ مخ ته په (وخت د) دعاء کولو کې د هغه څه کوم چې یې خوښه وي د دنیا او آخرت له کارونو (مقاصدو) څخه وَيَقُولُ او ودي وایي (یعني دا دعاء دي هم وکړي) اَللّٰهُمَّ إِنَّ هٰذَا بَيْتُكَ الَّذِيْ جَعَلْتَهُ مُبَارَكًا وَهُدًى

لِلْعَالَمِيْنَ اې الله! دا ستا هغه کور دی کوم چې تا مبارک (برکت والا) او د ټوله جهان والا لپاره (د ذريعه د) هدايت ګرځولی دی اَللّٰهُمَّ كَمَا هَدَيْتَنِیْ لَهٗ اې الله! څرنګه چې تا ما ته د دې کور (د حج) هدايت وکړی (د حج توفيق دي ما ته راکړی) فَتَقَبَّلْ مِنِّیْ نو (همدا سې يې اوس) زما له طرفه قبول (هم) کړه! وَلَاتَجْعَلْ هٰذَا آخِرَ الْعَهْدِ مِنْ بَيْتِكَ او مه ګرځوه دا (زما) آخري ملاقات (آخري سفر) ستا د کور (کعبې شريفې) وَارْزُقْنِي الْعَوْدَ إِلَيْهِ او را روزي کړه! (توفيق راکړه د) بېرته راتګ و دې کور (کعبې) ته حَتّٰی تَرْضٰی عَنِّیْ بِرَحْمَتِكَ يَا أَرْحَمَ الرَّاحِمِيْنَ تر دې چې ته زما څخه راضي سې، ستا په خپل رحمت سره اې د ټولو رحم کونکو څخه زيات رحم کونکې!.

لغات: ﴿العتبة﴾ د دروازې چوکاټ (کوم چې تر پښو لاندې راځي)، درشل، ﴿يتشبّث﴾ د تفعّل د باب مضارع ده: يو شی نيول (په لاسو سره نيول)، ﴿يتضرّع﴾ د تفعّل د باب مضارع ده: د خپل عاجزۍ او بې وسۍ اظهار کول، ځان ټيټ ښکاره کول، په عاجزي او سر ټيټي سره يو څه غوښتل.

تشريح: فرمايي چې د زمزم تر څېښلو وروسته دې کعبې شريفې ته راسي او د کعبې شريفې چوکاټ دې مچ کړي او د ملتزم سره دې مخ او سينه ومښلوي (ولګوي) او د کعبې شريفې پر دېوال دې خپل رُخسار ولګوي، دعاء دې وکړي او خپل مرادونه دې وغواړي (لکه مخکې چې د دې پوره تفصيل تېر سو).

يادونه: مصنف رَحِمَہُ اللہ له طوافِ وداع او صلاةِ طواف څخه تر فراغت سره دا طريقه ليکلې ده چې تر هغه وروسته دې د زمزم اوبه وڅېښي او بيا دې راسي، دعاء دې وکړي او دسې نور (لکه اوس چې ذکر سوه)، اصل طريقه خو همدا ده، لېکن نن سبا هلته پر داسې موقع ډېر رش او ګڼه ګوڼه وي، لهذا که داسې وکړي چې له صلاةِ طواف څخه تر فراغت وروسته اولاً د کعبې شريفې چوکاټ مچ کړي او د ملتزم سره ځان ولګوي او دعاء وکړي او د کعبې پر دېوال خپل مخ ولګوي او مرادونه دې وغواړي، تر دې وروسته په آخر کې د زمزم اوبه وڅېښي، نو هم څه حرج نسته، او د ضعيفه خلکو او سپين ږيرو لپاره په دې کې آساني ده، لکه څرنګه چې په بعضې کتابو کې همدا ترتيب ليکل سوی دی.

د دعاء قبلېدلو ځایونه

﴿۱۳۷۹﴾ وَالْمُلْتَزَمُ مِنَ الْأَمَاكِنِ الَّتِيْ يُسْتَجَابُ فِيْهَا الدُّعَاءُ بِمَكَّةَ الْمُشَرَّفَةِ او ملتزم په مکه شریفه کي له هغه ځایو څخه دی چی په هغوی کي دعاء قبلیږي وَهِيَ خَمْسَةَ عَشَرَ مَوْضِعًا او هغه پنځلس ځایونه دي نَقَلَهَا الْكَمَالُ بْنُ الْهَمَّامِ عَنْ رِسَالَةِ الْحَسَنِ الْبَصْرِيِّ رَحِمَهُ اللّٰهُ کوم چي نقل کړي دي کمال بن الهمام د حضرت حسن بصري رَحِمَهُ الله له رسالې څخه بِقَوْلِهٖ: فِي الطَّوَافِ وَعِنْدَ الْمُلْتَزَمِ وَتَحْتَ الْمِيْزَابِ په خپل دې قول سره چي (دعاء قبلیږي): (۱) په طواف کي (۲) او د ملتزم سره (۳) او تر میزاب رحمت لاندي وَفِي الْبَيْتِ وَعِنْدَ زَمْزَمَ وَخَلْفَ الْمَقَامِ (۴) او په کعبه شریفه کي (دننه) (۵) او د زمزم سره (۶) او د مقام ابراهیم وشا ته وَعَلَى الصَّفَا وَعَلَى الْمَرْوَةِ وَفِي السَّعْيِ (۷) او پر صفا (۸) او پر مروه (۹) او په سعی کي وَفِيْ عَرَفَاتٍ وَفِيْ مِنًى (۱۰) او په عرفات کي (۱۱) او په منیٰ کي وَعِنْدَ الْجَمَرَاتِ (۱۲. ۱۳، ۱۴) او د (دریو سره وو) جمراتو سره. (او پنځلسم (۱۵) د څلورمي ورځي د رمی په وخت کي. که په منیٰ کي پاته سوی وو).

لغات: ﴿المشرّفة﴾ د تفعیل له بابه اسم مفعول دی: شرف ورکول سوی، شرافت او عزت والا.

تشریح: په مکّه شریفه کي څو ځایونه داسي دي چي په هغوی کي د دعاګانو قبلېدل له سلفو او له فقهي کتابونو څخه ثابت دي، دلته مصنف رَحِمَهُ الله پنځلس (۱۵) ځایونه ذکر کړي دي (او بعضو یو ویشت [۲۱] مقامات ذکر کړي دي): ① د طواف په حالت کي، ② د ملتزم سره (ملتزم د کعبې شریفي د دروازې او د حجرِ اسود تر مینځ حصه ده)، ③ تر میزابِ رحمت یعني د کعبې شریفي تر ناوې لاندي هم دعاء زیاته قبلیږي، ④ په کعبه شریفه کي دننه، ⑤ د زمزم داوبو سره د زمزم د څښلو په وخت کي، ⑥ د مقام ابراهیم وشا ته، ⑦ پر صفا غره، ⑧ همدارنګه پر مروه غره، ⑨ د سعی په حالت کي، ⑩ د عرفات په میدان کي، ⑪ په منیٰ کي، ⑫ د جمرۂ اولیٰ، ⑬ جمرۂ ثانیه، ⑭ جمرۂ ثالثه، د هري جمرې له رمی څخه وروسته دعاء غوښتل ډېره قبلیږي، ⑮ د څلورمي ورځي د رمی په وخت کي (یعني که د ذو الحجې په دیارلسمه هم په منیٰ کي پاته سي. نو بیا خو په هاغه ورځ هم د دریو سره جمراتو رمی کول پر هغه لازمیږي لکه مخکي ذکر سوه، نو په دې ورځ هم له رمی کولو څخه وروسته دعاء مقبوله ده. د هري جمرې له رمی څخه وروسته دي دعاء وغواړي).

﴿۱۳۸۰﴾ وَالْجَمَرَاتُ تُرْمٰى فِىْ أَرْبَعَةِ أَيَّامٍ او جمرات (دشيطانانو ځلي) څلور ورځي ويشتل کيږي يَوْمِ النَّحْرِ وَثَلَاثَةٍ بَعْدَهٗ د قرباني (لوی اختر) په ورځ او درې ورځي تر هغه وروسته كَمَا تَقَدَّمَ لکه مخکي چي تېر سوه.

﴿۱۳۸۱﴾ وَذَكَرْنَا اِسْتِجَابَتَهٗ أَيْضًا عِنْدَ رُؤْيَةِ الْبَيْتِ الْمُكَرَّمِ او موږ (مخکي) د کعبي شريفي دليدلو په وخت کي د دعاء قبلېدلو يادونه هم وکړه (چي په دې وخت کي دعاء قبليږي).

لغات: ﴿استجابة﴾ داستفعال د باب مصدر دی، کله چي د دې باب په صله کي دعاء ذکر سي، نو معنیٰ يې ده: دعاء قبلېدل، دعاء او حاجت ور پوره کول.

تشريح: (شيطانان) به څلور ورځي ويشتل کيږي: ① يعني د ذو الحجې په لسمه (کوم چي دلوی اختر ورځ ده)، ② او په يوولسمه، ③ دوولسمه، ④ او ديارلسمه، يعني کله چي په ديارلسمه ورځ هم په منیٰ کي پاته سوی وي، دا مسئله مخکي په تفصيل سره تېره سوه. وګورئ! له مسئله نمبر ﴿۱۳۶۸﴾ څخه تر مسئله نمبر ﴿۱۳۷۰﴾ پوري.

وذكرنا استجابته إلخ: کله چي مسجدِ حرام ته داخل سي او پر کعبه شريفه يې اول نظر پرېوځي، نو په دې وخت کي هم دعاء قبليږي، لکه مخکي چي ذکر سوه، لهذا په دې وخت کي هم په پوره توجّه سره دعاء غوښتل پکار دي.

کعبي شريفي ته د داخلېدلو بيان

﴿۱۳۸۲﴾ وَيُسْتَحَبُّ دُخُوْلُ الْبَيْتِ الشَّرِيْفِ الْمُبَارَكِ إِنْ لَّمْ يُؤْذِ أَحَدًا او مستحب دي کعبې شريفي مبارکي ته داخلېدل، که چيري چا ته يې تکليف نه رسوی.

﴿۱۱۳۸۳﴾ وَيَنْبَغِىْ أَنْ يَّقْصِدَ مُصَلَّى النَّبِيِّ ﷺ فِيْهِ او پکاره ده چي قصد وکړي د نبي کريم ﷺ دلمونځ کولو د ځای په کعبه شريفه کي (يعني په کعبه کي دننه چي نبي ﷺ پر کوم ځای لمونځ کړی دی، پر هغه ځای لمونځ کول پکار دي) وَهُوَ قِبَلَ وَجْهِهٖ وَقَدْ جَعَلَ الْبَابَ قِبَلَ ظَهْرِهٖ حَتّٰى يَكُوْنَ بَيْنَهٗ وَبَيْنَ الْجِدَارِ الَّذِىْ قِبَلَ وَجْهِهٖ قُرْبُ ثَلَاثَةِ أَذْرُعٍ او هغه ځای د ده (يعني د داخلېدونکي کس) د مخ و طرف ته دی په داسي حال کي چي کله ده (د کعبې شريفې) دروازه خپل شا ته ګرځولې وي (يعني مخ يې شا ته يې شاوې لومخ ته ولاړ وي) تر دې چي د ده او د هغه دېوال تر مينځ کوم چي د ده

ومخ ته دی درې (شرعي) ګزه فاصله پاته وي (يعني دروازې ته مخامخ چي کوم دېوال دی. له هغه څخه تقريبا درې ګزه شاته هغه دېوال دی چيري چي رسول الله ﷺ لمونځ کړی وو) ثُمَّ يُصَلِّيْ بيا دي (هلته) لمونځ وکړي فَإِذَا صَلّٰى إِلَى الْجِدَارِ بيا چي کله د دېوال وطرف ته (دېوال ته بمخامخ) لمونځ وکړي يَضَعُ خَدَّهٗ عَلَيْهِ وَيَسْتَغْفِرُ اللّٰهَ وَيَحْمَدُهٗ نو (تر هغه وروسته) دي خپل رُخسار (باړخو) پر هغه دېوال کښېږدي او له الله تعالیٰ څخه دي مغفرت (بخښنه) وغواړي او د هغه حمد (او ثناء) دي ووايي.

لغات: ﴿لم يؤذ﴾ د افعال له بابه د نفي جحد بلم صيغه ده: تکليف رسول، ضرر رسول، ﴿الجدار﴾ دېوال، جمع: جُدُرٌ، ﴿خَدّ﴾ رخسار، باړخو، جمع: أَخِدَّةٌ وخِدَادٌ.

تشريح: د مذاهبِ اربعه وو له کتابو څخه دا ثابت دي چي کعبې شريفي (بيتُ الله) ته داخلېدل او لمونځ پکښي کول مستحب دي، خو دا د حج په مناسکو کي داخل نه دي.

که يو خوش نصيبه کس ته دا نېکبختي حاصله سي، نو هغه ته پکار دي چي په زياته خشوع وخضوع او انتهايي ادب سره په ټيټ نظر کعبې شريفي ته داخل سي په داسي حال کي چي د الله تبارک وتعالیٰ لويي او جلال يې په زړه کي حاضره وي او هلته دي په کامله توجه سره په لمانځه او دعاء کي مشغوله سي او دغه څه ګړی دي غنيمت وګڼي. (ښکاره دي وي چي اوس مهال په بعضي مخصوصه ورځو کي کعبې شريفي ته د غسل ورکولو پر موقع د هغې دروازه خلاصيږي او د حکومت يا د هغه خاندان چي هغو ته د کعبې شريفي د مبارکي چابي د اخيستلو شرف حاصل دی، د هغو له طرفه چي په انتظام کي د شرکت لپاره کومو خلکو ته دعوت ورکول کيږي، صرف هغوی کعبې شريفي ته د داخلېدلو نېکبختيا حاصلولای سي).

وينبغي أن يقصد إلخ: يعني په کعبه شريفه کي چي پر کوم ځای نبي کريم ﷺ لمونځ کړی دی، پر هغه ځای لمونځ کول پکار دي، که يې بل ځای وکړي، نو هم صحيح دي، د کعبې شريفي په دراوزه کي چي کله ور داخل سي، نو د مخامخ دېوال وطرف ته دي ولاړ سي او له دېوال څخه دي درې شرعي ګزه (کوم چي څلورنيم فټه کيږي) شاته ودرېږي، پر دې ځای نبي کريم ﷺ لمونځ کړی دی. (په حقيقيت کي دا خبره د مشاهدې سره تعلق لري، په زياتره رواياتو کي دا خبره راغلې ده چي نبي کريم ﷺ په کعبه شريفه کي داسي ځای لمونځ وکړی چي د کعبې شريفي يو ستن [پايه] د نبي کريم ﷺ چپه طرف ته وه او دوې ستني يې راسته طرف ته وې كما في رواية البخاري وأبي داؤد، او درې ستني يې شا ته وې، په هغه وخت کي په کعبه شريفه کي شپږ ستني (پايې) وې، ملا علي قاري رَحِمَهُ الله فرمايي چي اوس په کعبه شريفه کي صرف درې ستني دي. او حضرت بلال رضي الله عنه به په تعيين سره دا ښوول چي نبي کريم ﷺ د فلانی او فلانی ستني تر مينځ دوه رکعته لمونځ وکړی). (انوار الايضاح. ثمرة النجاح)

له ارکان کعبه څخه څه مراد دي؟

﴿۱۳۸۴﴾ ثُمَّ يَأْتِي الْأَرْكَانَ بیا دي ارکانو ته راسي فَيَحْمَدُ وَيُهَلِّلُ وَيُسَبِّحُ وَيُكَبِّرُ نو حمد دي ووايي او لا إله إلا الله او سُبحان الله او الله أكبر دي ووايي وَيَسْأَلُ اللهَ تَعَالَىٰ مَا شَاءَ او له الله تعالیٰ څخه دي سوال (او دعاء) وکړي د څه چي يې خوښه وي وَيَلْزَمُ الْأَدَبَ مَا اسْتَطَاعَ بِظَاهِرِهٖ وَبَاطِنِهٖ او ادب دي لازم ونيسي څومره چي د ده وس وي په خپل ظاهر او باطن (دواړو) سره.

تشریح: له ارکان څخه مراد ارکان اربعه يعني د کعبې شريفي څلور کونجان دي، په يوه کونج کي يې حجر اسود لګېدلی ده، له هماغه څخه د طواف شروع کيږي، د کعبې شريفي په شمالي مشرقي کونج کي رکنِ عراقي دی او په شمالي مغربي کونج کي يې رکنِ شامي دی او د کعبې شريفي چي کوم جنوبي مغربي کونج دی، هلته رکنِ يماني دی او د کعبې شريفي دروازه مشرقي طرف ته ده، فرمايي چي په مذکوره څلور سره مبارکو ځايو کي په پوره توجّه سره د دنيا او آخرت مرادونه غوښتل پکار دي، په دې ټولو ځايو کي دعاګاني قبليږي (صاحب د شفاء الارواح ليکلي دي چي له ارکان څخه د کعبې شريفي ستني مراد دي، يعني د هري ستني سره دي لا إله إلا الله، سبحان الله او الله أكبر وايي او دعاء دي وکړي). (انوار الايضاح، شفاء الارواح)

﴿۱۳۸۵﴾ وَلَيْسَتِ الْبَلَاطَةُ الْخَضْرَاءُ الَّتِي بَيْنَ الْعَمُودَيْنِ مُصَلَّى النَّبِيِّ ﷺ او هغه زرغون ډبرين فرش کوم چي د دوو ستنو (پايو) په مينځ کي دی (هغه) د نبي کريم ﷺ د لمونځ ځای نه دی وَمَا تَقُوْلُهُ الْعَامَّةُ مِنْ أَنَّهُ الْعُرْوَةُ الْوُثْقَىٰ وَهُوَ مَوْضِعٌ عَالٍ فِيْ جِدَارِ الْبَيْتِ او کوم چي عام خلک (عوام) دا وايي چي دا عروۀ وثقیٰ" ده کوم چي د کعبې شريفي په دېوال کي يو لوړ ځای دی بِدْعَةٌ بَاطِلَةٌ لَا أَصْلَ لَهَا (دا وينا) بدعت باطله ده (يعني دا خبره له ځانه جوړه سوې ده کوم چي بالکل غلطه ده) چي هغه لره هيڅ اصل نسته وَالْمِسْمَارُ الَّذِيْ فِيْ وَسْطِ الْبَيْتِ يُسَمُّوْنَهٗ سُرَّةَ الدُّنْيَا او هغه مېخ کوم چي د کعبې شريفي په مينځ کي دی چي خلک هغه ته د دنيا نُو (مينځ) وايي يَكْشِفُ أَحَدُهُمْ عَوْرَتَهٗ وَسُرَّتَهٗ وَيَضَعُهَا عَلَيْهِ چي يو د دوی خپل عورت او نُو لڅوي او پر هغه يې اږدي فِعْلُ مَنْ لَا عَقْلَ لَهٗ فَضْلًا عَنْ عِلْمٍ دا د هغه چا کار دی چي هيڅ عقل نه لري،

زیات تر دې چې علم ولري (یعني علم خو هلته پرېږده!، یوه ذره عقل لا هم نه لري) كَمَا قَالَهُ الْكَمَالُ لکه څرنګه چې ویلي دي علامه کمال (ابن الهمام صاحب د فتح القدیر رَحِمَهُ الله).

لغات: ﴿بلاطة﴾ هغه ډبري (ټائل) کوم چې په فرش کي استعمال کړل سي (انوار الایضاح)، ﴿العروة الوثقٰی﴾ مضبوطه حلقه، ﴿مسمار﴾ مېخ، جمع: مَسَامِيْرُ.

تشریح: په کعبه شریفه کي د دوو ستنو (پایو اتبوا) تر مېنځ د زرغونو ډبرو فرش دی، خلک وایي چې نبي کریم ﷺ دلته لمونځ کړی دی، دا غلطه وېنا ده.

وما تقوله إلخ: په کعبه شریفه کي د مخ په دېوال کي را پورته سوی (حلقه غوندي) ځای دی، عام خلک هغه ته عُروة الوثقٰی وایي، د دې هم په شریعت کي هیڅ اصل نسته او د عوامو له خپل ځانه جوړه سوې خبره ده (او په قرآن کریم کي چې کوم د العروة الوثقٰی ذکر سوی دی، هغه اسلام ته د دې سره تشبیه ورکول سوې ده یعني چا چې اسلام قبول کړی، ګواکي هغه مضبوطه حلقه ونیوله).

والمسمار إلخ: د کعبې شریفي په مېنځ کي یو مېخ دی، عوام خلک وایي چې دا د نیا نُو (ناف) دی او د نیا بالکل د مېنځ حصه ده، پر دې به د پخوانۍ زمانې بعضي خلکو خپلي شرمګاوي او خپل نُوګان (نافونه) ایښوولە (صاحب د انوار الایضاح لیکلي دي چې داسي به د جاهلیت په زمانه کي کفارو او مشرکینو کوله)، دا جاهلانه رسم دی او د هغه چا کار دی چې ذره غوندي عقل هم نه لري، شریعت د داسي بې عقلۍ او بې حیائۍ اجازه نه ورکوي. (شفاء الارواح، انوار الایضاح، ثمرة النجاح)

له مکې شریفي څخه د واپس تللو بیان

﴿١٣٨٦﴾ وَإِذَا أَرَادَ الْعَوْدَ إِلٰى أَهْلِهِ او کله چې خپل کورنۍ (او وطن) ته د واپس تللو اراده وکړي يَنْبَغِيْ أَنْ يَّنْصَرِفَ بَعْدَ طَوَافِهِ لِلْوَدَاعِ وَهُوَيَمْشِيْ إِلٰى وَرَائِهِ وَوَجْهُهُ إِلَى الْبَيْتِ نو پکار ده (مناسب ده) چې له خپل طواف وداع کولو څخه وروسته په داسي حال کي وګرځي (ولاړ سي) چې دئ د شا پر طرف روان وي او د ده مخ د کعبې شریفي وطرف ته وي بَاكِيًا أَوْ مُتَبَاكِيًا مُتَحَسِّرًا عَلٰى فِرَاقِ الْبَيْتِ حَتّٰى يَخْرُجَ مِنَ الْمَسْجِدِ (او) په داسي حال کي چې دئ ژړېدونکی یا د ژړا غوندي شکل جوړونکی وي، افسوس (او غم) کونکی وي د کعبې شریفي پر جلایۍ باندي تر دې چې له مسجد حرام څخه ووځي وَيَخْرُجُ مِنْ مَكَّةَ مِنْ بَابِ بَنِيْ شَيْبَةَ

مِنَ الثَّنِيَةِ السُّفْلٰى او له مکې مکرّمې څخه دي په "باب بني شیبه" باندي د ثنیۃ السفلیٰ له طرف څخه ووځي.

لغات: ﴿أهل﴾ کورنۍ، ښځه او داسې نور، ﴿ینصرف﴾ د انفعال د باب مضارع ده: واپس کېدل راګرځېدل، ﴿متباکیًا﴾ د تفاعل له بابه فاعل دی: په تکلف سره ژړېدونکی، د ژړا غوندي شکل جوړونکی، ﴿متحسرًا﴾ د تفعّل له بابه فاعل دی: افسوس (افسوز) کونکی.

تشریح: له طواف وداع او صلاة طواف څخه وروسته چې کله حاجي رخصتیږي او خپل ځای ته واپس کیږي، نو کعبه شریفه دې مچ کړي او له کعبې څخه دې په داسې حال کې روان سي چې مخ یې د کعبې شریفې طرف ته وي یعني د شا پر طرف دې روان سي، او د کعبې شریفې پر فراق چې یې څومره وس وي، هغومره دې وژاړي او که ژړا نه ورځي، نو د ژړا په څېر صورت دې جوړ کړي او د همدې حسرت او افسوس په حالت کې دې د کعبې شریفې وطرف ته کتونکی، ژړېدونکي له مسجدِ حرام څخه ووځي.

ویخرج من الخ: "باب بنی شیبة" د "ثنیة السفلی" وطرف ته ده، او مخکې ذکر سوه چې له مکې شریفې څخه وتل به د ثنیة السُفلیٰ له طرفه (یعني د لاندې خوا څخه) کیږي (او داخلېدل به د ثنیة العُلیا له طرفه کیږي)، نو ځکه اوس به په باب بنی شیبه باندي د ثنیة السُفلیٰ د لارې له مکې شریفې څخه ووځي. (ثمرة النجاح، انوار الایضاح)

ښځه د حج په کومو احکامو کې له سړي څخه جلا ده؟

﴿۱۳۸۷﴾ وَالْمَرْأَةُ فِيْ جَمِيْعِ أَفْعَالِ الْحَجِّ كَالرَّجُلِ او ښځه د حج په ټولو افعالو کې د سړي په څېر ده غَيْرَ أَنَّهَا لَاتَكْشِفُ رَأْسَهَا ماسوا له دې چې ښځه به نه لڅوي (نه ښکاره کوي) خپل سر.

﴿۱۳۸۸﴾ وَتَسْدُلُ عَلٰى وَجْهِهَا شَيْئًا تَحْتَهُ عِيْدَانٌ او ځړوي به ښځه پر خپل مخ یو شی (پرده) چې تر هغه به (یې) لرګیان لاندي (کړي) وي (یعني چې د سر یا تندي پر طرف نري لرګیان تر هغه لاندي دروي سوي وي چې پرده د مخ سره نه ولګیږي) كَالْقُبَّةِ د ګومبټي په څېر تَمْنَعُ مَسَّهُ با[illegible]

هغه (لرګیان) منع کړي د مخ مسه کېدل د پردې (نقاب) سره (یعني چې [illegible]

لغات: ﴿تسدل﴾ د نصر له بابه مضارع معلومه ده: راځړول، ﴿عیدان﴾ جمع د عَوْدٌ ده: لرګی، پرېکړی سوی ښاخ، ﴿قبة﴾ ګومبته. ګردی ودانی، همدارنګه هغه کوچنی خېمه چي سرېې (د ګومبتي په څېر) ګردی وي، جمع: قِبَاب، ﴿غطاء﴾ پرده، نقاب، جمع: أَغْطِيَة.

تشریح: مصنف رَحِمَهُ الله فرمايي چي ښځه د حج په ټولو افعالو کي د سړي په څېر ده، لېکن په یوڅو مسئلو کي د ښځي حکم جلا دی چي د هغوی تفصیل دلته بیانوي، مصنف رَحِمَهُ الله اُووه مسئلې ذکر کړي دي: ①... د احرام په حالت کي سړی خپل سر نه سي پټولای، لېکن ښځه به یې پټوي، د ښځي لپاره خپل سر لڅول جائز نه دي؛ ځکه دا د ستر خلاف دي.

وتسدل إلخ: ها! ښځه به خپل مخ لڅ ساتي، خو د پردې لپاره پر مخ کپړه (نقاب وغیره) داسي اچوي چي د مخ سره نه ولګېږي، مثلاً تر هغه لاندي دي یو څو لرګي داسي وتړي چي کپړه له مخ څخه لېري سي او پرده هم راسي (او بله طریقه یې دا ده چي ښځه دي پر خپل سر داسي خولۍ ارخچینه] کښېږدي کوم چي چار طرفه څوکي او څنډي لري [کوم ته چي هیټ خولۍ هم ویل کیږي] او پر هغه د پاسه دي کپړه واچوي، نو د خولۍ د څوکو [ژاغو] په وجه به کپړه له مخ څخه لېري سي او په دې توګه به د سر د وربښتیانو حفاظت هم وسي او د مخ سره د کپړې د نه لګېدلو تر څنګ به له پردیو خلکو څخه پرده هم وسي [ایضاح امناسک ص: ۷۲، ۷۳])

﴿۱۳۸۹﴾ وَلَا تَرْفَعُ صَوْتَهَا بِالتَّلْبِيَةِ او نه به پورته کوي ښځه خپل آواز په تلبیه کي.

﴿۱۳۹۰﴾ وَلَا تَرْمَلُ او نه به ښځه (د سړي په څېر) رمل کوي (یعني په طواف کي به تېز تګ او خپلي اوږې نه ښوروي الکه مخکي چي د رمل وضاحت تېر سوا).

﴿۱۳۹۱﴾ وَلَا تُهَرْوِلُ فِي السَّعْيِ بَيْنَ الْمِيْلَيْنِ الْأَخْضَرَيْنِ او (همدارنګه) نه به تېزه ځي ښځه (د سړي په څېر) د سعی کولو پر مهال د میلین اخضرین (دوه زرغونه میلونو) په مېنځ کي بَلْ تَمْشِيْ عَلٰى هِيْنَتِهَا فِيْ جَمِيْعِ السَّعْيِ بَيْنَ الصَّفَا وَالْمَرْوَةِ بلکي ځي به په سکون (په آرامه. د خپل عادي رفتار مطابق) په ټوله سعی کي د صفا او مروه تر مېنځ.

تشریح: په دې عبارت کي د دویمي، دریمي او څلورمي مسئلې بیان دی:

②... دویمه مسئله دا ده چي ښځه به تلبیه په زوره (جهرا) نه وايي، بلکي په کراره (سرا) به وايي، او له دې څخه په زړه کي ویل مراد نه دي، بلکي دومره کرار ویل مقصود دي چي حروف صحیح اداء کیږي او ښځه یې خپله اوري او نور پردی خلک یې نه سي اورېدلای.

③... دريمه مسئله دا ده چې ښځه به په طواف کې رمل نه کوي، لکه څرنګه چې سړی د طواف په اولو دريو ګورنو (شوطونو) کې رمل کوي، رمل صرف د سړيو لپاره سنت دی.

④... څلورمه مسئله دا ده چې ښځه به د سعی بين الصفا والمروه په دوران کې د ميلين اخضرين تر مينځ تېزه نه ځي، دلته تګ تېزول صرف د سړيو لپاره سنت دي او ښځې له دې حکم څخه مستثنیٰ دي.

﴿۱۲۹۲﴾ وَلَا تَحْلِقُ وَتُقَصِّرُ او (همدارنګه) ښځه به سر نه خريي او قصر به کوي (يعني صرف ورېښتان به کوچني کوي اغېږي کوي اد ګوتي د سر په اندازه).

﴿۱۲۹۳﴾ وَتَلْبِسُ الْمَخِيْطَ او ښځه به ګنډل سوې (جوړه) جامه اغوندي.

﴿۱۲۹۴﴾ وَلَا تُزَاحِمُ الرِّجَالَ فِي اسْتِلَامِ الْحَجَرِ او (همدارنګه) ښځه به په سړيو نه ننوځي (د سړيو لپاره به ځنډ نه جوړېږي، نه به يې ديکه کوي) د حجرِ اسود په مسه کولو کې.

لغات: ﴿مخيط﴾ د ضرب له بابه مفعول دی: ګنډل سوې جامه، ﴿لا تُزاحِم﴾ د مفاعلې له بابه د نفي معلوم صيغه ده، مصدر: مُزَاحَمَةً و زِحَامًا: د زيات شمېر (رش) په وجه يو بل ديکه کول (په رش کې يو د بل سره ديکه کول)، ځنډ جوړېدل، مقابل کېدل، د زيات شمېر په وجه ځای تنګېدل.

تشريح: ⑤... پنځمه مسئله دا ده چې ښځه به سر نه خريي؛ ځکه دا د ښځي د زينت خلاف دي (چې په دې سره هغه پکه ګرځي)، نو ځکه صرف قصر به کوي.

⑥... شپږمه مسئله دا ده چې ښځه به د احرام په حالت کې ګنډل سوې او جوړه سوې کپړه اغوندي؛ ځکه که هغه هم د سړيو په څېر ناګنډل سوې کپړه په تن کړي، نو د هغې د عورت ښکاره کېدلو خطره سته.

⑦... اُوومه مسئله دا ده چې که په حجرِ اسود باندي د خلکو رش او ګڼه ګونه وي، نو ښځه به د حجرِ اسود د مسه کولو او مچولو په کوښښ کې په سړيو نه ننوځي، ځکه په پرديو سړو کې ننوتل او د هغو سره خپل بدن مسه کول ممنوع او حرام دي، حال دا چې حجرِ اسود مچول صرف سنت دي، ها! که ځای خالي وي، نو ښځې لره د حجرِ اسود د مچولو اجازه سته.

د حج کوم قسم افضل دی

﴿۱۲۹۵﴾ وَهٰذَا إِتْمَامُ حَجِّ الْمُفْرِدِ او دا د حجِ افراد کونکي (د بیان) بشپړ تیا ده (یعني په دې سره د حجِ افراد بیان پوره او پای ته ورسېدی. یا په بله وینا: دا پوره [ټوله] بیان د حجِ مُفرد دی) وَهُوَ دُوْنَ الْمُتَمَتِّعِ فِي الْفَضْلِ او هغه په فضیلت کي له (حجِ) تمتع کونکي څخه کم دی وَالْقِرَانُ أَفْضَلُ مِنَ التَّمَتُّعِ او (حجِ) قِران بیا له (حجِ) تمتّع څخه افضل دی.

لغات: ﴿الْمُفْرِد﴾ حجِ افراد کونکی، مخکي ذکر سوه چي حج پر درې قسمه دی: ① حَجِّ إِفْرَاد. دې ته وايي چي حاجي له میقات څخه یوازي د حج احرام وتړي (یعني فقط د حج لپاره احرام وتړي. نه د عمرې لپاره) او چي کله د حج ارکان اداء کړي او حج ختم کړي، نو احرام خلاص کړي، داسي حاجي ته مُفْرِد وايي، ② حَجِّ قِرَان، دې ته وايي چي له میقات څخه د حج او عُمرې دواړو احرام یو ځای وتړي، داسي حاجي ته قَارِن وايي، ③ حَجِّ تَمَتُّع، دې ته وايي چي د حج په میاشتو کي صرف د عمرې احرام وتړي او چي کله عمره ختمه کړي، نو احرام خلاص کړي، بیا د ذو الحجې په اتمه ورځ بانلدي د حج احرام وتړي، داسي حاجي ته مُتَمَتِّع وايي.

تشریح: دا مخکیني مسائل د حجِ افراد ول، لیکن د هغوی زیاتره مسائل په حجِ تمتّع او حجِ قران کي هم دي (یعني په تمتّع او قِران کي هم زیاتره داغه مسئلې دي). په را روان فصل کي مصنف رَحِمَهُ الله حجِ قران او حجِ تمتّع بیان کړي دي. بیا فرمايي چي حجِ قران تر ټولو افضل دی؛ ځکه په هغه کي حج او عمره دواړه یو ځای کول کیږي، تر هغه وروسته حجِ تمتع افضل دی؛ ځکه په هغه کي حج او عمره په یوه سفر کي اداء کیږي، که څه هم یو ځای نه کول کیږي، تر هغه وروسته حجِ افراد دی: ځکه په هغه کي یوازي حج اداء کیږي (او صاحب د انوارُ الایضاح لیکلي دي چي متأخرینو فقهاؤ حجِ تمتّع افضل ګرځولی دی. ځکه په حجِ قران کي د احرام موده د حجِ تمتّع په مقابله کي اوږده وي، چي په دې اوږده موده کي د إحرام د ممنوعاتو او پابندیو رعایت کولو د عامو خلکو لپاره مشکل دي، نو ځکه متأخرینو تمتّع افضل ګڼلی دی. د دې لپاره چي حج او حاجي له کوتاهیو او نیمګړتیاوو څخه په آسانه محفوظ پاته سي). (ثمرة النجاح. انوار الایضاح بتصرّفٍ)

* * *

فَصْلٌ

حجِ قران او د هغه طریقه

﴿۱۲۹۶﴾ اَلْقِرَانُ هُوَأَنْ يَّجْمَعَ بَيْنَ إِحْرَامِ الْحَجِّ وَالْعُمْرَةِ قِران دا دی چې (حج کونکی) د حج او عمرې د احرام تر مینځ جمع راولي (یعني چې د حج او عمرې دواړو احرام یو ځای وتړي).

﴿۱۲۹۷﴾ فَيَقُوْلُ بَعْدَ صَلَاةِ رَكْعَتَيِ الْإِحْرَامِ نو هغه دي د احرام له دوه رکعته لمونځ کولو څخه وروسته (داسې) وایي اَللّٰهُمَّ إِنِّيْ أُرِيْدُ الْعُمْرَةَ وَالْحَجَّ اې الله! زه د حج او عمرې (دواړو) اراده کوم فَيَسِّرْهُمَا لِيْ وَتَقَبَّلْهُمَا مِنِّيْ نو هغوی دواړه زما لپاره آسانه کړه! او زما څخه یې قبول کړه! ثُمَّ يُلَبِّيْ بیا دي تلبیه ووایي.

لغات: ﴿قِران﴾ په یوه احرام کې حج او عمره دواړه اداء کول.

تشریح: قِران (د قاف په کسره سره) د ضرب د باب قَرَنَ يَقْرِنُ مصدر دی، لغوي معنی یې ده: یو ځای کول (متصل کول)، جمع کول، او د شریعت په اصطلاح کې قِران دا دی چې د حج او عمرې دواړو احرام یو ځای وتړي، یا په بله وینا چې په یوه احرام سره حج او عمره دواړه اداء کړي (څرنګه چې دلته احرام تړونکي حج او عمره سره یو ځای کړل، نو ځکه دې حج ته حجِ قران وایي).

د حجِ قران طریقه دا ده چې د حج په میاشتو کې دې میقات ته ورسیږي، له غسل یا او دس کولو څخه وروسته دې احرام وتړي او دوه رکعته لمونځ دې په پټ سر وکړي، تر سلام وروسته دې سر خلاص کړي او مخ پر قبله دې کښېني او په زړه کې دې د حج او عمرې دواړو د احرام نیت وکړي او په ژبه سره دې داسې ووایي "اللّٰهم إني أريد... إلخ"، یا په پښتو دې یې ووایي: "اې الله! زه د حج او عمرې اراده لرم، ته زما لپاره دواړه آسانه کړه! او زما څخه یې قبول کړه!"، بیا دې تلبیه ووایي، نو په تلبیه ویلو سره هغه محرم ګرځي.

﴿۱۳۹۸﴾ فَإِذَا دخَلَ مَكَّةَ بیا چي کله مکې مکرمې ته داخل سي بَدَأَ بِطَوَافِ الْعُمْرَةِ سَبْعَةَ أَشْوَاطٍ نو شروع دې د عمرې په طواف سره وکړي، اووه دوره (دې ولګوي) يَرْمُلُ فِي الثَّلَاثَةِ الْأُوَلِ فَقَطْ رمل به فقط په اولو دریو دورونو (شوطونو) کي کوي ثُمَّ يُصَلِّ رَكْعَتَي الطَّوَافِ بیا دي د طواف دوه رکعته لمونځ وکړي ثُمَّ يَخْرُجُ إِلَى الصَّفَا بیا دي د صفا (غره) وطرف ته ووځي (روان سي) وَيَقُوْمُ عَلَيْهِ دَاعِيًا مُكَبِّرًا مُهَلِّلًا مُلَبِّيًا مُصَلِّيًا عَلَى النَّبِيِّ ﷺ او پر صفا دي ودریږي په داسي حال کي چي دئ دعاء کونکی (او) الله أکبر ویونکی، لا إله إلا الله ویونکی، تلبیه ویونکی (او) پر نبي کریم ﷺ درود ویونکی وي ثُمَّ يَهْبِطُ نَحْوَ الْمَرْوَةِ بیا دي د مروه (غره) وطرف ته شوه سي وَيَسْعَىٰ بَيْنَ الْمِيلَيْنِ او د میلین اخضرین تر مینځ دي سعی وکړي فَيُتِمُّ سَبْعَةَ أَشْوَاطٍ نو اووه دوره دي پوره کړي وَهٰذِهٖ أَفْعَالُ الْعُمْرَةِ او دغه د عمرې افعال دي وَالْعُمْرَةُ سُنَّةٌ او عمره سنت ده ثُمَّ يَطُوْفُ طَوَافَ الْقُدُوْمِ لِلْحَجِّ بیا دي د حج لپاره طوافِ قدوم وکړي ثُمَّ يُتِمُّ أَفْعَالَ الْحَجِّ بیا دي د حج افعال پوره کړي كَمَا تَقَدَّمَ لکه مخکي چي تېره سوه فَإِذَا رَمٰى يَوْمَ النَّحْرِ جَمْرَةَ الْعَقَبَةِ بیا چي کله د قربانۍ (لوی اختر) په ورځ جمرۂ عقبه وویلي وَجَبَ عَلَيْهِ ذَبْحُ شَاةٍ أَوْ سُبُعُ بُدْنَةٍ نو پر هغه دیوه پسه یا دیوې بَلنې (اوښ یا غویي) داوومي حصې ذبح (قرباني) واجبیږي فَإِذَا لَمْ يَجِدْ (لیکن) کله چي (د قربانۍ قدرت) نه وموندي (یعني که د پسه یا د بَلنې داوومي حصې قرباني نه سي کولای) فَصِيَامُ ثَلَاثَةِ أَيَّامٍ قَبْلَ مَجِيْءِ يَوْمِ النَّحْرِ مِنْ أَشْهُرِ الْحَجِّ نو د دریو ورځو روژې (پر هغه لازم) دي د یوم النحر له راتګ څخه مخکي د حج په میاشتو کي دننه وَسَبْعَةِ أَيَّامٍ بَعْدَ الْفَرَاغِ مِنَ الْحَجِّ وَلَوْ بِمَكَّةَ بَعْدَ مُضِيِّ أَيَّامِ التَّشْرِيْقِ او د اوو ورځو روژې له حج څخه تر فارغېدو وروسته (پر هغه لازم) دي، که څه هم په مکه کي (پاته) وي. د أیامِ تشریق له تېرېدو څخه وروسته وَلَوْ فَرَّقَهَا او که جلا، جلا ونیسي هغه (اووه روژې) جَازَ نو (هم) جائز دي.

لغات: ﴿یهبط﴾ د ضرب د باب مضارع معلومه ده: راکښته کېدل، راشوه کېدل، لاندي راتلل، ﴿شاة﴾ اسم جنس دی پسه، مېږه، وزګری، وزه (بزه) ټولو لره شامل دی، جمع: شِیَاه، همدارنګه الغَنَم یې جمع من غیرِ لفظهٖ ده، موږ د آسانۍ لپاره د دې معنیٰ په "پسه" سره کوو، ﴿سُبْع﴾ او سُبُع: اُوومه حصه، لکه ثُلْث او ثُلُث: دریمه حصه.

تشریح: اوس له دې ځایه د حجِ قران مکمل تفصیل بیانوي، فرمایي چې کله قارن ومکې شریفې ته داخل سي نو اول دې طوافِ قدوم نه کوي، بلکې د عمرې افعال دې شروع کړي، نو اول دې د عمرې طواف وکړي او دا طوافِ عمره فرض او رکن دی، او په دې طواف کې اضطباع او رمل هم سنت دي او تر دې طواف وروسته د صفا و مروه په مینځ کې سعی کول هم واجب دي، بیا دې د حج افعال شروع کړي، نو اول دې طوافِ قدوم وکړي او تر هغه وروسته دې سعی وکړي، بیا قارن چې کله د ذو الحجې په لسمه (دلوی اختر په ورځ) د جمرهٔ عقبه رمی وکړي، نو یوه قرباني دې وکړي؛ ځکه چې هغه ته په یوه سفر کې د حج او عمرې دواړو د کولو موقع تر لاسه سوه، نو ځکه په شکرانه کې یوه قرباني کول پر هغه واجبیږي، او په قربانۍ کې ورته دا اختیار دی چې یو پسه یا داسې نور ذبح کوي (یعني یو وزګری، یا یوه مېږه، یا یوه بزه)، او که یو پوره غویی یا اوښ ذبح کوي، او که د غویي یا اوښ اُوومه حصه قرباني کوي، تر دې وروسته دې سر وخریي او احرام دې خلاص کړي.

وروسته فرمایي چې که قارن پر قرباني کولو قدرت نه لري، نو پر هغه لس روژې واجبیږي، په دې طریقه سره چې درې روژې دې د ذو الحجې د لسمې (یومُ النحر) څخه مخکې د حج په میاشتو (یعني شوال، ذو القعده او لس ورځې د ذو الحجې، په دې دوران) کې ونیسي او اُووه روژې چې کله کور ته واپس راسي بیا دې یې ونیسي، افضل او مستحب دا ده چې هغه درې روژې له یومُ النحر څخه درې ورځې مخکې یعني د ذو الحجې په ۷، ۸ او ۹ ونیسي، که قارن هغه درې روژې نه ونیسي تر دې چې یومُ النحر یعني د ذو الحجې لسمه راسي، نو بیا دَم باندې واجبیږي.

او که پاته اُووه روژې له حج څخه تر فراغت وروسته په مکه شریفه کې نیول غواړي، نو شرط دا دی چې د ایامِ تشریق له تېرېدلو څخه وروسته به یې نیسي (ایام تشریق یعني د ذو الحجې له ۱۱ څخه تر ۱۳ پورې)، او دا اُووه روژې پرلپسې نیول هم ضروري نه دي، بلکې که یې جلا، جلا ونیسي، نو هم جائز دي. (انوار الایضاح، شفاء الارواح)

* * *

فَصْلٌ

حجِ تمتّع او د هغه طريقه او د حج تمتّع اقسام

﴿۱۳۹۹﴾ اَلتَّمَتُّعُ هُوَأَنْ يُحْرِمَ بِالْعُمْرَةِ فَقَطْ مِنَ الْمِيْقَاتِ (حجِ) تمتّع دا دی چې له ميقات څخه فقط (يوازې) د عمرې احرام وتړي.

﴿۱۴۰۰﴾ فَيَقُوْلُ بَعْدَ صَلَاةِ رَكْعَتَيِ الْإِحْرَامِ نو هغه دې د احرام له دوه رکعته لمونځ کولو څخه وروسته (داسې) وايي اَللّٰهُمَّ إِنِّيْ أُرِيْدُ الْعُمْرَةَ اې الله! زه د عمرې اراده کوم فَيَسِّرْهَا لِيْ وَتَقَبَّلْهَا مِنِّيْ نو هغه زما لپاره آسانه کړه! او زما څخه يې قبوله کړه! ثُمَّ يُلَبِّيْ بيا دې تلبيه ووايي.

﴿۱۴۰۱﴾ حَتّٰى يَدْخُلَ مَكَّةَ تر دې چې مکې ته داخل سي (يعني مکې ته تر داخلېدلو پورې دې تلبيه وايي) فَيَطُوْفُ لَهَا بيا دې د عمرې لپاره طواف وکړي وَيَقْطَعُ التَّلْبِيَةَ بِأَوَّلِ طَوَافِهٖ او تلبيه دې په خپل اول (شروع) د طواف کې ختمه کړي (پرېږدي) وَيَرْمُلُ فِيْهِ او په دې طواف کې دې رمل وکړي ثُمَّ يُصَلِّيْ رَكْعَتَيِ الطَّوَافِ بيا دې د طواف دوه رکعته لمونځ وکړي ثُمَّ يَسْعٰى بَيْنَ الصَّفَا وَالْمَرْوَةِ بَعْدَ الْوُقُوْفِ عَلَى الصَّفَا بيا دې د صفا او مروه تر مينځ سعی وکړي، پر صفا له درېدلو څخه وروسته كَمَا تَقَدَّمَ لکه مخکې چې تېر سوه (يعني لکه مخکې چې د دې بيان تېر سو) سَبْعَةَ أَشْوَاطٍ اووه دوره (يعني اووه شوطه دې د صفا او مروه تر مينځ سعی وکړي) ثُمَّ يَحْلِقُ رَأْسَهٗ أَوْ يُقَصِّرُ إِذَا لَمْ يَسُقِ الْهَدْىَ بيا دې سر وخريي يا دې يې کوچنی کړي (په دې شرط) کله چې ده هدی نه وي بېولې (يعني که چيرې ده د هدی ښاروی د ځان سره راوستلی نه وي) وَحَلَّ لَهٗ كُلُّ شَيْءٍ مِنَ

الْجِمَاعِ وَغَيْرِهٖ او د ده لپاره هر شی (کوم چې د احرام په وجه حرام سوي وو) یعني جماع او نور شیان حلال سوه وَيَسْتَمِرُّ حَلَالًا او حلال کېدونکی (بغیر له احرامه) دي پاته سي (یعني تر دې وروسته دي د حلالو کسانو په څېر بغیر له احرام ترلو څخه هلته پاته سي).

لغات: ﴿تمتّع﴾ په لنډه وینا دا چې په یوه احرام کي عمره کول او تر هغه وروسته په حرم کي پاتېدل او بیا د حج په موسم کي په بل احرام کي حج کول، ﴿لَمْ يَسُقْ﴾ د نصر له بابهٔ د جحد صیغه ده. سَاقَ يَسُوْقُ سَوْقًا و سِيَاقًا: بېول (هڅه کول)، روانول، چلول، ﴿یستمرّ﴾ د استفعال د باب مضارع ده، اِسْتَمَرَّ يَسْتَمِرُّ اِسْتِمْرَارًا: پر یوه حالت باقي پاتېدل، برابر جاري پاتېدل.

تشریح: د تمتّع لغوي معنیٰ ده: نفع اخیستل، او د شریعت په اصطلاح کي تمتّع دا دی چې د حج په میاشتو کي له میقات څخه یوازي د عمرې احرام وتړي او د عمرې له پوره کولو څخه وروسته احرام خلاص کړي او په میقات کي پاته سي (یعني خپل وطن ته واپس ولاړ نه سي بلکي په هاغه سفر کي) بیا د حج په میاشتو کي د حج احرام وتړي او حج پوره کړي، دې ته حجِ تمتّع وایي، (تمتّع ځکه ورته وایي چې هغه له عمرې څخه وروسته د احرام خلاصولو نفع واخیستله؛ ځکه کوم شیان چې د احرام په وجه ورته ممنوع وه. هغه د حج او عمرې په مینځ کي ورته حلال سوه او س دئ په پوره توګه نفع ځني اخیستلای سي، همدارنګه په یوه سفر کي یې د عُمرې او حج دواړو عبادتونو د اداء کولو نفع واخیستله، نو ځکه دې حج ته حجِ تمتّع وایي. په خلاف د قِران چې هغه له عمرې څخه تر فراغت وروسته هم محرم پاتېږي او له ممنوعه شیانو څخه نفع نه سي اخیستلای).

د حجِ تمتّع طریقه دا ده چې له میقات څخه دي اول د عمرې احرام وتړي او د صلاةُ الإحرام (دوه رکعته لمونځ کولو) څخه وروسته دي هغه دعاء ووایي کوم چې په متن کي ذکر سوه، یا په خپله ژبه دي یې ووایي چې "اې الله! زه د عمرې اراده لرم، هغه زما لپاره آسانه کړه!..."، بیا دي تلبیه ویل شروع کړي، په تلبیه ویلو سره هغه محرم ګرځي، پاته طریقه به په راروان عبارت کي ذکر سي.

حتّٰی یدخل مکة إلخ: د حجِ تمتّع دوه صورتونه دي: ① یو دا چې حجِ تمتّع کونکی د هدی څاروی د ځان سره نه بوځي (حرم ته)، ② او دویم صورت دا چې د هدی څاروی د ځان سره بوځي (په اول صورت کي تر عمره کولو وروسته حلالیږي، بیا دي د ذو الحجې پر اتمه د حج احرام تړي. او په دویم صورت کي تر عمره کولو وروسته نه حلالیږي بلکي د حج تر پوره کولو وروسته له دواړو احرامونو څخه یو ځای حلالیږي)، د هر یوه حکم جلا دی، مصنف رَحِمَهُ الله اولاً د اول صورت بیان کوي، نو فرمایي چې حجِ تمتّع کونکی چې کله ومکې شریفي ته داخل سي، نو اول دي طوافِ قدوم نه کوي، بلکي د عمرې افعال دي وکړي، یعني اول دي د عمرې طواف وکړي، او تلبیه کوم چې یې تر اوسه ویله، هغه دي پرېږدي. په دي

طواف کي دي اضطباع او رمل هم وکړي، بیا دي دوه رکعته صلاة طواف وکړي او د صفا او مروه تر مینځ دي سعی هم وکړي او بیا دي سر وخریي یا دي ورېښتان کوچني کړي او احرام دي خلاص کړي، تر دې وروسته دي د مکې د اوسېدونکو په څېر بغیر له احرام ترلو څخه هلته پاته سي. او دویم صورت یعني که چیري یې د هدی ځاروی (د قرباني ځاروی) د ځان سره بېولی وي، نو د هغه بیان به په را روان عبارت کي وسي.

﴿۱۴۰۲﴾ وَإِنْ سَاقَ الْهَدْيَ او که هدی یې (د ځان سره) بېولې وي لَايَتَحَلَّلُ مِنْ عُمْرَتِهٖ نو له عمرې څخه نه حلالیږي (یعني په دې صورت کي په عمره کولو سره نه حلالیږي، بلکي محرم پاتیږي) فَإِذَا جَاءَ يَوْمُ التَّرْوِيَةِ بیا چي کله چي یومُ الترویه (د ذوالحجې اتمه ورځ) راسي يُحْرِمُ بِالْحَجِّ مِنَ الْحَرَمِ نو د حج احرام دي وتړي له (همدې) حرم شریف څخه وَيَخْرُجُ إِلٰى مِنٰى او منیٰ شریفې ته دي ووځي فَإِذَا رَمٰى جَمْرَةَ الْعَقَبَةِ يَوْمَ النَّحْرِ بیا چي کله په یومُ النحر (د لوی اختر په ورځ) جمرهٔ عقبه وویلي (د جمرهٔ عقبه له رمی څخه فارغ سي) لَزِمَهٗ ذَبْحُ شَاةٍ أَوْ سُبْعُ بَدَنَةٍ نو پر هغه د یوه پسه یا د بُلنې (اوښ یا غویي) د اُوومي حصې ذبح (قرباني) لازمیږي فَإِنْ لَّمْ يَجِدْ بیا که (د قرباني قدرت) نه ومومي فَصِيَامُ ثَلَاثَةِ أَيَّامٍ قَبْلَ مَجِيْءِ يَوْمِ النَّحْرِ نو د دریو ورځو روژې (پر هغه لازم) دي د یومُ النحر له راتګ څخه مخکي وَسَبْعَةٍ إِذَا رَجَعَ كَالْقَارِنِ او اُووه روژې (تر هغه وروسته پلاندې لازم) دي کله چي را واپس سي (یعني له حج څخه فارغ سي) د قارن په څېر فَإِنْ لَّمْ يَصُمِ الثَّلَاثَةَ حَتّٰى جَاءَ يَوْمُ النَّحْرِ بیا که (مخکینی) درې روژې نه ونیسي تر دې چي یومُ النحر (د لوی اختر ورځ) راسي تَعَيَّنَ عَلَيْهِ ذَبْحُ شَاةٍ نو پر هغه د پسه ذبح کول متعیّن کیږي وَلَايُجْزِئُهٗ صَوْمٌ وَلَا صَدَقَةٌ او (اوس) نه کافي کیږي د هغه لپاره روژه او نه صدقه.

تشریح: فرمایي چي که حج تمتع کونکی د هدی ځاروی د ځان سره بېولی وي، نو بیا هغه په عمره کولو سره حلال نه ګرځي، بلکي محرم پاتیږي، نو ځکه تر عمره کولو وروسته دي سر نه خریي، همداسي دي په احرام کي پاته سي (او که تر عمرې وروسته یو جنایت وکړي، نو دم واجبیږي)، بیا چي کله د ذوالحجې اتمه ورځ راسي، نو په دې ورځ دي سهار د حرم په حدودو کي له خپل ځای

څخه د حج احرام وتړي او منیٰ ته دي روان سي او مستحب دا ده چي مسجدِ حرام ته راسي. طواف او صلاة طواف (دوه رکعته) وکړي بيا احرام وتړي او منیٰ ته ولاړ سي، بيا دي د ذو الحجې په لسمه د جمرۂ عقبه تر رمی وروسته د تمتّع قرباني وکړي (ځکه ده په يوه سفر کي عمره او حج دواړه اداء کړل. نو ځکه د شکرانې په توګه به قرباني کوي چي هغه يو شاة دی يا د بدنې اوومه حصه ده) او بيا دي حلق يا قصر وکړي او احرام دي خلاص کړي، اوس هغه د حج او عمرې دواړو له احرام څخه حلال سو. د پاته عبارت تفصيل د حجِ قِران په فصل کي د ﴿۱۳۹۸﴾ نمبر مسئلې د تشريح په آخر کي تېر سو.

فَصْلٌ

د عمرې حکم او وخت

﴿۱۴۰۳﴾ اَلْعُمْـرَةُ سُنَّـةٌ عمره سنت ده.

﴿۱۴۰۴﴾ وَتَصِحُّ فِـىْ جَمِيْعِ السَّنَةِ او عمره په ټوله کال کي صحيح کيږي وَتُكْرَهُ يَـوْمَ عَرَفَةَ وَيَـوْمَ النَّحْرِ وَأَيَّامَ التَّشْرِيْـقِ او د عرفات په ورځ او د قربانی (لوی اختر) په ورځ او د تشريق په ورځو کي مکروه ده.

تشريح: عمره کول فرض يا واجب نه ده، بلکي د صحيح قول مطابق د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نيز سنتِ مؤکده ده.

وتصح فی جميع إلخ: عمره د کال په هره مياشته کي کول صحيح دي، خو څرنګه چي د رژوې مبارکي په مياشته کي د اعمالو ثواب څو چنده زياتيږي، د بخاري شريف په حديث کي دي چي نبي کريم ﷺ وفرمايل چي د رمضان عمره د پوره حج برابره ده. لهذا که موقع وي، نو د روژې په مياشته کي د عمرې کوشش کول پکار دي، او د حج په ورځو (يعني له نهمي ذو الحجې څخه تر ديارلسمي ذو الحجې پورې په دې ورځو) کي د عمرې احرام تړل او عمره کول ښه نه دي او مکروه دي.

او صاحب د انوار الايضاح د "ايضاح المسالک" په حواله سره ليکلي دي چي په دې ورځو کي د عمرې احرام تړل ناجائز او ممنوع دي؛ ځکه چي دغه ورځي الله تعالیٰ د حج د ارکانو لپاره خاص

کړي دي، لهذا که په دې ورځو کي عمره وکړل سي، نو د حج مناسک به په صحیح طریقه سره اداء نه سي، نو ځکه په دې ورځو کي عمره کول ممنوع او ګناه ده (دا حکم به د حاجي لپاره وي). (انوار الایضاح)

د عمرې کولو طریقه

﴿۱۲۰۵﴾ وَكَيْفِيَّتُهَا أَنْ يُّحْرِمَ لَهَا مِنْ مَّكَّةَ مِنَ الْحِلِّ او د عمرې طریقه دا ده چي احرام وتړي د عمرې لپاره له مکې څخه (یعني څوک چي په مکه کي وي) له حلّ څخه بِخِلَافِ إِحْرَامِهٖ لِلْحَجِّ په خلاف د ده د احرام تړولو د حج لپاره فَإِنَّهٗ مِنَ الْحَرَمِ ځکه چي هغه له حرم څخه دی (یعني له حرم شریف څخه تړل کیږي، نه له حلّ څخه).

لغات: ﴿حِلّ﴾ د حرم او میقات په مینځ کي واقع حصې ته او دننه میقات ته حلّ ویل کیږي، یعني کومه سیمه او علاقه چي د میقات او حرم شریف تر مینځ واقع ده، هغه ته حِلّ وایي، همدارنګه میقات هم په حِلّ کي راځي، ﴿حرم﴾ د کعبې شریفي څلور سره طرفونو ته مخصوص علاقه ده او هغه د حکومت له طرفه نښاني کړل سوې ده.

تشریح: د عبارت حاصل دا دی چي کوم خلک په مکه شریفه کي اوسیږي، د هغو لپاره د عمرې د احرام تړلو میقات حِل دی، یعني دوی به له حرم یا له مسجدِ حرام څخ د عمرې احرام نه تړي، بلکي حِلّ ته به ځي او هلته چي له کومه ځایه وغواړي، احرام دي وتړي، لیکن افضل دا ده چي له تنعیم څخه احرام وتړي کوم چي تر ټولو نژدې حِلّ دی. او آفاقي (بهرنی کس) که د عمرې په نیت سره مکې شریفي ته راځي، نو له خپل میقات څخه به د عمرې احرام وتړي، او تر دې وروسته به مکّې ته راسي، طواف او سعی بین صفا والمروه به وکړي، بیا به حلق وکړي او احرام به خلاص کړي. نو عمره وسوه.

او پاته سو حج، نو په هغه کي چي کوم څوک د مکّې شریفي وي، هغه به له حرم یا مسجدِ حرم څخه احرام تړي، او کوم کس چي له بهر څخه راځي (یعني آفاقي)، هغه به له خپل میقات څخه احرام تړي. (انوار الایضاح، ثمرة النجاح)

د عمرې افعال

﴿۱۲۰۶﴾ وَأَمَّا الْاٰفَاقِيُّ الَّذِيْ لَمْ يَدْخُلْ مَكَّةَ او کوم چي هغه اطرافي (بهرنی) کس دی کوم چي مکّې ته نه وي داخل سوی فَيُحْرِمُ إِذَا قَصَدَهَا مِنَ الْمِيْقَاتِ نو هغه دي (د عمرې) احرام له میقات څخه وتړي کله چي د مکّې قصد وکړي ثُمَّ يَطُوْفُ وَيَسْعٰى لَهَا بیا دي طواف وکړي او

سعی دي وکړي د عمرې لپاره ثُمَّ يَحْلِقُ بیا دي سر وخریي وَقَدْ حَلَّ مِنْهَا او (اوس) هغه له عمرې څخه حلال سو كَمَا بَيَّنَّاهُ بِحَمْدِ اللهِ لکه (مخکي چي) موږ الحمد لله دا بیان کړه.

لغات: ﴿آفاق﴾ مخکي یې څو ځله تعریف تېر سوی دی چي هغه حاجي یا عمره کونکي ته وایي کوم چي له میقات څخه بهر له بل وطن او بل ملک څخه حرم شریف ته راغلی وي، مثلاً افغاني، پاکستاني، یمني، مصري او داسي نور، له آفاق څخه مراد دلته د دنیا هر هغه ملک او علاقه ده کوم چي له میقات څخه بهر وي، د هغه اوسېدونکي ته آفاقي ویل کیږي او د هغه لپاره له احرام څخه بغیر له میقات څخه تېرېدل ممنوع دي، کله چي یې حرم ته د تللو اراده وي.

تشریح: عمره کونکی که آفاقي وي، نو هغه دي له خپل میقات څخه د عمرې په نیت احرام وتړي او تر احرام تړلو وروسته دي راسي، طواف دي وکړي یعني اُووه دَوره (اووه شَوطه) دي پر کعبې شریفي راوګرځي، بیا دي همداسي سعی بین الصّفا والمره وکړي، بیا دي سر وخریي، یا دي وربښتان کوچني کړي او له عمرې څخه دي حلال سي، دا د عمرې افعال دي.

خلاصه دا چي د عمرې دا پنځه (۵) اعمال دي: ① احرام تړل، ③ تر هغه وروسته دا احرام دوه رکعته لمونځ کول، ③ بیا په کعبه شریفه باندي اُووه دَوره طواف کول (په طواف کي رمل او اضطباع کول)، ④ تر هغه وروسته د طواف دوه رکعته لمونځ کول، ⑤ بیا د صفا او مروه تر مینځ اُووه دَوره سعی کول، ⑥ بیا حلق یا قصر کول.

په حج کي د عرفات او جمعې ورځ سره یو ځای کېدل
(کوم ته چي د عوامو په اصطلاح حج اکبر ویل کیږي)

﴿۱۳۰۷﴾ وَأَفْضَلُ الْأَيَّامِ يَوْمُ عَرَفَةَ إِذَا وَافَقَ يَوْمَ الْجُمُعَةِ او افضل د ورځو د عرفات ورځ ده، کله چي موافقه (برابره) سي د جمعې د ورځي سره (یعني کله چي په حج کي عرفات د جمعې په ورځ وي) وَهُوَ أَفْضَلُ مِنْ سَبْعِيْنَ حَجَّةً فِيْ غَيْرِ جُمُعَةٍ او دا افضل دي له اویا (۷۰) هغه حجونو څخه کوم چي په جمعه کي نه وي (یعني چي په هغه کي عرفات د جمعې په ورځ نه وي) رَوَاهُ صَاحِبُ مِعْرَاجِ الدِّرَايَةِ بِقَوْلِهٖ: دا (خبره) صاحب د معراجُ الدّرایة رَحِمَهُ الله نقل کړې ده په خپل دې قول سره: (وقد صحّ...) وَقَدْ صَحَّ عَنْ رَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنَّهُ قَالَ: چي له رسولُ الله ﷺ څخه په صحیح توګه (په صحیح روایت سره) ثابت دي چي هغوی ﷺ وفرمایل: أَفْضَلُ الْأَيَّامِ يَوْمُ عَرَفَةَ

إِذَا وَافَقَ جُمُعَةً وَهُوَأَفْضَلُ مِنْ سَبْعِيْنَ حَجَّةً چي افضله دورځو د عرفات ورځ ده کله چي موافقه (برابره) سي د جمعې د ورځي سره او دا له اويا (۷۰) حجونو څخه افضل دي ذَكَرَهُ فِيْ تَجْرِيْدِ الصِّحَاحِ بِعَلَامَةِ الْمُؤَطَّا دا يې په "تجريد الصحاح" کي د مؤطا په علامت (په حواله) سره ذکر کړي دي وَكَذَا قَالَ الزَّيْلَعِيُّ شَارِحُ الْكَنْزِ او همداسي د کنز الدقائق شارح علامه زيلعي رَحِمَهُ الله فرمايلي دي.

تشريح: د عبارت حاصل دا دی چي که عرفات د جمعې په ورځ وي، نو د دې حج فضيلت ډېر زيات دی چي دا حج د نورو ورځو له اويا (۷۰) حجونو څخه افضل دی؛ ځکه د عرفات ورځ هم افضله ده او د جمعې ورځ هم افضله ده، نو د دواړو د يو ځای کېدلو په صورت کي فضيلت ډېر زياتيږي، لکه څرنګه چي په حديث کي دي چي "افضله دورځو ورځ د عرفات ده او کله چي عرفات او د جمعې ورځ سره يو ځای سي نو هغه حج له اويا حجونو څخه افضل دی"، همدارنګه کله چي عرفات د جمعې په ورځ سي، نو د عرفات په ميدان کي وقوف کونکو ټولو حاجيانو ته مغفرت کول کيږي. (زيلعي ج: ۲، ص: ۲۶، طحطاوی علی مراقی الفلاح ص: ۴۰۳، ايضاح المناسک ص: ۵۲)

فايده: په عوامو کي مشهوره ده چي کوم حج د جمعې په ورځ واقع سي، هغه حجِ اکبر دی، د حديثو په کتابو کي د دې ثبوت نه ترلاسه کيږي او نه د فقهي په کتابو او د مجتهدينو په اقوالو کي د دې ثبوت سته، خو په حديث او فقه کي د دې صراحت سته چي حجِ اصغر عمره ته وايي او حجِ اکبر خپله حج ته وايي "الحج الأكبر يوم النحر والحج الأصغر العمرة" (ترمذی شريف ج: ۱، ص: ۱۸۶) قال الزّهری والشعبی وعطاء: الأكبر الحجّ والأصغر العمرة. (شامي ج: ۲، ص: ۶۲۲، ط: کراچي)

په مکه شريفه کي استوګنه اختيارول

﴿۱۲۰۸﴾ وَالْمُجَاوَرَةُ بِمَكَّةَ مَكْرُوْهَةٌ عِنْدَ أَبِيْ حَنِيْفَةَ رَحِمَهُ اللهُ تَعَالٰى او په مکه کي اوسېدل (اړول) مکروه دي د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نېز لِعَدَمِ الْقِيَامِ بِحُقُوْقِ الْبَيْتِ وَالْحَرَمِ د بيتُ الله (کعبې شريفي) او حرم شريف د حقوقو د نه اداء کېدلو په وجه (يعني دا توان نه لري چي د کعبې او حرم شريف حقوق هميشه اداء او ترسره کړل سي) وَنَفَى الْكَرَاهَةَ صَاحِبَاهُ رَحِمَهُمَا اللهُ تَعَالٰى او نفي

کړې یې دی (دا) کراهت د امام صاحب رَحِمَهُ الله دوو ملګرو (یارانو) الله تعالی دې پر دوی رحم وکړي (یعني امام محمد او امام ابویوسف رَحِمَهُمَا الله د دې نفي کړې دي).

لغات: ﴿مجاورة﴾ د مفاعلې د باب مصدر دی، جَاوَرَهُ مُجَاوَرَةً و جِوَارًا: نژدې اوسېدل، په څنګ کې جوخت ور سره اوسېدل، که په صله کې یې مسجد ذکر سي، نو معنیٰ یې ده: اعتکاف پکښې کول.

تشريح: امام صاحب رَحِمَهُ الله فرمايي چې مکّه يو معزّز او محترم ځای دی، چې د هغه فضائل په قرآن او حديث کې بې شمېره دي، په قرآن شريف کې د "بلد أمين" په نوم سره قسم په اخيستل سوی دی، نو که څوک هلته زيات وخت پاته سي، نو ممکنه ده چې د هغې کما حقهٗ احترام او د هغې د حقوقو رعايت نه وکړل سي او په زړه کې د دې مقدّس ځای د عظمت او لوړې مرتبې کمي راسي، لکه څرنګه چې ښکاره همدا ده چې تر ډېره وخته د يو ځای يا يو کس د حقوقو رعايت کول او کما حقهٗ احترام يې کول مشکل دي (خصوصاً د عوامو لپاره)، نو پر دې بنياد هلته د بهرني خلګو لپاره مستقل پاتېدل او استوګنه اختيارول مکروه دي (او په عمدةُ الفقه کې دي چې امام صاحب رَحِمَهُ الله د دې کراهت حکم د خپلې زماني په اعتبار سره ورکړی دی، که چيري هغه زموږ د زمانې مجاورين ليدلي وای، نو بېله شکه به يې هلته مستقل قيام حرام ګرځولی وای)، لېکن بيا هم که يو څوک هلته د استېدلو په صورت کې د دې مقدّس ځای پوره ادب او احترام کولای سي او هلته د زړه په زيات رغبت سره د حقوقو رعايت کولای سي (او له ګناهونو او ممنوعاتو څخه په کلکه ځان ساتلای سي، کوم چې ډېر مشکل دي)، نو د هغه لپاره په مکه مکرّمه کې مستقل پاتېدل بلا نزاع افضل دي.

او صاحبينو رَحِمَهُمَا الله د کراهت نفي په دې وجه کړې دي چې په دې مقدّس او مبارک ځای کې وخت تېرول او د عبادت موقع ترلاسه کېدل يو غنيمت دی، په دې کې چې څومره وخت هم تېر سي او د عبادت موقع ترلاسه سي، نو هم کم دی. او صاحب د ثمرةُ النجاح د دې وجه دا هم ليکلې ده چې حضرت ابراهيم عليه السلام د مکې مکرّمې د استوګنې لپاره دعاء کړې ده لکه څرنګه چې په دې آيت کې دي: ﴿رَبَّنَا إِنِّيْ أَسْكَنْتُ مِنْ ذُرِّيَّتِيْ بِوَادٍ غَيْرِ ذِيْ زَرْعٍ عِنْدَ بَيْتِكَ الْمُحَرَّمِ رَبَّنَا لِيُقِيْمُوا الصَّلٰوةَ فَاجْعَلْ أَفْئِدَةً مِنَ النَّاسِ تَهْوِيْ إِلَيْهِمْ وَارْزُقْهُمْ مِنَ الثَّمَرَاتِ لَعَلَّهُمْ يَشْكُرُوْنَ﴾ [سورة ابراهيم: ۳۷]، په دې آيت کې حضرت ابراهيم عليه السلام کعبې شريفې ته د نژدې اوسېدلو دعاء کړې ده، همدارنګه په حديث شريف کې له حضرت عائشې رضي الله عنها څخه روايت دی فرمايي: کله چې موږ مدينې شريفې ته راغلو، نو حضرت ابوبکر رضي الله عنه او داسې نورو صحابه وو نبي کريم صلى الله عليه وسلم ته شکايت وکړی، نبي کريم صلى الله عليه وسلم چې د دوی شکايت (او ديغت) وليدی، نو دا دعاء يې وکړه "اَللّٰهمّ حَبِّبْ إلينا المدينة كما حَبَّبْتَ مَكَّةَ أَوْ

أشَنّ. . . . " (مسلم شریف، باب الترغیب فی سکن المدینة... ص: ۵۷۶، حدیث رقم: ۱۳۷۶، ۳۳۴۲)، له دې حدیث څخه دا هم معلومیږي چې د مکې مکرّمې سره محبت ساتل پکار دي، چې په دې سره (د صاحبینو د تائید لپاره) استدلال کېدلای سي چې په مکه مکرّمه کي قیام کول مکروه نه دي (خو د هغه کس لپاره چې په ځان یې پوره باور وي). (انوار الایضاح، ثمرة النجاح)

* * *

فایده: د حج د دریو سره قسمونو او د عمرې هغه ټوله افعال کوم چې فرض یا واجب او داسې نور دي، هغوی ټوله د آسانۍ لپاره په جلا، جلا نقشه کي پېښول کیږي، چې په ټولو افعالو باندې یو ځای معلومات راسي.

د حج افراد افعال او د هغوی حکم

۱	دحج احرام	شرط
۲	طوافَ قدوم	سنّت
۳	د منیٰ قیام (یعني په منیٰ کي پاتېدل او شپه تېرول) د اتم (۸) ذو الحجې له ماپښین څخه د نهم (۹) ذو الحجې تر سهاره	سنّت
۴	وقوف عرفات پر (۹) د ذو الحجې	رکن
۵	وقوف مزدلفه پر (۱۰) د ذوالحجې	واجب
۶	د جمرۂ عقبه (آخري شیطان) ویشتل پر (۱۰) د ذوالحجې	واجب
۷	د سرو ښتان خرییل یا کوچني کول (لنډول)	واجب
۸	طوافِ زیارت د (۱۰) ذو الحجې څخه بیا تر (۱۲) ذوالحجې پوري	رکن
۹	رمل او اضطباع	سنّت
۱۰	سعی	واجب
۱۱	د دریو سره جمراتو رمی (دري سره شیطانان ویشتل) پر ۱۱، ۱۲ د ذو الحجې	واجب
۱۲	په منیٰ کي د رمی شپې تېرول	سنّت
۱۳	طوافِ وداع (خپل وطن ته د واپسۍ په وخت کي)	واجب

د حج قران افعال او د هغوی حکم

۱	د حج او عمرې احرام	شرط
۲	طواف عمره (۴ شوطه)	رکن
۳	رمل او اضطباع	سنت
۴	د عمرې سعی	واجب
۵	طواف قدوم سره د رمل او اضطباع	سنت
۶	د حج سعی	واجب
۷	د منیٰ قیام د اتم (۸) ذو الحجې له ماپښین څخه د نهم (۹) ذو الحجې تر سهاره	سنت
۸	وقوف عرفات (۹ ذوالحجة)	رکن
۹	وقوف مزدلفه (۱۰ ذوالحجة)	واجب
۱۰	د جمرهٔ عقبه (آخري شیطان) ویشتل (۱۰ ذوالحجة)	واجب
۱۱	قرباني د ۱۰ ذوالحجې څخه بیا تر ۱۲ ذوالحجې پورې	واجب
۱۲	د سر وېښتان کوچني کول	واجب
۱۳	طواف زیارت کول	رکن
۱۴	د دریو سره جمراتو رمی (درې سره شیطانان ویشتل) پر ۱۱، ۱۲ د ذو الحجې	واجب
۱۵	په منیٰ کې د رمی شپې تېرول	سنت
۱۶	طواف وداع (د واپسی په وخت کې)	واجب

د حج تمتّع افعال او د هغوی حکم

۱	د حج او عمرې احرام	شرط
۲	طواف عمره	رکن
۳	رمل او اضطباع	سنت
۴	د عمرې سعی	واجب
۵	د سر وېښتان خرییل یا کوچني کول	واجب

۶	د حج احرام تړل	شرط
۷	د منیٰ قیام د اتم (۸) ذو الحجې له ماپښین څخه د نهم (۹) ذو الحجې تر سهاره	سنت
۸	وقوفِ عرفات (۹ ذوالحجة)	رکن
۹	وقوفِ مزدلفه (۱۰ ذوالحجة)	واجب
۱۰	د جمرهٔ عقبه (اخري شیطان) ویشتل (۱۰ ذوالحجة)	واجب
۱۱	قرباني	واجب
۱۲	طوافِ زیارت کول	رکن
۱۳	دحج سعي	واجب
۱۴	د دریو سره جمراتو رمی (دري سره شیطانان ویشتل) پر ۱۱، ۱۲ د ذو الحجې	واجب
۱۵	په منیٰ کې د رمی شپې تېرول	سنت
۱۶	طوافِ وداع	واجب

د عمرې افعال او د هغوی حکم

۱	احرام تړل	شرط
۲	طواف	رکن
۳	رمل	سنت
۴	اضطباع	سنت
۵	سعی	واجب
۶	د سرو ېښتان خرېیل یا کوچني کول (لنډول)	واجب

* * *

بَابُ الْجِنَايَاتِ

(دا) باب د جنايتونو (په بيان کي) دی

د حج او احرام له بيان څخه تر فراغت وروسته اوس هغه عوارض ذکر کوي کوم چي احرام ته عارضيږي، او معلومه خبره ده چي عوارض وروسته پيښيږي، نو ځکه يې بَابُ الْجِنَايَات وروسته ذکر کړی؛ جنايات جمع د جنايةٌ ده، لغوي معنیٰ يې ده: جرم، او اصطلاحي معنیٰ يې ده: هغه کار چي په حالت د احرام کي يا په بله وينا د حج او عمرې په دوران کي شرعاً ممنوع وي او په جناياتو کي د بعضو تعلق د احرام سره دی او د بعضو تعلق د حرم د حدودو سره دی، پر دغه جناياتو په شريعت کي څه جزاګاني مقرّره دي کوم چي پر جنايت کونکي (جنايتکاره) باندي لازميږي، برابره ده هغه قصداً جنايت کړی وي او که په غلطي سره، په مسئله خبر وي او که نه وي، مالدار وي او که فقير وي، د ټولو حکم برابر دی. (عمدة الفقه)

د بعضي اصطلاحاتو وضاحت: د جناياتو په باب کي څه خاص اصطلاحات مستعمل دي، د هغوی وضاحت په لاندي ډول دی:

دَم: له دې څخه مراد يو پسه، وزګری او داسي نور (يعني مېږه او بزه) دي، يا د لوی څاروي (يعني د اوښ، غوبي او داسي نورو) اُوومه حصه ده، بدنة: له دې څخه مراد اُوښه، غويی، ګامېښه او داسي نور څارويان دي، صدقة: عموماً له دې څخه مراد د يوه صدقهٔ فطر (سرسايې) مقدار وي، يعني يو صاع اُوربشي، يا يو صاع خرماوي يا کشمش او داسي نور يا نيم صاع غنم يا د هغه قيمت، خو بعضي وخت د صدقه مقدار له دې څخه کم يا زيات هم کيږي چي د هغه تفصيل به د مسئلو په ضمن کي درج سي، جزاء، کفارة، فدية: د دې الفاظو اطلاق د موقع مطابق پر دَم او صدقه دواړه باندي کيږي، لهذا چيري چي دا الفاظ استعمال وي، هلته د نورو شرائطو په خيال ساتلو سره به حکم متعيّنول کيږي.

د جنايت قسمونه

﴿۱۳۰۹﴾ هِيَ عَلٰى قِسْمَيْنِ جنايات پر دوه قسمه دي جِنَايَةٌ عَلَى الْإِحْرَامِ (۱) (يو) جنايت (جرم) پر احرام دی (يعني داسي فعل کول کوم چي د احرام په حالت کي ممنوع وي) وَ جِنَايَةٌ عَلٰى

الْحَرَمِ (۲) او (دویم) جنایت پر حرم دی (یعني داسي فعل کول کوم چي په حرم کي ممنوع وي) وَالثَّانِيَةُ لَا تَخْتَصُّ بِالْمُحْرَمِ او دویم (قسم) جنایت د محرم سره خاص نه دی (بلکي هر څوک چي هم دا جنایت وکړي، برابره ده محرم وي او که غیرِ محرم، نو هغه جنایتکار او مجرم دی).

لغات: ﴿مُحْرِم﴾ د افعال د باب فاعل دی: احرام تړونکی، احرام والا.

تشریح: جنایت پر دوه قسمه دی: ① یو جنایت دا دی چي د حلال والي په حالت کي (یعني چي انسان احرام نه وي تړلی) د هغه کول جائز وي، لیکن د احرام په حالت کي د هغه کار کول ناجائز او جرم سي، لکه ګنډل سوي (جوړه، تیاره) کپړه اغوستل جائز دي، لیکن کله چي احرام وتړي (نو محرم سو)، نو تر دې وروسته د ګنډل سوي جامې اغوستل ناجائز سوه. دا د احرام جنایت (جنایت علی الإحرام) سو. دا جنایت برابره ده محرم یې په حرم کي وکړي او که یې له حرم څخه دباندي (بهر) وکړي، په هر وخت کي جنایت دی، په دې شرط چي په احرام کي وي یعني محرم وي، ② دویم قسم د حرم جنایت دی، مثلاً ښکار کول جائز دي، لیکن په حرم کي ښکار کول جنایت دي، دا قسم جنایت (جنایت علی الحرم) برابره ده احرام والا (محرم) یې وکړي او که بغیر له احرام والا (غیرِ محرم) وکړي، په هر صورت کي جنایت دی، په دې شرط چي په حرم کي وي. (ثمرة النجاح)

﴿۱۲۱۰﴾ وَجِنَايَةُ الْمُحْرِمِ عَلٰى أَقْسَامٍ او د محرم جنایت پر څو قسمه دی مِنْهَا مَا يُوْجِبُ دَمًا له هغوی څخه بعضي خو هغه دي کوم چي دَم (پسه وغیره) واجبوي وَمِنْهَا مَا يُوْجِبُ صَدَقَةً او بعضي هغه دي کوم چي صدقه واجبوي وَهِيَ نِصْفُ صَاعٍ مِنْ بُرٍّ او هغه (د صدقې مقدار) نیم صاع دی له غنمو څخه وَمِنْهَا مَا يُوْجِبُ دُوْنَ ذٰلِكَ او بعضي هغه دي کوم چي له دې څخه هم کم (مقدار) واجبوي وَمِنْهَا مَا يُوْجِبُ الْقِيْمَةَ او بعضي هغه دي کوم چي قیمت واجبوي (یعني چي د هغه په وجه قیمت واجبیږي) وَهِيَ جَزَاءُ الصَّيْدِ او هغه د ښکار جزاء ده (یعني که څوک په حرم کي ښکار وکړي، نو د دې جنایت په جزاء (بدله) کي د ښکار قیمت واجبیږي) وَيَتَعَدَّدُ الْجَزَاءُ بِتَعَدُّدِ الْقَاتِلِيْنَ الْمُحْرِمِيْنَ او جزاء (بدله) متعدده (مکرّره) کیږي د (احرام تړونکو) قاتلانو (ښکار کونکو) په تعدّد (تکرّر) سره (یعني که احرام تړونکي قاتلان څو عدده وي، نو جزاء هم د هغه مطابق څو عدده لازمیږي).

لغات: ﴿جنایة﴾ جرم (د سزا قابل جرم)، د ګناه کار، ﴿دَم، صدقة﴾ د باب په شروع کي د دې وضاحت وسو، ﴿صید﴾ ښکار، ښکار کړی سوی ځاروی، ﴿یتعدد﴾ د تفعّل د باب مضارع ده، مصدر: تَعدّدًا: څو دانې کېدل (یعني له یوه څخه زیات کېدل)، څو واره کېدل (له یوه څخه زیات واره یو کار یا یو شی کېدل)، شمېر والا کېدل (عدد والا کېدل).

تشریح: د محرم جنایت پر څلور قسمه دی (یعني که څوک د احرام په حالت کي جنایت او جرم وکړي. نو د هغه څلور قسمه دي)، د هر یوه تفصیل خپله مصنف رَحِمَهُ الله په را روانو عباراتو کي بیان کړی دی، خو د آسانۍ په خاطر به یې موږ دلته هم مختصراً ذکر کړو: ① یو قسم جنایت دا دی چي د هغه په جزاء (بدله) کي دَم لازمېږي، مثلاً که رمی (د شیطانانو ویشتل) پرېږدي، نو دَم لازمېږي (د دَم وضاحت مخکي وسو چي مراد ځني پسه او داسي نور دي)، ② او بل قسم جنایت دا دی چي د هغه په جزاء کي صدقه لازمېږي، مثلاً د احرام په حالت کي که تر یوه اندام (عضو) کم خوشبویي ولګوي، نو صدقه لازمېږي، دلته له صدقه څخه مراد نیم صاع غنم دي، ③ دریم قسم جنایت دا دی چي د هغه په وجه له نیم صاع غنمو څخه کمه صدقه لازمېږي، مثلاً د احرام په حالت کي که سپږه مړه کړي، نو له نیم صاع غنمو څخه کم لازمېږي، ④ څلورم قسم جنایت دا دی چي قیمت لازمېږي، مثلاً که د حرم شریف ښکار قتل کړي، نو د هغه په جزاء (بدله) کي د ښکار قیمت لازمېږي.

د احرام په حالت کي د جنایت کولو دغه څلور قسمونه دي.

ویتعدد الجزاء الخ: په دې سره یو قاعده بیانوي، هغه دا ده چي د جنایتکاره په متعدد کېدلو (مکرر کېدلو) سره جزاء هم متعدده کېږي (مکرره کېږي) یعني چي څو مره مجرمان وي، هغو مره جزاګاني (بدلې) هم واجبېږي، مثلاً دوه محرم (احرام تړونکي) کسان په ګډه یو ښکار قتل کړي، نو څرنګه چي د دې جنایت (ښکار کولو) تعلق د دوو محرمو (یا په بله وینا د دوو احرامونو) سره دی، نو ځکه جزاء هم دوې کېږي یعني دوې بدلې لازمېږي (چي هر یو به خپله جزاء ورکوي)، او که دوه غیرِ محرم کسان یعني چي هغو احرام نه وي تړلی، د حرم شریف یو ښکار په ګډه قتل کړي، نو څرنګه چي دلته د جنایت تعلق د حرم شریف سره دی (ځکه چي ښکار کونکي محرم نه دي، بلکي غیرِ محرم دي)، او حرم شریف یو دی او ښکار هم هغو یو کړی دی (نو ګواکي جنایت متعدد نه سو)، لهذا په یوه جنایت کي د دواړو شرکت راغلی، نو ځکه یوه جزاء واجبېږي.

د کومو جنایاتو په وجه دَم واجـبـیـږي؟ (داحرام په حالت کي خوشبویي لګول)

﴿۱۲۱۱﴾ فَالَّتِیْ تُوْجِبُ دَمًا نو هغه جنایت کوم چي دم واجبوي هِیَ مَالَوْ طَیَّبَ مُحْرِمٌ بَالِغٌ عُضْوًا هغه (دا) دی چي یو بالغ محرم (احرام تړونکی) پر یو اندام خوشبویي ولګوي.

لغات: ﴿طَیَّبَ﴾ د تفعیل د باب ماضي ده: خوشبوداره کول، خوشبویي باندي لګول.

تشریح: اوس له دې ځایه هغه جنایات (جرمونه) بیانوي چي د هغوی په کولو سره دَم واجبیږي، موږ د آسانۍ لپاره هر یو پر نمبر جلا، جلا بیانوو (مصنف رَحِمَهُ الله تقریبا دوولس (۱۲) جنایات ذکر کړي دي):

①... که محرم د خپل جسم پر یوه پوره غړي (اندام) هسي یو ډول خوشبویي ولګوي، نو پر هغه دَم واجبیږي، د پوره غړي مثال لکه سر یا مخ یا ږیره او داسي نور، او د خوشبویۍ مثال لکه مشک، عنبر، د ګلاب عطر، د چنبېلي او داسي نور عطرونه.

❀ ❀ ❀

قاعدهٔ کلیه

کوم شیان چي پر بدن لګول کیږي، هغه پر درې قسمه دي: ① خالص خوشبویي لکه مشک او عنبر، د ګلاب او داسي نورو عطرونه، دا قسم خوشبویي د احرام په حالت کي استعمالول هر ډول مُوجِب د جزاء ده، تر دې چي که دا شیان د دواء په توګه استعمال کړي، نو بیا هم جزاء لازمیږي، ②دویم قسم هغه شیان دي کوم چي خپله خو خوشبویي نه وي، لېکن له هغوی څخه خوشبویي جوړول کیږي، لکه د زیتون تېل (روغن) او د کونجتو تېل او داسي نور تېل، په دا قسم شیانو کي نیت لره اعتبار دی، که د خوشبویي په نیت سره یې دا استعمال کړي وي، نو جزاء لازمیږي، او که محض د غذا یا دواء په توګه یې استعمال کړي وي، نو جزاء نه لازمیږي، ③ درېیم قسم هغه شیان دي کوم چي نه خو خپله خوشبویي وي او نه له هغوی څخه خوشبویي جوړول کیږي، لکه وازګه، غوړزګي، واسلین، نا خوشبویه کریم او داسي نور، نو د هغوی په استعمال سره هیڅ جزاء نه لازمیږي. (انوار الایضاح بحوالهٔ زبدة المناسک ص: ۳۴۷- ۳۴۹)

داحرام په حالت کي نکریزي یا خوشبوداره روغن لګول، یا ګنډل سوې جامه اغوستل

﴿۱۲۱۲﴾ أَوْ خَضَبَ رَأْسَهُ بِحِنَّاءٍ یا خپل سر په نکریزو ورنګوي (سُور کړي).

﴿۱۲۱۳﴾ أَوِ ادَّهَنَ بِزَیْتٍ وَنَحْوِهٖ یا د زیتون تېل او (یا) داسي نورا تېل (روغن) ولګوي.

﴿۱۲۱۴﴾ أَوْ لَبِسَ مَخِیْطًا یا ګنډل سوې جامه واغوندي (یوه پوره ورځ).

﴿۱۳۱۵﴾ أَوْ سَتَرَ رَأْسَهُ يَوْمًا كَامِلًا يا يوه پوره ورځ خپل سر پټ کړي.

لغات: ﴿خضب﴾ د ضرب د باب ماضي ده: رنګول، د يو شي رنګ وربدلول، ﴿حِنَاء﴾ نکريزي، ﴿زيت﴾ په اصل کي د زيتون تېل ته وايي، همدارنګه په مطلق تېلو او روغنو باندي يې هم اطلاق کيږي.

تشريح: ②... نکريزي هم په خوشبويي کي شمېرل کيږي، لهذا که په ټوله سر باندي يا په ټوله ږيره باندي يا د سر يا ږيري په څلورمه حصه باندي يا په ورغوي باندي نکريزي ولګوي، نو دَم واجبيږي، ځکه نکريزي هم د خوشبويي شی دی، او بله خبره دا ده چي په سر باندي د نکريزو د اېښوولو په صورت کي سر هم پټيږي، نو په دې وجه هم دَم لازميږي.

سر يا ږيره تورول

مسئله: د احرام په حالت کي په تور رنګ (خضاب) باندي د سر يا ږيري په تورولو سره هيڅ کفاره نه واجبيږي، لېکن که هغه ګاټه (خند) وي او د هغه د اېښوولو په وجه سر ۱۲ ساعته يا تر دې زيات وخت پټ وي، نو پر محرم يو دَم واجبيږي، کنې صدقه ضروري ده. (غنية الناسک ص: ۲۵۰)

أو ادّهن بزيت إلخ: ③... که د زيتونو روغن (تېل) يا د کونجتو روغن يا يو بل خوشبوداره روغن پر پوره عضو باندي د خوشبويي په نيت سره ولګوي، نو يو دَم واجبيږي، او که د دواء په غرض سره يې ولګوي، نو هيڅ هم نه واجبيږي. (عمدة الفقه)

أو لبس إلخ: ④... که محرم ګنډل سوې جامه يوه پوره ورځ، يا يوه پوره شپه واغوندي، يا يې څو ورځي مسلسل واغوندي، يا يوه ورځ يا يوه شپه خپل سر پټ وساتي، يا يې څو ورځي مسلسل پټ وساتي، نو په دوارو صورتونو کي يو دَم لازميږي.

يادونه: که محرم کس سدري يا کرتي د څادر (پټو) په ډول پر ځان وپېچي، يا پر توګ د څادر په ډول پر بدن وپېچي، نو هيڅ نه واجبيږي؛ ځکه په ګنډل سوې جامه باندي جزاء هغه وخت واجبيږي، کله چي د عادت مطابق واغوستل سي، يعني د هغې د اغوستلو چي کومه طريقه عادت او رواج وي، په هغه طريقه سره محرم ګنډل سوې جامه واغوندي، برابره ده قصداً وي او که په هېره، يا يې بل څوک په زوره (جبرا) ور واغوندي، په هر صورت کي جزاء واجبيږي. (غنية الناسک، ص: ۲۵۰ - ۲۵۳)

أو ستر رأسهُ كاملًا: ⑤... که محرم کس يوه پوره ورځ يا شپه خپل سر يا مخ پټ کړي، نو دَم لازميږي، او د احرام په حالت کي د ښځي لپاره خپل سر پټول بېله کراهته جائز دي (لکه مخکي چې ذکر سوه)، بلکي لازم دي، او د سړي لپاره نه سر پټول جائز دي او نه مخ پټول جائز دي. ښکاره دي وي چي دَم هغه وخت واجبيږي، کله چي يې خپل سر په داسې شي سره پټ کړی وي چي په هغه سره عموماً

سر ټټول کیږي مثلاً خولی، یا لنګوټه او داسې نور، برابره ده خپله یې پټ کړی وي، یا بل چا ورپټ کړی وي او برابره ده په هېره وي او که قصداً وي، د ټولو حکم برابر دی.

همدارنګه پر مخ او پر خوله ماسک لګول ممنوع دي، دا مسئله مخکې هم تېره سوه. او د جزاء په باره کې یې تفصیل دا دی چې که ماسک دومره پراخ وي چې په هغه سره د مخ څلورمه حصه پټه سي (لکه داوس وخت ماسکونه چې تر دې هم پراخ دي) او دا ماسک مسلسل دوولس ساعته ولګوي، نو دَم واجبیږي، کنې صدقۀ فطر واجبیږي. (انوار الایضاح بحوالۀ غنیة الناسک ص: ۱۳۶ و ص: ۲۵۴)

د احرام په حالت کې سر خرېیل، یا د ښکر لګولو ځای یا یو بغل یا سپوخته خرېیل

﴿۱۳۱۶﴾ أَوْ حَلَقَ رُبْعَ رَأْسِهِ یا وخریي څلورمه حصه د خپل سر.

﴿۱۳۱۷﴾ أَوْ مَحْجَمَهُ یا (وخریي) د ښکر لګولو ځای.

﴿۱۳۱۸﴾ أَوْ أَحَدَ إِبْطَيْهِ یا (وخریي) له خپل دواړو بغلو څخه یو بغل (تخرګ).

﴿۱۳۱۹﴾ أَوْ عَانَتَهُ یا (وخریي) خپله سپوخځه (تر نامه لاندې ورېښتان).

﴿۱۳۲۰﴾ أَوْ رَقَبَتَهُ یا (وخریي) خپله غاړه (یعني د څټ ورېښتان وخریي).

لغات: ﴿محجم﴾ موضع الحجامة، د ښکر لګولو ځای، ﴿إبط﴾ بغل، تخرګ، جمع: آبَاط. ﴿عانة﴾ سپخوځه (مراد: تر نامه لاندې ورېښتان)، ﴿الرقبة﴾ غاړه، څټ، ورمېږ.

تشریح: ⑥... که محرم د خپل سر څلورمه حصه ورېښتان یا تر دې زیات وخریي، یا یې کوچنې کړي، نو په جرمانه کې دَم لازمیږي، برابره ده خپله یې وخریي، یا یې بل څوک د ده په اجازه سره یا بېله اجازې ور خریي.

⑦... که محرم په سر کې د ښکر لګولو ځای وخریي، نو هم دَم لازمیږي، لېکن که ښکر لګولو ته سخت ضرورت وي مثلاً پر سر یې سخت درد وي، یا داسې بله وجه وي چې له ښکر لګولو څخه چاره نه وي، نو جائز دي، او کوم ورېښتان چې وخریي، د هغه فدیه به ورکوي او فدیه دا ده: درې روژې نیول، یا شپږو غریبانو ته خوراک ورکول، یا یوه قرباني کول.

⑧... او که محرم خپل یو ټوله بغل (تخرګ) وخریي، نو په دې صورت کې هم دَم لازمیږي.

⑨... همدارنه که محرم تر نامه لاندې ورېښتان (د سپوخځې ورېښتان) وخریي، نو هم دَم لازمیږي.

⑩... همدارنګه که محرم د ټولې غاړې ورېښتان وخریي، نو هم پر هغه دَم لازمیږي. (انوار الایضاح)

❀ ❀ ❀

په پوډر یا داسي بل شي سره وربښتان لیري کول

مسئله: که په پوډر یا کریم او داسي نورو سره وربښتان صفا کړي، یا یې په نوسي وکاږي، نو د دې حکم هم د خرییلو په څیر دی، نو کومه جزاء چې د خرییلو په صورت کي یا په غچي سره د کوچني کولو په صورت کي ده، هاغه جزاء دلته هم د تفصیل مطابق واجبیږي. (غنیة الناسک ص:۲۵۷. فتاویٰ هندیه ج:۱، ص:۲۴۴)

د احرام په حالت کي نوکان پرېکول یا واجب کار پرېښوول

﴿١٣٢١﴾ أَوْ قَصَّ أَظْفَارَ يَدَيْهِ وَ رِجْلَيْهِ بِمَجْلِسٍ یا پرېکړي (واخلي) نوکان د خپل دواړو لاسونو او دواړو پښو په یوه مجلس کي أَوْ يَدًا أَوْ رِجْلًا یا (پرېکړي نوکان) د یوه لاس یا د یوې پښې.

﴿١٣٢٢﴾ أَوْ تَرَكَ وَاجِبًا مِمَّا تَقَدَّمَ بَيَانُهُ یا یو واجب پرېږدي له هغه واجباتو څخه چې بیان یې مخکي تېر سو.

تشریح: ⑪... که محرم د دواړو پښو او دواړو لاسو نوکان په یوه مجلس کي پرېکړي، یعني په یوه وخت کي پر یو ځای یې پرېکړي، نو یو دَم واجبیږي؛ یو مجلس یې ځکه ویلي دي چې که د پښو او لاسو نوکان په څلورو مجلس کي پرېکړي، په دې توګه چې د یوه لاس نوکان پر یوه ځای پرېکړي بیا وروسته د دویم لاس نوکان پر بل ځای پرېکړي او همداسي د دواړو پښو نوکان په جلا، جلا مجلسو کي پرېکړي، نو څلور دَمه لازمیږي. همدارنګه که فقط د یوه لاس یا د یوې پښې نوکان پرېکړي، نو هم پر هغه دَم لازمیږي. (انوار الایضاح، شفاء الارواح)

أو ترك واجبًا إلخ: ⑫... یعني د حج له واجباتو څخه د یو واجب په پرېښوولو سره هم دَم لازمیږي، د حج واجبات مخکي بیان سول (کوم چې څه مخکي هم په نقشو کي بیان سول)، خو اُووه افعال داسي دي چي که هغوی د یو معقول عذر په وجه پرېږدي، نو دَم نه واجبیږي: ① یو دا چي د سخت رش (ګڼي ګوڼي) یا د کمزوری په وجه وقوف نه وکړل سي، ② د حیض، نفاس، قید یا مرض په وجه طوافِ زیارت له ایام النحر (یعني له ۱۰، ۱۱، ۱۲ د ذوالحجې) څخه وځنډول سي، ③ د حیض یا نفاس په وجه طوافِ وداع پرېښوول سي، ④ د یو مرض یا د بوډا والي په وجه طواف یا سعی پیاده نه وکړل سي، بلکي د سپرتیا په حالت کي (پر چلېدونکې کُرسي یا داسي بل شي باندي) طواف او سعی وکړي. ⑤ سعی څني هېره سي، ⑤ د سفر له ملګرو څخه د ورکېدلو (نا درکه کېدلو) په وجه سعی نه وکړل سي. ⑦ په سر کي د زخم او دانې په وجه حلق نه وکړل سي. (انوار الایضاح والتفصیل فی غنیة الناسک ص:۲۳۹. زبدة المناسک ص:۲۴۶)

د احرام په حالت کې برېتونه خرېيل يا کوچني کول

﴿۱۲۲۳﴾ وَفِيْ أَخْذِ شَارِبِهٖ حُكُوْمَةٌ او د خپل برېت په اخيستلو (کوچني کولو) کې د يوه عادل کس فيصله ده (يعني د هغه د جزاء په هکله چې يو عادل کس کومه فيصله وکړي، د هاغه مطابق پر محرم جزاء واجبېږي).

لغات: ﴿حكومة﴾ حُكُوْمَةُ عَدْلٍ: د عادل کس فيصله، دا يو اصطلاح ده چې که عادل کس څنګه فيصله وکړي، نو د هغه مطابق به حکم کول کېږي.

تشريح: که محرم کس خپل برېتونه کوچني کړي يا يې وخريي، نو يو عادل کس چې کومه فيصله وکړي، د هاغه مطابق پر محرم جزاء واجبېږي. او عادل کس به دږېرې څلورمه حصه (رُبع اللحية) معيار جوړوي، يعني دا کوچني کړل سوي يا خرېيل سوي برېتونه به د ږېرې د څلورمې حصې (رُبع اللحية) سره اندازه کوي، نو که چيرې يې د برېتو ورېښتان دومره پرېکړي وي کوم چې د ږېرې د څلورمې سره برابر وي، نو يو دَم يعني يو پُسه (يا يوه بزه يا داسې نور) لازمېږي. او که چيرې پرېکړل سوي ورېښتان د ږېرې د څلورمې څلورمه وي، نو د يوه پسه د قيمت څلورمه لازمېږي. (شفاء الارواح. ثمرة النجاح)

د کومو جناياتو په وجه صرف صدقه لازمېږي؟ (پر کم د عضو خوشبويي لګول، له يوې ورځې څخه کم وخت جامه اغوستل يا سر پټول)

﴿۱۲۲۴﴾ وَالَّتِيْ تُوْجِبُ الصَّدَقَةَ بِنِصْفِ صَاعٍ مِنْ بُرٍّ أَوْ قِيْمَتِهٖ او هغه جنايت کوم چې د نيم صاع غنمو يا د هغه د قيمت صدقه واجبوي هِيَ مَا لَوْ طَيَّبَ أَقَلَّ مِنْ عُضْوٍ هغه دا دي چې که خوشبويي ولګوي پر کم تر يوه اندام (يعني تر يوه اندام پر کمه حصه خوشبويي ولګوي).

﴿۱۲۲۵﴾ أَوْ لَبِسَ مَخِيْطًا يا ګنډل سوې جامه واغوندي (کم تر يوې ورځې).

﴿۱۲۲۶﴾ أَوْ غَطّٰى رَأْسَهٗ أَقَلَّ مِنْ يَوْمٍ يا خپل سر پټ کړي کم تر يوې ورځې.

تشريح: اوس له دې ځايه هغه جنايات بيانوي چې د هغوی په جزاء کې فقط صدقهٔ فطر واجبېږي (مصنف رَحِمَهُ الله تقريباً يوولس (۱۱) داسې جنايات بيان کړي دي چې، د هغوی په وجه صدقه واجبېږي):

①... مخکې ذکر سوه چې په يوه پوره عضو باندې يو دَم لازمېږي، لېکن که محرِم له يوه عضو څخه پر کمه حصه خوشبويي ولګوي، نو يوه صدقهٔ فطر يعني نيم صاع غنم يا د هغه قيمت لازمېږي.

او صاحب د انوارُ الایضاح د غنیة الناسک په حواله سره لیکلي دي چي که محرم پر خپل کوچني عضو مثلاً پر پزه، غوږ، سترګه، ګوته او داسي نورو باندي خوشبويي ولګوي، نو یوه صدقۀ فطر لازمیږي. (غنیة الناسک ص: ۲۴۴)

یادونه: که محرم پر یوه ګوته خوشبويي ولګوي، خو هغه دومره (ډېره) وي کوم چي په یوه کامل عضو باندي د خوشبويي لګولو د مقدار سره برابر وي، نو دَم واجبیږي. (غنیة الناسک ص: ۲۴۴)

أو لبس مخیطًا: ②... که محرم له یوې ورځي څخه کم او له یوه ساعت (ګېنټې) څخه زیات ګنډل سوې جامه واغوندي، نو یوه صدقۀ فطر لازمیږي، او که له یوه ساعت څخه یې کم واغوندي، نو دوه موټه غنم یا د هغه قیمت صدقه کول کافي دي. (غنیة الناسک ص: ۱۳۴)

أو غطّی رأسه إلخ: ③...همدارنګه که محرم سری له یوې ورځي یا له یوې شپې څخه کم وخت سر پټ کړي، نو صدقۀ فطر لازمیږي.

که څه هم د لږ ګړي لپاره وي، قصداً وي او که په هېره وي، جرمانه په هره صورت کي لازمیږي، یعني که له یوه ساعت (ګېنټې) څخه کم وي، نو یو موټ غنم یا د هغه قیمت دي صدقه کړي، همدارنګه که د خوب په حالت کي یو بل چا سر ور پټ کړی وي، یا یې په بې فکرۍ کي پټ کړی وي، په هر صورت کي د مذکوره تفصیل مطابق صدقه یا دَم لازمیږي. (انوار الایضاح)

یادونه: په دې مسئله کي له حاجیانو څخه ډېري غلطۍ کیږي چي په منیٰ کي اکثره حاجیان د خوب په حالت کي په سر یا مخ باندي کپړه اچوونکي لیدل کیږي. نو ځکه د دې خیال ساتل ضروري دي. (انوار الایضاح)

له څلورمي حصې څخه کم سر خرېیل، په متفرقه توګه (جلا، جلا) نوکان پرېکول

﴿۱۲۲۷﴾ أَوْ حَلَقَ أَقَلَّ مِنْ رُبْعِ رَأْسِهٖ یا وخریي کم تر څلورمي حصې د خپل سر.

﴿۱۲۲۸﴾ أَوْ قَصَّ ظُفْرًا یا یو نوک پرېکړي وَكَذَا لِكُلِّ ظُفْرٍ نِصْفُ صَاعٍ او همدارنګه د هر نوک لپاره نیم صاع دی إِلَّا أَنْ يَبْلُغَ الْمَجْمُوْعُ دَمًا مګر دا چي مجموعه (ټوله پرېکړل سوي نوکان د) یوه دَم (مقدار) ته ورسیږي فَيَنْقُصُ مَا شَاءَ مِنْهُ نو کم دي کړي له هغه څخه څومره چي وغواړي كَخَمْسَةٍ مُتَفَرِّقَةٍ لکه پنځه جلا، جلا (پرېکړل سوي) نوکان.

لغات: ﴿قصّ﴾ د نصر د باب ماضي ده: نوکان وغیره پرېکول، کاټول، ﴿المجموع﴾ د فتح له بابه اسم مفعول دی: ټوله یوځای، ټوټل.

تشريح: (۴)... که محرم د خپل سر له څلورمي حصې څخه کم وریښتان وخریي، یا یې کوچني کړي، نو یوه صدقهٔ فطر یعني نیم صاع غنم په جرمانه کې لازمیږي.

أو قصّ ظفرًا: (۵)... همدانګه که محرم یو نوک پرېکړي، نو یوه صدقهٔ فطر یعني نیم صاع غنم لازمیږي.

وكذا الكلّ إلخ: یعني د هر نوک په پرېکولو باندې یوه صدقهٔ فطر یعني نیم صاغ غنم لازمیږي، هغه که هر څومره نوکان پرېکول سي، د هر یوه په جرمانه کې یوه صدقهٔ فطر لازمیږي، خو شرط دا دی چې په متفرّقه توګه به وي، یعني د یوه لاس یا یوې پښې ټوله (پنځه سره) نوکان به نه وي؛ ځکه که د یوه لاس یا یوې پښې ټوله نوکان پرېکړي، نو یو دَم لازمیږي (لکه مخکې چې ذکر سوه)، لهذا که لس نوکان په متفرّقه (جلا) توګه پرېکړي (مثلاً له هر لاس او پښې څخه دوه، دوه نوکان پرېکړي)، نو لس صدقهٔ فطر لازمیږي، یا مثلاً که شپاړس نوکان په متفرّقه توګه پرېکړي (یعني له هر لاس څخه څلور نوکان پرېکړي)، نو شپاړس صدقهٔ فطر لازمیږي، إلّا أن یبلغ إلخ: یعني کوم نوکان چې په متفرّقه توګه (جلا، جلا) پرېکړل سوي دي، که د هغوی قیمت یوه دَم ته ورسیږي، مثلاً پنځه نوکان په متفرّقه توګه پرېکړي لکه دوه نوکان د یوه لاس او درې نوکان د بل لاس څخه پرېکړي، چې د هغه په وجه پنځه صدقهٔ فطر لازمیږي، یا مثلاً په متفرقه توګه شپږ، یا اُووه یا داسې نور مثلاً لس یا پنځلس یا شپاړس نوکان پرېکړي، چې د هغه په وجه شپږ صدقې یا اُووه صدقې یا لس یا پنځلس یا شپاړس صدقې لازمیږي، نو اوس که د دغه پنځو صدقو، یا شپږو صدقو یا د اُوو، یا لسو یا پنځلسو یا شپاړسو صدقو قیمت یوه دَم ته رسیږي، نو د یوه دَم له قیمت څخه به څه کمول کیږي، یعني د پنځو صدقو قیمت که مثلاً دوه زره کلداري وي او یو پسه هم په دوه زره کلداري پیدا کیږي، نو له دوه زره کلدارو څخه به څه کم صدقه کول کیږي، یا مثلاً د شپاړسو صدقو قیمت پنځه زره کلداري وي او د پسه قیمت هم پنځه زره کلدار وي، نو په دې صورت کې به له پنځو زرو څخه څه کمه صدقه ورکول کیږي، د دې لپاره چې یو دَم (کوم چې دلته له مفروض مقدار څخه خارج دی) لازم نه سي (دلته مصنف رَحِمَهُ الله د پنځو متفرّقو نوکانو مثال بیان کړی دی، او موږ ستاسې د آسانۍ لپاره د هغه تر څنګ نور مثالونه هم بیان کړل، نور مثالونه تاسې هم پېښولای سئ!).

د بې اودسیا په حالت کې طواف کول

﴿۱۳۲۹﴾ أَوْ طَافَ لِلْقُدُوْمِ أَوْ لِلصَّدْرِ مُحْدِثًا یا طوافِ قدوم یا طوافِ صدر وکړي د بې اودسیا په حالت کې (نو صدقه انیم صاع غنم... لازمیږي).

﴿۱۳۳۰﴾ وَتَجِبُ شَاةٌ وَلَوْ طَافَ جُنُبًا او واجبیږي یو پسه که چیري د جنابت په حالت کې

طواف وکړي (یعني د بې اودسیا په حالت کي خو صدقه لازمیږي. لېکن د جنابت په حالت کي دم (پسه) لازمیږي).

﴿۱۳۲۱﴾ أَوْ تَـرَكَ شَوْطًا مِنْ طَوَافِ الصَّدْرِ یا پرېږدي د طواف صدر یو دور (نو هم یوه صدقه یعني نیم صاع غنم لازمیږي) وَكَذَا لِكُلِّ شَوْطٍ مِنْ أَقَـلِّهِ او همدارنګه د هر دَور لپاره د طواف له کمو (دریو) دَورونو څخه (د طواف أقل یعني کمه حصه درې دَورونه اشوطونه) دي. نو فرمایي چي د طواف له دریو دورونو څخه د هر دَور د پرېښوولو په عوض کي نیم صاع غنم لازمیږي، او که اکثر یعني څلورو ته ورسیږي. یعني څلور دَوره پرېږدي، نو بیا یو دَم لازمیږي، په تشریح کي به یې هم پوره وضاحت وسي).

لغات: ﴿طوافِ قدوم، طوافِ صدر﴾ د دې تعریف مخکي ذکر سو چي آفاقي کس (کوم چي له بهر وطن څخه مکې شریفې ته راغلی وي) د هغه لپاره طواف کول سنت دي، دغه طواف ته طواف قدوم وایي، نو طوافِ قدوم سنت دی، همدارنګه پر آفاقي کس وطن ته د روانېدلو په وخت کي طواف کول واجب دي، کوم ته چي طوافِ صدر او طوافِ وداع وایي، نو طوافِ صدر واجب دی، ﴿أقلّه﴾ د هاء ضمیر طوافِ صدر ته راجع دی، یعني أقل الطواف (د طواف کمه حصه. یا په بله وینا د طواف کم شوطونه). په یوه طواف کي أووه شوطه (دَوره) وي: له هغوی څخه درې یې أقلّ دي او څلور یا تر هغه زیات أکثر دي، ﴿محدث﴾ د افعال له بابه اسم فاعل دی: بې اودسه، هغه کس چي اودس یې نه وي.

تشریح: ⑥... که طوافِ قدوم یا طوافِ صدر (طوافِ وداع) د بې اودسیا په حالت کي وکړي، نو دا طواف خو معتبر دی، لېکن پر هغه صدقه لازمیږي، د هر شوط په عوض کي یوه صدقۀ فطر لازمیږي. (انوار الایضاح بحوالۀ غنية الناسک ص: ۱۴۷)

وتجب شاة إلخ: ⑦... او که طوافِ صدر د جنابت په حالت کي وکړي، نو په جرمانه کي یو دَم (یو پسه) لازمیږي، ځکه طوافِ صدر واجب دی (ثمرة النجاح)، او که طواف بیرته د پاکۍ په حالت کي راوګرځوي، نو جرمانه معاف کیږي. (غنية الناسک ص: ۱۴۷، ایضاح المناسک ص: ۱۰۹)

أو ترك شوطًا إلخ: ⑧... که د طوافِ صدر یو شَوط (یو دَور) پرېږدي کوم چي واجب طواف دی، نو یوه صدقۀ فطر (نیم صاع غنم) لازمیږي.

وکذا لکل شوط من أقلّه: یعني له أقلّ طواف صدر (دریو شوطونو) څخه د هر شُوط په عوض کي یوه صدقۀ فطر لازمیږي، اقلِّ طواف یعني د طواف کمه حصه درې شوطه ده او اکثرِ طواف څلور شوطه ده. لهذا که درې شوطونه یا تر دې کم پرېږدي، نو د هر یوه په عوض کي یوه صدقۀ فطر (نیم صاع غنم) لازمیږي، او که له درې څخه زیات شوطونه پرېږدي، نو اوس پر هغه یو دَم (یو پسه) لازمیږي؛ ځکه "اکثرِ طواف" یعني د طوافِ صدر اکثره حصه یې پرېښووله، نو ګواکي طوافِ صدر (واجب) یې

پرېښووی. او که درې شوطه پرېږدي خو د دریو صدقو قیمت یوه دَم ته رسیږي، نو له هغه څخه به څه کمول کیږي، د دې لپاره چې دَم لازم نه سي (لکه په تېر عبارت کې چې دا قاعده ذکر سوه). (ثمرة النجاح، انوار الایضاح)

له رمی څخه یو کاڼی یا ډېر کاڼي پرېښوول

﴿۱۳۳۲﴾ أَوْحَصَاةً مِنْ إِحْدَى الْجِمَارِ یا (پرېږدي) یو کاڼی له یوې جمرې (یوه شیطان) څخه وَكَذَالِكُلِّ حَصَاةٍ فِيْمَا لَمْ يَبْلُغْ رَمْيَ يَوْمٍ او همداسې د هر کاڼي لپاره. په هغه مقدار کې چې د یوې ورځې رمي ته نه رسیږي إِلَّا أَنْ يَّبْلُغَ دَمًا مګر دا چې ورسیږي (د) یوه دَم (مقدار) ته فَيُنْقُصَ مَا شَاءَ نو کم دې کړي څومره چې وغواړي.

تشریح: ⑨... که یو څوک د رمی له کاڼو څخه یو کاڼی پرېږدي، نو هم یوه صدقۀ فطر لازمیږي، پوره تفصیل یې دا دی چې هره جمره (هر شیطان) اُووه ګاڼی ویشتل کیږي او درې سره جمرات یوویشت (۲۱) کاڼي ویشتل کیږي، او اُصول دا دی چې که د یوې ورځې رمی یعني ټوله جمرات (ټوله شیطانان) پرېږدي، نو یو دم لازمیږي، او که تر هغه کم پرېږدي، نو د هر کاڼي په عوض کې یوه صدقه لازمیږي، اوس د ذوالحجې په لسمه (یعني دلوی اختر په ورځ) صرف جمرۀ عقبه ویشتل کیږي، لهذا که څوک جمرۀ عقبه یو کاڼی هم نه ویلي، نو دَم لازمیږي، او که یو کاڼی یې ویلي او پاته شپږ کاڼي پرېږدي، نو شپږ (۶) صدقې لازمیږي، او که د دغه صدقو قیمت یوه دَم ته ورسیږي. نو له هغه څخه به څه کمول کیږي، د دې لپاره چې دَم لازم نه سي. د ذوالحجې په یوولسمه (یعني دلوی اختر په دویمه) ټوله جمرات اُووه، اُووه کاڼي ویشتل کیږي کوم چې ټوله یو ویشت کاڼي کیږي. لهذا که ټوله پرېږدي. نو یو دَم لازمیږي، او که یو کاڼی ویلي او شل کاڼي پرېږدي، نو شل (۲۰) صدقې لازمیږي. او که د دې شلو صدقو قیمت یوه دَم ته رسیږي، نو له هغه څخه به څه کمول کیږي. او که څوک د دریو سره ورځو رمی پرېږدي، نو د اُصول مطابق درې دمه لازمېدل پکار دي، لېکن په داسې صورت کې تداخل کیږي او صرف یو دَم لازمیږي. (ثمرة النجاح)

كذالكل حصاة... فيمالم يبلغ رمي يوم: وضاحت یې وسو چې د هر کاڼي په عوض کې یوه صدقه لازمیږي تر څو چې د یوې ورځې رمی ته نه ورسیږي، لهذا که د یوې ورځې رمی پرېږدي مثلاً یوویشت کاڼي ټوله پرېږي، نو دَم لازمیږي. او که د صدقو قیمت یوه دَم ته رسیږي، نو له هغه څخه به څه کمول کیږي لکه څرنګه چې مخکې د دې پوره وضاحت تېر سو.

د بل چا سر ورخرېیل، یا نوکان ور پرېکول

﴿۱۳۳۳﴾ أَوْحَلَقَ رَأْسَ غَيْرِهٖ یا د بل چا سر وخرېي.

﴿۱۳۳۴﴾ أَوْ قَصَّ أَظْفَارَهٗ یا د بل چا نوکان ورپرېکړي.

تشریح: ⑩... که محرم د احرام په حالت کي د بل چا سر ورخرېي، نو پر دې سر خرېونکي محرم صدقه واجبیږي (برابره ده هغه بل څوک [محلوق] حلال وي او که محرم وي، او که محلوق هم محرم وي، نو پر هغه [محلوق] یو دَم لازمیږي ازبدة المناسک ص:۱۱۷۶)

⑪... همدارنګه که محرم د بل چا نوکان ور پرېکړي، نو پر هغه صدقه لازمیږي (برابره ده هغه بل څوک محرم وي او که حلال وي).

﴿۱۳۳۵﴾ وَإِنْ تَطَيَّبَ أَوْ لَبِسَ أَوْ حَلَقَ بِعُذْرٍ او که چیري د یو عذر په وجه خوشبویي ولګوي یا اغوستل وکړي یا خرېیل وکړي (یعني یا د عذر په وجه ګنډل سوې جامه واغوندي یا سر وخرېي) تَخَيَّرَ بَيْنَ الذَّبْحِ أَوِ التَّصَدُّقِ بِثَلَاثَةِ أَصْوُعٍ عَلٰى سِتَّةِ مَسَاكِيْنَ أَوْ صِيَامِ ثَلَاثَةِ أَيَّامٍ نو اختیارمن کیږي (اختیار ورته حاصلیږي) په مینځ کي د ذبح کولو یا پر شپږو مسکینانو د دریو صاعو د صدقه کولو یا د دریو ورځو د روژو نیولو (یعني په دې صورت کي ده ته درې اختیاره سته: ① که یوه پسه ذبح کوي ② یا که شپږو مسکیناتو ته درې صاعه غنم ورکوي ③ یا که درې روژې نیسي).

لغات: ﴿تطیّب﴾ د تفعّل د باب ماضي ده: خوشبوداره کېدل، خوشبویي مږل او لګول. ﴿تخیّر﴾ د تفعّل د باب ماضي ده: اختیار من کېدل، (د څو شیانو تر مینځ) اختیار ورته حاصلېدل.

تشریح: او که محرم د یو عذر په وجه خوشبویي ولګوي، یا ګنډل سوې جامه واغوندي، یا سر وخرېي، نو هغه ته د دریو شیانو اختیار دی: ① که خوښه یې وي، نو یو پسه دې ذبح کړي، ② کنې پر شپږو مسکینانو دې درې صاعه غنم صدقه کړي، ③ یا دې درې روژې ونیسي. (شفاء الارواح)

❀ ❀ ❀

عذر کوم معتبر دی؟

عذر صرف هغه عذر معتبر او مانعِ جزاء دی، کوم چي من جانب الله وي، مثلاً مرض، حیض او نفاس او داسي نور، او که هغه عذر د بندګانو له طرفه وي مثلاً یو څوک محرم کس پر جنایت کولو مجبوره کړي (جبرا جنایت په وکړي)، نو داسي عذر معتبر نه شمېرل کیږي، د مثال په توګه یو څوک محرم پر خوشبویي لګولو یا د ګنډل سوي جامې په اغوستلو باندي مجبوره کړي، نو په داسي صورت

کي محرم ته هیڅ قسم اختیار نه حاصلیږي، بلکي د قاعدې مطابق جزاء باندي واجبیږي. (غنية الناسک ص: ۲۳۹)

د کومو جنایاتو په جه له صدقه (نیم صاع) څخه کم مقدار واجبیږي؟(سپږه یا ملخ وژل)

﴿۱۳۳۶﴾ وَالَّتِيْ تُوْجِبُ أَقَلَّ مِنْ نِصْفِ صَاعٍ او هغه جنایت کوم چي تر نیم صاع کم (مقدار) واجبوي فَهِيَ مَالَوْقَتَلَ قُمْلَةً أَوْ جَرَادَةً نو هغه (دا) دی چي یوه سپږه (شپږه) یا یو ملخ ووژني فَيَتَصَدَّقُ بِمَا شَاءَ نو صدقه (خیرات) دي کړي څه چي د ده خوښه وي (یعني کوم څه او څومره مقدار چي دئ وغواړي، هغه دي خیرات کړي، نو غاړه یې خلاصیږي).

لغات: ﴿قملة﴾ سپږه، شپږه، جمع: قَمْلٌ، ﴿جرادة﴾ ملخ، جمع: جَرَادٌ.(انوار الایضاح)

تشریح: که محرم د احرام په حالت کي یوه سپږه مړه کړي، یا یو ملخ مړ کړي، نو له نیم صاع څخه کم صدقه لازمیږي، لهذا کوم مقدار چي د ده خوښه وي، هغه دي صدقه کړي، مثلاً یو څو خرماوي، یا یو موټ غله، یا صرف یوه خرما او داسي نور (او که محرم د بل چا سپږه ور مړه کړي، نو پر محرم هیڅ جزاء نه واجبیږي). (شفاء الارواح، انوار الایضاح)

❀ ❀ ❀

د حرم شریف ملخان تر پښو لاندي کېدل

مسئله: ډېر ځله داسي کیږي چي په حرم شریف کي ملخان دومره زیات وي چي تر له لاري له هغوی څخه ډکي وي، نو په داسي حالت کي که ملخان تر پښو لاندي سي او مړه سي، نو که څه هم ډېر وي، په هغوی کي هیڅ جزاء نه لازمیږي، خو بیا هم احتیاط لازم دی. (غنية الناسک ص: ۲۹۰)

د کومو جنایاتو په وجه قیمت واجبیږي؟

﴿۱۳۳۷﴾ وَالَّتِيْ تُوْجِبُ الْقِيْمَةَ او هغه جنایت کوم چي قیمت واجبوي فَهِيَ مَالَوْقَتَلَ صَيْدًا نو هغه (دا) دی چي یو ښکار ووژني فَيُقَوِّمُهُ عَدْلَانِ فِيْ مَقْتَلِهٖ أَوْ قَرِيْبٍ مِنْهُ نو دوه عادل سړي به د هغه قیمت ټاکي (لګوي) د هغه د وژل کېدلو په ځای کي یا هغه ته په نژدې ځای کي فَإِنْ بَلَغَتْ هَدْيًا نو که ورسیږي د هغه قیمت یوه هدي (د قربانۍ قابل څاروي) ته فَلَهُ الْخِيَارُ نو ده ته اختیار دی (یعني په دې صورت کي ده ته درې اختیاره حاصلیږي) إِنْ شَاءَ اِشْتَرَاهُ وَ ذَبَحَهُ ① که وغواړي، هغه (څاروی) دي رانیسي او ذبح دي یې کړي أَوِ اشْتَرٰى طَعَامًا وَ تَصَدَّقَ بِهٖ لِكُلِّ

فَقِيُرٍ نِصُفُ صَاعٍ یا دي غله رانیسي او هغه دي پر هر فقیر نیم صاع صدقه کړي أَوْ صَامَ عَنْ طَعَامِ كُلِّ مِسْكِيُنٍ يَوْمًا یا دي د هر مسکین د غلې (صدقې) په عوض کې یوه روژه ونیسي وَإِنْ فَضُلَ أَقَلُّ مِنْ نِصُفِ صَاعٍ او (تر دې تقسیم وروسته) که له نیم صاع څخه کم پاته سي تَصَدَّقَ بِهٖ أَوْ صَامَ يَوْمًا نو هغه دي صدقه کړي یا دي یوه ورځ روژه ونیسي.

لغات: ﴿يُقَوِّمْ﴾ د تفعیل له بابه مضارع معلومه ده: قیمت ټاکل (قیمت لګول)، قیمت اندازه کول، ﴿عدلان﴾ تثنیه د عَدْلٌ ده په معنیٰ سره د عَادِلٌ دی: عادل او انصاف کونکی (انصاف داره)، ﴿مقتل﴾ د نصر له بابه اسمِ ظرف دی: د قتل کېدلو ځای، ﴿هدی﴾ د قربانۍ څاروی، هغه څاروی (یعني پسه یا غویی یا اوښ، یا د دوی مؤنث) کوم چي حرم ته د قربانۍ لپاره راوستل کیږي، "مَا يهدىٰ إِلَى الْحرم من النعم"، ﴿تصدّق﴾ د تفعّل د باب ماضي ده: صدقه کول، خیراتول. ﴿طعام﴾ کله چي دا لفظ مطلق ذکر سي نو معنیٰ یې ده: غله، لکه غنم، اوربشي، وریجي او داسي نور، او اهلِ حجاز او عراق خاص پر غنمو د دې اطلاق کوي. (معجم الوسیط)

تشریح: د عبارت حاصل دا دی چي که محرم د ښکار څاروی قتل کړي، نو پر هغه جزاء واجبیږي، او جزاء دا ده چي په کوم ځای کي هغه ښکار قتل سوی وی، د هغه ځای قیمت ته به کتل کیږي. مثلاً که په دښت کي یې ښکار قتل کړی وي، نو دوه عادل کسان به په هاغه ځای کي د هغه قیمت اندازه کړي. او که په دښت کي یې قیمت نه معلومیږي، نو هغه ته چي کومه آبادي نژدې وي، هلته دي یې قیمت اندازه کړي. بیا چي کله قیمت متعیّن سي، نو که په هغه قیمت څاروی مثلاً پسه یا غویی یا داسي بل څاروی رانیول کېدلای سي، نو بیا قاتل (ښکار کونکي) ته دا درې اختیاره دي: ① اول دا چي په هغه قیمت سره هغه څاروی (پسه یا غویی...) رانیسي او په حرم کي یې ذبح کړي او هلته یې پر مسکینانو تقسیم کړي، ② دویم دا چي په هغه قیمت سره غنم رانیسي او هر مسکین ته نیم، نیم صاع غنم ورکړي. ③ درېیم اختیار دا دی چي په هغه قیمت سره چي څومره غنم رانیول کېدای سي. له هغوی څخه د هر نیم صاع غنمو په بدله کي یوه روژه ونیسي، مثلاً شل نیم صاعه په رانیول کېدای سي (یا په بله وینا هغه قیمت د لس صاعه غنمو سره برابر وي)، نو شل روژې دي ونیسي.

وان فضل الخ: یعني د نیم، نیم صاع غنمو تر تقسیمولو وروسته که په آخر کي تر نیم صاع کم غنم پاته سي، نو د ده خوښه ده، که هغه خیراتوي او که د هغه په بدله کي یوه روژه نیسي (ځکه غنم که څه

هم له نیم صاع څخه کم دي خو روژه نه نیمايي کیږي، نو څکه که روژه نیول اختیار کړي. نو یوه پوره روژه به نیسي). (شفاء الارواح، ثمرة النجاح)

﴿۱۳۲۸﴾ وَتَجِبُ قِيْمَةُ مَا نَقَصَ بِنَتْفِ رِيْشِهِ الَّذِيْ لَا يَطِيْرُ بِهٖ وَشَعْرِهٖ او واجبیږي هغه قیمت (یعني هغومره قیمت څومره) چي کم سوی وی د مرغه د هغه وزر (بڼي) په کښلو سره چي په هغه سره مرغه نه الوزي او د هغه (دبدن) د ښو (په کښلو سره) وَقَطْعِ عُضْوٍ لَا يَمْنَعُهُ الْإِمْتِنَاعَ بِهٖ او (د مرغه یا بل حیوان) د داسي اندام په پرېکولو سره چي هغه (مرغه یا حیوان) منع نه کړي له امتناع (د ځان د دفاع کولو) په هغه سره (یا په بله وینا: د داسي اندام په پرېکولو سره چي هغه د ځان له حفاظت کولو څخه محرومه نه کړي. یعني چي د هغه تر پرېکېدلو وروسته بیا هم هغه د ځان حفاظت کولای سي او الوتلای یا ځغستلای سي).

﴿۱۳۲۹﴾ وَتَجِبُ الْقِيْمَةُ بِقَطْعِ بَعْضِ قَوَائِمِهٖ او قیمت واجبیږي د هغه (ښکار) له پښو څخه د یوې پښې په پرېکولو سره وَنَتْفِ رِيْشِهٖ او د هغه (مرغه) د وزر په کښلو سره وَكَسْرِ بَيْضِهٖ او د هغه د هګۍ په ماتولو سره.

لغات: ﴿نتف﴾ د ضرب د باب مصدر دی: (وربښته، ښه او داسي نور) کښل. کاږل. ﴿ریش﴾ د مرغه وزر، د وزر ښکي، واحد: رِيْشَةٌ، جمع: رِيَاشٌ. ﴿امتناع﴾ د افتعال د باب مصدر دی، د دې باب په صله کي چي باء ذکر سي لکه دلته "به"، نو معنیٰ یې ده: په یو شي سره ځان ساتل (د ځان حفاظت په کول. له ځانه دفاع کول)، په نوي کېدل، د لایمنعه الامتناع به مطلب دا دی چي په کوم عضو سره د هغه حفاظت کیږي، له هغه څخه محروم نه سي، ﴿قوائم﴾ جمع د قائمة ده: د سپارلي پښې او لاسونه. چي اصطلاحاً ټولو ته پښې وايي.

تشریح: که محرم د ښکار والا مرغه د وزر هغه بڼي وکاږي چي په هغوی سره مرغه الوتل نه کوي (یا بله وینا: د وزر هغه بڼي یې وکاږي کوم چي مرغه ته تاوان نه کوي)، یا د مرغه د بدن ښي (وربښته) وکاږي، یا د مرغه داسي اندام مات کړي چي تر دې وروسته هم هغه الوتلای او ځان خلاصولای سي، نو په دې صورتونو کي چي د مرغه په قیمت (مالیت) کي کوم نقصان او کمي راغلې ده، صرف د هغه ضمان (تاوان) پر محرم لازمیږي، مثلاً که د دا ډول صحیح سالم مرغه قیمت زر (۱۰۰۰) افغانۍ وي، او اوس د وزر یا ښو د کښلو، یا د اندام ماتولو څخه وروسته د هغه قیمت پنځه سوه روپۍ سو، نو پر محرم پنځه سوه (۵۰۰) افغانۍ ضمان لازمیږي.

وتجب القیمة إلخ: د دې حاصل دا دی چي که محرم د ښکار له پښو څخه یوه پښه پرېکړي چي تر دې وروسته ښکار خپل حفاظت نه سي کولای او له خلکو څخه نه سي تښتېدلای، یا د مرغه هغه وزري وکاږي چي په هغوی سره مرغه الوتل کوي چي تر دې وروسته هغه نه سي الوتلای او ځان نه سي خلاصولای، نو اوس د هغه پوره قیمت لازمیږي؛ ځکه چي محرم د هغه د حفاظت آله ور ضایع کړه، نو ګواکي د هغه امن یې ور ختم کړی او امن ور ختمونکی د قاتل په درجه کي دی، نو ځکه پر هغه د مقتول پوره قیمت واجبیږي.

وکسر إلخ: او که محرم د ښکار د مرغه هګۍ ماته کړي، حال دا چي هغه صحیح سالمه وي، نو په تاوان کي د هګۍ قیمت واجبیږي. (شفاء الارواح، ثمرة النجاح)

﴿۱۳۳۰﴾ وَلَا يُجَاوَزُ عَنْ شَاةٍ بِقَتْلِ السَّبُعِ او تېری به نه کول کیږي تر یوه پسه د یو درنده د وژلو په عوض کي (یعني د یو ځیرونکي حیوان د وژلو په بدله کي به د یوه پسه له قیمت څخه تجاوز نه کول کیږي).

﴿۱۳۳۱﴾ وَإِنْ صَالَ او که درنده (خپله) حمله کړې وي لَا شَيْءَ بِقَتْلِهٖ نو (بیا) د هغه پر وژلو هیڅ شی نسته.

لغات: ﴿لا یجاوز﴾ د مفاعلې له بابه مضارع مجهوله ده، مجاوزةً: تېرېدل (تېری کول)، مخ ته تلل، ﴿سَبُع﴾ درنده، ځیرونکی حیوان. ﴿صال﴾ د نصر د باب ماضي ده، صَوْلًا: حمله کول.

تشریح: که محرم یو درنده (ځیرونکي حیوان) وژلی وي، مثلاً زمری، پړانګ یا داسي بل درنده یې وژلی وي، نو پر هغه هم جزاء واجبیږي، خو دومره قدر جزاء به واجبول کیږي چي هغه د یوه پسه له قیمت څخه تجاوز نه وکړي، مثلاً که د زمري قیمت لس زره افغانۍ وي او د پسه قیمت صرف درې زره افغانۍ وي، نو لس زره جزاء به نه واجبیږي، بلکي صرف درې زره به واجبیږي.

وإن صال إلخ: او که درنده خپله پر محرم حمله وکړي، نو د هغه له حملې څخه د ځان ساتلو په خاطر محرم پر هغه وار وکړي او قتل یې کړي، نو په دې صورت کي پر هغه هیڅ شی نه واجبیږي.

د غیرِ محرم (حلال کس) ښکار کول، د حرم د حدودو واښه او بوټي پرېکول

﴿۱۳۳۲﴾ وَلَا يُجْزِئُ الصَّوْمُ بِقَتْلِ الْحَلَالِ صَيْدَ الْحَرَمِ او روژه نه کافي کیږي د حلال کس (له طرفه) د حرم د ښکار په وژلو سره (یعني که حلال کس کوم چي احرام نه وي تړلی د حرم ښکار قتل کړي، نو روژه نیول ورلره کافي نه دي، بلکي قیمت به یې ورکوي) وَلَا بِقَطْعِ حَشِيْشِ الْحَرَمِ وَشَجَرَةِ

النَّابِتِ بِنَفْسِهٖ وَلَيْسَ مِمَّا يُنْبِتُهُ النَّاسُ او نه (روژه کافي کیږي د هغه لپاره) د ونو په پرېکولو سره او د خپله ځانه کېدونکي درختي په پرېکولو سره (یعني) چي له هغه درختو څخه نه وي کوم چي يې خلک ځنه کوي بَلِ الْقِيْمَةُ بلکي قیمت (واجب) دی.

﴿۱۳۴۳﴾ وَحَرُمَ رَعْيُ حَشِيْشِ الْحَرَمِ او حرام دي د حرم وابنه څرول (یعني د حرم پر وښو څارویان کړځول او پوول) وَقَطْعُهٗ او (حرام دي) د حرم وابنه پرېکول إِلَّا الْإِذْخِرَ وَالْكَمْأَةَ نه اذخر وابنه او پوڅکی.

لغات: ﴿حشیش﴾ وابنه، ﴿رعی﴾ پوول، څرول (رمه د څر لپاره څرځای[چراګاه] ته بېول). څرل.

﴿إِذخر﴾ یو قسم شین خوشبوداره وابنه دی، واحد: إِذْخِرَةٌ، ﴿کمأة﴾ پوڅکی، مشهوره بوټی دی کوم چي د باران په موسم کي خپله پر ځمکه راپورته کیږي، په شکل ګردی (د توپی په څېر) او په رنګ خړ وزمه دی.

تشریح: که غیرِ محرم (حلال) کس د حرم ښکار قتل کړي، نو پر هغه د ښکار قیمت واجبیږي، او که هغه وغواړي چي د ښکار د قیمت په عوض کي روژې ونیسي، نو نه ورلره کافي کیږي لکه څرنګه چي د محرم کس د ښکار قتل کولو په صورت کي هغه لره روژې کافي کیږي.

ولا بقطع إلخ: یعني که څوک د حرم وابنه پرېکړي، یا يې داسي درخته (ونه) پرېکړي کوم چي په خپله راشنه سوې وي، یعني داسي درخته کوم چي يې خلک نه راشنه کوي، بلکي خپله راشنه کیږي لکه د کیکر درخته، نو د دې د پرېکولو په صورت کي پر هغه قیمت واجبیږي، روژه نیول نه کافي کیږي.

وحرم رعی إلخ: یعني په حرم کي څارویان پوول (څرول) او د حرم وابنه پرېکول دواړه حرام دي. په خلاف د اذخر وښو او په خلاف د پوڅکی چي په حرم کي دننه د هغوی پرېکول جائز دي. (شفاء الارواح بتصرفٍ)

⁂

فَصْلٌ

د احرام په حالت یا د حرم په حدودو کي د کومو حیوانانو قتلول جائز دي؟

﴿۱۴۴۴﴾ وَلَاشَيْءَ بِقَتْلِ غُرَابٍ وَحِدَأَةٍ وَعَقْرَبَ او څه شی نسته (یعني هیڅ نه واجبیږي) په وژلو سره د کارګه او ټپوس او لړم وَفَأْرَةٍ وَحَيَّةٍ وَكَلْبٍ عَقُوْرٍ او (په وژلو سره) د موږک او مار او د خروري (داړونکي) سپي وَبَعُوْضٍ وَنَمْلٍ وَبُرْغُوْثٍ او (په وژلو سره) د غوماشي او مېږي او کیکي وَقُرَادٍ وَسُلْحَفَاةٍ او (په وژلو سره) د منګوړ او کیشپ وَمَالَيْسَ بِصَيْدٍ او (په وژلو سره) د هغه څه (حیوان) کوم چي ښکار نه وي.

لغات: ﴿غُراب﴾ کارګه، کارغه. جمع: غَرَابِیْب، ﴿حِدَاءة﴾ ټپوس. جمع: حِدَاء. ﴿عقرب﴾ لړم. جمع: عَقَارِب. ﴿کلب عقور﴾ خروری (خوړونکی اداړونکی) سپی کوم چي هر چا ته خوله اچوي، ﴿بعوض﴾ غوماشه (مچر). ﴿بُرْغوث﴾ کیکه، مشهوره خزنده ده، جمع: بَرَاغِیْث، ﴿قُرَاد﴾ منګوړ، مشهوره خزنده ده کوم چي د سپږو په څېر د څاروي په بدن کي پیدا کیږي، جمع: قِرْدَانٌ. ﴿سلحفاة﴾ کیشپ (کیشو). جمع: سَلَاحِفُ.

تشریح: د احرام په حالت کي د محرم لپاره او د حرم په حُدودو کي د حلال کس لپاره د لاندیني حیوانانو وژل جائز دي او په دې سلسله کي امام صاحب رَحِمَهُ الله د موذي (ضرر رسونکو) او د ځمکي د خزندو قاعده پېش کړې ده، نو کوم حیوانان او خزندې چي ضرر رسوي، همداسي د ځمکي خزندې دي. هغوی وژلای سي: ① ګندګي (مرداري) خوړونکي کارګه وژلای سي، ② ټپوس (ځکه هغه هم مؤذي حیوان دی چي د چرګي په چچیو او داسي نورو باندي حمله کوي او وړي یې، نو ځکه د هغه وژل هم جائز دي)، ③ لړم، ④ داړونکی سپی، ⑤ موږک (د هغه اذیت ښکاره دی چي د کور غله خوري، شیدې چیښي او کپړې څېري)، ⑥ مار، ⑦ غوماشه، ⑧ چیچونکی (موذی) مېږی، ⑨ کیکه، ⑩ منګوړ، ⑪ کیشپ (کیشو)، هر هغه موذي حیوان کوم چي د انسان له بدن څخه نه پیدا کیږي، هغه هم د احرام په حالت کي وژل جائز دي. لکه غوماشه (مچر) او داسي نور.

وماليس بصيد: او کوم چي د ښکار حيوان نه وي، د هغه په وژلو سره هم شی نه لازميږي، ښکار (صَيد) هغه حيوان ته وايي کوم چي له انسانانو څخه متوحّش او ترهېدونکی وي، لهذا کوم حيوان چي له انسانانو څخه متوحّش نه وي يعني د انسان په ليدلو سره نه ترهيږي او له هغه څخه ځان نه پټوي، بلکي عموماً اموخته او د انسان وطرف ته راغب وي لکه پُسه، غوا، اوښ، چرګه او داسي نور، د هغوی په وژلو سره هم هيڅ جزاء نه واجبيږي، لېکن د دوی وژل جائز نه دي، او د قاعدې مطابق د هغوی په ذبح کولو کي څه حرج نسته.

فَصْلٌ

د هدی تعريف، اقسام او وضاحت

﴿۱۲۲۵﴾ اَلْـهَـدْىُ أَدْنَاهُ شَاةٌ هدی (د حرم قرباني) د هغه کمه درجه (کمترین مقدار) يو پُسه دی وَهُوَ مِنَ الْإِبِلِ وَالْـبَقَرِ وَالْـغَنَمِ او هدی به له اوښانو، غواګانو او پسونو څخه وي.

﴿۱۲۲۶﴾ وَمَا جَازَ فِـي الضَّـحَـايَا او کوم څاروی چي په قربانيو کي جائز دی جَازَ فِـي الْـهَـدَايَا هغه په هديو کي (هم) جائز دی.

لغات: ﴿هَدْيٌ﴾ او هَدِيٌّ (دواړه لغات منقول دي): د قربانۍ څاروی کوم چي حرم ته استول کيږي، هغه څاروی (يعني پسه يا غويی يا اوښ، يا د دوی مؤنث) کوم چي حرم ته د قربانۍ لپاره را وستل کيږي، "مَايهدیٰ إِلَی الْحرم من النعم"، ﴿الإبل﴾ اسم جنس دی، پر واحد او جمع ټولو يې اطلاق کيږي، واحد له خپل لفظ څخه نه لري، او کله چي د جمع په صيغه سره "آبَالٌ" ذکر سي، نو مراد ځني څو رمې وي (مصباح)، ﴿البقر﴾ دا هم اسم جنس دی، همدارنګه پر مؤنث او مذکر (غوا، غويي) دواړو باندي يې اطلاق کيږي، واحد يې بَقَرَةٌ راځي (مصباح)، ﴿الغنم﴾ دا هم اسم جنس دی: پسه، بزه، سېرلي او ميږې ټولو ته وايي، واحد له خپل لفظ څخه نه لري، واحد ته يې "شاة" وايي (مصباح، معجم لغة الفقهاء)، ﴿ضحايا﴾ جمع د ضَحِيَّة: د قربانۍ څاروی.

تشریح: هدی هغه څاروي ته وایي کوم چې یې حاجي د قربانۍ په نیت د ذبح کولو لپاره حرم ته (د هدیه په توګه) بوځي د الله تعالیٰ د قُرب حاصلولو لپاره. هدی صرف درې قسمه څارویان کېدلای سي: اوښ، غویی، پسه. په دې کې نر او ماده دواړه مراد دي، اوښ یې اعلیٰ درجه ده. غویی اوسط دی او پُسه ادنیٰ درجه ده. په دوی کې تر ټولو افضل اوښ دی، بیا غویی، بیا پُسه. له دغه دریو قسمونو څخه بغیر بل قسم څاروی هدی نه سي کېدلای.

وما جاز في الضحايا إلخ: د کوم څاروي چې قرباني جائزه ده، د هغه هدی هم جائز ده. یعنې د قربانۍ د جواز چې کوم شرطونه دي، هاغه شرطونه په هدی کې هم دي. مثلاً په قربانۍ کې ① د عیبداره څاروي قرباني جائز نه ده. لکه غوږ پرېکړل سوی (یعنې چې د غوږ دریمه حصه یې یا تر هغه زیاته پرې سوې وي، یا لکۍ یې همداسې پرې سوې وي). یا یې لاس یا پښه پرې سوې وي. یا یې سترګه ختلې وي (یا یې دریمه حصه یا تر هغه زیاته رڼا ایدا ختم سوې وي) نو داسې څاروی هدی جوړول هم جائز نه دي. ② کوم څاروی چې ډېر ډنګر وي (چې په هډوکو کې یې ماغزه پاته نه وي). یا ګوډ وي یعنې څلورمه پښه نه سي ایښوولای صرف پر دریو پښو ځي. د هغه قرباني جائز نه ده. نو هغه هدی ګرځول هم صحیح نه دي. ③ همدارنګه بل شرط دا دی چې د قربانۍ څاروی به ثني وي ثني دا دی چې د څاروي د ځوانۍ دوه غاښه راغلي وي (تر دې وروسته هغه ته ثني ویل کېږي)، نو همداسې به د هدی څاروی هم ثني وي. (انوار الایضاح، ثمرة النجاح)

په جرمانه کې بدنه کله لازمېږي؟

﴿۱۳۳۷﴾ وَالشَّاةُ تَجُوْزُ فِي كُلِّ شَيْءٍ إِلَّا فِيْ طَوَافِ الرُّكْنِ جُنُبًا او پُسه جائز دی په هر ځای کې، مګر (یو) د جنابت په حالت کې د طوافِ رکن (طوافِ زیارت) په کولو کې وَوَطْءٍ بَعْدَ الْوُقُوْفِ قَبْلَ الْحَلْقِ او (بل. پر عرفات) له وقوف کولو څخه وروسته تر سر خرېیلو مخکې په وطې کولو کې فَفِي كُلٍّ مِنْهُمَا بَدَنَةٌ نو د دې دواړو په هر یوه کې یوه بدنه (لازم) ده (یعنې لوی څاروی "اوښ یا غویی" به ذبح کول کېږي).

اللغات: ﴿بدنة﴾ دا لفظ بَدَنَةٌ دی، لوی څاروي یعنې اُوښ او غویي ته ویل کېږي (کوم چې په مکه کې د حج پر موقع قربانول کېږي)، پر مذکر او مؤنث دواړو یې اطلاق کېږي. یا په بله وینا: بدنه هر هغه لوی څاروي ته وایي کوم چې اُووه حصې کول کېږي، لکه غویی، غوا، اُوښ. او بعضو ویلي دي چې خاص پر اُوښ د دې اطلاق کېږي.

تشریح: پسه (او مېږه، وزګړی، بزه) په ټولو ځایو کي جائز دي، خو په دې دوو صورتونو کي جائز نه دي: ① که څوک د جنابت په حالت کي طواف رکن (طوافِ زیارت) وکړي، نو پسه نه کافي کېږي، بدنه یعني غویی یا اُوښ به ذبح کول کېږي، ② او دویم صورت دا چي که تر وقوف عرفه وروسته له سر خرېیلو څخه مخکي جماع وکړي، نو هم به بدنه ذبح کول کېږي. (شفاء الارواح، انوار الایضاح)

د قربانۍ وخت

﴿۱۲۴۸﴾ وَخُصَّ هَدْيُ الْمُتْعَةِ وَالْقِرَانِ بِيَوْمِ النَّحْرِ فَقَطْ او خاص کړل سوي دي د (حجِ) تمتّع او قِران هدی صرف د قربانۍ د ورځي سره (یعني د حجِ تمتّع او حجِ قِران هدی اقربانې ایوازې په ایامُ النحر پوري مخصوص ده).

تشریح: په حجِ قران او حجِ تمتع کي پر حاجي د شکرانې په توګه یو دَم یعني قرباني کول واجب دي، د هغه لپاره وخت هم متعیّن وخت دی او هغه د قربانۍ ورځې دي (یعني د ذو الحجې د لسمي څخه تر دولسمي پوري، یا په بله وینا د لوی اختر له اولي څخه تر درېیمي پوري، په دې ورځو کي ذبح کول واجب دي) او له دې ورځو څخه مخکي ذبح کول جائز او معتبر نه دي، او د قربانۍ له ورځو څخه وروسته ذبح کول جائز دي، لېکن د تأخیر په وجه پر هغه یو بل دَم واجبېږي. (شفاء الاراح)

د هدی د ذبح کولو ځای

﴿۱۲۴۹﴾ وَخُصَّ ذَبْحُ كُلِّ هَدْيٍ بِالْحَرَمِ او خاص کړل سوې ده د هري هدي ذبح د حرم سره (چي هلته به ذبح کول کېږي) إِلَّا أَنْ يَكُوْنَ تَطَوُّعًا مګر دا چي هغه نفلي هدی وي وَتَعَيَّبَ فِي الطَّرِيْقِ او هغه په لاره کي عیبداره سوې وي فَيَنْحَرُ فِيْ مَحَلِّهٖ نو هغه دي ذبح کړي په هاغه ځای کي.

﴿۱۲۵۰﴾ وَلَا يَأْكُلُهُ غَنِيٌّ او مالدار دي هغه نه خوري.

﴿۱۲۵۱﴾ وَفَقِيْرُ الْحَرَمِ وَغَيْرِهٖ سَوَاءٌ او د حرم فقیر او له حرم څخه بغیر (د بل ځای) فقیر سره برابر دي.

اللغات: ﴿فینحر﴾ د فتح له بابه مضارع معلومه ده، نَحَرَ يَنْحَرُ نَحْرًا: ذبح کول، په اصل کي د نحر معنیٰ ده: اوښ پر سینه وهل (کوم چي د اوښ د ذبح شروع ده او بیا ذبح (حلالول) کېږي).

تشریح: هدی (یا په بله وینا د حاجیانو قربانې) د حرم په حدود کي ذبح کول ضروري دي، له حرم څخه بهر (په حِلّ کي) ذبح کول جائز نه دي، خو که مجبوري پېښه سي، نو بل ځای یې هم ذبح کولای سي، مثلاً نفلي هدی وي او په لاره کي په یو مرض مبتلا سي او تر کعبې شریفې پوري نه سي رسېدلای، نو چیري چي په مرض مبتلا سوې ده، هلته دي ذبح کړل سي.

ولا یأکله إلخ: یعني نفلي هدی کوم چي حرم ته نه وي رسېدلې، بلکي په لاره کي ذبح کړل سوې وي، د هغه غوښې دي نه خپله خوري او نه دي یې مالدارانو ته ورکوي. بلکي د هدی غوښې دي صرف پر مسکینانو تقسیم کړي، او د حرم مساکینو ته ورکول ضروري نه دي، له دوی څخه بغیر نورو ته ورکول هم جائز دي. په دې کي د حدودِ حرم قید نسته، لېکن د حرم مساکینو ته ورکول افضل دي. (شفاء الارواح، ثمرة النجاح، انوار الایضاح)

د هدی کوم خاروي ته به قلاده ور اچول کیږي؟ او د هدی د زل، رسی او د شیدو حکم

﴿۱۳۵۲﴾ وَ تُقَلَّدُ بَدَنَةُ التَّطَوُّعِ وَالْمُتْعَةِ وَالْقِرَآنِ فَقَطْ او قلاده (علامتي هار) به ور اغوستل کیږي فقط ونفلي بدنې او د تمتع او قران و بدنې ته.

﴿۱۳۵۳﴾ وَيَتَصَدَّقُ بِجِلَالِهٖ وَ خِطَامِهٖ او صدقه دي کړي د هدی د څاروي زَل او پېزوان (مهار او تناو) وَلَا يُعْطٰى أَجْرُ الْجَزَّارِ مِنْهُ او د قصاب أجرت (مزدوري) به له هغه څخه نه ورکول کیږي.

﴿۱۳۵۴﴾ وَلَا يَرْكَبُهٗ بِلَا ضَرُوْرَةٍ او نه به پر سپرېږي پر هغه بېله ضرورته.

﴿۱۳۵۵﴾ وَلَا يُحْلَبُ لَبَنُهٗ او نه به د هغه شیدې لوښل کیږي إِلَّا أَنْ يَبْعُدَ الْمَحَلُّ مګر دا چي ځای (ډېر) لیري وي فَيَتَصَدَّقُ بِهٖ نو د هغه شیدې به صدقه کوي وَيَنْضَحُ ضَرْعَهٗ إِنْ قَرُبَ الْمَحَلُّ بِالنُّقَاخِ او چړکاوۍ به کوي د هغه پر غولانځه که ځای نژدې وي په یخو اوبو سره (یعني پر تیو به یې یخي اوبه واچوي).

لغات: ﴿تقلّد﴾ د تفعّل له بابه مضارع مجهوله ده، تقلیدًا: د دې باب له معناو څخه یوه معنیٰ ده: غاړګی ور په غاړه کول، طوق ور اچول، د څپلی یا څرمني توټه په غاړه ور ځړول، یا د څرمني یا داسي بل شي له ټوټو څخه هار جوړول او غاړي ته ور اچول، دا ټوله په تقلید الهدی کي راځي، ﴿جِلَال﴾ جمع د جُلٌّ ده: زَل، ﴿خطام﴾ پېزوان (د څاروي په پوزه کي اچول کېدونکی تناو [پړی])، مهار، ﴿جزار﴾ د څارویو ذبح کونکی قصاب، ﴿لا یحلب﴾ د نصر له بابه د نفي مجهول صیغه ده، حَلْبًا: لوښل، ﴿يَنْضَحُ﴾ د فتح له بابه مضارع معلومه ده او د ضرب له بابه (يَنْضِحُ) هم راځي: اوبه (عمشکې، عمشکې) پاشل، چړکاوول (د اوبو شیندل)، او پاشي کول، ﴿ضرع﴾ غولانځه، جمع: ضُرُوْع، ﴿نقاخ﴾ (بضم النون وفتح القاف)، د دې لفظ له معناو څخه یوه معنیٰ ده: یخي صفا اوبه. (معجم الوسیط)

تشريح: نفلي هدی کوم چي بدنه (اوښ یا غویی) وي یا د حجِ قران یا حجِ تمتّع هدی کوم چي بدنه وي، صرف د دوی غاړي ته به قلاده (هار) یعني د څپلۍ یا څرمني (چمړې) یو ټوټه یا د درختي د پوستکي یو ټوټه ور اچول کیږي، دا افضل دي؛ ځکه نفلي هدی او د قِران او تمتّع هدی دَمِ نُسک (عبادت) او د نعمت هدی دي، او د قلاده په ور اچولو سره د دې اظهار کیږي چي دا دَمِ نُسک او د نعمت هدی دي، او پاته سوه د جنایت هدی یعني په حج کي د یو جرم کولو په وجه چي کومه قرباني لازمه سي، د هغه اظهار کول معیوب دي او په قلاده ور اچولو سره د دې اظهار کیږي، نو ځکه د جنایت د هدي غاړي ته دي قلاده نه اچوي (همدا حکم دإحصار د هدی دی).

ویتصدّق إلخ: د هدی زل (ځل)، رسۍ او داسي نور شیان دي صدقه او خیرات کړي (ځکه د هدی څاروی د قُربت په توګه ذبح کول کیږي، نو د هغه سره متعلق ټوله شیان قُربت دي، نو ځکه به یې خیراتوي)، همدارنګه د ذبح کونکي (قصاب) په أجرت کي دي د هدی غوښې، څرمن، رسۍ او داسي نور نه ورکوي، بلکي د هغه أجرت (مزدوري) به له خپل جېبه څخه جلا ورکوي.

ولا یرکبه إلخ: او بېله ضرورته د هدي پر څاروي سپرتیا جائز نه ده، خو که مجبوري وي او بله سپارلي نه وي، نو سپرتیا جائز ده،او که په پیاده تللو باندي قدرت لري، نو په دې صورت کي به نه پر سپریږي تر څو چي له پیاده تګ څخه عاجزه او مجبوره نه سي.

ولا یحلب إلخ: که هدی ماده څاروی وي او شیدې لري، نو محرم دي د هغه شیدې نه لوښي، خو که د ذبح وخت یې لیري وي او شیدې که یې نه را ویستل سي، نقصان ورته کوي، نو بیا دي یې شیدې ولوښي، غریبانو او مسکینانو ته دې ورکړي، او که د ذبح وخت یې نژدې وي او شیدې یې څڅیږي، نو د هغې پر غولانځه دي یخې اوبه پاشي، چي شیدې کلکي سي او څڅوب یې بند سي.

د پیاده حج کولو نذر کول او د پیاده حج کولو فضیلت

﴿١۴٥٦﴾ وَلَوْنَذَرَ حَجًّا مَاشِيًا او که نذر ومني د پیاده حج کولو (په پښو حج کول پر ځان نذر کړي) لَزِمَهٗ نو پیاده حج کول پر هغه لازمیږي وَلَا يَرْكَبُ حَتّٰى يَطُوْفَ لِلرُّكْنِ او نه به سپریږي تر دې چي طوافِ رکن (طوافِ زیارت) وکړي فَإِنْ رَكِبَ بیا که چیري سپور سي أَرَاقَ دَمًا نو وینه به بهوي (یعني دَم به ذبح کوي).

﴿١۴٥٧﴾ وَفُضِّلَ الْمَشْيُ عَلَى الرُّكُوْبِ لِلْقَادِرِ عَلَيْهِ او فضیلت ورکړل سوی دی (افضل ګرځول سوی دی) پیاده تګ پر سپرتیا، د هغه کس لپاره چي په پیاده تګ باندي قدرت لرونکی

وي (یعني هغه لپاره پیاده حج کول افضل دي) وَفَّقَنَا اللهُ تَعَالٰى بِفَضْلِهٖ الله تعالیٰ دې موږ ته توفیق راکړي په خپل فضل (مهربانی) سره وَمَنَّ عَلَيْنَا بِالْعَوْدِ عَلٰى أَحْسَنِ حَالٍ إِلَيْهِ او احسان دې وکړي پر موږ په واپس تللو (دوباره حج کولو) سره په ډېر ښه حالت کې د هغه وطرف ته (چې په بهترین حالت کې دوباره حج وکړی سو) بِجَاهِ سَيِّدِنَا مُحَمَّدٍ ﷺ په وسیله (واسطه) سره زموږ د سردار محمد ﷺ.

لغات: ﴿فُضِّل﴾ د تفعیل له بابه ماضي مجهوله ده، تَفْضِيْلًا: فضیلت ورکول، افضل ګرځول، ﴿وفّقنا﴾ د تفعیل له بابه د جمع متکلم صیغه ده، تَوْفِيْقًا: توفیق ورکول، د الله له طرفه د بنده لپاره د خیر لاره خلاصېدل او د شر لاره بندېدل، د مقصد پوره کېدو لپاره د خیر اسباب برابرول او خنډونه لیري کول، الهي مرسته.

تشریح: مسئله دا ده چې که څوک پیاده حج کول پر ځان نذر کړي، مثلاً داسې ووایې چې د الله تعالیٰ لپاره پر ما پیاده حج کول واجب دي، یا مثلاً: چې که الله تعالیٰ زما مریض ته شفا ورکړي، نو زه به یو پیاده حج کوم، او مریض ته شفاء حاصله سي، نو پر هغه واجب دي چې د طوافِ زیارت کولو تر وخته پوري سپور نه سي؛ ځکه له طوافِ زیارت څخه وروسته د حج ارکان او افعال پوره کېږي، او که هغه تر دغه نذر کولو وروسته سپور سي، مکې شریفې ته ولاړ سي، نو د واجب پرېښوولو په وجه پر هغه دَم لازمېږي.

وفُضِّل المشي إلخ: یعني څوک چې په پیاده تګ باندې قدرت لري، د هغه لپاره پیاده حج کول افضل دي.

امام ابو بکر هیثمي رَحِمَهُ الله په مجمع الزوائد کې له عبد الله ابن عباس (رض) څخه یو حدیث شریف نقل کړی دی چې نبي کریم ﷺ وفرمایل: کوم څوک چې په سپرتیا حج کوي، د هغه لپاره د سپارلۍ پر هر قدم اویا (۷۰) نېکۍ لیکل کېږي، او کوم څوک چې پیاده حج کوي، د هغه لپاره پر هر قدم اُووه سوه (۷۰۰) نېکۍ لیکل کېږي، او له نبي کریم ﷺ څخه پوښتنه وسوه چې د حرم شریف د عبادت نېکۍ (نېکیټي) څومره دي؟ نو نبي ﷺ وفرمایل: چې د حرم د حدودو یوه نېکي د یوه لک نېکیو سره برابره ده (مجمع الزوائد ج:۳. ص:۲۰۹).

دا د الله تعالیٰ ستر احسان او لوی انعام دی چې د یوه عبادت په عوض کې د زرهاوو او لکونو عبادتونو سره برابر نېکۍ ورکوي، الله تعالیٰ دې موږ ته بار بار د خپل حرم شریف د حاضرۍ او د خپل ګران حبیب ﷺ زیارت مبارک رانصیب کړي، يَا رَبِّ صَلِّ وَسَلِّمْ دَائِمًا أَبَدًا عَلٰى حَبِيْبِكَ خَيْرِ الْخَلْقِ كُلِّهِمْ. (ایضاح المناسک ص:۲۲، ۲۵)

احقر حبیب الرحمٰن "مدني"

غفر الله له ولوالدیه

۹/ ذو الحجه/ ۱۴۴۲ھ

فَصْلٌ

فِیْ زِیَارَةِ النَّبِیِّ ﷺ عَلٰی سَبِیْلِ الْاِخْتِصَارِ تَبْعًا لِمَا قَالَ فِی الْاِخْتِیَارِ

(دا فصل د نبي کریم ﷺ د زیارت په بیان کې دی په مختصره توګه، په اتباع کولو سره د هغه مطابق کوم چې یې په "اختیار" کې ویلي دي ایعني څرنګه چې کتابُ الاختیار والا لیکلي دي. زه یې هم هغسې ذکر کوم!)

تشریح: "اختیار" د کتاب نوم دی، په هغه کې د نبي کریم ﷺ د قبر د زیارت مبارک تذکر ده.

مصنف رَحِمَهُ الله د هغه په اتباع کې په مختصره توګه د روژې مبارکې د زیارت بیان کړی دی.

د مدینې شریفې فضیلت: په ټوله روبي زمین کې افضله د ځمکې هغه حصه ده کوم چې د مبارک عليه السلام د سپېڅلي بدن سره متصله ده، او دغه نېکبختي ومدینې شریفې ته حاصله ده، تر هغه وروسته کعبةُ الله او حرم شریف دی او تر هغه وروسته بیا د مدینې شریفې حُدود دي (شامي ج: ۲، ص: ۶۲۶، ط: کراچي). او له حضرت علي رضي الله عنه څخه نقل سوي دي چې نبي کریم ﷺ دا دعاء وکړه چې "اې الله حضرت ابراهیم عليه السلام ستا بنده او ستا خلیل وو، هغه د اهلِ مکې د برکت لپاره دعاء کړې وه او زه ستا بنده او ستا رسول یم، زه د اهلِ مدینې لپاره د برکت دعاء کوم، اې الله تعالیٰ اهلِ مدینې ته له اهلِ مکې څخه دوچنده برکت ورکړه!" (سبحان الله!)، لکه څرنګه چې نن سبا د مدینې شریفې برکت د خلکو مخ ته څرګند دی. (ترمذی شریفي ج: ۲، ص: ۲۲۹ بحوالهٔ انوار الایضاح)

زړګیه سترګي لګوه د قدم لاره نه ده　　حضرت په اینبي قدمونه دومره خواره نه ده

د مدینې شریفې حُرمت: له حضرت ابو هریره رضي الله عنه او حضرت انس رضي الله عنه څخه نقل سوي دي چې نبي کریم ﷺ وفرمایل: "اې الله څرنګه چې حضرت ابراهیم عليه السلام د مکّې مکرّمې حدود محترم ګرځولي دي، همداسې زه د مدینې منوّرې حُدود محترم ګرځوم". (ترمذی ج: ۲، ص: ۲۳۰، ایضاح المناسک ص: ۱۹۰)

د مدینې شریفې سفر: کله چې له مکّې شریفې څخه ومدینې شریفې ته روان سي، نو په لاره کې دي په کثرت سره دورد شریف ویل کیږي او تر څو چې ممکنه وي، په همدې کې دي مستغرق اووسي، او په لاره کې له مسجدِ حرام څخه پر شپاړس (۱۶) کیلو متره فاصله باندې "مقام سَرِف" پروت دی، په همدې ځای کې د اُم المؤمنین حضرت میمونه رضی الله عنها قبر دی، که ممکنه وي، نو هلته دي ودریږي، فاتحه او ایصالِ ثواب دي وکړي. (غنیة الناسک ص: ۲۰۲، ایضاح المناسک ص: ۱۸۸)

د روضې مبارکې د زیارت فضیلت

﴿۱۳۵۸﴾ لَمَّا كَانَتْ زِيَارَةُ النَّبِيِّ ﷺ مِنْ أَفْضَلِ الْقُرَبِ وَ أَحْسَنِ الْمُسْتَحَبَّاتِ کله چې د نبي کریم ﷺ زیارت له افضله (زیات فضیلت لرونکو) عبادتونو څخه دی او له غوره مستحباتو څخه دی (یعني یو افضل عبادت دی او یو غوره مستحب دی) بَلْ تَقْرُبُ مِنْ دَرَجَةِ مَا لَزِمَ مِنَ الْوَاجِبَاتِ بلکې د هغه واجب عبادتونو ودرجې ته نږدې دی کوم چې لازم (ضروري) دي فَإِنَّهُ ﷺ حَرَّضَ عَلَيْهَا ځکه نبي کریم ﷺ د زیارت رغبت (تشویق) ورکړی دی وَ بَالَغَ فِي النَّدْبِ إِلَيْهَا او زیاتوب (زیات فضیلت) یې بیان کړی دی د زیارت وطرف ته په رابللو (دعوتولو) کې فَقَالَ: مَنْ وَجَدَ سَعَةً وَلَمْ يَزُرْنِيْ نو فرمایلي یې دي: څوک چې وس (قدرت) پیدا کړي او (بیاهم) زیارت نه وکړي فَقَدْ جَفَانِيْ نو هغه زما سره جفا (جفاکاري) وکړه (زما څخه یې اعراض وکړی.یا په بله وینا داچې: زما په حق کې یې ګستاخي وکړه) وَ قَالَ ﷺ: مَنْ زَارَ قَبْرِيْ او نبي ﷺ فرمایلي دي: څوک چې زما د قبر زیارت وکړي وَجَبَتْ لَهُ شَفَاعَتِيْ نو د هغه لپاره زما شفاعت واجب سو وَ قَالَ ﷺ: مَنْ زَارَنِيْ بَعْدَ مَمَاتِيْ او (همدارنګه) نبي ﷺ فرمایلي دي: څوک چې زما تر وفات وروسته زما زیارت وکړي فَكَأَنَّمَا زَارَنِيْ فِيْ حَيَاتِيْ نو ګواکې هغه زما په ژوند کې زما زیارت وکړی إِلٰى غَيْرِ ذٰلِكَ مِنَ الْأَحَادِيْثِ (او) له دې څخه بغیر نور حدیثونه (هم سته چې په هغه کې د نبي کریم ﷺ د زیارت زیات فضیلت بیان سوی دی او زیات رغبت یې ورکول سوی دی) وَ مِمَّا هُوَ مُقَرَّرٌ عِنْدَ الْمُحَقِّقِيْنَ أَنَّهُ ﷺ حَيٌّ يُرْزَقُ او له هغه خبرو څخه کوم چې د تحقیق کونکو علماؤ په نېز ثابت کړل سوي (تحقیق شده) دي (یو دا دي) چې نبي کریم ﷺ ژوندی دی (او) رزق ورکول کیږي (څرنګه چې د هغه د شان سره لائق دي) مُمَتَّعٌ بِجَمِيْعِ الْمَلَاذِ وَ الْعِبَادَاتِ نفع اخیستونکی دی په ټولو لذتونو او عباداتو سره غَيْرَ أَنَّهُ حُجِبَ عَنْ أَبْصَارِ الْقَاصِرِيْنَ عَنْ شَرِيْفِ الْمَقَامَاتِ خو دا (بیا جلا خبره ده) چې هغه پټ (پوشیده) دی د هغه خلکو له نظرو څخه کوم چې د لوړو مقاماتو (له لیدو څخه) عاجزه دي.

لغات: ﴿تَقْرُبُ﴾ د کرُم له بابه مضارع معلومه ده، قُرْبًا و قُرْبَةً: نږدې کېدل، قریب کېدل، ﴿حرّض﴾ د تفعیل له بابه ماضي معلومه ده، تَحْرِيضًا: هڅول، آماده کول، تشویقول. ﴿بالغ﴾ د مفاعلې له بابه ماضي ماضي معلومه ده، مُبَالَغَةً، په عربي کې د دې باب څو معناوې نقل سوي دي: پوره هڅه (او تېنګار) کول (کوشش کول)، په یو شي کې زیاتوب کول، د یو شي آخري حدّ ته رسېدل (معجم الوسیط، معجم لغة الفقهاء) مُبَالَغَةٌ: مبالغه او زیاتوب کول، آخري حد ته رسېدل. ﴿النَّدْب﴾ (بفتح النون وسکون الدال)، د نصر د باب مصدر دی، نَدَبَ يَنْدُبُ نَدْبًا: د دې باب په صله کې چې "إلیٰ" راسي لکه دلته، نو معنیٰ یې ده: رابلل، د یو شي وطرف ته دعوتول، په ترغیب او تشویق سره رابلل (یعني په داسي توګه رابلل او دعوتول چې ترغیب او تشویقول هم ور سره وي). (معجم الوسیط، معجم لغة الفقهاء)، ﴿سعة﴾ (بفتح السین وکسره): وس، ګنجایش، ﴿جفاني﴾ د نصر له بابه ماضي معلومه ده، جَفَاءً و جَفْواً، د دې باب څو معناوي دي چې له هغوی څخه یوه معنیٰ ده: جفا کول (جفا کاري، بې وفائي کول)، اعراض کول او تعلق قطع کول، ﴿مقرّر﴾ د تفعّل له بابه مفعول دی: متعیّن کړی سوی، ټاکل سوی، ثابت کړی سوی، ﴿مُمَتَّع﴾ بفتح التاء د تفعیل له بابه مفعول دی او بکسر التاء فاعل دی: مَتَّعَ يُمَتِّعُ تَمْتِيْعًا، کله چې د دې باب په صله کې باء ذکر سي لکه دلته نو معنیٰ یې ده" نفع اخیستل، د نفع اخیستو لپاره باقي پرېښوول، فایده ور رسول يُقَالُ متّعه الله بکذا، أی أبقاه لیتنفع به (معجم الوسیط، انوار الایضاح)، ﴿ملاذ﴾ جمع د مَلَذَّةٌ ده: خواهش، خوند، ﴿حجب﴾ د نصر له بابه ماضي مجهوله ده: پټول، منع کول، محروموول، ﴿قاصرین﴾ د نصر له بابه د جمع مذکر فاعل صیغه ده، قَصَرَ يَقْصُرُ قُصُوْرًا: له یو شي څخه عاجزه کېدل، د عاجزۍ او کمزورۍ په وجه یو شی پرېښوول.

تشریح: له حج څخه تر فراغت وروسته تر ټولو افضل او تر ټولو لویه نېکبختي د سیدُ الانبیاء، رحمة للعالمین رسول مقبول ﷺ د روضې مبارکي زیارت دی، د رسول الله ﷺ محبت او عظمت هغه شی دی چې له هغه څخه بغیر ایمان نه صحیح کیږي، او په فطري توګه هم د دې تقاضا کېدل پکار دي چې مکې شریفې ته له رسېدو څخه وروسته د روضې مبارکي له زیارت څخه بغیر را واپس نه سي، په همدې وجه د مسلمانانو پر دې خبره اجماع ده چې د روضې مبارکي زیارت افضل عبادت او د درجاتو حاصلولو لپاره تر ټولو کامیابه کوشش دی، او بعضي علماؤ د قدرت لرونکو حضراتو لپاره واجب ته نږدې لیکلی دی؛ ځکه خپله نبي کریم ﷺ د زیارت ترغیب ورکړی دی لکه څرنګه چې په دې هکله په عبارت کې څو احادیث ذکر سول او نبي کریم ﷺ د قدرت باوجود زیارت نه کونکی

جفاکاره شمېرلی دی، لهذا خوش نصیبه هغه کس دی کوم چي په دې دولت سره ونازول سي او بدبخته هغه کس دی کوم چي د وس او قدرت باوجود له دې نعمت عُظمیٰ څخه محروم پاته سي.

ومما هو مقرر عند المحققين إلخ: محقيقين فرمايي چي نبي کريم ﷺ په خپل مبارک قبر کي ژوندی دی او له ټولو مفاد حيات او عباداتو څخه نفع او لذت اخلي، همدارنګه په يو حديث کي دي چي د الله نبي ژوندی وي، رزق ور کول کيږي، له دې حديث څخه هم معلومه سوه چي هر نبی په خپل قبر کي ژوندی وي، ها! دا بيا جلا خبره ده چي د کم نظره خلګو او د هغه خلګو له نظره او سترګو څخه کوم چي له مقامات عاليه څخه ليري دي هغومره نبي کريم ﷺ څني نيام دی، څومره چي هغوی ليري دي په هغومره اندازه نبي کريم ﷺ څني پټ دی، د نبي کريم ﷺ د وفات تر صحنې وروسته د نبي کريم ﷺ مثال د هغه څراغ په څېر دی کوم چي په يو بنده خونه (کمره) کي پرُوت وي او د هغه دروازه بنده کړل سوې وي، نو کوم خلګ چي بهر وي، له دوی څخه هغه رڼا پټه وي، خو په خونه کي چي څرنګه مخکي وي، بالکل هغسي دی، بلکي تر هغه هم زيات دی. (انوار الایضاح بحوالۀ مراقی الفلاح مع الطحاوي ص:۴۰۵)

همدارنګه په رواياتو سره د نبي کريم ﷺ دا مشاغل ثابت دي: ① د اُمت اعمال ور ته ښکاره کول کېدل، ② لمونځ کول، ③ مناسبه غذا د دې عالم خوړل، ④ د سلام اورېدل له نژدې څخه او له ليري څخه د ملائکو په ذريعه او د سلام جواب اورېدل، دا خو دائماً ثابت دي او احياناً له بعضي خواصِ اُمت سره په ويښه د نبي کريم ﷺ کلام او هغو ته لارښوونه هم په آثارو او اخبارو کي مذکوره ده، لکه څرنګه چي منصف رَحِمَهُ الله په "غير أنّه" سره اشاره کړې ده، او د خوب او کشف په حالاتو کي خو داسي واقعات بې شمېره دي. (شفاء الارواح بحوالۀ العطور المجموعة في ذكر النبي الحبيب ﷺ)

﴿۱۲۵۹﴾ وَلَمَّا رَأَيْنَا أَكْثَرَ النَّاسِ غَافِلِيْنَ عَنْ أَدَاءِ حَقِّ زِيَارَتِهِ او کله چي موږ وليدل زياتره خلګ غافله د روضې مبارکي له حق اداء کولو څخه وَمَا يُسَنُّ لِلزَّائِرِيْنَ مِنَ الْكُلِّيَاتِ وَالْجُزْئِيَاتِ او (غافله) له هغه څه څخه کوم چي سنت دي د زيارت کونکو لپاره له کُلي او جزئي اُمورو څخه (يعني له هغه کلي او جزئي کارونو څخه کوم چي د زيارت کونکو لپاره مسنون دي. له کلياتو څخه مراد هغه شيان او هغه کارونه دي کوم چي د زيارت او غيرِ زيارت دواړو سره متعلق دي مثلاً تحية المسجد اَچي دا د مسجدِ نبوي او ټولو مسجدونو سره تعلق لري او له جزئياتو څخه مراد هغه شيان دي کوم چي صرف د زيارت سره خاص دي، مثلاً د زيارت په وخت کي د درېدلو طريقه او داسي نور احنيه) أَحْبَبْنَا أَنْ نَذْكُرَ بَعْدَ الْمَنَاسِكِ وَأَدَائِهَا مَا فِيْهِ نُبْذَةٌ مِنَ الْأَدَابِ نو موږ وغوښتل چي ذکر کړو د حج له مناسکو (افعالو او عباداتو) او د هغوی د اداء کولو (له ذکر) څخه وروسته څه حصه

آداب (یا په بله وینا: چې ذکر ذکرو داسې بیان چې په هغه کې دآدابو څه حصه وي) تَتْمِيْمًا لِفَائِدَةِ الْكِتَابِ د کتاب د فایدې د پوره کولو په غرض سره (چې کتاب په بشپړه توګه مفید وګرځي او دفقه العبادات د طالبانو لپاره).

لغات: ﴿غافلین﴾ جمع د غَافِلٌ ده، د نصر له بابه اسم فاعل دی: غفلت کونکي، د بې توجهۍ او کم احتیاطۍ په وجه هېرونکي، ﴿زائرین﴾ جمع د زَائِرٌ ده، دا هم د نصر له بابه فاعل دی، زیارت کونکی، د ملاقات لپاره راتلونکي، ﴿کلیات، جزئیات﴾ له کلیات څخه مراد هغه اُمور کوم چې د دې ځای او نورو ځایونو تر مینځ مشترک دي لکه تحیّة المسجد (چې په هر مسجد کې سنت دي)، او له جزئیات څخه مراد هغه خاص اُمور دي چې د هغوی تعلق د زیارت سره دی، لکه زیارت ته د درېدلو ادب او طریقه (چې وروسته به یې بیان راسي)، ﴿مناسك﴾ جمع د مَنْسَكٌ ده: د حج عبادات (افعال او ارکان)، ﴿نُبذة﴾ د یو شي ټوټه، قطعة من الشيء، جمع: نَبَذَات، ﴿تتمیمًا﴾ د تفعیل د باب مصدر دی: بشپړول (پوره کول)، بشپړتیا.

تشریح: مصنف رَحِمَهُ الله فرمايي چې زیاتره خلک داسې دي چې هغو ته د روضې مبارکې د زیارت طریقه او آداب معلوم نه دي، په کومه طریقه سره درېدل، درود او سلام ویل پکار دي، کوم، کوم شیان سنت دی، د دې مبارک ځای کوم حقوق دي، نو ځکه موږ د مناسکُ الحج له فراغت څخه وروسته د مدینې شریفې او مسجد نبوي ته د داخلېدلو آداب، په ریاضُ الجنه کې د عبادت فضیلت، پر روضه مبارکه د سلام ویلو آداب او طریقه، جنتُ البقیع ته د تللو طریقه او داسې نور تمام شیان په تفصیل سره بیانوو، د دې لپاره چې زموږ دا کتاب بشپړ مفید وګرځي او پر یو مبارک بیان ختم سي.

د دروشریف فضیلتونه

﴿۱۳۶۰﴾ فَنَقُوْلُ: يَنْبَغِيْ لِمَنْ قَصَدَ زِيَارَةَ النَّبِيِّ ﷺ نو موږ وایو چې: پکار ده (مناسب ده) د هغه کس لپاره چې د نبي کریم ﷺ د زیارت اراده وکړي أَنْ يُكْثِرَ مِنَ الصَّلٰوةِ عَلَيْهِ چې پر نبي کریم ﷺ زیات (په کثرت سره) درود شریف وایي فَإِنَّهٗ يَسْمَعُهَا ځکه نبي کریم ﷺ هغه اوري (که چیري د نبي کریم ﷺ د روضې سره نژدې ویل کیږي) وَتُبَلَّغُ إِلَيْهِ او نبي کریم ﷺ ته رسول کیږي (که چیري د لیري څخه ویل کیږي) وَفَضْلُهَا أَشْهَرُ مِنْ أَنْ يُذْكَرَ او د درود شریف

فضیلت زیات مشهور دی له دې څخه چي ذکر کړل سي (یعني د درود شریف فضائل له ذکر (بیان) څخه زیات مشهوره دي، بیان ته یې ضرورت نسته).

لغات: ﴿ینبغي﴾ د انفعال د باب مضارع ده: پکار ده، مناسب او لایق ده، ښه ده. ﴿تُبلّغ﴾ د تفعیل له بابه د واحد مذکر مخاطب صیغه ده: رسول.

تشریح: کله چي یو کس د نبي کریم ﷺ د زیارت اراده وکړي او د مدینې وطرف ته روان سي، نو په لاره کي دي په کثرت سره درود شریف وایي، بلکي له فرائضو او ضروریاتو څخه چي کوم وخت پاته سي، تول دي په همدې کي صرف کړي او ښه ذوق او شوق دي پیدا کړي او د محبت په اظهار کي دي هیڅ کمي نه کوي، او په کثرت سره درود شریف ویل د محبت له علاماتو څخه دي، علامه سخاوي رَحِمَهُ الله له امام زین العابدین رَحِمَهُ الله څخه نقل کړي دي چي په رسول الله ﷺ باندي په کثرت سره درود ویل د اهلِ سنت والجماعت کېدلو علامت دی.

تر دې وروسته مصنف رَحِمَهُ الله فرمایي چي کوم څوک یې له نژدې څخه وایي، نو نبي کریم ﷺ هغه خپله اوري او څوک چي یې له لیرې څخه وایي، هغه نبي کریم ﷺ ته رسول کیږي (یعني پر هغه فرښتې ټاکل سوي دي)، لکه څرنګه چي دا مضمون په یو حدیث کي هم بیان سوی دی کوم چي له حضرت ابو هریره رضی الله عنه څخه نقل سوی دی چي نبي ﷺ وفرمایل: څوک چي زما د قبر سره نژدې پر ما درود وایي، زه هغه خپله اورم او څوک چي له لیرې څخه پر ما درود وایي، هغه ما ته رسول کیږي، نو چا ته چي د روضې مبارکي زیارت نصیب سي، هغه ته دا شرافت حاصلیږي چي خپله سیّدُ الکونین، رحمة للعالمین ﷺ د هغه درود شریف اوري، ډېره د فخر او لذت خبره ده.

وفضلها أشهر الخ: د دروشریف فضیلتونه له بیان څخه زیات او له احاطې څخه بهر دي، تر دې چي خپله الله تعالیٰ او د هغه فرښتې درود وایي (لېږي) او بندګانو ته هم د درود ویلو حکم کوي (ثمرة النجاح)، همدارنګه په حدیث کي راځي چي کوم څوک پر ما یو ځل درود ووایي، الله تعالیٰ پر هغه لس واره رحمت استوي، د الله له طرفه خو صرف یو رحمت هم د ټوله دنیا لپاره کافي دی، نو تر دې به زیات فضیلت څه وي چي پر یوه ځل درود ویلو د الله له طرفه لس رحمتونه نازلیږي، د فضائلو په هکله څو روایات په حاشیه کي هم لیکل سوي دي.

مدینې شریفي ته د نژدې رسېدلو دعاء

﴿۱۳۶۱﴾ فَإِذَا عَايَنَ حِيْطَانَ الْمَدِيْنَةِ الْمُنَوَّرَةِ بیا چي کله د مدینې شریفي دېوالونه ووینې يُصَلِّيْ عَلَى النَّبِيِّ ﷺ نو پر نبي کریم ﷺ دي درود ووایي ثُمَّ يَقُوْلُ: اَللّٰهُمَّ هٰذَا حَرَمُ

نَبِيِّكَ وَ مَهْبَطُ وَحْيِكَ بيا دي (دا دعاء) ووايي: اې الله! دا ستا د نبي حرم دی او ستا د وحيو د نازلېدلو (مبارک) ځای دی فَامْنُنْ عَلَيَّ بِالدُّخُوْلِ فِيْهِ نو پر ما احسان وکړه! په دې (مبارک ښار) کي د داخلېدلو وَاجْعَلْهُ وِقَايَةً لِّيْ مِنَ النَّارِ وَ أَمَانًا مِنَ الْعَذَابِ او وګرځوه هغه! زما لپاره له أور (دوږخ) څخه د حفاظت (خلاصون) ذريعه او له عذاب څخه د امن (په امان کېدلو) ذريعه وَاجْعَلْنِيْ مِنَ الْفَائِزِيْنَ بِشَفَاعَةِ الْمُصْطَفٰى يَوْمَ الْمَآبِ او وګرځوه! ما له هغه کسانو څخه چي د مصطفیٰ ﷺ په شفاعت سره کامیابېدونکي (نجات ترلاسه کونکي) وي د را واپس کېدلو په ورځ (يعني د قيامت په ورځ).

لغات: ﴿عاين﴾ د مفاعلې له بابه ماضي معلومه ده: په سترګو سره ليدل، مخامخ لېدل، مشاهده کول، ﴿حيطان﴾ جمع د حَائِط ده: دېوال، ﴿حَرَم﴾ د حُرمت ځای، حَرَمُ النَّبِي ﷺ: مدينه شريفه، حَرَمَان: مکه او مدينه، ﴿مهبط﴾ د ضرب له بابه اسم ظرف دی: د شوه کېدلو ځای، د نازلېدلو ځای، ﴿اُمْنُنْ﴾ د نصر له بابه د واحد مذکر امرِ حاضر صيغه ده، مصدر "مَنًّا: احسان کول، کرم کول، ﴿وقاية﴾ د ضرب د باب مصدر دی: حفاظت کول، ساتل، همدارنګه هغه څه کوم چي د يو شي د حفاظت ذريعه وي، ﴿أمان﴾ د سمع د باب مصدر دی: په امن کېدل، محفوظ او مطمئن کېدل، ﴿فائزين﴾ جمع د فَائِزٌ ده، د نصر له بابه اسم فاعل دی" کامياب، بريالی، ﴿شفاعة﴾ د فتح له بابه اسمِ مصدر دی: سفارش کول، د بل چا د معافۍ او بخښني خواست کول، يا د بل چا د عذاب کمېدلو خواست کول.

تشريح: علامه سخاوي رَحِمَهُ الله په قولِ بديع کي ليکلي دي چي مستحب دا ده چي کله د مدينې شريفي پر ودانيو او درختو او داسي نورو باندي د ده نظر پرېوځي، نو په خشوع وخضوع سره دي په کثرت سره درود شريف وايي او څومره چي ور نژدې کيږي، هغومره دي په درود شريف کي اضافه کوي؛ ځکه دا ځايونه په وحی او د قرآن شريف په نزول سره آباد سوي دي او دلته بار، بار د حضرت جبرئيل ؑ او حضرت ميکائيل ؑ راتګ سوی دی او د دې خاوره پر سيّدُ البشر ﷺ مشتمله ده، له همدې ځايه د الله تعالیٰ دين او د هغه د پاک رسول ﷺ سنتونه خپاره سوي او شائع سوي دي، او بيا دي په متن کي ذکر سوې دعاء ووايي. (انوار الايضاح)

مدینې شریفې ته د داخلېدلو آداب

﴿۱۳۶۲﴾ وَيَغْتَسِلُ قَبْلَ الدُّخُوْلِ أَوْ بَعْدَهٗ قَبْلَ التَّوَجُّهِ لِلزِّيَارَةِ إِنْ أَمْكَنَهٗ او (مدینې منورې ته) تر داخلېدو مخکې یا وروسته دې غسل وکړي، مخکې له متوجه کېدلو (ورتللو) څخه وزیارت ته. که چیرې د ده لپاره (غسل کول) ممکن وه (یعني دغسل موقع یې ترلاسه کړه) وَيَتَطَيَّبُ وَيَلْبَسُ أَحْسَنَ ثِيَابِهٖ او خوشبویي دې ولګوي او خپل تر ټولو ښه جامې دې واغوندي تَعْظِيْمًا لِلْقُدُوْمِ عَلَى النَّبِيِّ ﷺ نبي کریم ﷺ ته د ورتګ د تعظیم کولو په خاطر ثُمَّ يَدْخُلُ الْمَدِيْنَةَ الْمُنَوَّرَةَ مَاشِيًا بیا دې مدینې منورې ته پیاده (په پښو) داخل سي إِنْ أَمْكَنَهٗ بِلَا ضَرُوْرَةٍ که چیرې له څه مشقت (تکلیف) څخه بغیر د ده لپاره (پیاده تلل) ممکن وه بَعْدَ وَضْعِ رَكْبِهٖ وروسته له ایښوولو (کښته کولو) څخه د خپل قافلې (مثلاً که ښځه او کورنۍ ورسره وه، نو د حفاظت ځای ته د هغو له رسولو څخه وروسته) وَاطْمِئْنَانِهٖ عَلٰى حَشَمِهٖ أَوْ أَمْتِعَتِهٖ او (وروسته) له اطمینان حاصلولو څخه پر خپلو خادمانو (یا متعلقینو) او خپل سامان (یعني محفوظه ځای ته د هغوی له رسولو څخه وروسته) مُتَوَاضِعًا بِالسَّكِيْنَةِ وَالْوَقَارِ (داخل دې سي) په داسې حال کې چې تواضع کونکی وي، په سکون او درنښت (درناوي او زغم) سره مُلَاحِظًا جَلَالَةَ الْمَكَانِ (او چې) لحاظ کونکی (خیال ساتونکی) وي د دې (مقدس) ځای د عظمت (ستر والي) قَائِلًا بِسْمِ اللّٰهِ وَعَلٰى مِلَّةِ رَسُوْلِ اللّٰهِ ﷺ (او چې) ویونکی وي (د دې دعاء) د الله په نامه سره او د رسول الله ﷺ پر ملت (داخلېږم)، یعني د الله تعالیٰ په نامه سره دې مبارک ښار ته داخلېږم په داسې حال کې چې د رسول الله ﷺ د دین پیروي کوم رَبِّ أَدْخِلْنِيْ مُدْخَلَ صِدْقٍ اې زما ربه! ما رښتوني مقام ته داخل کړه! (او بعضو د مُدخل او مُخرج مصدري معنیٰ کړې ده: یعني رښتوني داخلېده او رښتوني را ایستل کېده) وَأَخْرِجْنِيْ مُخْرَجَ صِدْقٍ او ما رښتوني مقام (لارې) ته را وباسه! وَاجْعَلْ لِيْ مِنْ لَّدُنْكَ سُلْطَانًا نَصِيْرًا (سورة بني اسرائل: ۸۰) او وګرځوه (را نصیب کړه)! زما لپاره له خپل طرفه څخه سرپرست (یا حکومت) مدد کونکی (یعني داسې غلبه او تسلط را کړه! چې د هغه سره ستا مدد او نصرت شامل وي، چې حقه ورنا لوره او غلبه پاته سي او معاندین

ذليله او تيټ سي) اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى سَيِّدِنَا مُحَمَّدٍ وَعَلٰى آلِ مُحَمَّدٍ إِلٰى آخِرِهٖ اې الله! (كامل) رحمت نازل کړه! زموږ په سردار محمد ﷺ باندي او د ده په آل (او اولاد) باندي، تر آخره پوري (یعني تر آخره دي ټوله درود ابراهيمي اد التحيات درود اووايي) وَاغْفِرْ لِيْ ذُنُوْبِيْ او زما ګناهونه را ته وبخښه (را معاف کړه)! وَافْتَحْ لِيْ أَبْوَابَ رَحْمَتِكَ وَفَضْلِكَ او زما لپاره د خپل رحمت او فضل دروازې خلاصي کړه!.

لغات: ﴿الرَّكْب﴾ قافله، سپاره کسان (کوم چي په خپل مينځ کي يو مشر لري، چي د هغه په حکم سره روانيږي او کښته کيږي. يعني پر يو څو سپارليو سپاره کسان چي په خپل مينځ کي يې مشر هم ټاکلی وي) (معجم لغة الفقهاء). ﴿حشم﴾ د سړي خادمان، متعلقين (يعني د سړي هغه تعلق والا او نږدې کسان چي په هغو ده خوا بديږي). قال صاحب المعجم: حشم الرجل خاصّته الّذين يغضبون لغضبه ولما يُصيبهُ من مَكْرُوهٍ من عبيد أو أهل أو جيرة جمع: أحشام. ﴿جلالة﴾ عظمت، يعني په ډېر عظمت او تعظيم سره دي د دغو مبارکو ځايونو مشاهده کوي. ﴿ضرورة﴾ د دې لفظ څو معناوي دي چي له هغوی څخه يې يوه معنیٰ ده: مشقت (تکليف)، سختي. (معجم الوسيط، معجم لغة الفقهاء)

تشريح: کله چي ومدينې شريفي ته ورسيږي، نو ښار ته تر داخلېدو مخکي که ممکنه وي، نو غسل دي وکړي او که تر داخلېدلو مخکي غسل نه وسي، نو تر داخلېدو وروسته دي غسل وکړي او که غسل ممکن نه وي، نو اودس دي وکړي، بيا دي پاکه، صفا او خپل ښه جامه واغوندي، نوې او سپينه جامه اغوستل افضل دي، بيا دي پر خپل بدن او جامو خوشبويي ولګوي او که ممکنه وي، نو پياده دي ولاړ سي او د دې مقدّس ښار د عظمت په لحاظ کولو سره دي په ډېره خشوع وخضوع سره ښار ته راسي (او که د مدينې منوّرې په سفر کي د داسي موټر انتظام وسي نو غوره ده کوم چي د آدابو په رعايت کولو کي موټر والا خفه نه جوړيږي) او کله چي د سيّدُ الکونين رسول الله ﷺ وښار ته داخل سي، نو د داخلېدو په وخت کي دي مذکوره دعاء ووايي (کوم چي په متن کي ذکر سوه). او په خپل مينځ کي دي له جنګ و جنجال او له فضول خبرو څخه ځان ساتي، او د دې دعاء ويلو په دوران کي دي د ډېري عاجزۍ او خضوع پيدا کولو کوښښ وکړي. (شفاء الارواح، انوار الايضاح)

﴿۱۳۳﴾ ثُمَّ يَدْخُلُ الْمَسْجِدَ الشَّرِيْفَ بيا دي مسجد شريف (مسجد نبوي) ته داخل سي فَيُصَلِّيْ تَحِيَّتَهٗ عِنْدَ مِنْبَرِهٖ رَكْعَتَيْنِ نو د نبي کريم ﷺ د منبر سره دي د تحية المسجد دوه رکعته وکړي وَيَقِفُ بِحَيْثُ يَكُوْنُ عَمُوْدُ الْمِنْبَرِ الشَّرِيْفِ بِحِذَاءِ مَنْكَبِهِ الْأَيْمَنِ او په داسي توګه دي ودريږي چي د منبر شريف ستن (پايه اېل ا) د ده د راسته اوږې په برابرۍ کي سي (يعني د

راسته اوږې سره يې برابر سي) فَهُوَ مَوْقِفُ النَّبِيِّ ﷺ ځکه همدا د نبي کريم ﷺ د درېدلو ځای دی وَ مَا بَيْنَ قَبْرِهٖ وَ مِنْبَرِهٖ رَوْضَةٌ مِنْ رِيَاضِ الْجَنَّةِ او هغه ځای کوم چي د نبي کريم ﷺ د قبر (روضې مبارک) او د منبر شريف تر مينځ دی هغه د جنت له باغچو څخه يوه باغچه ده كَمَا أَخْبَرَ بِهٖ ﷺ لکه څرنګه چي نبي کريم ﷺ د دې خبر ورکړی دی وَ قَالَ: مِنْبَرِيْ عَلٰى حَوْضِيْ او فرمايلي يې دي: چي زما منبر زما پر حوض دی فَتَسْجُدُ شُكْرًا لِلّٰهِ تَعَالٰى بِأَدَاءِ رَكْعَتَيْنِ غَيْرَ تَحِيَّةِ الْمَسْجِدِ نو ته به سجده وکړې د الله تعالیٰ د شکر اداء کولو لپاره د دوو رکعتو په اداء کولو سره بغير له تحية المسجد څخه شُكْرًا لِمَا وَفَّقَكَ اللّٰهُ تَعَالٰى وَ مَنَّ عَلَيْكَ بِالْوُصُوْلِ إِلَيْهِ د دې شکر اداء کولو لپاره چي توفيق يې درکړی الله تعالیٰ و تا ته او احسان يې وکړی پر تا و دغه (مبارک) ځای ته په رسولو سره (په بله وينا داچي: کله الله تعالیٰ ته د ګران پېغمبر ﷺ مبارک ښار او مسجد او زيارت ته راورسولې او د دې توفيق يې درکړی، نو ځکه له تحية المسجد څخه بغير د الله تعالیٰ د شکر پر ځای کولو [شکرانې] لپاره به هم دوه رکعته لمونځ وکړې) ثُمَّ تَدْعُوْ بِمَا شِئْتَ بيا به دعاء وکړې د هغه څه، چي ته يې غواړې (څه چي ستا خوښه وي).

لغات: ﴿عمود﴾ ستنه (ستون)، پايه، تمبه، جمع: أَعْمِدَةٌ، ﴿روضة﴾ ښايسته باغ، شنه زرغونه ځمکه، جمع: رِيَاضٌ.

تشريح: کله چي و مدينې شريفي ته راسي، نو ژر تر ژره دي مسجد نبوي ته د حاضرېدلو فکر وکړي او کله چي مسجد نبوي ته د داخلېدلو اراده وکړي، نو اول دي غسل يا اودس وکړي او پاکه صفا جامه دي واغوندي او خوشبويي دي ولګوي که چيري هغه مدينې ته د داخلېدلو په وخت کي دا کارونه نه وي کړي، تر دې وروسته دي په ادب او د زړه په حضور سره د مسجد و طرف ته روان سي او کله چي مسجد ته داخل سي، نو اول دي راسته پښه ور دننه کړي او دا دعاء دي وکړي "بِسْمِ اللّٰهِ وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰى رَسُوْلِ اللّٰهِ، اَللّٰهُمَّ اغْفِرْلِيْ ذُنُوْبِيْ وَافْتَحْ لِيْ أَبْوَابَ رَحْمَتِكَ"، تر دې وروسته که نورو ته له تکليف رسولو څخه بغير ځای تر لاسه کېږي نو اول دي د منبر و طرف ته ولاړ سي، د منبر او قبر مبارک تر مينځه چي کومه حصه ده، دغه حصې ته رياضُ الجنة وايي، هسي خو د مسجد نبوي هر ځای په انوارو او برکاتو سره معمور دی، لېکن دا حصه د خاص رحمت او برکت اهم مرکز دی،

بعضي علماؤ ليكلي دي چي دا ټوټه د جنت حصه ده، د قيامت په ورځ به په جنت كي شامله كړل سي، لنډه دا چي كله رياضُ الجنة ته راسي او مكروه وخت نه وي، نو په رياض الجنة كي دي د نبي كريم ﷺ د لمونځ كولو پر ځای دوه ركعته تحيةُ المسجد وكړي، دا ځای (يعني موقف النبی ﷺ) د محرابُ النبی ﷺ له مينځ څخه څه غوندي راسته طرف ته د محراب د هغه ستني (پايې) ومخ ته دی

كوم چي د منبر وطرف ته ده، د محراب پر دغه ستنه (پايه) باندي "هٰذا مصلّی النبی ﷺ" ليكل سوي دي، كه چيري هلته ځای ترلاسه نه سي، نو منبر ته نژدې يا په رياض الجنة كي چي چيري هم ځای ترلاسه سي، لمونځ دي وكړي (كه مسجدِ نبوي ته تر داخلېدو وروسته د فرض لمونځ جماعت ودرېږي، نو په هغه كي دي شركت وكړي او دا فرض د تحية المسجد قائم مقام كيږي)، تر دې وروسته دي دوه ركعته لمونځ د شكرانې په نيت وكړي چي الله تعالىٰ هغه په دې نعمت عظمىٰ سره ونازوی، بيا دي د خپل حاجاتو او مرادونو لپاره دعاء وغواړي. (شفاء الارواح)

فايده: مسجدِ نبوي ته د "باب جبرئيل" د لاري څخه داخلېدل غوره دي، لهذا كله چي مسجدِ نبوي ته داخليږي، نو د "باب جبرئيل" د لاري څخه دي ور داخل سي، دا د مسجد نبوي هغه دروازه ده چي له هغه څخه به حضرت جبرئيل ﵇ و نبي كريم ﷺ ته راتلی، له دې دروازې څخه بهر په وتلو سره و مخ ته جنت البقيع راځي او په دې دروازه باندي چي را داخل سي نو راسته لاس ته د شمال په طرف كي د اصحابه صفه وو ځای دی او چپه لاس ته د جنوب په طرف كي يعني د قبلې په خوا كي د حضرت فاطمې رَضِيَ اللهُ عَنْهَا حجره ده او لږ څه مخ ته د دې حجرې پر ختمېدلو وچپه طرف ته د رياضُ الجنة حصه شروع كيږي. (ايضاح المناسک ص:۲۹)

د روضې مباركي د زيارت كولو ادب او طريقه

﴿۱۳۶۴﴾ ثُمَّ تَنْهَضُ مُتَوَجِّهًا إِلَى الْقَبْرِ الشَّرِيْفِ بيا به ته ولاړ (پورته) سې په داسي حال كي چي مخ كونكی (او تلونكی) يې و قبر شريف (روضې مباركي) ته فَتَقِفُ بِمِقْدَارِ أَرْبَعَةِ أَذْرُعٍ بَعِيْدًا عَنِ الْمَقْصُوْرَةِ الشَّرِيْفَةِ بِغَايَةِ الْأَدَبِ بيا به ودرېږې له حجرې شريفي څخه د څلورو گزو پر اندازه (فاصله) په انتهائي (زيات) ادب سره مُسْتَدْبِرَ الْقِبْلَةِ مُحَاذِيًا لِرَأْسِ النَّبِيِّ ﷺ وَ وَجْهِهِ الْأَكْرَمِ په داسي حال كي چي شا كونكی يې و قبلې ته او برابرېدونكی يې د نبي كريم ﷺ و سر مبارک او مخ مبارک ته (يعني د نبي كريم د ﷺ د مخ او سر مبارک پر برابرۍ به

ودرېږې، چې قبلې ته دې شاوي) مُلَاحِظًا نَظْرَهُ السَّعِيْدُ إِلَيْكَ وَ سَمَاعَهُ كَـلَامَكَ (او په داسي حال کي چي ته) لحاظ کونکی (تصور کونکی) يې وخپل ځان ته دنبي کريم ﷺ د نظرمبارک او دنبي کريم ﷺ داوريدلو ستا دکلام (يعني تصوّر به دي داوي چي دنبي کريم ﷺ نظر مبارک تاوريني او تا ته گوري او ستا کلام اوري) وَ رَدَّهُ عَلَيْكَ سَلَامَكَ وَتَأْمِيْـنُهُ عَـلٰى دُعَائِكَ او (تصور کونکی به يې) دنبي کريم ﷺ د جواب درکولو ستا و سلام ته او د هغه دآمين ويلو ستا پر دعاء (يعني چي نبي کريم ﷺ ستا د سلام جواب درکوي او ستا پر دعاء آمين وايي).

لغات: ﴿تـنهض﴾ دفتح دباب له دواحد مذكر مخاطب صيغه ده: ولاړيدل (پاڅېدل)، جګ ولاړيدل، ديو شي لپاره په چټـاندي سره ولاړيدل. ﴿أذرع﴾ جمع د ذِرَاع ده: شرعي گز، کوم چي يو لاس کيږي، ﴿مقصورة﴾ ددې لفظ څو معناوي دي چي له هغوی څخه يوه معنىٰ ده: ځانګړې خونه او حجره کوم چي د کور له نورو خونو څخه جلا او لوړه وي، غرفة خاصة معزولة (مفصولة) عن باقي غُرَف الدار و أعلى منها (معجم الوسيط) جمع " مَقَاصِيْر و مَقَاصِر، ﴿مُحاذيًا﴾ د مفاعلې له بابه فاعل دی: ديو شي سره برابرېدونکی (برابر درېدونکی)، بالمقابل کېدونکی.

تشريح: کله چي هغه په رياضُ الجنة کي له دوه رکعته لمونځ، دعاء او داسي نورو څخه فارغ سي، نو بيا دي په انتهائي زيات ادب سره د رسول الله ﷺ و قبر مبارک ته راسي، دلته دا خبره ياده ساتئ! چي د رسول الله ﷺ د قبر مبارک سره درې جالۍ (جاليتي) دي، په مينځوی جالۍ کي د رسول الله ﷺ او د حضرت ابو بکر او حضرت عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا مبارک قبرونه دي، په دغه مينځوی جالۍ کي يو گول سوری دی کوم چي بالکل د نبي کريم ﷺ پر مخ مبارک ور خلاص دی، همدارنګه له دې سوري څخه څه هاخوا ته د نبي کريم ﷺ د سينه مبارک پر برابر هم په جالۍ کي يو سوری دی کوم چي د حضرت ابو بکر ؓ پر مخ مبارک ور خلاص دی او د حضرت ابو بکر ؓ د سينه مبارک پر برابر يو بل سوری هم سته کوم چي د حضرت عمر ؓ پر مخ مبارک ور برابر دی، نو تر ټولو مخکي دي د نبي کريم ﷺ د مخ مبارک پر برابر و جالۍ ته مخامخ د څلورو گزو (څلورو لاسو) پر فاصله داسي ودرېږي چي شا يې د قبلې وطرف ته وي او مخ يې د رسول الله ﷺ د مخ او سر مبارک پر برابر وي او دا تصوّر دي وکړي چي د رسول الله ﷺ نظر مبارک زما وطرف ته دی (يا په بله وينا دا تصوّر دي وکړي چي زما په حاضرېدلو واقف دی) او زما سلام او کلام اوري (مخکي د حديث په حواله سره دا خبره تېره سوه چي د الله نبي ژوندی وي، رزق ور کول کيږي او بل دا حديث چي کوم څوک زما د قبر سره نژدې پر ما درود وايي، زه هغه خپله رم...)، بيا دي د زړه په حضور سره، په ډېره توجّه او د نظر په ټيټ ساتلو او په ډېر ادب او احترام

سره په هغه الفاظو درود او سلام پیش کړي کوم چې په را روان عبارت کې ذکر سوي دي. (انوار الایضاح، شفاء الارواح)

د روضې مبارکي سره د درود او سلام ویلو الفاظ او دعاء

﴿۱۲۶۵﴾ وَتَقُوْلُ: اَلسَّلَامُ عَلَيْكَ يَا سَيِّدِيْ يَا رَسُوْلَ اللهِ او ته به وواییې: سلام دي پر تا اې زما سرداره! اې دالله رسوله! اَلسَّلَامُ عَلَيْكَ يَا نَبِيَّ اللهِ سلام دي وي پر تا اې دالله نبي! اَلسَّلَامُ عَلَيْكَ يَا حَبِيْبَ اللهِ سلام دي وي پر تا اې دالله حبیبه! (الله ته گرانه!) اَلسَّلَامُ عَلَيْكَ يَا نَبِيَّ الرَّحْمَةِ سلام دي وي پر تا اې د رحمت نبي! اَلسَّلَامُ عَلَيْكَ يَا شَفِيْعَ الْأُمَّةِ سلام دي وي پر تا اې د اُمت شفاعت کونکې! اَلسَّلَامُ عَلَيْكَ يَا سَيِّدَ الْمُرْسَلِيْنَ سلام دي وي پر تا اې د رسولانو سرداره! اَلسَّلَامُ عَلَيْكَ يَا خَاتَمَ النَّبِيِّيْنَ سلام دي وي پر تا اې د ټولو نبیانو آخره! اَلسَّلَامُ عَلَيْكَ يَا مُزَّمِّلُ سلام دي وي پر تا اې نغښتونکیه (پېچونکې) د ځان په جامه کې (له هیبته د وحي)! اَلسَّلَامُ عَلَيْكَ يَا مُدَّثِّرُ سلام دي وي پر تا اې پټونکې د ځان په جامه (کمبله اشریا) کې! اَلسَّلَامُ عَلَيْكَ وَعَلٰى أُصُوْلِكَ الطَّيِّبِيْنَ سلام دي وي پر تا او ستا پر سپېڅلو اُصولو (مشرانو) وَأَهْلِ بَيْتِكَ الطَّاهِرِيْنَ الَّذِيْنَ أَذْهَبَ اللهُ عَنْهُمُ الرِّجْسَ وَطَهَّرَهُمْ تَطْهِيْرًا او ستا پر پاکي کورنۍ چې له هغوی څخه الله تعالیٰ ناپاکي (د بُتلو گند) لیري کړی او پاک صفایې کړل (په هره توگه) جَزَاكَ اللهُ عَنَّا أَفْضَلَ مَا جَزٰى نَبِيًّا عَنْ قَوْمِهٖ وَرَسُوْلًا عَنْ أُمَّتِهٖ بدله دي درکړي الله تعالیٰ وتا ته زموږ له طرفه افضله (بهترینه) بدله له هغه (بدلې) څخه کوم چې یې ورکړې وي یو نبي ته د هغه د قوم له طرفه او یو رسول ته د هغه د اُمت له طرفه (یعني داسې بدله کوم چې له هغه بدلې څخه زیاته وي کوم چې یو نبي او رسول ته د هغه د قوم او اُمت له طرفه ورکول سوې وي) أَشْهَدُ أَنَّكَ رَسُوْلُ اللهِ زه گواهي ورکوم چې ته دالله رسول (پېغمبر) یې! قَدْ بَلَّغْتَ الرِّسَالَةَ وَأَدَّيْتَ الْأَمَانَةَ په تحقیق سره تا (دین) پېغام پوره ورسوی او تا (مقدس) امانت پوره اداء کړی (یعني کوم ستر امانت الهي احکام او الهي امانت چې تا ته درکول سوی وو، هغه ته اداء کړی) وَنَصَحْتَ الْأُمَّةَ او تا خیر خواهي (خیر غوښتنه) وکړه د

اُمت (یا په بله ترجمه: او تا د خیر او صلاح لاربنوونه وکړه وامت ته) وَأَوْضَحْتَ الْحُجَّةَ او تا ښه واضح (پوره ښکاره) کړی (د الله تعالیٰ) حجت وَجَاهَدْتَّ فِيْ سَبِيْلِ اللهِ حَقَّ جِهَادِهٖ او تا مجاهده (او جهاد) وکړی د الله تعالیٰ په لاره کي حقه (او لویه) مجاهده (یا په بله ترجمه: او تا د الله په لاره کي د انتهائي کوشش کولو حق اداء کړی) وَأَقَمْتَ الدِّيْنَ حَتّٰى أَتَاكَ الْيَقِيْنُ او تا الهي دین قائم (او ښکاره) کړی تر دې چي تا ته یقین (وفات امر کا) راغلی (یعني د وفات تر وخته پوري مو دین قائموی او ښکاره کوی) صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْكَ وَسَلَّمَ پر تا دي (همېشه) د الله درود (رحمت) او سلام وي وَعَلٰى أَشْرَفِ مَكَانٍ تَشَرَّفَ بِحُلُوْلِ جِسْمِكَ الْكَرِيْمِ فِيْهِ او پر هغه ستر (عظمت والا) ځای کوم چي مشرّفه (او مبارک) سو ستا د ګران (او پاک) جسم په نزول (شوه کېدلو) سره په هغه کي (یعني پر هغه مشرّف او ستر مقام دي هم رحمتِ الهي او سلام نازل وي کوم چي ستا د پاک جسم سره د متصل کېدلو او ملګرتیا په سبب مشرّفه سو. د کریم اصل معنیٰ ده: سخي، خو د مقام په مقتضا سره یې معنیٰ بدلیږي [المعجم الوسیط]) صَلٰوةً وَسَلَامًا دَائِمَيْنِ مِنْ رَّبِّ الْعٰلَمِيْنَ داسي درود او سلام چي د ربُ العالمین له طرفه همېشه، همېشه وي عَدَدَ مَا كَانَ په شمېر د هغه شیانو (دي درود او سلام وي) کوم چي (په دې عالم کي) دي (یا په بله ترجمه: په شمېره د هغه شیانو کوم چي دې دنیا ته راغلي دي) وَعَدَدَ مَا يَكُوْنُ بِعِلْمِ اللهِ او په شمېر د هغه شیانو کوم چي به وي د الله په علم کي (یعني کوم چي دې دنیا ته راتلونکي دي، د الله په لا متناهي او ابدي علم کي) صَلٰوةً لَا انْقِضَاءَ لِأَمَدِهَا داسي درود (رحمت) چي فنا (او انقطاع) نه وي د هغه پای لره (یعني چي هغه لره انتها او پای نه وي، بلکي همېشه، همېشه وي).

لغات: ﴿مزمّل﴾ د دې اصل مُتَزَمِّل دی، تاء یې په زاء سره بدله کړه او زاء یې په زاء کي مدغمه کړل، معنیٰ یې ده: په کپړه کي ځان پېچونکی، ﴿مدثر﴾ په اصل کي مُتَدَثِّر دی، تاء یې په دال سره بدله کړه او دال یې په دال کي مدغم کړی، معنیٰ یې ده: په کمبله کي ځان پېچونکی، ﴿أَمَد﴾ (بفتح المیم): د یو شي انتهاء، غایت، پای، جمع: آماد، ویل کیږي ضَرَبَ لَهٗ أَمَدًا (د هغه لپاره یې انتهاء وټاکله).

تشريح: له درود او سلام څخه تر فارغېدلو وروسته دي د رسول الله ﷺ ومخ ته ودرېږي او د رسول الله ﷺ په وسيله سره دي خپل مرادونه وغواړي او له الله تعالیٰ څخه دي د بخښنې، نېه خاتمې او رضاء الهي خواست وکړي، بیا دي تر دې وروسته له رسول الله ﷺ څخه د شفاعت خواست وکړي لکه څرنګه چې په را روان عبارت کې ذکر سوي دي.

د خپلو ګناهونو اقرار او د شفاعت خواست کول

﴿۱۳۶۶ يَا رَسُوْلَ اللهِ نَحْنُ وَفْدُكَ اې د الله رسوله! موږ ستا وفد يو (يعني د خواست لپاره تا ته حاضر سوی جماعت ابله ايو. وفد هغه جماعت او ټلي ته وايي کوم چې د يو خواست اغوښتني او يو کار لپاره د يو چا دربار ته ولاړ او حاضر سي، په بله ترجمه: اې د الله رسوله! موږ د وفد په توګه تا ته راغلي يو) وَزُوَّارُ حَرَمِكَ او ستا د حرم زيارت کونکي يو تَشَرَّفْنَا بِالْحُلُوْلِ بَيْنَ يَدَيْكَ او موږ ستا مخ ته په کښېته کېدلو (حاضرېدلو) سره مشرفه سوي يو (تا ته د راتګ شرف مو حاصل کړی دی) وَقَدْ جِئْنَاكَ مِنْ بِلَادٍ شَاسِعَةٍ وَأَمْكِنَةٍ بَعِيْدَةٍ نَقْطَعُ السَّهْلَ وَالْوَعْرَ بِقَصْدِ زِيَارَتِكَ او موږ ستا د زيارت په اراده له ډېر ليري ښارونو او ليري ځايونو څخه د نرمو او سختو ځمکو (ستونزمنو مسافو) په پرېکولو سره تا ته راغلي يو لِنَفُوْزَ بِشَفَاعَتِكَ د دې لپاره (يعني خواست مو دا دی) چې ستا په شفاعت سره کامیابه (بريالي) سو وَالنَّظْرِ إِلٰى مَآثِرِكَ وَ مَعَاهِدِكَ او (راغلي يو تا ته) د نظر کولو لپاره ستا وغوره کارنامو (يا آثارو او نصائلو) ته او ستا د حاضرېدو مقاماتو ته (يعني کومو ځايو ته چې تاسي حاضر سوی يی، يا ستاسي کومو ځايو ته چې خلک د مشاهدې او ننداره لپاره حاضرېږي، د هغوی د ليدني لپاره راغلي يو) وَالْقِيَامِ بِقَضَاءِ بَعْضِ حَقِّكَ او (حاضر سوي يو تا ته) ستا د څه حق اداء کولو لپاره (ځکه چې ستا پوره حق او شکر موږ نه سو اداء کولای) وَالْاِسْتِشْفَاعِ بِكَ إِلٰى رَبِّنَا او ستا په ذريعه له خپل رب څخه د شفاعت (سفارش) طلبولو لپاره فَإِنَّ الْخَطَايَا قَدْ قَصَمَتْ ظُهُوْرَنَا ځکه (زياتو) خطاګانو (تېروتنو) زموږ ملاګانې راماتې کړي دي وَالْأَوْزَارُ قَدْ أَثْقَلَتْ كَوَاهِلَنَا او ګناهونو زموږ اوږې را درنې کړي دي وَ أَنْتَ الشَّافِعُ ته شفاعت (سفارش) کونکي يې! الْمُشَفَّعُ شفاعت قبول کړی سوی يې! (يعني

ستا سفارش عند الله مبقول دی) اَلْمَوْعُوْدُ بِالشَّفَاعَةِ الْعُظْمٰى وَالْمَقَامِ الْمَحْمُوْدِ وَالْوَسِيْلَةِ وعده کړل سوی يې! (يعني ستا سره وعده سوې ده) د ستر شفاعت او د مقامِ محمود او وسيلې وَقَدْ قَالَ اللهُ تَعَالىٰ: ﴿وَلَوْ أَنَّهُمْ إِذْ ظَلَمُوْا أَنْفُسَهُمْ او الله تعالى (په خپل کلام کي) فرمايلي دي: او که چيري دا خلک کله چي دوی پر خپلو ځانو ظلم کړی وو جَاءُوْكَ فَاسْتَغْفَرُوا اللهَ وَاسْتَغْفَرَ لَهُمُ الرَّسُوْلُ تا ته راغلي وای او بيا يې له الله تعالىٰ ځخه مغفرت (بخښنه) غوښتې وای او رسول الله ﷺ هم د دوی لپاره (له الله ځخه) مغفرت غوښتي وای لَوَجَدُوا اللهَ تَوَّابًا رَّحِيْمًا﴾ (النساء: ۶۴) نو يقيناً دوی به الله تعالىٰ توبه قبلونکی او ډېر رحم کونکی موندلي وای وَقَدْ جِئْنَاكَ ظَالِمِيْنَ لِأَنْفُسِنَا او په تحقيق سره موږ تا ته راغلي (حاضر سوي) يو په داسي حال کي چي پر خپلو ځانو ظلم کونکي يو (ظلم مو کړی دی پر خپلو ځانو، د لويو ګناهونو په کولو سره) مُسْتَغْفِرِيْنَ لِذُنُوْبِنَا مغفرت غوښتونکي يو د خپلو ګناهونو فَاشْفَعْ لَنَا إِلىٰ رَبِّكَ نو ته خپل رب ته زموږ سفارش وکړه! وَاسْأَلْهُ أَنْ يُمِيْتَنَا عَلىٰ سُنَّتِكَ او له هغه ځخه خواست (دعاء) وکړه! چي موږ ته ستا پر سنت مرګ راکړي وَأَنْ يَحْشُرَنَا فِيْ زُمْرَتِكَ او دا چي زموږ حشر ستا په ټولۍ کي وکړي (يعني د محشر په ورځ مو ستا په ټولۍ کي راپورته وکړي) وَأَنْ يُوْرِدَنَا حَوْضَكَ او دا چي موږ ستا حوض (حوضِ کوثر) ته ورسوي وَأَنْ يَسْقِيَنَا بِكَأْسِكَ او دا چي موږ ستا (د حوضِ کوثر) په جام سره اوبه کړي غَيْرَ خَزَايَا وَلَا نَدَامٰى په داسي حال کي چي نه يو موږ رسوا کړل سوي او نه پښېمانه (شرمنده) اَلشَّفَاعَةَ اَلشَّفَاعَةَ يَا رَسُوْلَ اللهِ اې د الله رسوله! شفاعت، شفاعت. يَقُوْلُهَا ثَلَاثًا دا (دعاء) دې درې واره ووايي رَبَّنَا اغْفِرْ لَنَا وَلِإِخْوَانِنَا الَّذِيْنَ سَبَقُوْنَا بِالْإِيْمَانِ اې زموږ ربه! موږ ته او زموږ هغه وروڼو ته مغفرت (بخښنه) وکړه! کوم چي مخکي تللي (تېر سوي) دي تر موږ په ايمان سره (يعني تر موږ مخکي چي زموږ کوم مومنان وروڼه

تېر سوي دي. مونږ ته هم مغفرت وکړه!) وَلَا تَجْعَلْ فِيْ قُلُوْبِنَا غِلًّا لِلَّذِيْنَ آمَنُوْا او مه ګرځوه (مه ساته)! زموږ په زړونو کي کينه (او پټه دزړه دښمني) دهغه کسانو لپاره چي ايمان يې راوړی دی رَبَّنَا إِنَّكَ رَؤُوْفٌ رَّحِيْمٌ اې زموږ ربه (پروردګاره)! بېشکه ته مهربانه او زيات رحم کونکي يې!.

لغات: ﴿وفد﴾ جمع د وَافِد ده: (د يو خواست اغوښتني او يو مناسبت لپاره) راتلونکی جماعت (ډله)، پلاوی، حاضرېدونکی (وارډېدونکی) جماعت، همدارنګه هغه هيئت او ډله کوم چي د يو مشترک کار لپاره واستول سي، ﴿زوّار﴾ جمع د زَائِرٌ ده: زيارت کونکی، ملاقات کونکی، ﴿شاسعة﴾ د فتح له بابه فاعل دی: لېري، بعيده، ﴿وَعْرٌ﴾ سخت ستونزمن ځای، بېرونکی ځای، جمع: أَوْعَار، ﴿مآثر﴾ جمع د مَأْثِرَةٌ ده: د خير کار (فعل الخير المتوارث)، قابلِ تحسين کارنامه، ﴿مَعَاهِد﴾ جمع د مَعْهَدٌ ده: هغه ځای چي په هغه کي يو شی منعهود او مشهوره وي، د خلکو حاضرېدلو ځای، د مشاهدې او تنداري ځای (تندارتون) (معجم الوسيط بتصرفٍ)، ﴿قصمت﴾ د ضرب له بابه واحدهٔ مؤنثه غائبه ماضي معلومه ده، مصدر: قَصْمًا: ماتول، ﴿أوزار﴾ جمع د وِزْرٌ ده: ګناه، بوج، ﴿كواهل﴾ جمع د کَاهِلٌ ده: د دواړو اوږو مينځ، ځتمي ته نژدې د ملا پورتنی آخري حصه، ﴿وسيلة﴾ دا په جنت کي يو مقام دی، کوم چي صرف د رسول الله ﷺ لپاره خاص دی، ﴿كأس﴾ ګيلاس، جمع: كُؤُوْس، دلته د نبي کريم ﷺ د حوضِ کوثر اوبه مراد دي، ﴿خزايا﴾ جمع د خزيان دی: شرمنده، رسوا و ذليله، ﴿ندامٰى﴾ جمع د نَدْمَان ده" پښېمانه، ﴿غِلًّا﴾ (الغِل): کينه او حقد، پټه د زړه دښمني.

تشريح: عبارت واضح دی.

نبي کريم ﷺ ته د نورو امتيانو له طرفه سلام پېښول

﴿۱۳٦٧﴾ وَتُبَلِّغُهُ سَلَامَ مَنْ أَوْصَاكَ بِهِ او سلام به ورسوې (پېش کړې) ونبي کريم ﷺ ته د هغه چا، چي تا ته يې د سلام رسولو وصيت (او خواست) کړی دی فَتَقُوْلُ: اَلسَّلَامُ عَلَيْكَ يَا رَسُوْلَ اللهِ مِنْ فُلَانِ بْنِ فُلَانٍ يَتَشَفَّعُ بِكَ إِلٰى رَبِّكَ نو ته به (داسې) ووايې: پر تا دي سلام وي اې د الله رسوله! له طرفه د فلاني چي زوی د فلاني دی، هغه ستا په وسيله د شفاعت طلب

کوي (يعني تا شفيع کرځوي) ستا و خپل رب ته فَاشْفَعْ لَهٗ وَلِلْمُسْلِمِيْنَ نو دهغه پاره او د (ټولو) مسلمانانو لپاره شفاعت (سفارش) وکړه! ثُمَّ تُصَلِّيْ عَلَيْهِ بيا به پر نبي کريم ﷺ درود ووايې وَتَدْعُوْ بِمَا شِئْتَ عِنْدَ وَجْهِهِ الْكَرِيْمِ او دعاء به وکړې دهغه څه چې ته يې غواړې، د نبي کريم ﷺ د منوّر (مبارکِ) مخ سره مُسْتَدْبِرَ الْقِبْلَةِ په داسي حال کي چي شا کونکي يې و قبلې ته (ځکه چي مخ د نبي کريم ﷺ وطرف ته سي، نو شا قبلې ته راځي).

اللغات: ﴿الكريم﴾ صِفَةٌ لكل مَا يُرْضِي ويحمد فِي بَابِهٖ، وَمِنْهُ وَجه كريم وَكتاب كريم.

تشريح: که يو چا دا غوښتنه څني کړې وي چي زما له طرفه هم د نبي ﷺ په خدمت کي سلام پېش کړه!، نو دهغه سلام دي هم داسي پېش کړي، څرنګه چي په متن کي راغلي دي.

په حضرت ابوبکر صديق ﵁ باندي سلام پېښول

﴿۱۳۶۸﴾ ثُمَّ تَتَحَوَّلُ قَدْرَ ذِرَاعٍ بيا به ته وګرځې ديوه (شرعي) ګز په اندازه حَتّٰى تُحَاذِيَ رَأْسَ الصِّدِّيْقِ أَبِيْ بَكْرٍ ﵁ تر دې چي ته دابوبکر ﵁ د سر مبارک سره برابر سې (يعني د هغه د سر مبارک پر برابرۍ به ودرېږې) وَتَقُوْلُ: اَلسَّلَامُ عَلَيْكَ يَا خَلِيْفَةَ رَسُوْلِ اللهِ ﷺ او ته به ووايې: سلام دي وي پر تا اې د رسول الله خليفه! اَلسَّلَامُ عَلَيْكَ يَا صَاحِبَ رَسُوْلِ اللهِ وَأَنِيْسَهٗ فِي الْغَارِ سلام دي پر تا اې د رسول الله ملګرې! او په غار کي هغه لره اُنس (او سکون) ورکونکې! وَرَفِيْقَهٗ فِي الْأَسْفَارِ او په سفرونو کي د هغه رفيقه! (رفيق عموماً د سفر ملګري ته وايي) وَأَمِيْنَهٗ عَلَى الْأَسْرَارِ او په رازونو باندي د هغه امانتکاره! (د هغه د پټو خبرو او کارونو ساتونکيه!) جَزَاكَ اللهُ عَنَّا أَفْضَلَ مَا جَزٰى إِمَامًا عَنْ أُمَّةِ نَبِيِّهٖ بدله دي درکړي الله تعالىٰ و تا ته زموږ له طرفه داسي افضله (بهترينه) بدله له هغه (بدلې) څخه کوم چي يې ورکړې وي يو امام ته د خپل نبي د امت له طرفه فَلَقَدْ خَلَفْتَهٗ بِأَحْسَنِ خَلَفٍ په تحقيق سره ته خليفه سوې د نبي کريم ﷺ په ډېر ښه خلافت (او نيابت) سره (يعني تا په ډېر ښه او بهترينه توګه نبوي خلافت ترسره کړی) وَ

سَلَكْتَ طَرِيْقَهُ وَمِنْهَاجَهُ خَيْرَ مَسْلَكٍ او تا تګ وکړی د نبي کريم ﷺ په طريقه او لاره باندي د ډېر غوره تګ وَقَاتَلْتَ أَهْلَ الرِّدَّةِ وَالْبِدَعِ او تا قتال (او جهاد) وکړی د مرتدو او بدعتيانو سره وَمَهَّدْتَ الْإِسْلَامَ وَشَيَّدْتَ أَرْكَانَهُ او تا اسلام خپور کړی او د هغه ارکان دي مضبوط (محکم) کړل فَكُنْتَ خَيْرَ إِمَامٍ نو ته غوره امام (او لاربنوود) وې وَوَصَلْتَ الْأَرْحَامَ او تا صله رحمي وکړه (يعني د خپلو قربانو او خپلوانو د حقوقو اداينه او تعلق ساتنه او خيال ساتنه دي وکړه) وَلَمْ تَزَلْ قَائِمًا بِالْحَقِّ او ته همېشه پر حق ولاړ پاته سوې نَاصِرًا لِلدِّيْنِ وَلِأَهْلِهٖ او (ته همېشه وې) مدد کونکی د دين او د دين والا وو حَتّٰى أَتَاكَ الْيَقِيْنُ تر دې چي تا ته يقين (مرګ) راغلی سَلِ اللهَ سُبْحَانَهُ لَنَا دَوَامَ حُبِّكَ سوال وکړه (وغواړه)! له الله تعالیٰ څخه زموږ لپاره ستا د خپل محبت همېشتوب (چي ستا سره همېشه، همېشه زموږ محبت قائم وي) وَالْحَشْرَ مَعَ حِزْبِكَ او حشر ستا د ډلي سره (چي د محشر په ورځ ستا په ډله او جماعت کي راپورته سو) وَقَبُوْلَ زِيَارَتِنَا او (وغواړه! له الله تعالیٰ څخه) قبول (قبلول) د زيارت زموږ اَلسَّلَامُ عَلَيْكَ وَرَحْمَةُ اللهِ وَبَرَكَاتُهُ سلام دي وي پر تا او رحمت او برکتونه د الله دي وي (پر تا).

لغات: ﴿ذراع﴾ شرعي ګز، کوم چي يولاس کيږي (يعني د ګوتو له سر څخه تر څنګلي پوري).

﴿تتحوّل﴾ د تفعّل له بابه مضارع معلومه ده: ګرځېدل، اوښتل، ﴿أنيس﴾ اُنس او مينه کونکی (په معنیٰ سره د مؤانس دی، يعني داسي کس کوم چي د بل چا زړه ته سکون ورکوي، غم او ترهه ځني ليري کوي، يا په بله وينا: د ميني محبت او مهرباني معامله ور سره کوي، لکه څرنګه چي د هجرت په سفر کي حضرت ابو بکر ؓ د سيدُ الانبياء رسولُ الله ﷺ سره وو)، ﴿منهاج﴾ واضحه لاره، څرګنده لاره، جمع: مَنَاهِيْج، ﴿اهل الرِّدّة﴾ هغه کسان کوم چي د رسول الله ﷺ تر وفات وروسته مرتد سول او حضرت ابو بکر ؓ د هغو سره قتال وکړی او د دينِ اسلام رېښې يې مضبوطه کړې، ﴿مهّدت﴾ د تفعيل له بابه د واحد مذکر مخاطب ماضي معلومي صيغه ده: هوارول، برابرول، مراد ځني غوړول او خپرول دي، ﴿شيّدت﴾ مخکنۍ صيغه ده: مضبوطول، ټينګ جوړول، ﴿وصلت﴾ د ضرله بابه مخکنۍ صيغه ده، صلة الارحام: صله

رحمي كول، د دې جملې په راوړلو سره پر هغه خلكو رد كول مقصود دي كوم چي وايي: چي د حضرت ابو بكر رضي الله عنه او حضرت فاطمې رضي الله عنها تر مينځ عداوت او دښمني وه، نو فرمايي چي داسي نه ده بلكي هغه رضي الله عنه صله رحمي كونكى او د قرابت د تعلقاتو پوره خيال ساتونكى وو،

تشريح: د نبي كريم ﷺ له مخ مبارك څخه و راسته طرف ته يو گز (يو لاس) وروسته د حضر ابوبكر رضي الله عنه مخ او سر مبارك دى، نو ځكه د نبي كريم ﷺ په خدمت كي له سلام پېشولو څخه وروسته دي ديوه گز په اندازه راسته خوا ته وګرځي او حضرت ابو بكر رضي الله عنه ته دي په مذكوره پورتني الفاظو سره سلام پېش كړي.

په حضرت عمر فاروق رضي الله عنه باندي سلام پېشول

﴿۱۲۶۹﴾ ثُمَّ تَتَحَوَّلُ مِثْلَ ذٰلِكَ حَتّٰى تُحَاذِىَ رَأْسَ أَمِيْرِ الْمُؤْمِنِيْنَ عُمَرَ بْنِ الْخَطَّابِ رضي الله عنه بيا به ته وګرځې د هغه مخكي په څېر (يعني ديوه گز په اندازه) تر دې چي برابر سې د عمر بن خطاب رضي الله عنه د سر مبارك سره فَتَقُوْلُ: اَلسَّلَامُ عَلَيْكَ يَا أَمِيْرَ الْمُؤْمِنِيْنَ نو ته به ووايې: سلام دي وي پر تا اې د مؤمنانو اميره! اَلسَّلَامُ عَلَيْكَ يَا مُظْهِرَ الْإِسْلَامِ سلام دي وي پر تا اې د اسلام ښكاره كونكې (او غالبونكې)! اَلسَّلَامُ عَلَيْكَ يَا مُكَسِّرَ الْأَصْنَامِ ستلام دي وي پر تا اې د بتانو ماتونكې! جَزَاكَ اللّٰهُ عَنَّا أَفْضَلَ الْجَزَاءِ بدله دي دركړي الله تعالیٰ و تا ته زموږ له طرفه افضله (بهترينه) بدله لَقَدْ نَصَرْتَ الْإِسْلَامَ وَالْمُسْلِمِيْنَ په تحقيق سره چي تا مدد كړى دى د اسلام او مسلمانانو وَ فَتَحْتَ مُعْظَمَ الْبِلَادِ بَعْدَ سَيِّدِ الْمُرْسَلِيْنَ او تا فتح كړي دي زيات ښارونه وروسته تر سردار د رسولانو (يعني د نبي كريم ﷺ تر وفات وروسته تا د كفارو ډېر لو لوى، لوى ښارونه فتح كړل) وَ كَفَلْتَ الْأَيْتَامَ او تا كفالت وكړى (كفيل سوې) د يتيمانو (يعني د يتيمانو ضمانت او نمه وارې دي واخيستل) وَوَصَلْتَ الْأَرْحَامَ او تا صله رحمي وكړه وَقَوِيَ بِكَ الْإِسْلَامُ او اسلام ستا په ذريعه قوي سو (په تا سره يې قوت ومونده) وَكُنْتَ لِلْمُسْلِمِيْنَ إِمَامًا مَرْضِيًّا او ته وې! د مسلمانانو لپاره خوښ سوى امام (يعني مسلمانان په تا باندي راضي وه) وَهَادِيًا مَهْدِيًّا او (ته وې)

هدایت کونکي (لاربنوود د مسلمانانو) او هدایت موندونکی (هدایت یافته) جَمَعْتَ شَمْلَهُمْ تا د مسلمانانو (متفرّق) جماعت سره یو ځای کړی (یعني د هغو ترمینځ دي تفریق ختم کړی، یا په بله ترجمه: د مسلمانانو متفرّق او شکېدلي اُمور دي سره جمع کړل) وَ أَغْنَتْ فَقِيْرَهُمْ او تا د مسلمانانو د فقیر (یعني د هغو د غریبانو) مرسته وکړه وَ جَبَرْتَ كَسِيْرَهُمْ او تا د دوی مات (حالتونه) سکینده کړل (یا په بله وینا: د دوی د ماتو زړونو ماتوالی دي لیري کړی) اَلسَّلَامُ عَلَيْكَ وَ رَحْمَةُ اللهِ وَ بَرَكَاتُهُ سلام دي وي پر تا او رحمت او برکتونه د الله دي وي پر تا.

لغات: ﴿مُظْهِر﴾ د افعال له بابه فاعل دی: ظاهرونکی او ځرګندونکی، اعانت کونکی، ﴿مُكَثِّر﴾ د تفعیل له بابه فاعل دی: ماتونکی، ﴿مُعْظَم﴾ (د میم په ضمه او د عین په سکون سره): اکثره، زیات، ډېر همدارنګه لوی (معجم لغة الفقهاء. معجم الوسیط)، (د نور الایضاح په نسخه او اکثره شروحو کي دا لفظ د عین په فتحه او د ظاء په تشدید سره منقول دی. خو په معاجمو کي په سکون د عین سره منقول دی)، ﴿وقوی بك الإسلام﴾ ځکه د اسلام په شروع کي نبي کریم ﷺ او صحابه وو په دار أرقم کي په پټه لمنځونه کوله، کله چي حضرت عمر ؓ مسلمان سو، نو هغه نبي ﷺ ته وفرمایل چي آیا موږ پر حق نه یو، نبي ﷺ وفرمایل: ولي نه! نو حضرت عمر ؓ وکعبې شریفي ته ولاړی او په ډاګه يې د خپل ایمان اظهار وکړی او له هماغه وخت څخه په حرم کي لمونځ شروع سو، ګواکي د حضرت عمر ؓ په ایمان راوړلو سره اسلام ته تقویه او مضبوطي حاصله سوه، ﴿هادي﴾ د ضرب له بابه اسم فاعل دی: لاربنوونکی (لاربنوود)، ﴿مَهْدِي﴾ د ضرب له بابه اسم مفعول دی: لار ورښوول سوی. هدایت ورته سوی (هدایت یافته. هدایت موندونکی)، ﴿شمل﴾ شَمْلُ القَوم: د قوم او خلکو جماعت او مجتمع (معجم الوسیط)، همدارنګه متفرّق او سره جلا اُمور، لکه څرنګه چي ویل کیږي جَمَعَ اللهُ شَمْلَهُمْ: یعني الله تعالیٰ د دوی متفرّق او شکېدلي اُمورو او معاملات سره جمع کړل (معجم الوسیط)، ﴿جبرت﴾ د نصر له بابه د واحد مذکر مخاطب صیغه ده: پر مات ځای او مات هډوکي جبیره (پټی) اچول، سکینده کول. اصلاح کول، د یو نقصان تلافي کول، نقصان (کمي) پوره کول، ﴿کسیر﴾ پر وزن د فعیل په معنیٰ سره د مفعول (مکسور) دی: مات کړی سوی.

تشریح: حضرت ابو بکر صدیق ؓ ته له سلام څخه پښولو څخه وروسته دي یو ګز نور راسته طرف ته وګرځي او پر حضرت عمر فاروق ؓ دي په هغه الفاظو سره سلام پېش کړي کوم چي په متن کي ذکر سول.

فایده: که کله د رش او ګڼي ګونې په وجه رسیدګي نه سوه کېدلای، نو په مسجد نبوي کي چي هر ځای ترلاسه سي، هلته دي ودرېږي او درود او سلام دي پېش کړي، خو د يې هغه فضیلت نه دی کوم

چي د قبر شريف ومخ ته د سلام پېښولو دی، همدارنګه له مسجدِ نبوي څخه بهر هم که د روضې مبارکي ومخ ته تېر بدل راسي، نو دلړ ګړي لپاره دي درېږي او سلام دي پېښوي. (انوار الایضاح)

﴿۱۲۷۰﴾ ثُمَّ تَرْجِعُ قَدْرَ نِصْفِ ذِرَاعٍ بيا به ته واپس وګرځې (تقريبا) د نيم ګز په اندازه فَتَقُوْلُ: اَلسَّلَامُ عَلَيْكُمَا يَا ضَجِيْعَي رَسُوْلِ اللّٰهِ ﷺ نو ته به ووايې: سلام دي وي پر تاسي دواړو اې دوو د رسول الله ﷺ هَمْ پروتو (همخوابو)! (يعني تاسي دواړه د مبارک ﷺ سره په يوه مقام کي پراته او نژدې ياست) وَ رَفِيْقَيْهِ وَ وَزِيْرَيْهِ وَ مُشِيْرَيْهِ او (سلام دي وي پر تاسي دواړو اې) د نبي کريم ﷺ دوو ملګرو! او د هغه دوو وزيرانو (مرستيالانو)! او د هغه دوو مشاورينو (سلاکارانو)! وَالْمُعَاوِنَيْنِ لَهٗ عَلَى الْقِيَامِ بِالدِّيْنَ او د دين په قايمولو (او نافذولو) باندي د نبي کريم ﷺ دوو مدد ګارانو (اعانت کونکو)! وَالْقَائِمَيْنِ بَعْدَهٗ بِمَصَالِحِ الْمُسْلِمِيْنَ او (سلام دي وي پر تاسي اې) تر نبي کريم ﷺ وروسته د مسلمانانو د مصلحتونو (او ښېګڼو) انتظام کونکو! جَزَاكُمَا اللّٰهُ أَحْسَنَ الْجَزَاءِ بدله دي درکړي الله تعالیٰ تاسي دواړو ته ډېر ښه (بهترينه) بدله جِئْنَا كُمَا موږ تاسي دواړو ته راغلي (حاضر سوي) يو نَتَوَسَّلُ بِكُمَا إِلٰى رَسُوْلِ اللّٰهِ ﷺ لِيَشْفَعَ لَنَا (ددې لپاره چي) تاسي دواړه وسيله (واسطه) ګرځوو ورسولُ الله ﷺ ته چي هغه زموږ لپاره شفاعت (سفارش) وکړي وَيَسْأَلَ اللّٰهَ رَبَّنَا او (چي نبي کريم ﷺ) سوال وکړي له الله تعالیٰ څخه کوم چي ربّ (پروردګار) زموږ دی أَنْ يَّتَقَبَّلَ سَعْيَنَا چي الله تعالیٰ قبول کړي زموږ کوششونه وَ يُحْيِيْنَا عَلٰى مِلَّتِهٖ وَيُمِيْتُنَا عَلَيْهَا او (چي) ژوند راکړي د ده (نبي کريم ﷺ) پر دين، او مرګ راکړي د ده پر دين وَيَحْشُرَنَا فِيْ زُمْرَتِهٖ او (چي) موږ راپورته کړي (د حشرګاه په ورځ) د ده په ټولۍ کي ثُمَّ يَدْعُوْ لِنَفْسِهٖ وَلِوَالِدَيْهِ بيا به دعاء وکړي د خپل ځان او د خپل مور و پلار لپاره وَلِمَنْ أَوْصَاهُ بِالدُّعَاءِ او د هغه چا لپاره چي ده ته يې د دعاء کولو وصيت (او خواست) کړی وي وَلِجَمِيْعِ الْمُسْلِمِيْنَ او د ټولو مسلمانانو لپاره.

لغات: ﴿ضجيعي﴾ په اصل کي ضَجِيْعَيْنِ دی، نون د اضافت په وجه وغورځېدی، تثنيه د ضَجِيْعٌ ده (په معنیٰ سره د مضاجع دی): هم پروتي (چي يو ځای ورسره پروت وي)، همخوابه، د دې جملې ترجمه به دا وي: چي ای د رسول الله ﷺ د قبر مبارک سره يو ځای دوو پرېوتونکو او ملګرو!، ﴿رفيق﴾ ملګری، دوست، همسفر، جمع: رُفَقَاء، ﴿وزيريه﴾ تثنيه د وَزِيْرٌ ده: مرستيال او معاون، مددګار، جمع: وُزَرَاء، ﴿مُشِيْرُ﴾ مشوره ورکونکی، ﴿قائمين﴾ د نصر له بابه د جمع مذکر فاعل صيغه ده: د دې په صله کي چي باء ذکر سي، نو د انتظام کولو معنیٰ ورکوي (وګورئ! مصباح اللغات)، ﴿مصالح﴾ جمع د مَصْلَحَةٌ ده: ښېګڼې، منافع (معجم لغة الفقهاء)، ﴿يحشر﴾ د نصر او ضرب له بابه مضارع معلومه ده: پاڅول (پورته کول)، جمع کول، يعني د قيامت په ورځ له خپلو قبرو څخه د خلکو راپاڅول او په يو ځای کي را جمع کول (غونډول).

تشريح: په حضرت عمر فاروق ﷺ باندي له سلام پېشولو څخه وروسته دي بيا نيم ګز را شا ته سي او په مذکوره الفاظو سره دي وحضرت ابو بکر او حضرت عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا دواړو ته سلام او دعاء وکړي (يا په بله وينا: له نيم ګز را شا ته کېدو څخه وروسته دي د دوی دواړو لپاره دعاء وکړي او پر دواړو دي سلام ووايي)، بيا دي د خپل ځان او د خپل مور او پلار او کومو خلک چي د دعاء خواست کړی دی، د هغو لپاره او د ټولو مسلمانانو لپاره دعاء وکړي.

د روضې مبارکي ومخ ته د دعاء کولو بيان

﴿١٤٧١﴾ ثُمَّ يَقِفُ عِنْدَ رَأْسِ النَّبِيِّ ﷺ كَالْأَوَّلِ بيا به وډرېږي د نبي کريم ﷺ د سر مبارک سره لکه مخکي (يعني د مخکينۍ طريقې مطابق) وَيَقُوْلُ: اَللّٰهُمَّ إِنَّكَ قُلْتَ وَقَوْلُكَ الْحَقُّ او ووايي به: اې الله! تا (په خپل کلام کي) فرمايلي دي او ستا فرمان حق (بالکل صحيح او رېښتونی) دی ﴿وَلَوْ أَنَّهُمْ إِذْ ظَلَمُوْا أَنْفُسَهُمْ او که چيري دا خلک کله چي دوی پر خپلو ځانو ظلم کړي وو (ګناهونه يې کړي وه) جَاءُوْكَ فَاسْتَغْفَرُوا اللهَ وَاسْتَغْفَرَ لَهُمُ الرَّسُوْلُ تا ته راغلي وای (اې رسول الله!) او بيا يې له الله تعالیٰ څخه مغفرت غوښتې وای او رسول الله ﷺ هم د دوی لپاره (له الله څخه) مغفرت غوښتې وای لَوَجَدُوا اللهَ تَوَّابًا رَّحِيْمًا﴾ (النساء: ٦٤) نو يقيناً دوی به الله تعالیٰ توبه قبلونکی او ډېر رحم کونکی موندلي وای وَقَدْ جِئْنَاكَ سَامِعِيْنَ قَوْلَكَ او موږ تا ته (ستا دربار ته)

حاضر سوي یو (اې الله!) په داسې حال کې چې ستا د قول او رېدونکي (منونکي) یو طَائِعِیْنَ أَمْرَكَ ستا د حکم (او ارشاد) اطاعت کونکي یو مُسْتَشْفِعِیْنَ بِنَبِیِّكَ إِلَیْكَ د شفاعت (سفارش) طلبګار یو ستا د نبي په واسطه کولو سره وتا ته (یعني نبي کریم ﷺ شفیع ګرځو تا ته) اَللّٰهُمَّ اغْفِرْ لَنَا وَلِآبَائِنَا وَ أُمَّهَاتِنَا اې الله! مغفرت (بخښنه) وکړه! موږ ته او زموږ پلرونو (پلار او نیکه ګانو) او مندو (مېندو) ته وَإِخْوَانِنَا الَّذِیْنَ سَبَقُوْنَا بِالْإِیْمَانِ او زموږ هغه ورونو ته کوم چې مخکې تر موږ تللي دي په ایمان سره (یعني تر موږ مخکې زموږ مؤمنانو مردګانو ورونو ته) وَلَا تَجْعَلْ فِيْ قُلُوْبِنَا غِلًّا لِلَّذِیْنَ آمَنُوْا او مه ګرځوه! زموږ په زړونو کې کینه د هغه کسانو لپاره چې ایمان یې راوړی دی رَبَّنَا إِنَّكَ رَءُوْفٌ رَّحِیْمٌ اې زموږ ربه! بېشکه ته مهربانه او زیات رحم کونکی یې رَبَّنَا آتِنَا فِي الدُّنْیَا حَسَنَةً وَفِي الْآخِرَةِ حَسَنَةً اې زموږ ربه! موږ ته په دنیا کې هم نېکي (ښېګڼه او نعمت) راکړه! او په آخرت کې هم نېکي راکړه وَقِنَا عَذَابَ النَّارِ او موږ وساته! د دوږخ له عذابه څخه سُبْحَانَ رَبِّكَ رَبِّ الْعِزَّةِ عَمَّا یَصِفُوْنَ پاکي ده ستا رب لره (پاک دی ستا رب) کوم چې لوی عزت (لوی شان) والا دی له هغه څه څخه کوم چې یې خلک (په غلطه توګه) بیانوي (یعني کوم چې یې کفار د رب تعالیٰ په وصف کې په غلطه طریقه سره بیانوي) وَسَلَامٌ عَلَی الْمُرْسَلِیْنَ او سلام دې وي په (ټولو) پېغمبرانو باندې وَالْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعَالَمِیْنَ او (ټوله) حمد (ټوله تعریفونه) الله تعالیٰ لره دي کوم چې رب د جهانونو دی وَیَزِیْدُ مَا شَاءَ او زیاتولای سي څه چې وغواړي (یعني که خوښه یې وي، نو دې دعاګانو سره نوره دعاء او نور خواستونه هم کولای سي) وَیَدْعُوْ بِمَا حَضَرَهٗ وَیُوَفَّقُ لَهٗ بِفَضْلِ اللهِ او دعاء دې وکړي د هغه څه کوم چې ورته حاضر (یاد) سي او چې د الله فضل سره د هغه توفیق ده ته ورکول سي (یعني د کوم څه دعاء چې په ذهن کې ورته راسي او د کومې دعاء چې الله تعالیٰ توفیق ورکړي، هغه دې وکړي).

لغات: ﴿یصفون﴾ د ضرب له بابه د جمع مذکر غائب مضارع صیغه ده. د دې باب له معناو څخه یوه معنیٰ دا ده: بیانول، موصوفول.

تشریح: حضرت ابوبکر او حضرت عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا ته له سلام او دعاء کولو څخه وروسته دې بیا د نبي کریم ﷺ ومخ ته راسي، د الله تعالیٰ حمد او ثناء او درود شریف دې ووایي او د نبي کریم ﷺ په وسیله او توسل سره دې لاس پورته کړي او له الله تعالیٰ څخه دې په دعاء کې خپل مرادونه وغواړي او له نبي کریم ﷺ څخه دې د شفاعت خواست وکړي او د خپل ځان، مور و پلار او د قریبانو دوستانو او ټولو مؤمنانو لپاره دې د نبي کریم ﷺ په توسل سره دعاګانې وغواړي. (ایضاح المناسک ص. ۱۹۶)

د اسطوانهٔ ابو لبابه سره دوه رکعته لمونځ او دعاء کول

﴿۱۳۷۳﴾ ثُمَّ يَأْتِيْ أُسْطُوَانَةَ أَبِيْ لُبَابَةَ بیا دې د ابو لبابه ستني (میل) ته راسي الَّتِيْ رَبَطَ بِهَا نَفْسَهُ حَتّٰى تَابَ اللهُ عَلَيْهِ (دا هغه ستن ده) چې د هغې سره ابو لبابه خپل ځان تړلی وو تر دې پورې چې الله تعالیٰ د ده توبه قبوله کړه وَهِيَ بَيْنَ الْقَبْرِ وَالْمِنْبَرِ او دا ستن (میل ایښه) د قبر مبارک او منبر شریف په مینځ کې ده وَيُصَلِّيْ مَا شَاءَ نَفْلًا او څومره چې وغواړي نفل (نفلونه) دې وکړي وَيَتُوْبُ إِلَى اللهِ او د الله وطرف ته دې رجوع وکړي (یا په بله وینا: الله ته دې توبه وکړي) وَيَدْعُوْ بِمَا شَاءَ او دعاء دې وکړي د هغه څه (یعني د کوم څه لپاره) چې وغواړي وَيَأْتِي الرَّوْضَةَ او روضې (ریاض الجنة) ته دې راسي فَيُصَلِّيْ مَا شَاءَ نو څومره چې وغواړي لمونځ (نفلونه) دې وکړي وَيَدْعُوْ بِمَا أَحَبَّ او دعاء دې وکړي د هغه څه، چې خوښه یې وي وَيُكْثِرُ مِنَ التَّسْبِيْحِ وَالتَّهْلِيْلِ وَالثَّنَاءِ وَالْاِسْتِغْفَارِ او زیات توب دې کوي (زیات دې وایي) سبحان الله. لا إله إلا الله. ثناء (د الله تعریف) او استغفار.

لغات: ﴿تاب﴾ د نصر د باب ماضي ده؛ د دې په صله کې چې "علی" راسي یعني تاب الله علیه. نو معنیٰ یې ده: توبه قبلول، بخښل او دوباره الله مهربانه کېدل. همدارنګه د توبې د توفیق ورکولو په معنیٰ سره هم راځي، او د دې باب په صله کې چې "إلی" راسي لکه دلته یتوب إلی الله نو معنیٰ یې ده: رجوع کول. توبه کول (توبه کېدل)، یعني له [illegible] څخه رجوع کول او د الله وطرف ته متوجه کېدل او

په آینده وخت کي د ګناه نه کولو ټینګه اراده کول (مصباح اللغات، معجم الوسیط)، ﴿الروضة﴾ مراد ځني ریاض الجنة ده. (ثمرة النجاح)

تشریح: په مسجد نبوي کي ډېري ستني (یا په بله وینا ډېري پایې [تمبې]) دي، په (پخوانۍ) عربي کي ستني اسطوانه ویل کیږي، په هغوی کي د بعضي ستنو (پایو) سره په نبوي دور کي څه واقعې متعلق دي، له هغوی څخه د یو ستني (پایې) نوم اسطوانهٔ ابو لبابه ده، د هغه واقعه داسي ده چي د غزوهٔ تبوک پر موقع له حضرت ابو لبابه رضی الله عنه څخه یوه خطاء سوې وه، نو هغه خپل ځان د مسجد نبوي د دغه ستني سره تړلی وو او دا وعده یې کړې وه چي تر څو رسول الله ﷺ ما معاف نه کړي او په خپل لاس مي خلاص نه کړي، تر هغه وخته به همدلته تړلی پاته یم، نو په آخر کي الله تعالیٰ د هغه خطاء وبخښله او رسول الله ﷺ په خپل لاس مبارک هغه خلاص کړی، دغه ستن (په ریاض الجنة) کي د روضې مبارکي او منبر شریف تر مینځ ده، پر دغه ستن "اسطوانة أبي لبابة" لیکل سوي دي، د دې ستني سره که نورو ته له تکلیف رسولو څخه بغیر ځای تر لاسه سي، نو لږ تر لږه دي دوه رکعته لمونځ وکړي، توبه او استغفار دي وکړي او خپل مرادونه دي وغواړي.

ویأتي الروضة إلخ: یعني د اسطوانهٔ ابو لبابه سره تر دوه رکعته لمونځ کولو وروسته دي هلته په ریاضُ الجنة کي چي څومره د ده وس وي، نفلونه، اذکار، استغفار او دعاګانې دي وکړي؛ ځکه په ریاضُ الجنة کي دعاء ډېره قبلیږي. (د مسجد نبوي هغه پخوانۍ حصه کوم چي د نبي کریم ﷺ په زمانه کي د مسجد په حیثیت سره وه، هاغه د ریاض الجنة حصه ده کوم چي د رسول الله ﷺ د منبر شریف او روضې مبارکې په مینځ کي واقع ده چي د هغه په هکله رسول الله ﷺ دا ذکری ورکړی دی چي دا د جنت باغچه دي، په همدې ریاضُ الجنة کي اُووه ستني دي او هره ستنه د سرو زرو په اوبو سره ښایسته کړل سوې ده، او په مسجد نبوي کي دا ستني بالکل ښکاره دي لو د نبي کریم ﷺ د زماني دي او پر هري یوې نوم هم لیکلی دی، هغوی ته د رحمت ستني ویل کیږي). (شفاء الارواح، انوار الایضاح، ایضاح المناسک)

﴿۱۳۷۳﴾ ثُمَّ يَأْتِي الْمِنْبَرَ بیا دي منبر شریف ته راسي فَيَضَعُ يَدَهُ عَلَى الرُّمَانَةِ الَّتِيْ كَانَتْ بِهٖ نو خپل لاس دي په رُمانه (د انار په شکل د لرګي څخه جوړه غوټۍ) باندي کېښېږدي کوم چي پر منبر ده (او س وخت کي نسته) تَبَرُّكًا بِأَثَرِ رَسُوْلِ اللهِ ﷺ د برکت حاصلولو لپاره د نبي کریم ﷺ په اثر (نبي) سره وَمَكَانَ يَدِهِ الشَّرِيْفَةِ إِذَا خَطَبَ او (د برکت حاصلولو لپاره) د نبي کریم ﷺ د لاس مبارک (ایښوولو) په ځای سره کله چي به نبي کریم ﷺ خطبه ویله (یعني چي پر هغه به نبي

کریم ﷺ د خطبې ویلو پر مهال خپل لاس مبارک ایښووی) لِيَنَالَ بَرَكَتَهُ ﷺ ددې لپاره چي د نبي کریم ﷺ برکت حاصل کړي وَيُصَلِّيْ عَلَيْهِ او پر نبي کریم ﷺ دي درود شریف ووايي وَ يَسْأَلُ اللهَ مَا شَاءَ او سوال (خواست) دي وکړي له الله تعالیٰ څخه د هغه څه، څه چي وغواړي.

لغات: ﴿رمانة﴾ ددې اصل معنیٰ "انار" ده، دا د نبي کریم ﷺ په زمانه کي د منبر سره یو قسم لرګی وو (کوم چي غالباً د انار په شکل جوړ وو) چي پر هغه به د خطبې په وخت کي لاس ایښوول کېدی، نو ځکه له هغه څخه د برکت حاصلولو لپاره دي پر هغه لاس اږدي (ثمرة النجاح). (او بعضو ویلي دي چي غالباً له دې څخه د منبر سر مراد دی کوم چي د انار په څېر جوړول کیږي [شفاء الارواح]). اوس دا شی "رُمانه" نسته.

تشریح: نن سبا د نبي کریم ﷺ د زمانې منبر نسته او نه رُمانه سته، خو د منبر پر ځای د محراب په شکل کي څه څرګند دی، که هلته موقع ترلاسه سي، نو لمونځ دي وکړي او دعاګاني دي وکړي. (انوار الایضاح)

اسطوانۂ حنانه

﴿۱۴۷﴾ ثُمَّ يَأْتِي الْأُسْطُوَانَةَ الْحَنَّانَةَ بیا دې حنانه ستني (میل) ته راسي وَهِيَ الَّتِيْ فِيْهَا بَقِيَّةُ الْجِذْعِ الَّذِيْ حَنَّ إِلَى النَّبِيِّ ﷺ او دا هغه ستن ده چي هلته (ترمغې لاندې) د هغه تنې بقیه حصه (ښخ کړل سوې) ده چي هغې نبي کریم ﷺ ته ژړا کړې وه (یعني چي د نبي کریم ﷺ په فراق کي یې ژړلي وه) حِيْنَ تَرَكَهُ وَخَطَبَ عَلَى الْمِنْبَرِ څه وخت چي نبي کریم ﷺ هغه پرېښووله او پر منبر یې خطبه شروع کړه حَتّٰى نَزَلَ فَاحْتَضَنَهُ تر دې چي (بیا) نبي کریم ﷺ (له منبر څخه) کښته سو او هغه یې په غېږ کي ونیوله (د خپل مبارک سیني سره یې ولګوله) فَسَكَنَ نو هغه په سکون (آرامه) سوه.

لغات: ﴿جذع﴾ د جیم په کسره او د ذال په سکون سره، د خُرما د درختي تنه، جمع: جُذُوْعٌ، ﴿حَنَّ﴾ د ضرب د باب مصدر دی" د غم یا خوشحالۍ په وجه آواز را ایستل، دلته مراد د غم په وجه ژړل دي، ﴿احتضنه﴾ د افتعال له بابه ماضي معلومه ده، په مجردو کي د نصر له بابه راځي، حَضَنَ يَحْضُنُ حَضْنًا وحِضَانَةً، د دې باب څو معناوي چي له هغوی څخه یوه معنیٰ ده: په غېږ کي نیول (په غوزي کي نیول)، د سینې سره لګول.

تشریح: اسطوانۂ حنانه (ژړونکې ستنه) د محرابُ النبی ﷺ د شا سره متصله ده، د دغه ستنې (پایې) پر ځای مخکې یوه د خرما تنه وه (کوم چې په هغه وخت کې د ستنې [پایې] په څېر استعمالېده)، له منبر شریف جوړېدو څخه مخکې نبي کریم ﷺ به د خطبې ویلو او د وعظ او نصیحت کولو په وخت کې پر هغې تکیه کوله، او کله چې منبر شریف تیار سو، نو نبي کریم ﷺ پر منبر خطبه ویل شروع کړه او هغه ستنه (د خرما تنه) یې پرېښووله، نو له هغه ستنې څخه ډېر په زوره د ژړا آوازونه شروع سوه، بیا رسول الله ﷺ هغه په خپله مبارکه غېږ کې ونیوله او د خپل جسد اطهر سره یې ولګوله، نو د هغې ژړا بنده سوه، بیا وروسته دا د خرما تنه په هاغه ځای کې پټه (ښخه) کړل سوه او د هغې پر ځای پخه ستنه (پایه) جوړه کړل سوه، چې د هغې نوم اسطوانۂ حنانه (ژړونکې ستنه) کېښښودل سو، دلته په دعاء او استغفار سره مشغولېدل پکار دي. (ثمرة النجاح، انوار الایضاح)

مبارکو ځایو ته او بقیه ستنو ته د ورتللو بیان

﴿۱۲۵﴾ وَيَتَبَرَّكُ بِمَا بَقِيَ مِنَ الْآثَارِ النَّبَوِيَّةِ وَالْأَمَاكِنِ الشَّرِيفَةِ او برکت (تبرّک) دي حاصل کړي په پاتو نبوي آثارو او مبارکو (مقدسو) ځایونو سره (یعني کوم چې تر اوسه پاته دي او زیارت کونکی نه دی ورغلی، نو هغو ته دي هم د تبرّک حاصلولو په غرض سره ورسي):

تشریح: له حنانه ستنې (اسطوانۂ حنانه) څخه وروسته دي پاته ستنو ته هم راسي او هلته دي لمنځونه او دعاګانې وکړي او د مدینې شریفې خاص، خاص مسجدونو او مبارکو ځایونو ته دي د موقع مطابق حاضر سي او د هغه له برکاتو څخه ځان فیضیابه کړي.

(مخکې ذکر سوه چې په ریاضُ الجنة کې اووه ستنې [پایې] دي، له هغوی څخه د دوو بیان مخکې تېر سو، او د پاته پنځو ستنو نومان په دې توګه دي: ③ اسطوانۂ وُفُود: دا هغه ستن ده چې هلته له بهر څخه راتلونکو قبائلو [وفودو] د نبي کریم ﷺ پر لاس مبارک بیعت کړی دی، او دا ستنه د حضرت عائشې او حضرت فاطمې رضی الله عنهما د دېوال سره متصله ده. ④ اسطوانۂ حرس: په شروع کې د نبي کریم ﷺ په دروازه باندې پېره داري [چوکیداري] کېدله، نو پېره دار او حفاظت کونکي به د همدې ستنې سره درېدی، بیا وروسته دا آیت نازل سو چې ستاسې حفاظت الله تعالیٰ خپله کوي، تر دې وروسته پېره بنده سوه. ⑤ اسطوانۂ جبرئیل: یعني هغه ستن چې د وحي درلوړلو په وخت کې به جبرئیل علیه السلام هلته ناست لیدل کېدی، دې ځای ته "مقام جبرئیل" هم وایي، په دې ځای کې هم دعاء زیاته قبلیږي. ⑥ اسطوانۂ سریر: دلته د نبي کریم ﷺ د اعتکاف ځای دی. ⑦ اسطوانۂ عائشه: یعني هغه ځای چې نبي کریم ﷺ د هغه په باره کې فرمایلي دي چې زما په مسجد کې یو ځای داسې دی چې هلته د لمونځ کولو فضیلت که خلکو ته معلوم سي، نو هلته به د نوبت اخیستلو لپاره قرعه اندازي کولو ته خبره ورسیږي، د نبي کریم ﷺ له وفات څخه وروسته حضرت عائشې (رض) خپل خوریي عبد الله بن زبیر (رض) ته هغه ځای ور وښودی، په دې ځای کې هم دعاء زیاته قبلیږي، لهذا په مذکوره مقاماتو کې دي هیڅ ځای هم دعاء نه پرېږدي). (شفاء الارواح، انوار الایضاح، ایضاح المناسک)

﴿۱۲۷۶﴾ وَيَجْتَهِدُ فِيْ إِحْيَاءِ اللَّيَالِيْ مُدَّةَ إِقَامَتِهِ او کوشش دي کوي په رڼولو د شپو کي د خپل قيام (پاتېدلو) په موده کي وَاغْتِنَامِ مُشَاهَدَةِ الْحَضْرَةِ النَّبَوِيَّةِ وَزِيَارَتِهِ فِيْ عُمُوْمِ الْأَوْقَاتِ او (کوشش دي کوي) په غنيمت ګڼلو (او ته حاصلولو) کي د ديدار کولو د نبوي درګاه (روضې مبارکي) او د هغه د زيارت کولو په عامو (اکثرو) وختونو کي.

تشريح: يعني تر څو چي په مدينه شريفه کي وي، کوشش دي کوي چي شپې روښي کړي او په عباداتو مشغوله اوروسي، هسي دي وخت نه ضايع کوي، او مسجد نبوي ته دي له زياتو څخه زيات د حاضرېدلو کوشش کوي، خصوصاً د رسول الله ﷺ د زيارت لپاره او درود وسلام دي پېشوي، او کوشش دي کوي چي پنځه سره لمونځونه هلته اداء کړي او په عبادت او تنهايي کي دي شپې روښوي.

د اُحُد د شهيدانو خصوصاً د حضرت حمزه ؓ د قبر زيارت کول او بقيع ته تلل

﴿۱۲۷۷﴾ وَيَسْتَحِبُّ أَنْ يَّخْرُجَ إِلَى الْبَقِيْعِ او مستحب دي دا چي بقيع ته ووځي (ولاړ سي) فَيَأْتِيَ الْمَشَاهِدَ وَالْمَزَارَاتِ نو شهادت ګاوو او مزارونو ته دي راسي (حاضر سي) خُصُوْصًا قَبْرَ سَيِّدِ الشُّهَدَاءِ حَمْزَةَ ؓ په ځانګړې توګه د شهيدانو د سردار حضرت حمزه ؓ و قبر مبارک ته.

﴿۱۲۷۸﴾ ثُمَّ إِلَى الْبَقِيْعِ الْآخَرِ بيا دي راسي و بل بقيع ته (له دې څخه جنة البقيع مراد دی) فَيَزُوْرُ الْعَبَّاسَ وَالْحَسَنَ بْنَ عَلِيٍّ وَبَقِيَّةَ آلِ الرَّسُوْلِ رضي الله عنهم نو زيارت دي وکړي د حضرت عباس، حضر حسن بن علي او د رسول الله ﷺ د نور آل رضي الله عنهم وَيَزُوْرُ أَمِيْرَ الْمُؤْمِنِيْنَ عُثْمَانَ بْنَ عَفَّانَ ؓ او زيارت دي وکړي د حضرت عثمان بن عفان ؓ وَإِبْرَاهِيْمَ بْنَ النَّبِيِّ ﷺ او د نبي کريم ﷺ د زوی حضرت ابراهيم ؑ وَأَزْوَاجَ النَّبِيِّ ﷺ او د

نبي کـريم ﷺ د بيـبـيانو (اوزاج مطهّراتـو) وَعَـمَّـتَهُ صَـفِيَّةَ او د نبـي کـريم ﷺ د عمې مبارکي وَالصَّحَابَةِ وَالتَّابِعِيْنَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُمْ او (همدارنګه زيارت دي وکړي) د صحابه وو او تابعينو رَضِيَ اللهُ عَنْهُمْ.

لغات: ﴿البقيع﴾ پراخه ځمکه چي قسما قسم درختي پکښې وي (او بعضو ويلي دي چي هغه ځمک چي د مختلفو درختو بېخونه پکښې وي)، د مسلمانانو د قبرونو ځای، ﴿مشاهد﴾ جمع د مَشْهَد ده، د دې لفظ څـو معناوي نقل سـوي دي: د شـهادت ځـای (د الله پـه لاره کـي د قتـل کېدو ځـای)، د خلکـو د حاضرېدو ځای، د خلکو د جمع کېدو ځای. (مصباح اللغات)

تشريح: له مديني شريفي څخه تقريباً د درېو ميلو پر فاصله جبلِ اُحُد واقع دی، اُحُد هغه غر دی چي د هغه په باره کي نبي کريم ﷺ څو ځله فرمايلي دي چي دا غر زموږ سره محبت لري او موږ د ده سره محبت لرو، او همدا هغه غر دی چي د هجرت په درېيم کال د هغه په لمن کي غزوهٔ اُحُد واقع سوه، چي په هغه کي تقريباً اويا (۷۰) تنه صحابه کرام شهيدان سول او هلته ښخ کړل سو، نو د جبلِ اُحد او د شهداء اُحد د زيارت لپاره تلل خصوصاً د حضرت حمزه رضی الله عنه د قبر زيارت کول مستحب دي.

ثم إلى البقيع الآخر إلخ: له بقيعِ آخَر څخه مراد جنتُ البقيع دی، جنتُ البقيع د مديني منوّرې هغه لويه هديره ده چي په هغه کي په زرهاوو صحابه، تابعين، اولياء او بزرګان پټ دي، په اوس وخت کي د مسجد نبوي او جنت البقيع تر مينځ هيڅ آبادي يا عمارت حائل نه دي، په دې مبارکه هديره کي د رسول الله ﷺ له اهل بيتو څخه نهه (۹) اُمّهات المؤمنين مدفونه دي: ① اُم المؤمنين حضرت عائشه رض، ② حضرت حفصه رض، ③ حضرت سوده رض، ④ حضرت اُم سلمه رض، ⑤ حضرت زينب بنت جحش رض، ⑦ حضرت اُم حبيبه رض، ⑨ حضرت صفيه رض، او د نبي کريم ﷺ له اولاد څخه حضرت فاطمه رض، حضرت رقيه رض، حضرت زينب رض، حضرت اُم کلثوم رض او حضرت ابراهيم رض پکښي مدفونه دي، همدارنګه د نبي کريم ﷺ د اکا حضرت عباس رضی الله عنه مزار هم په همدې هديره کي دی، همدارنګه حضرت ابو سفيان، حارث بن عبد المطلب او د نبي کريم ﷺ رضاعي مور (دايي) حضرت حليمه سعديه رض هم په دې هديره کي مدفونه دي، او د خليفهٔ ثالث حضرت عثمان ذو النورين رضی الله عنه مزار هم په همدې هديره کي دی کوم چي تر ټولو ښکاره دی، همدارنګه صاحبِ مذهب امام مالک رَحِمَهُ الله هم په دې هديره کي مدفون دی، او د ديوبند له اکابرينو

شخه فقیهُ العصر محدّث کبیر حضرت مولانا خلیل احمد سهارنپوري رَحِمَهُ الله او حضرت شیخ الحدیث مولانا زکریا رَحِمَهُ الله هم په همدې هدیره کي مدفون دي.

حاجیانو او عمره کونکو ته د مدینې منوّرې زیارت ضرور نصیب کیږي، ډېره د سعادت او خوش بختۍ خبره ده چي هغو ته د دې مبارکي هدیرې زیارت حاصل سي، لهذا په مدینه شریفه کي د پاتېدلو پر مهال دي حتی الامکان د دغه مبارکي هدیرې د زیات کوشش کوي او موقع دي د لاسه نه ورکوي. (انوار الایضاح، ایضاح المناسک)

﴿۱۳۷۹﴾ وَيَزُوْرُ شُهَدَاءَ أُحُدٍ او زیارت دي وکړي د اُحُد د شهیدانو وَإِنْ تَيَسَّرَ يَوْمَ الْخَمِيْسِ او که مُیسّر سي (د دوی زیارت) د پنجشنبې په ورځ (یا په بله ترجمه: که د پنجشنبې په ورځ د دوی زیارت ته تیار سي او د دوی زیارت وسي) فَهُوَ أَحْسَنُ نو دا به ډېر ښه (بهتره) وي.

﴿۱۳۸۰﴾ وَيَقُوْلُ او (داسي) دي ووایي ﴿سَلَامٌ عَلَيْكُمْ بِمَا صَبَرْتُمْ سلام (سلامتیا) دي وي پر تاسو په بدله کي د هغه صبر چي تاسو وکړی (یا په بله ویناः په سبب د صبر کولو ستاسي. چي تاسو په طاعت او مصیبت باندي او له معصیته صبر وکړی) فَنِعْمَ عُقْبَى الدَّارِ﴾ (الرعد: ۲۴) نو ډېر ښه دی (ستاسي) د آخرت مقام (د آخرت عاقبت).

﴿۱۳۸۱﴾ وَيَقْرَأُ آيَةَ الْكُرْسِيِّ وَالْإِخْلَاصِ إِحْدٰى عَشَرَةَ مَرَّةً او (بیا) دي ولوستي (ووایي) آیتِ کرسي او سورهٔ اخلاص (قل هو الله شریفه) یوولس (۱۱) واره وَسُوْرَةَ يٰسٓ إِنْ تَيَسَّرَ او سورة یسٓ که آسانه (ممکنه) وي وَيُهْدِيْ ثَوَابَ ذٰلِكَ او هدیه دي کړي (ودي بخښي) د دې ثواب لِجَمِيْعِ الشُّهَدَاءِ و ټولو شهیدانو ته وَمَنْ بِجَوَارِهِمْ مِنَ الْمُؤْمِنِيْنَ او هغه مؤمنانو ته کوم چي د دوی په څنګ کي (ور سره) دي.

لغات: ﴿تیسّر﴾ د تفعّل د باب ماضي ده، د دې باب دوې معناوي نقل سوي دي: ① آسانه کېدل (قدرت باندي راتلل)، ② یو کار ته تیارېدل (چمتو کېدل)، ﴿نِعْمَ﴾ له افعالِ مدح څخه دی او

غیرِ منصرف دی، وېل کیږي "نِعْمَ الرَّجُلُ زَیْدٌ" (ډېر ښه سړی دی زید)، ﴿عُقْبٰی﴾ آخر انجام، خاتمه (عاقبت).
﴿یُهْدِی﴾ د افعال له بابه مضارع معلومه ده: هدیه کول، تحفه لېږل، ﴿جوار﴾ همسایه والی، څنګ، بغل.

تشریح: دأُحُد د شهیدانو یادونه مخکي وسوه، د دوی زیارت خو روزانه کول پکار دي، کنې لږ تر لږه دي یو وار د زیارت لپاره ورسي او که موقع وي، نو د پنجشنبې ورځ زیاته غوره (او باعث د استحباب) ده، (او په انوارُ الایضاح کي د جمعې ورځ غوره ګڼل سوې ده (انوار الایضاح بحوالهٔ فتح القدیر ج: ۲، ص: ۱۸۲))

ویقول سلام الخ: او په مذکوره الفاظو سره دي سلام پېش کړي.

فایده: شیخ عبد الحق محدث دهلوي رَحِمَهُ الله نقل کوي چي کوم څوک دأُحُد د شهیدانو سره تېر سي او هغو ته سلام وکړي، نو دوی به د قیامت تر ورځي پوري پر هغه سلام وایي. (عون الفتّاح بحوالهٔ رفیق الحرمین)

د مسجدِ قباء د زیارت بیان

﴿۱۳۸۲﴾ وَیَسْتَحِبُّ أَنْ یَأْتِیَ مَسْجِدَ قُبَاءَ یَوْمَ السَّبْتِ أَوْ غَیْرَهٗ او مستحب دي دا چي راسي ومسجدِ قباء ته د شنبې په ورځ یا په بله ورځ وَیُصَلِّیَ فِیْهِ او په هغه کي دي لمونځ وکړي وَیَقُوْلُ بَعْدَ دُعَائِهٖ بِمَا أَحَبَّ او (بیا) دي ووایي وروسته تر خپل دعاء کولو د هغه څه، کوم چي یې خوښه وي (یعني دئ چي د کوم څه مقصد لپاره دعاء کول غواړي، د هغه دعاء تر کولو وروسته دي دا راروانه دعاء ووایي) یَا صَرِیْخَ الْمُسْتَصْرِخِیْنَ اې ناره اورېدونکې! د ناره کونکو (شکایت کونکو) یَا غِیَاثَ الْمُسْتَغِیْثِیْنَ اې فریاد (خواست) پوره کونکې! د فریاد کونکو (یعني کوم چي د مدد خواست او طلب کوي، د هغو د خواست پوره کونکې ذاته!) یَا مُفَرِّجَ كُرَبِ الْمَكْرُوْبِیْنَ اې لیري کونکې! د غمونو (کړاونو) د غم ځپلو (په غم اخته خلکو) یَا مُجِیْبَ دَعْوَةِ الْمُضْطَرِّیْنَ اې قبلونکې! د دعاء د مجبورو (ارمنو، کوم چي ناقراره او لالهانده دي) صَلِّ عَلٰی سَیِّدِنَا مُحَمَّدٍ وَّ آلِهٖ رحمت نازل کړه! زموږ په سردار

محمد (ﷺ) باندي او د ده په آل (کورنۍ او قربانو) باندي وَاكْشِفْ كَرْبِيْ وَحُزْنِيْ او ليري کړه! زما غم او پرېشاني (او که دالفظ كُرَبْ سي، لکه بعضو چي همداسي ليکلی دی، نو بيا جمع ده يعني: غمونه) كَمَا كَشَفْتَ عَنْ رَسُوْلِكَ حُزْنَهٗ وَكَرْبَهٗ فِيْ هٰذَا الْمَقَامِ لکه څرنګه چي تا ليري کړی وو د خپل رسول (ﷺ) پرېشاني او غم په دې (مقدس) ځای کي يَا حَنَّانُ اې رحم کونکې (پر بندګانو)! يَا مَنَّانُ اې احسان کونکې! يَا كَثِيْرَ الْمَعْرُوْفِ وَالْإِحْسَانِ اې زيات نېکۍ او احسان کولو والا! (د خپلو بندګانو سره) يَا دَائِمَ النِّعَمِ اې همېشه د نعمتونو ورکونکې! يَا أَرْحَمَ الرَّاحِمِيْنَ اې د (ټولو) رحم کونکو څخه زيات رحم کونکې! وَصَلَّى اللّٰهُ عَلٰى سَيِّدِنَا مُحَمَّدٍ او رحمت دي نازل کړي الله تعالىٰ زموږ په سردار محمد ﷺ باندي وَّعَلٰى آلِهٖ وَصَحْبِهٖ او د ده په آل (اهلِ بيتو او قربانو) باندي او د ده په (ټولو) صحابه کرامو باندي وَسَلَّمَ تَسْلِيْمًا دَائِمًا أَبَدًا او سلام (سلامتيا) دي وي (په دوی باندي د الله تعالىٰ) مدام همېشه (تل تر تله) يَا رَبَّ الْعَالَمِيْنَ اې د (ټولو) جهانونو پالونکې! آمِيْنَ اې الله تعالىٰ قبول يې کړه!.

لغات: ﴿صريخ﴾ ناره اوربدونکی، چي د چا چيغه او شکايت اوري، مدد ور سره کوي او ستونزه او مصيبت يې ليري کوي، ﴿مستصرخين﴾ جمع د مُسْتَصْرِخٌ ده، د استفعال له بابه اسم فاعل دی: د مدد ناره کونکی او فرياد کونکی (يا په بله وينا: دېو چا له ظلم څخه سر ټکونکی او شکايت کونکی)، د مرستي طلب کونکی، ﴿غياث﴾ چا ته چي فرياد کول کېږي او مدد څني غوښتل کېږي (يا په بله وينا: څوک چي د بل چا فرياد پوره کوي)، غاورسي، چي د بل په فرياد او شکايت باندي غور کوي، ﴿مستغيثين﴾ جمع د مُسْتَغِيْثٌ ده، دا هم د استفعال له بابه اسم فاعل دی؛ فرياد کونکی، د مدد خواست کونکی، ﴿مفرج﴾ د تفعيل له بابه اسم فاعل دی؛ د غم ليري کونکی، پراخي پيدا کونکی، ﴿مضطرين﴾ جمع د مُضْطَرٌّ

ده، د افتعال له بابه اسم مفعول دی: مجبوره (مجبور کړل سوی)، محتاجه، ﴿کُرَب﴾ جمع د کُرْبَةٌ ده: غم او کړاو، زړه نیونکی غم او پرېشاني، ﴿اکشف﴾ د ضرب له بابه د واحد مذکر امرِ حاضر صیغه ده، کله چي د دې باب په صله کي غم او داسي نور څه ذکر سي، نو معنیٰ یې ده: لیري کول، زائلول، ﴿کَرْبٌ﴾ د کُرْبَةٌ په معنیٰ سره دی، چي د هغه معنیٰ اوس ذکر سوه یعني غم او کړاو...، جمع: کُرُوْبٌ، او د کُرْبَةٌ جمع کُرَب راځي، ﴿حُزن﴾ پرېشاني او مصیبت، غم (کَرْب، کُربَة او حُزن عموماً یو د بل پر ځای استعمالیږي او یوه معنیٰ ورکوي یعني غم، پرېشاني او کړاو، وګورئ! عربي معاجم)، ﴿آمین﴾ دا لفظ تر دعاء وروسته ویل کیږي په معنیٰ سره د "اللّٰهُمَّ اسْتَجِبْ". (معجم الوسیط، انوار الایضاح)

تشریح: مسجدِ قباء له مدیني منوّرې څخه د دریو کیلو مترو پر فاصله واقع دی، له هجرت څخه وروسته تر ټولو مخکي دا مسجد جوړ سوی دی، همدا هغه مسجد دی چي د هغه په هکله په قرآن کي ﴿لَمَسْجِدٌ أُسِّسَ عَلَى التَّقْوىٰ﴾ وارد سوي دي، اوس دا مسجد ډېر غټ او پراخه کړل سوی دی، د سړک سره متصل په خلاص میدان کي دی، په حدیث کي راغلي دي چي په دې مسجد کي د یوه لمونځ کولو ثواب د عمرې سره برابره دی (ابن ماجه/ ١٠٣)، نبي کریم ﷺ به د هري شنبې (هفتې) په ورځ مسجدِ قباء ته راتللو، او دوه رکعته لمونځ به یې اداء کولو، نو ځکه که موقع ترلاسه سي، نو د شنبې په ورځ دي د حاضرېدلو کوشش وکړي، لمونځ او دعاء دي وکړي او که ممکنه وي، نو هغه الفاظ دي ووایي کوم چي دلته په متن کي ذکر سوي دي. او د همدې قباء په علاقه کي "بئرأریس" دی یعني هغه څاه چي په هغه کي د رسولُ الله ﷺ ګوتمۍ د حضرت عثمان رضي الله عنه له لاس څخه ایله سوه، بیا پیدا نه سوه.

فایده: مصنف رَحِمَهُ الله خپل کتاب پر درود شریف ختم کړی، لکه څرنګه چي یې شروع کړی وو، علماؤ فرمایلي دي چي د کوم څه په اول او آخر کي درود وي، هغه مقبول ګرځي. (انوار الایضاح، عون الفتّاح)

له مدینې شریفي څخه د واپس تللو آداب

کله چي له مدینې شریفي څخه د بیرته تـګ اراده وکړي، نو په ریاضُ الجنة کي یا د مسجد نبوي په هسي یو حصه کي دي دوه رکعته نفل وکړي، روضې مبارکي ته دي حاضر سي او دَ مخکي په څېر دي درود او سلام ووایي، بیا دي دعاء وکړي: "اې الله! زما سفر آسانه کړه! او ما په سلامتي او عافیت سره خپل اهل وعیال ته ورسوه! او ما په دواړو جهانو کي له آفتونو څخه وساته! او ما ته بیا د مدینې شریفي زیارت دوباره را نصیب کړه! او دا زما آخري سفر مه ګرځوه!". (معلم الحجّاج ص: ۳۶۶)

الحمد لله! د الله ﷻ په عظیم فضل او رحمت سره نن د "۱۴۴۳" هجري کال د "محرمُ الحرام" په نهه ویشتمه (۲۹) نېټه چي د "۲۰۲۱" میلادي کال د "ستمبر" د شپږمي نېټې سره سمون لري. د دوشنبې په ورځ د مازیګر پر مهال دا کتاب "فتح الایضاح شرح نور الایضاح" پای ته ورسېدی، چي په همدې میاشت د الله ﷻ په نصرت زموږ ګران هیواد له امریکایي او ضلیبي اشغال څخه آزاد سو او امریکایي ښکېلاک د تاریخي ماتي سره مخ سو او په همدې ورځ (د محرم الحرام په ۲۹) د الله ﷻ په نصرت د مزدور دښمن وروستی ځاله (پنجشیر ولایت) په بشپړ ډول فتح سو او په ټوله هیواد کي اسلامي حکومت قائم سو، الله ﷻ دي ربښتونی اسلامي شرعي نظام نافذ کړي او الله تعالی دي یې همېشه قائم او آباد ولري، او الله ﷻ دي په خپل فضل او مهرباني سره دا زموږ حقیر خدمت مقبولِ عام وګرځوي او دا دي زموږ لپاره او زموږ د مور وپلار، استاذانو او خپروونکي لپاره د آخرت ذخیره وګرځوي.

رَبَّنَا تَقَبَّلْ مِنَّا إِنَّكَ أَنْتَ السَّمِيْعُ الْعَلِيْمُ وَتُبْ عَلَيْنَا إِنَّكَ أَنْتَ التَّوَّابُ الرَّحِيْمُ

وَصَلَّى اللهُ عَلٰى خَيْرِ خَلْقِهٖ مُحَمَّدٍ وَّعَلٰى آلِهٖ

وَصَحْبِهٖ وَأَهْلِ بَيْتِهٖ وَعِتْرَتِهٖ أَجْمَعِيْنَ

بِرَحْمَتِكَ يَا أَرْحَمَ الرَّاحِمِيْنَ

۲۹/ محرم الحرام/۱۴۴۳ھ ق

مطابق ۶/ ستمبر/۲۰۲۱م

* * *